نُورُ الْاِیضَاح

مولانا ابُوالفضل عَلّامۃُ الدھر

محمد عبد اللہ الابُوی

محمد مجید بن محمد

القندھاری السُلیمانخیلی الحنفی

کتبہٗ ورتبہ بقلمہٖ

محمد فضل الحق حقانی

مُدرس جامعہ تجوید القرآن کوئٹہ

پروپرائٹر

شمس الحق شمس

مکتبۃُ القراۃ والتجوید

کانسی روڈ شالدرہ نزد مسجد نور کوئٹہ

بسم الله الرحمن الرحيم

مَنْ يُرِدِ اللّٰهُ بِهٖ خَيْرًا يُّفَقِّهْهُ فِي الدِّيْنِ

الحمد چې په دې زمانه کې خدای تعالیٰ ددې بنا پسته کتاب
یعنی پښتو نور الایضاح سره د مسئلو د طبع توفیق راکړ

نُورُ الْاِیْضَاح

پښتو

مع مسائل جدیده

حقانی کمپیوٹر سنٹر
ہر قسم کتابت و الطباعت

وقد کتبہ ورتبہ بقلمہ
محمد فضل الحق حقانی
مدرس جامعہ عربیہ مرکزیہ تجوید القرآن
کوئٹہ

تالیف

الحاج ابو الفضل مولانا محمد عبید اللہ الایوبی القندھاری النقشبندی الحنفی

اَلنَّاشِر

مکتبۃ القراءۃ والتجوید

کانسی روڈ شالدرہ کوئٹہ

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمد لله وحده والصلوة والسلام علی من لا نبی بعده۔ اما بعد محترمو مسلمانانو وروڼرو، اوخوندو، مشرانو اوکشرانو، د الله تبارک و تعالی شکر اداکوم چې ده جل جلاله راته دلیکلو توفیق راکړ:

حضرت ابوالفضل الحاج محمد عبید الله تر دې رب کائنات صحت اوژوند ورلره عطا کړی إن شاء الله ثم إن شاء الله دافغانستان تر دروڼو ارمانونه به ورپوره کړي. ولې چې حضرت ایوبی خپل دژوند پاتې برخه خاص اوخاص د دې اسې شروحو اوتراجمو پاره وقف کړی ده. چې د هغوی فائده عامه وهر خاص وعام، هرخواننده اوهرزده اوښځې، هرهنر اوکشر ته ور سیږي.

محترمو لوستونکو:

هغه افغانان چې بهرنیو هیوادونو کې ژوند تیروي. د هغود پاره د حضرت ایوبی تصانیف دیوه مستقل استاذ کامل حیثیت لري. د اخولاځه چې د هغو دپاره د حضرت ایوبی تصنیفونه په ډول ډیوی عظیمی تحفی لیږل کیږي.

یوه لویه خوشخبرۍ

گرانو لوستونکو هم دا اوس اوس حضرت ایوبی زما فضل الحق حقانی سره داوعده کړیده. چې إن شاء الله العزیز نکاح قدوری یعنی قدوری جلد ۲ دوهم برخه په تفصیل سره پښتو کومولو چې د نکاح، طلاق، او رضاع، مسئلې دیرې مشکلې دی او عوام دیرې زیاتې په مبتلا دي خدای پاک دې دا تصنیف کولو اوماته د لیکلو توفیق راکړي، نور موږ پرلوی خدای جل جلاله سپارو.

الناشر:
مکتبة القراءت والتجوید
۷ انسی روډ کوئټه

ستاسو ورور محمد فضل الحق حقانی
مدرس جامعه عربیه مرکزیه تجوید القرآن کوئټه

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمد لله رب العلمین والصلوة والسلام علی سید الانبیاء والمرسلین وعلی اله واصحابه اجمعین»

خوارۀ خوارۀ بیتونه دعبید عاصی له خوا

که ثنا دخدای پاک وایمه شرمیږم
اوکی نه وایم دخدای څخه بیریږم

نعمتونه دخدای پاک پرما عاصی
دونه ډیر چې په حساب یې نه رسیږم

هر نعمت چې زما د حاله مناسب دی
خدای را کړی دی وما ته ئې پوهیږم

دی دونه نعمتونه ثنا په خوله زما
نه کیدونکی اونه ئې پسې رسیږم

کم نعمت دخدای پاک یادکړم زه په خوله
څوک می هیر دی اوبعض یادلرم په ئې

دثنا ویل نعمت هم دخدای پاک دی
پرثنا ثناویل طاقت دچا دی

بیادا زما جزوی ثنا دی خدای منظورکړي
دکریم په لوی دربار کې دی قبول کی

چونکه عجز د بنده دخدای پاک خوښ دی
دا زما عجز مسکنت دی خدای پاک خوښ کړی

معاصی اوگناهونه زما ای خدایه
تر حد وډیر دی زه به څه کړم باری خدایه

مغفرت اولوی رحمت ته ستا امید دی
چې دا ټوله ماته وبخښې یو حکایه

دا ئیا کاله په عمر کښې چې زما دی
ستر گی دیدکړی زه ادراک سمع غوږونه

پښې روانی پرهر لورچې می زړه غواړي
دوارۀ لاسه اماده وخپل کار ته یې اراده

دی قسمه خارجی نعمت هم ډیر دی
دی ټولو شکر ویل مشکل بلکه ناریږی

کریم ده لئن شکرتم چې راپیاد کړم
د اخر څخه می زړه په لرزه کیږی

د عبید د خوشحالی به هغه وخت وی
چې د نفس مطمئنه زړی پرې کیږی

درود پر احمد مجتبیٰ صلی اللہ علیہ وسلم

پس له حمد درود وایم پر احمد مجتبیٰ
چی سید المرسلین دی او محمد مصطفیٰ

شفاعت د ټولو امت به کوی خوک
هغه خوک چی دی محمود مرتضیٰ

په سجده کی د امت غم به کی خوک
هغه خوک چی دی حامد مقتدای

پس له خدایه غیرت مندسړی دی خوک
هغه خوک چی د نبیانو دی پیشوا

دیا ایها الذین امنوا صلوا علیه انعام دچا
هغه خوک دی چی اول دی په ویلو دبلی

محبت د هغه چا سره کړه وړوړه
چی په سخت حالت کی ستاوی راځما

د عبید د خوشحالی وخت به هغروی
چی قبول سی په دربار کښی د پیشوا

لعن تبسکه د احمد به عبید نسی
چی یوه دیوال ته مخ وبل ته شا

پس له حمده له صلوته دارنګ وایم زه وتاته
چی طلب د علم فرض دی لازم سوی لکه فرض دی

" رشید بیان "

پوه سه چی پر نراو بسخی هغه قدر علم اوزده کړه فرض عین ده" چی دی دهغو کارونو په کولو مکلف دی یا اجمالاً لکه اجمالی عقائد چی په آمنت بالله ته کښی ذکر سوی دی " او یا تفصیلاً لکه اوداسې علم اوزده لانځ علم اوصنی کړه د احکامو د حیض او نفاس هم فرض عین ده " ناسه وزده کړه د علم منے دا نه ده "

چی نراو بسخه خواه دفقهی شریفی کتابونه ولولی بلکه د خپلی ځځ د عقایدو هم زده کړه د دغو شیانو کافی ده حکایت بعضو واعظانو په خپلو مساجدو کښی هغه قصے بیانوی چی خلګ پرې وژاړی اودتهجد یت په عوامو کښی پیدا سی" اوداوداسې غلط لانځ وغیره احکام نه بیانوی " اوشرم دی چی عوام ودغو احکامو ته

= سخت ضرورت دی والی الله اشکی = منه

د نور الایضاح د پښتو شرح ضرورت څرګند

پوه سه: چی نور الایضاح په فقه حنفی کښی یو معتبر اود اعتماد ور کتاب دی۔ اوپر صحیح احکامو د فقه شریفی مشتمل دی " اوپه عین حال کښی پیر مغلق اوسخت کتاب دی۔

مناسفا نړدا کتاب جلیل الشان وپیرو مبتدی بلکه کچنی هلکانو ته وړیل کیږی یعنی تر شروط الصلوٰة او قدوری وروسته دا کتاب ودرس ته داخلیږی " اوددی سره سره چی چی لوستونکی یه کوچنیان دی " نوونکی یه هم هغه طالبان یا امامان دی " چی هغه د فقهی حنفی د مسائلو څخه بیخی نا خبره وی "

نود فوق الذکر حاله سره یه د غه هلکان ددی کتاب څخه څرفائده واخلی؟ اوځرفقه به نړده کړی! مثل " رڼونه به وړاندی تخم لاړوښی " نوهم له دی کبله ودی عاصی ته تحریک مطالبی او شفاهی مطالبی د طالبانو د خواځخه وړاندی سوی چی پر نور الایضاح " د قدوری په شکل اود ول " چا ته پښتو شرح پری کړیده هم هغه سی ترجمه اوشرح پر وکړه. چی دا مشکل د تعلیم او تعلم د نور الایضاح د ما بین ولاړسی. عاصی چی د دوی په دې مطالبه کښی غور وکړی بیله لبیک " می بله چاره وینه لیدله " اول د دی سببه چی په حدیث صحیح نبوی کښی راغلی دی۔ که چا د مستحقو کسانو څخه علم منع اوپټ کړی په ورځ د قیامت بی داور ملوونه په خوله کښی ورواچول سی. دوهم سبب دادی چی د اخو د دین خدمت اود ثواب کار دی.

د ریمه وجه داده " چی امکان لری بلکه غالبه ده چی هغه خوک چی د دی شرحی څخه فائده واخلی وما عاصی ته به د دعاء وکړی اود عاصی به سبب د مغفرت وګرځی. څلرم دلیل دادی " چی د خپلو پښتنو وروڼو او خوندو په خپل مورنی ژبه به خدمت د دین وګرځی. حقیقی محض کمتر یا بسخه چی پښتو خط یه نړده وی د فقهی حنفی پر ټولو احکامو بی علمه راسی " اوځ در بدری څخه به په امان سی " وما من الله التوفیق

مُصنّف د نُورُ الایضَاح څوك دئ

حضرت المولی ابوالحسنات المولوی عبدالحی اللکهنوی رح «مطرب الاماثل بتراجم الافاضل» په ص۲۶۵ کښی داسی وائی: الشیخ حسن بن عمار بن علی ابوالاخلاص المصری الشرنبلالی الفقیه الحنفی رح «دئ» دی وائی چه دغه شیخ دلوړو فقهاوو او فاضلانو څخه د څیلی نهانی وو. اوپه فقه حنفی کی یه تر ټولو متأخرینو نه ملکه اوقوت یه درلودئ. اوپه قواعدو د فقه نه خبر شخص وو. اوده په کشنو الی سبعقان پرشیخ محمد الحموی، اوپرشیخ عبدالرحمن المصیری رح وئیلی دی. اوپه لوی والی یه تولو فقه د شیخ عبدالله النحریری رح اود علامه محمد المجنی څخه زده کړه کړیده. اودیر علماء یاد شیخ شرنبلالی رح شاگردان دی چی نامورې کسان یه دغه دی «العلامة احمد العجمی والسید احمد الحموی والشیخ شاهین رح شاگردان دی چی نامورې کسان دی اوهمدارنګه العلامة اسمعیل النابلسی رح وغیرهؤلاء من الفقهاء رح وللشرنبلالی رح رسائل کثیرة نافعة وتصنیفات جلیلة» اولوی کتاب دده حاشیه ده پر درر وغرر» د ملاخسرو اودئ په ۱۰۶۹ لسه وفات سوی دی. اوعمریه تقریبًا ۷۵ کاله وو.

اود تصنیفاتو څخه د شرنبلالی رح یومتن متین دی په فقه کښی چی د نور الایضاح په نامه (یعنی فکه) شهرت لری. اود امتن تر باب الاعتکاف پوری دئ. اوبیاده پردغه خپل کتاب دوې شرحی کړی دی. یوه غټه شرحه اوبله کشنی» اوده د مختصری شرحی چی مراقی الفلاح یه نوم دئ داسی لیکلی دی «چی شروع د دغی مختصری شرحی په آخیر کښی د جمادی الاخیر یعنی د روستی خور اوختمریه په اولو وزهو کی درجب د میاشتی وسو. چی تخمینًا یوه میاشت کیږی. او د کتاب اوس موجود دی او یو مجلد کبیر دی» چی زما خیال دی چی په شپږ میاشتی کی بی کاتب نوشته هم نه وکړی. اود اشرحه په سنه ۱۰۵۴ لسه سوی ده. اوهغه کوئی شرحه چی (یعنی سره زیاته دده مواخذه ده) امداد الفتاوی یه نوم دی په سنه ۱۰۴۵ لسه په مابین کی د ربیع الاول یعنی نومړی خور اود مسوده ختمریه اخیر د رجب د میاشتی د دغه کال انجام سوه.

اوده وئیلی دی چی نوما اراده سوه چی عبادات خمسه پوره کړم په زیاتوالی د زکوٰة او حج مختصر. فقُلتُ کتاب الزکوٰة الخ

د روښانه وائی: چی بیا مولوی عبدالحی د شیخ شرنبلالی رح درسائلو او تصنیفاتو ذکر مفصلا کړی دی نو ما ته ضرورت ورته نسته. د اوو بیان د مصنف د نور الایضاح»

وَلَیسَ عَلَی اللهِ بِمُستَنکَرٍ اَن یَجمَعَ العَالَمَ فی عَالِمٍ»

همت بلند دارد کز درد خدا و خلق ؛ باشد بقدر همت تو اعتبار تو ؛ مرزا غالب رح

دا باران چی پرهه وو مخکو وورې ؛ مشرف یه کی دا ذات کیمیا وَلی عبدالرزاق رح

د فقه حنیفی مأخذ څه شی دئ!

پوه سه: چی مبنی د فقه حنیفی آیات قرآنیه دی چی تعداد د احکامی آیاتو یه ۵۰۰ ته رسیږی کذا فی التفسیرات الاحمدیة» اوبل مأخذ یه احادیث نبویه صلعم دی او اجماع دی اوقیاسات صحیحه په مذهب حنیفی کښی لویه برخه لری. اود اپه تولو کتابو کښی د فقهی حنیفی یوه معلومه خبره ده او پوه سه، چی فقه حنیفی په اکثر احادیثو شریفه وو کښی پر روایت د عبدالله بن مسعود رض مبنی ده. او نامورې یو صحابی جلیل القدر حافظ الحدیث وو اوپه عین حال کښی ستر مجتهد هم وو» د تاریخ پاڼی ددې دمنا قبو دی» چی تفصیلًا بیان یه په دی مختصرو اوراقو کښی نه ځایږی.

او د افقر ددې رح څخه علقمه رح روایت کړی دی» او دغه څخه ابراهیم النخعی رح روایت کوی او دغه څخه حماد رح روایت کړی دی او حماد څخه امام الامة ابوحنیفه رح روایت کوی او دغه څخه قاضی ابویوسف رح او محمد رح او نورو په زړو شاگردانو روایت کړیده ثم وثم الی یومنا هذا عبدالله بن مسعود رض د سا یتقینو مسلمانانو څخه دی حتی تر حضرت عمر رض د څخه مسلمان سوی دی او بدر شینو څخه هم دی» امام نووی رح په تقریب کښی وائی چی مسروق څخه روایت دی چی هغه وویلی چی علم د صحابه رض وو شپږو کسانو په پای ته رسیږی.

١ عمر رض ٢ علی رض ٣ أبی رض ٤ زید رض ٥ ابوالدرداء رض ٦ عبدُ الله بن مسعود رض آه

دَنفس عُلم فقه فضیلت څرګندئ

پوه سه: چی خدای جل شانهٔ په قرآن کریم کی داسی وائی، «وَمَنْ يُؤْتَى الْحِكْمَةَ فَقَدْ أُوتِيَ خَيْرًا كَثِيرًا» ترجمه: که چاته ورکړه سی حکمت نو هغه ته ورکړه سو لوی خیر» د مفسرینو حضرات د حکمت تفسیر په علم الفروع چی فقه ده کړیدی» او دا فقه لوی شرف دی، او ایضاً داسی راغلی دی، «فَقِيهٌ وَاحِدٌ مُتَوَرِّعٌ أَشَدُّ عَلَى الشَّيْطَانِ مِنْ أَلْفِ عَابِدٍ» یعنی یو فقیه یعنی عالم د فقهی چی پرهیزګار وی سخت دی پر شیطان ترزر عبادت کونکی یعنی چی فقهاء نه وی، امام محمد بن الحسن الشیبانیؒ داسی وائی ؎

تَفَقَّهْ فَإِنَّ الْفِقْهَ أَفْضَلُ قَائِدٍ ... إِلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى وَأَعْدَلُ قَاصِدِ

فقه حاصله کړه ولی چی فقه بهتر قائد دی ... وښو کارو ته او پرهیزګاری ته اوښه عادل قاصد دی.

وَكُنْ كُلَّ يَوْمٍ مُسْتَفِيدًا زِيَادَةً ... مِنَ الْفِقْهِ وَاسْبَحْ فِي بُحُورِ الْفَوَائِدِ

اوسه هر ورځ احسان کی د زیاتوب ... د علم فقه څخه او غواړی وهه په دریابونو کښی د فوائدو یعنی علم فقه د فائدو څخه

فَإِنَّ فَقِيهًا وَاحِدًا مُتَوَرِّعًا ... أَشَدُّ عَلَى الشَّيْطَانِ مِنْ أَلْفِ عَابِدٍ

ولی د فقهی یو عالم چی پرهیزګار وی ... سخت دی پر شیطان باندی ترزر د عبادت کونکو

کرانو وړونړو اوخوندو

که زه د فقهی شریفی فضائل او فوائد اوښی کړم په تفصیل سره وَخیرم یو لوی دفتر به څنډی جوړ سی، نو ښه داده چی پردغه جُزوی بیان یه بس کړم، گنده اندښت نمونه خروار.

حضرت الامام اعظم ابوحنیفهٔ رحمة الله علیه څرنګه شخصیت دئ

پوه سه: چی حضرت الامامؒ سراج الامت دئ، اوپه اجتهاد کی امام الائمه دئ، اوپه تقوی اوپه پرهیزګاری د خدایؒ د قدرت علامه دی، اود تابعینو څخه پر صحیح روایت دئ.

اصل نوم د ده نعمان د پلار نوم یه ثابت دی ابوحنیفه، ده کنیت دی.

«سَبَبُ دَا بُوحَنِيفَه كُنِيَتْ»

سبب یه دا دی چی حنیفه د عراقیانو په ژبه مشوانړی ته وائی. خطیب بغدادی په تاریخ بغداد کښی وائی چی د حضرت الامام په درس گاه کی به (۴۰۰) څلور سوه مشوانړی وقتی پرتی وی همیشه، چی شاګردانو یی ده مبارکه څخه اوریدلی مسئلی به نوشته کولی وقیل غیر ذالك فی وجه الکنیة.

خطیب بغدادی په تاریخ بغداد کی د یحیی بن نصر څخه روایت کړی دی چی حضرت الامام د روژی په میاشت کی شپیته ختم د قرآن کریم کوله، او داسی روایت یه هم کړی دی چی حضرت الامام په هغه خونه کښی چی دی په کښی وفات سو اویازده (۷۰۰۰) واره یه د قرآن کریم ختم کړی وو.

او خطیب مذکور د یحیی بن نصر څخه روایت کوی چی هغه بیا وائی چی ما د اسد بن عمرو څخه اوریدلی دی چی حضرت الامامؒ د ماخستن په اوداسه د سحار لمونځ څلویښت کاله کړی دئ.

وکان هو، قل یقرأ القرآن کله فی رکعة واحدة انتهی، د روښ وائی، چی د غه څلویښتو کلو د ماخستن لمونځ کول، مخالفینو د حضرت الامام، ترقسم قسم تنقید لاندی نیولی ده، بلکه دوی وائی چی داسی کار عادةً هیڅ امکان نه لری. سړه د دی د غه موضوع د ر مختار اونور کتابو د تواریخو ذکر کړی ده. عاصی د روښ د تنقید و بیان اودهغوبه زړه پوری جواب په شرح کښی د ابوالمنتهی چې پښتو ژبه عاصی جوړه کړی ده، اوهم دا اوس په خلکو او طالبانو کښی ښه شهرت او مقبولیت لری ذکر کړی ده هغی شرحی ته رجوع وکړئ.

علاوه تردی د روښ په هغه شرحه کی د امام اعظمؒ نسب اومناقب اونور سوانح عمری په حواله د تاریخ د کتابونو په دیر تفصیل سره بیان کړی، نو لازمه ده چی حنیفیان او د حضرت الامام پرمذهب عاشقان په هغه نامورې شرحه کښی د حضرت الامام په تاریخ اومناقبو خپل زړونه روښانه کړی، او حضرت الامامؒ ۵۵ واره ج ته تللی دئ، اوبوه شپه یه په خونه کښی د کعبی شریفی په دوه رکعته کی ټوله قرآن مبارک ختم کړی دئ.

اوعلامه حافظ النجم الغیطی وَایی چی حضرت الامام ووایل چی مارب العزت ۹۹ واره په خوب ولیدی نوزما په زړه کی داسوداپیداسوه که چیری دی خدای جلّ شانه په خوب کی ولیدی نوبه پوښتنه ځندی کوی چه په څه شی خلک ستاد عذابه څخه خلاصیږی په ورځ دقیامت، هغه ووچی تسلم وارچی مې په خوب ولیدی هغه عرض می ورته وراندی کی ربُّ العزت وفرمایل چی هرځوک چی سحار اومابنام دغه تسبیح همیشه وایی زماد عذابه څخه به نجات وموهی تسبیح دادی

سُبْحَانَ الْاَبَدِیِّ الْاَبَدِ، سُبْحَانَ الْوَاحِدِ الْاَحَدِ، سُبْحَانَ الْفَرْدِ الصَّمَدِ، سُبْحَانَ رَافِعِ السَّمَاءِ بِغَیْرِ عَمَدٍ، سُبْحَانَ مَنْ بَسَطَ الْاَرْضَ عَلَی مَاءٍ جَمَدٍ، سُبْحَانَ مَنْ خَلَقَ الْخَلْقَ فَاَحْصَاهُمْ عَدَدًا، سُبْحَانَ مَنْ قَسَمَ الرِّزْقَ فَلَمْ یَنْسَ اَحَدًا، سُبْحَانَ الَّذِیْ لَمْ یَتَّخِذْ صَاحِبَةً وَّلَا وَلَدًا، سُبْحَانَ الَّذِیْ لَمْ یَلِدْ وَلَمْ یُوْلَدْ، وَلَمْ یَکُنْ لَّهٗ کُفُوًا اَحَدٌ، کذا فی هامش الدر المختار

اوبله خبره داده چی خطیب بغدادی سره دی چی دلویو دښمنانو اوطن ویونکو څخه دحضرت الامام دی لکه چی تاریخ بغداد دد غه شاهد دی، وایی چی ماد ابی یحیی حمانی څخه واوریدله هغه وایی چی ماد ابوحنیفهؒ څخه واوریده چی مایوشپه خوب ولیدی او دیریه وارخطاکړم، هغه داچی ماقبر د آنحضرت صلی الله علیه وسلم سره شنی، نوزه بصری ته ورغلم هلته مایوسړی امرکړی چی ته زماد خوب تعبیر درئیس المعبرین محمد ابن سیرینؒ څخه وپوښته. اومامه وربنتیه هغه سړی دابن سیرین څخه دنامورې خوب پوښتنه وکړه هغه وربته وویله چی داخوب لیدونکی هرځوک چی دی تعبیرد خوب یه دادی چی دغه سړی به اخبار او احادیث اوشریعت دنبی علیه السّلام په خلکو کښی نشرکوی عبدُ الله بن المبارکؒ چی مسلّم محدث دی. اوامام بخاریؒ هم دده احادیث په خپل کتاب کښی راوړی دی. اود حضرت الامامؒ مخلص شاګرد دی، هغه په مدح کی دحضرت الامام داسی وایی:

لَقَدْ زَانَ الْبِلَادَ وَمَنْ عَلَیْهَا ❊ اِمَامُ الْمُسْلِمِیْنَ اَبُوْحَنِیْفَه

بِاَحْکَامٍ وَاٰثَارٍ وَفِقْهٍ ❊ کَاٰیَاتِ الزَّبُوْرِ عَلَی الصَّحِیْفَه

فَمَا بِالْمَشْرِقَیْنِ لَهٗ نَظِیْرٌ ❊ وَلَا بِالْمَغْرِبَیْنِ وَلَا بِکُوْفَة

یَبِیْتُ مُشَمِّرًا سَهْرَ اللَّیَالِی ❊ وَصَامَ نَهَارَهٗ لِلّٰهِ خَیْفَه

فَمَنْ کَاَبِیْ حَنِیْفَةَ فِی عُلَاهُ ❊ اِمَامٌ لِلْخَلِیْقَةِ وَالْخَلِیْفَه

رَئِیْتُ الْعَائِبِیْنَ لَهٗ سَفَاهًا ❊ خِلَافَ الْحَقِّ مَعَ حُجَجٍ ضَعِیْفَة

وَکَیْفَ یَحِلُّ اَنْ یُّؤْذٰی فَقِیْهٌ ❊ لَهٗ فِی الْاَرْضِ اٰثَارٌ شَرِیْفَه

فَقَالَ ابْنُ اِدْرِیْسَ مَقَالًا ❊ صَحِیْحَ النَّقْلِ فِیْ حُکْمٍ لَطِیْفَة

بِاَنَّ النَّاسَ فِیْ فِقْهٍ عِیَالٌ ❊ عَلٰی فِقْهِ الْاِمَامِ اَبِیْ حَنِیْفَه

فَلَعْنَةُ رَبِّنَا اَعْدَادَ رَمْلٍ ❊ عَلٰی مَنْ رَدَّ قَوْلَ اَبِیْ حَنِیْفَه

پوه سه: چی مراد دعبد الله بن مبارکؒ دابن ادریس امام المذهب حضرت الامام محمد ابن ادریس الشافعیؒ دی. اود عبد الله ابن المبارکؒ مراد دادی چی لعنت دی خدایؒ پرهغه چاوی چی دحضرت الامامؒ مذهب عناداً او تعصباً اوجهلاً رده وی. لکه وهابیان او په نامه مُوَحِّدین، اوسلفیان، په موجوده عصر کښی نه هغه کسان چی داجتهاد دلاری دامام اعظمؒ مذهب رده وی.

همرانواوریدونکو داوو مشت نمونه خروار بیان دمناقبو دحضرت امام الائمه سراج الامت ابوحنیفهؒ که په پښتو ژبه تفصیل غواړی نوشرح دعاصی پرابوالمنتهی مطالعه کړه اوکه په عربی ژبه تفصیل غواړی بیانو الانتصار لاقاد ائمة الامصار، تر پایه مطالعه کړه چی زړه دی روښان سی، وَمَا عَلَیْنَا اِلَّا الْبَلَاغ.

بسهانه فائده اوضروری خبرتیا

پوه سه: چی مسئلی دفقهٔ حنیفی پردری قسمه دی د اصول چی ظاهر الروایه یه هم بولی هغه هغه مسئلی دی چی داصحاب المذهب ابوحنیفهؒ او ابویوسفؒ اومحمدؒ چی

مکتبه القراءت والتجوید کوئٹه

د علماء ثلثة په نامه د فقهی پـه کتابونکښی یادیږی، څخه یه روایت ثابت وی، او دغه مسئلی د ظاهر الروایة اواصول دی.

په دغو کتابونکی ذکر کیږی چی تولـه یه تصنیف د امام محمدؒ دی یعنی "الجامع الکبیر" و "الجامع الصغیر" و "الزیادات"، و "المبسوط"، و "السیر الکبیر" و "السیر الصغیر" چونکه د دغو کتابو مسئلی د حضرت الامام محمدؒ په روایت د معتمدو راویانو څخه ثابتی دی، نو یه دی ظاهر الروایت بولی، په یوه تاریخ کښی داسی راغلی دی، چی یوه ورځ امام محمدؒ د یوه سړی څخه تل سړی ته کډه کیدی نو دا تولـه خپل کتابونه که د ظاهر الروایة اوکه نورو په یوه اوښه بار کړی وه، د یوه مسلمان په دکان کی یو یهودی ناست وُو دا پـه اوښی بار کتابونه چی یهودی و لیدله نُو د مسلمان څخه پوښتنه وکړه چی دا څومره د پرکتابونه دی. اودا چا جوړ کړی او تصنیف کړی دی؟

مسلمان ورته وویل چی دا تولـه تصنیفونه د محمد بن الحسن الشیبانیؒ چی یهودی هم پیژندی نو یهودی وویل، "هذا محمد کم الاصغر فما بال محمد کم الاکبر اَشْهَدُ ان لا الٰـہَ الا اللّٰہُ و اشهد ان محمدا عبده و رسوله".

او د دیـر نوادر المسائل دی: او دا و هغو مسئلو ته وائی چی د ائمه ثلاثـه و څخه مروی وی لکن په مذکوره کتابو کښی نه وی بلکه یاد امام محمدؒ په نورو کتابو کښی وی، لکه "هارونیات" کیسانیات، "جرجانیات"، "رقیات"، چونکه د دغو کتابو د مسائلو روایت د حضرت امام محمدؒ څخه په اسانید و معتبره و سره نه دی ثابتی سوی لکه د هغه نورو کتابو د مسئلو نو دی کبله غیر ظاهر الروایة مسئلی بولی او د غه کتابونه هم کتب غیر ظاهر الروایة بُولی. او یاد غیر څخه د امام محمدؒ مروی وی لکه "کتاب المخارجات د حسن بن زیاد".

او د دیـر کتب الامالی د حضرت امام ابو یوسفؒ **پوه سـه**: چی امالی جمع د املاء ده، املاء دا چی څه وخت په مدرس و درس ته کښینستی او شاگردان به پُرا تول سول د هر طالب سره به خپل کاغذ، او قلم او مشوانی وه نو استاذ چی به تقریر کاوه شاگردانو به سمدلاسه لیکل کاوه، بیا به یه هغه تقاریر د استاذ سره جمع کړه نو مر د املاء به یه پر کښیښو.

او د پرو هغو کتابونـه امالی وَیلـه. او د اکار پـه پخوانی زمانو کی عادت د محدثانو او د فقهاو و او د اهل عربیت تولو و و.

ولی په هغو زمانو کی شوق او ذوق د علم د پـرو و پـه کرار کرار د علم شوق لږ ی دی نو د اکار بیخی د بینَ ولاړی، سه وهکذا یذهب الزمان علی العبر: ویفنی العلم و یدرس الاثر.

شکایت

د سنه ۱۴۰۰ هجری قمری پـه پښتنو طالبانو کی بیخی د علم د تحصیل پر وجـه اتمام او اکمل باندی شوق د مابین څخه تللی دی حتی تر سنه ۱۴۲۱ هجری قمری پـه هر کال کښی پـه زرو طالبان لنگوټی تړی او شهادت نامی تر لاسه کوی او مولوی صاحب یه بُولی. لکن د مولویان د هدایت النحو او کافیـه یا ایساغوجی او نور الایضاح پر درس قدرت نه لری، او چاه طلب مدرسان څرنگه چی طالب و غواړی چی ماته سند راکړه لنگوټـه راوتړه هغه مدرس وریته وائی د یر اعلی. والی اللہ المشتکی من ضیع بُوْلَاۃ العلماء و الطلباء.

مُقدِّمة جَلِيلة نافِعة

پوه سـه: چی دین سماوی او مذهب اسلامی، او شرع نبویؐ. دوه جانبه یعنی دوه ارخه لری، چی د دَو وارو و زده کړه ضروری ده، او بیا پر هغه باندی عمل واجب دی.

اوله جنبـه د عقائدُو ده: عقیده معنی د زړه یقین کول پر یو مخبره باندی. لکه زمونږ یقین چی اسمان پورته او محکم کښته ده، عقائد د اسلام د مثال پـه دُول یقین کول چی خدائ ﷻ ستـه او یودی، او قیامت حق دی، رسُول علیه السّلام ﷺ د خُدای ﷻ نبی برحق دی او دغه قسمه څخه نور عقائد.

واوره: چی د عقائدو سَمَعیات پر هر مُومن نر او ښځی فرض عین دی. او چه عقائد یه صحیح نه وی لمونځ روژه وغیره په ښه نه دی: او د عقائدو زده کړه دوه قسمه ده یو تفصیلی زده کړه یعنی د هر عقیدی جلا جلا زده کړه دا تفصیلی زده کړه د عقائدو د کتابُو په ویلو سره کیږی. پـه خواخوږ ولمونـه دا عذر و و چی کتابونـه د عقائدو عربی دی

اومونږ په عربی نه پوهیږو. اوس اوس، په توفیق د خدائ دا عذر قطع سو، ولی چی عامی د عقائدو دوه کتابه یعنی نور ظلم او ابوالمنتهی په مورنی ژبه په پښتو کړه او په ښه آسانو الفاظو می ترجمه وکړه او فرانی شرحی می پرو کړی، اوس نو صرف چی د پښتو خط ویلای سی، په دغو دوو کتابو کښی خپل عقائد زده کولای سی ان شاء الله تعالی، اوبله اجمالی زده کړه یه ده چی د هغه د پاره د اٰمَنْتُ بِاللّٰهِ زده کړه سره د ترجمی کافی اوبس ده.

د اٰمَنْتُ بِاللّٰه ترجمه واوره!

اٰمَنْتُ بِاللّٰهِ زما یقین دی پر خدائ یعنی چی خدای سته او یو دی شریک نه لری د دی عقیدی مخ مخالف خو دلی کافران دی (۱) زهریان چی دهغو عقیده داده چی هیڅ خدای نسته او عالم لره خالق نسته عالم په خپله پیدا دی، داده روسانو او کمیونسټانو مذهب دی. (۲) خدای خو سته لکن په ذات کی شریک لری یعنی دوه خدایان دی. چی د دوی په عقیده یو خدای فائده مند شیان پیدا کوی، لکه انسانان پسونه، اسان، وغیره او فائده مندی میوی پیدا کوی لکه، انګور، انار، سیب، وغیره او دی خدائ ته دوی یزدان وائی. او بل خدای ضرر مند شیان پیدا کوی لکه مار، لړم، لنډی وغیره. او یا زهری نباتات، او دی خدای ته دوی اهرمن یا شیطان وائی دا مذهب د آتش پرستانو دی (۳) دله خدای واحد بولی په ذات کی یعنی شریک نه ورته وائی په ذات کی امّا په عبادت کو لو کښی شریک ورته وائی یعنی د بتانو عبادت هم حق بولی چی دی دلی مشرکان وائی. او په اصطلاح د پښتنو یه هندوان بولی.

وَمَلٰٓئِكَتِهٖ اوزما ایمان دی پر ملکو د خدائ چی ملکی د خدائ مخلوق دی لونږی د خدائ نه دی لکه مشرکان چی وائی، او دا ملکی د کنهو څخه معصوم مخلوق دی نه داسی دی لکه د انسانانو ټران اوښه داسی دی لکه د انسانانو نښځی.

فائده، ملکی د خدائ یو عظیم مخلوق دی بعض په آسمانو کی دی، او بعض په محکه کښی دی، او بعض پر جنتو مقرری دی او بعض پر دوزخو.

او بعضی د انسانانو نود خیر او شر پر لیکلو، او نور نور نظام د رب جل وعلا.

عاصی وائی چی د ملکو د پیر والی اندازه د دی حدیث نبوی څخه معلومیږی چی خدائ پاک پر برابر د کعبی شریفی په آسمانو کښی یوه خونه جوړه کړی چی لوی والی یه و خدائ ته معلوم دی، او دا خونه د آسمانو د پیدا کولو ورسره سمه پیدا سوی ده، او دی خونی ته بیت العزه وائی. او دی خونی ته د زیارت او عبادت د پاره او زیارت ملکی په اجازه د رب جل وعلا هره ورځ ورځی: نو هغه ملکوته چی اوله ورځ ورغلی دی بیا تر اوسه بلکه تر قیامت نوبت نه دی رسیدلی. نو اندازه د دیر والی تاسی ورته وکړئ.

وَكُتُبِهٖ اوزما ایمان دی پر تولو آسمانی کتابو چی د خدائ د خوا پر مختلفو نبیانو نازل سوی او هغوته ورکړه سوی وه یعنی زمونږ ایمان دی چی دا توله کتابونه د خدائ د خوا څخه نازل سوی دی د پاره د هدایت د انسانانو نو که خرم عمل زمونږ مسلمانانو پر قرآن کریم محصور دی. حدیث نبوی، توله کتابونه د خدائ یو سل او څلور دی.

وَرُسُلِهٖ اوزما ایمان دی پر تولو رسولانو یعنی انبیاء علیهم السلام باندی کم څخه هم علماء د رسول او نبی فرق سره کوی: چی رسول هغه دی چی نوی شریعت ورسره وی، چی ۱۱۳ دی او نبی عام دی که نوی شریعت ورسره وی او که په څنی شریعت سره عمل کوی لکه انبیاء د بنی اسرائیلو علیهم السلام: لکن د الله رسول په سلو څلویښت بنی دی،

فَائِدَه: د انبیاء علیهم السلام په عدد کښی مختلف حدیثونه راغلی دی، نو ښه داده چی خاص عدد دی نه معلومو ی، بلکه لکه زمونږ پښتانه چی وائی یو لک څلویښت زره زیات وکم پیغمبران منم، معنی دا چی یا زیات تر دغه عدد او یا کم تر هغه انبیاء علیهم السلام منم،

وَالْقَدْرِ خَيْرِهٖ وَشَرِّهٖ مِنَ اللّٰهِ تَعَالٰى:

او توله تقدیر او اندازه او پیدا کول که د خیر وی او که د شر وی د خدائ جل شانه د خوا یه بولم او عقیده پرلرم، پوه سه: چی ضمیر د خَيْرِهٖ وَشَرِّهٖ راجع و قدر ته دی.

سوال: قدر او تقدیر خو د خدائ صفت دی او صفات د خدائ توله خیر دی، نو په قدر کښی شر کله څائیږی!

جواب: خیروالی دقدر اوشر والی دقدر په اعتبار دمقدوردی. یعنی گاهی مقدور خیروی لکه لمونځ روژه، حج وغیره. اوگاهی مقدورشروی لکه زنا، لواطت، شراب خوری وغیره

وَالبَعثِ بَعدَ المَوتِ اورزمایمان دی چی پس له مرگه ژوندسته یعنی ویخ دقیامت چی په هغه ژوند کی به مسلمانانوته اوکافرانوته دژوندد اعمالوجزا ورکول کیږی، جنت یا دوزخ ورکول کیږی، **هندوان** الخرت نه منی اوحکماءهم عالم قدیم بولی والی چی دادنیا نه ختمیږی نوآخرت نشته.

پوه سه: چی دعقائدوفاسد والی به یا مفضی وکفرته وی لکه چی تیره سوه. اویاب مفضی وبدعت اوهواته وی لکه عقائددمعتزله ووکرامیه وو، شیعه وو اونورو

قال النبی صلی الله علیه وسلم: ستفرق امتی علی ثلث و سبعین فرقة کلهم فی النار الا الناجیة. ترجمه: ژردی چی زما امت به پر درو اویا ووډ لو ووویشل سی چی یولو ۷۳ به دوزخ کی وی مگرناجیه، یعنی دغه اهل السنة والجماعة دله، **عذر**، ددی تولود مذهبوبیان دلته نه غائیږی کی تفصیل غواړی، «کتاب الملل والنحل» دمحمدبن عبدالکریم الشهرستانی مطالعه کړه چی په دوه جلده کښی دی، «ومن الله التوفیق»

دوهمه جنبه دعملیاتو ده: چی ورته فروع وایی: ددی جنبی دپاره علم فقه مجتهدینو وضع کړی ده، دعلم فقه مختلف اصطلاحی دی چی په تنقیح اوتوضیح اوتلویح کی مفصل بیان موجود دی. دمبتدی دپاره دلته دغه قدر کافی ده چی علم فقه داعمالوڅخه دمکلف بحث کوی **پوه سه:** چی داعمالو زده کړه په هغه قدر چی مکلف پمتبلی وی فرض عین ده مثلاً لمونځ، روژه، چی پر تولو مسلمانانو فرض دی زده کړه یې سره دشرطو اوارکانو پر تولو فرض عین ده. اودزکوة اوحج مثلاً داحکامو زده کړه پراغنیا ووفرض اودغه رنګه دتجارت دحلال اوحرام زده کړه پر تجارانو فرض ده. لکن زده کړه عامه ده کی په کتابو کښی زده کوی اوکی دمُلایانو څخه د پښتنو زده کوی، اوپر مُلایانو لازمه ده چی عوامو ته داوداسه لمانځه، روژی، یعنی دفرائضو خمسه وواحکام شرطونه واجبات سُنتونه، مستحبات په مفصل توګه په وار وار ورته بیان کړی.

لکن افسوس چه واعظان مُلایان دمساجدو هغه شیان وخلګوته بیانوی چی ددوی په هیڅ درد د نه خوری.

اوچی دوی ورته ضروریت لری هرهغو احکامو ته دهغوڅخه یه خوله پته نیولی وی مثلاً دیوسف علیه السلام قصه کړه هم صحیح اوقرآنی ده. لکن هغه چاته چی دهغه اودس اولمونځ اوروژه نه وی زده څه فائده ورته کوی. **پوه سه:** چی دفرضی کار په نه کولو سره سړی فاسق بلل کیږی لکه چی یوسړی لمونځ نه کوی اوروژه څوری وغیره اودغه رنګه دحرام کار په کولوسره لکه زنا، لواطت، وغیره سړی فاسق ګنړل کیږی.

توبه کښل پرلازم ده، اماکافرنه دی په مذهب کی داهل سُنتو: حتیٰ که بی توبی مړ سی ابدی دوزخ ورلره نسته، اوکه چیری دغه تارک دفرضویا فاعل دحرامُو دهغودفرضیت څخه یاد حُرمت څخه منکروو بیانو کافردی بالاتفاق. اوخوارج والی که چیری مرتکب دکبائرو وو هغه کافردی، که بیله توبی مړسی ځای یه ابدی دوزخ دی.

اومُعتزلی والی نه مُومن دی اونه کافر مګرځای یه ابدی دوزخ دی چی بی له توبی مړسی" ددی مبحث تحقیق په شرح کښی دابوالمنتهی وګوری چی عاصی تصنیف کړی ده.. داوهغه لنډه مقدمه دشرح دنورالایضاح چی هم دغونه قدرد مبتدیانو دحال سره برابره ده.

هم داوس دروېش محمد عبیدالله الحنیفی السنی» السلیمانخیلی الایوبی الافغانی الکندهاری دنورالایضاح په پښتو شرحه شروع کوی» وَمَا التوفیق اِلَّا مِنَ الله اللهم وفقنی لاختتام هذا الشرح کما وفقتنی لشروعها بالخیر والعافیة والصحة والله علی کل شئ قدیر» واجعله لوجهك الکریم

والهمنی الصواب فی کل باب» الحمد لله اولاً واخیراً

والصلوٰة والسلام علی رسوله ابداً وسرمداً

وعلی اله وصحبه الیوم وغداً وبعد ذالک ابداً

قَالَ المُصَنِّفُ

بِسمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِیمِ

شروع کوم دپاره د تبرك په نامه د خدای چې دیر احسان کوونکی په دُنیا کښې مسلمانانو سره اود کافرانو سره په روزی اورزق ورکولو سره وغیره . اوبیرمهربانه دی په آخرت کښې پرمسلمانانو: سعدی شیرازیؒ سه ای کریمی که از خزانهٔ غیب ؛ گبرو ترسا وظیفه خوردای
دوستان را کجا کنی محروم ؛ تو که با دشمنان نظر داری.

پوښتنه: څرسبب دی چې تولـه مصنفین حضرات دخپلو کتابونو په اول کښې بسم الله وائی **جواب:** اول موافقت د قرآن کریم سره کوی چې دهغه په شروع کی بسم الله وجود لری **دوهم:** متأخرین علماء پخپلو سلفو صالحینو پسې اقتداء کوی چې دسلفو هم داغه عادت وو. **اودریم** داچې امام نوویؒ په شرح کی د مسلم داسی روایت کوی چې حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم داسی فرمائلی دی. «کُلُّ أَمرٍ ذِی بَالٍ لَم یُبدَأ فِیهِ بِاسمِ اللهِ فَهُوَ أَبتَرُ» معنی داچې هرکار چې دشروع وی چې شروع ونکړې سی په هغه کار کی په نامه د خدای هغه کار به بی برکته وی.

دبسم الله احکام د فقهی دلارې دادی

۱ وجوب چې فرضیت ته هم شامل دی. «په ابتداء کی د ذبیح د حیوان که څرپوره بسم الله الرحمٰن الرحیم واجب نده بلکه منقول باسم الله الله اکبر» طحطاوی ص۱.

اوپه ابتداء د ویشتلو د بنکار. اوپه ابتداء کی د بنکاری سپی یا باز داستولو وبنکارنه

اوپه ابتداء کښې دفاتحې دهرکعت لکن دامذهب ضعیف دی صحیح داده چې سنت دی» ردالمحتار

۲ **سُنیت:** په شروع داوداسه کی په ابتداء د خوراك کی. «په ابتداء کی د چنبلو په ابتداء کی. هرامر ذی بال لکه قرائت د قرآن کریم» تدریس. د دینی کتابونو د مطالعی په شروع کی. «او د جماع په وخت کی چې پر تگاښې په نړی خلاص کړی» ردالمحتار «درلیس»

۳ **استحباب.** په مابین دفاتحې اوسورت «وَالمَلَائِکَةُ عَنهُ غَافِلُونَ» ردالمحتار

۴ **اباحت** اباحت په ابتداء کی د دولارې، ناستی، تگ وغیره «رد»

۵ **کراهیت:** په ځای د ناپاکی کی لکه مکان، پاخانه» په وخت د استعمال د هر بدبوی شی. لکه چلم، نسوار، سگریټ، پیاز، گندنه» هوبنه، وغیره. اوپه اول کی د سورة براءة» رد، طحطاوی

۶ **حُرمت:** په وخت کښې د حرام کار کولو بسم الله ویل حرام دی» لکه زنا، لواطت، شراب، د مغصوب مال خوړلو په وخت کی یا د غلا د مال خوړلو په وخت کښې هم حرام دی. په وخت د جنابت کی که په نیت د قرآن وویل حرام دی اوکه په قصد د ذکر وو بیا پروانه لری.

مسئله: کسری بسم الله ویل په وخت کی د فعل حرام لکه زنا روا ابو لله نوهغه سړی کافر سو. اوکی روا نه بو لله مکروی ویله. نودا معصیت دی. توبه پرهغه لازمه ده.
وتمام هذا المبحث فی الطحطاوی» شرح نور الایضاح، ص۲

د بسم الله په باره کښې بعض په زړه پورې معلومات

د الله لفظ نومړی د ذات د خدای اوعربی لفظ دی. اود اهم مذهب دی د امام اعظم ابوحنیفه» اود محمد بن الحسن الشیبانیؒ اود حضرت محمد بن ادریس الشافعیؒ اود امام النحویین خلیل ابن احمد الفراهیدیؒ»

اود ازیرې هم واورې» چې حضرت الامام محمدؒ د حضرت الامام ابوحنیفه» څخه روایت کړی دی چې الله اسم اعظم شریف دی، اوفقیه ابوجعفر الطحاوی وائی چې دا مذهب د ډیرو علماءو اود اکثرو صوفیاو کرامو هم دی. اوترډی لوی ذکر کړی» ردالمحتار ص۵ اودرویش باگناه وائی چې ما د خپل بعض تجربه والا وو استاذانو څخه اوریدلی دی» چې ورد کامل د دی اسم پاك ۵۰۰۰۰۰۰ یعنی پنځه لکه واړه دی» په یوه اعتکاف کی سره ډروڅی» اود یو شیخ کامل عامل په اجازه» اوروزانه وظیفه یې ۲۳۶۰ یعنی دوه زره اوډیرسوه شپیته واړه ده هم په اجازه د شیخ»

تنبیه: د اروزانه عدد یې د دی څخه معلوم کړی دی. چې دغه مبارك اسم په قرآن کی په اسم ظاهر اویا ضمیر سره دغونه واړونه ذکر سوی دی» اوکه چاته یو مهم سخت کار چې شرعًا جواز لری ورته پیښ سی نو د ماخستن تر لمانځه وروسته دی د اسم مبارك

ص ۲۳۶ واړه مخ پر قبله وګرځوئ . او بیا دی د خدای پاک څخه خپل د مُهم حل وغواړی.
اوودی وظیفې ته دی تر درو شپو پوری دوام ورکړی اِنْ شَآءَ اللّٰه الکریم، هغه کار دی خدای حل کړی» اود پوره بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ وظیفه روزمره ص ۷۸۶ واړه ده چې دا په حساب د اَبجد د بِسْمِ اللّٰهِ عدد دئ. اَلرَّحْمٰنُ عربي دی اواسم صفت دی، ولې چې معنی د صفت درحمت وَرسره ملحوظ ده اومعنی یې داده چې مهربانه په دنیا کې پر کافرانو اومسلمانانو، د دنیائ نعمتونو په ورکولو سره» سعدیؒ

ے ای کریمی کہ از خزانۂ غیب ۔ گبر و ترسا وظیفہ خور داری ؛ دوستان را کجا کنی محروم ؛ تو کہ با دشمنان نظر داری.

پوښتنه: په بیضاوی او نور و کتابو کې وائی چې د رحمان اطلاق پر ما سوی د خدائ نارواوی» اوسره د دی چې یوستر شاعر د پښتو ژبې چې په عَبدُالرحمٰن بابا مشهور دئ. د خپلو غزلو په پای کې وائی زه رحمان»

بعض مُلایان وائی چې عبد الرحمٰن بابا خو یو شاعر سړی و و نا خبره د احکامو څخه نو دهغه و قول ته اعتبار نشته» ځواب غلط دی ولې د تاریخ ورقې د عَبدُالرحمٰن بابا ر په ښه عالم والی سره دکې دي بلکه اصل جواب دادی چې د ر د مختار په جلد ۱ ص ۶ کې وائی چې مخصوص په خدائ لفظ د الرَّحمٰن دی یعنی چې الف ولام د تعریف ورسره وی. او یوازې رحمان د غیر ته د خدائ ویل روا دي،

اَلرَّحِیْمِ: هم د خدائ اسم صفت دی او معنی یې داده چې ورکونکی د نعمتو و مؤمنانو ته په جنت کې، د تصوف په کتابو کې ښه راغلی دي چې روزانه وظیفه د الرَّحمٰنُ ص ۲۱۸ سبب د فراخی د رزق دی په دنیا کې او وظیفه د، اَلرَّحِیم ص ۲۵۸ سبب د دې والی د نعمتو د اخرت دی» وَالعلمُ عِندَ اللّٰهِ، په حدیث مبارک کې راغلی دی چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم، وفرمایلې چې کلی یا چاپی د قرآن شریف، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحِیْمِ ده د دی څخه دا حکم ښکاریږی چې مستحبه ده چې د تلاوت د قرآن کریم شروع دې په بِسْمِ اللّٰه سره یعنی پس له اَعُوذُ بِاللّٰه څخه،

ابن عباسؓ روایت کړی دی چې رسول کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایلې چې کم وخت چې یو مُعلم

وملاګ ته د وائی چې د وایه بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ هغه مُتعلم هم بِسْمِ اللّٰه د وائی خدای پاک لیکی براءت د نجات د دوزخ د هغه مُتعلم پرنامه او د هغه مور او پلار او مُعلم پر نامه، تفسیر یعقوب چرخی ص ۷»

پوښتنه: آیا د بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ په وَیلو سره کبیره ګناهونه هم بخښل کیږی او کرخنګه؟ ځواب: کتابونه د شروحو د احادیثو شریفه و و کتبی وائی چې هر ښه عمل یا قول چې په حدیث شریف کې وعده د بخښنې د ګناهونو ورکړه سوی وی، مراد د هغه څخه صغیره ګناهونه دی. او د ګناه کبیره د بخښنې یا د تخفیف امید ستَه.

سَوال: د کبیرې ګناه بخښنه په څه کیږی ځواب: د اخلاصه د ګناه توبه سره ولې چې په حدیث پاک کې راغلی دی» اَلتَّائِبُ مِنَ الذَّنْبِ کَمَنْ لَّا ذَنْبَ لَهٗ.

تنبیه: توبه د خولې کار نه دی فقط بلکه توبه اول پښیمانی د زړه غواړی په اخلاص او د آینده د پاره تینګ قصد غواړی چې بیا به دغه ګناه نه کوم او د تیر و سو و ګناهو خدای پاک ته عذر و ویل غواړی» اوهغه عمل چې قضا لری لکه لمونځ روژه وغیره د هغه به قضاء راوړی» اوکې د خلګو مال ونه په غلا یا غصب یا خیانت خوړلی وه یا به هغه ټوله ادا کوی یا به د هغو څخه عفوه غواړی.

مسئله: د حضرت الامام الصائبؒ په مذهب کې عفو او د حق بخښنه اجمالاً هم کافی ده مثلاً که یو سړی د یو چا مال په غلا یا په خیانت وغیره خوړلی وی او دی پوهیږی که نه تفصیلاً و ړته و وایی عفوه مې راته کوی نو وُوړته و وائی چې فلانیې حق به سره بخښو هغه ورته و وائی چې ما خپل حق در بخښلی دی په دغه اجمالی بخښنه هم هغه سړي یعنی سارق مثلاً د مسروق منه د حق څخه خلاصیږی»

د پښتنو د خبرو راز» پوښتنه: چې یو سړی چې په پښتنو کې ناجوړی وی، چې قریب الموت د خلګو په خیال کې ورسی نو هر عائد یعنی د ده پوښتنې ته چې راځی د او ورته وائی چې فلانیه و ټولو مسلمانانو ته حق پَل کړه یعنی حق و ړو و بخښه. چونکه ناجوړی په سبب د ناجوړی په زړه نږدې سوی وی» نو هغه عائد ینو ته د اسی وائی چې ما و ټولو مسلمانانو ته حق بخښلی دئ.

نوپه دی کی عفو عمومی اجمالی راسی" نوبناءً علی مذهب الامام ، توله خلاک دمړی د حقوق څخه خلاصیږی.

اِستفهام پوه کول دځان "دقرآن دهرسورت په سر کښی سوا د سورت براءت بسم الله سته آیا دغه بسم الله دهرسورت جزء ده اوکه نه **جواب** دحضرت امام شافعیؒ په مذهب کښی دهرسورت جزء ده" اما امام اعظمؒ په دی باره کښی واضح خبره نه ده کړی خوبیا هم دامام اعظمؒ دمذهب لوړ رتبه امامان وائی چی بسم الله الرحمن الرحیم دقرآن یو مستقل جزء اوایت دی اود هرسورت په اول کی د قرآن مبارک دسورتو د جلا کولو دپاره اوهم د تبرک دپاره ده" تفسیر بیضاوی ص۳

سوال: که څوک د بسم الله دقرآنیت څخه منکر سی باید هغه سړی کافر وګڼل سی. اوس ددی فقهاءؒ وائی چی دغه سړی کافر نه دی" **جواب**: دعقائدو اوفقهی په کتابونو کی مسئله داسی ده چی هغه ایت چی اتفاقاً قرآن وی دهغه منکر کافر دی" بسم الله شریفه اتفاقی قرآن نه ده ولی چی امام مالکؒ بسم الله قرآن نه بولی بلکه ذکر یه بولی.

پوښتنه! جنب اوحائضی نفساء ښځی ته ولی په مذهب کی د امام اعظم صاحبؒ ویل د بسم الله الرحمن الرحیم ویل روادی اوسره ددی دغه مذکوره کسان د تلاوت څخه دقرآن کریم شرعاً منع دی **جواب** دغو کسانو ته ویل د بسم الله په نیت د تبرک روادی" لکه چی دودی خوری یا اوبه چښی بسم الله ووائی" نه په نیت د تلاوت دقرآن" خزینه ص۸۴

سوال: دغه نام ورو کسانو ته ماسوی دقرآن کریم دنورو اذکارو ولکه لا الٰه الا الله" سبحان الله بحمده" اونور ددغه قسمه اذکارو ویل روادی. **جواب**: هو په اتفاق د تولو مذاهبو روادی" اود غه رنګه دغو کسانو ته" السلام علیکم وچاته ویل یا وعلیکم السلام" دچا د سلام په جواب کی ویل روادی" بلکه الحمد لله رب العلمین په قصد د شکر د نعمت نه په د تلاوت روادی خزینه ص۸۴.

کتبه احقر الوری فضل الحق حقانی استاد جامعه تجوید القرآن سرکی روډ کوئټه.

د پښتنو بد عادت

د پښتنو حتیٰ عوام خوخه کوی د طالبانو هم د اعادت دی چی جنب سی یا حمام یا بل ځای ته د غسل څخه نوی په پټو پرسر اچولی وی محکمی ته گوری" چی د لیری بل سړی په دی پوهیږی چی دا سړی جنب دی نو چاته سلام وایی اونه د چا سلام جواب ورکوی دا طریقه غلطه ده **د تحفهٔ نصائح** چی یو فارسی کتاب دی دا غلطه نه ووینه ده" تاسی فکر وکړی په حدیث شریف کی چی بخاری اونور کتابونه یه روایت کوی" د ابوهریرهؓ دی وایی زه یو ورځ جنب وم راود غسل دپاره روان یم"

چی ناګاه آنحضرت صلی الله علیه وسلم په مخه راغلی او تر لاس یه ونیولم خبری راسره کوی. زه حیران پاته سوم چی ستا صورت خو ناپاکه دی اورسول کریم صلی الله علیه وسلم تر لاس نیولی یه خبری درسره کوی" خیر یه دی وخت کی یو بل سړی پیدا سو اورسول الله صلی الله علیه وسلم زما لاس ایله کړی. اود هغه سړی سره یه خبرو سوزه پټ ولاړم او غسل می وکړی اوبیرته راغلم آنحضرت صلی الله علیه وسلم راته وویل چیری په پته ولاړی ما وریته وویل چی زه خو جنوب وم" رسول کریم صلی الله علیه وسلم د تعجب په لهجه داسی فرمائیلی:

سبحان الله ان المؤمن لا ینجس"

او تحفهٔ نصائح وائی چی جنب سوی" نه به لمونځ گوری اونه سپورزی اونه د استاذ و مخ ته خیر دا یو جمله معترضه وه د خلګو د پوه کولو دپاره" د اسرار مخزونه په ص۸۵ کی وائی که څوک د یوه جابر حاکم دربار ته ورتلی او ځندی بیریدی نو پنځوس واره دی بسم الله الرحمن الرحیم ووائی او پر ظالم د داخل سی هغه ظالم به پر مهربانه سی بلکه د دویونکی سړی نه پر ظالم هیبت پریوځی اود شر څخه بی په امان سی" او کوم کار چی درلودی هغه به ورا جراء کړی:

اود غه رنګه که څوک د یوه پیریانی یا بیهوشه سړی په غوږ کی څلویښت واره بسم الله شریفه ووائی پیریان بی ایله کی اویا بیهوشی بی ولاړه سی" اود غه رنګه که څوک په وخت د بیدیدو کی شل واره بسم الله شریفه ووائی په دغه شپه کی به د شیطان، پیری، غله، د ناببره مرګ څخه

بلکه دهر آفت به په امان وی:

اوکه یوسړی بسم الله شریفه هره ورځ دیره وائي رزق بی خدای پاک فراخه کړه اوپه اسانی به رزق وررسیږی،، خ ص۸۶

اوکه خوك دیکشنبی په ورځ د لمر راختلو په وخت کی مخ پر قبلد کښینی اوبسم الله شریفه په عدد درسولانو ۳۱۳ چی دی ووائی اوښتل واره د درود شریف هم ووائی خدای یونایږ رزق ورکړی،، اود غرنگه که یوسړی بسم الله شریفه په حساب ابجد یعنی ۷۸۶ واره وپه شه اخلاص ووائی دهر حاجت دپاره چی شرعاً روا وی،، خدای پاك بی هغه حاجت پوره کړی اوکه ډ ظالما نو یا دښمنانو څخه ببیږی خدای به هغه څندی دفع کړی،، اوکه دیوچا راجلبول په مقصود وی هغه سړی به ورته راسی،، اوکه د تجارت دگټی دپاره یه ووائي تجارت به یه دیره گټه ورته وکړي،،

حضرت الامام ابوحامد محمد الغزالی په احیاء العلوم کی وائی،، که خوك دشپی یادوزخی بسم الله شریفه ۱۲۰۰۰ دوولس زره واره په دی ترتیب ووائی چی اول اودس تازه کړي یا غسل وکړي اوپاکی جامی واغوندی اوپه پاك ځای کښینی نوزده واره چی بسم الله پوره کړي، دوه رکعته نفل دوکړی اوبیادِ لاس پورته کړی حمد دخدای او درود دی پر علیه السلام ووائی اوخپل حاجت دی دخدای څخه وغواړی. اوبیادی په قرائت د بسم الله شروع وکړی زر واره چی پوره شوه بیادی دوه رکعته نفل وروسته حمد اودرود ووائی. اوبیاخپل حاجت دخدای څخه وغواړی دغه ډول تراخیر پوری د ۱۲۰۰۰ هغه حاجت بی ربّ جل شانه وعظمت قدرته په لنډه موده کښی ورپوره کړی،، که هرڅوگران کاروی،، خ ص۸۶.

اوپه حدیث شریف کښی هم راغلی دی چی نه ردیږی هغه خواست چی په اول کښی ئی بسم الله شریف ووایی سی کذا فی تفسیر ابوالفاتحه،،

اوکه خوك همیشه توب وکړی د بسم الله شریفی پر ویلو هره ورځ ۷۸۶ واره خدای به وهغه ته انسانان فرمانبرداره وگرځوی لکن دا طرز په اجازه سره اړه لری. د تفسیر کبیر په اول کی دابوهریرهؓ په روایت داسی راغلی دی چی رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وسلم وده ته وویل

«یَا اَبَاهُرَیْرَةَ اِذَا تَوَضَّاْتَ: چی ته اودس تازه کوی،، فَقُلْ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ: ته ووایه بسم الله نو فَاِنَّ حَفَظَتَكَ، پس په تحقیق ستا ساتونکی ملکی، لَا تَسْتَرِیْحُ اَنْ تَكْتُبَ لَكَ الْحَسَنَاتِ استراحت نه کوی چی تاته نوشته کوی نیکی: حَتّٰی تَفْرِغَ: ترهغوچی ته اوداسه څخه فارغه کیږی، وَاِذَا غَشِیَتْ اَهْلَكَ: اوچی ته ورځی خپلی مایینی ته دجماع دپاره فَقُلْ بِسْمِ اللهِ،، نوته بسم الله شریفه ووایه، فَاِنَّ حَفَظَتَكَ یَكْتُبُوْنَ لَكَ الْحَسَنَاتِ، په تحقیق چی ستا ساتونکی ملکی ستا نیکی نوشته کوی، حَتّٰی تَغْتَسِلَ مِنَ الْجَنَابَةِ: ترغوچی ته غسل د جنابت څخه کوی،،

د رویش محمد عُبَیْدُ اللهِ الاَیوبی الکندهاری المسلیما نخیلی وائی: چی دا وو یو جزئی معلومات د فقیر په خواصو کښی او احکامو کښی د بسم الله، اما داد درویش معلومات مشت نمونه خروار دی اودی درویش ته چی هرڅو دیر دیر نعمتونه خدای جل جلاله ورکړی دی په برکت دَ ورته اذکارو اوو ظائفو، سعدی شیرازی وائی:

گلی ناچیز درحمام روزی ؛ رسید ازدست محبوبی بدستم ؛ بدوگفتم که مشک یا عنبری ؛ که از بوئی دلاویزی تو مستم
بگفتا من گلی ناچیز بودم ؛ ولکن مدتی با گل نشستم ؛ جمال همنشین در من اثر کرد ؛ وگرمن همان خاکی که بودم ؛

اَللّٰهُمَّ وَفِّقْنِیْ لِمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰی وَاجْعَلِ الْاٰخِرَةَ خَیْرًا مِّنَ الْاُوْلٰی وَلَا تَقْطَعْ نِعْمَكَ عَنِّیْ بِعِصْیَانِیْ. بَلِ اغْفِرْ سَیِّئَاتِیْ بِفَضْلِكَ الْعَمِیْمِ وَمَا ذَالِكَ عَلَیْكَ یَا اللّٰهُ بِعَزِیْزٍ وَاخْتِمْ لِیْ بِالْخَیْرِ وَالسَّعَادَةِ وَالْاِیْمَانِ بِجَاهِ نَبِیِّكَ عَلَیْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ، وَجَنِّبْنِیْ مِنْ جَمِیْعِ الْمَعَاصِیْ وَالْاٰثَامِ بِحُرْمَةِ الْقُرْاٰنِ.

الناشر: مکتبة القراءت والتجوید وحقانی تقاریر سنٹر
کانسی روڈ، شالدره، کوئٹه نزد مسجد نور؛

قَالَ الْمُصَنِّفُ رحمه الله — وئیلی دی مصنف رحمه الله

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ

تولہ ثنا او صفت خاص خدائ پاك لره دی چی رب یعنی سا تونکی د تولو مخلوقاتو دے. د اَل معنیٰ تولہ د حَمد معنیٰ په لغت عربی کی پر وجه د تعظیم، په سُبو الفاظو د بل چا پر بنا ئسته افعالو ستاینه ده.

پوه سه: چی د دی توری چې پر وجه د تعظیم، پُسخند په چا وهل خارج سو. او په قید د «په سبو الفاظو» د افاده ده چی حمد په ژبه پوری خاص دی، او په بنا ئسته افعالو اشاره وده چی ته ده چې حمد په عمل او فعل اختیاری پوری خاص دی، ولې چی ظاهره د افعالو خو اختیاری عملونه مراد دی. نو حمد په دی سبب چی په ژبه پوری خاص دی، تر شکر خاص دی ولې چی شکر تعظیم کول دی د احسان کونکی که په ژبه وی او که په اندامو وی لکه دیوه مُنعم خدمت کول، او یا په زړه وی لکه د مُنعم سره په زړه کښی اخلاص او محبت کول.

او شکر په دی سبب سره چی په نعمت پُوری مربوط دی تر حمد خاص دی، ولې حمد گاهی پر نعمت لکه یوسرې وَوائی چی الحمد لله ماته خدائ سبحانه رزق فراخه راکړی دی. او گاهی پر نعمت نه وی لکه څوك ووائی چی خدائ دلوی علم او قدرت څخه ستا ئی دی. نو مُتعلق د حمد عام دی که نعمت وی او که نه وی، او گای یه خاص ژبه ده او شکر بالعکس دی یعنی گای یه عام دی که ژبه وی او که اعضاؤ ی او که زړه وی، او متعلق یې خاص نعمت دی نو دی ته په اصطلاح عموم و خصوص من وجه وائی. یعنی هر یو د حمد او شکر سره په یو یو وجه عام دی او په یو یو وجه خاص دی.

مَدار ترحمد په دی سبب عامه ده چی فعل اختیاری نه غواړی، لکه چی ویل کیږی، «مَدَحتُ اللؤلؤ عَلیٰ صَفَائِهَا»، نه مدح کوم د ملغلری پر صفا والی باندی، یا داسی چی د فلانی سړی سپین مخ او قد و قامت دی.

پوه سه چی د حمد او شکر او مدح په تفصیل سره په تفسیر بیضاوی او تفسیر کشاف او نور و کتابونو کی د تفاسیرو مذکور دی. بلکه په میرا یساغوجی او په شرح مطالع کښی په دی باره کی په زړه پوری معلومات سته.

الحمد لله د فقهی دلاری څخه

الحمد لله گاهی واجب وی لکه د لمانځه په دوه رکعته کی، او گاهی سُنت وی لکه په خطبه کی د جُمعی د لمانځه یاد اختر د لمانځه او د مخه ترد دُعا، او پس له خوړلکه او چښلکه، او ورسته تر نیولو او گاهی مباح وی لکه بی سَببه الحمدُ لله ویل، او گاهی مستحبه وی لکه په اخیر کی د دُعاء د درود د مخه، او گاهی مکروه وی لکه پس د خوړلو د حرام شی.

بلکه فتاوی بزازیه اختلاف په کفر کښی ذکر کړی دی، او گاهی حرامه وی لکه د ټولو او غولو پسُه ای کښی حمد ویل. او یا چی غلیظه عورت په لاس وی. «رَبِّ» د رب معنیٰ ده تربیه ورکوونکی او ساتونکی، او کمال تر رسوونکی، د ادخدای پاك اسم صفت دی او لفظ د اَل په اَلعٰلمین کی د پاره د استغراق دی یعنی تولہ. او عَالمین جمع د عالم دی، عالم په لغت کی علامه ته وائی، لکه د دود علامه ده داور، او په اصطلاح کی هر هغه شی دی چی غیر او جلاد خدائ څخه وی، او په دی سبب عالم و رته وائی چی د تولہ شیان پر وجود د خدائ پاك علامه او دلیل دی، سعدی شیرازی وائی:

برگ درختان سبز در نظر هوشیار: هر ورقی دفتریست معرفت کردگار، پیړه بنه وینا ده.

فائده: عالم پر دوه قسمه دی (۱) **عالم عُلوی:** یعنی پورته عالم لکه اسمانونه ملائکه جنتونه (۲) **عالم سُفلی:** یعنی کښته عالم لکه محکه بلکه څلور سره عناصر محکه، او به، هوا، او د انسانانو بلکه تولہ حیوانان نباتات، معدنیات، د دی تولو خالق او وکیل ته رسوونکی یوازی، او یوازی خدای جل شانه دی. بل څوك و سره شریك نسته په حقیقت کی **پوه سه:** چی د تول عالم شمیر او حساب او په تفصیل سره د هغوی حالات بی خدائ بل هیڅ چا ته نه دی معلوم، ایت کریمه: وَلَا یَعْلَمُ جُنُودَ رَبِّكَ اِلَّا هُوَ، یعنی خبر نه دی په لښکرو خدائ یعنی په مخلوق د خدائ مگر خدائ.

سوال: علماء حضرات څرنگه ترجمه د اَلحمدُ لله د اسی کوی چی تولہ ثنا او صفت خاص خدائ پاك لره دی او سره د دی چی د مخلوق صفت هم کیږی او روادی، لکه چی یوسړی ووائی فلانی بنه عالم او زاهد او متقی او سخی او لمونځ گذاره او غازی دی او نور هم د ثنا او صفت هم د

مخلوق کړی، **جَوَابُ** دغه مذکوره حَمدُونه د مخلوق هم په حَقیقت کښې راجع وخدائ جَل سُلطانَهٔ ته دی ولی قدرت ورکوونکی پرد غو صفا توحیدیه وو یا افعالو نښا ئسته وو هم خدای پاک دئ. **حَق** چه صاحب کشاف چې معتزلی دی اود معتزلو مذهب دادی چې خالق د افعالو د بنده گان نو خدائ نه دی بلکه بنده گان دی هم ټوله محامد په خدائ پوری خامُولی: ولې چې اقدار او تمکین د غو افعالو چې بنده یه کوی. ورکوونکی هم خدای جَل شانه دئ.

مَسئله: حمد د خدائ جَل شانه پرهر نعمت پُر بنده واجب دئ. او حمد او شکر وَیلو نعمت الهی سبب د زیات والی دَغه نعمت گرځی، قرآن کریم: وَلَئِنْ شَكَرْتُمْ لَأَزِيدَنَّكُمْ، که تاسی شکر د نعمت الهی وَوایاست زه به نعمت درته زیات کړم.

فائِدَه: تر ټولو لوئ نعمت او بهترین نعمت د مسلمانانو د پاره ایمان او اسلام دی، چې هم په دې دنیا او هم په اخرت کښې نعمت دی اود نورو نعمتونو سبب دئ. **امّا په دُنیا کښې** سبب دادی چې اکثر عذابونه د دُنیا لکه دلاس پرې کیدو پرځلا، په ډبرو سنگسارو وَل پرځنا، او قصاصول پر قتل، او نور، د اسلام پر مخالفت بناء دئ. **وَلِسْ** ټوله سَرې اسلامی احکام پرځان جاری کړی د دې عذابونخه په امن کښې وی، **امّا په اخرت** کی خو معلومه خبره ده چې دوزخ اود دوزخ عذابونه د اسلام پرخلاف کولو بناء دی، چنانچه کتاب الهی او احادیث نبوی ﷺ پرې خبره شاهدان دی.

پوښتنه: څه سبب دی چې مصنفین حضرات د خپلو کتابو رسالو په شروع کې حمد وائی

جَوَابُ: موافقت د قرآن کریم سره کوی، او په سلف صالحینو پسې اقتداء کوی، اول په حدیث شریف سره چې روایت یه ابن ماجهٔ او امام نوویؒ او نور امامانو کړی دئ رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمائی: كُلُّ أَمْرٍ ذِي بَالٍ: هرکار چې شرافت در لوونکی وی لَمْ يُبْدَأْ فِيهِ بِحَمْدِ اللهِ، چې شروع ونه کړه سی په کار کې به حمد د خدائ، فَهُوَ أَبْتَرُ، هغه کار به قطع یعنی بی برکته به وی، اود څو رشتیا خبره ده چې تصنیف د کتابو د شرف کار دئ.

سَوال: د ټوله حدیث د بِسْمِ اللهِ په باره کښې هم راغلی دی کما مَرَّ، اود ا معلومه خبره ده چې په دوو شیانو په خوله په یوه وار شروع نسی کیدای نو داد وه حدیث به

څرنگه سره جمع ښی **جَوَابُ** مولی خیالیؒ وائی: چې ابتداء په حدیث کی د بِسْمِ اللهِ ابتداء حقیقی ده یعنی ترمقصود او غیر مقصود د مخه، او په حدیث کی د حمد ابتداء اضافی ده یعنی ترمقاصدو د کتاب د مخه، اود دی سوال نور جوابونه په حواشی کی د شرح جامی اود خیالی هم ستة.

سُوال: د پردینی کتابونه د حمد مخنه خالی لیدل کیږی، لکه بُخاری شریف، ترمذی شریف، کافیه، وغیره، نو هغوی ولی امتثال د دَغه حدیث نبویؐ نه دی کړی **جَوَابُ** د دی سوال مختلف جوابونه دی:

د بُخاری شریف د ص۲ په حواشی کښې مذکور دی، اود غه رښتیا حضرت عَبد الرحمٰن الجامیؒ د کافیه په شرح کښې یو په زړه پوری جواب ذکر کړی دئ، او عاصمیؒ ټوله جوابونه په تفصیل سره په فیض الصمد کی چې د عاصمی حاشیه ده پر عَبد الغفور او نور محمد باندی لیکلی دی، خو تر ټولو آسان جواب د مبتدیانو د حاله سره مناسب دادی چې شروع په حمد چې په حدیث شریف کی راغلی د عامه د کتابت لیکنی سره وی، او که صرف د خولی په وَیلو بی له لیکنی وی، نو راغو حَضراتو، حمد د خدائ په خوله ویلی دی اما لیکلی یه نه دی، نو مخالفت د حدیث نبویؐ پرده وی لازم نه دی.

فائِدَه: چونکه عمرونه د امت محمدیه ﷺ لنډ او کوتاه دی، نو دی کبله خدای پاک ودی امت مرحومه ته جامع عبادات قولی او فعلی ورکړی دی یعنی چې کوم یه آسانه وی او ثواب یې په پیروی، د ډیرو، د غو عباداتو چې تفصیل حمد د خدائ جَل وایو، نوبه وایو خدائ پرهرشی علم لری او پرهرشی قادر دئ. او رازق دی او نور صفات الهیه چې تفصیل یه نهایت پیروخت غواړی میاشتی او کلونه غواړی، مگر خدای جَل سلطانَهٔ په خپل فضل او کرم سره دې امت ته کلمه د اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ فقط ورته راوا ستول چې دیوه وار وَیلو ثواب یه دومره ډیر دی نکه چې د خدائ ټوله صفات په تفصیل سره ذکر سی،

بنهانه فائِدَه

د رولیږ محمد عُبَيْدُ اللهِ کنډ هاری اولی لنډبندی غفرله الباری، وائی چې بی حایه

برنه وی که په مناسبت د اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ» دی پوره سورة قرآنی بعض احوال او خواص بیان کړه سی دپاره د هغو ورونړو او خوندو، چې په عربی کتابونه پوهیږی. بلکه د هغوطالبانو او نوی ملا یانوچې د دوی سره نادر تصوفی کتابونه وی او دا تولد شفقت دلاري.

نوواوره

چې د دی مُبارك سورة دیرش نومان دی» ۱ فَاتِحَةُ الْکِتَابِ چې شروع د کتاب الهی دوی څخه کیږی ۲ اُمُّ الْکِتَابِ یعنی مور او اصل د قران قاضی بیضاوی دوی وجه داسی بیان کړی ده چې معانی د قران تولد په دی سورت کی اجمالاً درج دی. او دا نوم هم په صحیح روایت ثابت دی» بیضاوی ص۳ ۳ اُمُّ الْقُرْاٰنِ چې وجه یې بیان سوه ۴ اَلْقُرْاٰنُ الْعَظِیْمُ دا نوم د آنحضرت ﷺ څخه مروی دی وجه یې داده چې معانی د قران مبارك په دی سورة کی موجود دی کامل» ۵ اَلسَّبْعُ الْمَثَانِیْ سبع یې په دی بولې چې اوه ایت دی اومثانی یاد شا څخه جوړ سوی دی» اوپه دی سُورة کی ثناء او حمد د خدای پاك ویل سوی دی» اویاد تثنیة څخه جوړ دی چې معنی یې تکرار دی داسُورة مُبارك په لمانځه کښی مکرر ویل کیږی اودا نوم قرآنی دی قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰی» وَلَقَدْ اٰتَیْنٰاكَ سَبْعًا مِّنَ الْمَثَانِیْ» ۶ اَلْوَافِیَةُ، سُفیان ثوری وائی چې داسُورت وفاکوی په تولو معانی وو سره د قران» ۷ اَلْوَاقِیَةُ یعنی ساتونکی او داسُورت که د خپلو شرائطو سره چې رابسې کی څوك وائی د تولو آفاتو امراضو څخه به په امان وی» ۸ سُوْرَةُ الْکَنْزِ یعنی خزانه» داسورة هم خزانه ده د تولو معانی وو د قران» یاد دې نامه سبب دادی چې سَیِّدُنا علیؓ وائی چه داسُورت نازل سوی دی دیوی خزانی څخه چې تر عرش لاندی ده» ۹ سُوْرَةُ الرَّقِیَّةِ یعنی سورت د دمکولو» ولې چې په حدیث صحیح کښی راغلی چې داسورة مبارك شفاء د هر مرض دی» اوداپه تجربه اهل الله ته ثابته ده» لکن داسورت بعض شرطونه لري، اود روزانه ویلو دپاره مخصوص عدد لري» چې د هغو شرطو او عدد خاص بیانولو په دی عمومی کتاب کی مناسب نه دی حکمه چې داسرار و څخه دی»

۱۰ سُوْرَةُ الشِّفَاءِ وجه یې داده چې جابرؓ روایت کړی دی چې آنحضرت ﷺ وفرمایله» سُوْرَةُ الْفَاتِحَةِ شِفَاءٌ مِّنْ کُلِّ شَیْءٍ» سورة فاتحه شفاء د هر مرض ده. اِلَّا السَّامَ وَالسَّامُ الْمَوْتُ» مکرد سام شفاء نده اوسام مرګ ته وائی.

عُذر

نورنومان د دی سورة مبارك د رولیش په شرح کی د قدوری بالتفصیل ذکر کړی دی» په یوه صحیح حدیث کی چې روایت یې بُخاریؒ او مُسلمؒ ابوداؤدؒ ترمذیؒ، ابن ماجهؒ نسائیؒ او امام احمدؒ، اوابن الجریرؒ الطبریؒ او حاکمؒ بیهقیؒ د حضرت ابا سعید الخدریؓ څخه داسی راغلی دی.

قَالَ بَعَثَنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ: وَوَیل ابوسعیدؓ چې واستولو مونږ رسول الله صَلَّی اللّٰهُ علیه وَسَلَّمَ: فِیْ سَرِیَّةٍ ثَلٰثِیْنَ رَاکِبًا» په یوه کشنی فوج کی چې دیرش سپاره پکښی وه» فَنَزَلْنَا بِقَوْمٍ مِّنَ الْعَرَبِ» نومونږ واړول پر یوه قوم د عربو یعنی چې کافران وه» فَسَئَلْنَاهُمْ اَنْ یُّضَیِّفُوْنَا» نومونږ وغوښتل د دغه قوم څخه چې مونږ ته مهمانی راکی یعنی د خوراك د پاره یوڅه راکړي» فَاَبَوْا فَلَدِغَ سَیِّدَهُمْ» نوهغه ضع د میلمستیا څخه وکړه، پس په هغه شپه رئیس د هغه قوم ولړم وخوړی.

فَاَتَوْنَا فَقَالُوْا هَلْ فِیْکُمْ مِّنْ یَّرْقِیْ مِنَ الْعَقْرَبِ» نود دغه قوم خلګ مونږ ته راغله او وی ویله چې آیا سته په تاسی کی د دمکوی ولړم د دوه صلو څخه» فَقُلْتُ نَعَمْ اَنَا» ابوسعیدؓ ورته وویل چې هوزه یم یعنی دمکونکی ولړم» وَلٰکِنْ لَّا اَفْعَلُ حَتّٰی تُعْطُوْنَا شَیْئًا» لکن زه دمونه کوم تر هغوچې تاسی به راکوی مونږ ته یوشی یعنی په اصطلاح د پښتنو شکرانه» فَاَوْا تُعْطِیْکُمْ ثَلٰثِیْنَ شَاةً - دوی ووویل چې مونږ درکوو تاسوته دیرش پسونه» فَقَالَ فَقَرَئْتُ عَلَیْهِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ سَبْعَ مَرَّاتٍ» ابوسعیدؓ وائی چې پس ماوویل په هغه سړی لړم وهلی یا ندی الحمد یعنی د سورت تر پایه پوری اوه واره» فَبَرِءَ مِنْ سَاعَتِهٖ» نوهغه سړی جوړ ستی فَلَمَّا قَبَضْنَا الْغَنَمَ پس څروخت چې مونږ قبضه کړه پسونه:

عَرَضَ فِي أَنْفُسِنَا مِنْهَا شَيْءٌ". را وکړ حُمیدی زمونږ په زړو کی ډ هغه پسُود اخستلو به سبب یوشئ، یعنی په دی سبب چی داخود قرآن شریف پرویلو مزدوری اخستل دی نُودابه رواوی اوکه ناروا، فَكَفَفْنَا حَتَّى أَتَيْنَا النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: نومونږ هغو پسُود ویشلو څخه، اویا د حلالُولو او خوړلو څخه منع وکړه، یعنی د علیه السلام ترمشورۍ پورې حتی چی مونږ نبی علیه السلام تر راغلو، فَذَكَرْنَا ذٰلِكَ لَهُ، پس مونږ بیان دهغه تولهٔ ماجرای وَعَلَيْهِ السَّلَامُ تروکړی، فَقَالَ مِنْ أَيْنَ عَلِمْتَ أَنَّهَا رُقْيَةٌ، پس ابوسعیدؓ وایی چی مانه علیه السَّلام وویل چی ته دکم ځایه څخه خبر سوی چی سورهٔ فاتحه دمړدی، أَقْسِمُوهَا وَاضْرِبُوا لِي بِسَهْمٍ، نوعلیه السلام وفرمایل سره وویشئ هغه پسُونه اومانه برخه په کښی راکړئ.

فائده: ددی حدیث شریف څخه په واضح ډول معلومه سوه چی پر ډَمُړ یا تعویذ مزدوری اخستل روادی، که څه دقرآن شریف په آیتودم وکړی، په دی مسئله کښی وهابیان سلفیان سخت مخالف دی، دروی وائی چه هغه قوم خوکافران وه د کافرِ مال خوحلال دی، لکن دوی نه پوهیږی چی دکافرانو مالونه په غنیمت کښی حلال دی، چی دجهادِ شرعی نتیجه ده، اوپه چَل وَل اوپه حرامه طریقه سره خود کافرانو مالونه مونږته حلال نه دی، نوکه دقرآن مبارک پرویلو مزدوری اخستل حرام وای، نوُولی آنحضرتؐ دهغه پسُود ویشلو اوپه خپله هم دبرخی اخستلو امر ورکاوه، اوسره ددی چی دغه مزدوری مشروطه وه. دهبه په توګه نه وه، اووهابیان وائی چی اخستل ډَمال دکتاب الهی په مقابل کښی د یهودیانو د مُلایانو نوکارووه، لکه چی خدای پاک په شان کی ددوی وائی. وَلَا تَشْتَرُوا بِآيَاتِي ثَمَنًا قَلِيلًا. یعنی رانسی یهودیان یعنی ددوی مُلایان په عوض کی دکتاب الله چی توراة شریف وو لږ قیمت،

جواب: مُلایانو نُو د یهودیانو خو پرېږدلَوُلو دتورات شریف دایاتو، لکه بدلول دایاتو چی یا بدلول داوصافو د آنحضرت صلی اللهُ علیهِ وسلم، بدی اورشوت اخستئ نه پردمړ کولو، دروښئ وائی چه دامسئله یعنی شکرانه پردمړ دقرآن مُبارک دآیتوپه ویلو یا دقرآن

عظیم پر تعلیم باندی مزدوری اخستل، یا پر اذان کولو، یا پر امامت کولو باندی مزدوری اخستل، اویا پر تعلیم د دینی علمو مزدوری اخستل، اوداتولهم په مشروط ډول دیره مختلف فیها مسئله ده:

متقدمین احنافؒ داتوله ناروا اوحرام ښُولی، اومتأخرینو تولو فتوی دامی صادره کړیده چی داتوله روادی، دَرُوښئ وائی چی چونکه دایوه مختصره شرح ده نُو د دی کبله دلائل متأخرینو مایه تفصیل سره دلته نه راوړه، تفصیل دَ دلائلو د دوی په شرح وقایه، رد محتار، او په نُورو فتاوا و کښی د فقهی حنیفی مطالعه کړئ. اوداهای خوډیره دبیان دفضائلو دسورهٔ فاتحه ووه، اود مزدوری اخستلو پر مذکوره کارو، تبعًا دلته، اوپه سوه نُومړا صرف په اشاره سره اکتفاء وکړه، اصلی ناروا، خبره خودا ده چی بعض تعویذ گران، کودګران، صرف په نامه مُلایان، پر غیب ویلو شکرانه اوروبې غواړی دایقینًا حرامه ده ولی چی علم غیب خاصه د خدای جَلَّ جَلَالُه ده، وَعِنْدَهُ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لَا يَعْلَمُهَا إِلَّا هُوَ، نوډغه کوپکړ، غیب ویونکی، اوبی دینه ګمراه ته مونږ وایُو، چی ته چی د غیبو اوپټو شیانو دعلم دعوه کوی، نودد ی ایت قرآنی څخه منکر ته منکر ښه کرښمه، قُلْ لَا يَعْلَمُ الْغَيْبَ إِلَّا اللهُ، ووایه ای محمدؐ چی علم نه لری پر غیب اوپټ شئ بیله خدایُه بل څوك، اوپه بل ایت کښی داسی راغلی دی، وَلَوْ أَنِّي أَعْلَمُ الْغَيْبَ لَاسْتَكْثَرْتُ مِنَ الْخَيْرِ وَمَا مَسَّنِيَ السُّوءُ، خدای پاك د آنحضرتؐ څخه وائی چه کهٔ چیری زه خبر وای په غیبو سره هرآئنه به ما جمع کړی وای د پرد خیره څخه، اوما ته به نه وای رسیدلی یوغم او تکلیف، نُو دلږی ایت مبارك څخه دامعلومه سوه چی آنحضرتؐ سره د دی چی سید د رسولانو وُو، اود خدایؒ لوی دوست وُو، وځان ته یه علم غیب نه وایه، وَلَوْ، په عربی ژبه کی امتناعی دی یعنی داخبره مُمتنع ده لکه چی په عربی ژبه خبر کسان په دغه پوهیږی، نو تعویذ گرم کودګرم ته څرنګه وځان ته علم غیب وائی، ایا ته خپله رښتیا ترسیّد العالمین لوړ بولی، اَلْعِيَاذُ بِاللهِ،

اللهم اغفر للمؤلف وللكاتب ولوالديهما آمين.

دکودګرانو وینا: دوی وائی چې ما ته پیریان، شیطانان ډېټو، شیانو حالات راته بیانوی، نوزه وایم چې ته اَخُ الشیطان یې اوکاهن یې لکه عربو د جاهلیت وخت کاهنان چې دمغیبو په باره کښې آنحضرت م داسی فیصله کړیده،

مَنْ اَتیٰ کَاهِنًا ـ که څوك ورسی کاهن یعنی غیب گوی ته، فَصَدَّقَهٗ بِمَا قَالَ ـ اوپر تصدیق یې وکړی دهغه کاهن په هغه خبره کښې چې کاهن ورته وکړه، فَقَدْ کَفَرَ بِمَا اُنْزِلَ عَلٰی مُحَمَّدٍ ـ پس په تحقیق سره هغه سړي کافر سو په هغه قرآن سره چې نازل کړه سوی دی پر محمد صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّم،

اوکه چیرې کودګر جادوګر په ظاهره مسلمان یې په حقیقت کې شیطان ته داد عوه کوي چې پیریان داخبرې ماته راوړي نو ته خو دا عقیده لرې چې پیریان په غیبو خبرې خو دام کفر دی اوکه ته وائې چې زه د علم غیب دعوه نه کوم او نه هم ددی دعوه کوم چې پیریان ماته خبرې راوړي، بلکه زه دخولې په صفائی اونورو قرائنو خلګ خطاباسم، اوروپی ځندی اخلم، نوزه وایم ته خو غدار حرام خوره اوغل یې، باید ددی کاره توبه وکاږی ځان اوعیال دجهنم څخه وساتی مرګ اوقبر اواخرت دی په مخ کښې دې،

ژباړونکی محمد عُبَیْد اللّٰہ کندهاری سُلِّمَا نخیلی ایوبی وائی: چې علی العموم ددی غداری سبب بنځې دی، اویا هغه ناپوه په دین ناخبره انسانان دی، دوی چې دَغه غدار غیب ګوی پټې معلومونکی ته ورسی، اوّل دوی داخبره ورته کوی، چې ته په کتاب کښې وګوره چې په ما څه سوی دی، هغه کودګر دیوه کتاب وَرَقې پرله اړوی، اوورته ووائی چې یوی لنډی بنځې یا توری بنځې، یاجګی بنځې یا یوه نر په تا تعویزونه کړی دې، نو دهغې بنځې یا نر په قربیانو کښې ځړدی یا لیرې په همسایه ګانو کښې که دغه رنګ چې تعویز ګر وَرته وویل بنځه یا نر وو نو هغه تعویز ګرته ووائی چې مُلا صاحب رښتیا وویل دمرنګه بنځه یا نر زما په قربیانو یا همسایه ګانو کې سته، نوبیا هغه بنځه یا نر وهغه غدار ملا صاحب ته ووائی چې په اوس په چاره راکوه، غدار ملا صاحب وَرته ووائی، چې ته خپل نوم او مور یا پلار نوم راو دهغې بلې بنځې نوم ماته راو سنیه، نوزه به ما بنام خپل پیریانو پسې راواستوم،

تعویذونه بهر اوړی ته به صباد بنې شکرانی سره راسی، او تعویذونه به درکړم، خیر بنځه کوته ولاړه نومان یې وغدار ته ورو ښوول،

نوحقیقت خو دا وی چې دهغې بنځې یا تبه یا د ملا درد یا بله ناجوړی وی، بنځه دهغې ناجوړی څخه صرف نظر وکړی، اوغدار ملا پرقول باور وکړی، هغه اندازه روپۍ چې غدار ورته وئیلی وه دهغې خواچې وی برابری کړی، نو دا بله وَرځ چې راسی، غدار ملا دهغه دیر تعویزونه اوداڼۍ په نرو تکرانو کښې پیچلی وی اوپه خاورو کښې بنځې کړی وی، یوبیا دوه تعویزه د هغوښځو راوکاږی، اوپه خام قلم هغه نومان پکښې نوشته کړی، صباچې بنځه ورسی هغه زاړه تعویزونه پلاس ورکړی، اوورته ووائی چې په یوه بل ملا یې وګوره ستا اوستا دمور نوم په کښې نوشته دی، بنځه خوشحاله سی چې دناجوړی څخه خلاصه سوه، غدار ملا ته په مینه مینه شکرانه ورکړی، کورته چې ولاړه سی هغه داوی اوهغه یه ناجوړی وی، غدار ملا روپۍ یووړی،

د لعض غدارانو بل عجب چمتر،

اودځان تبزرګی ثابتول،

دوی دسحاره تر غرمې پورې په خپل ځای کې ناست وی، بنځې اونر ورته راځی، په دغه وخت کې دوی صرف نومان نوشته کوی، اووه هرچا ته ووائی چې په تا تعویزونه سوی دی، او هریوه ته ووائی چې صبا راسه چې زه مو تعویزونه درکړم، شکرانی څندے واخلی، ماپښین نودوی کار نه کوی، بلکه ماپښین به دوئی هغه زاړه تعویزونه چې دوئی بهر لاد بچوا څخه په نرو وَرستو تو کرانو کښې بنخ کړی وه راوبی کښله اوپه یوه کې بی په خام قلم دیوی بنځې یا نر نوم نوشته کړی، اوپه بل کې دبل چا نوم، نوبیا به دوی پسې راسم سی دهرچا وکورته نږدی ادیره (قبرستان) وای مثلاً اویا یوه خرابه وی یا لیرې اونږدی کوغه یا باغ وای هغه تعویزونه بی ترمازدیګر پورې بنخول، سحار وختی چې هغه دپرون ورځی نر اوبنځې بهر اغلل، نودوی وهری بنځې اونر ته ووائی چې ستاد تعویز ځای به دروښیم ورسه پخپله ئې راوکاږه ...

چا ته بیا وائی چی وریسه فلانی ادیری ته فلانی قبر ته وځنګ ته د هغه یوه ډېره ده مثلاً هغه پورته کړه تعویذ تر لاندی دی په فلانی ږنډ تکرانو کښی پیچلی دی» بل ته بیا بل ځای وروښیي» هغه تعویزونه چې هغه خلګ په هغو ځایونو کی پیدا کړی» نو پر غدار کوه ګرد لوی بزرګ سړی عقیده راسی او هر ځای دده بزرګی وخلګوته بیانوی» نوری بنځی او نرهم ورځغلی»

برادران عزیز: خدای پاک دی فضل وکړی نه پوهیږم اوسنه پوهیږم چې دغوا نانو بنځو او غوا نانو غادرا نو کودګرانو ترمابین نورځه څه ګوی مګوی پلښیږی» په حدیث مبارک کی راغلی دی چې بیګانه بنځه او نر چې په خالی ځای کی سره یو ځای سی دریم یه شیطان وی»

درویش محمد عبید الله وائی چې دا کار په افغانستان کی د پر کم وو بلکه تخمیناً نه وو، مګر په پاکستان کی د پرد بخوا څخه دا کار وبار روان وو، نو غږ وخت چې پر افغانستان بد بختی د انقلاب ټور راغلی. او ملک ټوله خلقیانو کمیونستانو اور وسانو اشغال کړی او د افغانستان عمومی خلګ وهجرت ته مجبور سول او وګړمه اسلامی حکومت پاکستان ته مهاجر سوله:

نو بعض صرف په نامه ملایانو ودې ټکی، غداری، جادوګری» ته لاس ور واچاوه او د پیسو د جمع کودپاره یه واسلام ته شاکړه، او د خلګو په خطا یستولو خصوصاً بنځو یه لاس پوری کړی او زمونږ د وطن دغه غدارانو دومره شهرت یه حاصل کړی چې پاکستانی غداران ورته حیران سوه» عُذر» که څه هم دغه غداران د درویش نوم په ټوم پیژني لکن بیا هم نوم اخستل یه وګناه ته د غیبت سړی کشوی»

اَللّٰهُمَّ اَعِذْنَا مِنْ صَنِيْعِ هٰؤُلَاءِ الْغَادِرِيْنَ» اوس بیرته د سورهٔ فاتحه پرلوړ» درویش باګناه محمد عُبَید الله نقشبندی، کندهاری» ایوبی» سلیمانخیلی وائی چې خواص د دی سورهٔ مبارک بی حسابه اوتر شمیر دیږدی که هغه فائدی ذکر ولیکم چې په کتابونو کښی ما عاجز ته معلومات سته تخمیناً متا لغه کتاب به ګندی جوړسی»

د سورة فاتحه شرطونه

(١) درویش وائی چې **اول** شرط دی د سورهٔ د نفع اخستلو حسن اعتقاد دی:

دویم شرط: یه پاکی د بدن او کالو ده نجاست څخه» **دریم شرط:** یه پاکوالی د ځای د ویلو دی: **څلورم شرط:** یه اجازه اخستل د یو یه پاک عالم عامل څخه» **پنځم شرط:** یه بسم الله په وصل د الحمد لله سره ویل دی یعنی بسم الله الرحمن الرحیم الحمد لله رب العلمین ط آه: **شپږم شرط:** یه دا دی چې د عدد معلوم یه مابین کښی به دچا سره خبری نه کوی» **اووم شرط:** یه دا دی په وخت د تلاوت کولو به مخامخ وقبلی ته کښینستلی وی» **اتم شرط:** یه دا دی چې د ګناه ډیاره یا د ګناه د کار د پاره بی نه وائی: **نهم شرط:** یه دا دی چې اسرار یه نه افشاء کوی»

لسم شرط: یه همیشه توب کول دی»، فقیر وائی چې بعض فائدی د دی سورهٔ مبارک یه زړه وخپلو ګرانو ورونړو اوخویندو ته بیان کړم» په فتاوی صوفیه کښی یه نقل د اسرار مخزونه صفا کی راغلی دی چې یو کال د ملتان په بنار کی سخته وبا اوطاعون پیدا سوه»، نو شیخ تمیمیؒ چې د هغه عصر یو بزرګوار شخصیت و وخپلو مریدانو ته امر وکړی چې تاسی د طاعون پر مریض باندی ۳ یا ۷ واړه الحمد لله په شرط د وصل د بسم الله وایاست او پر مریض یه پوه کوی» هم په هغه وخت به خدائ وهغه مریض ته شفاء ورکړه. اوپه لږ موده کښی خدائ وبا رفع کړه» اوهم په دغه صفا کښی د اغلی دی که څوک همیشه توب وکړی پر قرائت د سورهٔ فاتحه په مابین د سنتو او فرضو د سحار د لمانځه ۴۱ واړه» که مسکین و و خدای پاک بی غنی کړی»، اوکه پوره ورځی و و خدائ بی پوره اداکړی»

اوکه مریض و و په هره مریضی چې وی خدائ بی ژر رجوع کړی کی اجل نه و و پوره» اوکه ضعیف و و خدائ به قوت ورکړی»، اوکه بیعزته و و خدائ بی لوړ مقام ته د عزت ورسوی، اوکه دیوه منصبه څخه لیری سوی و و خدائ بی هغه یا تر هغه لوړ منصب ته ورسوی»، اوکه نر یا بنځه د نکاح خواهش لری خدائ پاک به د هغه د طبیعت

سرہ موافقہ مایتہ یا مہرہ وَرکړی،، لوکہ څوك عیال نہ لری یا عیال یہ نہ پاتی۔ خدای
بہ عیال ورکړی اویا بی عیال ورپاتہ شوی،، اوکہ دُښمن څخہ بیریښ ی هغہ دښمن بہ
خدائ پاك پردہ باندی مهربانہ کړی،، او یا بی دُښمن وَرك کی۔ اودی بہ څندی خلاص کړی
اوکی تجارت نفع نہ کوی یا تاوان کوی هغہ تجارت بی خدای پاك وَچلوی، اوگټور بی و
گرځوی،، او پرهر مریض چی فاتحہ شریفہ دَم کړی هغہ مریض بہ خدائ جوړ کړی،
کنزالفی اسرار الفلاحۃ،،

اودُرَّۃُ الآفاق نامہ کتاب کښی داسی وَائی،، کہ څوك هَمیشہ توب وکړی پرویلو
اَلحَمدُ لله یہ وصل د بِسمِ الله پس لہ هرہ لمانځہ اوہ اوہ واړہ خدای جَلَّ جَلالہٗ بہ خلاص
کړی پرهغہ بندہ باندی دُ دنیا اود اخرت دخیر دروازی،، اوخدائ بہ دده دډین اودنیا
مهمات وَرحل کړی،، اوامَن اوخوشحالی سرہ دښہ حَلال رزق بہ خدائ ورکړی۔
وَاللهُ المُوَفِّقُ۔ اوپہ صلا کہ چاتہ منظور وی،، چی زما هر مشکل دی ژر آسانہ کیږی،،
اودهری بَلا څخہ دی زہ پہ امن کی یَم،، اودهرچا پہ زړہ کښی زما هیبت وی نو پہ
حساب دحروفو دی سُورۃ یعنی ۱۲۵ واړہ دی وروستہ دسحار تر لمانځہ دِ هَمیشہ
داسُورت مبارك وَائی: بلاطریقہ: دسورۃ فاتحہ دوَیلو چی پہ نیزد علماو ودِ
محبوبہ اودیرہ کامیابہ طریقہ یہ بُولی دادہ،،

چی سورۃ فاتحہ دی دسحار تر لمانځہ وروستہ ۳۰ واړہ،، اودماپښین تر لمانځہ وروستہ
۲۵ واړہ۔ اودمازدیگر تر لمانځہ وروستہ ۲۰ واړہ۔ اودمابنام تر لمانځہ وروستہ ۱۵ واړہ
اودماخستن تر لمانځہ وروستہ ۱۰ واړہ،، چی بمجموع ۱۰۰ واړہ کیږی۔

خبرتیا: هغہ لسل شرطونہ مرهیروی نوځکہ درولیش تر تولو مخہ ذکر کړہ۔

سُوال: دعامِل داجازی خبرہ تاوکړہ عامِل کَمسَرِی گرځیدای سی جَوابُ
هغہ سَړی عامِل دَی۔ چی پہ یوہ چِلہ یعنی پہ څلویښت شبانہ روز کی سَرہ دروژی
او اعتکاف کہ دفرضی روژی سرہ لس روژی دمخہ وَکنسی او تولی نفلی رُوژی وَکنسی
یو لك او پنځہ ویشت زرہ وائی۔ او بیایہ پہ نُورو وَرځو کښی هَمیشہ تُوب

وکړی پرهغہ عَدد چی بَیان سو،،۔۔۔ واړہ نود غرسَړی حقیقۃً عامِل دَی،،
سُوال: تہ چی څان عامِل دَ الحمد لله شریفی بُولی،، نوتہ دُښمنان حاسدان اوبدخواهان
غیبت کوونکی بهتان وَیونکی نہ لری اوکہ څہ رینگہ! جَوابُ: هُو لرم بہ یہ،، ولی
حسد د بعض مُلا یانو طبعی کار دی مگر پہ برکت دَ الحمد شریفی دَ تولو دغوکسانو
دضرر اود مخامخ مقابلی خدای پاك زہ اوزما عیال ساتلی یُو۔ اوکہ چا مقابلہ کړی وی
هغہ خدائ مغلوبہ گرځولی دی،، اوپاتہ بُهتانا یا غیبت پہ هغہ کښی زما اخروی
فائدہ دہ وَلی چی دهغو حسناتی ماتہ را نقل کیږی نکہ چی یو حدیث نبوی دَی: دحسد
پہ بارہ کښی د لږ مختار خُطبہ مطالعہ کړہ:
یوځای هغہ وائی ۔ ۔ هُمُ یَحسُدُونَنِی وَشَرُّ النَّاسِ کُلِّهِم: مَن عَاشَ فِی النَّاسِ یَوماً غَیرَ
مَحسُودٍ۔ سَوال: دَتعصب منشأ اوبَیا خاص پہ بعض مُلا یانو کی څرشی دی۔
جَوابُ: تعصب دوو وجهتو څخہ مروج دی یو تعصب قومی دی چی دا پہ امیانو کښی هم
موجود دی۔ اویو تعَصب پہ سَبب دفوقیت علمی دَی،، او تعصب علمی داسی یوافت
دی لکہ یوشاعر چی وَائی،، چشم بداندیش کہ برکندہ باد: عیب نماید هنرش در نظر،
سَوال: یود مغولنو شرطو څخہ دعامِل څخہ اجازہ اخستل وَہ، نومونږ وایو چی موږ
عامِل چیری پَیدا کړو، اومونږ یہ څہ پیژنو چی دا شخص عامِل دی اوکہ نہ! داسی
خوهر پیر یا خلیفہ وَائی چی زہ عامِل یم نوهغہ سَړی پہ حقیقت کښی کہ عامِل نہ وی
اومونږ تہ اجازہ وکړی خدائ ناخواستہ موږ تہ پُرځای د نفع ضرر وَنہ رسیږی،،
جَوابُ: داسوال ستاسی پرځای دی اوما دعامِل ماهیت وَرانـدی بیان کړی،،
پوښتنہ: تاشرائط دعامِلیت د الحَمدُ لله پرځای کړی دی۔ جَوابُ: هُو
درویش پس لہ اعتکافی وَیلو څخہ یعنی ۱۲۵۰۰۰ تخمیناً پنځوس کالہ کیږی چی روزانہ پہ
ترتیب مذکور یعنی ۱۰۰ سلیو وایم چی تخمیناً یونیم لک واړہ کیږی ۱۵۰۰۰۰ اوپہ دَم کولو
سرہ اویا پہ کتابت سرہ می پہ لکو وارونہ وتیلی اولیکلی دہ،، بناءً عَلیٰ هَذا کہ زہ ژوندۍ
وم اود طالب ترمالاس رسیدی خُورا دی سی چی زہ بالمشافہ اجازہ ورتہ وَکړم،

کړیه چیړی اهل وُو: اوکه دلیړی ملک سړی ووچې درویش تهیه لاس نه رسیدی
نودأسی عمل ډی وکړی،، چې یوه هفته پرله پسی دمابنام ترلمانځه وروسته دوه رکعته
دی وکړي اوثواب یې درویش ته وبخښي،،

وروسته یې ډ درویش دپاره دعاد مغفرت په دربارک درب العزت وکړی وهغه سړی ته ووایی
یوره اجازه ده، اوکه زه مړ وم دغه مذکوره اجازه هم باقی ده،، اوزه وخپلو زامنوته پس له
مرګه داجازی ورکولو اجازت میراثی وَر پریښودم،، وماتوفیقی الا باللہ علیه توکلت والیه انیب،،

قال المصنف وئیلی دی مصنف: **وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ**

ترجمه: درود دِ وی، او سلامتیاد آقا تو خخه پرسردار زمونږ چې نومیږي محمد دی،

خَاتَمِ النَّبِیِّیْنَ وَعَلٰی اٰلِهِ الطَّاهِرِیْنَ وَصَحَابَتِهِ الْجَمِعِیْنَ

اوختمودی دنبیانو یعنی انبیاءعم پرده ختم سوله،، چې بل نبي تراخرت نه رائی،، اوپرآل اواقرباؤ
اوپراصحابو ډده ټوله،،

پوه سه،، چې صَلٰوة په لغت کی دُعاءته وَائی،، اوپه فقه شریفه کی لمانځه ته وائی
اود رسول په حای کی چې نسبت یه وخدائ ته وَسی په معنی دنزولِ رَحمت دی. او
چې نسبت یه وبنده گانو ته وَسی په معنی دَطلب درحمتِ الٰهی،، دی،، اوصاحب کشاف
دد رودیوه په زړه پوری ترجمه کړی ده هغه دا،، یا الٰهی ته خپل فضل په اجراء شریعت
نبوی اوپه دنیا کی په لوړه ولودذکر دآنحضرت صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّم دی بهر ودکړی،،
اوپه عقبی اوآخرت کی په دوچنده کولود ثواب ودده،، اوپه قبلیدو دشفاعت دده
په باره کی دامت دی سرلوړی کړی،، رد،، تفسیر کشاف،،

سُوال: طلب درحمت پرعلیه السلام څه معنی لری سَره ددی چې آنحضرت صَلَّی اللّٰهُ
عَلَیْهِ وَسَلَّم باندی رحمت عامه دخدائ دخوا څخه نازل دی **جواب:** رحمت الٰهی
هیڅ پای ته اونهایت ته رسیږی. نوبندګان طلب دمزید رحمت الٰهی کوی پرآنحضرت باندی،

اود سَلام معنی سلامتیاد د آنحضرت م په دنیا او اخرت کښی چې دُنیا دسلامتیا یوم برخه
دام ده چې دین د عَلَیهِ السَّلام برقرار اوسرلوړی وی،، اوسا تونکی ددین د علیه السلام
کامیابه اوبرلاسی وی،،

مسئله: په کم درود کښی چې لفظ د آل او اصحاب وی هغه درود تر ټولو افضل دی
په مختصره توګه داسی وَیل،، اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ،، رمحا، صاوی

مسئله: بعضی عُلماء چې افراد د صلوٰة د سلام څخه مکروه دی ولی چې په ایت مبارک
کی داسی راغلی دی،، صَلُّوْا عَلَیْهِ وَسَلِّمُوْا تَسْلِیْمًا،، لکن رد محتار وائی چې جمع کول د صلوٰة
اوسلام خو په یو ښه کار دی،، مګر یوازی صلوٰة وَیل هم مکروه نه دی بلکه که څوک
فقط علیه السلام وَوائی هم کفایت کوی،، اودایت جواب دادی چې قرآن په ذکر کی
قرآن په عمل کی جفت والی نه غواړي،،

مسئله: اکثره علماؤ وائی چې درود وَیل د انبیاء علیهم الصلوٰة والسلام خاصه دَه،،
اوپر بل چا که صحابی وی اوکه بل څوک وی درود وَیل استقلالًا مکروه تحریمی یا
تنزیهی دی، البته په تبع د انبیاءعم روادی لکه چې څوک ووائی وَالصَّلٰوةُ عَلَی النَّبِی
وَآلِه وَاصْحَابِه وَاَبِی حَنِیْفَة وَاَحْبَابِه مثلًا،، مزرع الحسنات،،

مسئله: جلا سلام وَیل استقلالًا پر غیر د انبیاء علیهم السَّلام روادی لکه چې
مونږ یو وَبل ته وایو،، اَلسَّلَامُ عَلَیْکُمْ نوبناءً عَلٰی هٰذَا،، عَلِیؓ علیه السلام جائز دی
لکن چونکه شعار د شیعه گانو دی،، نُحکه اهل سُنت اجتناب کُندی کوی اود هغه په
حای کښی کَرَّمَ اللّٰهُ وَجْهَهٗ وَاَبِی،، درویش،،

پوښتنه: څه سبب دی چې د ټولو صحابه کرامو د نامه سره رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ وَیل
کیږی اود حضرت علیؓ د نامه سره عموماً کَرَّمَ اللّٰهُ وَجْهَهٗ ویل کیږی،، **جَواب:** په فتاوی
حدیثیه کی دابن حجر د دی وجه دَاوائی چې حضرت علیؓ په کشنوالی مسلمان سوی دی او
هیڅ وخت یې وَبت ته سجده نه ده کړی،، نود دی سببه کَرَّمَ اللّٰهُ وَجْهَهٗ د ده دپاره
متعارف سو انتهی،،

لکن درولیش وائی: چه امام نواوی پـه شرح کښی د مسلم ترمذکوری وجهی دیره پـه زړه پوری وجه راوړی ده هغه داچـه خـو وخت چی مروانیان چی د حضرت علی رضی دښمنان وو وقدرت د خلافت تـه ورسیدلـه نو دوی پـه وخت کی د ذکر د نامه د حضرت علی رضی د اسی ویل « سَوَّدَ اللهُ وَجْهَهُ » نو ځکه حقانی علماوو د هغه پـه مقابل کښی د اسی لفظ عرف وګرځاوو کَرَّمَ اللهُ وَجْهَهُ »

مسئله: امام نووی وائی چـه د عادر ضی اللهُ عَنْهُ » یا رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْهِ » د اصحابو تابعینو، تبع تابعینو، اوعلماوو ته دین، اونیکانو اولیاء الله ته مستحب دی، لکن د کنزالدقائق پـه شرح کښی چی « کُنُوزُ الْحَقَائِق » یـه نوم دی د اسی وائی چی سنه داده چی د صحابی د نوم د اخستلو سره « رَضِیَ اللهُ عَنْهُ » وائی اود تابعی د نوم د یادولو سره « رَحِمَهُ اللهُ » وائی. اوْنور وعلماوو د صلحاوو د نوم د وړه سره د « غَفَرَلَهُ » وائی. اوکه صحابی د صحابی زوی ووی یا د « رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا » وائی. اود دی خبری پخلی امام نووی پـه شرح کښی د مسلم صراحت کړی دی

پوښتنه: کوم خصوصی شرعی سبب ستـه چی مصنفان عموماً پـه خپلو تصانیفو کی پس لـه حمده د خدائ د درود پر آنحضرت م وائی »

جواب: پـه صحیح حدیث کښی چی مفتاح الحصن یـه روایت کړی دی « رَسُولِ کریم صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وسلم د اسی فرمائیلی دی چه چا د درود وایـه پُرما باندی پـه یوه کتاب کی نو ملائکه بـه تر هغو پوری چی زما نوم پکښی وی د درود ویونکی سره ی ته به دعاد مغفرت کوی »

مسئله: درود ویل پـه قوله عمر کښی یووار فرض دی ولی خدائ پـه صیغه د امر فرمائیلی دی یَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا صَلُّوا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوا تَسْلِيمًا د سورة الله العظیم »

اود دی څخه ورو سته چی هر وخت نام ناپی د رَسُول اللهُ صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ » ذکر سی یعنی محمد یا احمد وغیره » ذکر سی » بعض فقهاء وائی چی د درود ویل سُنت دی. اوکه مکرر ذکر سی پـه تداخل سره یووار درود ویل کفایت کوی » لکن مختار اوفتوی پر دی ده » چی هر وار نامه اخستلو سره د آنحضرت صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ درود ویل واجب دی او تداخل هم پکښی نسته » کذا فی در المختار »

او بیله ذکره د نامه د ده مبارک درود ویل مستحب او ښه کار دی.
پـه صحیح حدیث کښی راغلی دی چی « آنحضرت صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ » فرمائی کـه چا یو وار پرما درود وویلـه خدای جل جلاله بـه پر هغـه سل رحمتـه وکړی » او بله خبره داده چی درود ویل پر آنحضرت صلی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سبب د قرب د آنحضرت دی پـه ورځ د قیامت کی چی پـه صحیح حدیث کی راغلی دی چی نږدی د خلکو وما ته پـه ورځ د قیامت هغـه سړی بـه وی چی پُرمایـه پـه دنیا کښی دیر دیر درود ونـه وئیلی وی »
پـه روح البیان کښی د فوق الذکر ایت پـه تفسیر کښی د اسی وائی » چی اهل تجربـه د علماوو او اولیاوو څـخـه لـه (۳۰۰) زیاته مختلف درودونـه جمع کړی دی د پاره د مختلفو مقاصدو » چی هر یویـه تیر بهدف دی » پـه شرط د اخلاص او یقین »

قَوْلُهُ عَلٰی سَيِّدِنَا » مِنْ سَادَ يَسُودُ سِيَادَةً وَسُؤْدُدًا » مهر شدن » پوه سـه: چی مراد د ضمیر متکلم مع الغیر څخـه یوازی امت محمدی مراد نه دی بلکه تولـه افراد د نوع انسانی مراد دی ولـه چی پـه صحیح حدیث کښی راغلی دی » أَنَا سَيِّدُ وُلْدِ آدَمَ وَلَا فَخْرَ » قَوْلُهُ مُحَمَّدٍ » د لفظ مبالغـه دی د محمود »

حکمت الٰهی

پـه هغـه زمانـه کښی چی آنحضرت صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د رحم د مور چی « آمنـه » پـه نوم وو د دنیا تـه تشریف راوړی هغـه زمانـه توره دوره د جاهلیت وه چی عمومی نومان د هغی زمانی » عمرو یا بکر یا عبد العزی یا عبد المناف او امثالها » بـه پر ته امنوا ایښودل کید ل خدائ د عبد المطلب چی د علیه السلام نیکه دی یو داسی مبارک نوم پـه نړه کښی ورواچوه یعنی محمد چی د دوروسته مالا توسره د آنحضرت م دیر موافق دی »

قَوْلُهُ خَاتَمٌ » الخاتم ما يُخْتَمُ بِهِ الشَّیْءُ یعنی انبیاء علیهم السلام پر آنحضرت ختم سوه. د دوروسته تړه هر څوك چی د عوی د نبوت کوی هغـه کاذب او د دجال او کافر مطلق دی

فائده: پـه پاکستان کی چی دین او مذهب او قلم او وینا آزاد دی » او د مخـه ترجور یدو د پاکستان د پنجاب پـه علاقه کښی یو سړی پـه نامه د غلام محمد پیدا سوی وُو »

چی ختمِ نبوت د آنحضرت ﷺ په نه مانه اوځانږه هم نبی صاحب الوحی بالله چنانچه دهغو
دوحی کتابونه اوس هم په پاکستان کی موجود دی۔
دی سړی په کهمك دانګریزانو چی دوی ګرده عمر د مسلمانانو څخه احساس د خطر کوی، ولی
چی دوی کارنامی د حقیقی مسلمانانو د تاریخ په پاڼو کښی وګمهلی دی: نو ګرده عمر به مسلمانان
کی رخنه اوشګاف پیدا کوی۔
خو انګریزانو غلام محمد قادیانی ته لوی مالی کهمك ورکاوه اودده تحفظ یه کاوه حتی چی دی
ملعون کافر لوی شهرت او دیر اتباع په لاهور او پنجاب کښی پیدا کړه چی د قادیانانو په
نامه تر اوسه یادیږی۔ په مقابل کی دهغه مسلمانانو د ختم النبوة په نامه ادارې قائمه کړه او
پر غلام محمد اودده پر تابعانو یې متفق القول فتوی د کفر صادره کړه۔ لکن سره د هغه قادیانی
مذهب تر اوسه ځلیږی اوخپل د عبادت ځایونه په هر ښار کښی لری۔ او مقابله تر اوسه ۱۳۳۱ هـ ق
پورې جاری ده، که څه غلام محمد ملعون خودوخته مړ دی۔ لکن پرځای یه بشیر احمد چی د ده
زوی دی چی فعالیت کوی۔

د غلام محمد مړک

دی دغولو کولو د پاره دغولو پر عمیق ځای ناست وو، لکه چی په ټوله پاکستان کی د هغه ځاهان رواج دی
چی نا ښه څه سر و نړیدی او غلام محمد وخاه ته ولویدی، او هغه غولو په خاکی دی مړ او
مړ سو۔ وذالک جزآء من حارب الله ورسوله فی الدنیا۔ والمآ عذاب الآخرة اشد وابقی۔

قوله: النَّبِيِّيْنَ: دا لفظ جمع د نبی ده او نبی هغه انسان دی چی خدائی د خپلو احکامو تبلیغ
او رسولو د پاره انسانانو ته راستولی وی۔ او په وړسره معجزه وسره د ده د نبوت تائید کړی
وی که نوی کتاب ورسره وی او که نه وی۔
او رسول، په عربی لغت کی پیغام وړونکی ته وائی۔ او په شرعی شریعه کی بعض علماء وائی
چی رسول او نبی په یوه معنی دی۔ لکن حق دادی چی رسول تر نبی خاص دی ولی چی رسول
هغه نبی دی چی نوی کتاب او دین ورسره وی۔
د دروغ ایوبی په عقیده د هغه مذهب د احادیثو مبارکه سره برابر دی۔ ولی چی په صحیح حدیث

کښی راغلی دی، چی یوچاد آنحضرت صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وکړه چی انبیاء علیهم السلام
څودی! آنحضرت ﷺ جواب ورکړی چی یولک و څلیر ویشت زره دی۔ هغه سړی پوښتنه
وکړه چی رسولان په دوی کی څودی! آنحضرت ﷺ وویله دری سوه ۳۱۳ اودیارلس۔
سوال! په حدیث مبارک کی راغلی دی چی کتابونه د خدائ یوسل اوځلور دی نو څرنګه
به یوسل اوځلور پر ۳۱۳ تقسیم سی۔ **جواب**: مولی خیالی په حاشیه کښی د شرح العقائد
وائی۔ چی بعض د دغو کتابو مکرر نازل سوی دی لکه چی سورهٔ فاتحه دوه واره نازله سوید ه
کذا فی الحدیث النبوی، نو په دی ترتیب د غه ۱۰۴ کتابه پر ۳۱۳ رسولانو نازل سوی دی۔
فائده: اول د انبیاء علیهم السلام آدم ابوالبشر دی او اخیر د نبیانو محمد خیر البشر دی
علیه وعلیهم الصلوٰة والسلام۔
مسئله: د انبیاء علیهم السلام د شمیر تعیین د سړی نه کوی ولی چی په حدیثو مبارکه
ووکی اختلاف دی بلکه یادی داسی وائی چی پر ټولو انبیاء ﷺ هر څومره چی د زمانه ایمان دی
او یاد داسی وائی چی زه یولک څلیر ویشت زره زیات تو کم پیغمبران صلی الله علیهم وسلم۔
مسئله: دین محمدی صلی الله علیه وسلم د ټولو ادیانو ناسخ دی، او ټولی دینی لاری خدائ
جل جلاله بندی کړی دی بیله دین محمد صلی الله علیه وسلم۔ سعدیؒ
پښدار سعدی که راه صفا نه توان رفت جز در پی مصطفی، د آنحضرت صلی الله علیه وسلم
نومان ویردی، د دلائل الخیرات مطالعه کړی۔
قوله وعلی آله آه آل د علیه السلام بعض علماء وائی چی اهل بیت د ده ﷺ دی، یعنی د کور
انسانان، چی امهات المؤمنین ؓ یعنی د آنحضرت ﷺ کور والا چی د ټولو مسلمانانو منډی دی
او د علیه السلام لونړی دی ؓ او خادمان د ده مبارک، او بعض علماء وائی چی آل د علیه السلام
اقرباء نسبی د علیه السلام دی په شرط د ایمان، یعنی اولاد د علی ؓ او عقیل او طالب دی، تر وروستی
پورې د قیامت، او بعض داوائی چی آل د نبی علیه السلام هر مسلمان تر یا بنځه چی تقوی لره
وی، کما ورد فی الحدیث النبوی، کُلُّ مُؤْمِنٍ تَقِیٍّ نَقِیٍّ فَهُوَ اٰلِیْ۔
قوله وصحابته، صحابه جمع د صاحب دی یعنی ملګری، او په شرع شریفه کښی صحابی

هرهغه انسان مسلمان دی چی په وخت کښی دا سلام په آنحضرت ﷺ لیدلی وی او یا یه د علیه السلام مجلس کړی وی، لکه عبد الله ابن ام مکتوم رض چی په ستر گو پوند وو، او پس هغه اسلام مړ وی، که څوم یوگړی یې ملاقات ورسره کړی وی، او بعض محدثان طول صحبت یعنی کم از کم ۶ شپږ میاشتی، او بعض محدثان روایت د حدیث هم شرط بولی، د ملا علی قاری شرح مشکوة، او مقدمه د بخاری شریف مطالعه کړی،

نادره خبره

پوه سه: چی په پښتو کښی حتی په علماؤ او طلباء کښی دارواج دی. چی استاذ ته یا مرشد ته یا بل محترم دینی عالم ته فلان صاحب، یا مولوی صاحب، یا فلان پیر صاحب وائی او سره د دی چی صاحب په معنی لغوی چی ملگری ته وائی د تعظیم لفظ نه دی بلکه په عرف د عرب و صاحب شاگرد ته وائی. نو پښتانه څرنگه دا لفظ د تعظیم په ځای کی استعمالوی، بلکه بعض عوام بلکه طالبان و استاذ ته وائی، مولوی صاحب، دا لفظ د سب څخه مشتق دی چی معنی یې بنگ څل دی، نو د سب معنی بنگ څل کوونکی،

پوه سه: چی د دی معنی څل دادی چی دا لفظ په غیر گی دا صحابو رض د علیه السلام صائب دی چی د صواب څخه جوړ سوی دی یعنی حق ته رسیدلی، او اصل یې صاوِبٌ وو پس له الف زائده څخه واو په همزه بدل سو، صائبٌ څندی جوړ سو او پر دی تقدیر دا لفظ د تعظیم دی استاذ یا شیخ یا بل لوی عالِم ته ویل تعظیم دی، دا نوی فائده په یاد کړی او دا لفظ یعنی صائب تر استعمال لاندی ونسی، دروښین باگناه محمد عبید الله الایوبی السلیمانخیلی کندهاری عفرله الباری

د درود ویلو په باب کی په زړه پورې معلومات
او مسائل فقهیه

پوښتنه: ذکر یعنی نوم د الله ﷻ یا کلمه طیبه افضل دی او که درود پر آنحضرت صلی الله علیه وسلم افضل دی؟ جواب: شاه انور شاه کشمیری المرحوم چی یو وخت په مدرسه کی د دیوبند صدر المدرسین وو او شیخ الحدیث وو او پر ترمذی شریف باندی

یوه لمنده او محقق شرحه یه کړیده، داسی فیصله کړیده چی د پاره د امید د شفاعت نبوی په روز د قیامت درود ویل ښه دی، او د پاره د مغفرت د ګناهو د جانبه څخه د رب العزت ذکر افضل دی،

په حدیث مبارک کی راغلی دی، أَفْضَلُ الذِّكْرِ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ، وَأَفْضَلُ الدُّعَاءِ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ، ابن حجر په فتاوی حدیثیه کی داسی وئیلی دی چه چونکه ذکر تر دعاء افضل دی نو کلمه توحید تر حمد و یلو افضله ده،

مسئله: چونکه شیخ او اجازه ور کوونکی د درود ﷺ آنحضرت صلی الله علیه وسلم دی. نو ځکه اولیاء الله وائی چی د درود و یلو د پاره اجازه د پیر کامل نه غواړی. نو په درود و یلو بیله اجازی د شیخ هم خدائ ته رسیږی. او آنحضرت ﷺ ته نزدی کیږی او برخلاف د نورو اذکارو چی د هغوب په ویلو کښی اجازه د شیخ کامل ضروری ده، ولی چی شیطان مداخله په کښی کوی خدا نا خواسته چی د نفع پرځای ضرر ورو ندرسیږی، هکذا فی الصاوی شرح جلالین،

پوه سه: چی درود ویل په ټوله عمر کښی د مسلمان یو وار فرض عین دی، چی ورا ندې تیره سوه، او کوم وخت چی نوم د آنحضرت ﷺ په مجلس کی یادسی، پرویونکی او اوریدونکی پس دوا پرد درود ویل واجب دی د مسئله هم مختصر ذکر سوه، ځرلته دا زده کول په کار دی چی ویونکی په درود ویلو د اوریدونکی غاړی نه خلاصیږی. - داده قرآن عظیم الشان خاصیت دی چی سامع لکه لوستونکی دی،

مسئله: که چا د آنحضرت ﷺ نوم وَ وَایه یا یه واوریدی مگر درود ویل یه هیر سوه نو د درود دهغه په ذمه کښی پورې دی هر وخت چی ور پیاد سی درود دی وائی، د تعجب ځای دی، چی زمونږ پښتانه عموماً خصوصاً بعض واعظان او امامان د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د نام نامی چندانی احترام په درود ویلو سره نه کوی. او سره دی چی په ترمذی شریف کی حدیث نبوی دی چی آنحضرت صلی الله علیه وسلم وائی چی بخیل هغه څوک دی چی زما نوم د ده په واوریدی ذکر سی او درود پر ما نه وَوائی،

او ابن حجرؒ په درمنضود کی داسی روایت کړی دی چی آنحضرت صلی اللهُ علیه وسلم وفرمایل چی جبرئیل امین علیه السلام وویل چی هغه سړی د رحمتِ الهی ډیر لری دی وی چی ستا نوم ردده د مخه یادکړه سی اودی درود پرتا نه ووائی علیه السلام ووائی ما ووویل امین» ردمحتار حاصل داچی درود په ویلو کښی فلاح دنیا او اخرت سته» او په ویلو کی یه «خَسِرَ الدنیا وَالآخرة دی» «دُرود سُنت دئ»

په اخره ناسته کی د تولو لمونځو که فرض وی که سنت وی او که نفل» اود نفلو په اوله ناسته کی هم سُنت دی» وَالنَّاسُ عن هٰذا غافِلون» اود جنازی په لمانځه کی پس له دوم تکبیر څخه «درود ویل مُستحب دئ» په دے لاندی ځایونو کی:

۱ په شپه او ورځ کی دجمعی» ۲ په وخت کی د دا خلید و مسجد ته او یا د و تلو د مسجد څخه. ۳ په روضه مقدسه مُعلی کی د آنحضرت صلی اللہ علیہ وسلم بلکه هیڅی ډیر ډیر دی وائی ۴ په صفا او مروه په وخت کی د سعی. ۵ په هره خطبه کی ۶ پس له اجابت د مؤذن. ۷ په اول او اخر کښی د دُعا» ددی ویلو راز دادی چی درود نبویؐ خو په دربارِ د خدائ قبول دی نو درب جل شانه دکرهه څخه لیری نه ده چی دما بین دعا و هم قبول کړی ۸ پس له تلبیه څخه ۹ د اودس تازه کولو په وخت کی ۱۰ په وخت کی چی په غوږ کی انانګه وسی ۱۱ کله چی د سړی یوه خبره یا کار هیر سی درود دی ووائی ورپیاد بسی، وهذا من التجربات» ۱۲ شروخت چی وعظ ته کښینی یعنی وعظ شروع کوی ۱۳ څه وخت چی مدرس درس شروع کوی خصوصاً د علومِ دینی وو» ۱۴ چی مبارک وائی ۱۵ په اول او اخیر کی د تلاوت د قرآن عظیمُ الشان» ۱۶ چی استفتاء لیکی یا فتوی لیکی یا کوم کتاب لیکی» ۱۷ چی مرکه د نکاح یوځای استوی ۱۸ د نکاح تر لوپه وخت کی ۱۹ د مخه ترهر کار چی مقصود اوشرعی وی» ۲۰ په وخت د لیکلو د نامه د آنحضرت صلی اللہ علیہ وسلم

دُرود ویل مکروه دئ» ۱ په وخت کښی د جماع کولو ۲ چی عورت غلیظه

۱ په شکاره وی ۳ د پاره د خریدا و فروخت او د سامان د رواجولو د پاره» ۴ د تعجب په وخت کی ۵ چی نولهٔ وَوهی یا غوڅارسی ۶ په وخت د ذبح کیدو د حیوان»

۷ په وخت کی د اړ وی ۸ بیله اخیری ناستی د لمانځه په ټول ځای کی ۹ چی په درود سره په مجلس کی د غټ شخص یا سردار د پاره ځای غواړی»

مسئله: درود شریف په هر حالت کښی بلا کراهته روا دی» حتی په وخت کی د حدث یا جنابت هم روا دی» کذا فی ردالمحتار»

د اخبره هم زده کړه

حضرة المولی البرسویؒ مصنف د روح البیان په تفسیر کی د دی ایت مبارک» إِنَّ اللّٰهَ وَمَلٰٓئِكَتَهٗ آه د اسی لیکلی دی چی درود ونه څلور زره دی» او په بل روایت کی دوولس زره دی» عارفان» او اولیاء» او عاشقان د نور محمدیؐ شرقاً و غرباً و جنوباً و شمالاً یو درود په مابین د دُخان او د روح مقدس مطهر نبوی سبب د رابطهٔ روحانی گرځوی» او د قسم قسم امراض ظاهره او باطنه یو درود په تجربه رسولی دی» او رقم رقم فائدی تر ینه اخستی دی چی د هغو تولو د درودو، او د هغود خواصُو او فائدو تولو بیانول د طوق څخه د قلم د عاصی پوره نه دی. او د هغو تولو بیانول لوی کتاب او دفتر غواړی»

لکن درویش به د گرانو ورونړو او خوندود پاره بعض درودونه وراندی کړم، شاید بعض محبان د آنحضرت ﷺ او په او رسوی عاشقان د آن سرور کائنات ﷺ گټه څندی و اخلی او د ذات انور نبوی ﷺ سره یه رابطه حاصله کړی»

د روغتیا وائ چی د پاره د دفع د تولو غمو او مصیبتو او د جلب د تولو منفعتو په تجربه د اولیاء الله رسیدلی د درود هم دادی: بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ صَلٰوةً تُنَجِّيْنَا مِنْ جَمِيْعِ الْاَحْوَالِ وَالْاٰفَاتِ وَتَقْضِيْ لَنَا بِهَا جَمِيْعَ الْحَاجَاتِ» وَتُطَهِّرُنَا بِهَا مِنْ جَمِيْعِ السَّيِّئَاتِ» وَتَرْفَعُنَا بِهَا اَعْلَى الدَّرَجَاتِ» وَتُبَلِّغُنَا بِهَا اَقْصَى الْغَايَاتِ مِنْ جَمِيْعِ الْخَيْرَاتِ» فِي الْحَيَاةِ وَبَعْدَ الْمَمَاتِ» د درود په شبانه روز کی کم از کم پنځه واره وائ، په همیشه توب سره بی د دنیا او اخرت فائدی تر لاسه کړی» ان شاء اللہ العزیز»

شیخ اکبر محی الدین ابن عربیؒ وائی چی دا درود ډیوی خزانی څخه د خزانو د عرش الرحمن
دی او ډیر سریع التاثیره دی، او د غر رنګه امام جزولیؒ او شیخ بونیؒ ددی درود
مبارک په سوو فائدی بیان کړی دی، او صاحب الاسرار ددی درود په فوائدو کښی ډیر
مفصل بیان کړی دی۔

د حضرت جابر بن عبد اللهؓ څخه روایت دی چی حضور اکرم صلی الله علیه وسلم و فرمائیلی
که څوچا پرما هره ورځ سل واره درود ووایه، یعنی هر درود چه وی، خدای پاک به پوره
کړی دهغه سړی ۷۰ سل کاره، او ۷۰ یا په آخرت کښی او ۳۰ یا ډیرش په دنیا کی، او په یوه بل روایت
کی داسی راغلی دی، که څوک درود وظیفه پرما هره ورځ ۵۰۰ واره، یعنی که پریوه ځای
وی او که جلا جلا مسکین به نسی ابدًا۔ او د غر رنګه د نبی علیه السلام څخه روایت دی، چی
زه حبیب یعنی دوست د خدائ یم، او پرما درود ویونکی زما دوست دی، نو که څوک
غواړی چی زه حبیب سره د حبیب یعنی خدای پاک، نو درود دے ډیر وائ پر حبیب
حضرت الامام جلال الدین سیوطیؒ وائی چی دا حدیث ټوله صحیح دی۔

او دی وائی: چی په تحقیق سره درود ویل پرسردار دو عالمؐ باندی سبب د ډیر والی د رزق
دی۔ او سبب د ډیریدو د برکت دی په مال او عیال او تجارت کښی۔ او په درود ویلو
سره لوی لوی حاجتونه د سره کیږی، او غمونه، فکر خرابی، وسواس دفع کیږی۔

جلال الدین سیوطیؒ زیاته کړیده، چی دا ټوله خبری په تجربه او مشاهده رسیدلی دی
او درود ویل پر آنحضرت صلی الله علیه وسلم واسطه کول۔ په ټولو جائزو کارو کښی
او مهمانو کی، د ټولو علماؤ و که متقدمین دی او که متاخرین بلکه په پیریانو او ملکو کی
قدیم رواج دی، د روښ وائی چی امام سیوطیؒ په دی باره کښی لوی تحقیق کړی دی
او ډیر اوږده اولنډ حدیثونه یې روایت کړی دی، زمونږ د اهل سنتو عقیده ده ازه،
چی اصحاب کرام ؓ د رسول الله صلی الله علیه وسلم ټوله عادلان دی۔ او دامت محمدیه
علیه او بهتره کسان دی هیڅ صحابی ؓ نه مونږ بد نه وایو لکه معتزله او خوارج او شیعه گان
چی بعض صحابه ووته بد نسبتونه کوی حتی چی بعض اصحابو کفر ټا فی هم لګوی، العیاذ بالله

البته مونږ عقیده لرو چی د ټوله امت افضله بلکه د ټولی نوع انسانی بیله انبیاءؑ
افضل ابوبکر الصدیق دی رضی الله تعالیٰ عنه، او بیا عمر بن الخطاب دی رضی الله تعالیٰ عنه او بیا
عثمان بن عفان دی رضی الله تعالیٰ عنه او بیا علی بن ابی طالب دی رضی الله تعالیٰ عنه چی ودې
خلورو نفروته خلفاء راشدین وائی،

پوښتنه: تاسو د مخه کښی د پیر کامل ذکر وکړی دپاره د اجازی د اذکارو نو زمونږ
پوښتنه داده چی پیر کامل څه ښی کښی او علامی لري او که په صرف دعوه سړی پیر
کامل جوړیدای سی؟ جواب: هو پیر کامل خپل ماهیت او معنیٰ لری هغه دا چی
پیر کامل هغه څوک دی چی عقائد یې د اهل سنتو وی۔ او د هر بدعت څخه خلاص وی
او د شریعت مطهره په تمامو معنا وو پابند وی۔ او حتی الامکان ټوله امور شرعیه
پرځای کوی۔ او په مباح شهواتو کښی هم ډیر غرق نه وی، پیر ی په نسب نه ده لکه
داوس عصر د عوامو چی زعم باطل دی،

یعنی چی د چا پلار، ښه دیندار او مبارک سړی وو، نو زوی یې هم پیر کامل دی که څه هم فاسق
فاجر بی لمانځه، بن رخ ریلی، سګوان وی، حتی چی عوام د د غسی فاسقانو پیرزاده
گانو هم احترام کوی او هم یې مریدان کیږی۔ بعض عوام د پیرزاد گانو په تعریف کی
وائی، د ښو غوښو سپی ښوروا وی، جواب، هو لکن چی په ښورو امرداری نه سی
کړه ۔ ۔ بیت: پسر نوح با بدان بنشست: خاندان نبوتش گم شد،

قوله الظاهرین آه ای من العقائد الفاسدة، د عقائدو فاسده، و څخه او د اعمالو
خبیثه، و او ناروا عملونو څخه ټوله پاک وه،

سوال جواب طلب

تاسو اکثره د غه مسئلی او فوائدی چی تر اوسه تاسی ذکر کړیدی د قدوری په شرح
پښتو کی چی د نور الایضاح تر شرحی د مخه تاسو تصنیف کړی وه ذکر کړیدی نو په دې
شرح د نور الایضاح کی ورا ورته حشه ضرورت وو... بلکه باید چی په مشترکه...

مسائلو اوفوائدو کښی موشرح قدوری ته صفحه بنده حواله کړی وای نو داشرحه به
اوږد دیدلای **جواب**: علامه تفتازانیؒ په تلخیص دوی شرحې کړی دی چې یوه شرحه یې
د مطولۍ په نامه یادیږی اوبله شرحه یې مختصر المعانی بولی نود دغه جناب په دې کې
څه غرض وو اوسره ددې چې مشترک بیانات په دواړو کښی ستنه.
ژړوړلیش غرض دادی چې طالب علم ته دحوالی په سبب دقت په پیدا کولو کی دشرح
قدوری پلښ نه سی، بلکه هرڅه مضمون چې وی په دی شرح کښی زده کړی. اوبل سبب
دادی چې چونکه قدوری که څه هم په فقه حنفی کښی لوی قدر لری اومحقق کتاب دی لکن
چونکه په بیخی کچنیانو ویل کیږی، نود طالبانو چې وځانته یوڅه وائی دقدوری و
درسولوته میل نه لری، نوو شرحې ته دهغی به څه میل ولری، بخلاف دنور الایضاح چې
هغه مسلّم مغلق کتاب دی چې طالبان بلکه امامان یې په حل لپسی سرګردان دی.
نوچې دوی واوری چې پر نور الایضاح پښتو شرحه سویده نوهغه شرحه په مینه مینه
لاس ته راوړی، نوژړوړلیش مسائل اوفوائد دشرح دقدوری په دی شرح کښی هم ذکر کړه
تاچه طالبان دهغوسپیڅلو فوائدو وڅخه محرومه اوبې برخې پاته نه سی.
وهذا نتیجة غایة شفقة الحاضی معهم، والله الموفق.

مصنفؒ وئیلی دی **قَالَ الْعَبْدُ الْفَقِيرُ إِلَى مَوْلَاهُ الْغَنِيِّ أَبُو الْإِخْلَاصِ**

ترجمه: وئیلی دی فقیر یعنی محتاجه وبادارته خپل چې مراد خدائ دی، هستی خدای چې غنی

حَسَنُ الْوَفَائِيُّ الشَّرْنُبَلَالِيُّ الْحَنَفِيُّ

یعنی بې برو اوغیر محتاجه چاته، چې پلاره اخلاص دی چې حسن یې نوم دی اووفائی دی دایه تخلص ورکی.
اومنسوب وشرنبلال ته چې دایه وطن ورکی. اوحنفی مذهبه دی.
پوه سه: چې فقیر په لغت کی هغه چاته وائی چې مال نه لری نوچونکه فقیر په دی معنی
وصله ته حاجت چې «إلی» دی نه درلودی ددې سببه علماؤ دلته دفقیر ترجمه په محتاج کړی

چې هغه بیا «إلی» غواړی.
قوله الی مولاه: پوه سه چې مولا په دیرو معناوو کښی په عربی کی استعمالیږی
لکه د مربی مالک اوخاوند مربي ته هم مولا وائی. اود اکازوئ ته هم مولا وائی، خودلته
په معنا د باادار دی اوحقیقی بادار د ټولو مخلوقاتو یوازی اویوازی خدای پاک دی جل سلطانه.
قوله الغنی: غنی په عرف کی د فقهی شریفی هغه چا ته وائی چې یونصاب دنصابو
دزکوة لری. اوپه لغت کښی ضد د فقیر دی، اوغنی کامل خدای پاک دی وبس.
قَالَ اللهُ تَعَالَى: وَاللهُ الْغَنِيُّ وَأَنْتُمُ الْفُقَرَاءُ، خدائ دی غنی مطلق چې نه په ذات
اونه په صفاتو کښی اوڅوم په افعالو کښی چاته محتاج دی. اوتاسی ټوله فقراء اومحتاج
یاست هم په ذات کی اوهم په صفاتو کښی اوهم په افعالو کی.
طحطاوئ په شرح کښی دمراقی الفلاح، چې مختصر شرح دنور الایضاح ده منه، په نسبت
کی دشرنبلالی داسی وائی، چې مصنفؒ په اخیر کی درسالی دده چې، دُرَر الکنوز، یه نوم دی
داسی وئیلی دی چې د الفظ شائع دی یعنی شرنبلالی، اواصل لفظ، شبراملولی، دی ولی
هغه قریه چې په سواد مصر کښی واقع ده اومصنفؒ هم دهغی قریې دی نوم یه شبراملولتی
دی، **قوله**
الحنفی: یعنی په مذهب د امام اعظم سراج الامة ابوحنیفهؒ دی. پوه سه
چې نسبت وه ابوحنیفه ته په حذف دجزء اول دی، اوتاء دتا نیث کیږی، اما بعض علماء
دجهت دکثرت استعمال لفظ د «یا» هم حذفوی لکه مصنفؒ چې حذف کړیده، او
بعض علماو یې په اثبات دیاء وائی یعنی حنیفی.

مصنفؒ وئیلی دی

إِنَّهُ الْتَمَسَ مِنِّي بَعْضُ الْإِخْلَاءِ عَامَلَنَا اللهُ وَإِيَّاهُمْ بِلُطْفِهِ الْخَفِيِّ

ترجمه: چې په تحقیق سره خواهش اوطلب وکی زما څخه بعض دوستانو چې خدائ دې
معامله وکړی زمونږ اودَ دوی سره په مهربانۍ خپله چې پته ده.
قوله إنّه، دامقوله دقال ده، اوضمیر یه دپاره دشان دی.

قَولُهُ اِلتِمَس آه اهل عربیت اواهل اصول وائی، چی غوښتل طلب دیوکار وکی دبل سړی څخه اودی ځان پرهغه لوړ بولی هغه طلب ته اَمر وائی لکه چی یادار وَمَربی ته وَوائی اِفعَل کَذَا، یا یوحاکم وعسکر ته وَوائی اِفعَل کذا، اوکه طالب ځان برابر باله دمامور سړه هغه ته التماس وائی۔ لکه یواندی یوال وَبل ته وَوائی چی دا اوبه خورا که، اوکه طالب ځان عاجز او خوار کاږه هغه طلب ته دعاوائی۔ لکه چی یوبنده خدای ته وَوائی، اَللّٰهُمَّ اغفِرلِی ذُنُوبِی وَارزُقنِی وَاخبُرنِی وَغَیرُ ذٰلِكَ، قوله الاخلاء جمع دخلیل دَه۔ لکه أحبّاء جمع دحبیب ده یا اطباء جمع د طبیب ده اود خلیل معنی دوست برگزیده یعنی چی دوستی یه دنفاقه خالی وی،

قَولُهُ عَامَلَنَا اللّٰهُ آه پوه سه چی عامِل باب دمفاعله دی۔ چی عَمل ددوارو طرفو څخه غواړی۔ بعض عُلماء وائی چی داباب دلته په معنی دمجرد دی، چی عمل دی، یعنی خدائ دموږ سره عمل وکړی په لطف سره لکن سره دمبالغی کذا قال الرضیؒ، او بعض علماء وائی چی باب دمفاعله دلته پرخپل معنی جاری دی، ولی چی داباب صرف اشتراك په مصدر کی چی عمل دی غواړی که څهم نوع دعمل یه مختلف وی۔ نو معنی داسی دَه چی خدائ د عمل دمغفرت وکړی چی زموږ دخوا عَمل دمعصیت وی، اوخدائ دعَمل داسی دجنت وکړی چی زموږ دَخوا عمل سَبب ددوزخ وی، وَعَلی هذا القیاس غیرومن الافعال

قَولُهُ بِلُطفِهِ، دلطف معنی مهربانی ده که څه سبب یه نه وی قَولُهُ الخَفِی، اگرچه دخدائ لطف جلی اوخفی دواړه ستة لکن لطف جلی هغه دی چی ظاهری سَبب ولری، اولطف خَفی هغه ته وَائی چی بیله کومه سَببه وی یعنی بیله کم سَببه خدائ پرخپل بنده لطف اومهربانی وکړی، او بعض عُلماء وائی چی لُطف جلی دخدائ په نعمتو سره د دُنیا وی، اولطف خَفی دخدائ په نعمتو ابدی ووسره داخرت دَی،

فَائِدَه: چونکه لطف خفی دخدائ په هره معنی وی تر لطف جلی فضیلت لری نو ځکه مصنفؒ طلب دلطف خفی وکړی،

«کتبه وَرتبه مفضل الحق حقانی غفرله الباری»

مصنفؒ وَسیلی دی

اَن اَعمَلَ مُقَدِّمَةً فِی العِبَادَاتِ تُقَرِّبُ عَلَی المُبتَدِی

ترجمه: ددی التماس یه وکړی چی زه عمل وکړم، یعنی تصنیف کړم یومقدمه په عباداتو کی هسی مقدمه

مَا تَشَتَّتَ مِنَ المَسَائِلِ فِی المَطوَلَاتِ

چی نړدی کړی وَه مبتدی ته یعنی نوی زده کونکی دفقه هغه مسائل چی پراگنده اوپاشلی دی په لویو اوغټو کتابو کښی یعنی دفقه شریفی،

قوله اَن اَعمَلَ آه دالفظ مفعول دٌ اِلتِمَس، دی۔ عمل خو یوعام لفظ دی لکن په قرینه دمقام مراد ځندی تصنیف کول دی، تَنبِیهٌ: مصنفؒ دعمل لفظ مختار کړی دی ددی سَببه چی تصنیف هم یوعمل دی، فقهی قَولُهُ مُقَدِّمَةٌ: دمقدمی معنی هغه ډله ده چی دمخه تر نورو وی، لکه مُقَدِّمَةُ الجَیشِ، چی تر عمومی لښکر دمخه تلونکی ډله وائی۔ مصنفؒ داخپل کتاب ته مقدمه ووسیله اشاره یه وکړه چی داکتاب باید تر نورو مطولاتو دفقهی مخکښی دنړده کړی په، میدان کی ودَرول سی، تاچی هغوته لاره خلاصه سی،

قَولُهُ فِی العِبَادَاتِ، عبادت هرهغه عمل ته وائی چی رب جَل وعلا ته تقرب په کیږی که فرضی وی اوکه واجب وی اوکه سنت یا مستحب دی،

په دی کښی مصنفؒ داول الامر څخه متعلم ته اطلاع وَرکړه چی دمنهیاتو نه لکه زنا، لواطت وغیرها دده په دی کتاب کی نسته، قَولُهُ تَقَرَّبُ آه داصفت دمقدمة دی، والتقریب معناه نزدیک گرځیدَن،

قَولُهُ عَلَی المُبتَدِی، اگرچه دتقریب صِله خود، اِلی، لفظ راځی کما فی تَقَرَّبتُ اِلَیهِ، لکن حروف صله یودبل په ځای کی بی انکاره دَچاراتلای سی، کما فی التلویح، وحاصل کلامه المذکور دادی داکتاب یعنی نورالایضاح دعباداتو په باره کښی هغه مسائل مهمه چی په لویو کتابو کښی پراگنده وی۔ ومُبتدی ته دفقهی جمع کوی گویا

دریاب په کوزه کښی جمع کوی ۔ مصنفؒ وئیلی دی

فَاسْتَعَنْتُ بِاللّٰهِ وَاَجَبْتُهُ طَالِبًا لِلثَّوَابِ

ترجمه: پس ما کهمك او توفیق وغوښتی دخدائ څخه. اوما قبلوند دهغود التماس وکړه په داسی حال کی زه غوښتونکی د ثواب یم درب العباد څخه. یعنی ریا اوسمعت چی د عمل خیر لغوکونکی دی زما مطلب نه دی ۔ مصنف وئیلی دی

وَلَا اَذْكُرُ اِلَّا مَا جَزَمَ بِصِحَّتِهِ اَهْلُ التَّرْجِيحِ مِنْ غَيْرِ اِطْنَابٍ

ترجمه: اوزه نه ذکر کوم په دی کتاب کی مگر هغه مسائل چی یقین کړی وی اهل الترجیح په صحیح والی سره د هغو مسئلو اود اجمع د مسئلو می کړیده بیله دراز والی، یعنی چی اوږدی خبری اومسائلی نرده کړه یه پرمبتدیانو تکلیف دی ۔ مصنفؒ وئیلی دی

وَسَمَّيْتُهُ نُوْرَ الْاِيْضَاحِ وَنَجَاةَ الْاَرْوَاحِ

اومانوم کښیښنو یرد غه کتاب، رُنړا ئ د پاره د پاره دایضاح د مسائلو فقهیه وو، اونجاة ورکوونکی دی روحانوته د طالبانو د فقهی د تاریکی څخه د شك اود جهل،

وَاللّٰهُ اَسْئَلُ اَنْ يَّنْفَعَ بِهٖ عِبَادَهٗ وَيُدِيْمَ الْاِفَادَةَ

اوخاص د خدائ څخه زه سوال کوم د نفع ورکولو په دی کتاب سره وبندګانو ته د خدائ اود همیشه فائدی رسولو د دی کتاب،

فائده: د دروښ عقیده داده چی د مصنفؒ دغه خواست خدائ قبول کړی دی. ولی چی په ټوله اسلامی نړی کی اوپه ټولو مدارسو دینیه ووکی د نور الایضاح تعلیم اوتعلم کیږی، پوه سه: چی ضمیر د "سَمَّيْتُهُ" راجع دی و مقدمة" ته لکن په تاویل د کتاب ولی ضمیر مذکر دی اولفظ د مقدمة" مؤنث دی، او تقدیم د مفعول د "اَسْئَلُ"

چی لفظ د "الله" دی دپاره د حصر د سوال دی پرجناب الهی اولفظ د "اَنْ" په "اَنْ يَّنْفَعَ" کی مصدریه دی ای اَسْئَالُ النفع، اولفظ د "يُدِيْمَ" عطف دی پر "يَنْفَع" ای ادامة الافادة"

راوولیږ محمد عُبَيْدُ اللّٰهِ الْاَيُوبِيُّ الْكَنْدَهَارِيُّ وائی چی څرنګه چی مصنفؒ په متن کی لفظ د اهل الترجیح استعمال کړی نوزه مجبوره یم چی "طبقات" او اقسام د فقهاوو د مذهب د روښنیم" تاچی معلومه سی چی اهل الترجیح کی د کوم ته وائی:

دَفَقَهَاؤُوطَبَقَاتٌ اَوْاَقْسَامٌ

نوواوره!

چی د رد محتار په ص ۷۱/۷۲ کی وائی چی اوله درجه اوطبقه د مُجْتَهِدِينَ فِي الشَّرْعِ، یعنی چی په شریعت محمدیؐ کښی مجتهدین وی، لکه ځلور امامان رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ. یعنی سَيِّدُ الائمة ابوحنیفهؒ، اوحضرت الامام مالکؒ، اوحضرت الامام محمد بن ادریس الشافعیؒ، اوحضرت الامام احمد بن حنبلؒ اود ویمه طبقه د مُجْتَهِدِينَ فِي الْمَذْهَبِ یعنی مجتهدین د مذهب حنیفی لکه، قاضی ابویوسفؒ - اوامام محمدؒ. اوهر هغه څوك د شاګردانو څخه د حضرت الامامؒ چی وی، چی قادر وی پر رایستلو د احکامو د فقه شریفی د څلورو د دلائلو څخه یعنی قرآن عزیز، احادیث نبویه، اجماع د مجتهدینو اوقیاس، لکن د هغو قوانینو سره برابر چی استاذ د دوی یعنی ابوحنیفهؒ ودوی ته وضع کړیوی که څوك په بعض فروعیه احکامو کښی د حضرت الامامؒ څخه مخالفت وکړی،

اودریمه طبقه اودرجه د مُجْتَهِدِينَ فِي الْمَسَائِلِ" ده یعنی هغه مسائل چی د صاحب المذهب څخه په هغه مسئله کی کومه تصریح نه وی موجوده، لکه خصافؒ، ابوجعفر الطحاویؒ، ابی الحسن الکرخیؒ، شمس الائمة الحلوانیؒ، شمس الائمة السرخسیؒ، فخر الاسلام علی البزدویؒ، فخر الدین قاضیخانؒ اونور د دوی امثال، نوهغه د له د مجتهدینو په مسائلو کښی نه په اصولو کښی اونه په د فروعو کی مخالفت کوی د خپل صاحب المذهب.

بلکه صرف دهغومسئلو چې نص د صاحبُ المذهب نه وی جواب موافق د اصولو سره د صاحب المذهب کولای سی ،، څلورمه درجه اوطبقه ده ،،

۴ اَصحابُ التَّخریج: بُولی یعنی په مُقلدانو کی د مذهب هغه کسان چې په هغه نوګه پر اجتهاد قدرت خونه لري ،، لکن په سبب د حفظ کامل د اصولو د مذهب دوی قدرت لري چې تفصیل دَیو قول مجمل د صاحب المذهب دی وکړی چې هغه قول دوه جهتونه لري نو دیوه جهته تعیین په دوی کولای سی ،، لکه په هدایه کښی چې وَائِ ،، هذا اَعلی تخریج الکرخی ،، اویا داسی وَائِ د اقول بناء دی پر تخریج درازی ،،

اوپنځمه درجه اوطبقه ده ،،

۵ اَصحابُ التَّرجیح: د مقلدینو څخه د مذهب چې د هغوشان دارای چې یوه روایت ته پر بل روایت تفضیل وَرکړی ،، لکه چې د هغه کسان وائِ ،، هذا اَولی یا هذا اصح روایةً یا هذا اَرفق بالناس ،، د دې ډول څخه دی اَبوالحسن القدوری ،، اوصاحبُ الهدایه وَامثالهما ،،

اوشپږمه طبقه ده ،،

۶ مُقلدین فی المذهب ،، ده ،، چې دوی تمیز کولای سی د قوی اوضعیف ،، اوفرق کولای سی د ظاهر الروایه د نادر الروایه څخه لکه صاحبُ الکنز صاحب المختار صاحبُ الوقایه وصاحبِ المجمع اونورا صحاب المتون المعتبره د مذهب څخه د حنفیانو ،، اود دوی حال دادی چې اقوال مردوده یا روایات ضعیفه نه نقل کوی او اوومه درجه اوطبقه ده ،،

۷ مُقلدین محض ،، چې هغوی پر هیڅ شئ د مذکوره کار وقدرت نه لری لکه زمونږ د زمانې عُلماء ،، نود هغوی شان دادی چې د مذهب کتابونه به مطالعه کوی اویا به موافق د هغوسره حکم اوفتوی ورکوی:

شکایت زمونږ د زمانې بعض علماء چې خوک دیوی مسئلی پوښتنه وکړی نوخه هم وُوایه ته په صحیح توګه حکم نه وی معلوم خو به د خپلی خپلی څخه یوخه وَرته وَائِ. اودا نه ورته وائِ چې په دی مسئله زه نه پوهیږم اودا هم نه کوی چې پر بُل یوعالم چې دده څخه هم سَل په سَل کی یقین وی ،، چې هغه

عالم ترمایه احکامو د فقهی خبرد ی حواله دی وَرکړی. یعنی چې ورته ووایئ چې زه خونه یم په دی حکم خبرته فلانی عالم ته ورسه چې هغه ترمایه احکامو نبه خبر دی ،،

ولی چې په دواړو خبرو کښی دده نفس اماره خواږی. په اعتقادکی د سائل ،، اود اتو له څخه د تکبر دی چې زمونږ په نفسو کې قرار نیوَلی دی ،، مطلب دادی چې په اوسنی عصر کی چې کم ملا د امامت په محراب کښی وَدَریږی هغه د خلکو په خیال کی داوَرکوی چې جامع العلوم عالِم یم په علم کی چا ته دزده کړی ضرورت نه لرم ،، وَاِلَی اللهِ المُشتکیٰ ،،

مصنف وَئیلی دی

کِتابُ الطَّهارات

پُوهه سه: چې مصنف شروع د عباداتو په نماځ سره وکړه، د دې سببه چې لمونځ متصل د ایمان سره، ذکر شوی دی لِقَولِهٖ تَعالیٰ: اَلَّذِیْنَ یُؤْمِنُوْنَ بِالْغَیْبِ وَیُقِیْمُوْنَ الصَّلٰوةَ. اولمونځ په وجوب کی هم اول واجب دی پس له ایمانه. ولی چې اول واجب شهادتین دی اودوهم لمونځ دی اوبیا زکوة ،، اولمونځ په افضلیت کی هم پس له ایمان څخه افضل عبادت دی. په دلیل د دی قول د عَلَیْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ: چې چا پوښتنه وکړه ،، اَیُّ الْاَعْمَالِ اَفْضَلُ بَعْدَ الْاِیْمَانِ ،، کوم عمل افضل دی پس له ایمان څخه. قَالَ اَلصَّلٰوةُ لِوَقْتِهَا ،، لمونځ کول دی پر خپل وخت ،، اوبیا نو چونکه طهارت مِفتاح الصَّلٰوة کما وَرَدَ فی الحدیث ،، یعنی شرط یه دی اوشرط پر مشروط د مخه وی ،، نوشروع هُمَّلکه په تولو کتابو کښی فقهی د بیان څخه کوی ،، درمختار، رد محتار ،،

وَاوره: چې د کتاب لفظ مصدر دی په معنیٰ د جمع کولو ،، نو کتابونه چې کتابونه وَائِ د دی جهته چې په هغو کښی جمع د حروفو اود کلما تو کیږی ،، اوپه اصطلاح د فقهاوو اونورو یوه د له د خبرو ده چې مستقله وی اوپر دیرو انواعو د مسائلو مشتمله لکه دا کتاب الطهارة ،، چې پر طهارت داود اسه. اوپر طهارت د غسل. اوپر طهارت

داوبو اوپر طهارت دخاورو چې تیمم دی مشتمل دی» اوګاهی دکتاب اطلاق داسی ځای هم کیږی چې په هغه ځای کی انواع مختلفه دمسئلو نه وی. اوبنه باب یکښی وی اونه فصل» لکه کتاب اللقطة، کتاب الآبق، کتاب المفقود» کذا قال الطحطاوی

طَهارَت په زور د طاء په معنیٰ د نظافت دی» اوپه ضمه د طاء هغه اوبودی چې لږ اوداسه پاته سی» اوپه زیر د طاء آلت ته د پاکی وائی لکه اوبه، خاورې. قال الطحطاوی

پوښتنه: چونکه طهارت اوپاکی شرط د لمانځه دی نود هغه چا چې په قصد لمونځ بی اوداسه وکړی حکم په څه دی: ت د جا

جواب: په سیروهانیه کی وائی: وَفِی کُفْرِ مَنْ صَلّٰی بِغَیْرِ طَهَارَةٍ مَعَ الْعَمْدِ خِلَافُ الرِّوَایَاتِ یَسْطُرُ اوصاحب درمختار په ص۷۵ کی داسی وائی» چې د دغه سړی کافر گنړل روایت د نوار ودی. اوپه ظاهر روایت کی کافر نه دی، لکن دا خلاف هغه وخت دی چې داسړی چې لمونځ بی اوداسه کوی» دسبب د سستی یا جهل وی یعنی پر وجه داستخفاف بالدین اوداهانت په لمانځه یاد استهزاء اومسخرو پر طریقه نه دی. اوکه چیرې پردغو طریقو به لمونځ بی اودسه وکړی بیا هغه سړی کافر بالاتفاق دی

تنبیه: بعضی طالبان دیوچاد لمانځه پیښی کوی پروجد مسخرو اوخندولو د نورو طالبانو» نوهغه کافر دی اوچې پرخاندی هغه هم ټوله کافران گرځی»

مصنف وَیُلی دی:

اَلْمِیَاهُ الَّتِی یَجُوْزُ التَّطْهِیْرُ بِهَا سَبْعَةُ مِیَاهٍ

هغه اوبه چې روا وی پاکوونکی په هغوسره یعنی اوه ډول کول، کالی پریو لل چې مټ روی اوه قسمه اوبه دی» مِیَاهٌ جمع د مَاءٌ» مصنف وَیُلی دی:

مَاءُ السَّمَاءِ وَمَاءُ الْبَحْرِ وَمَاءُ النَّهْرِ وَمَاءُ الْبِئْرِ

داسمان اوبه یعنی دباران اوبه، اودډیاب اوبه، اودوڼی اوبه، اود څاه اوبه

وَمَاءُ ذَابٍ مِنَ الثَّلْجِ وَالْبَرَدِ وَمَاءُ الْعَیْنِ

هغه اوبه دی چې دوِیلیدو وخته دواوری پیدا سی، اویادویلیدو څخه دژلیو پیدا سی اواوبه دچینی» سَوال: مصنف یجوز وویل آه چې معنیٰ په روا والی دی نوکه یوسړی دبل سړی په مخصوصو اوبوسره اودس بیله اجازی دمالک تازه کړی دا تطهیر خو ندی روا نوباید په دغه اوداسه لمونځ نه وی صحیح اوصحیح دی. **جَواب**: مراد دجواز څخه صحت دی نودغه اودس په مغصوبه اوبوسره صحیح دی اماروا اوجائز نه دی.

فائده: دصحیح عمل اودجائز څه فرق دی؛ **جواب**: صحت دعمل داری چې دشریعت دلاری سره برابر وی اوجواز دعمل دادی چې سبب دعذاب الهی ونه گرځی. نودغه اودس په مغصوبه اوبوسره صحیح دی ولی چې په شریعت کښی بنو ول سوی اوداسه پرطریقه دی اوجائز نه دی. ولی چې تصرف په ملک کی دبل چا بی اجازه ناروادی اوموجب دعذاب الهی دی:

فائده: مصنف تصریح په ماء البحر سره ددی سبب وکړه چې چا به توهم کاوه چې دډیاب په اوبو به طهارت نه وی روا. ولی په دی چې دهغو بدبوئی لکه بعض صحابه ؓ چې داغسی وائی» طحطاوی» په ص۱۹ د سید څخه داسی یوسؤال نقل کړی چې ټوله داوبو اقسام چې مصنف ذکر کړی ماء السماء دی» نووهغه ټول اقسامو ته داوبو څخه ضرورت سته» قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰی: اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَسَلَكَهٗ یَنَابِیْعَ فِی الْاَرْضِ» ترجمه: ته نه گورې چې په تحقیق سره خدای ج نازل کړیدی» داسمان څخه اوبه بیا دغه اوبه رسولی دی چینی په محله کی» عینیٰ ددی سوال جواب داسی راکړی دی. چې دا تقسیم داوبو بناء پرعرف دخلګو دی.

قَوْلُهٗ وَمَاءُ ذَابٍ آه. مراقی الفلاح او طحطاوی وائی چې تخصیص په دواوری اوژلیو وکړی له دی کبله چې یوقسمه قدرتی مالګه سته چې په ټرمی کښی واړی اوپه دوبی کی منجمده کیږی.

نو په دغه ویلی سوی مانګه اوس غسل نه دی روا البته د مرداری جامی یا بدن په پرېولو به اوبه
قولهٗ وَمَاءُ الْعَيْنِ آه مصنف په شرحه کی دی کتاب نور الایضاح چی مراقی الفلاح
یه نومږدی وائی: چی ماء العین چی طهارت په روادی هغه اوبه دی چی پر محکه بهیږی
اوکه نه بهیدلی نو حکمیه د حوض دی چی لس په لس گز کښی به وی - ورنه اوبس
نه دی په روا مګر په لوښی یه واخلی اوس په تازه کړی: هذا حاصل کلامه.
قال المصنفؒ

ثُمَّ الْمِيَاهُ عَلَى خَمْسَةِ أَقْسَامٍ

پس لږدی اوبه پر پنځه قسمه دی. یعنی هر قسم یه خپل وصف خاص لری لکه چی بیان
بی راسی **پوه سه**: چی لفظ ثم صرف د پاره د ترتیب فی الذکر دی، اود اقسام
د اوبو په اعتبار د اوصافو د اوبو دی - په اعتبار د ذات د اوبو نه دئ - م - ط.

طَاهِرٌ مُطَهِّرٌ غَيْرُ مَكْرُوهٍ

یعنی په ذات کی پاکی، یعنی بل شی پاکوونکی، که حدث حکمی وی اوکه نجاست ظاهری وی، یعنی استعمال یه مکروه نه وی.

وَهُوَ الْمَاءُ الْمُطْلَقُ

یعنی چی داسی یوشی نه وی ورسره ګډ سوی چی په هغه مقید وګرځی "م"

فائده: اوس تازه کول اوغسل کول په اوبو د زمزم روادی زمونږ په نیز بیله کراهته بلکه ثواب لاډیر لری، لکن مصنفؒ د لباب المناسک وائی چی اوس تازه کول یا غسل کول په اوبو د زمزم هله مکروه نه دی چی سړی اوس لری صرف د پاره د تبرک په لمبیږی یا اوس تازه کوی، اونه بنائی چی بی اوده سړی په هغو اوبو اوس تازه کړی یا جنب سړی دی په هغو اوبو غسل وکړی اونه دی هم استنجاء په وهی، اونه دی مردار کا بی په مینځی، اونه دی په نجس ځای کی استعمالوی. ط.

اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِمُؤَلِّفِهٖ وَ لِكَاتِبِهٖ وَ لِلْمُؤْمِنِيْنَ ط

نکن

وَطَاهِرٌ مُطَهِّرٌ مَكْرُوهٌ

یعنی په ذات کی پاکی دی د بل شی پاکوونکی وی اوکه خبث یعنی نجاست وی، یعنی استعمال یه مکروه وی لکن مکروه تنزیهی وی چی دامذهب د امام کرخی دئ. ولی چی پیشی وغیره د نجس شیانو د خوړلو څخه ډډه کول چی د امام ابو حنیفه اوبه د امام ابو جعفر الطحاوی یه مکروه تحریمی بولی - علت یه نجاست دغوښو د هغو دئ.

وَهُوَ مَا شَرِبَ مِنْهُ الْهِرَّةُ وَنَحْوُهَا

اود اهغه اوبه دی چی پیشی چینګک څندی کړی، یا مثل د پیشی لکه چرګه چی ایله وی، یا ماریا موښ لکه یا باز یا خرڅلنګ وغیره من سباع الطیر.

فَوَائِدُ شَتّٰى

مراد د پیشی څخه کورنی پیشو ده چی اهلی یه بولی، ولی چی د وحشی پیشی پس خورده نجسه ده، لعدم الاختلاط مع الناس فلا عذر، اود اکراهت هم مذهب د امام اعظم ابو حنیفه اود امام ابو یوسفؒ په مذهب کی هیڅ مکروه نه بولی، او صحیح مذهب د امام کرخیؒ دئ. چی مکروه تنزیهی یه بولی، کما قال المصنفؒ فی المراقی، اود اکراهت د استعمال د دغو اوبو هم هغه دی چی ماء مطلق وغیره موجود دی وی، اوکه هغه اوبه نه وی نو بیا هیڅ کراهت نسته، قاله الطحطاویؒ فی شرح المراقی.

وَكَانَ قَلِيلًا

اووی هغه اوبه چی پیشی وغیره خورلی څندی کړی وی لږ وی، پوه سه: چی د لږ او ډیر اندازه یه په وروسته کی راسی، ان شاء الله تعالیٰ.

وَطَاهِرٌ غَيْرُ مُطَهِّرٍ وَهُوَ مَا اسْتُعْمِلَ لِرَفْعِ حَدَثٍ

اوبل قسم اوبه هغه دی چی پاکی وی یعنی بل شی نه پاکوی مګر پاکونکی دبل نه وی، اود اهغه اوبه

دی چی استعمال سوی وی دپاره د پورته کولو دپاره اودسیا»

اَولِقُربَةِ کَالوُضُوءِ عَلَی الوُضُوءِ بِنِیَّتِہٖ

او یا د پاره د ثواب نکه اودس تازه کول پس له اودس د لمو وَلوښخه په نیت د اوداسه پلوه سره: چی رفع د حدث» او قصد د استعمال» د پاره د ثواب پدې مابین کی د عموم وخصوص من وجه سره لری» ولی چی په داسی صورت کی چی د حدث اودس تازه کړی» او قصد د اوداسه یه هم وی» نو بی اودسیا یه هم پورته سول او ثواب هم د خدای پاک ورکوی» نو د واړو سره جمع سول» او په داسی صورت کی سره لری» او په قصد او اراده اودس تازه کړی» ثواب خوسته په سبب د نیت» او رفع د حدث نه په کیږی ولی چی حدث خو موجود نه وو» نو به پورته څرنګه سی»

او که سره د محدث وی» او د تبرد (یخ والی) په قصد اودس تازه کړی» حدث خو به پوره سو مګر ثواب به نه لسته لعدم النیة» او په دې درو سره صورتو کی او به مستعمل گرځی» او که چیری یو سړی چی اودس لری مګر په نیت د تبرد اودس تازه کړی» نو هغه او به مستعمل نه دی. ولی نه ازاله د حدث په کښی سته ځکه چی اودس خو به د لاړه اونه ثواب په کښی سته ولی قصد او نیت د اوداسه یه نه وو»

«فوائد شتی»

قوله قُربَةٍ» قربت هغه فعل ته وائی. چی د خدائ پاک ثواب پرورکوی بنده ته، او د ثواب مدار پر نیت دی، لقوله علیه الصلوة والسلام» اِنَّمَا الاَعمَالُ بِالنِّیَّاتِ» رواه البخاری فی اول چی د دی حدیث مبارک ترجمه په نیزد حنیفیانو» اِنما ثوابُ الاعمالِ بالنیات» ده

قولہٗ کَالوُضُوءِ» یوه سره چی اودس پر اودس، د اسی ثواب لری چی په اول او دوهم سره یو د اسی عبادت وکړی چی تطهیر وهغه ته مشروع وی» لکه لمونځ یا مسمحه د مصحف، او یا مجلس بدل کړی لکن نیت د قربت وکړی ...

او که مجلس بدل کړی او نیت د ثواب یه په نوی او داسه کښی نه وو» نو دا اسراف دی او اسراف حرام دی. او او به هم مستعمل نه گرځی. او که چیری مجلس یو وی او په اول اوداسه یه کم عبادت نه وی کړی. نو په دوهم او داسه کښی که څه هم نیت د قربت او ثواب وکړی مکروه دی» ولی چی دا اسراف دی او اسراف حرام دی»

نو مراد د کراهت څخه چی په بعض کتابو کښی د فقهی راځی کراهت تحریمی دی» ط»

سوال: په ضع کنج کی وائی ـ ورتوای خواجه برلب جوئی» نیست اسراف هرچه میشوئی» نو که یو سړی د ولی پر غاړه په نیت د وضوء علی الوضوء» دوهم اودس تازه کړی نو ولی اسراف دی»

جواب: چی سید سند» وئیلی دی» وَلو علی شط النهر» یعنی که څه د ولی پر غاړه وی هم اسراف دی» پر شط النهر» که څه هم اسراف او بو خو نسته لکن اسراف د عمر عزیز خو دی»

سوال: یو سړی چی اودس لری نو دهغه پر اندام وخونه نجاست حقیقی سته او نه نجاست حکمی سته نو په نیت د قربت ولی او به مستعملی گرځی.

جواب چونکه د غه سړی نیت د قربت وکړی لکه په اول اوداسه کښی نو وصف ته د او بو یه تغییر ورورساوه یعنی مستعملی وگرځیدی» ط

بنهانه فائده

یو بی اودسه سړی چی یو اندام پر یو لی فقط د دغه اندام او به مستعملی سوی ولی چی فرض په ساقط سو یعنی که دی نور اندامونه ورو سته ومینځی د دغه اندام پر یو له نه غواړی. لکن زوال د حدث د هغه اندام څخه نه دی سوی. ولی چی زوال د حدث د تو لو اندامو څخه په یو پاڼ کړی فقهاء وائی چی بی اودسیا او طهارت تجزیه نه قبلوی. رد، ط، ب، ع»

مصنف په مراقی الفلاح کی وائی چی دا هم قربت دی چی د پوډی خور لو مخکښی یا ورو سته لاسونه پری مینځی نو دغه او به هم مستعملی گرځی» په دلیل د دی حدیث» الوضوء قبل الطعام برکة» و بعده ینفی اللمم» اودس یعنی لاس پر یو له د مخه تر طعام برکت دی او پس له طعامه نفی کوونکی دی د لیونتوب دی» ط»

مسئله: کړیو سړی لاسونه دوډئ ته په دی سبب پریولې چی خیرن وه نه په نیت داداء د سنت مګر اودس یې در لودی، نوهغه اوبه مستعمله نه دی، دغه رنګه که سړی پاکه جامه دخیرن والی د سبب پریولې اوبه یې مستعمله نه دی، م،

پوه سه: چی په مستعمله اوبو کښی بعض فقهاءٓ دری روایت راوړی دی، یو روایت چی مستعمله اوبه نجسې دی نه طاهر دی او نه مطهری.

بل روایت دادی چی طاهری دی یعنی نجسې نه دی چی بل شئ دی په مردارسی لکن مطهر نه دی چی اودس په تازه سی، اوبل روایت دادی چی دا اوبه هم طاهری پاکی دی اوهم مطهر یعنی بل شئ هم په پاکیږی،

لکن فقهاء اومشائخ د عراق وائی، چی په اوبو مستعمله کښی هیڅ اختلاف د روایت په مذهب کی نسته. بلکه په نیز دامامانو د مذهب په اتفاق مستعمله اوطاهری دی پاکونکی نه دی، شیخ الاسلام علی البزدوئ په شرح کی د جامع صغیر وائی چې دغه د عراقیانو رأیه زمونږ هم خوښه ده، اوهم دغه رأیه په کتابونو کی د امام محمد ذکر کړه سویده، اودغه رأیه خوښه کړی محقق علماو و د ماوراء النهر،

په مجتبیٰ کی وائی چی صحیح روایت دتولو امامانو ځخه د مذهب هم دغه دی چی ماء مستعمله طاهری دی مطهر نه دی، لکن د حسن بن زیاد ځخه یو روایت سته او هغه روایت شاذ دی چا عمل نه دی په کړی، چی وائی ماء مستعمله طاهر او مطهر دی کذا فی مجمع الانهر،

فائده: مستعمله اوبه که ځهم په مذهب کی پاکی دی، لکن چښل یې مکروه دی او یا کیتو تی اچول مکروه دی، اویا اوړه پخیږه وړل مکروه دی، تنزیهاً ولی چی طبع انسانی نفرت ځندی کوی. ط، مصنفٓ وښلی دی.

وَيَصِيرُ الْمَاءُ مُسْتَعْمَلًا بِمُجَرَّدِ انْفِصَالِهِ عَنِ الْمَسْجَدِ

اوګرځی اوبه مستعمله په نفس جلاوالی سره د بدن ځخه یعنی که ځهم یوځای یه قرارنه

نه وی نیولی، مصنفٓ په مراقی الفلاح کی وائی چی دامذهب صحیح دی دادی سببه چی د ځخه ترجلا والی دبدن ځخ خو ضرورت دی او پس لجلا والی ځخ ضرورت نسته.

او طحطاوی وائی چی دامذهب د عامو اوډیرو فقهاوو دئ. اوپه هدایه کی هم دامذهب صحیح ګرځولی دئ. اوفقیه ابوجعفر طحاویٓ چی اعلم علماو و دی په مذهب د ابوحنیفهٓ کی، اوبعض مشائخ د بلخ وائی چی اوبه صلته مستعمله بللی کیږی چی یوځای قرار ونیسی،

سوال: د دی اختلاف ځخه فائده ده؟

جواب: فائده یه داده چی یوسړی چی اودس یه تازه کاوه یو اندام ئی پریولی اوبه چی د هغه اندام ځخ جلاسوی نو پراندام و بهیدلی بیله دی چی اودس کونکی دی پلاس پرې بهیولی وی. نو په دغو اوبو هغه بل اندام پاک سوا وکه نه؟ نو د مصنفٓ اوصاحب هدایه پر رایه هغه بل اندام نه پاکیږی. ولی اوبه چی د اول اندام ځخ صرف جلا سوی مستعملی ګرځیدی. اود مستعملو اوبو حکم د ځخه تیر سو چی شئ نه په پاکیږی اود طحاویٓ اود مشائخو د بلخ پر مذهب هغه بل اندام په پاک سو. ولی چی اوبو خو تر اوسه قرار نه دی نیولی نو مستعملی نه دی. قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَلَا يَجُوزُ بِمَاءِ شَجَرٍ وَ ثَمَرٍ وَلَوْ خَرَجَ بِنَفْسِهِ مِنْ

غَيْرِ عَصْرٍ فِي الْأَظْهَرِ

اونه دی روا اودس په اوبو د رخی او په اوبو د میوی که ځهم راووزی د هغه اوبه بیله نښتیځلو په ظاهر روایت کی. فائده: مصنفٓ په مراقی الفلاح کی د، لَا يَجُوزُ تفسیر په لا یصح سره کړی دی له دی سببه چی عدم جواز چی معنا یه حرمت دئ. عدم صحت لره چی معنا یه فساد دی مستلزم نه دئ، ځکه لمونځ په مغصوبه محکه کی روا نه دئ. یعنی حرام دی اومصلی په ګناه ګار دی، مګر صحیح دی بیا قضا نسته، وقد مرّ من قبل،

پوه سه: چی د دی ایت مبارک: وَالنَّجْمُ وَالشَّجَرُ يَسْجُدَانِ، په تفسیر کښی مفسران وائی چی نجم هغه نبات دی چی پر تنه نه پورته کیږی. لکه ختکی، هندوانه،

بادرنگ، مُرعَه، او نور میوه دَاره جُړ نګان یا وابنه،،

اوشَجَر هغه درخت ته وَائی یعنی چی تنَه لری لکه تُوت، انار، سیب وَغیره، لکن د مصنفؒ مراد دلته د شجر څخه نفس نبات مراد دی که تنه لری او کی نه لری، ولی چی د نفس نبات په اوبو سره اودس نه دی صحیح. اود ثَمر څخه نفس میوه دَه که دَخورلُ وی او که نه وی حتی تولو فوَاکهُو او تیولو ګلانو ته شامِل سی، قاله القهستانیؒ:

فَائِدَه: په دغو اوبو سره چی اودس نه دی روا لدی سَبَبه چی اوبه مطلق اوبه نه دی بلکه مقیدی اوبه دی کما لا یخفی، اما علامه زیلعیؒ شارح الکنز په دغو اوبو دس روا بولی ولی چی دا اوبه خالصی رونړی اوبه دی د بَل شی سَره یه امتزاج نه دی سَوی. صاحب د بحر الرائق وَائیؒ چی په دی اوبو کښی امتزاج کامِل موجود دیُ. اومصنفؒ هم په مَراقی الفلاح کی امتزاج کامِل وَائیُ.

قَولُهُ وَلَوخَرَجَ بِنَفسِهِ آه لکه تاکان چی تاك بیری کی او اوبه حُندی څخیږی.

پوه سَه: چی مصنفؒ رد کوی پر هَغه بعض فقهاوو چی وَائیُ که چیری اوبه خارج بنفسه سوی اودس په روا دیُ. وجه درد یه دَادَه چی په سَبَب دَخروج بنفسه خودا اوبه ماء مطلق نه گرځی بلکه مَاء الکرم یه بُولې مثلاً نوماء مقیدی دی،، اوصاحبُ هدایه اوزیلعیؒ اوصاحِب تنویر هم پَردغه رایه دی چی په خارج بنفسه سَره هم اودس نه دی صحیح،،

پوښتنه: تولِه فقهاءؒ اومصنفؒ هم پردی مذهب دی چی په تولو مائعاتو طاهرو اوسَره ازاله د نجاستِ حقیقی کیږی لکه په مَاء مطلق سَره، نوازاله د نجاست حکمی چی حَدث دی باید په دغو مائعاتو سَره وکړه سی، لکه په ماء مطلق سَره نو وجه د فرق څه ده،، **جَواب**: فرق یه دادی چی نجاستِ حقیقی اجزاء پیریُولو کهٔ مطلق اوبو اوکه په نورو مائعاتو سره دَ نجامی اویا د بَدَن څخه وزی نور خو جامه اوبدن پاك وُو، اوپه نجاست حکمی کی خو اجزاء محسوسه دَ نجاست حکمی په اعضاو وپوری قائم نه دی حتی چی په غُسل دمائعاتو نه زائل سی،

نوازاله د نجاست حکمی پر منصُوصو اوبو حَصره چی هغه ماء مطلقی دی،، اومقید اوبه نه قیاسیږی،، حاصل دا چی حَدث امر شرعی دی چی حکمِ د نجاست شارع ورکړی دی په ضع کی د لمانځه وَنحوه، اوشارع د هغه دازالی دپاره آله مخصوصه مقرر کړی ده چی مَاء مطلق دی،، لکه چی بیان یه مفصل تیر سو،، نو قیاس دماء مقید ونه دی پر رَوا،،

قَالَ المصنفؒ وَلَا بِمَاءٍ زَالَ طَبْعُهُ بِالطَّبْخِ

وَئیلی دی مصنفؒ

اونه اودس او طهارت رَوادی په هَغو اوبو چی، طبیعت دا وبو څخه د زائِل سَوی وی په سبب د پخید و دیوشی پکښی،،

پوه سَه: چی طبع دا وبو بهیدَل دی،، اورقت دی،، اود چښونکی په اوبیدَل دی، اود نبات په شنه کیدَل دی. **فَائِدَه**: مصنفؒ قید د طبع وَوایه د دی سبب چی یوسَړی که په اوبو کښی نخود، یا با غلی، وغیره صرف دَتَرهِ والی دُپاره خشته کړه اووی نه ایشَول اودس په رَوادی کیه څه هم رنګ ته دا وبُو تغیر رَسولی وی ترهغو چی رقت اوسیلان یه بَاقی وی،،

تَنبِیه: ما تفسیر د طَبع الماء په رقت او بهیدَلو او د نباتا تو په شنه کولو اوبه اوبیدَلو سَره وکړی په متابعَت د مصنفؒ چی په مَراقی الفلاح کی دَغسی تفسیر کړی دی ورنه په عامو کتابو کښی دَفقهی شرنبلی طبع د اوبو یوازی رقت دی،، اوسیلان یه گنډل سوی دی،، اود عامو کتابو خبره هم صحیح دَه،، ولی چی د تریخ او تُروه دریاب په اوبو کښی خوارُوالی او انبتات فسته. نو په هغو اوبو باید اودس رَوا نه سی،، اوسره د دی چی مصنفؒ "او بیدل" پَه ماء البحر سره اودس روا بَللی وو،،

تَنبِیه: اخِر مصنفؒ دا عبارت، بِمَاءٍ زَال طبعه بالطبخ،، مطلق وو ایه چی منفاد یه دادی چی سَره د طبخ که رقت اوسیلان باقی وو، بیا نو اودس په رَوادی لکن اصلاً مسئله داده، اکه چیری په طبخ سَره نظافت مقصُود وُو لکه لُوبیا، او نخود او باغلیؒ چی په اوبو کښی وایشول سی که څه هم داوبو رقت اوسیلان باقی وی اودس نه دی په

رَوا، بِکمال الامتزاج، البته که دَطبخ تخم مقصود نظافت وو لکه بَرُوخَه، سِدر، وغیره نوپه دغه صورت کی که اوبه خته سوی وی. اود طبع سیلان اورقت تخم وَتلی وی نواودس نه دی په رَوا اوکی رقت اوسیلان باقی وو اودس په روادی ذکره ط نا قلاً عن مُلّا

قَالَ المُصَنِّفُ

اَوْ بِغَلَبَةِ غَيْرِهِ عَلَيْهِ وَ الْغَلَبَةُ فِي مُخَالَطَةِ

اویاپه غلبه دَغیر دا وبوپَر اوبو باندی. اوغلبه په گډ وَالی کی دَوُ چوشیانو نوکه

الْجَامِدَاتِ بِاِخْرَاجِ الْمَاءِ عَنْ رِقَّتِهِ وَسَيَلَانِهِ

زعفران، خُرما، انگور، انار، وغیره په ایستلو دابودی دَرقت اوبَهیدو څخه. یعنی دومره دیر دَاوج شئ ورولویږی چی اوبه خته سی اَونه بهیږی.

وَلَا يَضُرُّ تَغَيُّرُ اَوْصَافِهِ كُلِّهَا بِجَامِدٍ كَزَعْفَرَانٍ وَفَاكِهَةٍ

اوضرر نه کوی متغیر وَالی دَټولو اوصافو دا وبوپه جَامِدشی سَره

وَوَرَقِ شَجَرٍ

لکه زعفران یا فاکهه یعنی میوه دَدرختی اوبلگونه دَدرختی.

پوه سه: چی اوصاف دا وبو درنی دی، رَنګ، خوند، بوی، دزعفرانو یا دنورومیوو په گډه وَلوسَره رنګ، خوند، بوی، توله بَدلیږی، اوو اُوره چی دجامدَاتو څخه مراد هغه جامدات دی چی پاک وِی.

نوځوخت چی اوبه خته سی اوسیلان نه کوی. نوکه سَړی جامه پَه مینځی دا وبه نه خُندی وزی اوکه بَدن په مینځی پرې نهیږی نه - اوداوَاړه په پاکولو کښی دجامی یا اندامو شرط بالاتفاق دی، **قوله كَزَعْفَرَانٍ** آه په قنیه کښی وَائی که زعفران دومره دیر اوبُوتی واچول چی دَجامی رنګی په کیدَل اودس نه دی په رَوا - اوکه لږ وَه صرف اوبه یه ژیږی کړی وی لکن رَنګ ریږی نه په کیدَله بیا اودس په رَوادی، ط منه.

قال المصنفؒ

وَالْغَلَبَةُ فِي الْمَائِعَاتِ بِظُهُورِ وَصْفٍ وَاحِدٍ

اوغلبه په مَائع شیانو کی یعنی چی بهید ونکی شئ وی. په بنکاره کیدو دیوه وصف دهغه مائع شی

مِنْ مَائِعٍ لَهُ وَصْفَانِ فَقَطْ

په دی سَرَه اُخی چی یو صفت دهغه مائع بنکاره سی کم مائع چی هغه دوه وصفه لری فقط، یعنی درهیم وصف نه لری، قَالَ المُصَنِّف.

كَاللَّبَنِ لَهُ اللَّوْنُ وَ الطَّعْمُ وَلَا رَائِحَةَ لَهُ

لکه شیدی چی دوه وصفه لری یعنی رَنګ غیر دا وبو د رنګه څخه اوخوند لری چی اوبه یه نه لری. حَاصِل دَا چی که دشیدُو دواړه وصفونه یوهم که پر اوبو بنکاره نه سو، اودس په رَوادی اوکی یو وصف بنکاره سو اودس نه دی په رَوا.

مسئله، که مخالط یو وصف دَربودی، لکه هند وانه، خټکی، شین کډوچی، هغو اوبه صرف په خوند کښی سَاده اوبو څخه مخالف په رنګ کښی یوشئ نوکی هغه مخالف وصف بنکاره سو اودس نه دی په رَوا، ط، رد، اوکه په عادی اوبو کښی خوند هم نه شو بنکاره نو اودس په روادی، قَالَ المُصَنِّفُ.

وَبِظُهُورِ وَصْفَيْنِ مِنْ مَائِعٍ لَهُ ثَلَاثَةٌ كَالْخَلِّ

اوغلبه دمائع په ظهور دد وو صفتو کښی کیږی. په هغه مائع کښی چی دری وصف لری لکه سرکه چی هم رنګ جدا دا وبو سه لری - اوهم خوند اوهم بوی، نوکه دسرکی دوه صفت پرا وبو بنکاره سوه اودس یه نه دی رَوا، اوکی فقط یو وَصف بنکاره سو بیا اودس په رَوادی.

اللهم اغفر للمؤلف، ولكاتبه، ولكتبه، ولمن الحق حقا فيه اغفر له

قال المصنفؒ

وَالغَلَبَةُ فِي المَائِعِ الَّذِي لَا وَصْفَ لَهُ كَالمَاءِ المُسْتَعْمَلِ

اوغلبه په هغه مائع کښی چی هیڅ وصف نه لری. لکه مُستعملی اوبه وَلی چی په استعمال سره نه دا اوبو خوند بدلیږی اونی رنګ اونی بوی. او اوبه مستعملی خُوپر صحیح روایت پاکی دی مګر اودس نه دی په رَوَاه

وَمَاءُ الوَرْدِ المُنْقَطِعُ الرَّائِحَةِ تَكُونُ بِالوَزْنِ

اویا اوبه د ګل ګلاب چی بوی یه قطع سوی وی یعنی په مرور د زمان، نو غلبه یه پر وزن معلومیږی ولی چی په وصف خو یه غلبه نه معلومیږی چی وصف خُونه لری. قال المصنفؒ

فَإِنِ اخْتَلَطَ رِطْلَانِ مِنَ المَاءِ المُسْتَعْمَلِ بِرِطْلٍ

پس که چیری ګډی سوی دوه رطله د مستعملو اوبو په یوه رطل د مطلق اوبو نو اودس یا نور

مِنَ المُطْلَقِ لَا يَجُوزُ بِهِ الوُضُوءُ وَبِعَكْسِهِ جَازَ

طهارت لکه غسل نه دی په روا، ولی چی ماء مستعملی پر ماء مطلق باندی ډیری دی، او د عکس په صورت کی یعنی چی دوه رطله مطلق اوبه وی او یو رطل مُستعملی اوبه وی طهارت په رَوَادی

پوه سه: چی مصنفؒ پخپله شرحه کښی داسی وَیلی دی.. او که دا دواړی اوبه یعنی مستعملی اوبه او مطلق اوبه سره برابری وی، د دی حکم خو په ظاهر الروایه کی نه دی راغلی مګر مشائخ وائی چی د دی حکم هم د مغلوبو اوبو دی یعنی اودس نه دی په رَوا، د احتیاط د وَجهی نه

مسئله: قَالَ فی الدر المختار، او که چیری ماء مُستعملی او ماء مطلق جامد یخی وی نو په اعتبار د شخانت لره دی یعنی پندوالی لره آه **قولهُ تكون بالوزن** آه امام طحطاویؒ وائی دا اعتبار د وزن هلته دی چی او به مُستعملی په اوبو مطلقو کښی توی کړی. او یا

یو سړی په مطلق اوبو کښی غوټه سی،

فائده: په دیرو کتابو کښی د فقهی شریفی وائی که جنب سړی لاس یا پښه په اوبو کی وهله او به مرداری سوی، لکن دا حکم بنا پر هغه مذهب دی چی مُستعملی اوبه مرداری بُولی. او دا روایت شاذه دی، او پر مختار مذهب چی مُستعملی اوبه پاکی بولی صرف مطهر نه بولی هغه اوبه نه دی مرداری، ط.

نادره مسئله په بحر رائق کی وائی په بحث کښی د مُستعملو اوبو چی په مطلق اوبو گډ سی، او اعتبار وزن لره دی، اذا عرفت هذا، چی تاد مخنی بیان نرده کړی، نو منع مکوه داود اسه یا غسل کولو څخه په هغه کشنی حوض یا تالاب کی چی په مَدرسو یا کورو کښی جوړ سوی وی، یعنی تر عشر فی عشر کم وی، ولی چی فرق نسته په مابین کښی د دی چی اوبه په خارج کښی استعمال سی. اوبیا په مطلق اوبو کښی توی سی. او دی چه سړی په اوبو کښی غوټه سی، یا اعضاء غوټه کی، ولی چی په صورت کی د غوټه کید و هغه اوبه مستعملی گرځی چی د دَنده د اعضاو و څخه جلا سی، او یا د ده بدن سره مُلاقی سی فقط، او شك نسته چی د غه قدر اوبه خو لږ دی نسبت و باقی اوبو ته. د حوض یا تالاب، او بحر زیاته کړی ده چی قول د هَغو لبعضی کتابو چی وَائی داسی نه ده رَوا، پر قول ضعیف بناء ده یعنی چی اوبه مُستعملی مرداری بولی، اِنتهی،

امام طحطاویؒ وائی چی حاصل د قول د بحر دادی، چی اودس یا غسل په د غو کچنی حوضو کښی روادی تر هغو چی غالب گمان دسړی نه وی چی ماء مُستعملی د ډیرۍ برابری د نورو اوبو گرځیدلی دی او یا یه غالب گمان دا نه وی چی په د غو کچنی حوضو کښی نجاست لویدلی دی ۲ منه

د رِطل د مقدار بیان

هدایه ۱۹۲ صفحه قدوری، وَالصَّاعُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍؒ ثَمَانِيَةُ أَرْطَالٍ بِالعِرَاقِيِّ، ترجمه: کاسه په نیز د امام اعظمؒ صاحب او امام محمد صاحب، اته رطله وه په عراقی رطل بنا یه میل عراقی رطل شل استاره دی، او استار شپږ درهمه اودوه دا فقه دی.

اودافق شپږمه حصه ددرهمودی» اویاد اسی چی استار څلور مثقاله دی نوشل استار
۸۰ مثقاله دی، نورطل عراقی ۸۰ مثقاله دی اوعراقی کاسه څلور مُده ده کذا ذکره
فخرالاسلام رح، دلیل دمذهب دطرفینو رح دادی چی په حدیث صحیح کښی چی بیهقی رح
روایت کړی دی، داسی راغلی دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم اودس تازه کاوه په
مُد سره چی دوه رطله یه اندازه وه اوغسل یه کاوه په صاع سره چی اته رطله یه اندازه
اودحضرت عمر رض صاع هم داعنه اندازه وه» قال المصنف رح

وَالرَّابِعُ مَاءٌ نَجِسٌ وَهُوَ الَّذِي حَلَّتْ فِيهِ

اوخلرم قسم داوبو نجس اوبه دی» اونجسی اوبه هغه اوبه دی چی داخل سی په هغه کښی مردار

النَّجَاسَةُ وَكَانَ رَاكِدًا قَلِيلًا

اوحال داوی چی هغه اوبه ولاړی وی اولږ وی

پوه سه: چی دخولې نجاست به په یقین سره اویا په غلبه ظن سره معلومه وی
اوپه نفس گمان یا احتمال اوبه مرداری نه دی «م» **فائده:** وقوع نجاست
مقیددی په دې چی لږ خوشوني یا پوچی به نه وی» ولی هغه معفوددی لکچی وروسته به راشی
فائده: مصنف رح وقوع د نجاست وویل ددی سببه چی که اوبه په سبب دپرا
دریدو په یوڼای کی بوی، رنګ، خوند، گرده یه بدل سوی وی چی رقت یه باقی وی باک
دی» ولی پرخپل خلقت اصلی پاته دی» اماکه خپله سوی اونه بهیدلی بیا اودس نه دی جایز
سوال: که داوبو بد بوی ټلی نودسړے داشک سو چی مرداری به وړلو یدلی وی نودغه
اوبه نجسی دی اوکه څنګه؟
جواب: دغه اوبه پاکی دی اوبد بوئ دی شاید په سبب دطول مکث یادوقوع د
طاهرشی وی اودا وبو اصل خوطهارت دی» ط» **فرعه:** که یوخوك دچا میلمه
سو اوهغه کور والا وویدی اوبه ورته راوړی نومیلمه حق نه لری چی دادوویدی تاد کمه

کړی ده یا داوبه خومرداری نه دی» قال المصنف رح

وَالْقَلِيلُ مَادُونَ عَشْرٍ فِي عَشْرٍ وَإِنْ لَمْ يَظْهَرْ أَثَرُهَا فِيهِ

اوبه اوبه هغه دی چی تولنل په لنل کښی کمی وی که څه هم اثر د نجاست نه په کښی معلومیږی
یعنی هغه محل چی اوبه په کښی ولاړی وی هغه ترلس پلس کی کم وی»
فائده: لس په لس کی ضرب کړی تنل کیږی» نوسطحه داوبوسل گزه کیږی»
تردغه چی کم وی هغه اوبه قلیل دی»
پوه سه: چی دمصنف رح په نیز ذراع العامه» معتبر دی، قاله فی المراقی» اوپه نیز د صاحبین
معتبر ذراع المساحه دی، ولی چی مکان دمسوحاتو دی» اوپه هدایه کښی والی چی فتوی پر
اعتبار د ذراع الکرباس دی» دپاره د فراخی پرخلکو ولی چی ذراع الکرباس کچنی دی»
فائده: ذراع المساحت اوه مُوټه دی دهری قبضی سره به بټه گوته جګه دره وی»
اوامادذراع الکرباس هغه فقط اوه مُوټه دی یعنی گوته درپیده نه عنوارې» کذا فی الکافی وملا مسکین رح
وصاحب الدر فتوی پر ذراع المساحت بُولی» وَاللهُ أَعْلَمُ بِالصَّوَابِ»
پوه سه: چی لنل په لنل کی هلته شرط دی چی حوض چارکُنجه وی اوکه گردی وی (۳۶) نو
شپږ دیرش گزه بی دوروی» **فائده:** عُمق یعنی ژوروالی د اوبو حوض به دومره
وی چی په غبرگه اخستوسره محکمی ته ورسیږی اوداهم صحیح روایت دی. اوبعض وائی
چی عُمق د اوبو به یوگز وی. اوبعض وائی چی یوه لویشت به وی» اوپه جوهره کښی
وائی چی فتوی پراول قول ده **فائده:** په باب کی د ډیرو والی دوه لاړی اوبو اختلافات
ډیر دی لکه چی درمختار، اوهدایه دمطالعی څخه بنکاریکیږی» حتی چی محی السنة وائی
چی اندازه د لنل په لنل کی معتمد علیه نه لری» لکن شرنبلالی په مَرَاقی الفلاح کی وائی...
وَالتَّقْدِيرُ بِعَشْرٍ فِي عَشْرٍ هُوَ الْمُفْتَى بِهِ» اوداقول دعاموسا ځخودی» خانیه»
اوداقول داکثرو دی اوپه دغه مورد عمل کوو» نوازل» وَعَلَيْهِ الْفَتْوَى کامتر فی شرح
الطحطاوی رح» لکن بحر الرائق په دی مقام کی لوی تحقیق کړی دی» اوپه اخیر کښی وئیلی دی

چی تقدیر دلښل په لښل کی هیڅ اصل نه لری، بلکه ظاهرالروایت د حضرت الامام غ
بلکه ددّ روسره وو څخه دادی چی تفویض دلږ والی دا اوبو او دیږ والی دا اوبو وړاندی
استعمال کوونکی پر لیښنوَل سی سنه دئی، نوکه دده ظن غالب دا وو چی دا اوبه دیږ
دی او نجاست تاثیر نه سی پکښی کولای نوهغه دیږ دی اودس او نور طهارت پرې روا
اوکړی لږ ښکلی نوُلږ دی طهارت نه دی په رَوا،

حاصل دا چی د مکلف خپل غالب الرای معتبره ده- اورانی د خلکو مختلفی دی نوکیدای
چی یو مقدار اوبه به یو مکلف دیږی بولی نودَ هغه اودس په رَوا دی- اوبل مکلف بی
لږ بولی نود هغه اودس نه دی په رَوا نوسُرې مامور دی په تحری ی سَره، اوتحری
کول په امور دینیه وو کی خروج د مذهب نه دی، اونه په دی کی تقلید د مجتهد لازم دی
کذا فی فتح القدیر، بلکه دده مثالونه دیږ دی لکه تحری کول په امر کښی د قبلی چی پردیږ
خلکو مشتبه سی، اوپرهر سُرې واجبه ده چی وجهت ته د تحری خپل به په لمانځه کی
مخامخ کیږی کرښه هم دښل سُرې دَجهت څخه د تحری مخالف وی،

اود غه رنګه تعداد درکعتود لمانځه چی دَسرې هیرسی نودی بهَ تحری کوی، اوپه تحری
عمل کول پرده واجب دی، کما فی کتب الفقهاء، دَرویش وَائی: چی بحر رائق اوفتح
القدیر چی ظاهرالمذهب دی بیان کړی دی، په هغه کښی خوشک نسته، اوفقیه ابوجعفر
الطحاوی چی په اتفاق د حنیفیانو اَعلمُ د خلکو اوعلماوُو په مذهب دابوحنیفهؒ کی دَی
د دی ظاهرالروایت څخه بی خبره نه وو، اود غه رنګه صاحب د فتاوی خانیه، اود نوانل
او مصنف د شرنبلالیؒ لکن مَعَ هذا دوی فتوی په تقدیر دلښل په لښل کښی صادره کړه،
د دی فتوی سَبَب دادئ، چی وړاندی ته د مُبتلی به پر لیښنوَل سبب د اختلاف د خلکو
اود تنازع اوبو پر ښل باندی بَد حکم کول وَګرځی، مثلاً په صحرا کښی یوکلی پروت وی او
وهغه ته نږدی یوه دښره د اوبو وی، بعض اهل دکلی دا اوبه دیږی بُولی، اودس
نور طهارت په کوی، او بعض کلی والی یه لږ بولی اودس په روا نه بُولی، نولا محاله دوی
ترمابین اختلاف اوتشاجر کلامی، بلکه قتل وقتال هم محتمل دئی،

نوځکه نام وَړو علماوُو فتوی په تقدیر دلښل په لښل کی صادره کړه، وَبِهِ یُأخذ الفقیر ایضاً وان کان لیس اهلاً للافتاء،

سِنګهانه فائِدَه

په اتفاق د فقهاوو اوبه په اصل کښی پاکی دی- اونه مردار یږی مګر هغه وخت چی دَسرې
یقین پر لویدو د نجاست یا غالب ګمان پر هغه نه وی راغلی، نو بناء پَر دغه اصل کلی عَلامه
شرنبلالیؒ په مَراقی الفلاح کښی وَائی-

مسئله: که یوچا دکور وَمَخ ته یوخُم اینبی وو او کوزی او لوُتی یه هم وو سره اینبی
وی د هغه خُم څخه اودَس تازه کول روادی ترهغوچی یقین یا غالب ظن یه په نجاست
به په نجاست د هغه خُم نه وی راغلئ، مسئله: اود غه رنګه اودَس روادی په
اوبود هغه حوض صَغیر، چی احتمال ددی وی چی نجاست به وړ لویدلی وی مګر یقین
په نه وی، اوپر سُرې باندی ددی اوبو پوښتنه هم نه ده واجبه،

مسئله: اود غه رهنګه اودس رَوادی په اوبود هغه ځا چی په خیرونو لوښو، اوپه
خیرونو لاسونو اوښځی اوکوچنیان، اوصحرایان، اومالداران اوبه ځندی رَاکاږی،
نومعلوم چی یقین په نجاست د ځانه نه وی رَاغلی، قَالَ المصنفؒ،

وَالخامِسُ مَاءٌ مَشکُوکٌ فِی طَهُورِیَتِهِ

اوپنځم قسم داوبو هغه اوبه دی چی شك یه په دی کی وی چی پاکی یعنی اودس یا غسل وغیره

پس روادی اوکه نه! مقصد دادی چی په طهارت کی شک نه وی،، یعنی بل شئ نه پیدا کیږی

وَهُوَ مَا شَرِبَ مِنْهُ حِمَارٌ أَوْ بَغْلٌ

اوداهغه اوبه دی چی چینګ خندی کړی وی خړه یا غاطره. پوه سه: چی د غاطره څخه هغه غاطره مراد دی چی مور یه خړه وی پلار یه آس وی نه هغه غاطره چی مور یه اسپه وی پلار یه خړوی،، ولی چی اعتبار مور لره دی،، نه پلار ته بعض احکاموکی لکه پس خورده، اوحِل د خورلو د غوښو اوحرمت د هغو، اوحریت اومری توب،، اوپه نسب کی اعتبار پلار لره دی. لکن اولاد د شریفې ښځې لکه سیده شرافت فی الجمله لری تر اولاد د نورو ښځو.

فائده: بعض عُلماء وائی چی په اولاد کښی د فاطمة الزهراء رض اعتبار نر لره اوښځې د وار ولره ستة،، یعنی یوه ښځه چی د اولاد څخه د فاطمه وی کی څرهم میړه د بله قوم څخه وی،، د غی ښځی اولاد هم سادات دی،، لکه چی پلار یه د اولاد څخه د فاطمه وی اومور یه د بل قوم څخه وی،، لکن صحیح اومفتی به لکه رد محتار کی چی وائی،، توله انتساب تابع د پلار دی،،

،، لویه غوښه خلاصه سوه ،،

په پښتنو کی بعض قومونه وائی مور سیدان یو،، لکه ورده گان،، جمالزی په نورزو کښی، کشانیان وغیره،، لکن نور پښتانه دوی ته سیدان نه وائی،، د اختلاف سبب یه دا دی چی د نامور وقوم و په نسب کی بعض ځایونه یوه انا دده وی سیده د اولاد څخه د فاطمة الزهراء رض موجوده وی. نو دوی نسب تابع د مور بولی په اولاد وکی د فاطمة رض لکه مذهب اولی چی وُو،، نو د هغی ښځی لاندی قوم تو له ځان ته سیدان وائی،، اونور پښتانه چی دوی سیدان نه وائی هغه وائی چی نسب تابع د پلار دی په هر قوم کښی،، کما هو المذهب الصحیح نو د غه قومونه د یوی انا په سبب چی سیده وه سیدان نه گرځی،، واللہ اعلم بالصواب

خبره تر خبری یا دیږی

پوه سه: چی اولاد ته د علی رض چی د فاطمة الزهراء رض د خوا څخه وی سیدان وائی، او هغه اولاد چی د علی رض وی پس له وفات ته د فاطمة الزهراء رض د بلی ښځی څخه هغوته علوی وائی

او اولاد ته د ابوبکر الصدیق رض قریشی وائی،، او اولاد ته د عمر رض د کډ خه دوی هم قریشی حضرات وائی، او اولاد ته د عثمان رض خواجگان وائی. د اد پښتنو اصطلاح ده او په اصطلاح اعتراض نشته:

فصل

اود افصل په احکامو کښی د پس خوردې دئ.

وَالْمَاءُ الْقَلِيلُ إِذَا شَرِبَ مِنْهُ حَيَوَانٌ

اوبه اوبه یعنی چی جاری نه وی، اولنډ په لنډ کی هم نه وی) چی چینګ وکی د هغو څخه یو حیوان،، پرځلور قسمه دی اود غو اوبو ته پس خورده وائی

عَلَى أَرْبَعَةِ أَقْسَامٍ وَيُسَمَّى سُؤْرًا

پوه سه: چی د سُؤْر د عین کلمه همزه دی اوجمع یه اسآر ی چی وَمَا بقی ته د اوبو اوخوړو وائی، او لفظ د سور په واو سره د بنار لوی دیوالته وائی اوجمع یه اسوار راځی.

فائده: ترهغو پوری اوبو ته سُؤْر نه وائی چی لږ نه وی. نو که د ډولی یا حوض څخه چی لنډ په لنډ کښی وی حیوان اوبه وچښی سُؤْر یه نه بولی. م. ط.

الْأَوَّلُ طَاهِرٌ مُطَهِّرٌ وَهُوَ مَا شَرِبَ مِنْهُ آدَمِيٌّ

اول قسم هغه اوبه دی چی پاک وی، یعنی شئ نه په مردار یږی، اوپاکوونکی هم وی یعنی بی اودسیا جنابت په لری کیږی اویا مردار کالی په پاکیږی، نو د اهغه اوبه دی چی انسان چینګ خندی وکړی. یعنی د انسانانو پس خورده،، لکن د احکم هلته دی چی څوک یه مُرداره نه وی، لکه چی شراب یه چښلی وی. اویا بل مردار شی خوړلی وی لکه د سر کوزی غوښی، او یا یه

ئی وهلی وی په ډکه خوله - نوکی سم دلاسه په دغه مرداره خوله اوبه وچښلی هغه اوبه مرداری دی - اوکی چیری دوه درې واړه په خوله کی ناپاکی سره وګرځولی اوتوی یې کړی یا تراوبو چښلود مخه یې هغه ناپاکی تیری کړی:

نود هغه پس خورده نجسه نده، په نیزد امام اعظمؒ او امام ابی یوسف لکن مکروه ده، ولې چې امام محمدؒ وائی چې په ناپاکه خوله نه پاکیږی. فائده: داحکم هلته دی چې برتیون دشراب خوړه وبرغت نه وی چې ژبه ده نه وړ رسیږی اوکی برتیون غټ وه بیا پس خورده مرداره ده.

فائده: په پس خورده کښی د لوی اوکچنی مسلمان اوکافر جنب اوحائض فرق نسته، په حدیث مبارک کی چې روایت یې امام بخاریؒ کړئ، «دبی بی عائشه رضی الله عنها څخه داسی نقل راغلی دی چې مابه دلوښی څخه اوبه وچښلی اوزه په حیض کی وم» هغه لوښی به می آنحضرت صلی الله علیه وسلم ته ورکړی نوده مبارکؒ پرهغه ځای دلوښی خوله مبارکه کښیښول چې مابه خوله پرایښی وه او اوبه بی وچښلی «م، ط»

خبرول

که چاپه پس خورده دبل چا لکه نامحرم بڅه یا بنا ښته هلک لذت اوخوند اخستی د اپس خورده مکروه ده» مګر میړه اومایښه یا بادار اومیڼه سره د لذت شهوانی پس خورده یې مکروه نده «ط» اودغه کسه کول دبنا ښته بی ږیری په حمام کښی مکروه ده» اودغرنګه سړخریل د بی ږیری دلاک کی مخلوق (د چاچی سړه وئی) څوند ورکاوه مکروه ده، ذکره الطحطاوی فی شرح المراقی.

«خبری به کووخوابه نه بده وو»

بعض ټکان پیران، دایه رواج وی چې هرسړی چی د دوی سره روغ برګ وی، دوی هغه پرتندی مخوی یې د دی ضمن کښی که بڅه یا بنا ښته هلک د دوی سره روغ برګاوه د هغو څخه هم په خپلو شهوت د زهرو د کو شوند انو سره مچه اخلی» اود پیر مچه خلک غنیمت بولی»

«اللهم اغفرلمولفه ولکاتبه ولجمیع المسلمین»

مکتبه القراءت والتجوید کوئټه

دعوامو عقیده

داسی پیران په جامعه کی داسلام خصوصاً په پښتنو او پارسی زبانو کښی پیدی چې بزیره یه پاکه خربیلی وی دسر و زر و گوتمیانی ئی په گوته وی، اود زرو سره ساعت یه هم تر لاس وی سګریټ یو لګوی بل وژنی» اود جماعت په لمانځ کښی هم چا نه وی لیدلی» بیا هم دوی یه بزرګ د خدای دوست بولی»

قال المصنف

اوفرس اومایؤکل لحمه

اویا آس اوبه وچښی - اویا هغه حیوان چې غوښی یه خوړل کیږی» لکه پسه بزه وغیره، مصنف په مراقی الفلاح کښی وائی ص۲۳ چې سور او پس خورده د آس پاکه ده، بالاتفاق پرصحیح روایت بیله کراهته آه: طحطاوی د دغه ځای په شرح کښی وائی چې د آس پس خورده چې پاکه ده په دی سبب چې غوښی یې هم خوړل کیږی» اود حضرت امام اعظمؒ صاحب په نیز چې غوښی د آس حرامی بولی» وائی چې ناپاکی د آس چه په پس خورده ګډیږی دغوښو څخه پیدا کیږی اود آس غوښی خو پاکی دی حرام وائی د خوړلو په سبب د کرامت دی چې آس آله د جهاد ده»

نو حرمت د غوښو د آس لکه حرمت د غوښو د انسان دی» نو ځکه شیدی د اسپی حلالی دی بالاجماع تبیین: بلکه ثابته سوی ده رجوع د حضرت الامامؒ وقول ته د صاحبینو دری وړځی تر مرګ د مخه وعلیه الفتوی» ط» او په مجمع الانهر کی وائی چې شیخ الاسلامؒ او نور علماء وائی چې خوړل د غوښو د آس مکروه تنزیهی دی» وهو الصحیح آه اومنیة المصلی وائی د بعض علماو و څخه نقل کړی چې غوښی د آس نجسی دی، نو سور یه هم نجس دی» او بعض فقهاء وائی چې سور د آس مشکوکه ده لکه د خره سور»

پوه شه: چې په مأکول اللحم کی پسه، بزه، سیرلی، غوا، غویی، اوښ، اوښه، اومأکول اللحم مرغان لکه، زرکه، الی، چوغکه، بلکه چرګان، وغیره ټوله داخل دی»

مکتبه القراءت والتجوید کوئټه

فائدہ: په بعض کتابو کی د فقهی شریفی وائی چی د ډغو حیوانا توسور هلته پاک دی چی د غه حیوانات غُل نه خوری. چی ودی حیوان ته جلالت وائی. اوکه جلالة وونو یه سور مکروه دی» لکن د دوی مراد ادئ چی فقط غُل خُوره وی اویاد غُلو خوراك تروَښو دپریا برابروی. اوکی په اکثر کی پاك وابنه خوړله اوگاهی بی غُلهم وخوړله د هغه حیوان سور مکروه نه دئ» کذا فی الجوهرة:

امامان د جَلالت ترجمه څرنگه کوی! دوی وائی د جلالت معنا کوخه گښته» اودوی نه پوهیږی چی جَلالت مشتق د جلّة څخه دی چی هغه په لغت کی پُوچُوته وائی اودلته کنایه د غُلو څخه د انسان ده» «قالَ المُصنفُ»

وَالثَّانِي نَجِسٌ لَا يَجُوزُ اِسْتِعْمَالُهُ یعنی دوهم قسم داوبو چی لږ وی.

مرداری اوبه دی چی نه دی رُوا استعمال یه که په اوداسه کی وی که په غسل کښی وی که په بریولو کی د جامو وی که دیوشی په پخیدو کی وی اوکه په چښلو کی وی» «

فائدہ: د مردارو اوبو چښل رَوادی په وخت کی د اضطرار او مجبوری لکه سړی د تندی څخه پرمرگ ببیږی لکه خورك چی د میتې په حالت کښی د مخمصی یعنی د ډیری لوږی چی پرمرگ ببیږی» اودا په اتفاق د ټولو فقهاوو» قالَ المُصنفُ»

وَهُوَ مَا شَرِبَ مِنْهُ الْكَلْبُ اَوِ الْخِنْزِيرُ اَوْ شَيْءٌ مِنْ سِبَاعِ الْبَهَائِمِ

او دا هغه اوبه دی چی چښنگ څندی کړی وی سپی، اویا سرکوز، اویا یو حیوان د درنده گانو څخه د چاریاپانو

كَالْفَهْدِ وَالذِّئْبِ لکه یَږ اولیوه پوه سه: چی سوردَ سپی اودسرکوزی

نجس غلیظ دی په اتفاق اودَ انور حیوانا تو سُور» خوك وائی نجس مغلظ دی» اوبعض علماء په نجس مخفف بُولی» د نجاست غلیظه اوخفیفه فرق به وروسته راسی» ان شاء الله تعالیٰ دسپی په پس خورده کی دارقطنی د رسول کریم صلی اللهُ عَلَیهِ وَسَلم څخه راسی روایت کړی

دی چی په لوښی کی اوبه وچښی» إِنَّهُ يُغْسَلُ ثَلَاثًا أَوْ خَمْسًا أَوْ سَبْعًا، چی هغه لوښی به مینځئ دری واره یا پنځه یا اوه واره» زمونږ په مذهب کی یووار پر یولو یه فرض دی دری واره یه سُنت دی اویا قی یه مندوب دی د جهت څخه د طبع د نفرت» قالَ العَینیُ فی شرح البخاری

فائدہ: سبع هغه حیوان ته وائی چی حمله کوونکی وی اوتاپاك اچوونکی وی اوتجاوز کاره وی په عادت کی» م» قالَ المُصنفُ»

وَالثَّالِثُ مَكْرُوهٌ اِسْتِعْمَالُهُ مَعَ وُجُودِ غَيْرِهِ

اودریم قسم اوبه هغه اوبه دی چی مکروه وی استعمال د هغو اوبو په هرشی کی چی وی یعنی مکروه تنزیهی سره د دی چی نوری اوبه وی یعنی هغه اوبه چی مکروه نه دی»

د دی قید فائده دا ده: چی کله وخت نوری اوبه نه وی په د غو اوبو د وُضو تازه کړی او تیمم نه دی رَوا» ولی چی دا اوبه په ذات کی پاکی دی صرف مکروه دی.

پوه سه: چی مصنف په مراقی الفلاح کی د اسی وائی چی استعمال د غو اوبو په طهارت کی مکروه دی فقط» لکن صحیح داده چی د غو اوبو استعمال په چښلو اوپه پخه ولو کښی د شی هم مکروه دی» قالهُ الطحطاوی ر ص ۲۳ » قَالَ المُصنفُ»

وَهُوَ سُؤْرُ الْهِرَّةِ د غه قسم پس خورده د پشی» پوه سه: چی لفظ د هِرَّةٌ

نر اوښځی د واړو ته وائی اوداسی لفظ په عربی اسم جنس بولی» د پاکوالی د سور پشی هغه حدیث شریف دی چی ترمذی په روایت کړی دی. اوق ئیلی دی چی دا حدیث حَسَنٌ صَحِيحٌ» د پشی په باره کښی علیه السلام داسی وفرمائیلی» إِنَّهَا لَيْسَتْ بِنَجَسَةٍ إِنَّهَا مِنَ الطَّوَّافِينَ عَلَيْكُمْ وَالطَّوَّافَاتِ» یعنی سورد پشی نه دی مُردار» په دی سبب چی پشی طواف کونکی اوگرځیدونکی ده پر تاسی» یعنی په خونو ځایو کښی گرځی»

اوخلگ هَان نه سی څندی ساتلای» مطلب دا چی د ضرورت له کبله د دی سُور پاك دی

اللهم اغفر لمؤلفه ولكاتبه

فائدہ: په بعض کتابو کی د فقهی شریفی وائی چی د د غو حیوانا توسور هلته پاک دی چی د غه حیوانات غُل نه خوری. چی ودی حیوان ته جلالت وائی، اوکه جلالة وونو په سور مکروه دی، لکن د دوی مراد ادئ چی فقط غُل خُوره وی اویا د غُلو خوراک تروَښو دیر یا برابر وی. اوکی په اکثر کی پاک وانښه خوړله اوگاهی بی غُلهم وخوړله د هغه حیوان سور مکروه نه دئ، کذا فی الجوهرة:

امامان د جَلالت ترجمه څرنگه کوی! دوی وائی د جلالت معنا کوخه گښته، اود وی نه پوهیږی چی جَلالت مشتق د جلّة څخه دی چی هغه په لغت کی پُوچُوته وائی اود لته کنایه د غُلو څخه د انسان ده، «قال المُصنفؒ»

وَالثَّانِي نَجِسٌ لَا يَجُوزُ اِسْتِعْمَالُهُ

یعنی دوهم قسم داوبو چی نجس وی.

مرداری اوبه دی چی نه دی رَوا استعمال یه که په اوداسه کی وی که په غسل کښی وی که په بریولو کی د جاموو وی که دیوشی په څیدو کی وی اوکه په چښلو کی وی په «قال المُصنفؒ»

فائدہ: د مردارو اوبو چښل رَوادی په وخت کی د اضطرار او مجبوری لکه سَړی د تندی څخه پر مرگ ببیریږی لکه خورك چی د میتې په حالت کښی د مخمصی یعنی د وږی لَوږی چی پر مرگ ببیریږی، اود اپه اتفاق د ټولو فقهاوو، «قال المُصنفؒ»

وَهُوَ مَا شَرِبَ مِنْهُ الْكَلْبُ أَوِ الْخِنْزِيرُ أَوْ شَيْءٌ مِنْ سِبَاعِ الْبَهَائِمِ

اوداهغه اوبه دی چی چښنگ څندی کړی وی سپی، اویا سرکوز، اویا یو حیوان د درنده گانو څخه د چاریاپایو

كَالْفَهْدِ وَالذِّئْبِ

لکه یَږ اولیوه

پوه سه: چی سور د سپی اود سرکوزی نجس غلیظ دی په اتفاق اود انور حیوانا توسور، څوك وائی نجس مغلظ دی، اوبعض علماء په نجس مخفف بُولی، د نجاست غلیظه اوخفیفه فرق به وروسته راسی، ان شاء الله تعالیٰ

د سپی په پس خورده کی دار قطنی د رسول کریم صلی الله علیه وسلم څخه داسی روایت کړی

دی چی په لوښی کی اوبه وچښی، «إِنَّهُ يُغْسَلُ ثَلَاثًا أَوْ خَمْسًا أَوْ سَبْعًا» چی هغه لوښی به مینځ دری وَاره یا پنځه یا اوه واره، زمونږ په مذهب کی یو واره پریولو یه فرض دی دری واره یه سُنت دی اوباقی یه مندوب دی د جهت څخه د طبع د نفرت، قال العینی فی شرح البخاری

فائدہ: سبع هغه حیوان ته وائی چی حمله کوونکی وی اوتاړاك اچوونکی وی اوتجاوز کاره وی په عادت کی «م»، «قال المُصنفؒ»

وَالثَّالِثُ مَكْرُوهٌ اِسْتِعْمَالُهُ مَعَ وُجُودِ غَيْرِهِ

اودریم قسم اوبه هغه اوبه دی چی مکروه وی استعمال د هغو اوبو په هرشی کی چی وی یعنی مکروه تنزیهی سره د دی چی نوری اوبه وی یعنی هغه اوبه چی مکروه نه دی

د دی قید فائده داده: چی کم وخت نوری اوبه نه وی په د غو اوبو دی اودس تازه کړی او تیمم نه دی رَوا، ولی چی دا اوبه په ذات کی پاکی دی صرف مکروه دی.

پوه سه: چی مصنفؒ په مراقی الفلاح کی داسی وائی چی استعمال د د غو اوبو په طهارت کی مکروه دی فقط، لکن صحیح داده چی د د غو اوبو استعمال په چښلو اوپه پخه ولو کښی دشی هم مکروه دی، «قالهُ الطحطاوی، ص ۲۴ » «قال المُصنفؒ»

وَهُوَ سُؤْرُ الْهِرَّةِ

د غه قسم پس خورده د پشی،

پوه سه: چی لفظ د هِرَّة نر اوښځی د واړو ته وائی اوداسی لفظ په عربی اسم جنس بولی، د پاکوالی د سور د پشی هغه حدیث شریف دی چی ترمذی یه روایت کړی دی، اوقیلی دی چی دا حدیث حَسَنٌ صَحِيحٌ، د پشی په باره کښی علیه السلام داسی وفرمایلی، «إِنَّهَا لَيْسَتْ بِنَجَسَةٍ إِنَّهَا مِنَ الطَّوَّافِينَ عَلَيْكُمْ وَالطَّوَّافَاتِ» یعنی سور د پشی نه دی مُردار، په دی سبب چی پشی طواف کونکی اوگرځیدونکی ده پر تاسی، یعنی په خونو ځایو کښی گرځی،

او خلگ ځان نه سی ځندی ساتلای، مطلب دا چی د ضرورت له کبله د دی سور پاك د

اللهم اغفر للمؤلف وللكاتب

دپشی په باره کښی بعض معلومات

۱ طوافین جمع مذکر ده نرو پشانوته وائی، او طوافات جمع مؤنث ده بنځو پشانوته وائی **سوال**: اهل صرف اونحو وائی چی جمع په واو اونون او یاء ونون، په ذوی العقول پوری خاصه ده پشی خو ذوی العقول نه ده، نوځرنگه په حدیث شریف کی په یاء ونون جمع سوی ده،

جواب: چونکه د پشی بتوله گڈاره ذوی العقول یعنی انسانانو سره دی، نوځکه یی جمع ذوی العقولو جمع کړه، ۲ پشی دوه قسمه ده یوه اهلی پشی بولی اوبله بری یعنی صحرائی پشی، سور (پس خورده) چی پاکه ده د اهلی پشی پاکه ده، او په حدیث شریف کی هم دغه مراد دی، ولی چی علت او ضرورت د طواف په اهلی پشی کی سته، د بری پشو حکم د چغال دی، ۳ د اچی سور د پشی مکروه والی مذهب د امام اعظم او امام محمد دی، او امام ابو یوسف سور د پشی پاک بولی اودس په روا بولی او چښنگ یه جائز گڼی بیله کراهت لکن صحیح مذهب د طرفینو دی، کذا فی الدر و المختار،

۴ **مسئله**: سور د پشی مکروه دی تنزیهاً ولی چی د نجاست خخه ځان نه ساتی مور ځان خوری، مرداری غوښی خوری او نور لکه کشنی هلك چونکه د نجاست خخه ځان نه ساتی نو کی لاس په لوښی چخ کړی، دهغو او بو استعمال مکروه تنزیهی دی، ه م،

مسئله: که یو پشی د چا لاس وخښی او دی سړی ته حال نه وو معلوم د پشی د خولی نود دغه لاسه سره چی پری ئی نه مینځی لمونځ کوی، یا په دغه لاس دوډی خوړل مکروه تنزیهی دی، م ط،

مسئله: د پشی د خولې پس خورده وغنی سړی ته خوړل مکروه ده، او مسکین ته مکروه نه ده، ۴

والدجاجة المخلاة

او مکروه تنزیهی ده پس خورده د چرگ یا چرگی چی ایله گرځی یعنی په مردار یو کښی او انبارو کښی وجه د کراهت یه دا ده چی د دی څشو کی حال نه دی معلوم، نو په سبب د شک یی سود مکروه دی، او که مشوکه یقیناً پاکه وی،

مکتبه القراءت والتجوید کوئٹه

چی پر پاك ځای تړلی وه او مشوکه یه وخپلو غلوته هم نه رسیده، نو یه دی صورت کی یه سور پاك دی، او که چیری سړپه ولیده چی چرگی نجاست وخوړی او بیا د لوښی نخه اوبه وچښلی هغه اوبه مرداری دی، ط،

وسباع الطير كالصقر والشاهين والحدأة

او دغه رنگه مکروه دی سور د حمله کوونکی مرغانو لکه څرخك او شیئون، او تپس،

سوال: د دغو مرغانو غوښی خو مرداری دی نو باید چی سور یه هم مردار وای لکه سو د سباع البهائم، **جواب**: هو قیاس خو د دغه تقاضا کوی لکن زهونږ علماؤ د جهته د استحسان فرق د دی د واړو د رندو گانو د سور ترمابین کړی دی، وجه یه دا ده چی سباع الطیر خو یه مشوکه خوړك کوی، او مشوکه ادو کی دی پاك دی، او سباع البهائم خو اوبه په ژبه چښی او هوری نارې په گډیږی او نارې یه د غو شیو په سبب مرداری دی،

پوښتنه: باید سور د سباع الطیر مکروه هم نه وای ولی چی تاسی وویله چی مشوکه پاك ادو کی دی، **جواب**: کراهت یه دی سبب خخه دی چی دغه مرغان د مړارو شیانو د خوړلو سره عادت لری، نو د دی احتمال سته چی په مشوکه دی مرداری خوړلی وی، نو په دی سبب یه سور مکروه دی حتی که یو سړی د دغو مرغانو مشکی وربری منځی او بیا هغه اوبو چښلو ته پریږدی سور یه بلا کراهت پاك دی، حاصل، ه،

وسواكن البيوت كالفارة لا العقرب

او دغه مکروه دی سور د اوسیدو نکو د خونو او سرایو لکه مور ك (یعنی چی بهیدونکی وینه لری) او د دی قسمه څخه ما هم دی او شرمښنکی هم ده، نجاست د سور یه په علت د گرځیدو او اگرځیدو په خونو کی ساقط سو، او کراهت یه په سبب د نجاست د غوښو باقی دی، او لږ مړ د غسی نه دی چی د هغه سور پاك دی، او د غه رنگه سور د صرصر چی پتنران دی، یا د قسم خز د کی چی په کوتو کی د بنار، دیر وی چی د وی ورته، لال بیگ وائی،

مکتبه القراءت والتجوید کوئٹه

وَالرَّابِعُ مَشكُوكٌ فِي طَهُورِيَّتِهِ وَهُوَ سُؤرُ البَغلِ وَالحِمَارِ

اوخلرم قسم دلږ و اوبو» پوه سه چې د دی عبارت معنی چې مصنف په مراقی کې دې دواړو مشکوک یعنی توقف کړی دی فقها وو فِي طَهُورِيَّتِهِ» یعنی په حکم کولو سره په طهوریت دهغو اوبو» په معنی د دې چې یقیناً مطهر نه دی چې بی اودسیادی په لیری کیږی، اونه حکم په نفی د طهوریت کړه کیږی» اومراد د بغل غا طرخنه هغه دی چې مور یه خره وی، اوحمار اسم جنس دی ترخره اوښځی خرې دواړو ته وائی،

اوددی مسئلی علت دادی» چې ناپې د خره اوغاظر پاکی دی پر صحیح مذهب او شك په طهوریت کښی د دی سببه دی چې په مباح والی کښی د غوښو یا حرام والی کی د غوښو احادیث نبویه متعارض دی» هغه داسی چې ابن حجر روایت کوی» چې زهږ کورته لوږه ورسیده» اومانه در لودی داسی حیوان چې یه حلال کړم دکورد پاره» مګر چاغ خره» نو دا موضوع ما و آنحضرت صلی الله علیه وسلم ته عرض کړه» هغه راته وویله» أطعِم أهلَكَ مِن سَمِينِ حُمُرِكَ» وخوره په خپل اهل د چاغو خرو غوښې»

اوپه بل حدیث کښی چې روایت یه امام بخاری کړی دی داسی راغلی دی» انس والی چې په غزا کښی د خیبر یو سړی راغلی ورسول الله صلی الله علیه وسلم ته ووویله» أكلتِ الحُمُرُ» خره وخوړل سوله» یعنی خلګو خره حلال کړه» فسكت» آنحضرت پته خوله سو یعنی جواب یه نه ورکړی» بیا دوهمه پلا» هغه سړی راغلی اووی ویله» أكلتِ الحُمُرُ» فسكت ثم أتاه الثالثة» اوبیا دریمه پلا راغلی اووی ویله» أفنيتِ الحُمُرُ» خلاص سوالخره نو علیه السلام امر کړی یو نعره کووونکی چې نعره وکړه په خلګو کښی چې خدای اورسول د خدای تاسی منع کوی د خوړلو د غوښو د اهلی خرو» ط. ۲۱»

پوه سه: چې د غه تحریم چې د بخاری د حدیث څخه وفهمیدی څوك والی چې دا تحریم یعنی د خوړلو د غوښو د خره لذاته دی» دامذهب د جمهورو دی» څوك والی په سبب د دی چې خره جلاله دی یعنی غلخوری» او بعض والی تحریم په دی سبب وو چې خره په هغه

وخت کی د خلګو په غزوا تو کی بار وړونکی وه»

او بعض والی چې نهی د دی سببه وی چې دا خره د غنیمت وه او غنیمت هنوز نه وو ویشل سوی» په هرصورت شیخ الاسلام علی بزدوی والی چې دا تعارض د فوق الذکر دوو حدیثو څخه سبب د شك په حکم کی د سور د خره نسی گرځیدای» ولی چې قانون دا اصولو دی چې په داسی ځای کښی چې تاریخ د حدیثو نه وی معلوم عمل په محرم سره لازم دی.

حَلُّ هَذَا المَقَامِ:

ابن امیرالحاج والی چې د خره د سور د پاره د غه نوم یعنی مشکوك د سلفو څخه هیڅ نه دی راغلی» بلکه متأخرین د فقها وو څخه بعض یه مشکوك بولی او بعض یه مشکل بولی» نوابوطاهرالدباس د دی تسمیه څخه دا فهم وکړی ده چې د خره د سور حکم مجهول اوښا معلوم دی» نوبیه ځکه د دی نامه څخه انکار کړی دی» لکن د د غه نامه معنا داده چې په د غه سور کښی فقها وو توقف کړی دی چې بی اودسیا په نه اپلیږی اوکه نه» دوی والی چې همدی داغه اوبه مستعملی کړی یعنی اودس دی په تازه کړی اوهم دی تیمم ووهی تاچې طهارت بالیقین حاصل سی» نو داخو معلوم حکم دی» او دا توقف د غایة الورع نتیجه ده»

مسئله: په نیز د امام ابو یوسف نجاستِ حقیقی په سور د خره پاکیږی» ولی د غه اوبه خو د نجاستِ غلیظ کوی جامه خونوره پاکوه» ځکه په سرکه چې نجاستِ حقیقی پاکیږی»

یوه په زړه پوری خبره: شیخ الاسلام خواهرزاده والی: چې سبب د اشکال په سور کی د هم دادی چې علماء کرام او فقهاء عظام په دی کښی متردد دی چې په خر و کی خو هم ضرورت سته ولی چې په کور و کښی د خلګو سره ګډون لری او خره په لوښو کی د استعمال د خلګو اوبه چښی او خلګو په سپر تیا و دوی ته ضرورت سته» نو بناءً علی هذا نجاست د سور یه ساقط بولی» او لکه پشی د اسی حکم یه والی کمائر» نو د دی سببه نارې د خرو پاکی دی» لکن فقهاء ووچې متایسه د خرو او د پشو سره وکړه داورته معلومه سوه چې ضرورت په پشو کی ډیر دی تر خرو. ولی پشی په تنګو ځایو اوبه خونو اوځایو د خلګو تنوزی»

پرخلاف دَخروچی داسی نه دی. نوکه چیری ضرورت وخروته اصلاً نه وای نوبه سُور
ددوی لکه سورد سُپو نجس وای بی کمه اشکاله. اوکی ضرورت پَه مقدارد ضرورت د
پشی وَای نونجاستِ دسور بی بالکل سَاقط سوی وای لکه دَ پشی دَسُور» نوضرورت چونکه
پَه خروکښی من وجه سُته اومن وجهٍ نسته» لهٰذا علماوو ته شک پَه طهوریت
دسور پیدا سُو» اوپه پاکوالی دسور یعنی طهارت سری فتوی ورکړه» دَاتوله دجهت تحر
داحتیاط فی الدین نوبناءً عَلیٰ هٰذا فتوی پَه وَرکړه پَه اوداسَه تازه کولو پَه دغواُوبو
چی خَړه چښنگ خُندی کړی وی اوتیمم هم ورجوت کړی» عملاً بالدلیلین اقول وَبِاللّٰهِ
دره ما ادق نظره»

• قَالَ الْمُصَنِّفُ»

فَإِنْ لَمْ يَجِدْ غَيْرَهُ تَوَضَّأَ بِهِ وَتَيَمَّمَ

که چیری پیدا نه کړی بی اوبه سړی ماسوا دسوره دَخره اوغاړ
حاصل داچی ماء مطلق نه وی» نواودس دی تازه کړی پَه دی اوبو اوتیمم دی وکړی» مصنف
عطف پَه واو وکړی چی دپاره دمطلق جمع دی اشاره ودی ته پَه وَکړه چی دَسړی خوښه نه ده که اودس
دمخه کوی اوکه تیمم» لکن مع هذا افضل تقدیم داوداسَه دی وَلی دسور ظاهر صَوت داوبو دی
ثُمَّ صَلّٰى: اووروسته دی لمونځ وَکړی تاچی لمونځ پَه یقیناً صحیح سی» وَلی چی
اودس پَه دغه سور که رواوی وروسته تیمم تاوان نه وریته کوی. اوکه نوی صحیح
تیمم خوپه وکړی» م ص۲۶

لزرولیش وَائی: چی پَه شرح کی دجامع صغیر چی دامام محبوبی تصنیف د نصیر بن یحییٰ مخه
داسی بیان نقل کړی دی چی یوسړی چی بیله سُوره دحمار نُوری پاکی اوبه نه لری» دا اوبه
دی چپه کړی چی عَادِمُ الْمَاءِ وگرځی. بیادی تیمم وَوهی. نودا قول چی ابوالقاسم الصفار
تروړاندی کړه سوهغه وویله چی دَاقول دامام ابوحنیفهٔ دی» وَاللّٰهُ اعلم کذا فی النهایه شرح هدایه

مسئله: دغه سړی لمونځ پس له اوداسَه پَه سورا الحمار اوتیمم سره افضل دَی.
اوکی داسی وکړه چی یووار پَه اودس تازه کړی پَه سورا الحمار سره اولمونځ پَه وَکړی
بیا تیمم وکړی اولمونځ پَه اداکړی دلما نحنُ غَارِی خویَه خلاصی سَوی مگر داسی

کار مکروه دی» ط» ص۲۲

پوښتنه: دغه سَړی چی فوق الذکر کاروکړی نوکه سُور الحمار نجس وی نوخولمونځ
پَه بی اودسه وکړی نوبایدچی کافِر شی لکه چی بعض فقهاء وائی چی سُجده بی اوداسه کفر دی
جَوَابُ: کفر نه لازمیږی. ولی چی دغه سړی خو یقیناً بی اودسه لمونځ نه
دی کړی.

ولی چی پَه سُور الحمار کښی اختلاف دی. اودکفر مسئله چی بعض فتاواوو ذکر کړی دَه
هغه هلته دَه چی یقیناً بی اودسه وی» مثلاً یوسړی حنیفی مذهبه وو اورګ
دلاس یَه خلاص کړی اوبیا بیله اودس تازه کولو لمونځ وکړی کی څه هم لمونځ خونه
دی صحیح ولی چی پَه مذهب کښی دحنیفیا نوپَه رګ وَهلو اودس ماتیږی.
لکن بیاهم کافِر نه دی. ولی چی امام شافعیؒ اوامام مالکؒ پَه رګ وَهلو اودس مات نه بولی.

فَصْلٌ فِي التَّحَرِّي

پوښتنه: چی دَتحری معنا دلته فکری کوشش کول دی تاچی پاکی اونجسی اوبه وَرته
معلومرسی. امام نوویؒ پَه شرح کښی دمسلم داسی وَائی چی تحری وتأخی وتوخی یه یوْمعنیٰ

لَوِ اخْتَلَطَ أَوَانٍ أَكْثَرُهَا طَاهِرٌ تَحَرَّى لِلتَّوَضُّوءِ وَالشُّرْبِ

که چیری گډسوه لونبی» اوان جمع دانا وه) چی دوير و اوبه پاکی وی اودلږو دا نجسی وی» اواوس وَسړی
نه پاک لونبی اومردار لونبی نه معلومیدَه» نوپه غور اوفکر دی وکړی پَه دَغو لونبو کی چی اودس
پَه تازه کړی یا غسل پَه وکړی اویایه وَچښی» نوپس له تحری څخه دهر لونبی اوبه چی پَه
خیال پاکی وَرغلی پَه هغو اوبو دی اودس تازه کړی یا دی غسل پَه وکړی اویا دی وَچښی»

مسئله: کچیری دوه لوښی وه مثلاً یو پاک بل ناپاک اود سړي څخه ورک سوه پیاوړ تیمم وهي. او افضله داده چې ددواړو لوښو او به دی سره ګډی کړی او یادی توی کړی تاچی مطهري او به یقیني دما بین څخه وَلاړي سی نو بیادی تیمم وَوهي.

مسئله: که دری کسه وه مثلاً او دری لوښی وَه چې دوه پاک وَه او یو مردار او دَدغو درو سړو کسانو څخه پاک لوښئ او مردار لوښئ ورک سوه. او بیا درو سړو تحری وکړه پرخیال یو لوښئ نجس وَړه غلی، دبل په خیال بل لوښی نجس وَړه غلی اود بَل په خیال بل یعنی جَلاجَلا لوښی» اود روسره وو په هغه لوښی اودس تازه کړي چې دَدې په خیال ورتلی. نو لمونځونه د درو سره وو صحیح دی لکن جَلا جَلا بی کوی جماعت نه دی ورته روا.

پوه سه: چې اختلاط دوه قسمه دئ» اختلاط مما نهجه» یعنی چې پاکی او به او نجسه او به سره ګډی کړی په یوه لوښی کی» اوبَل» اختلاط مجاورة دی. یعنی چې نجس لوښی جلا وی او پاک لوښی جَلا وی» لکن د سړي څخه ورک سی» دلته مراد اختلاط مجاورت دی»

وَاِنْ كَانَ اَكْثَرُهَا نَجِسًا لَا يَتَحَرّٰى اِلَّا لِلشُّرْبِ

اوکه دپرد لوښو مردار وه نو تحری دی نه کوی مګر چښلو دپاره» یعنی داو داسه دپاره دی تحری نه کوی بلکه تیمم دی وکړي لکه» عادم الماء» دلیل ددی مسئلی دادی چې داتو لوښی نجس دی» اعتبارًا للغالب» پس په نیزد اکثرو مشابخو» او به دی تولو توی کړي چې عادم الماء وګرځی بیادې تیمم وکړي. او به نیزد امام طحطاوی» داتولی او به دی سرا ګډی کړی کی حیوان په او به کاوه» «قال المصنف»

وَفِي الثِّيَابِ الْمُخْتَلِطَةِ يَتَحَرّٰى سَوَاءٌ كَانَ اَكْثَرُهَا طَاهِرًا اَوْ نَجِسًا

اوکه جامی سره ګډي وی یعنی بعض مرداری او بعض پاکی اود سړي څخه درک ورک سوه نو تحری به کوی خواه اکثره دغو جامو پاکی وی اوکه نجسی وی» زَرولیش وَائي» چه وجه فرق په مابین کی داو بو او د جامو دادی چې او به خلف او بَدل لری چې تیمم دی او جامه بدل نه لری

مسئله: قال المصنف فی مَرَاقی الفلاح» که دیو سړي دوی جامی وی یوه پاکه او بله مُردارِه نو دی سړي چې تحری وکړي یوه معینه جامه یه په خیال پاکه وَرغله او هغه بله مُردارِه نو یه هغه پاکه جامه کی دده په عقیده لمونځ وکړي»

وروسته چې دَبل لمانځه وخت راغلی تحری یه بَدله سوه» یعنی هغه جامه چې ده دَمَخه پاکه ګڼلې او لمونځ یه په کښی وکړي په خیال یه مردارِه وَرغله. په هغه بله جامه کی لمونځ نه دی رَوا بلکه په هغه اوله جامه کښی بی کوی» وَلی یو اجتهاد چې په عمل سره پښیګ سو. په بَل اجتهاد سره نه ماتیږی»

لوښو څخه چې موږ جامه پاکه وګڼلې په اجتهاد سره دَجهت څخه دَضرورت» نو په بل اجتهاد سره نه مردارِیږی» نوبناءً علی هٰذا هر څو لمونځونه چې په اوله جامه کی کړي وی هغه صحیح دی. او هر څو لمونځونه چې په وروستنئ جامه کښی ګذارلی وی هغه فاسد دی راګرځول یه لازم دِی» اوددې مبحث تفصیل په مَراقی الفلاح او طحطاوی کښی مطالعه کړه صـ۲۷.

فَصْلٌ فِي مَسَائِلِ الْاٰبَارِ

فصل دی په بیان کښی دمسئلو د څاهانو»

شَرْحُ الْبِئْرِ الصَّغِيْرِ د راکښل کیږی دکشتی څاه څخه» یعنی چې عشر فی عشر څندی راکښل کیږی نو دا مجازدی چې ذکر سوی دی محل چې څاه دی مراد څندی حال دی چې او به دی سبب دد پاره مجاز مبالغه ده د او بو په راکښلو کښی یعنی تولو او به څندی کاږی»

فائده: صاحب النهایه په شرح کی دهدایه داسی وَیلی دی چې فقهاءً وَائي چې مسائل د څاهانو بناء دی پر متابعت د احادیثو مبارکه وُو. او قیاس په دې مسائلو کی کار نه لری» ولی که سړي وقیاس ته وګوری» نو یو قیاس به دا حکم وَرکړي چې څاه چې مردار سو

بیاابدی پاك نه سی» ولی هغه مرداری اوبه یه پوه دیوالو اوختهو تنوتلی دی نوکه تولو اوبه
ناوکښل سی هغه پوه ختهو اودیوالو کښی هغه مردارې اوبه پاته دی» لکه یوعالم فرمایلی
ودغه قیاس ته تګ کړی دی»

اوبل قیاس داسی حکم ښکاره کړی چې دغا اوبه حکم د جاری اوبولری په هیڅ نجاست نه
ولی دغا څخه چې څومره اوبه راخیژی، هغونه اوبه دلاندی دغواد چینو څخه وزی
نوغا لکه حوض د حمام چې دیوی خوا نلکه ورته رابهیږی. اودبلی خواغاسلان اوبه څنډ
اخلی نوهغه حوض هیڅ وخت نه مرداریږی» «قال المصنف»

بِوُقُوعِ نَجَاسَةٍ وَإِنْ قَلَّتْ مِنْ غَيْرِ الْأَرْوَاثِ كَقَطْرَةِ دَمٍ أَوْ خَمْرٍ

په لویدلود نجاست یعنی په څاکی که څه هم لږ نجاست وی غیر د خوشیو څخه لکه یوغا څکی وینه یا شر
په دی دلیل چې لږ اوبه په لږ نجاست مرداریږی» م، د خوشیو اوپوچو حکم به ژر راسی ان شاء الله

وَبِوُقُوعِ خِنْزِيرٍ وَلَوْ خَرَجَ حَيًّا وَلَمْ يُصِبْ فَمُهُ الْمَاءَ

اودغه رنګه دی تولو اوبه دغا څخه دی کاږی په لویدو سره کوزی که څه هم ژوندی راوخیژی، اوخوله یې هم اوبو
نه وی رسیدلی. ولی چې سرکوزی نجس العین دی» «قال المصنف»

وَبِمَوْتِ كَلْبٍ

اودغه رنګه دی اوبه تولې کاږی که سپی په کښی مړ شو، او اوږد
د مرګ قید یې په سپی کښی وو ایه دی سببه چې سپی نجس العین نه دی پر صحیح مذهب
مسئله: که سپی وغاته ولویږی اوژوندی راوخیژی اوخوله یې واو لوبته نه وی رسیدلی
هغه څا پاك دی» م، هدایه، رد،

أَوْ شَاةٍ أَوْ آدَمِيٍّ فِيهَا

اویا پسه مړ سی په څاکی اویا سړی مړ سی په څا
یعنی تولې اوبه دغاه به کاږی. پوه سکه: چې لفظ شاة اسم جنس دی میږی اودمیږی اولاد اوبزه اودبزی اولاد تولوته وائی. لکن مراد دلته

هغه شاة چې څخه غټو کی وی» که بیخی کچنی وو نوحکم یې حکم د پښی دی» ط»

پوه سکه: چې سړی په مرګ سره دغاه مردار والی په سبب دد ې دی چې یو وخت د زمزم
په څاه کی حبشی مړ سو نو عبد الله ابن عباس رض او عبد الله بن الزبیر رض چې حضور د صحابه
وو کښی دا فتوی ورکړه چې د زمزم د څاه اوبه دی تولې راواېستل سی. او هیڅ صحابی رض انکار
پرې ونه کړی»

اودی خبری راز دی چې غالب حال د میت دا دی چې د نجاست څخه بهر خالی نه وی. او که چیری دا
میت نظیف او پاك وو یقینًا یا په غلبه ظن سره نود څا څخه هیڅ اوبه د نه راکاږی. اودا
مسئله روایت دی د ابی القاسم الصفار څخه او قهستانی د محیط څخه هم نقل کړی دی»
د زولبنی والی: په دې مسئله کښی د پیر تفصیل سته وکتابونه دفنا واوو رجوع وکړه»

أَوْ بِانْتِفَاخِ حَيَوَانٍ وَلَوْ صَغِيرًا

اودا غه رنګه دی تولې اوبه
مړ د حیوان په څاه کی که څه هم هغه حیوان کشنی وی. یعنی لکه مور ك یا غټ منګور وغیره»
پوه سکه: چې مراد د حیوان څخه هغه دی چې وینه لری، او حیوان د اوبو حیوان نه دی قید و
فائده به یې ژر ښکاره سی» إن شاء الله تعالی»

مسئله: که حیوان په څاه کی وشوړید لی وو او یا یه ویښتان توی سوی وه. او یا د مرغه
یکی څټلی وی» هم به تولې اوبه راوباسی» اوهغه چې بعض والی د کچنی حیوان په
صورت کی دی لټل سولغی راکاږی قوی خبره نه ده» ط» «قال المصنف»

أَوْ مَأْسَدَةٍ لَوْ لَمْ يُمْكِنْ نَزْحُهَا

او دوه سوه سولغی دی راکاږی که چیری ممکنه راکښل د تولو اوبو نه وه»

مسئله: څاه هلته پاکیږی چې هغه مردار شئ د مخه ځندی راوکاږی. ولی چې نجس پکښی
او بو کښل فائده نه لری» مګر هغه وخت چې مردار شئ یو لرګی یا یو توکر وی چې هغه
او بو کښونکی پلاس نه ورتلی اویا په اوبو کی ورك سو، نو په دی صورت کښی دی

هغه مقدار پوره کړی اولرګی اوتهوکر په تبع دځاپاکیږی ط»

فائده حضرت الامام محمدؒ چې بغداد ځاهان کثیر الماء ولیدل ـ ولیچې ترې
دې ورودته ددُجلی ـ نویه فتوی پکه ۲۰۰ دوه سوه سولغو ورکړه» مګر په هدایه وغیره
کښې وائی چې استحبابًا دی شل سولغی نوری پرې زیاتی کړی چې ۳۰۰ دری سوه پرې

مسئله: مُعتبره هغه سولاغه ده چې پرده غه ځاکثره استعمالیږی

مسئله: که په راکښولوکی دسو لغی څخه بعض اوبه توی سی پرواه نه لری

فائده: په هدایه اونورو کتابوکی وائی که خلګود هغه مرداړ څخه په لوی غټی
سولغی سره اوبه راوکښلی چې دهغه ځاترسولاغه دوه لویه وړه رادی» حساب به وړانی
کوی مثلًا که هغی سولغی یا تیم دری سولغی دځاه ځایه وړلې، نوچې سل سولغی په غټه
سولاغه راوکاږی ځاه پاک سُو»

مسئله: پریوه ځای راکښل د ۳۰۰ دری سوه سو لغوشرط نه دئ کی په دوی دری
وړځو راوکاږی هم ځاه پاکیږی» م ص ۱۹. **تنبیهانه فائده:** ځاه هغوی
پاکیږی چې اخیره سولاغه دځاه دخولی څخه راووزی په نیز دشیخینوؒ ـ اوپه نیز
امام محمدؒ هغه وخت پاکیږی چې اخیره سولاغه دځاه راوبو څخه جلا سی»

مسئله: که دځا اوبه تردوه سوه سولغی کمې وی اوتهوله یه راوکښی نوځاپاک سُو
یقول الفقیرؒ چې مسئلی دځاهانو اکثره بناء پر مذهب دامام محمد دی» ولی چې
خلګوته آسانی ده او وسوسه خلګوته هم نه پیښیږی» اوپه کنز کی پردغه مذهب یقین
کړی دئ، وفی الملتقی ایضًا کذالک» وفی الخلاصة وعلیه الفتوی» وهو المختار کما فی الاصل
ورجحه فی النهر وتبعه الحمویؒ» اما په مرافق الفلاح کښی وائی چې دوه کسه داسې
چې دنوی اوبواوډز زرو په فرق پوهیږی» هغوته دی دځاه داوبو کار وسپارل چې
دوی وویله پاک دی نو پاک سُو» اونور وړته مذهبونه هم سته چې په کتابوکښې ددغو
شرعې ذکر کړه سوی دی» لکن دعاصی په عقیده هغه ټولو یا خو بې خی تکلیف دی» اوبا سبب
دوسوسې گرځی» اومذهب امام محمد صائب دیر سهل دی» واللہ اعلم بالصواب والیه المرجع والمآب»

وَلَوْ مَاتَ فِيهَا دَجَاجَةٌ أَوْ هِرَّةٌ أَوْ نَحْوُهُمَا

یعنې چه کچیری مړه سوه په ځاکی چرګه یا چرګ اویا پشی اویا په مثال ددوی یعنی په بدن کی لکه
غټه مش خړما ـ لکن پرسیدلی به نه وی.

لَزِمَ نَزْحُ أَرْبَعِينَ دَلْوًا

لازم دی پرځاوالا راکښنګ
دځلوئیښتو سولغو لکن پس له

راایستلو هغوشیانو دځاځخه» فائده: دځلوئیښتو سولغو راکښل دابوسعید الخدریؓ
څخه روایت دی په چرګه کښی او استحبابًا دی لس سولغی نوری پرې زیاتی کړی چې ۵۰ سی»

وَإِنْ مَاتَ فِيهَا فَأْرَةٌ أَوْ نَحْوُهَا لَزِمَ نَزْحُ عِشْرِينَ دَلْوًا

اوکه مړسو په ځاه کښی موږک اویا مثل دهغه په صورت کی لکه چوغکه اویا وږک اویا بل مثل
لازم دی کښل دشلو سولغو» یعنی پس له اخراجه دهغه مړه شی اوبل داچې پرسیدلی به نه وی
دانسؓ څخه روایت دی چې که موږک په ځاه کی مړسی اوسمدلاسه راوایستل سی شل سولغی
به راکاږی» اومستحبه ده چې لس دی نورې پر بالا کړی چې ۳۰ سی» «قال المصنفؒ»

وَكَانَ ذَلِكَ طَهَارَةَ الْبِئْرِ وَالدَّلْوِ وَالرِّشَاءِ وَيَدِ الْمُسْتَقِي

اودی دغه راکښلی اوبه پاکوالی دځا اودسولغی اودرسۍ اودلاس دراکښونکی داوبو»
یعنی دغه رنګه دکالودمستقی» فائده: داروایت دی د امام ابویوسفؒ اود الحسن بن
زیادؒ ولی چې ددی شیانو نونجاست داوبو په نجاست سره دی» نو پاک والی یه هم په پاکوالی
داوبودئ دجهت ددفع دحرج چې په دین محمدیؐ کی نشته» م ط»

مسائل شتی

دامام ابویوسفؒ څخه روایت دی چې دځلورو موږو کانو حکم
نولسو ۱۹ پوری دشاة په حکم کی دی» اوامام محمدؒ وائی چې پنځه موږو کان لکه پشی دی

پرحکم کی. اوشپږ لکه سپی دی په حکم اودغه هم ظاهرُ الروایت دی» م» اوهغه حیوان چی په بدن کی په مابین دموږ ك او پشی وی حکم یه دموږ ك دی» اوهغه حیوان چی په بدن کی په مابین کی د پشی او سپی وی حکم یه د پشی دی» اوکه خاته ولویدل پشی اوموږ ك دواړه نودواړه لکه یوه پشی یعنی اقل په اکثر کی داخل دی. اوپه فتاوی خانیه کښی وائی چی پوستکی د انسان اویا غوښی دهغه چی خاته ولویږی نوکه په قدر دنوك وی اوبه مُرداره وی» اوکم ترهغه چی وی اوبه نه مُرداره وی» اوکه چیرې نوك په خپله خاته ولویدی خاه نه دی مُردار»

اوبولی د پشی یا غُل د دی اوبولی دموږ ك یا غُل دهغه نجس دی په اظهر روایاتو کی نواوبه اوکالی په مُردارږی» اوبولی دی د چوپړ ك او غُول دهغه اوبه اوکالی نه مرداره وی» په دی سبب چی احتراز څنډی سخت دی» انتهی قول الخانیه منقل» ط»

اوپه شرنبلالیه کی وائی چی صحیح داده چی په بولو دموږ ك خاته نه مُردارږی»

وَلَا تَنْجُسُ الْبِئْرُ بِالْبَعْرِ وَالرَّوْثِ وَالْخُثَى

اونه مردارږی خاپه پُچو چی د پشو او وښانو وچکرته وائی» اونه په روث» چی د آس او غاښر او خره چکرته وائی. اوپه «خُثَى» چی د غوایو او گامیښو چکرته وائی»

تفصیل د دی مسئلی: پوه سه: چی قیاس او عقل وائی چی دغه مذکوره شیان خو نجس دی اوپه لږو او بو کښی ولیده نو باید اوبه مردارې سی» لکن استحساناً مونږ داوایو چی اوبه نه مردارږی» دهدایه په ص۴۵ کی وائی» إِنَّ آبَارَ الْفَلَوَاتِ لَيْسَتْ لَهَا رُؤُسٌ حَاجِزَةٌ. چی څاهان د صحرا نسته دوی لره سر پوښنه» چی مانع د وقوع څه د پُچو وغیره دی وگرځی. وَالْمَوَاشِيْ تَبْعُرُ حَوْلَهَا فَتُقَلِّبُهَا الرِّيْحُ فِيْهَا فَجُعِلَ الْقَلِيْلُ عَفْوًا لِلضَّرُوْرَةِ» او مواشی یعنی پسونه اوښان وغیره چی کوی پرشاو خوا د هغو څاهانو او بیا دغه پوچی وځاهانوته وړاچوی نو ځکه لږ د هغو پوچو عفوه دی د ضرورت لدکبله» انتهی»

لږ اوبو کی وائی: چی د دی دلیل څنه داسی فهمیږی چی د څاهانو د صحرا او د بنار و فرق نسته یعنی د بنار و څاهان دِ باید مردار سی»

ولی د بنار و څاهان خو با قاعده سر پوښنه لری» اوبل داچی په بنار و کښی مَواشی نسته نو د بنار و په څاهانو کی ضرورت نسته» نوځکه په فتح القدیر کی وائی چی د بنار و څاهان په لږو پوچو هم مردارږی» لکن د مراقی الفلاح په ص۳۰ کی وائی «وَلَا فَرْقَ بَيْنَ آبَارِ الْأَمْصَارِ وَالْفَلَوَاتِ» او فرق نسته په مابین کی د څاهانو د بنار و اوبیابانو» په صحیح روایت او هدایه په ص۴۲ کی او د مراقی په ص۳۰ کی وائی چی وَجْه او لانده او روغ او مات د دغو شیانو فرق نسته په صحیح روایت کی.

او د امام سرخسیؒ وائی چی خوشابی مطلقاً او مائی پوچی او به مردار وی په ظاهر الروایت کی

مسئله: که مین ې په د کی کی په وخت کی د لوښلو یوه یا دوی پوچی وکړی. پوچی د غوږ وی او شیدی پاکی دی و د پی خوړی» ولی چی ضرورت دی چی دمیږی او بزی د عادت دی چی په وخت کی د لوښلو پوچی کوی» هدایه ص۴۲.

نکته: که غواخوشابی وکړه په د کی کی شیدی دی نه چښنی چی ضرورت نسته لِعَدَمِ الْعَادَةِ» **مسئله:** که په لوښی کی د اوبو یوه یا دوی پوچی ولویږی هغه اوبه مردار دی لعدم الضرورة» هدایه» «قَالَ الْمُصَنِّفُ»

إِلَّا أَنْ يَسْتَكْثِرَهُ النَّاظِرُ أَوْ أَنْ لَا يَخْلُوَ دَلْوٌ عَنْ بَعْرَةٍ

مگر هغه وخت عفوه نه دی که دکتونکی په خیال دیری و رتلی او یا هیڅ یوه سولاغه د پوچو څخه خالی وه

پوه سه: چی بعض علماءؒ وائی چی دری پوچی په دیرو کښی حساب دی» او بعض فقهاءؒ وائی چی که پوچو مخ د اوبو پټ کړی وو» نو هغه دیری دی» او د حضرت الامام الاعظمؒ څخه روایت دی چی کثیر هغه دی چی مبتلا به یه دیری و بولی» قال الشرنبلالیؒ وعلیه الاعتماد»

کتبه احقر العباد و... ل الحق بقلمه. ونشر من مکتبة القراءت والتجوید»

وَلَا يُفْسِدُ الْمَاءُ بِخُرُوجِ حَمَامٍ وَعُصْفُورٍ

اوبه فاسد ږي يعنې نه مردار ږي اوبه په غولو د کوتري اويا چغوکې» اود غه رنګه دي، مرغك، توتکې، تارو، کرك، سورسرې. اوتور هغه مرغان چې غونبې يې خوړل کيږي ماسوا د چرګې او ايلۍ، لمطاوئ والئ چې داول زمانې څخه داسلام اوبيا وروسته ترهغه زمانې علماوو اتفاق کړې دي» پرجواز د ساتلو د کوترو په مساجدو کښې حتى په مسجد الحرام اومسجد نبوي کې ٥ اوسره دي چې شرعي امر کړې دي په پاك ساتلو د مساجدو د مرداري څخه نو د اظاهره ده چې خرء الحمام پاك دي.

اوپه حديث د ابن مسعود رض راغلې چې کوتري پرده غوول وکړه ده په ګوته سره ايسته کړه اوورته حديث د عبد الله بن عمر رض څخه هم روايت سوى دى» وفي المراقي چې مختار وپه دې روکتابو کښې د مذهب حنفي پاك والى د خرء الحمام دى.»

مسئله: په غولو کې د هغه مرغانو چې غونبې نه خوړل کيږي يعنې مرداري وي لکه تېږوس، کارګه، شيګون، وغيره اختلاف دى، قال في الخانية، چې غوول د هغو مرغانو چې غونبې نه خوړل کيږي» اوبه ئې فاسده وي» في ظاهر الرواية عند محمد ولى د هغو څخه ځان، اولوګونبې، اوڅاهان، سائل مشکل دى» ولې چې د غه مرغان په هوا کې غوڼ کوي» اوبيا خانيه والا وائي» چې غوول د هغو مرغانو چې درنده وي لکه باز څرګ وغيره که پرکا لود چا ولوږي کالى مرداريږي که دې روه. اود لوښو اوبه مردار ه وي. اوڅاوبه نه پرمردار يږي» انتهى

تنبيه ضروري

په نهايه کښې چې د هدايه شرحه ده داسې والئ: چې يوشئ چې د فساد وحالت ته ورسيږي دانه واجبوي چې هغه شى دى مردار سى» مثلا توله مطعومات په سبب د پيرد رنګ ره فاسديږي. اومردار نه دى» د فساد نتيجه يې داده چې خوړل يې حرام دى په د غه حالت کې ولې چې بدن ته ضرر دى نو د نجاست د سببه:

مثلا غونبې چې د پيرى بد بويه سى خورل يې حرام اومردار دى يعنى که د سړې سره د لمانځه په مالت کې ورسره وى لمونځ ورسره والى - اوکه څاتر ولوږې ځاه نه پرمردار يږي» په تذکره کې د حکيم داود داسې والئ چې فسيخ چې په مصر کښې مشهور دى چې هغه د ماهى غونبې وچې کړي» اوبيا يې خورى» يا په کټوکې اويا په غورو کښې خورل يې حرام دى په سبب د دى چې د» طبي لاړى» د غه غونبې سړى په معده کې پيدا کوى» اوبا د قولنج هم د غو غونبو څخه پيدا کيږي»

اوپه ګردو کې د پيرى څندى پيدا کيږي» اوګچې بلغم څندى نه ږي، اوپه پسرلى کې وبائ تبى څندى پيدا کيږي» اود سل مرض هم د غو غونبو څخه پيدا کيږي- اود دى سره سره، مرداري ند دي»

فائده: وچې کړي غونبې که څه هم بد بويه نه وى» هغه ضرر منى د غونبو دى وبد نه ته ورسې مګر هغه کسانو ته تاوان نه رسوى» چې د بيلچې، ياد يومړ، يا ګلنګ کار ونه کوى يعنى خواري کښې وى، لکه باغبانان، بزګران، روزا نه والا مزدوران، لکن بعض طالبان طبعًا يه بوى ناکه غونبې خوښې وى» لکه زما يو طالب علم دى چې نوم يې سا قى محمد دى اوپه قوم الکوزئ دى اود خاکريز د عالقى دى دده دا بوى ناکه غونبې تر بې بويه غونبو خوښې دى. نومانن ورته وويل چې دا پيرى بوى ناکه غونبې مه خوړه چې دده دى خوراك کتابى حرام دى»، نوده اجازه راکړه چې زما نوم شائع کړه» «قال المصنف»

وَلَا بِمَوْتِ مَا لَا دَمَ لَهُ فِيهِ كَسَمَكٍ وَضِفْدَعٍ

اونه مردار يږي اوبه» بلکه بل شى چې بهيدونکى وى لکه سړکه پراصح روايت» په مرګ سره د هغه حيوان چې ده لره وينه نه وى يعنى بهيدونکى وينه لکه ماهى اوچونګښه»، دسائل» قيد مراقى الفلاح د دى دپاره راوړې دى چې مطلق وينه خو هر حيوان لري»، قوله فيه» يعنى په اوبو کښې» پوه سه: چې دا قيد چې په اوبو کې اتفاقى دى» ولى که د غه حيوان د باندى مړ سى اواوبو ته واچول سى. هم اوبه نه مردار ه وى» ط ص ٣١.

فائده: چنگښه که څه هم مصنف مطلق وښلی ده لکن دی په شرح کښی واړه چی مراد بحری چنگښه دی» ولی چی بری یعنی صحرائی چنگښه او به مرداره وی کی بهیدلی وینه درلوده» فرق دبری او د بحری چنگښی دا دی» چی دبری چنگښی دگوتو په مابین کی پرده نلسته او بحری پرده لری» «قال المصنف»

وَحَيَوَانُ الْمَاءِ

اونه مردار یی او به په مرګ د حیوان الماء لکه چنگابن» او د اوبوسپنی سرکوزی» م **فائده:** فرق په مابین کښی دبری او بحری حیوان دادی چی بحری حیوان بیله اوبو ژوند نسی کولای» اوبری هغه دی چی بیله صحرا یعنی په اوبو کښی ژوند نسی کولای» د اول مثال لکه ماهی، د اوبوسپنی وغیره او د دوهم مثال لکه شرمبنکی وغیره. اوپه داسی حیوان کښی چی په بر او بحر دواړو کښی ژوند کولای سی لکه بحری چنگښه، اختلاف دی» قاضیخان په شرح کښی د جامع صغیر وائی: چی فاسده وی» اوپه مجتبیٰ کی وائی چی نی فاسده وی» ط» «قال المصنف»

وَبَقِّ وَذُبَابٍ وَزُنْبُورٍ وَعَقْرَبٍ

اوبه نه مردار وی» مرګ د غټی غوماشی «یا د مچ، یا د غالبوزی، یا د لړم» غالبوزه خوقسمه ده» زړه غالبوزه، تنده غالبوزه» مچمچکی» اولړمان هم رقم، رقمدی خو په یوه رقم یه اوبه نه مردار یږی. **پوه سه:** چی په نیز دحکم او د لړم تولو نوع یه راښودی» او ط» وائی چی د لړم ستر گی یه دشاه په مابین کښی دی» وَاللهُ وَرَسُولُهُ اَعْلَمُ اولړم چی سړی وزنبوری نی وهی که بیده وی او که ویښ»

د لړم څخه سانتنه: ابوهریرهؓ د نبی علیه الصلوة والسلام څخه روایت کړی دی، که چا علی الصباح د غه کلمات و ویلی لړم به ترمابنام کار نه په ولری» او که چا د غه کلمی مابنام و ویلی تر سحاره به د لړم د شر څخه محفوظ وی» یعنی» اَعُوْذُ بِكَلِمَاتِ اللّٰهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ ۳ دری واره»

او د مچ په باره کی: په یوه اوښه حدیث کی د آنحضرتﷺ څخه روایت دی، که چیری ولویدی مچ په اوبو کښی د یوه ستاسی نو دا مچ دی په اوبو کښی غوټه کړي او بیا دی وباسی الحدیث رواه البخاری»

وجه دلالت: د دی حدیث پر پاکوالی د هغو اوبو چی مچ پکښی مړ سی دا ده» که چیری اوبه په مرګ د مچ مردار یدای نو آنحضرتﷺ ولی امر د غوټه کولو ورکاوه او سود دی چی په غوټه کولو سره خو مچ مړ کیږی، نو خو اوبه ضائع کیږی، او شارع علیه السلام په دی سره امر نه کوی» اوبه بل حدیث کښی چی مَرَاقِ یه نقل کړي د دی داسی را غلی دی» چی آنحضرتﷺ و سلمان رضی الله عنه وویل یا سلمان هر خورک وشی ته یا و اوبوته چی ولویږی دابه چی وینه لری او په کښی مړه سی. نو دغه طعام خوړل حلال دی. او د اوبو چینل یا اودس په تازه کول هم روا دی. په تعمیم کی مچ هم داخل سو. «قال المصنف»

وَلَا بُوقُوعِ آدَمِيٍّ وَمَا يُؤْكَلُ لَحْمُهُ

او مردار یږی څاپه لویدو سره د انسان که څه جنب وی او یا کافر وی او یا حائضه یا نفساء نجسه وی چی دنی قطع سوی وی» او نه مردار یږی غاښه لویدو سره د هغه حیوان چی غوښی یه خوړل کیږی» لکه پسه، بزه، وغیره

إِذَا أُخْرِجَ حَيًّا وَلَمْ يَكُنْ عَلَى بَدَنِهِ نَجَاسَةٌ

چی راوایستل سی د غاښه څیزان ژوندی او پر بدن باندی نجاست حقیقی نه وی»

پوه سه: چی مراد دادی چی یقینی نجاست نه وی په احتمال د نجاست یا نجاست حکمی لکه بی اودسیا او جنابت څاه نه مردار یږی» م»

مسئله: که د چرګی ترکوونه اګی را ووتل او په اوبو کښی ولویدل. او یا د میږی د بهمه څخه وری را ووتی اولوند هم وو. سمدلاسه په اوبو کښی ولویدی او به نه مردار یږی» ترهغوچی یقیناً دا نه وی معلومه چی د اګی یا د وری پر صورت نجاست سته» ولی چی رطوبت د مخرج څخه مردار نه دی»

اوبعض فقهاءٌ دمخرج رطوبت مردار بولی . ولی چی دمردارځای څخه راوتلی دی»
اول قیاس دمذهب دامام اعظمؒ دی» اوهغه ته قاضیخان تللی دی» اوددوهم قیاس دمذهب
دیارانوؒ دی اوددوی مذهب ته صاحب خلاصه تللی دی» ط صه ۳۲ وَاللهُ اعلم بالصواب
درویش وائی چی ظاهر الحال تائید دمذهب دیارانو کوی .

وَلَا بُوقُوعِ بَعْلٍ وَحِمَارٍ وَسِبَاعِ طَيْرٍ وَوَحْشٍ فِي الصَّحِيحِ

اونه مردارین دی څاه په لویدودٌ غاطر اوخره، اودرندهٌ گانو دمرغانو اودوقوع دوحشی
شیانو په صحیح روایت کی» لکن دامسئله هلته ده چی دغه حیوانان څومره دی څخه
راوخیژی» اوطحطاویؒ وائی چی اوبه مشکوکی همه نه گرځی» ولی چی بدنونه ددغو حیواناتو
خوپاک دی ولی چی دوی زمونږ داستعمال دپاره خدائ پیدا کړی دی» اونجاست ددوی
دمرګ په سبب دی» اومصنفؒ چی صحیح وَیله احترازیه وکړی دقول څخه دهغه چا
چی وائی چی څاه تولهٌ مردار سوتیولی اوبه بهٔ څندی کاږی» ولی چه ددوی رطوبت دنارو
ددی حکم لری»

«قَالَ المصنفؒ»

وَإِنْ وَصَلَ لُعَابُ الْوَاقِعِ إِلَى الْمَاءِ أَخَذَ حُكْمَهُ

اوکه وسیږی ناری دهغه حیوان چی ذکر سو یعنی چی په څاه کی وَلویدی واوبوته
دغاه» تولوبوته دغاه حکم دناروددهغه حیوان اَخلی» یعنی کی ناری نجسی وی اوبه نجسی
گرځی . اوکی ناری پاکی وی اوبه پاکی دی» اوکی ناری مکروه وی نواوبه مکروه گرځی» په
فصل الاسارکی ذکر تیر سو» نوبه صورت دنجاست دسور اویادمشکوک والی
سور تهوله اوبه بروجوبًا څندی کاږی» که ممکنه وه، اوکه په امکان نه وه نو ۲۰۰ دوه سوه
سولغی وجوبًا او ۳۰۰ دری سوه سولغی استحبابًا» اومستحبه ده چی دکراهت په صورت
کی دی یوځو سولا نمی لکه چی سوره یه پاک وی اوبعض عُلماء وائی چی ۲۰ سولغی څندی کاږی
مسئله: خوله دهرحیوان لکه ناری دهغه حیوان دی نواوبه هم هغه حکم لری» ط

وَوُجُودُ حَيَوَانٍ مَيِّتٍ يُنَجِّسُهَا مِنْ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ

عند الامامؒ احتیاطًا .

ترجمه: اووجود دمړه حیوان په څاه کی مردار وی څاه دیوی ورځی اوشپی دَ څخه .
یعنی داحکم هغه وخت دی چی پَرسید لی یا شوریدَ لی نه وی .

وَمُسْتَفْخٍ مِنْ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ وَلَيَالِيهَا إِنْ لَمْ يُعْلَمْ وَقْتُ وُقُوعِهِ

اوکه پرسید لی وونوه دړو شوارو روزو څخه څاه مردار کنړل کیږی . ولی چه پرسیدَل د
حیوان دلیل ددی خبری دی چی دوخته ور لویدَلی دی . اوداد واړه حکم هلته دی چی وخت
دوقوع یه معلوم نه وی» دَاقیل ددی دپاره مصنفؒ دوایه ولی کی وخت دوقوع معلوم
وی یقینًا یا په غالب ظن سره بیا خوهیڅ اشکال نسته بلکه هغه وخت ته اعتبار دی»
وفی المراقی ص ۳۲ نوخلك به راوګرځوی لمونځونه دهغی مُدی یعنی یوشوارو ورځ یا دری ۳
شوارو ورځه» که چیری دوی اودس په تازه کړی وو په اوبو هغه څاه، دبی اودسیا په حالت
کی یا غسل دجنابت کړی وو دهغه څاه په اوبو» اوکی مردار ی جامی په پریولی وی هغه بهم
بری مینځی . اوکه دوی اودس درلودی . اویائ جامی پاکی وی بیا دهغه څاه په اوبو اودس
تازه کړی اویا جامی پریولی بیا راګرځول دلمونځونسته په اتفاق سره .

مسئله: که دوی نجسی جامی په پریولی وی . اواودس یه نه وو په تازه کړی نو
پردوی یوازی پریوله دجامو لازم دی . راګرځول دَلمنځونسته بُاندی .
ولی چه داداسی مسئله سَوه لکه یوسَړی چی په جامه کی نجاست وویني اووخت داضافت
دنجس نه وی ورمعلوم . دهیڅ لمانځه قضا پری نسته . عاصی ولئ چه داتوله مذهب د
امام اعظمؒ دی . اوپه نیز دامام ابویوسفؒ اوامام محمدؒ» نجاست دځاد وخت څخه
دعلم حسابَل کیږی . اوراګرځول دَهیڅ لمانځه ور باندی نسته . اونه وربانډی پریوله
دهغو جامو سته چی ددغه څاه په اوبو پریولی وی .

مسئله: پرمذهب دامام اعظمؒ کی دهغه څاه په اوبو اوړه اخښلی وه . هغه اوړه

اخښلی وی. هغه اوبه دی سپوتنه واچوی. یا دی په حیوانا تو وخوری. او یا دی پرشا فعی مذهب څخه کړی. ولی هغوی په مذهب کی هغه څاچی دوه ژبیه او به په کښی وی یا په وقوع د هیڅ نجاست په مرد ل نه بولی. او هغه خبره چی په پښتو کی مشهوره ده چی مسکینانو یا طالبانو ته دی ورکی غلطه خبره ده.

ولی چی د مرد لرشی خوړلو هغه مسکین ته روا دی چی په حالت کښی د مخمصه وی یعنی چی د لوری څخه مړ ی. او داسی وخت ی په اوسنی زمانه کښی ډیر ښادر دی.

خبره ترخبری. که یوسړی پرخپل پرتاګه مني ولیدل او وخت یی نه وو د حکم یه دادی چی دهغه اخیره، خوبه څخه چی دی بیده سوی وو، جنابت دده حسابول کیږی قوله فیلزمه اعادة آه دی مسئلی دلیل دادی. چی مانع د لما نځ خو یالیقین ثابت دی چی بی اودسیاده. یا نجاست دجامی دی او شک یی په مزیل کښی دی چی دڅاه او یه دی چی حیوان مینه په کښی وو. او یا پرسید لی په کښی وو او یقین په شک نه زائلیږی ط.

قال المصنف:

فصل فی الاستنجاء

فصل دی په بیان د استنجاء کښی.

فائده: دنور الایضاح مصنف ډیر ښه ترتیب کړی دی یعنی چی فصل د استنجاء یه د اوداسرد مخه راوړی. ولی چی په اصل کی استنجاء تر اوداسرد مخه ده. بخلاف صاحب القدوری ولی چی هغه اودس ذکر کړی دی. او بیائی نواقض الوضوء ذکر کړی دی. او بیائی فصل د غسل ذکر کړی او بیا یه باب د اوبو چی اودس په ړوا دی که نه، او بیا یه فصل د احکامو د څا ذکر کړی دی. او بیا یه باب التیمم ذکر کړی دی. او بیا یه د مسح د موزو ذکر کړی دی. او بیا یه باب الحیض والاستحاضة راوړی. او بیا یه فصل د مستحاضه په بیان کښی. او بیا یه فصل د نفاس د بیان د پاره، او بیا باب الانجاس دی.

تردی ټولو وروسته فصل فی الاستنجاء دی صـ ۷۵ هدایه. قال المصنف

یَلْزَمُ الرَّجُلَ الْاِسْتِبْرَاءُ حَتّٰی یَزُوْلَ اَثَرُ الْبَوْلِ وَ

لازمه ده پرنښ باندی. طلب د خلاص والی د بولو څخه تر هغوچی ختم کیږی اثر د بولو

یَطْمَئِنَّ قَلْبُهٗ عَلٰی عَادَتِهٖ حَسْبَ

چی لند والی د ذکر د سړی. اوده زړه ته اطمنان حاصلیږی چی بولی اوس نو خلاصی سوی. او دا استبراء د سړی په عادت پوری اړه لری چی

اِمَّا بِالْمَشْیِ اَوِ التَّنَحْنُحِ اَوِ الْاِضْطِجَاعِ اَوْ غَیْرِهٖ

یا څو گامه واخلی، او یا دی غاړی ستازه کړی، او یا دی پر بغل باندی پریوزی او یا غیر د دغو کار و څخه. لکه د ذکر سړی کرار کښی کاږی.

فوائد المتن: مصنف تر ذکر کړی ولی چی د بنځی څای د بولو فراخ دی. او د نر دا تنګ دی نو بنځه دی صرف یوګړی صبر وکړی او بیا دی استنجاء وکړی.

(۲) او مصنف یلزم ووایه یجب یه نه وایه د دی سببه چی لزوم تر وجوب قوی دی ولی دلازم په ترک سره د کار صحت نیستی کیږی. نه په فوت کید و سره د واجب، نو ځکه ترک د استبراء د ګناه کبائرو څخه دی. په یوه اوښه ده حدیث کی چی روایت یه امام بخاری او نور وکړی دی، داسی راغلی دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم د دوو قبرو په خوا کښی تیریدی، نو ملګرو صحابه تنبیه داسی وفرمائیله. چی دغه دوه قبر والا په عذاب دی چی د یه خپلو بولو څخه ځان نه ساتی او دی بل شیطانت کاوه. او دا خو معلومه خبره ده چی سړی په خپله جامه په قصد بولی نه کوی نو دا ظاهره سوه چی دغه صاحب قبر استبراء د بولو څخه نه کول. (۳) استنجاء یکلخته ختمول دی د نجاست د مخ څخه یا د شاه څخه یا د اوبو. او یا یه راوزل دی په لوتو وغیره. م - د «نجو» معنی هغه شی دی چی د نفسه راوزی یعنی یا غُل یا بولی. او انهری وایی چی «نجو» وقطع ته وائی.

(۴) په مقدمه غزنویه کښی وائی «چی استنجاء استعمال دی د ډبری یا لوښی یا اوبو» په هغه خاص ځای کی» او «اِستِبراء» طلب د پاکی د بولودا ثر څخه دی په یقین یا په ټوخی یا په مَسنَو لودذکر وغیره کمامن» او «استنقاء» نسبتره پاکی ته وائی په لوښو او یا اوبو حتی چی بَد بوئ هم ورک سی»

مسئله: که یوچا استنجاء به اوبو وهله اوو روسته یه کُنه په لږو اوبو کی کښیښنَوله اوبه نه مردار یږی. او کی استنجاء په لوښو وهله اوبیا یه کُنه په اوبو کی کښیښنَول هغه اوبه مردار ی دی. ولی چی د لوښو په استنجاء سره یکلخته نجاست دما بین څخه نه ځی. ط» قوله حتی یزول اثر البول» د بولودَ اثر زائلو طریقه داده چی لوښه وذکره وَنسی چی نه لندیږی» قال المُصنف»

وَلَا يَجُوزُ لَهُ الشُّرُوعُ فِي الْوُضُوءِ حَتَّى يَطْمَئِنَّ بِزَوَالِ رِيحِ الْبَوْلِ

اونده صحیح سَړی ته شروع په اوداسه سره څوچی اطمنان او یقین ورته حاصل نه وی په زائلیدو د لند والی د بَولو» قال المصنف»

وَالِاسْتِنْجَاءُ سُنَّةٌ مِنْ نَجَسٍ يَخْرُجُ مِنَ السَّبِيلَيْنِ مَالَمْ يَتَجَاوَزِ الْمَخْرَجَ

او استنجاء سنت ده» بلکه د اقوی د سننو څخه دا وا ده کافی ط» د هغه نجس څخه چی راووزی» په دی لفظ کی اشاره ده ودې ته چی که خوك پُسکی واچوی استنجاء فسته باندی» بلکه بدعت ده» ولی چی پُسکی پاکه ده» دلیل یه دا دی چی که خوك پرلاندې پرتا که پُسکی وَلږی پرتوګ یه نه مردار یږی کذا فی العینی شرح البخاری»

ترجمه: چی راووزی هغه نجس دیوه څخه د دوولا رود نریا بنځی چی د شا خوا اوږه خواده» ترهغوچی د ډَډا وتوتر ځای نجس تیر سوی نه وی» قال فی المراقی» چی استنجاء د مَخ د خوا اود شا د خوا سُنت مؤکده دی د نر او د بنځی د پاره» ولی چی اکثرًا رسول

الله صلی الله علیه وسلم استنجاء وَهَله» اوواجب نه ده چی آنحضرت ﷺ په بعضو اوقاتو کی پری ایښی ده» اوصاحِبُ السراج وائی چی استنجاء پنځه قسمه ده»

(۱) **فرض** ده د حیض څخه (۲) د نفاس څخه (۳) د جنابت څخه (۴) اوهغه وخت چی نجاست ترمخرج تیر سوی وی. اودا بجاوز ترقدر د درهم بالاوی. (۵) سُنت ده که نجاست ترمخرج تیر نه وه» کذا ذکره السَّید»

پوه سه: چی دَاقید چی د نجس د سَبیلینو څخه راووزی بنا پر غالب دی» ولې که سَړی د بَل پرلندو غُولو کُنه کښیږی دی د استنجاء حکم هغه دی لکه د سَړی د خپلو غولو.

وَإِنْ تَجَاوَزَ وَكَانَ قَدْرُ الدِّرْهَمِ وَجَبَ إِزَالَتُهُ بِالْمَاءِ

المصنف قال

اوکه چیری تیر سوی وو هغه خارج ترمخرج» اوداتیر سوی نجاست یه په قدر د درهم وو نو واجبه ده چی زائلول د هغه نجاست

وَإِنْ زَادَ عَلَى الدِّرْهَمِ افْتَرَضَ غَسْلُهُ

په اوبو یا په بل بهید ونکی شی لکه سرکه» اوکه هغه خارج زیات وو تر قدر د درهم نو بیا فرض دی پری ولږیږی په اوبو سره. **پوه سه:** چی نجس چی په قدر د درهم اویا بالاتر هغه وی د دی وزائلو لوته استنجاء نه وائی بلکه دی ته إزَالَةُ النجاست وائی اودا معلومه خبره ده چی ازالة النجاست په مسح د لوښو نه کیږی بلکه پری ولږی غواړی»

اِختِلاف: په نیزد امام اعظمؒ او امام ابو یوسُفؒ اعتبار د قدر د درهم نجاست دی هغه نجاست لره دی چی د کُنی ترخولې تیر وی» یعنی د کُنی خولې نه ده په کښی حساب» او امام محمدؒ وائی چی د کُنی خولې هم وړسره حساب ده»

اختلاف: بعض فقهاءؒ وائی چی قدر د درهم په اعتبار د وزن دی چی هغه یو مثقال دی. او بعض عُلماء بیا وائی چی په اعتبار د مساحت دی چی اندازه یې وَرغوی کیږی. فقیه ابو جعفر الطحاویؒ جمع د دی دوو قولو داسی کړیده. «چی که نجس جسد درلودی» لکه غوَل نو اعتبار د وزن لره دی» اوکه نجس مائع وو لکه

بولی نو اعتبار مساحت لږدی. اودا جمع کول مصنفؒ په مَراقی الفلاح کښی هم تائید کړی ده - او په اول اختلاف کی فتوی پر قول د شیخینوؒ ده. کما فی التبیین وصحح فی المضمرات» قال المصنفؒ

وَيُفتَرَضُ غَسلُ مَا فِي المَخرَجِ عِندَ الاِغتِسَالِ مِنَ الجَنَابَةِ

اوفرض دی پریوله د غولودکنی یعنی په ماء مطلقو سره» په نیږدِ غسل د جنابت یا حیض

وَالحَيضِ وَالنِّفَاسِ وَاِنْ كَانَ مَا فِي المَخرَجِ قَلِيلًا

یا نفاس» کړ څه ما فی المخرج لږ وی» په مَراقی کی وَائی د دی د پاره چی ساقط سی فرضیت د غسل د هغه د ذمی څخه» د دی عبارت څخه دا معلومه سوله چی پر جنب که نروی اوکه ښځه. اوپر حائضی ښځی چی د حیض څخه خلاصه سی اوپر لنکی ښځی چی د نفاس څخه ووزی غسل فرض دی. کی څه هم پر بدن هیڅ نجس نه وی.

سوال: فقهاء حضراتؒ استنجاء په سُنتو کی د غسل راوړی او مصنفؒ وائی چی فرض ده **جواب:** سنت د هغه کول د استنجا دی په نور غسل نه نفس استنجاء ط

قال المصنف **وَيُسَنُّ اَنْ يَستَنجِيَ بِحَجَرٍ مُنَقٍّ وَنَحوِهِ**

اوسنت ده استنجاء په ډبره چی پاکوونکی وی اویا نحوه د هغه لکه پاکه لښ په.

پوه سه: چی استنجاء په خوار وهم روا ده. اوپه زاره پاک تکره هم روا ده اوهم په زاره پوستکی اوکی پنجله په دیوال پوری کُنده وموښتو هم روا ده. اویا په محله پوری په کُنده ومَنبل هم روا دی. اوپه زینه ډبره چی کُنده خوږه وی استنجاء مکروه ده. اود غه ځکه په کاغذ باندی که څه هم شی نه وی پر نوشته استنجاء وَهل مکروه ده. لکن مراد هغه کاغذ دی چی قابل د نوشتو وی» نو په هغه شی چی نن صبا خلګ استنجاء په وهل (تمیز ویبر Wipe) په هغه مکروه نه ده» ولی چی هغه قابل د نوشتی نه دی

اوهغه ځکه استنجاء مکروه ده په هغه تکره چی قیمت لری، اود غه رنګه استنجاء مکروه ده په بیخی ښوی ډبره ولی چی پاکول د نجاست نسبی کولای» قال المصنفؒ

وَالغَسلُ بِالمَاءِ اَحَبُّ

اواستنجاء وهل په اوبو ډبرینه دی.

یعنی تر یوازی لوتو. ولی چی په اوبو سره طهارت بالیقین راځی اوسنت پرکامله وجه ادا کیږی. او لښه خو صرف نجاست لرَ وی. ترمذیؒ د بی بی عائشهؓ څخه روایت کړی دی چی هغیؓ نور و ښځوته داسی وویله چی امر کړی خپل مَرو ښه چی دوی دی استنجاء په اوبو وهی چی زه ځندی شرمیږم. ولی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم استنجاء په اوبو وهله. **بَدګمانی:** د بعض عوامو دا خیال دی چی یوازی په اوبو استنجاء مکروه او بَد کار دی. دا ګمان د دوی غلط دی.

وَالجَمعُ بَينَ الحَجَرِ وَالمَاءِ اَفضَلُ فَيَمسَحُ ثُمَّ يَغسِلُ

او جمع په مابین د لوتو او اوبو افضل کار دی نو اول د مسح د استنجاء د ځای په لوتو وکړی اوبیا دی هغه ځای پری مینځی. په مَراقی الفلاح کی وَائی چی دا جمع په هر زمانه کښی افضل ده یعنی په زمانه کی د اصحابوؓ هم دا کار افضل دی. اوپه طحطاوی کی وَائی چی دا جمع سنت ده زمونږ په زمانه کی. اوپه زمانه اول کی د اجمع صرف ادب دی ولی چی د هغو زمانی خلکو لکه پوچی داسی چکر واهه»

په روایت کی د ابن عباسؓ داسی راغلی چی دا آیت مبارک» فِيهِ رِجَالٌ يُحِبُّونَ اَنْ يَتَطَهَّرُوا» یعنی په قبا کی داسی خلګ دی چی دوی خوښ لری چی په بنه وَجه پاکی وکړی. نو آنحضرتؐ دا مدح قباء ځخه پوښتنه وکړه چی خدای پاک پرتا سی ثنا وئیلی ده په باره کی د طهارت نو ستاسی طهارت څرنګه دی. دوی ورته وویله» چی اول استنجاء په لوتو وَهل اوبیا په اوبو آنحضرتؐ ورته وویله چی هم د غه کار سَبب د صفت د پروردګار دی» رواه ابن ماجه

اللّٰهُمَّ اغفِر لِمُؤلِّفِهِ وَلِكَاتِبِهِ وَلِوَالِدَيهِمَا اٰمِين.

وَيَجُوزُ اَنْ يَقْتَصِرَ عَلَى الْمَاءِ اَوِ الْحَجَرِ

اوروادی یوازی اکتفاء په اوبوسره او یا په ډبره سره. **پوه سه:** چې اول افضل خو جمع داوبو او لوتپوده، دوهم لمبر یوازې اوبه، دریم یوازې لوتې. خوښ په دروسره پرځای کیږي که څه هم په فضیلت کې فرق سره لري. قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَالسُّنَّةُ اِنْقَاءُ الْمَحَلِّ وَالْعَدَدُ فِي الْاَحْجَارِ مَنْدُوبٌ وَلَا تُرَاعَى عَلَيْهِ

اوسنت په استنجاء وصلو کښې پاکول دځای د استنجاء دی اوعدد په ډبرو کښې چې دری په وې مستحب دی او سنت مؤکد نه دی. **فَائِدَه:** اصل مقصود د استنجاء څخه پاک کول دځای دی که په دروډبرو یا په دروواړه پریولوسره حاصل نسی نو تردری واړه دی بالاکوي په اتفاق سره. اوکه په یوه لوتې ځای پاک سو نوسړي بالابود پرې وکړي روا خو ده لکن خلاف افضل دی» قَالَ الْمُصَنِّفُ.

فَيَسْتَنْجِي بِثَلَاثَةِ اَحْجَارٍ نَدْبًا اِنْ حَصَلَ التَّنْظِيفُ بِهَا وَاِلَّا فَبِمَا يُنَظِّفُ

نو استنجاء دی وهي په درودبرو ازروی مستحب والی. که چیرې حاصل سو پاکوالی دځای په کم سره تر درو ډبرو: **پوه سه:** چې مصنف چې کیفیت د استنجاء بیانوي دهغه په باره کښې شیخ کمال الدین ابن الهمام په فتح القدیر کښې په دې ځای کې د عبارت د هدایه، لِاَنَّ الْمَقْصُودَ هُوَ الْاِنْقَاءُ آه داسې وائي: چې دا عبارت داسې فائده کوي، چې حاجت وهغه کیفیت نه چې په کتابود فقهي شریفې ذکر سوی چې: اقبال او ادبار لکه چې وروسته دستي به راسې حاجت فسته. او په مجتبیٰ کې وائي چې مقصود په استنجاء کښې وائي چې مقصود په استنجاء کې خو انقاء پاک کول دي. نو هغه طریقه دی سړي مختاره کړي چې دیر یه کنه په غولو فسي» اوامام سرخسي چې هیڅ کیفیت استنجاء لره نه دسته. او قصد انقاء ده، کما في السراج او ابن امیر الحاج چې

دغه خبره دیره ښه خبره ده» ط، رد»

وَكَيْفِيَّةُ الْاِسْتِنْجَاءِ اَنْ يَمْسَحَ بِالْحَجَرِ الْاَوَّلِ مِنْ جِهَةِ

او کیفیت د استنجاء (دنرد پاره) دادی چې مسح دی کړي په اوله ډبره د مخ څخه دشا او خواته

الْمُقَدَّمِ اِلَى خَلْفٍ وَبِالثَّانِي مِنْ خَلْفٍ اِلَى قُدَّامٍ

یعنې د مخ څخه څنګ د شا او خواته دی کش کړي. او په دوهم ډبره دی د کنې مسح د شا د خوا د مخ او خواته د اولې»

وَبِالثَّالِثِ مِنْ قُدَّامٍ اِلَى خَلْفٍ اِنْ كَانَتِ الْخُصْيَةُ مُدَلَّاةً

او دریمه ډبره دی د مخ د خوا څخه شاته بوزي که چیرې ځوتې څرپیدلې وي.

وَاِنْ كَانَتْ غَيْرَ مُدَلَّاةٍ يَبْتَدِئُ مِنْ خَلْفٍ اِلَى قُدَّامٍ

او که چیرې خوتې نه څرپیدلې نو د شا د خوا دی د مخ او خواته بوزي.

وَالْمَرْاَةُ تَبْتَدِءُ مِنْ قُدَّامٍ اِلَى خَلْفٍ خَشْيَةَ تَلْوِيثِ فَرْجِهَا

او ښځه دی استنجاء د ډبرو د مخ د خوا څخه شروع کوي د شا او خواته دی بیرې د سبب چې کس یې ګندګ نه سي. یعنې په غولو» قَالَ الْمُصَنِّفُ.

ثُمَّ يَغْسِلُ يَدَهُ اَوَّلًا بِالْمَاءِ ثُمَّ يُدْلِكُ الْمَحَلَّ بِالْمَاءِ

او بیا ورسته تر استنجاء دی د ډبرو دی سړي اول لاس په اوبو پرې مینځي او بیا دی

بِبَاطِنِ اُصْبُعٍ اَوْ اُصْبُعَيْنِ اَوْ ثَلَاثٍ اِنِ احْتَاجَ

د سړي محل یعنې کونه په اوبوسره په یوه ګوته مګر په باطن د ګوتې یا په دوو ګوتو او یا په درو ګوتو که احاجت ورته وو یعنې که یې کنه فراخه وه لکه بعض کنا تور کسان»

مسائلُ الاستنجاءُ

(۱) دکومړسۍ چې غټر او خوڼې دوارې ځندی پرې کړه سوی وی» چې محبوب یه بولی اویایه یواځې خوڼې ځندی کښل سوی وی چې خصی یَه بولی» دهغه حکم دښځې دی» اوتربښځې حکم دنرلری» ذکره ابن امیر الحاج ؒ ط۔

(۲) ابن امیر الحاج ؒ دمقدمه غټر نویه څخه نقل کړی دی چې دریمه پرودی اطراف دِ کُنی مسح کړي»

(۳) دا ټوله کیفیت دا استنجاء دَ شادَ خواووه اودَ مخ دخواد استنجاء کیفیت دا دی چې غټر دی په چپه لاس وَنلیسی اوپر لوتودی سَرتیروی. نړاهدی وَائی چې یادی ذکر په دیوال پوری مَوبَزی. اویادی لوتې په راسته لاس وَنسی واذکر دی په چپه لاس وَنسی اوپرې موبَزی دې»

ایت کریمه: یُرِیدُ اللّٰهُ بِکُمُ الْیُسْرَ وَلَا یُرِیدُ بِکُمُ الْعُسْرَ» نوهغه چې په مقدم غټر نویه کښې وَائی چې نه دی ذکراونه دی لوتې په راسته لاس ونسی» بلکه لوتې دی په مابَین کی دپښو کښې دی اوذکر دی پورې موبَزی» هغه حَرَج عظیم» په شریعت پاک کی دُونه تنګی نسته۔ (۴) مصنف ؒ یَدُهُ» مفرد وویه اوپه عام کنا یه کښې "یَدَیهِ" راغلی دی یعنی دوارې لاسونه دی پرې مینځی» (۵) په مضمرات کی ووائی چې گوته چې پرکُنه تیره کړه سی بَله پَلا به هغه گوته مینځی حتیٰ چې نجاست د محله څخه ایسته کیږی. (۶) کُنه تر دی اوبه په کرارکرار وَرپاشی په شرف شرف دی نه ورپاشی» (۷) اوگوته دی په کُنه نه ښندبر چې دی نه نکاح الید وَائی اومکروه کاردی۔ اوبل ددا سی کار څخه خوُنی بواسیر پیدا کیږی کما فی شرح الطحاوی ؒ (۸) په استنجاء کی داوبو عدد شرط نه دی علی ما هوالصحیح بلکه تفویض ددی وسړی ته دی چې دسړي گمان سوچې کوُنه پاکه سوه۔ (۹) کُنه دی په نوکا نونه گورو ؒ ولې چې په نوکا نوکښې مرداری بندیږي۔

اوبل ډی څخه مواسیر ځندی پیدا کیږی کذا فی القهستانی»

(۱۰) که په یوه گته استنجاء وهَل کیدله دوهمه اودریمه دی نه ورجوته وی۔ ولې چې مردار ول دپاک شی بی ضرورته ناجائز دی» ط » قَالَ المُصنفُ۔

وَیصعِدُ الرَّجُلُ اِصبَعَهُ الوُسطیٰ علیٰ غیرِهَا ثُمَّ یصعِد

اوپورته کوی دی نرد میانځ گوته پَر نورو گوتو ښی لږ څه» اوبیادی بنصره گوته

بُنصرَهُ وَلَا یَقتَصِرُ علیٰ اِصبَعٍ وَاحِدَةٍ

ورپورته کړي۔ اواقتصاردی نه کوی په استنجاء کښې پریوه گوته» امام طحاوی ؒ وائی چې دا طریقه د بعض مشائخودَه» اوعام مشائخ پردی دی چې دواړې گوتې دی یوځای پورته کوی» مصنف ؒ وائی بیا بنصره گوته ورپورته کړی بنصر هغه گوته ده چې دخچړی گوتی سره متصله ده» چې پښتانه یې څخیان یه لاکو ټکره بُولی»

سوال: دمخ وویل سول چې که په یوه گوته استنجاء کیدای سوای دوهمه اودریمه دنه ورجوته وی، اودلته وائی مصنف ؒ چې پریوه گوته دی اقتصار نه کوی۔ **جواب** دا طریقه د بعض مشائخوده اومخنی خبره مذهب د عامو مَشائخوو» قَالَ المُصنفُ

وَالمَرأَةُ تُصَعِّدُ بُنصُرَهَا وَاوسَطَ اَصَابِعِهَا مَعًا اِبتِدَاءً

اوښځه دی پورته کوی داستنجاء په وخت بنصر گوته اودمابین گوته یوځای په شروع کی داستنجاء یعنی یواځې یوه گوته دی نه پورته کوی دبیری دی چې دا دبل شی خوند پرَوا نخلی۔ امام طحاوی ؒ وئیلی دی چې فرهانی ؒ په شرح کښې دمقدمه لیثیه چې هغه دامام مرغینانی ؒ څخه نقل کړی دی چې ښځه دی استنجاء په اوږغوی وَهی» وَهوالصحیح» وفی الفتاوی هندیه هوالمختار» وفی السراج وهوقول عامة الفقهاء» اوابن امیر حاج ؒ وائی چې ښځه دی دگوتو په سَر و استنجاء وَهی۔ ولې چې ښځه دَ دباندی کُس وپاکی ته ضرورت لری اوهغه بی سره دگوتو نه گډیږی۔

خَشْيَةَ حُصُولِ اللَّذَّةِ

دبیری دی چی داد بَل شی خوند پرواخلی، اوداچی مصنف ووَیل چی خوند پرواخلی هغه یوه وهمی خبره ده» ولی چی معلومه خبره ده چی بنځه چی خوند اخلی ډَډنه کس په داخلیدو سره خوند اخلی. **فائده**: بنځه بهاول کُنه مینځ اوکه کس، امام اعظم وائی چی کُنه دی دمخه مینځی ولی چی هغه مهمه، اوداچی سَړی چی سَړی په کُنه کښی گوتی تیروی غالبًا بولی خلك خلك راوزی. نوکس ویره مرداربیدی، او یاران وائی چی کس دی دمخه پریمنځی ولی چی په مخ کښی دی. والفتوی علی قول الامام رحمه الله

وَيُبَالِغُ فِي التَّنْظِيفِ حَتَّى يَقْطَعَ الرَّائِحَةَ الْكَرِيهَةَ

اوکوشش دی کوی په پاکولو کښی د استنجاء دځای حتی چی وَرك سی بدبوئی» یعنی هر دی دکونی نخه اوهمدهغی گوتی نخه چی داستنجاء په وَهله، ولی چی بدبوئی اثر د نجاست دی نو پاکی سره دَبقاء د نجاست نه کیږی» او صحیح مذهب دادی چی عدد وارونه د پریولو پاره نه دی مقرر سوی» بلکه دسړی رایه ده نوهر وخت چی دده یقین سویا غالب گمان سو چی ځای پاك سونو پاك دی،

مسئله: که سړی وسواسی وو که هغه نه وارونه نه کړی معلوم نوهغه خو د خپلی وسوسی په اثر د پیری اوبه او وخت ضائع کړی، اواسراف خونا روادی! **جواب دادی** چی علماء حضرات تودده دپاره د مخ دَخوا په استنجاء کښی وارونه مقرر کړی دی. اود شا دخوا په استنجاء کی ۵ پنځه واره اوبعض فقهاء وائی ۹ واره اوبعضی وائی ۱۰ لس واره لکن کشکی مُوَسْوِس په دغه مقرره عدد قناعت کړی وائی» **واقعه**: په قندهار کی زهونږ په مسجد جامع کی جاری لښتی پهیدی نومایر لښتی اودس تازه کاوه چی یو مُوَسْوِس مُلا صاحب راغلی پر لوی استنجاء کښینستی نواوبه بی داستنجاء ځای ته خواره ورواچولی، اوبیا به ئی لاس بوی کړی ما اودس تازه کړی خو موسوس هغه استنجاء اودلاس بوئیدل کاروو» موږ پرځلور رکعت لمانځه دمازدیگر و دریدلو اوځلور رکعته موپوره کړه» چی سلام موورګرځاوه، مُوَسْوِس په هغه استنجاء ناست وو» خیر چی ده نور اودس دخپلی وسوسی سره برابر تازه کاوه وقت مکروه

داخل سو اوموسوس بیا لمونځ یواځی وکړی.

تنبیه: داسی کار وونه د تقوی دسبب نه دی بلکه دا اضلال نخه د شیطان دی چی گاهی جماعت ځندی فوت کړی اوگاهی لمونځ پرقضاء کړی اوگاهی لمونځ وقت مکروه ته وَرسوی، نَعُوذُ بِاللهِ مِنْ وَسْوَسَةِ الشَّيْطَانِ» قَالَ الْمُصَنِّفُ.

وَفِي إِدْخَاءِ الْمِقْعَدَةِ إِنْ لَمْ يَكُنْ صَائِمًا

اوکوشش دی کوی په سسته نیولو کښی دکُنی. کدی روژه نه وه، په مَراقی الفلاح کی وائی، «یزیل ما فی الشرح بقدر الامکان» معنی چی نرائیل سی هغه نجاست چی په کوتانو کښی په قدر د امکان»

تفریع: په نرمی کی دی په استنجاء کی دیر کوشش کوی تَردوبی، ولی چی کُنه په نرمی کی تَردوبی گنجلکروی مگر هغه وخت مبالغه ته ضرورت نسته کی په نرمی استنجاء په گرمو اوبو وَملَه، ولی گرمی اوبه کُنه سُسته وی. **مسئله**: استنجاء وَمل په یخو اوبو ثواب اونفع یه دیره ده ترکمو اوبو. دثواب وَجه یه دا ده چی تکلیف یه دیر دی. اود نفع وجه یه دا ده چی خونی مواسیږد بینه وری کما فی الفتاوی» ط» مصنف په مراقی کښی وائی چی روڼاتی دی کُنه سسته نه نسی، تا چی روژه یه فاسده نه سی» لکن په خلاصه کی وائی» چی روژه ملته فاسدیږی چی اوبه یه وداخل دکُنی ته وَلاړی سی. اوپه استنجاء کښی اوبه داخل ته نه سی که څومره کُنه سسته وَنیسی»

مسئله: په بعض کتابو کی وائی چی روژه اپی دپی داستنجاء په وخت کښی دیره په زوره سَاه نه کیږی» ولی چی اوبه یه یه کُنه نه ننوزی، لکن علامه نوح وائی چی داخو دیر حَرَج دی اوبه ساه کښه لوسره اوبه دکُنی وداخل ته نه سی **مسئله** په مراقی کی وائی چی روڼاتی که لنده گوته په کُنه چی کړه روژه یه فاسده سوه. **مسئله**: که دچا کُلمه دکُنی د استنجاء په وخت کښی دباندی راووتله اودده روژه وه اوده راوتلی کُلمه دکُنی پریوله نو ترهغو پوری داستنجاء نخه نه وَلاړیږی څو کُنه په یو تکړه سره وَچه نه کی. اوکه یه ترو چید و د نخه

ولاړسو اوهغه کښه یه یعنی هغه دکښی کلمه پورته ولاړله روزه یه ماسول ط »

مسئله: که چیری یوسړی داسی مریض وو چی استنجاء یه پیه خپله نه سوای وهلای نوکی ماینه درلوده هغه دې استنجاء ورکوهی او بیله ماینی بل چاته که نه وی اوکه بنځه وی کی خدم اوریاخور یا بله محرمه بنځه وی. دده استنجاء ورکول واجب دی بلکه استنجاء دده ثخه ساقطه ده» کذا فی البحر الرائق» قال المصنف.

فَاِذَا فَرَغَ مِنَ الْاِسْتِنْجَاءِ غَسَلَ يَدَهُ ثَانِيًا وَنَشَّفَ مَقْعَدَتَهُ

پس لهغه وخت چی فارغ سی داستنجاء ثخه نوپری دمنځی لاس دویم واړه. اووچه دی کی

قَبْلَ الْقِيَامِ اِنْ كَانَ صَائِمًا

کښه یا په پاک ټکړه اوکه ټکړه وونه یوخوا راوړی پرکښه لاس تیرکړی دمخه ترولاړیدو داستنجاء ثخه. داهله که دسړی روزه وه» دادی دپاره که کښه وچه نه کړی. اوچسف ولاړسی کښه بی اوبه پورته بونړی. داپوله دمراعات دروڼی. اوداسی نه ده که چسف ولاړسو کښه وچه نه کړی نوبیه خواه نخواه روزه ماته سوه.

فَصْلٌ

پوه سه: چی مصنف په دې فصل کی هغه شیان بیانوی چی استنجاء په هغوسره رواده او هغه شیان چی استنجاء په مکروه ده، اوهغه کارونه چی فعل یه مکروه وی» قال المصنف

لَا يَجُوزُ كَشْفُ الْعَوْرَةِ لِلْاِسْتِنْجَاءِ

نه دی روا لخول دعورة دپاره داستنجاء» په مراقی کښی مصنف وئیلی دی چی لخول دعورت حرام دی اوکاشف دعورة فاسق دی نود پاره داقامت دسنت چی استنجاء ده، حرام کار دی نه کوی، بلکه ترکالولاندی دی یوه لوبه دوی استعمال کړی. اوکښه دی په پاکه کړی. اوکه داهم ونه کړی لمونځ یه صحیح دی

اوحقق علی طاوی دعلامه مخه داسی نقل کړی دی چی استنجاء وهونکی دی عورت نه لخوی په نیز دهیڅ چادپاره داستنجاء اوکی لخه کی فاسق دی خواه نجس ندراو توټرځای تیروی اوکه نه، اوکه تر قدر د درهم بالاوی اوکه نه» انتهی.

ضروری سبوونه

دینجابیانو قمیصان چونکه هم لنډ دې اوهم تنګ دې. نود لوی استنجاء په وخت کښی هغا اطراف دکښی یه لخه وی او اطراف دکوڼی خوهم عورت دې. **زموږ** په پښتنو کی په چوانی وخت کی یه قمیصان دنرو او بنځو دپاره وه» نوچی پر لوبیه استنجاء به سړی کښی نسته او لمن دقمیصه پرځان راوګرځوله نو نه ښکاره کښه معلومیده اونی اطراف دکښی په اوسنی زمانه کی که هلکان دې اوکه ځوانان دی بلکه که سپین ږیری» قمیصان پریږده تاه کښی کوی» نوګاهی چی دوی په مسجد کښی استنجاء وهی اوغسل خانه هم نه وی بلکه پر نلکوه نوکه چیری داستنجاء نلکو یوی خوا اوبلی خواته دیوال درلودی نواستنجاء وهل په کښی پرواه نه لری» ولی چی دکوڼی غار خوب په هغه یک بره لمن پتیږی» اوکنا تی ئی په دیوالو پټ سی. اوکه داستنجاء خلی دیوالونه درلوده، نوکه یک بره والاهر څوکوشش وکړی خوتوله عورت به پټ نکړی» خواه مخواه به ئی ګناتی بنکاره وی نوداستنجاء حرامه ده اومرتکب یه فاسق دی» درویش باګناه محمد عبیدالله ایوبی کندهاری» قال المصنف.

وَاِنْ تَجَاوَزَتِ النَّجَاسَةُ مَخْرَجَهَا وَزَادَ الْمُتَجَاوِزُ عَلَى قَدْرِ الدِّرْهَمِ

که چیری تیرسوی وونجاست که غلی وی اوکه بولی ترځای د راوتوچی کنده اوډوبکی سوری دی» او بالاووهغه تیرسوی نجاست تر قدر درهم یعنی دوزن په اعتبار په غولوکښی اومساحت په اعتبار په بولوکښی» **پوه سه**: چی دحضرت امام اعظم اوامام ابی یوسف په نیز کښه حکم ددا خل لری» حتی په کونه کښی نجاست ته اعتبار نسته اصلاً نومراد دنړیات والی څخه د نجاست پر قدر د درهم هغه ماسواد نجاست دکښی دخولی دی» نوکه چیری یوازې

نجاست دباندی ترکوني په قدر د درهم وو او کوفي د نجاست سره تر قدر د درهم بالا
وو نو مانځ دلما نځه نه وی» اونه پریوله واجب دی» ولې چې مخرج نجاست ساقط دی ځکه
کې څوک نه پریمنځي مکروه نه دی» اود غږ رنګه د شیخینو «په مذهب کې د غږ د کنې نجاست
د بل ځای د نجاست سره نه جوتیږي» مثلاً پر یو بل ځای د سړي مرداري په قدر د درهم
چې د کنې مرداري دی و د سړه یو ځای کړي وای تر قدر د درهم بالا کیده» مانع د لما نځه
نه دی اوپر مذهب د شیخینو «فتوی د پیر وکنا بوده» او طحطاوي وائي هو المعتمد»
او د امام محمد مذهب دادی چې کنه لکه دباندی ځای ده» نو د دی مرداري د نورې مرداري
سره یو ځای کیږي حتی که مجموع د غه نجاست تر قدر د درهم بالا وو» مانع د لما نځ دی
او پریوله یه واجب دی» قال المصنف

لَا تَصِحُّ مَعَهُ الصَّلٰوةُ إِذَا وَجَدَ مَا يُزِيْلُهُ

نو نه دی صحیح سړو د هغه زائد نجاست لمونځ که د سړي سړو وو هغه څه چې د نجاست پزائل
کړي لکه اوبو یا په بهید ونکی شئ. **مسئله**: صحت د لما نځه مشروط په دوه شرطه دی
اول زائلو نکی د هغه نجاست چې تر قدر د درهم بالا وی. او د وهم چې سړی ته ممکنه
وی ازاله د هغه نجاست بیله لمځ والی د عورت په نیز د هیڅ چا» په اول صورت کې چې
مزیل د نجاست نه وی لمونځ د ده صحیح دی سړه د نجاست دی. او د هغه لما نځ ذمه چې
د ده پر ذمه نسته چې او به پیدا سی» ولې چې د لما نځ په وخت کې د قدرت پر ازاله د
نجس نه در لودی» او په دوهم صورت کښې خو کشف العوره حرام دی نو ده لره دا عذر دی
په عدم ازاله کښې د نجاست» نږه» قال المصنف

وَيُحْتَالُ لِإِزَالَتِهِ مِنْ غَيْرِ كَشْفِ الْعَوْرَةِ عِنْدَ مَنْ يَّرَاهُ

او د اسړي دی یو حیله وکړي د پاره د ازاله د هغه نجس بیله دی چې لمځ کړي عورت په نیز د هغه
چا چې د نه ګوري.

اللهم اغفر للمؤلف ولكاتبه ولوالديهما آمين

پوه سه: چې کله چې لید ونکی هغه ښځه وي چې ده ته یه جماع روا وه یا ماینه یا مینځ وه
وه ده. نو دې بیا د استنجاء نه پریږد دی که څوک عورت یه وهغوته لمځ سی» ط هـ ز

وَيُكْرَهُ الْاِسْتِنْجَاءُ بِعَظْمٍ وَطَعَامٍ لِلْاٰدَمِيِّ اَوْ بَهِيْمَةٍ

او مکروه د استنجاء په هډوکی» او د خورلک په شئ د انسان لکه د وه دی» او یا د چارپای لکه شپشتی یا واښه

وَالْاِجُرِّ وَخَزَفٍ وَفَحْمٍ وَزُجَاجٍ وَجَصٍّ وَشَيْءٍ مُحْتَرَمٍ

او د غږ رنګه مکروه ده په پخه خښته او په کودری او په سکرو یا کوئیله او په نبیښه او په چونه او په هغه شی

كَخِرْقَةِ دِيْبَاجٍ وَقُطْنٍ وَبِالْيَدِ الْيُمْنٰى اِلَّا مِنْ عُذْرٍ

چې محترم وی لکه د ریښمینه ټکر او په پښه وو او په ښیې لاس مکروه د عذر د سبب چې چپه لاس یه
خوږ وو» **پوه سه**: چې په هډوکی استنجاء وهل او د غږ رنګه پرخوشئیو او خشئیو
استنجاء وهل مکروه ده لوه وجه یه شرعی ده هغه دا چې په حدیث نبوی کښې داسی راغلی دی
چې بخاری او نور و کتابونه هم روایت کړي» لَا تَسْتَنْجُوْا بِالرَّوْثِ وَلَا بِالْعَظَامِ فَاِنَّهَا
زَادُ اِخْوَانِكُمْ مِنَ الْجِنِّ» تاسی استنجاء مه وکی په خوشئیو او نه په هډوکو. ولې چې
دا د وارې تو بنه او نفقه ستاسی د ورونړو د پیریانا نو څخه یعنی هغه وخت چې دوی
پیدا کړي خوشوی یا هډوکی. په هغه هډوکی داسی غوښه پرې پیدا سی لکه چا چې هیڅ
نه وی خندی خورلی نو پیریان یې خوری.

او خوشوی اوربشی وګرچې او یا پرونړ نو د دوی د واب (چارپایان) یه وخوری» دا معجزه ده
د آنحضرت صلی الله علیه وسلم» مړ» او بله وجه یه عقلی ده هغه دا چې په هډوکی غالباً کنه
خوږ ښی یا په زخمی کیږی. او خوشوی خو مردار دی. نو په هغه به بله مرداري څرنګه پاکه سی»
تفریع: د دی حدیث نبوی څخه داسی معلومه سوله چې پیریان خورلک لری او هغه
څوک چې د دوی ژوند په بوی سړه دی هغه خبره په مقابل کې د حدیث د باور وړ نه ده»

مسئله: په دی کښی اختلاف نشته چی پیریان مکلف په امر او نهی سره دی چی د قرآن مبارک سورة جن دی شاهد دی. او په احادیث مبارکه و کښی هم دوی مکلف والی لوی اثبات ستی. لکن اختلاف په دی کښی دی چی دوی لره ثواب په آخرت کښی ستی او که نه؟ حضرت الامام الاعظم په یوه روایت کښی په دی باب کی توقف کړی دی. او په بل روایت کښی داسی وائی چی ثواب د پیریانو خلاصون دی د عذاب څخه دی. او امام مالک او ابن ابی لیلی وائی چی دوی لره لکه عذاب چی ستی ثواب هم ستی. تفصیل د دی مسئلی په لویو کتابو کښی د فقهی شریفی او غټو کتابو کی د علم تفسیر مذکور دی. اوبل په طعام د انسان یا د چارپای چی استنجاء مکروه ده اول خو په طعام کی د انسان لوئ دی. اوبل په دوارو کښی اسراف دی ولی د غذا په غوښو لرلی طعام نه انسان خوری او نه چارپای. او په پخر خښته چی استنجاء مکروه ده سبب یه دا دی چی کُنه پوره نه پاکیږی او کی پاکوی کُنه دسری خوریږی. او د خزف ترجمه څوک په کودری کوی کوی نو غذا خو کُنه خوریږی. او مَراقی یه ترجمه په کشنکو شکوسره کړی. نو د هغو په استنجاء سره خو کُنه نه پاکیږی هنوز بی لاس هم مردار سی. او په سکرو چی استنجاء مکروه ده. وړه سبب چی کُنه یه وَر توره وی. او بنیښر یا گچ یا اهاك کُنه تاوان رسوی او بیل بیته ستوی ده کُنه نه په پاکیږی. او قیمتی تکره په استنجاء کی اتلاف د مال محرم دی.

مسئله: په مذکوره شیانو سره استنجاء سره د دی چی مکروه ده لکن که چا په مذکوره شیانو سره استنجاء وکړه نو هله روا دی. قال العینی فی شرح الهدایه. قال المصنف.

وَيَدْخُلُ الْخَلَاءَ بِرِجْلِهِ الْيُسْرٰى وَيَسْتَعِيذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيمِ قَبْلَ دُخُولِهِ

او داخلوی دی په بیت الخلاء یعنی داو مات خُونه، چی په افغانستان کی مکان ته وائی او په اردو یه ټټی بولی. او عصری خلك یه د کمود خونه بولی. چی په پښتو کښه او طلب د پناه د وکړی د خدای څخه په باره کی د شیطان تره تللی ده د باره څخه د خدای پاك، دعا

ش ننوتلو د بیت الخلاء ته. **پوه سه**: چی بعض محشیانو د لته داسی وئیلی دی چی د مخه تر دخول «اَعُوْذُ بِاللّٰهِ» وئیل هلته غواړی چی هغه ځای چی پرسوی داودس مات ذ باره وی. او په صحراء کی چی چکر وهی نو اَعُوْذُ بِاللّٰهِ دی هلته وائی چی د ځکالی راپورته کوی او عورت په ټوی بشکاره سوی انتهی.

عامی وائی چی د دغه محشی و دغه قید ته ضرورت نشته ولی چی دخول په «مکان» یا ټټی» کښی مستعمل دی، قال فی المراقی، وائی چی مراد د خلاء څخه د غوښو خونده ده. صح

مسئله: د مخه تر اَعُوْذُ بِاللّٰه دی دغه توری هم وَاَتِی بِاسْمِ اللّٰه» چی په حدیث صحیح ټوی کښی داسی راغلی دی «سَتْرُمَا بَيْنَ اَعْيُنِ الْجِنِّ وَعَوْرَاتُ بَنِي اٰدَمَ اِذَا دَخَلَ اَحَدُكُمُ الْخَلَاءَ اَنْ يَقُوْلَ بِاسْمِ اللّٰهِ» ترجمه: پرده په مابین کی د ستر گود پیریانو او د عورتونو د بنی اَدمو چی ننوزی یو ستاسی څخه بیت الخلاء ته دا دی چی وه وائی «بِسْمِ اللّٰهِ»

سوال: اَعُوْذُ بِاللّٰهِ وئیل په دغه وخت کی د دخول د بیت الخلاء ولی مستحب دی؟

جواب: عینی په شرح کی د بخاری شریف وائی چی چونکه انسان چی پرچکر کښینی نو ذکر د خدای نسی کولای نو شیطانان و دغه ځای ته انتظار کوی چی سَری و بیږه وی یا غلط فکرونه یه په زړه کښی وَرواچوی. نو څه وخت چی ده د مخه تر دخول د بیت الخلاء «اَعُوْذُ بِاللّٰهِ» وویل د شیطانانو نو څخه خلاص شو» او حدیث نبوی په روایت د ترمذی داسی راغلی دی «اِنَّ الْحُشُوْشَ مُحْتَضَرَةٌ فَاِذَا اَتٰى فَلْيَقُلْ اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَائِثِ» ترجمه په تحقیق سره د غوښو خونی ځای د حاضریدو د شیطانانو دی نو چی څوک هلته ورځی داسی دی و وائی چی پناه په خدای غواړم د نرانو د پیریانو او د ښځو د دوی» قال المصنف»

وَيَجْلِسُ مُعْتَمِدًا عَلٰى يَسَارِهِ وَلَا يَتَكَلَّمُ اِلَّا لِضَرُوْرَةٍ

او کښینی دی تکیه کوونکی پرچپه پښه او خبری دی نه کوی مگر د ضرورت د سبب څخه. مَراقی وائی چی پرچپه پښه تکیه کول د آسانی د سبب د دَوتو د چکر. **مسئله** د چکر په وخت کښی دی پښې آزادی سره ایښی دی. م ط. او د چکر و هلو په وخت کی بی ضرورته

خبری کول سبب د ناراضی د خدای دی» م قَالَ الْمُصَنِّفُ،

وَيُكْرَهُ تَحْرِيمًا اِسْتِقْبَالُ الْقِبْلَةِ وَاسْتِدْبَارُهَا وَلَوْ فِي الْبُنْيَانِ

او مکروه دی تحریماً مخامخ وجهت تهٔ د قبلی او شا گرځول وهغه ته یعنی طرف د قبلې ته یعنی په وخت کی د بولو او غوښو د پاره د تعظیم د جهت د قبلی، که څه اودس مات په بوه خوښکښ وی. په صحیح حدیث کښی راغلی دی چې آن حضرت صلی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَائِی: إِذَا أَتَيْتُمُ الْغَائِطَ فَلَا تَسْتَقْبِلُوا الْقِبْلَةَ وَلَا تَسْتَدْبِرُوهَا، چې ناسی ورسی چکر وهلو ته نو مخ مه گرځوی وقبلی ته اوهله شاوړ گرځوی، دې حدیث د حکم مطلق دی صحرا او خونی دواړو ته شامل دی. مصنفؒ وویله: وَلَوْ فِي الْبُنْيَانِ، غرض په رد پرهغه مذهب چې وائی چې دا کراهت په صحرا کښی دی په اباتی کی خو خونی دیوالونه پرده ده، لکن دا مذهب لکه چې د اطلاق څخه د حدیث مخالف دی نو دغه رنگه عقل یه هم نه قبلوی، ولی چې کراهت د استقبال د قبلې او استدبار دهغی خو د جهتې څخه د تعظیم د جهتې د قبلی دی نو کله چې خطاب نه وی عام او نه پرده خونه کښی؟

چې دیوالونه حائل او پرده دی په صحرا کښی خو هم لوی لوی غرونه د لیرې وطنو او نور ترمابین موجود دی. نو هغه ولی پرده او حائل نه گڼل کیږی، نو چونکه تعظیم د جهت منظور دی نو جهت په خونه او صحرا کښی څه فرق لري، **مسئله**: د نورو اوداسه په وخت کی استقبال د قبلی روادی اوکه نه؟ امام تمرتاشیؒ وائی مکروه نه دی، لکن امام طحطاویؒ وائی چې مقصود د تمرتاشی نفی د کراهت تحریمی دی، ورنه خلاف اولی دی ځکه سړی چې پښې د قبلی وخواته وغوځوی: کذا قال الحلبیؒ، **فائده**: د حضرت امامنا الاعظمؒ څخه څو روایت راغلی دی اول چې ظاهر المذهب دی دغه دی چې په کتاب کی ذکر سو یعنی چې استقبال او استدبار دواړه مکروه دی. کنز د فتح القدیر او بل روایت دادی چې مطلقاً مباح اوروادی، او بل روایت دادی چې بوائی استقبال مکروه دی، **مسئله**: که سړی مجبور سو چې یا به مخامخ قبلی ته کښینی یا به شا وگرځوی نو ګ

خو ایه ښه ده! امام قسطلانیؒ پس شرحه د بخاری او ملا علی قاریؒ په شرحه کښی د مشکوة وائی چې شادی وقبلی ته کړي. ولی استقبال د پیر بد دی. نو په استدبار کی نسبة تعظیم قبلی موجود دی

مسئله: په حال د جماع ودما ینی سړی استقبال د قبلی روادی اوکه څرنگه

جواب: ابن امیر الحاجؒ د امام نوویؒ څخه په شرح کښی د مسلم داسی نقل کړی دی چې دغه استقبال د قبلی وجهت ته په صحراء او بنیان کښی مکروه نه دی. نوویؒ په اخیر کښی ویلی دی، «وهذا مذهبنا ومذهب ابی حنیفةؒ ومذهب احمدؒ وداودؒ» قال المصنفؒ

وَيُكْرَهُ اِسْتِقْبَالُ عَيْنِ الشَّمْسِ وَالْقَمَرِ وَمَهَبِّ الرِّيحِ

او مکروه دی مخامخ کښینا ستر په وخت کی د چکر وهلو وتکی ته د لمر او سپوږمی او د هغه طرفته چې دهغی خوا باد چلیږی»

پوه سئ: چې مصنفؒ استقبال ذکر کړی اشاره یه وکړه چې شا گرځول وعین الشمس مکروه نه دی، او عین الشمس والقمر یه وایه اشاره یه وکړه ودې ته چې که چیرې یو محفوظ خای ووچې د لمر او سپوږمی تیکی نه لیدله» بیا استقبال مکروه نه دی» بخلاف القبلة فان المکروه استقبال جهتها» او مهب الریح ته استقبال مکروه دی سبب یه دادی چې باد نجاست بیرته پرده وړ پاشی، **مسئله**: که غوښو سړی کول او پردی بیریدی چې لمن به دی په غوښو کښته وسی یا نو استدبار هم مکروه دی» ط **فائده**: طبرانیؒ روایت کړی دی چې رسول کریم صلی اللهُ علیه وسلم فرمائیلی دی چې که څوک په هیره قبله ته مخامخ یا گرځونکی پرچکر کښینستی او بیا ور پیاد نو ځان یه بیرته د قبلی څخه چپ کړي د تعظیم د قبلی داسړی به چکر نوی ولا رسوی چې خدای به یه گناه ورو بخښی» لکن نهر الفائق والا یه انحراف واجب بولی» او نهایه والا وائی کی انحراف وذکر پرواه نه لری. ولی سهوه معفوده» او زیلعیؒ شارح الکنز وائی چې لږ انحراف هم کافی دی. **فائده** بنځی ته مکروه ده چې خپل کښنی پر پښو یا پرکموډ مخامخ وقبلی ته پر بولو یا غوښو باندی کښینوی او گناه یې دی په غاړه ده» او نه دی پالار او نه دی مور په اولاد حرام کالی اغوندی او نه دی حرام

خواړه پسه خوری» ط» او سبب دکراهت داستقبال الشمس والقمر دادی چی دادوه نورانی اجسام دلوبوایا تواو عملاما توښخه دقدرت دخلانی دی. مر» قال المصنف.

وَيُكْرَهُ اَنْ يَبُوْلَ اَوْ يَتَغَوَّطَ فِي الْمَآءِ وَ الظِّلِّ وَالْجُحْرِ

اومکروه دی چی سړی بولی کوی یا غل کوی په اوبو کښی» یعنی که څه هم جاری اوبه وی

وَ الطَّرِيْقِ وَتَحْتَ شَجَرَةٍ مُثْمِرَةٍ

اوپه سایه کښی دديوال یادرختی چی خلک ضرورت ورته لری، اوپه غار کی یعنی چی موږک یالړم یا بله خزنده پرې راووزی» اوپه لاره کښی چکر وهل مکروه دی» اودغه رنګه مکروه دی لاندی ترمیوه داری درختی.

پوه سه: چی مراد دسایه ښخه هغه سایه ده چی خلک ورته کښینی» قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: څان ساتی ددوو کارو ښخه چی سبب دلعنت دخلکو گرځی خلکو ووایل چی هغه کمدوو کارو دی» آنحضرت ورته وویل چی: هغه اودس ماتول اوچکر وهل دی په لاره کی دخلکو اوپه سایه کی دخلکو» رواه البخاری»

فوائد: دغه رنګه مکروه دی چکر وهل نبردی وخامته. اوپه اولی ته» اوپه اوحوض ته» اوپه عیدګاه دلمانځه په ځای کی. اودقافله په مابین کښی، اوپه خیمه کی، اوپه یا غوبو یا پسو په مابین کی» کذا فی درالمختار وغیره» ولی چی داتوله سبب دلعنت دی» اودغه رنګه مکروه دی په هغه ځای کی چی دجنازی لمونځونه پکښی ادا کیږی» اومکروه دی چکر وهل په مابین کښی دقبرو

پوه سه: چی لکه په سایه کښی چکر وهل مکروه دی دغه رنګه مکروه دی په هغه ځای کښی چی خلک په ځای کښی پرته وی ورته کښینی» لکن داتوله هلته چی دغه ځکه مباح وی. اوکه چیری دغه ځکه مملوک دچاوه نوهلته چکر وهل بیله اجازې دمالک حرام دی» ط» کذا فی شرح المشکوة»

فائده: که داسی ځای مباح وه چی حاضرو رته ورته نه وو هلته چکر وهل روادی. ابوداود او نسائی په سند سره کوی: چی رسول الله صلی الله علیه وسلم ووئیله: لَا يَبُوْلَنَّ اَحَدُكُمْ فِي جُحْرٍ» م

وَيُكْرَهُ الْبَوْلُ قَائِمًا اِلَّا مِنْ عُذْرٍ

اومکروه دی بولی پرولاړی مګرپه دعذر دسببه» سبب دادی چی په ولاړی بولو کولوسره بی غالبًا کالی یا بدن مړداریږی» په شرح کښی دمشکوة وائی چی نهی تنزیهی دی او لبعض وائی چه تحریمی دی» اوپه بنایه کښی وائی چی امام طحاوی وائی» لَا بَاْسَ بِالْبَوْلِ قَائِمًا **عذرونه** یادکښینستوځای نجس وی په صحیح حدیث شریف کی راغلی دی چی آنحضرت آتی سُبَاطَةَ قَوْمٍ فَبَالَ قَائِمًا» ددی سبب بعض علماء نجاست دمکان بیانوی. اوبعض علماء وائی چی درسول کریم صلی الله علیه وسلم پرمالا درووه اوبعض علماء وائی چی په زنګانه دآنحضرت تپ ووچی دهغه په سبب نه کښینستای

تنبیه: دغربو عقیده ده چی دمالا درد دپاره واحد علاج بول کول دی په ولاړ، قاله الشافعی» اوامام ابوحامد محمد الغزالی په احیاء العلوم کی وائی چی زین العرب وائی چی خلوښتو طبیبانو پریدی اتفاق کړی دی چی بولی په حمام کښی په ولاړی: دواده داویا ووه مرضونه»

پوه سه چی مصنف په مراقی الفلاح کی بعض مکروهات ذکر کړی دی. ۱ بیت الخلاء ته دی په هغه کالو کی نه ورځی چی پرې هغو کښی لمونځ کوی. اوکه هغه دلمانځه کالی وه نو دیرا حتیاط دی کوی چی څنډی نجس نه وی» لکن په باب الانجاس کی دنهایه داسی وائی چی بنه کار نه دی چی سړی به دبیت الخلاء دپاره جلا کالی استعمالوی» دروښیس وائی چی مراقی پرې حکم کښی لوی حرج دی» اوحضرت الامام زین العابدین څخه روایت دی چی ده دیر تکلیف کاوه چی بیت الخلاء دپاره بی جلا کالی اغوستل» وروسته یه دا کار پریښو اووی ویل چی دا کار نه دی کړی هغه چا چی ترما خیرو ویعنی رسول الله صلی الله علیه وسلم:

۲ اودغه رنګه مکروه دی داخلیدل بیت الخلاء ته چی دده سره یو کاغذ وغیره وی چی په هغه کښی نوشته وی نوم دخدای او یا بعض لیاتونه دقرآن» امام طحطاوی وائی چی په حدیث شریف کښی چی روایت په ابوداود او ترمذی کړی دی دحضرت انس څخه چی رسول الله صلی الله علیه وسلم چی بیت الخلاء ته تلی نو گتمی بی وکښنه»

یعنی د دی سَبَبه چی دهغی گتی نقش محمد رسول الله وو» قالَ الطیبیؒ په دی حَدیث کی دلیل دی چی واجب والی د گوښه کیدو د استنجاء وهونکی - نومړ د خدائ او نومړ د رسول ﷺ او قرآن د ځان څخه» اوابن حجرؒ وائی چی د دی حَدیث څخه دا استفاده کیږی چی مندوب دهغه شی چی محترم وی که نومړ د خدائ وی اوکه نومړ د رسول ﷺ او یاد ملکی کی چیری مخالفت وکړی مکروه دی. لِتَرْكِ التَّعْظِيمِ وَهُوَ الْمُوَافِقُ لِمَذْهَبِنَا» کمافی شرح المشکوة»

ونَقَلَ الطحطاویؒ عَن بعض الحذاقؒ: چی کراهت په هغه ځای کی دی چی دغه محترم شئ مستور اوپټ نه وی نوکی په جیب کښی وو ویا پرَوانسته» ونقل عن الفهستانی عن المنیة: چی افضل داده چی بیت الخلاء ته دی ته وړځی چی په لوستونړی کښی قرآن شریف وی» مگرنه که مجبوره وو» اوده زیات نه کړی دَه چی امید ستنه چی بیله مجبورۍ به هم گناه گار نه وی» یعنی په سَبب د دی چی قرآن شریف په لستونړی کښی پټ دَی» اوامام حموی رح هم دَغه خبره مَنلی وَه» ط ص۴۳ **تبصره**: دَدَغه فوق الذکر عُلماوو داقوال لوښخه حال دَهغو لپاره تعویذ ومعلوم سو چی په درّو یا پنځو پونښو کی پټ کړی بیا یه په جیب کی کوی» اویا یه ترمُوټه اویا یه په غاړه کوی» چی مکروه دی یا نه

وَيَخْرُجُ مِنَ الْخَلَاءِ بِرِجْلِهِ الْيُمْنٰى ثُمَّ يَقُوْلُ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ

اوراوځی بیاسی د مکانه ښخه راسته پښه اووځی وائی چی الحمدلله چی زما څخه لیری کړی

اَلَّذِیْ اَذْهَبَ عَنِّیَ الْاَذٰی وَعَافَانِیْ

هغه فضل شَیان یعنی غُوَل اوبولې. اوماته ئی عافیت راکړې دهغو ښخه. ځکه چی غذا او به که ټوله فضله یه بنده پاته سی. نوبنا جوړی خوبَه خواه مخواه پَیدا سی. او بعض وخت سبب د هلاك به وگرځی. اوکه ټوله بیله هضم کولو خارج کیږی، نود مریض ښه خوبه سی مگر بعض وخت به علت د هلاك اومرگ سی نوځکه حمد ویل مستحب دَی.

فَصْلٌ فِی اَحْکَامِ الْوُضُوْءِ

فصل دی په بَیان د احکامو د اوداسه کی. **پُوه سله**: چی اودس به ترغسل د مخه کړی. له دی سَبَبه چی په قرآن کښی اودس ترغسل د مخه دی. اوبل دا چی اودس د غسل جزء دی» اوبل دا چی احتیاج د اوداسه ته په پیړی ترغسل» م، ط»

فَائِدَة: علامه نوحؒ وائی چی اودس کول د دی امت مرحومه خاصه نه ده بلکه په تولو امتو کی اودس کول وو» لکن په حَدیث شریف کښی چی راغلی دی چی زما امت به په وَرځ د قیامت غُرّاو مُحَجّلین به وی» د اوداسه له سَبَبه» یعنی سَپین مخان بی وی» اوسپین لاسونه او پښی بی وی هغه خاصه د امت مرحومه دَه» ط»

فَائِدَه: اودس په مکه شریفه کښی فرض سَوی. اوآیة الوضوء په مَدینه مُنوره کښی نازل سَوی دی ط

اَرْکَانُ الْوُضُوْءِ اَرْبَعَةٌ وَّهِیَ فَرَائِضُهٗ

رکنونه د اوداسه څلور دی. اوهغه یه فرض کارونه دی» یعنی رکن او فرض په یوه معنا دی» په عُرف کی دفقه شریفی» د دوَلشِ باگناه وائی چی امام طحطاویؒ په شرحه کښی د مراقی الفلاح یو ډیر په زړه پوری تحقیق راوړی هغه دادی: فرض دوه قسمه دی. ۱ **فرض قطعی**: چه نه کوونکی یه مستحق د اور د دوزخ دی» اومنکر یه کافر دی. لکه نفس لمونځ، روژه، اودس وغیره. دلیل قطعی هغه دی چی ثبوت یه هم په یقینی توگه وی یعنی په شریعت کی لکه آیاتِ قرآنیه اومتواتر حدیثونه. اودلالت یه پرهغه حکم هم په یقینی دَوَل وی. یعنی د یو احتمالونه نه وی په کښی.

۲ **فرض ظنی**: چی تارك یه گناه گار اومستحق د نار دی لکن منکر یه کافر نه دی. هغه هغه فرض دی چی یا په آیا تو قرآنیه سره ثابت وی. چی هغه یقینی الثبوت دی. لکن احتمال د دیرو معناوو لری. اویا خو یه دلالت یقینی وی یعنی د احتمالونه نه وی.

یکښی لکن په ثبوت کی د شارع څخه شبهه وی لکه چې ودی ته په اصطلاح کی د احاد یې اخبار الاحاد وائی. یعنی چې نقل کوونکی یو یا دوه یا درې کسه وی مطلب دتواتر د مرتبې ته نه وی رسیدلی. د مثال په توګه نفس پریوله د مخ اوږد لاسو او پښو او مخ د سر» فرض قطعی دی چې په قرآن شریف کی په صریح عبارت سره ثابت دی» او په پریوله ترکمه ځایه پښې ترکمه ځایه مسح د سر خو نه قدر فرض ظنی دی چې په احاد یو سره ثابت دی» وعلی هذا القیاس نفس زکوة فرض قطعی دی او مقدار د نصاب په فرض ظنی دی **پوه سه**: چې بعض احادیث مبارکه ظنی الثبوت وی. ولې چې تواتر ته نه وی رسیدلی مګر صحیح وی او دلالت یې پر حکم باندې یقینی وی. یعنی صراحت پر حکم دلالت کوی د پرا احتمالات نه وی پکښې په دغه شان احاد یو سره وجوب او کراهت تحریمی ثابتیږی چې منکر یې کافر نه دی. مګر پریښو ونکی د واجب او فاعل د مکروه تحریمی مستحق د عذاب دی» او یو قسم احادیث داسی دی چې ثبوت یې د آنحضرت څخه ظنی وی» او دلالت پر حکم مخصوص یې هم ظنی وی. یعنی په یو خاص حکم کښې صریح نه وی بلکه احتمال د پیرو معناوو لری» پر دی قسم حدیثو سره سنیت، استحباب، کراهت تنزیهی ثابتیږی، چې د دی په پریښولو کی استحقاق د عذاب النار خو نه شته» لکن په وخ د قیامت ملامتیا پروئیل کیږی، او منکر یې کافر هم نه ګڼی: **فائده**: فرض پر دوه قسمه دی یو فرض عین بولی او بل فرض کفایی دی. **فرض عین** هغه بولی چې پر هر هر فرد او د بعض کسانو په اداء کولو سره د نور و غاړی نه خلاصیږی» لکه اوضو، او غسل، او لمونځونه او روژه وغیره» **فرض کفایی**: هغه فرضونه وائی چې پر مجموع انسانانو او مسلمانانو څخه فرض وی لکن پس اداء کولو د بعض کسانو د نور و غاړی خلاصیږی او کی هیڅ یو نه اداء نه کړی د ټولو غاړی بندی دی او ګناه کاره دی» لکه حفظ د قرآن کریم او د سلام، د جنازې لمونځ امر بالمعروف او نهی عن المنکر وغیرها» مما ذکر فی کتب الفقه

اللهم اغفر للمؤلف والمترجم ولکاتبه ولقارئ کتبه بیره احترفضل الحق حقانی غفرله

قال المصنف: **الاوّل غسل الوجه** اول فرض د اوداسه پریوله د مخ د ی

قوله تعالی: فاغسلوا وجوهکم» **مسئله**: «غسل یعنی پریوله هغه ته وائی چې او به د اندامه څخه وبهیږی او کم از کم دوه یا درې ځله ګمکی کښته توی سی. او بیول د اوبو پیله تقاطر کافی نه دی «مرطه» قال المصنف»

وحدّه طولاً من مبدء سطح الجبهة الی اسفل الذقن

او اندازه د مخ په اوږد والله د ابتداء څخه د سطحی د تندی د ی بیا تر لاندی د ژنی پورې

پوه سه: چې د اتعریف د مخ د طول، بنه دی ترهغه تعریف چې په هدایه کی کړی دی» چې طول د مخ د پیښتانو د ځنځه د ویښتانو د سر د ی تر اسفل الذقن پورې» ولې چې تندی په عرف کښې هرې پیژنی» او چې په ویښتانو د سر سره یې تعریف وکړی - نو اصلع چې د نر لپ ویښتان یې توی سوی وی لکه اکثره سپین ږیری - باید د سر مابین څخه ردده مخ وی او پریوله د مخ د هغه خوا شروع کوی. او اغلم چې تیم تندی پورې مثلاً ویښتان شنه وی باید د نیمائی څخه د تندی د مخ شروع او د هغه ځایه څخه مخ منتهی ردی د دوه سوالو جواب کړې دی هم شراح د هدایه وکړی دی چې د اتعریف په اعتبار د اغلب الناس دی» او اصلع او اغلم نادر دی» لکن بیا هم پر عبارت د مصنف د اسوال نه وارد یږی. نو له دی سببه مصنف په مراقی الفلاح کښې وائی» سواءٌ کان فیه شعرٌ اولا»

فائده: ذقن په لغت کی هغه ځای ته وائی چې لاندی د وه کړۍ غښې سره یو ځای کیږی» او پرې غود دوه کړۍ غښیو ږیره د سړی راشنه کیږی» کذا فی مراقی الفلاح

مسئله: چونکه ږیره د غود دوه اړکو څخه شروع کیږی. نو تر غود دوه اړکو لاندی که د چا ویښتان وه هغه په ږیره کښې داخل ندی پر یکول یې روا دی» قال المصنف

وحدّه عرضاً ما بین شحمتی الاذنین

او اندازه د مخ په پسور کی په مابین کی د دوه نرمیو د غوږونو دی.

پوه سه: چې شحمة په لغت کې هغه غوښه ده د غوږ وچې ښکې غوږ
په هغو غوښو پورې ځړوي. **مسئله**: هغه خالي ځای چې په مابین کې د پرې
او شحمة دی د هغه ځای پریوله هم فرض دی په صحیح روایت کښې. او امام
ابو یوسف د هغه ځای پریوله ساقط ښولې» مراقی الفلاح» قال المصنف

وَالثَّانِي غَسْلُ يَدَيْهِ مَعَ مِرْفَقَيْهِ

اودوهم رکن د اوداسه پریوله دی د لاسونو سره د څنګلو. **پوه سه** چې مصنف
په لفظ کې د «مَعَ» اشاره وکړه چې په آیت شریف کښې چې عبارت دَ «إِلَى الْمَرَافِقِ» راغلی
دی هورې غایت په حکم کښې دمغیا داخله ده یعنی پریوله د مرفقینو فرض دی» او امام زفر
په دی کښې مخالف دی» چې هغه پریوله د مرفقینو فرض نه ښولې. دلائل د دواړو مذهبونه
رد محتار کښې ملاحظه کړه آه» او پرې باندې قیاس کړه آیت مبارک چې د پښنو په باره
کښې راغلی دی یعنی «إِلَى الْكَعْبَيْنِ» قال المصنف

وَالثَّالِثُ غَسْلُ رِجْلَيْهِ مَعَ كَعْبَيْهِ

اودریم رکن د اوداسه پریوله د پښنو دی سره د ښکلو. بقوله تعالیٰ: «وَأَرْجُلَكُمْ إِلَى الْكَعْبَيْنِ» په نصب
یعنی په زور د «أَرْجُلَكُمْ» چې عطف پر مغسول سې. **سوال** لفظ د «أَرْجُلِكُمْ»
په یوه قرائت کښې په جر یعنی زیر د لام هم راغلی دی چې د هغه قرائت څخه داسې معلومیږي
چې أَرْجُلِكُمْ پر رُءُوسِكُمْ عطف دی. او وظیفه د پښنو مسح کول دی لکه شیعه کانو چې
وائي. اودوی پر پښنو مسحه روا بولي اود بده مرغه پر موزو مسح روا نه بولي نو دوی
دومره فراخه موزه جوړوي چې لاس ورننوزي تاچه پرې پښنو مسح وکړي.

جواب: مراقی الفلاح وائي چې داجر او زیر د سببه د جوار او همسایه والي د مجرور
دی چې «رُءُوسِكُمْ» او جر جوار په عربي ژبه کښې شائع دی» یقولون «جُحْرُ ضَبٍّ خَرِبٍ» فارسی شد سوراخ
سوړ دی چې «خَرِبٌ» د «جُحْرٌ» خبر دی او خبر خو مرفوع وي.

لکن چونکه په جوار کښې د ضَبٍّ چې مضاف الیه د جُحْرٌ دی واقع سو نو خَرِبٍ په زیر وویل
سو. ابن مالک په شرح کښې د عمدة وائي چې فقط واو عاطفه د پاره د جر جوار راتلای
سو. حاصل دا چې وظیفه د پښنو پریوله دی او مسح په نه ده روا. مګر هغه وخت چې
د سري موزې په پښنو وی» او نور الانوار کښې چې قرائت د نصب محمول دی پر حال د لخو
پښنو. او قرائت د جر محمول دی پر حال د دې چې موزې په پښنو وی عملاً بالقرائتین»
سوال: چې «أَرْجُلَكُمْ» تر وَامْسَحُوا بِرُءُوسِكُمْ د مخه راوړه سوی وای نو به په
متبادر توګه معلومه سوی وای چې وظیفه د پښنو پریوله دی نو څه حکمت الهی دی چې د مخه
په نه کړی **جواب**: خدائ اشاره وکړه و ترتیب ته د اوداسه داره کسانو» او علامه
زمخشري المعتزلي په تفسیر کشاف کې وائي چې مُوجِبُ مَنُوچې أَرْجُلَكُمْ پر قرائت د جر
عطف دی پر بِرُءُوسِكُمْ» لکن نه د دې وجهې چې وظیفه د پښنو مسح ده» لکه شیعه کان
چې وائي. بلکه د دې وجهې چې اسراف دی په پریولو کښې د پښنو نه کوی:

سوال اسراف خو د تولو اندامونو په پرې ولو کښې نارواد دی نو د پښنو تخصیص په
ولی وکړی **جواب** پر نورو اندامونو به نه تویَول کیږی نو د اسراف ګمان نه کیږی
اوپر پښنو خو اوبه د کوزی یا ګډوی را تویَول کیږی. نو ځای د ګمان د اسراف دی.
علامة زیاته کړیده چې توهم د دې چې وظیفه د پښنو مسح کول دی په عین آیت
کښې د دفع سوی دی. ولې چې خدائ غایت د إِلَى الْكَعْبَيْنِ راوړی ده» او په شریعه
شریف کښې د مسح د پاره غایت هیڅ ځای نه ده راوړه سوی» عاصي وائي چې زمونږ
د مذهب دلیل یعنی چې وظیفه د پښنو پریوله ده هغه حدیث صحیح دی چې» رسول الله
صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بو وخت اودس تازه کړی او پښنې یې پریولې او بیا یې داسې
وفرمائیله» هذا وضوء لا یقبل الله الصلوة إلا به» یعنی دا هغه اودس دی چې نه
قبلوی خدائ لمونځ مګر په دغه اوداسه»

اوبل دلیل هغه حدیث دی چې بخاری یې روایت کړی دی داسې راغلی دی چې په بعض
سفرو کښې د مازدیګر په وخت کې بعض صحابه اودس په تلوار تازه کاوه چې د پښنو

د پریولو پـه وخت کښې پندې وَچې پاتـه سوې وې نو آنحضرت ﷺ په لوړ آواز وفرمایل
«وَيْلٌ لِلْأَعْقَابِ مِنَ النَّارِ» اوسره ددې چې مقدار د مسحې چې دېرې ګڼې دې وشو
صحابه ؓ وو پریولې وې. قَالَ المُصَنِّفُ ؒ

وَالرَّابِعُ مَسْحُ رُبُعِ الرَّأْسِ اوخلورم مسحه کول دې د ځلورې حصې د سر.

پوه سه: چې سر څلورحصې دې ۱ ناصیه چې نزله ته وائې ۲ قفا چې د څخه
د څواحصې ته وائې ۳ ۴ قرنان «چې راسته اوچپه ټیک ته وائې. نو پرهر څلورو برابره
چې مسح وکړې د فرض ونماړې خلاصیږې مګر سنت طریقه مسح کول د ناصیه دې.

فَائِدَه: مسح په لغت کې تیرول د لاس دې پرشۍ باندې. اوپه شریعت کې تیرول د لاند
شۍ دې پر بل اندام **مسئله** که چېرې یوسړې لوند توکر پرسر واچاوه. اویا یه پر
لږ سر باران یا واوري اوریدل اوخلورم قدر د سر یه لنده سوه هغه کافي دي که لاس پر
تیر کړي اوکه نه «ط». **مسئله** که سړي لاسونه پریولې اوپرلاسویه لنده والی وو
د سر مسح یه پـه وکړه» مراقي والایه کافي بولي» لکن حاکم شهید یه کافي نه بولي بلکه ماء
جدید غواړي او ایضاح والا هم دغه صحیح بولي» اوامام کرخي ؒ په جامع کبیر کې وشیخین ؒ
څخه داسې روایت کړې دې «إِذَا مَسَحَ بِفَضْلِ غَسْلِ ذِرَاعَيْهِ لَمْ يَجُزْ إِلَّا بِمَاءٍ جَدِيدٍ»
اودغه روایت په ظهر اوهجتبی کښې هم صحیح ګڼل سوی دی. نوفتوی هم پردغه روایت ده

ښوونه: مصنف ؒ په فوق الذکر عبارت کې فرض قطعي اوفرض ظني سره یوځای کړې ده
ولې چې مطلق مسح د سر فرض قطعي ده لقوله تعالى: وَامْسَحُوا بِرُءُوسِكُمْ
اوبعد د سر فرض ظني دې» ولې چې امام مالک ؒ مسحه د قبوله سر فرض بولي. اوامام شافعي ؒ مسحه
د درو ویښتانو کافي بولي» قَالَ المُصَنِّفُ ؒ:

وَسَبَبُهُ اِسْتِبَاحَةُ مَا لَا يَحِلُّ اِلَّا بِهِ سبب د وداسه طلب اراده د مباح والی دې وکار
چې روا نه وې هغه کار. مګر په اوداسه سره. لکه مسح د مصحف شریف، لمونځ، طواف د کعبې شریفې

وَهُوَ حُلُمُ الدُّنْيَوِيِّ وَحُلُمُ الْأُخْرَوِيِّ الثَّوَابُ فِي الْآخِرَةِ

یعنی د مخه اودس د اول تر دغه کار حکم داود اسه دې په دنیا کې. اوله آخرې حکم داود اسه ثواب دې په راتلونکې
لکن چې په نیت د ثواب اودس وکړې **مسئله** که چا د پاره د څنګولو اندامو اودس تازه
کړې لمونځ خو پـه روا دې لکن ثواب یه نسته» لقوله علیه الصلوٰة والسلام» انما
الأعمال بالنیات» الحدیث رواه البخاری: یعنی شراح د حدیثو وائي چې ثواب د عملو په نیت
پورې اړه لري» قاله العینی ؒ قَالَ المُصَنِّفُ ؒ

وَشُرُوطُ وُجُوبِهِ اوشرطونه د واجب والی د وداسه **پوه سه** چې

اَلْعَقْلُ وَالْإِسْلَامُ دوجوب څخه مراد مکلف والی اوفرضیت دې. یو عقل دې ولې چې فرض والی بیله عقل په شرع کې نسته
اوبل شرط اسلام دې. ولې چې کفار پـه فروع د شریعت
لکه لمونځ اوروژه وغیره مکلف نه دې. **فَائِدَه:** دامذهب یو د درو مذهبو
څخه دې چې پرې فقهاوو اومتکلمینو مختار کړې دې» اوبل مذهب دادې چې کفار
مکلف دې په اعتقاد د فرائضو فروعیه وو اوپه اداء یه هم مکلف دې. بعض فقهاو و دا
مذهب صحیح ګڼلې دې» او بعض فقهاء ؒ وائي چې دوی مکلف پـه اعتقاد د فروعاتو او
پـه اداء یه مکلف نه دې. **تفریع:** پراول مذهب کفار وته صرف د کفر عذاب ورکول
کیږي. د لمونځ روژو وغیره نږې پر عدم اعتقاد اونه ږې پر عدم فعل عذاب سته»
اوپر دوهم مذهب دوی ته دری عذابه ورکول کیږي» پر کفر عذاب» پرنه اعتقاد
د فروعاتو عذاب» اوپرنه کولو د فروعاتو عذاب» اوپر دریم مذهب دوی ته دوه عذاب
ورکول کیږي. د کفر عذاب. اود نه اعتقاد د فروعاتو عذاب فقط»
قال الامام الطحطاوی ؒ: وَاعْدُدْ لَهَا أَوْسُطَهَا» یعنی دوهم مذهب دې را عدل دې.
د دلیلونو وائي چې د دې مسئلې لوې تحقیق پـه تلویح کې د علامه تفتازانی ؒ سته» اوپه مسلم
الثبوت کې د محب الله بهاري موجود دې. اوپه لویو فتاوو کښې د فقهې شریفې هم دا مسئله په تفصیل خپله
سوې ده.

قال المصنف

وقدرة على استعمال الماء الكافي

اوبل قدرت دی د مکلف پر استعمال داوبو. دونه اوبه چی بسیرۍ د پریولو د تهول انداموداوداسه **فائده** مراد داوبو نخه طهور اوبه دی» نه نجسی او نه مستعملی اوبه. ولی په هغوسره اودس نه دی روا **فائده**: مصنف لفظ قدرت ووایه پر استعمال داوبو. ولی که اوبه موجودی هم وی لکن مکلف یه پر استعمال قدرت نه لری په سبب د مریضی یا د بسمن د هغه سړی نخه هم تکلیف داوداسه افی دی بلکه تیمم دی وکړی: **ووجود الحدث**: او پنځم سبب یه موجود والی د بی اود سیادی. یعنی که سړی اودس د لمودی نو بیا نوی اودس پرفرض نه دی

وعدم الحيض والنفاس وضيق الوقت

اوبل نه وی موجود حیض او نفاس. اوبل شرط داوداسه واجبوالی تنګ والی د وقت دلمانځه ولی چی پرحائضه ښځی یا نفساء باندی لمونځ نه دی فرض نو اودس هم پری نه دی **پوه سه**: چی اودس کول په نفس دخول د وخت د لمانځه واجب موسع دی لکن په وخت کښی د وخت د تنګی واجب دی خواه نخواه چی دی ته واجب مضیق وائی.

وشرط صحته ثلاثة عموم البشرة بالماء الطهور

اوشرطونه د صحت داوداسه دری دی کښی ستل دی د تهوله پوست د هغه اندام چی په اوداسه کښی یه پریولو فرض وی نکه مخ لاسونه پښی» حتی که یوځای د ستنی اینبو لو یه قدر د وچ پاتی سی اودس یه نه دی صحیح» مر» په اوبو پاکو سره» قال المصنف

وانقطاع ما ينافيه من حيض ونفاس وحدث

اوقطع د هغه شی چی مانع داوداسه وی. چی حیض او نفاس او حدث دی.

تفریع که ښځه په وخت کی د جریان د حیض یا نفاس اودس تازه کړی هغه هیڅ اعتبار نه لری. او یا نر یا ښځه داود س تازه کولو په وخت کی پښکی یا ګوز واچوی وغیره هغه تیر سوی اودس یه اعتبار نه لری» قال المصنف.

وزوال ما يمنع وصول الماء إلى الجسد كشمع وشحم

اوبل شرط د صحت داوداسه لیرې کول دی د هغه شی چی مانع د وی د رسیدو نخه داوبو د بدن نه لکه موم یا واز که چې پر ځای نګولی وی. **بنهانه فائده**: پوه سه چی رنګ د نکرو نرو یا اسمه یا غوړو الی د واسلینو یا واز ګی مانع د صحت داوداسه نه دی بلکه مانع د صحت جرم دی د موم یا واز ګی وغیره» و د غه رنګه کی پر اندام داوداسه خطی وی او یا لاندی اوړه وه» اوداغه رنګه که د چا په پښه کښی وچ خیران وه کلک هغه به لیرې کوی ورنه غسل یه نه دی صحیح»

په ښځو کی آفت: چی نی اودس صحیح کیږی او نی غسل» هغه داسی چی د د یرو ښځو په ګوته داسی ګڼی وی چی په نرو ورو په په ګوته کړی وی» حتی چی هیڅ نه ښوروی او نی هم دوی په وخت کی داوداسه یا غسل ښوروی چی او به یه تر ګټی لاندی ځای نه ورسیږی» نو د اسې ښځو غسل اودس نه دی صحیح. او پر دی قیاس بنکړی د لاسو. غوږونو الی د غوږونو په غسل کی» او بل آفت دا دی چی بعض پښتین والا ښځی نوکان د ګوتو په **د ښځو د نو کانو رنګول** یوه رنګ سره وهی. چی هغه جرم لری یعنی جسم لری) او پر نوک باندی خښ غوړوی. د د اسی ښځو هم غسل اودس نه دی صحیح. **مسئله**: که د چا پښی چاودلی وی او هغه یه د کونډو روښځو د کی ګړی وی چی په ایستکو لو کښی د هغه کونډو روحرج او زحمت وی نو اودس یه روا دی **مسئله**: که د چا پر کم اندام درد وو. او پلستر یه پر اچولی وو نو که یه په ایسته کولو کښی د هغه پلستر حرج او تکلیف نه وو نو اودس یا غسل نه دی ورسره روا»

مسئله که دچا لاس مات وو او شکسته بند ورتړلی وُو، هغه سړی دی مسح کوی په اوس اوجنابت دوارو کښې پرهغه تړلی ځای؛

مسئله که سړی وغابن ته دسر و نرو پوښ وَرکړی وو لکه بعض مغرورین یا بسځی دغه کارکوی نود هغو غسل نه دی صحیح کی څرم اودس صحیح دی. ولی چی پریوله دلیل خولی په غسل کښې فرض دی اوپه اوداسه کی سُنت. **مسئله**: د بعض خلګو غابن دتنه چنجُو خوړلی وی یا درد کوی اوغابن یه دکښو دپاره زړه کیږی. نود اکثرو رسمی هغه یه ورډلکړی یعنی په مابین کی غاړه وکړی اوبیا په هغه غاړکی پوښ ورواچوی چی دپاکی په وخت کی دا کار وسی دآینده دپاره یه هم اودس صحیح دی او هم غسل ولی چی داخل دغابن پریوله فرض نه دی» قال المصنف

فصل

پوه سه چی مصنف هم په دی فصل کی بقیه واجبات اواحکام داوداسه آبیان کړیدی

يَجِبُ غَسْلُ ظَاهِرِ اللِّحْيَةِ الْكَثَّةِ فِي اَصَحِّ مَا يُفْتَى بِهِ

واجبه ده یعنی پراودس کوونکی پریوله د ظاهر هغه ږیری چی گنه وی یعنی چی ویښتانه یه پرې وی چی پوست هیڅ نه ترلاندی معلومیږی په دیر صحیح روایت کی چی فتوی په ورکول کیږی دی مسئلی دلیل دادی چی گنه ږیره په ځای کښې دما تحت پوست ولاړه ده او سړه دغسی ږیری پریوله د پوست او او به رسول وهغه ته حرج کلی دی» مصنف رامع په لفظ اشاره وکړه ومذهب ته دبعض فقهاوو چی وائی چی پریوله دثلث د ږیری او بعض وائی دخلرمی ږیری او بعض وائی سطح دتولی ږیری کافی ده چی دا روایات صحیح نه دی.

وَيَجِبُ اِيْصَالُ الْمَآءِ اِلَى بُشْرَةِ اللِّحْيَةِ الْخَفِيفَةِ

اوواجب دی یعنی فرض دی رسول دابو د پوست ته د سپکی ږیری

یعنی دمخ پوست ترلاندی معلومیږی چی هغه سړی ته په اصطلاح د پښتنو «خوکړ» وائی.

وَلَا يَجِبُ اِيْصَالُ الْمَآءِ اِلَى الْمُسْتَرْسِلِ مِنَ الشَّعْرِ مِنْ دَائِرَةِ الْوَجْهِ

اوواجب نه دی رسول داوبو هغه ویښتانو ته چی کښته خړپیږی تر حدود د دمخ» ولی چی هغه ویښتان نه مخ دی او نه دمخ بدل دی.

پوه سه: چی دځوړند و ږیرو ویښتانو د ږی په اتفاق فرض یا واجب خونه دی. او پر صحیح روایت مسح یه هم نه ده فرض اونه هم واجب اونه سُنت: لکن ابن امیر الحاج وائی چی پریوله مسح یه سُنت دی» او په منیة المصلی کی وائی چی مسح یه سنت ده وَاللهُ اَعْلَمُ»

وَلَا اِلَى مَا انْكَتَمَ مِنَ الشَّفَتَيْنِ عِنْدَ الْاِنْضِمَامِ

اودغه رنګه واجب نه دی رسول داوبو شوندانو هغه ځای ته چی هغه پوتیږی چی سړی خوله په عادتی ډول پټه کړی اوشوندان سره تول کړی. **پوه سه**: چی سړی چی شوندان تول کړی هغه حصه چی پټه سوه هغه تابع دخولی ده. اوچی بنکاره وه هغه تابع دمخ ده»

مسئله: دستر گو وه داخل ته او به رسول نه دی واجب که څه هم په غسل کښې وی ولی چی په دی کښې یوخوحرج دی بل دستر گو ضرر دی» قال المصنف

وَلَوِ انْضَمَّتِ الْاَصَابِعُ اَوْطَالَ الظُّفُرُ فَغَطَّى الْاَنْمِلَةَ

که چا گوتی سره جفتی وی په اصل خلقت کښې چی ما بین تی او به نه رسیدلی» او یا چا نوکان دونه اوږده سوی وه چی د گوتی سر یه پټ کړی وُو» عاصی وائی چی د بعض پیشینی او عصری نبغو دغسی نوکان عادت دی» دوی دا نه ښه بولی» قال المصنف

اَوْكَانَ فِيهِ مَا يَمْنَعُ الْمَآءَ كَعَجِينٍ وَجَبَ غَسْلُ مَا تَحْتَهُ

اویا وو یه هغه ځای کښې چی پریوله یه فرض وی یود اسی شی چی منع کاوه یه رسیده د اوبو د داخل پوست ته لکه لاندنه اوږه. واجب او فرض دی پریوله دهغه لاندی پوست ته

یعنی هغه مانع چې نوکان دی یا اوړه هغه به لری کوی. قال المصنف

وَلَا يَمْنَعُ الدَّرَنُ وَجُرْءُ الْبَرَاغِيثِ وَنَحْوُهُ

اونه منع کوی صحت داوداسې اوغسل خیره چې دنوك او وډیوتر مابین وي

پوه سه: چې بعض فقهاء داسې وایې چې داحکم د صحرایې خلکو دپاره دی چې دخولو اوختمو سره ئې سری کاروي. اود بازاری سړي دپاره مانع د صحت دی. لکن صحیح داده چې داحکم عام دی. اود غر رنګه یې نه منعه کوی دکیکو غټ چې پرانډام وي. اویا مثلاً کیکو لکه دچاوڼو

وَيَجِبُ تَحْرِيكُ الْخَاتَمِ الضَّيِّقِ

اوواجب دی ښوول د تنګی ګنمی چې اوبه پوښت نه ورسیږی. قال المصنف

وَلَوْضَرَّهُ غَسْلُ شُقُوقِ رِجْلَيْهِ جَازَ إِمْرَارُ الْمَاءِ

که چیری تاوان ورته کاوه پر یولړ دچاودو د پښو یعنی پس له دی چې سړی کنډری یا بله

عَلَى الدَّوَاءِ الَّذِي وَضَعَهُ فِيهَا

پکښی اچولی وي. نو روادی تیر یدل دلاندې په وخت کښی د پر یولو د پښو پس هغه دواء چې ده ایښی ده په هغه چاودو کښی

وَلَا يُعَادُ الْمَسْحُ وَالْغَسْلُ عَلَى مَوْضِعِ الشَّعْرِ بَعْدَ حَلْقِهِ

اونه دی راګرځوی مسح د سر او پر یولړ پرځای د ویښتانو. اونه دی راګرځوی پر یولړ پس

وَلَا الْغَسْلُ بِقَصِّ ظُفُرِهِ وَشَارِبِهِ

پس له پرې کولو د نو کانو او یا پرې کولو د ویښتو د ویښتانو. حاصل دادی که یوسړی اودس تازه کړي چې هم بې اودسه وي اوپر سر یې مسح وکړي او بیا یې سر وخرایه د مسح د سر راګرځول نه غواړي.

او یا یوسړی غسل وکړی که څه د جنابت وی اوړوسته یه سر وخرایه. او یا یه نوکان پرې کړه. او یا یې پر ویښته وغه له نوډ سر پر یولړ یاد ګوتو پر یولړ یاد پر یتوتې ویښتانو لاندې ځای پر یولړ نه غواړي، ددې ټولو مسئلو دلیل دادی چې پر یولړ یا مسح په ویښتانو سا قط سوه، وَ السَّاقِطُ لَا يَعُوْدُ، **مسئله** پس له غسله کې سر وخرایه، اګر حوله د غسل یعنی پر یولو مستحب دی، کنزالدقائق

فصل
فِي سُنَنِ الْوُضُوءِ

دروئیش وائی د سنت په بیان کښی په نړه پورې تحقیق، **پوه سه** چې سنت پس لغت کې مغه قول یا عمل دی که ښه وی او که بد! چې په حدیث کښی چې طبرانی یې روایت کړی دی:

آنحضرت صلی الله علیه وسلم فرمائی: مَنْ سَنَّ سُنَّةً حَسَنَةً، که چا پرانستل یوه لاره چې ښه وه، لکه چې فقراؤ ته چې دوډی ورکوی، یا یه پُل جوړ کړی یا یه دینی مدرسه جوړه کړه وغیرها، فَلَهُ أَجْرُهَا مَا عُمِلَ بِهَا فِي حَيَاتِهِ وَبَعْدَ مَمَاتِهِ حَتَّى تُتْرَكَ، اوکی کښې ښوول یوه طریقه بده نو پرده یه ګناه ده ترهغوچې هغه طریقه پاتیږی. مثلاً یوسړی په بازار کی دشرابو چښلو ځای جوړ کړی، یا دچرس ټکولو ساقی خانه جوړه کړی، یا دوی، سی، آر، تجارت کاوه او نور دده غه قسمه عملونه چې تفصیلاً یه بیان ګران دی. او سنت په اصطلاح کی دشرع شریفی، طَرِيقَةٌ مَسْلُوكَةٌ فِي الدِّينِ بِقَوْلٍ اوفِعْلٍ، هغه لاره ده چې تلپر کیږی په دین کی که په قول سره وی اوکه په فعل سره وی، مِنْ غَيْرِ لُزُومٍ، چې لازمه یعنی خواه مخواه غوښتونکی نه وی، په دی قید سره فرضی کار، خارج سو ولی چې هغه لازم دی. وَلَا إِنْكَارَ عَلَى تَارِكِهَا،

اونه په شرع شریفه کښی انکار کیږی پس پری ښوونکی یَه» په دی قید سره واجب وَوَلی چی پس تارك الواجب باندی انکار سته په شرع کښی» وَلَیسَتْ خُصُوصِیَّتُهُ» اونه وی په چا پوری خاص وی، پَه دی قید سره خواص دَنبی علیه السلام وَوَتلی» لکه صوم الوصال پوره دوَرځی اودَشپی روزه»

فائِدَه، سنت دوه قسمه دی. یوسنت مؤکده دی، چی سنت الهدی هم وَرته وَائی. اوسُنت ډَاتبه یه هم لُولی. سنت مؤکد هغه کار دی چی رَسُول کریم صلی الله علیه وسلم په اکثر واوقاتو کښی کړی وی او بیخی لږ یه یه بَعضی وقتو کی پری ایښی وی. چی دَغه ته د فقهی شریفی په کتابو کښی مجازًا مواظبت وَائی. لکه اذان، اقامت، اوجماعت، اود پنځو سره ډَاتب سُنت» اومضمضه او استنشاق وامثالهٔ»

وسُنَّت مؤکده حکم: علامه قهستانی وَائی چی دی په حکم کښی دَواجب دی. چی دنیا کښی طلب کُندی کیږی. فرق یه دا دی چی تارك ته دَواجب عقاب داور دی کا چیری بخښنه وَنه سی. اوتارك ته دسُنت مؤکده عتاب اوسَزا نه ش سَته په وَخ د قیامت» اوپه جوهره کښی چی دقنیه څخه نقل کړی دی وَائی چی تارك دسُنت مؤکده فاسق دی اومنکر یه مبتدع دَی. اوپه تلویح کښی وَائی چی ترك دسُنت مؤکده نږدی دپه وحرام ته. اود غه سَړی مستحق دی حرمان د شفاعت نبوی قَالَ عَلَیهِ السَّلام: مَن تَرَكَ سُنَّتی لَم یَنَل شَفَاعَتی»

پوښتنه: په حدیث صحیح کښی راغلی دی چی رَسُول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی» شَفَاعَتی لِأَهلِ الکَبَائِرِ مِن اُمَّتی» نوځرنګه ترك دسنت مؤکده سبب دحرمان د شفاعت نبوی دی سَره ددی چی ترك دسنت مؤکده گناه کبیره نه

جواب شفاعت نبوی دوه قسمه دی. یود پاره د بخښنی دگناه دی هغه شفاعت خوعام دی. هیڅ څوك گُندی محروم نه دَی. اوبل شفاعت دپاره د رفع دد رجو په جنت کی تارك دسُنت مؤکده ددی شفاعت څخه محروم دی. کذا قال شراح الحدیث

تنبیه: بزیه ترقده پوری دقبضی سنت مؤکد دَی. لکن بعض مسلمانان په

متابعت دکفارو خَرِیٔ یا یه مندې کوی» اویا یه دمانی دخوشحالی دپاره»

اوبل قسم سُنت زائده دی. چی ودې قسم اهل اصول الفقه مستحب اومندوب اوآداب وائی که خه هم بعض فقهاءٔ لکه صاحب محیط فرق ددی دری سره وی وَائی» لکن امام طحطاوی وائی» وَالأَولی مَا عَلَیهِ الأُصُولِیُّونَ» ددی مثال لکه مسح دَرقبه په اوداسکی یا نفلی لمونځ یا نفلی روژه، یا نفلی صَدقه» حاصل داچی سنت زائده هغه کار دی چی علیه السلام هم کړی هم پری ایښی وی اوفعل یه ترترك غالب نه وی» قَالَ المُصَنِّفُ

وَلَیسَ فِی الوُضُوءِ ثَمَانِیَةَ عَشَرَ شَیئًا

اوسنت دی په حال کښی داوداسه اتلس شیان.

پوه سَه: چی مصنف تصریح په ۱۸ اتلس شیانو سره د پاره داسانی دپیادولو پرطالب وکړه. ورنه سُنت داوداسه حصر په ۱۸ اتلس کی نه دی» مه» قَالَ

غَسلُ الیَدَینِ إِلَی الرُّسغَینِ

کی داوداسه ترښندو پوری» **پوه سَه**: چی پریوله دَلاسو خوسُنت دی که د خوبه راویښ سی اوکه دسره ویښ وی» لکن دَخوبه چی راویښ سی نو پریوله یه دیره اَکَّد سنت دی لکه چی په حدیث کی د بخاری داسی راغلی» إِذَا استَیقَظَ أَحَدُکُم مِن مَنَامِهِ فَلَا یَغمِسَنَّ یَدَهُ فِی الإِنَاءِ حَتَّی یَغسِلَهَا ثَلَاثًا» الی اخر الحدیث»

د فقهاوو اختلاف:

صاحبُ المحیط وَائی چی دوارِه لاسونه په جمعه کولو سره دری وَاره پریوله سنت نه دی. اوابن امیر الحاج وائی دَغسی کول سُنت دی په بحر رائق کی وَائی چی یوه پَلا دوارِه لاسونه دری وَاره پریوله اویا جلا جلا پریوله دوارِه راوادی. کی جلا پریوله نودی په چپه لاس لومبی وَغسی اوپه راسته لاس دی را نوی کړی چی هغه یه پریولئی بیا دی چپه لاس جلا پریمنځی یادی راسته لاس سره جوت

کړي دواړه دی پریمنځي. **فائده**: دلاسو پریولهٔ هلته سنت دی چې نجاست ظاهره نه وي پرباندی اوکه نجس وه نو بیایه پریولهٔ فرض دی.

نادره مسئله: امام طحطاوی په حاشیه کی وائی که دسړي لاسونه په ظاهري نجاست مردار وه او لوښی داوبو دونه غټ وو چې راکړه وائی ممکن نه وه. نوکه ده کولای سوای چې په دسمال یا دلنګوټي په شمله یا په خولهٔ اوبه دلوښی څخه راواخلی او لاس په پریمنځي خو پریښه» اوکه داګرده کار ونه نه کیدل نو تیمم دی وکړي اولمونځ دی ادا کړي او راګرځول دلمانځه یې هم پرې نسته» کذا فی الشرنبلالی. **فائده**: دا اول پریولهٔ دلاسو سنت دی لکن په ځای کی دفرض دی پریښی» کافی اوفتح القدیر وائی چې پریولهٔ په فرض دې» دمخه کولهٔ په سُنت دې» ط قال

والتسمیة ابتداءً اوبل بسم الله ویل وارد وه یعنی په ابتداء کی داوداسه **مسئله** کی استنجاء وهلهٔ نو ترکشف یعنی لمخ والی دعورت دی دمخه دی بسم الله وائی» اوبیا دی په نیز بعض فقهاوو دنور اوباسره دې هم وائی» اوکه استنجاء یې نه وهل نو د نور اوداسه په ابتداء کښی دی وائی. اولفظ د» بسم الله داوداسر چې دسلفو څخه منقول دی داسی دی. باسم الله العظیم والحمد لله علی دین الاسلام» اوبعض علماءٌ وائی چې افضل بسم الله الرحمن الرحیم» دی. ولی چې اودس امرذی بال په ابتداء کښی بسم الله الرحمن الرحیم د سنو وَل سوی دی»

لکن داسی سوال واردیږی چې دامرذی بال په ابتداء کی خو حمد ویلهم ارشاد نبوی دی. نوځکه بنایه دمجتبی څخه داسی نقل کړي دی» که څوك په ابتداء کی داوداسه داسی وائی» بسم الله الرحمن الرحیم باسم الله العظیم والحمد لله علی دین الاسلام دتولو احادیثو امتثال به وکړه سی»

اللهم اغفر لمولفه و لکاتبه و لوالدیهما کتبه احقر فضل الحق حقانی غفرله

دفقهاوو اختلاف

پوه سه: چې بسم الله په ابتداء کی داوداسه په نیز د مصنف حسن بن عمار بن علی الشرنبلالی: سنت مؤکد دی» اومبسوط والا یه هم سنت مؤکد بولي. اوپه محیط او تحفه کښی هم سنت مؤکد ګڼلی سوی دی» واختاره القدوری والطحاوی وصاحب الکافی».

اوعلامه مرغینانی همدارایه صحیح بولي. لقوله علیه الصلوة والسلام» لاصلوة الا لمن لاوضوء له ولا وضوء لمن لم یذکر اسم الله علیه» رواه ابوداود والترمذی والحاکم فی المستدرک اوصاحب هدایه وائی: چې اصح یه داده» بسم الله ویل مستحب دی. اوشارحانو یه وجه ضعف دحدیث مذکور بیان کړی دی» لکن امام طحطاوی وائی چې د دی حدیث طرق دروایت ویږدی» نو درجه ته د حسن حدیث رسیږی» اوپه حدیث حسن سنیت ثابتیږی» حتی چې کمال الدین ابن الهمام په دغه حدیث سره وجوب بسم الله ثابت کړي دی: والله اعلم

مسئله: که دسړي څخه په ابتداء کی داوداسه بسم الله ویل هیڅ سوه بیایه په مابین کښی داوداسر وویل آیا سُنت یه پرځای کیږی که نه؟ **جواب** مراقی وائی چې سُنت یه نه پرځای کیږی اوپه سراج اوجوهره کښی وائی چې بسم الله دی په مابین کی داوداسر وائی. ولی چې سُنت که فوت سوادې اوداسر پرځای سی» ط، م

والسواك فی ابتدائه ولو بالاصبع عند فقده

اوبل سنت داوداسه» مسواك وهل دی په ابتداء کښی داوداسر که څوك په ګوته سره وی په وقت کښی دده چې مسواك نه وی» **پوه سه**: چې لفظ ده سواك سره په زیږد سین هغه لرګی ته هم وائی او فعل ته د وهلو د هغه پرغاښونو باندی هم وائی دلته دغه معنا مراد ده»

فضائل د مسواك

په حدیث صحیح کی په روایت د بخاری رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی: لَوْلَا اَنْ اَشُقَّ عَلٰی اُمَّتِی لَاَمَرْتُهُمْ بِالسِّوَاكِ عِنْدَ كُلِّ صَلٰوةٍ» یعنی په نیزد اوداسه دهر لمانځه لکه چی په بل روایت کښی داسی راغلی دی عند کل وضوء» او په بل روایت کښی داسی راغلی دی «اَنَّ كُلَّ صَلٰوةٍ بِهٖ» هرلونځ د مسواك وهلو ځی. تَفْضُلُ سَبْعِيْنَ صَلٰوةً بِدُوْنِهٖ» بالا دی تراویا لمونځو چی بی مسواك وهلو وی»

فائده: مسواك بد نرم پاستهٔ لرگی ځخ به وی. پند والی بی په قدر د گوتی وی او اوږد والی به ۴ په ابتداء کښی یوه لوړښت وی. او رنځ به د پیری نه لری. او کوږ به نه وی، اکثر فقهاء پردی دی چی مسواك دی په وخت کښی د مضمضه وی» او بعض وائی چی ترتوله اوداسه دی د ځخ وهی» اوداحنافو مذهب دادی چی مسواك وهل د سُنتو ځخ داوداسه دی» اواهل ظاهر وائی چی د سُنتو ځخ د لمانځه دی»

مسئله: مسواك وهل بی اوداسه مستحب دی کی د خولی بد بوی تلی» او بل چی د خوبه راویښ سی او یا کوږ ته وړځی یا اجتماع ته د خلگو وړځی. او په وخت د قرائت د قرآن یا علم حدیث» د حضرت الامام الاعظم ځخه روایت دی چی مسواك وهل د سنتو ځخ د دین دی. نو هر وخت په وهل ښه کار دی. قَالَ عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ: اَلسِّوَاكُ مُطْهِرَةٌ لِلْفَمِ مُرْضَاةٌ لِلرَّبِّ: مسواك وهل پاکوونکی د خولی دی او سبب د رضاء الهی دی. امام زیلعیؒ په شرح کښی د کنز وائی چی صحیح داده چی مسواك وهل مستحب دی، دلیل یی وائی که موږ احادیث صحیحه چی تهولو صحاح کتابونو په روایت کړی او په پرله کثرت سره احادیث په باره کښی د مسواك راغلی دی مطالعه کړو. نو بایدچی قول د زیلعیؒ تائید نه کړو. اوسره ددی چی مَتنونه یه سُنت بولی» او بعض علماء په دی قول د صاحب هدایهؒ خطاوتلی دی چی وائی. اَلَاصَحُّ اَنَّهٗ مُسْتَحَبٌّ، مگر د دی عبارت مراد امام طحطاویؒ داسی بیان کړی دی» یعنی فی الوضوء ومُطلقًا»

مسائل د مسواك

مسئله: مسواك دی ځخه تر استعمالولو لوندکړی **مسئله:** اوښلی مسواك د ملوډی پری مینځی ورنه شیطان یه ښکوله وهی» **مسئله:** مسواك به اول وار تر لوښت بالا نه وی اونه کم. ورروسته په کراړ کراړ که کشنی سی پروا نه لری **مسئله:** د مسواك لرگی دی تریخ وی. ولی چی داسی لرگی بلغم قطع کوی اود سړی سینه پاکوی. **مسئله:** که دسړی وَړی ضعیف وی اود هر اوداسه د مسواك وهلو ځخه پرهری ولی د نقصان بیره وه نو پردایسی سړی همیشه والی لازم نه دی بلکه گاهی گاهی وهی» ط، ص۵۳ **مسئله:** که غاښونه یه کښلی وه یا ختلی وه هغه دی د مسواك په ځای کی نرم تکړی یا بته گوته یا ورروسته گوته په وری پوری وهوږی د مسواك ثواب خدای ورکوی» **مسئله:** د بنځی وَړی چونکه ډیری ضعیفی دی نو بنځه دی مسواك په ځای کښی ژراولی نه وړی. **مسئله:** که بنځه په عادتی توگه ژراولی نه وړی او مسواك د ثواب د پاره یه نه ژروی هغی ته خدای ج ثواب نه ورکوی» لانه قد وَرَدَ «اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ» رواه البخاری»

د مسواك نیولو طریقه:

مسئله: کیفیت د مسواك د نیولو طریقه دا راسته لاس کشنی گوته دی تر مسواك لاندی وَنسی. اوښه گوته د مسواك تر سر لاندی وَنسی، اوهغی دوی گوتی دی پر مسواك سر یزه وَنیسی» **مسئله:** مسواك دی د وَهلو په وخت کښی په موته کښی نه نسی، چی سړی ته مواسیر پیدا کیږی. **مسئله:** په پرله پسی دی هم مسواك نه وهی چی بیا یه توری غټیږی **مسئله:** مسواك دی پرعرض د غاښونو وهی نه پر طول د هغو ولی چه وری ټاوانی کیږی» **مسئله:** مسواك دی د غاښونو پرلاندی اوپر د ننه دواړو وَوهی» اود خولې په کنجانو کښی اوپه لوړ تالو او کښته تالو دواړو کښی وَوهی. **مسئله:** مسواك دی زبیښی نه. ولی نه بایده په ستر گو روند سی، **مسئله:** هغه ناری چی په خوله کښی د سړی وی پس له مسواك وهلو ځخه اوویښه

په گډه نه وی هغه دی تیری کړی چې د غه ناړی و ۰ اتیشك ۰ او ۰ پښې ۰ ته گنه
سوی او هر مرض دواده ما سوا د مرګه ۰ ط ۰ **پوه سله**: چې شیخ احمد الزاهد
فضائلو کښې د مسواك یو کتاب تصنیف کړی دی نومړیه ۰ تحفة الملائك فی فضائل السو
په هغه کتاب کښې وایی: من فضائله ما روی الائمة الاربعة عن علی و ابن عباس
عطار ۰ علیکم بالسواك ۰ تاسی لازم وګرځوی په ځان د مسواك وهل ۰
فلا تغفلوا عنه ۰ غفلت مه ځندی کوی ۰ و أدیموه ۰ او همیشه توب پر وکړی ۰ و
فیه رضی الرحمٰن ۰ چې په مسواك وهلو کښې د رضا د رب جل شانه ۰ او د چنده ک
هغه لونځ چې مسواك یه وهلی وی تر ۹۹ مثله پوری بلکه تر ۷۰ مثله پوری ۰ او هغ
توب پر مسواك وهلو باندی فراخی در زق او د غنی ۰ او اسانی در زق په پیدا کولو کښې
فائده ده ۰ او خوله یه خوشبویه کیږی او وری ټنګیږی او د سر درد یه لیږی
او د سر ګونه به ئې پرخپل حال وی یعنی یو رګ چې ساکن وی حرکت به هغه نه کوی ۰ او چ
متحرك وی هغه به ساکنیږی نه ۰ او بلغم یه لیږی کوی ۰ او غاښونه ټینګوی
او ستر ګو ډیدز یا توی (تیزه وی) ۰ او معده په بنه قوت سره پالنه د بدن کوی
او سړی ته فصاحت د ژبی او قوت د حفظ او عقل ورکوی ۰ او زړه ډاډه
وسوسو څخه خلاصوی ۰ او نیك عملونه یه زیاتیږی او یفرح الملائکة ۰
او ستړی مسی ورسره کوی په سبب د نور د مخ یه ۰ او ملائکه ورسره ملګری
وی تر لمانځه پورې او طلب د بخښنی کوی د ده ته ملائکه د عرش ۰ او مسواك
وهل هضم کوونکی د طعام دی ۰ او د اولاد د ډیروالی سبب دی او طلب د بخښنی
یه کوی انبیاء او رسولان علیهم السلام ۰ او مسواك وهل په غضب کی اچوونکی د
شیطان دی او شړونکی د شیطان دی او ذهن صافوونکی دی او بدن ته
قوت ورکوی پر عبادت د خدای او حرارت مضبوط بدن څخه لیږی کوی ۰ او پل
صراط به لکه برق داسی تیریږی او وینښته به یه ژر نه سپینیږی ۰ او عمل نامه
په روځ د قیامت په ښی لاس ورکول کیږی او ملائکه قوت ورکوی او کلمه شهاد

یه وخت د نزع ور پیادیږی او د کلمه ئې په آسانی سره وی ۰ او غاښونه به ئې
سپین وی او د خولی بی بنه بوی کمی ۰ او ژبه ئې په خبرو کښې تیزه وی ۰ او
حرکت ئې ډیر وی او طوبات ئې فاسده کم وی ۰ او ستر ګو نظر ئې تیز وی
او نوی ښونه د نښو عملو ئې مضاعف وی او مال او اولاد ئې مخ پر ډیریدو وی
او مسواك وهل کهمك دی پر پورې کیدو د حاجتو د ده ۰ او په قبر کی ده ورته فراخی وی
او په لحد کښې به انیس ورسره وی ۰ او ده ته لیکلکیږی ثوابونه د هغو کسانو چې
مسواك یه نه وی وهلی په دغه وړځ ۰ او خلاص به وی ده ته د دوزخ
وتقول الملائکة او وائی به ملائکه په حق کی د دغه سړي چې مسواك یه خپل عادت
گرځولی وی ۰ چې د بے سړي اقتداء په انبیاء علیهم السلام پسی کړیده ۰ او ترڅو
په وی وده ته د دوزخ ۰ او نه به وزی د دنیا څخه مګر طاهر او پاك ۰ او ده
ته د راځی ملك الموت مګر په هغه صورت کی چې د خدای دوستانو ته ورځی ۰
او د دنیا څخه به وزی ترڅو چې ده ته یو غرب او به د حوض کوثر د نبی علیه السلام ور
نه کړی ۰ او مسواك وهل صفا کوونکی د ځولی ۰ او راضی کوونکی د رب جل جلاله
ښه ما فی الکتاب المذکور ینقل الامام الطحطاوی ۰ وقال فی ۰ چې د افضائل
بوله روایت سوی دی ۰ د آنحضرت څخه بعض په مرفوع حدیث او بعض په موقوف
حدیث که څه د بعض د دغو حدیثو په اسناد وکښې څه خبری محدثینو کړی دی ۰ لکن
د عمل د پاره کافی دی ۰ ولی چې په حدیثو شریفه وو کی راغلی دی چې ځانته ورسیږی خبر د عمل
د ثواب نو سړي هغه کار د پاره د طلب د رضا د خدای وکړی خدای ثواب ورکوی ۰ که څه هغه خبر
درست او صحیح نه وی ۰

د رولیش وائی چې غرض د مصنف د تحفة السلام ۰ په بیان کښې د دغو فوائد د مسواك
وهلو چې وه ۰ ته رسیږی ۰ صرف باعث کول دی د مسلمانانو د مسواك وهلو ته ۰ ولی چې
د ډیر عوام بلکه بعض طلباء او علماء کلك عزم د مسواك وهلو سره په هر او داسه کی نه لری ۰ نو دا
سوال نه پیدا کیږی چې په دغو خواصو کی د بعضو په مآل کی یوشی دی ۰

یایوه خاصه بلی خاصی ته مُستلزمه ده نودونه دیروالی ته ضرورت څرګوه، داوبو پا
مضمل په باره کښی د مسواك وَهلو قَالَ المصنفؒ

وَالْمَضْمَضَةُ ثَلَاثًا وَلَوْ بِغُرْفَةٍ

اوبل سنت
داوداس

په خوله اوبه لغړول دی که څه هم دیوی لپی څخه وی. په حدیث مبارك کښی
راغلی دی، تَوَضَّأَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثًا وَاسْتَنْشَقَ ثَلَاثًا
يَأْخُذُ لِكُلِّ وَاحِدَةٍ مِنْهُمَا مَاءً جَدِيْدًا، یعنی آنحضرتؐ اودس تازه کاوه نویه پخوا
اوبه و لغړولی دری واړه اوپه یوه یه اوبه و لغړولی دری واړه. اودهر واړه دپاره
نوی اوبه اخستلی،

سوال: مصنفؒ وویل که څه هم دیوی لپی څخه وی یعنی دیوی لپی څخه دری واړه اودهر یوه
ولغړولی اوپه حدیث کښی چی تیر سو آنحضرت دهری پلا دپاره نوی اوبه اخستلی

جواب په مضمضه کښی اصل په خوله لغړول یوسُنت دی او تکرار داوبو پلا
سُنت نوح مصنفؒ مراد دا دی چی دیوی غړفی څخه اصل سُنت پرځای کیږی که څه
هم سُنت د تکریر پاته سو. قَالَ المصنفؒ

وَالِاسْتِنْشَاقُ بِثَلَاثِ غُرَفَاتٍ

اوپه دی پریمنځی په درو لپو سره، **یوه سنه**: چی استنشاق په لغت کښی
کشول داوبودی په هواء دپزی وپزی ته، اوپه اصطلاح کښی شرع شریف رسولی
داوبودی دپزی تر نرمه کانو پوری، یعنی کشول داوبو په هوا دپزی په شرع کښی شرط
دسُنت نه دی کذا فی النهر، **یوه سنه** څرسبب دی چی مضمضه دری واړه په
یوه لپه روانه اود استنشاق دپاره څواه مخواه دری لپی غواړی **جواب** فرق
یه دادی چه شوندان دخولی پر بعض اوبو اختلود لپی څخه سره تولیږی نو پاته اوبه
به په لپه کښی نه مُستعملیږی، اوپه دغسی نده پاته اوبه مُستعملی گرځی، کذا فی البحر
والنهر والشرنبلالیه،

سوال: په حدیث صحیح کی د بخاری وغیره داسی راغلی چی آنحضرت صلی اللّٰه
علیه وسلم یوه لپه اوبه واخستلی څه یه پخوله کښی واچولی اونوری په پزه کی یعنی په
هغه لپه مضمضه او استنشاق وکړی اودوه واړه یه نور داغسی وکړه **جواب**
په هغه شرح د بخاری کی والی چی دافعل دعلیه السلام دپاره دبیان دجواز دی
یعنی چی داسی هم روا ده او اصل سُنت خوهغه وو چی بیان سُو:

یوه سنه: که سړی دیوی لپی څخه اول په پزه څه اوبه ولغړوی اونوری
په خوله داسی روا ده اوکه څرنګه **جواب** نده روا یعنی استنشاق
په صحیح دی مضمضه یه نه ده صحیح، ولی چی موږ وویله چی دپزی څخه بآ
اوپه مُستعملی گرځی. اوپه مستعملو اوبو نه سنت پرځای کیږی اونه فرض
کما عُرف صدر الکتاب،

فرع: که سړی دجنابت په وخت کښی دغسی وکړه نود مضمضه دفرض والی غاړی نه
خلاصی. قَالَ المصنفؒ

وَالْمُبَالَغَةُ فِي الْمَضْمَضَةِ وَالِاسْتِنْشَاقِ لِغَيْرِ الصَّائِمِ

او مبالغه دی کوی په مضمضه کښی اوپه استنشاق کښی، لکن غیر د روژی والا څخه
یعنی هغه دی مبالغه په یو کښی نه کوی کی څه هم روژه نفلی وی. ولی نه بایده
اوبه یه دخولی یا دپزی رَخواخځه حلق ته ولاړی فسی، او روژه ماته نه سی،

پوه سنه: چی مُبالغه په مضمضه کښی داده چی اوبه په خوله کښی وگرځوی
اوغرغره یه کړی، اومبالغه په استنشاق داده چی اوبه دپزی په هوا پورته کش
چی تر نرمکانو یا لوړ ورسیږی، **مسئله** مبالغه کول په مضمضه او استنشاق
کی په اړه اسه اوغسل دواړو کی سُنت ده، وَهُوَ الصحیح او بعض فقهاءؒ وائی چی
په غسل کی واجب ده،

اللّٰهم اغفر لکاتبه وللمؤلف آمین.

امام طحطاوی وائی چې مضمضه او استنشاق سره د سُنت والی پراوه ستونزه
مشتمل دی ۱ ترتیب یعنی خوله د مخه پریوله اوپزه وروسته، ۲ هر یو دری
واره پریوله ۳ نوی اوبه دهری پله دپاره اخستل، ۴ اود واړه دې په داسې
لاس کوي ۵ مبالغه په دواړو کی ۶ دخولی اوبه بیرته تُوکل، ۷ پزه پاکه
نو دی سببه مضمضه تر استنشاق د مخ سوله. قال المُصنف.

وَتَخْلِيلُ اللِّحْيَةِ الْكَثَّةِ بِكَفٍّ مِّنْ مَّاءٍ مِنْ أَسْفَلِهَا

اوبل سُنت داوداسه گوتی داخلول دی په هغه ږیره کښې چې گنړه وی یعنی پس له
دې واړو پریولو څخه په یوه لپه داوبو لاندی د خوا څخه د ږیرې. یعنی یوه
لپه اوبه دی واخلی اولاندی تر ږیرې دی گوتې په ږیره کی داخلی کړی
پُوه سه چې مرواړی چې قول دامام ابی یوسف دی. او صحیح روایت دامام
محمد څخه هم دی. ولې چې په حدیث کی دانس چې ابوداؤد یې روایت کړی دی
داسې راغلی دی. «كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يُخَلِّلُ لِحْيَتَهُ» اوا
معلومه خبره ده چې ترمذی په شمائلو کی د رسول الله صلی الله علیه وسلم وائی
چې ږیره مبارکه د علیه السلام گنړه وه او د پیرو لیبتان یه وه. اوحضرت الامام
الاعظم تخلیل د ږیرې فضیلت بولي. قال المصنف.

وَتَخْلِيلُ الْأَصَابِعِ

اوبل سُنت داوداسه خلالول دی د پولو
گوتو دلاسو یعنی د لاسو اوپښو. لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ السَّلَامُ: مَنْ لَمْ يُخَلِّلْ أَصَابِعَهُ
بِالْمَاءِ خَلَّلَهَا بِالنَّارِ.

كَيْفِيَّتِ د تَخْلِيلِ

دلاسو گوتی دی بعضو په بعضو کښې داخلی کړی. اود پښو د گوتو خلالول داد دی

چې یوه گنړه د لاس دی په مابین د گوتو د پښو ووهي. **مسئله** که پښې په جاري
اوبو کښې داخلی کړي بیا تخلیل نه غواړي. «مراقی» «ط» **مسئله** که څوم فتاوی
قاضیخان د تخلیل د گوتو د پښو یو خاص کیفیت بیان کړی دی اوامام نووی وغیره کیفیت
د تخلیل ترجیح هم ورکړی ده. لکن کمال الدین ابن الهمام اوابن امیر الحاج پرهغه
کیفیت رد کړی دی اومطلق خلالول یه خوښ کړی دی. قال المُصنف.

وَتَثْلِيثُ الْغَسْلِ

اوڅلورنگه سُنت دی دری واره والی د پریولو یعنی
د مخ او لاسواو د پښو **پوه سه** چې په بحر رائق اوتولو کتابو کښې دفقه
د حنفیانو والی چې دری واره پریوله مستوعب یعنی د ټولې اندام سُنت دی. غیر گو
د حنفیانو اعتبار نسته. حتی که سیوا وس کوونکی په یوه غبرگه بعض مخ یا لاس یا پښه
د ټولو له. اوپه بله غبرگه یه بل بعض د هغه اندام پریولی. اوپه بله غبرگه بل حصه
د اندام په پریوله. دا دې سره غبرگی دیوه واړ پریولو حکم لري. یعنی سُنت نه پرځای
کیږي. اکثر عوام بلکه بعض بې تقوی ملایان هم دغسې کوي.

فائده: اول واړ پریوله فرض دې اودوه واړ نور سنت مؤکد دی پس
هم صحیح مذهب. کذا فی السراج واختاره فی المبسوط وایده فی النهر. هکذا قال الطحطاوی
پښوونه: په حدیث مُبارک کی د اسې راغلی دی. «مَنْ زَادَ أَوْ نَقَصَ فَقَدْ
أَسَاءَ وَظَلَمَ» ترجمه: که چا زیاتوب وکړي تر دری واړه هغه ترحد مسنون تجاوز
وکړي یعنی گناه کاردی. اوکه کم والی وکړي تر دری ۳ واړه هغه ظلم وکړي پرځان
په سبب د پرې پښولو د سُنت: په مراقی الفلاح کی وَإِنَّمَا لِضَرُورَةٍ»
مراد د ضرورت څخه دادی چې بالکول یه د زړه د اطمنان د پاره وي.

ښکاره فائده په بعض کتابو کښې د فقه شریفې وائي: که بالکول د پریولو که
په نیت د «وُضُوءٍ عَلَى الْوُضُوءِ» وه نو پروا نه لري. ولې چې
په حدیث شریف کی راغلی دی چې «وضوء عَلَى الوضوءِ» نور دی. لکن په بحر رائق کی

وائی چې وضوء علی الوضوء په یوه مجلس کی هلته نور دی چی په اول او اواسه لیسو عبادت وکړی نکه، لمونځ، سجده تلاوت، مس د مصحف شریف، یا تسبیح، اولیو یا نور، ورته بیله دې. تکرار الوضوء مکروه دی لانه اسراف محض» کذا ذکره الحلبی

قال المصنف **وَاِسْتِيْعَابُ الرَّأْسِ بِالْمَسْحِ مَرَّةً**

اویل سُنت داود اکثر ایستل دی د تولو سر په مسح سره یو وار، یعنی ربع او څلور درخو مسح کول یې فرض وه اود تولو سر مسح کول سُنت دی:

فائده: کیفیت د مسح د تولو سر نکه چې په عنایه کښی د مستصفی څخه یې نقل کړی دادی، چې د دواړو لاسو ددی د پای گوتی دی پر اول حصه د سر کښیږدی اوبیا په گوته اوپه پسی گوته او وُرغوی دی د سره لیږی کړی بیا دې کش کړی دواړه لاسونه ترخټه پورې. اوبیا دی ورغوی د دواړو لاسو پر تیکو کښیږدی مگر بیا په گوته اوور پسی گوته هغه سی د سر سر گوښه وی، نو ورغوی دی راکش کړی تر اولی حصی د سر پورې اوپه دوو بتمو گوتو چې تر اوسه لندې دی ظاهر دغوږ و مسح کړی اوپه دوو نورو گوتو چې هغه هم لندی دی د ننه غوږ ونه مسح وکړی.

پوه سه: چې دغه کیفیت هلته امکان پذیر دی، چې سړی تر مسح د مخه لنگوټ یا ر څیښه د سره ایسته کړی، اوکه لنگوټ یې پورته کړی نو غالباً یې دگوتو بلل (لندې) ختم کیږی که څرهم د ورغوُو لندوالی یې باقی دې. نو مسحه د سر خو پوره سوه.

لکن احتیاطاً دی د مسحی **د غوږ و د پاره** نوی اوبه واخلی» کذا قال بعض الفقهاء» لکن زیلعیؒ په شرح کی د کنز وائی چې اظهر داده چې ورغوی او گوتی تولې دې پر مندې د سر کښیږدی اوکش دی کړی تر خټه پورې چې تولې سر په مسح کښی راسی. او بیادی په هغو گوتو ظاهر او باطن د غوږ و مسح کړی» اوقاضیخانؒ هم د غه کیفیت خوښ کړی دی، اوزاهدیؒ وائی چې د د غه کیفیت روایت د امام اعظمؒ او د امام محمدؒ څخه سوی دی. اوپه فتاوای غانیه کښی وائی چې اوبهٔ د سر غیُو اود گوتو مُستعملی نه

ترخی ولی چې سُنت په اداسُو. اوهغه د مخه کیفیت چې مونږ بیان کړی خانیه وَالا وائی چې هغه تکلیف دی. بلکه کمالؒ وائی: لَا اَصْلَ لَهٗ فی السنة» لکن عند الفقیر ما بعد القدیر الاول هو الاولی وان کان فیه کُلفة» براحتی نه رسیدآنکه زحمتی نه کشید»

فائده: مصنفؒ لفظ د، رَاس، وولیږه اشاره ده وډې مسئلی ته چې مسحه پر لنگوټ یا پر خُولی کافی نه ده، اود فرض غاړی نه په خلاصیږی،

سؤال: په حدیث صحیح کښی راغلی دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم مسحه وکړه پر لنگوټ، باندې **جواب** آنحضرتؐ خو مسح پر سر وکړه لکن پرله مسح لنگوټ، باندی لاس تیر کړی د پاره د سمید و راوی د حدیث چې دلیری څخه یې لاس نه رسید نه پر لنگوټ وَلیدل گمان یې داسُو چې دا مسحه فرضی وه» کذا قالوا»

دلیل د ډډی داد ی چې مشهوره او متعدد حدیثونه وائی چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم: استیعاب د سر کاوه په مسحه سره» مصنفؒ مرّة وویله چې تکرار د مسحه د سره سُنت نه دی لکه تکرار د غسل چې سُنت دی: ولی چې لفظ د مسحه اگاهی د تخفیف کوی» تخفیف په یوه وار کښی دی» لکه مسحه د جبیره او یا تیمم» کذا فی فتح القدیر و البحر الرائق:

نو که یو خُولۍ مسحه د سر د ری واره وکړی» په نوی نوی اوبو د افعل نه سُنت دی او ادب دی په نیز نږدې» کذا فی الطحطاوی» په بحر رائق کښی وائی چې داخبره اولی ده ترهغه چې په بدائع کښی وائی او په محیط کښی هم چې داسی فعل مکروه دی. او یا خلاصه وَالا وائی چې داسی کوی بدعت دی» په هدایه کښی وائی چې هغه چې په بعض روایا تو کښی راغلی دې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د ری واره مسحه وکړه هغه محمول پر دې دی چې په یوه وار او بوسره یې د ری واره مسحه وکړه. او داسی تثلیث شروع دی» کما روی الحسنؒ عن ابی حنیفةؒ کذا فی الطحطاویؒ» قال المصنفؒ

وَمَسْحُ الْاُذُنَيْنِ وَلَوْبِمَاءِ الرَّأْسِ

اوبل سُنت مسحه د غوږ ونو ده که څرهم

په اوبود سروې. ولې چې په حدیث شریف کښې راغلی دی چې آنحضرت ﷺ واخستل یوه غړفه اوبه اومسحه دسر اود غوږونه یې په وکړه:

پوه سه: چې په لفظ کښې د «وَلَوْ بِمَاءِ الرَّأْسِ» اشاره ودې خبرې ته ده که متوضی د مسحې د غوږونو د پاره نوې اوبه واخستلی سره ددې چې پرلاسویه لندوالی وُو. دا احسن اوښه کار دی «کذا فی الحراقی». **فحطاوئ** والئ که چیرې لند والی نسیتی سوی وُو ددې سببه چې لنګوټه یې په پوره توګه کړې وه، نوسنت نه پرځای کیږي مګر په نوې اوبو سره» وهذا یُؤید ما قلنا ان الاول آه. قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَالدَّلْكُ وَالْوِلَاءُ اوبل سُنت منسوول دی دا ندام دپریولو په وخت کښې په لاس سره یعنې چې یوځای یې وچ پاته نسې اوبل سُنت داوداسه سره پیوسته اومتصل کول دی د غسل اومسحې په اوداسه کښې په حدیث شریف کې راغلی دی چې آنحضرت صلی اللہ علیہ وسلم مواظبت کړې دئ. پر ولاء یعنې پیوسته کیدو باندې» مړه «د ولاء معنی داده چې دوهم اندام چې مینځې اول اندام به نوی وچ سوی» **پوه سه:** چې دا تعریف هلته اعتبار لري چې هواء معتدله وی اوځای داوداسرهم معتدل وی او بدن د متوضی هم معتدل وی «کچیرې هواء اووخت دوبئ اوګرمې وی او اندام ژر وچیدی نود مخه تر وچوالې داول اندام دوهم اندام پریولو خلاف السُنة نه دئ. اویا متوضی په یوه ګرمه اطاق کښې اودس تازه کاوه چې پریولئ اندام به ژر وچیدی پروا نه لري. اویا د متوضی بدن ډیر ګرم وو چې اندام به یې ژر وچیدی پروا نه لري.

اوکه په یوه ساړه مخ ځای کې یا د ژمې په وخت کې چې پریولی اندام ژر نه وچیدئ. اومتوضی په پریولو کې دا ندامو فصل ډیر وکړي مګر بیا هم د مخ پریولی اندام یې وو وچ سوی» دا د سُنت خلاف دی ولې چې ولاء فوت سوه»

مسئله: بعض خلك د مخه تر پښو پریولو مخ او لاسونه وچې وی حکم یې څه دئ؟ **جواب** دا کار خلاف د سُنت دی. کذا فی المعراج عن الحلوانی. ط

قال المصنف **وَالنِّيَّةُ** اوبل سُنت داوداسه نیت کول دی. اوقدورئ والئ چې نیت مستحب دئ. **پوه سه:** چې نیت کول په خُوله نه در سول کریم صلی اللہ علیہ وسلم اوند د صحابه ﷺ اوند د تابعینو څخه اوند د ائمه نود دین څخه منقول دئ: ولې چې نیت قصد ته ذړه وائی لکن بعض مشائخ وائی چې په خوله دی هم نیت وکړی تا چې خوله اوزړه یې سره برابر سی.

کیفیت د نیّت: داوداسه دا دئ چې قصد دئ زړه څخه د رفع د حدث د ځان څخه. یاد پاره د لمانځه کولو. اویا نیت می داوداسه» **فائده** د نیت فائده په اوداسر کې ثواب دی. اوکه د څنګولو دا ندامو د پاره سړې اودس وکړي لونګ په زړوا دی. لکن داوداسه ثواب یې نسته. اوبا ید سړې تر استنجاء د مخه نیت وکړي تا چې تولو افعال داوداسه یې د نیت سره سی»

اهل الحدیث» اووهابیه: نیت شرط داوداسه نه بولي. دلیل یې هغه حدیث بولي چې بخاری یې په اول کښې د خپل کتاب روایت کړې دئ» **إِنَّمَا الْأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ** «الحدیث» نو دوی وائی چې اودس هم یو عمل دئ. **جواب** د دې حدیث معنا داده **إِنَّمَا ثَوَابُ الْأَعْمَالِ بِالنِّيَّاتِ**، ولې دا ظاهره خبره ده چې وجود د عمل و په نیت پوری اړه نلري: قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَالتَّرْتِيبُ كَمَا نَصَّ اللّٰهُ تَعَالٰى فِي كِتَابِهِ

اوبل سنت داوداسه په ترتیب سره کول دی د افعالو د اوداسر» خرنګ چې تصریح یې هغه ترتیب کړی ده خدای جل جلاله په خپل کتاب یعنی قرآن شریف کښې یعنی قوله تعالیٰ: **يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلٰوةِ** تر اخیره پورې «وقد مر من قبل مفصلا **پوه سه:** چې ترتیب سُنت مؤکد دی. پس صحیح روایت کې د ائمه و مخ د مذهب اوفرض نه دی ولې چې کلمه د واو عاطفه د پاره د مطلق جمع ده» ترتیب به هلته وای چې عطف په کلمه د «فا» وائی **سوال:** په فاغسلوا کښې خو لفظ

دفای عاطفی راغلی دی **جواب** هغه خوفرضیت دمجموع اعضاو وداوداسه ترهٔ إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلٰوةِ» فائده کوی. اوهغه خوپه اتفاق فرض دی نه پرمابین کښی داعضاو وداوداسه»

ولی چی ملته خوکلمه دواوعاطفه ده. امام طحطاوی پرمصنف داسی سئوال کړی دی چی آیت مبارک خونص اوتصریح پرترتیب کی نه دی لکه چی تیره سوه» بلکه تنصیص پر ترتیب خودفعله نخه د آنحضرت صلی الله علیه وسلم معلومیږی چی هغه ۳ افعال د اوداسه پرترتیب مذکور په آیت کښی کړی دی. **جواب** دادی چی کله دکاف په دی قول کښی دمصنف کَمَا نَصَّ» دپاره دتشبیه ده پس معنا داده چی ترتیب سنت دی لکه تصریح یه په آیت کی کړه سویده» اگرچه دترتیب سنت والی دفعل نخه درسول کریم صلی الله علیه وسلم ثابت دی. فتامل»

سوال: آنحضرت صلی الله علیه وسلم خومواظبت کړی دی پرترتیب نوباید چی ترتیب واجب وائی. **جواب**: چی بخاری اوابوداؤد روایت کړی دی چی آنحضرت ۳ یووخت تیمم داسی وکړی چی لاسونه یه ترمخ دمخه مسح کړه اوشک نسته چی تیمم اووضوء (اودس) په اتفاق سره په ترتیب کښی یودی نوچې په تیمم کی ترتیب آنحضرت ۳ ونه کړی گویا په اوداسه کښی ترتیب ونه کړی نومواظبت په وضوء کښی نسته: کذا قالوا. قال المصنف

وَالْبَدَائَةُ بِالْمَيَامِنِ پُوه سه

اوبل سنت شروع کول دی په راسته اندام ده راسته یاراسته پښو نه وائی. لکه مَیَاسِر چی جمع دمَیسرة ده چې په اندام نه وائی قال علیه السلام: إِذَا تَوَضَّأْتُمْ فَابْدَؤُا بِمَيَامِنِكُمْ» اوداامر نبوی په اجماع سره دوجوب نخه مصروف دی. **واوره**: چی تیامن په دوه اندامه کښی راځی لکه دوه لاسونه اودوی پښې. دیوه اندام لکه مخ راسته طرفته اعتبار نسته» اوغوږونه که خه هم دوه دی. لکن مسح کول په یوه پلا دعلیه السلام نخه نقل سوی دی.

وَرُءُوسُ الْأَصَابِعِ وَمُقَدَّمِ الرَّأْسِ

اودغه رنگه سنت دی شروع کول دگوتو د سروغه یعنی په لاسوا وپښو کی، هکذا ثبت الروایة عن النبی علیه الصلوة والسلام» اودغه رنگه سنت دی شروع کول دسر په مسح کی دمخ دخوا څخه» قال المصنف.

وَمَسْحُ الرَّقَبَةِ لَا الْحَلْقُومِ

اوداغه رنگه سنت ده مسح دمغزی دواسه کړیده دپر وارونه. اوونده سنت مسح دغاړی بلکه مرائی والی چی بدعت دی

وَقِيلَ الْأَرْبَعَةُ الْأَخِيرَةُ مُسْتَحَبَّةٌ

اوبعض فقهاء وائی چی خلورا خیر مستحب دی یعنی سنت نه دی. دروښی وائی چی اکثره فقهاء پر دی خبره دی چی اول درې سنت دی. اواختلاف یواځی په مسح کی دمرقبه دی.

واللہ اعلم بالصواب والیه المرجع والمآب

مِنْ آدَابِ الْوُضُوءِ أَرْبَعَةَ عَشَرَ شَيْئًا

دادابو څخه د اوداسه څوارلس شئی دی. **پوه سه**: چی ادب اومستحب په معنی کی سره نژدی دی. بعض علماء وائی چی دادب معنی ورع اوپرهیزګاری ده. اوبعض وائی چی ادب خصلة حمیده ته وائی. اوپه شرح کښی دهدایه وائی چی ادب هغه فعل دی چی آنحضرت صلی الله علیه وسلم لږ وارونه کړی وی اوموا ظبت یه نه وی کړی: **دادب حکم دادی چی** کوونکی ته ثواب ورکوی اوپرتارک باندی عقاب اونه عتاب اونه لوم سته اوسنت هغه فعل دی چی رسول کریم صلی الله علیه وسلم دپر دپر وارونه کړی وی امّا بلا عذره یه یووار یادوه واره پری ایښی وی. دسنت حکم دادی چی فاعل تی خدای جل جلاله ثواب ورکوی اوتارک تی کله هم عقاب داورنسته لکن په ورع د قیامت عتاب اوسرزنش ورته سته.

امام طحطاویؒ په شرح کښی د مراقی وائی ۔ چی ادب ته نفل هم وائی ۔ ولی چی ترفرضو
زیاتی شی دی اود نفل د لفظ معنی زیاتوب دی۔ اومستحب یه هم بُولی۔ ولی چې
شارع ۴ خوښ کړی دی۔ اوتطوع یه هم بُولی ولی کوونکی دا کار په خپله خوښه
کوی» ونسب هذا التفصیل الی السید قدس سرہ» قال المصنفؒ

اَلْجُلُوْسُ فِیْ مَکَانٍ مُّرْتَفِعٍ

اولر ناسته ده په وخت کښی
داوداسه پریبولو رځای۔ دد ے حکمت دادی چی هغه مُستعملی اوبه که څوم مرداری
نه دی۔ دده پربَدن یا کالو وَنه لویږی۔

وَاسْتِقْبَالُ الْقِبْلَةِ

۔ اودوهم ادب داوداسه مَخامخ کښینستل مخ پر
قبله شریفه لکن په غیر کی دحال داستنجاء» ولی په اوداسه کښی بعض اذکارواو
دعاګانی ویَل کیږی او استقبال دَقبلی دهغوپه قبلیدو کښی بنه تاثیر لری» م ا ط»

وَعَدَمُ الْاِسْتِعَانَةِ بِغَيْرِهٖ

اودریم ادب کهمک نه غوښتل دی
(بَل چا نخځه داوداسه په وخت کښی
لکن داهلته چی متوضی لره عذر دسپین بَرتوب یا عذر ناجُوړ نه وی» دی حکم
دادی چی اودس عبادت دی عبادت چی سړی پخپله بی کهمکه دچا وکړی بنه دَی
پُوهسه: چی امام طحطاویؒ دکرمانی شارح البخاریؒ څخه نقل کړی» لاکراهة
فی صَبِّ الماءِ» هیڅ کراهت نسته په تویَولو کښی داوبو ومتوضی ته اونه
دا صحیح ده چی دا کار خلاف الاولی دی» بیا کرمانیؒ دپیرحَدیثونه صحیح راوړی
دی چی نبی علیه السّلام ته داوداسه په وخت کښی دپیرو صحابهؓ اوبه وَرتوی کړی
دی» اوکرمانیؒ هغه احادیث چی پرنهی دلالت کوی ضعیف ګنړلی دی» اوکرمانیؒ
وائی چی دهغوکسانو څخه چی کُهمک بی په اوداسه کښی دبَل څخه غوښتی عثمانؓ
وو اوپیر لوړ لوړ تابعینو هَم داغسی کړی دی۔ وهکذا فی العینی علی البخاری۔
عاصی وائی کچیری متوضی دتکبر او تجبر دلاری دکُهمک غوښتونکی وو ولکه بعض پیران

ددی زمانی هغه بلا شکه مکروه اوخلاف الاولی» قال المصنفؒ

وَعَدَمُ التَّكَلُّمِ بِكَلَامِ النَّاسِ

اوداود اسه په وخت کښی
دخلکو خبری دی نه کوی لکه
بعض جاهلان چی اوداسه په وخت کښی پرځای دا ذکارونه باندار سره کوی۔

وَالْجَمْعُ بَيْنَ نِيَّةِ الْقَلْبِ وَفِعْلِ اللِّسَانِ

اوبل ادب داوداسه جمع کول دی په مابین کی دَنیت اوقصد دَزړه اوپه مابین کی
دفعل د ژبی۔ لکه چی وائی: نیت مجدی داوداسرد پاره د لمانځه مثلاً، په مراقی کی
وائی چی داسی کول عن بعت دی۔ قال المصنفؒ

وَالدُّعَاءُ بِالْمَاثُوْرِ

اوهغه دعاوی دی کوی چی منقول وی یعنی دَنبی
علیه السّلام او صحابهؓ وو اوتابعینوؒ څخه پُوهسه: چی ابن امیر الحاجؒ وائی چی
کمی دعاګانی چی فقیه ابی اللیث السمرقندیؒ پخپله مقدمه کښی نقل کړی دی د
علیه السلام څخه دپیرلو۔ سره داعضاو ویادسره مستحبی سره هغه صحیح دی اوکه نه ۔ دا
پوښتنه زمونږ داستاذ الشیخ الحافظ شهاب الدین ابن حجر العسقلانیؒ څخه یوچا
وکړه۔ نوحافظ ابن حجرؒ جواب ورکړی چی هغه ټوله ضعیفه دی۔ اوعلماء حضرات
په فضائِلو کښی داعمالو ضعیفه حدیثونه هم راوړی۔ ابن حجرؒ وویله چی په
دی باره کښی نه قول اونه دَفعله څخه دآنحضرتؐ کومه دعا ثابته سوی ده» امام طحطاویؒ
وائی چی ترنسبت د دغو دعاګانو وَآنحضرتؐ نسبت دهغو وسلفو صالحینوؒ ته
پیرنه ښه دی۔ ولی چی دخطر څخه دَ» مَنْ كَذَبَ عَلَيَّ مُتَعَمِّدًا فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهٗ
مِنَ النَّارِ» به خلاص وی۔ اوپه فتاوی هندیه کښی وائی چی نه دی په صحیح
ثبوت رسیدلی شئ د دعاګانو څخه مګر شهادتین پس له فراغه څخه داوداسه
کذا نقل السیّد عن النهرؒ

درولیش وائی: چی دډې مطلب دا نه دی چې په اوداسه کښې دی دعاوی نه کوې بلکه مقصد دادی چې معین شئ ثابت نشته. لهذا نو موتږ ضی لره اختیار دی، هر دعا او ذکر به هر ځای به چې وې، په اوداسه کښې دی کوی. تاچې عبادت فعلی دعبادت قولې سره ملګری سی، و بهذا آخذ وافق، قال المصنف

وَالتَّسْمِيَةُ عِنْدَ كُلِّ عُضْوٍ

اوبل ادب بسم الله ویل دی په وخت کښې د پریولو یا د مسحې د هر اندام، فقیر وائی چې د جامع دعا گانو نسخه او په اختیار کې د اعضاء اللهم اعني على ذكرك وشكرك وحسن عبادتك، قال المصنف

وَاِدْخَالُ خُنْصَرِهِ فِي صِمَاخِ أُذُنِهِ

اوبل ادب داوداسه داخلول دی د کښې ښیلی کښې د غوږونو کې. د پاره د مبالغې په مسح کښې د غوږونو. **نښه نانه فائده:** مصنف په مراقي کښې او امام طحطاوي په شرح د هغه دعا گانو ذکر کړی دی. د خولې پریولو په وخت کې بسم الله اللهم اعني على تلاوة القرآن وذكرك وشكرك وحسن عبادتك، د پڼې پریولو په وخت کې باسم الله اللهم ارحني رائحة الجنة ولا ترحني رائحة النار، د مخ پریولو په وخت کې: باسم الله اللهم بيض وجهي يوم تبيض وجوه وتسود وجوه، د راسته لاس پریولو په وخت کې، باسم الله اللهم اعطني كتابي بيميني وحاسبني حسابا يسيرا، د چپه لاس پریولو په وخت کې، باسم الله اللهم لا تعطني كتابي بشمالي ولا من وراء ظهري. د سر د مسحې په وخت کې، بسم الله اللهم اظلني تحت ظل عرشك يوم لا ظل إلا ظل عرشك.

د غوږونو د مسحې په وخت کې باسم الله اللهم اجعلني من الذين يستمعون القول فيتبعون أحسنه، د مسحې د رقبې په وخت کې: باسم الله اللهم اعتق رقبتي من النار، د راسته پښې د پریولو په وخت کې: باسم الله اللهم ثبت قدمي

على الصراط يوم تذل الأقدام، د چپه پښې پریولو په وخت کې: باسم الله اللهم اجعل ذنبي مغفورا وسعيي مشكورا وتجارتي لن تبور، او چې اودس خلاص سی داسې به وائی: أشهد أن لا إله إلا الله وأشهد أن محمدا عبده ورسوله اللهم اجعلني من المتطهرين، قال المصنف.

وَتَحْرِيكُ خَاتَمِهِ الْوَاسِعِ

اوبل ادب داوداسه ښوروَل دی په گوته کښې دهغې گتمی چه فراخه وې **پوه سه:** چې مصنف خاتم الواسع وویلو دی جهته چې ترفراخه خاتم لاندی اوبه ننوزی نو فرض د پریولو یې فرګای کیږی اما بیا هم ښوروَل یه احتیاطاً مستحب دی او که گتمی تنګه وه نو که اوبه لاندی نه ورتلی ښوروَل یې فرض دی، تاچې لاندی ترگتمی پریوَله سی. او که اوبه سره د تنګوالی ورتلی بیا یې ښوروَل ټینګ مستحب دی.

شِكَايَت

اکثره ښځې دونه تنګی گتمی په گوته کوی چې په صابونه ځای ته ور وَلی هیڅ په گوته کښې نه ښوریږی. بیله دیره مشقته او ښځې هغه هم نه کوی. نو د دغسی ښځونه اودس روادی اونه ئې غسل روادی، چې اودس او غسل نښې صحیح نو لمونځونه یې هم نه دی صحیح په اتفاق د ټولو مذهبو.

تردی عجب کار:

بعض پلیشینی ترانه هم د سر وزره گتمی په گوته کوې او دوئه تنګه وی چې په غوښه کې دگوتې الغه دگتمی ننوتلی وې. د دغو نرانو هم نه اودس اونه غسل صحیح دی بلکه نوته د سر وزره گتمی نا روا ده، البته د سپینو زره گتمی تر یوه مثقال کمه په وخت کښې د ضرورت وړته روا ده، چې آنحضرت صلى الله عليه وسلم د سپینو زره گتمی د پاره د مهر کولو د خطو چې خارجې پادشاهانو ته بې استول په گوته کړیده او نقش یې داسې وو،

لویه خدایه شفاعت د ستا د حبیب
سخته وړځ کې د محشر کړې رانصیب

حقر حقانی غفرله

الله
رسول
محمد

وَالْمَضْمَضَةُ وَالْاِسْتِنْشَاقُ بِالْيَدِ الْيُمْنٰى اودغه ژبگه مستحب دی په خوله

اوبه لغړول. اوپه پڼه پسې راسته لاس سره د جهت د شرافت د مضمضه او استنشاق

وَالْاِمْتِخَاطُ بِالْيُسْرٰى وَالتَّوَضُّؤُ قَبْلَ الْوَقْتِ لِغَيْرِ الْمَعْذُوْرِ

اوپه سنړکول دی په چپ لاس مستحب دی. ولې چې داهانت کار دی نو چپ لاس ورته مناسب دی. اوبل ادب داوه اسه

اودس تازه کول دی د مخه تر وخت د لمانځه د دخول، لکن غیر له معذور سړي څخه.

پوهه سه: چې معذور سړی هغه بولي چې هیڅ وخت د لمانځه بیله بې اودسیانه پرتیر یږی. اقسام د عذر ډیر دي. یا ښځه مستحاضه وی یعنی بیله حیضه وینې څندی بهیږی. یا سړي پریوغای تپ لري چې وینه پوره وخت د لمانځه نه درین یږي یا په دنس څخه بادونه همیشه وزي. اویا یه بولې ایله وی اونه درین ی، وغیره

د معذور حکم دادی: چې هر لمانځه ته به نوی اودس تازه کوی. لکن اختلاف په دی کښې دی چې دده نږدې اودس څه وخت ماتیږی. د امام اعظم او امام محمد په نیز په وتلو

دوخت د ده ښځه لمانځه. او په نیز د امام زفر په دخول د وخت د لمانځه. او په

نیز د امام ابی یوسف په وتلو د وخت او په دخول د وخت په دواړو سره د معذور

اودس ماتیږی، **د دی اختلاف فائده** ده، که معذور سړي که د ښځه تر زوال د لمانځه

د لمانځه د پاره اودس تازه کړي چې د ما پښین وخت داخل شو، د ده نږدې اودس نه

دی مات په نیز د طرفینو ولې چې خروج د فرضی لمانځه د وخت نه دی راغلی چې د لمانځه

ختم ښځه تر زوال پورې د اوخت مهمل دی بلکه پرده د دخول د فرضی لمانځه د وخت د

او په دخول د وخت اودس د ده نه ماتیږی عندهما. او په نیز د ابی یوسف او زفر

اودس د دی سړي مات شو. ولې چې دخول د وخت پر راغلی،

نو نصوص په نیز دې د غه معذور احتیاطاً اودس نوی تازه کړي چې د اختلاف څخه

ووزي، نو نتیجه داسوه چې معذور سړی لره په قبل الوقت اوداسه کښې فائده نشته

اوله وخت مهمل نه وی لکه ما زدیګر د لمانځه د پاره چې د ما پښین په وخت کی اودس

تازه کړی نو د غه اودس د ده په دخول د وخت د ما زدیګر په اتفاق سره مات شو

چې هم خروج د وخت اوهم دخول د وخت پر راغلی، **قَالَ الْمُصَنِّفُ**

اوبل ادب داوه اسه راتلګ

وَالْاِتْيَانُ بِالشَّهَادَتَيْنِ بَعْدَهُ دی یعنی ویل دی د دوو

کلمه شهادته ورپسې ته راواسه. لکن په مراقی کښې وایی چې شهادتین دی په

ولاړې ښځې وقبلی ته وایی. په صحیح حدیث کښې راغلی دی چې آنحضرت صلی الله

علیه وسلم وئیلی دی، **مَا مِنْكُمْ مِنْ اَحَدٍ يَتَوَضَّأُ فَيُسْبِغُ الْوُضُوْءَ ثُمَّ يَقُوْلُ**

اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ، وفی روایة

اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ اِلَّا فُتِحَتْ لَهٗ اَبْوَابُ الْجَنَّةِ الثَّمَانِيَةِ

يَدْخُلُهَا مِنْ اَيِّ بَابٍ شَاءَ، **ترجمه** قوله فَيُسْبِغُ آه ای یکمله بادا ء الفرائض

وَالسُّنَنِ وَالْاٰدَابِ، قوله فُتِحَتْ آه کنایةٌ عن حسن القبول عنده، **وَلَئِنْ اِنْ مَاتَ**

دَخَلَ الْجَنَّةَ، **وَلَنِعْمَ مَا قِيْلَ**، به بهانه نمی بخشد، وبه بهانه می بخشد، **قَالَ الْمُصَنِّفُ**

اَنْ يَّقُوْلَ اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنِيْ مِنَ التَّوَّابِيْنَ وَاجْعَلْنِيْ مِنَ الْمُتَطَهِّرِيْنَ

اوداسی د دوو ائی خدایه ما وګرځوی د توبه کوونکو څخه یعنی د ګناهونو څخه، **تَوَّابٌ** صیغه د

مبالغی ده. او وګرځوی د هغه کسانو څخه چې د ګناهونو څخه پاک کړه سوی دی.

پوهه سه: چې د توب لپاره معنی ده رجوع په لغت کې. نو که صفت د بنده وی معنایه رجوع

ده د ګناه څخه. او چې صفت د خدای تعالی واقع سی معنایه رجوع ده د عنایه ښځه

او انعام ته، **لِاَنَّ التَّائِبَ مِنَ الذَّنْبِ كَمَنْ لَّا ذَنْبَ لَهٗ**، كما جاء فی الحدیث النبوی

وَاَنْ يَّشْرَبَ مِنْ فَضْلِ الْوُضُوْءِ قَائِمًا اوبل ادب

دادی چې پس له

اوداسه دی وچښی بالا بود داوداسه په ولاړې، ولې په صحیح حدیث کښې راغلی دی

چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وچښلی فاضله اوبه د اوداسه په ولاړې اودغه رنګه د زمزم او به په هم ولاړې چښلی دي. د دې دوو حایو څخه ماسوا د اوبو چښل په ولاړې مکروه تنزیهي دي. لقوله علیه السلام: «ولا یشرب احدکم قائما فمن نسی فلیستقئ» ترجمه: هرګز دې نه چښي یو تاسي اوبه په ولاړې اوکه د چا هیروي اوبه یې په ولاړې وچښلی نو هغه دې قې کړي.

پوهه سه: چې مقصود مبالغه ده په نهي کښې د چښلو د اوبو په ولاړې ورنه قعود لازم نه دئ.

بقیة الآداب

۱ اودس د تازه کوي په هغو اوبو چې په لمر تودې سوي وي. په حدیث شریف کې راغلی دئ چې یو وخت بې بې عایشه رضی الله عنها اوبه په لمر تودې کړې وې، نو آنحضرت صلی الله علیه وسلم ورته وویل: «لا تفعلي یا حمیرا فانه یورث البرص» یعنې داسې مه کوئ.

ولې چې د دې د استعمال څخه پس پیدا کیږي. ۲ د ځان د اوداسه د پاره د یو خصوصي لوښي نه تعیین کوي چې بل چا ته د هغه د استعمال اجازه نه وي. ولې چې د علیه السلام د دې بناء پر سهولت ده. ۳ په زوره دې اوبه پرې مخ نه پاشي ۴ مخ او لاس د په دسمال وغیره نه اوچوي. اوکې اوچول نو دیره مبالغه د نه پکښې کوي.

فائده: مصنف ترک التجفیف ادب وبولی، او په بعض کتابو کښې د فقهاو وائي چې تجفیف مکروه دئ. دا قول د احادیثو او د مذهب څخه بیخي خلاف دئ، «إذ قد روی عن رسول الله صلی الله علیه وسلم انه فعل ذالك ای التجفیف» وقال الامام محمد وبه نأخذ ولا نری بذالك بأسا. وفی الخانیة لا بأس للمتوضی والمغتسل ان یتمسح بالمندیل»

لکن مفتی به مذهب دا دی چې استعمال د دسمال خو پرواه نه لري مګر دیره مبالغه په وچولو کې د اعضاوو دی نه کوي بلکه پرانده اودي څه لنده والی د اوداسه پرې دي.

مسئله: د بیان په ثوب کښې دی او د مړي وچول په دسمال یا په کم تو کړه.

په نیز زمونږ مستحب دئ سبب یې دا دی چې کفنونه یې لاندې نه سي. چې دا د مړي په باره کښې مثلت دی» کذا فی الطحطاوی شرح المراقی ص۱۳

۵ د اوداسه لوښی دی د خاوري وي. چې په حدیث صحیح کښې راغلی دی چې ملکی زیارت د هغه کور کوي چې لوښی یې د خاوري وي ۶ لاستې د هغې کونرې دی دری ۳ واړه پریولې» ۷ او لوښی دی پرچپه طرف کښیږدي. ۸ او لاس چپل دی پر لاستې دکوزې کښیږدي پرخوله دی نه وړاندې. ۹ دستر ګو پر کنجانو دی نه فکر کوي چې وچ پاته نه سي. او د ګتې لاندې ځای ته دی نه سي متوجه وسي په پریولو کې. ۱۰ او لاسونه او پښې او مخ د فرضي قدر بالا مینځي یعنې لاسونه دی تر څنګلو نه لوړ پرې مینځي او پښې دی تر ټخلکو لوړې او د مخ تر اندازې بالا پرې مینځي.. ولې چې په یوه طویل حدیث کښې په روایت د بخاري رسول کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي: چې زما د امت علامه به وي د وضو د قیامت داده چې مخان به ئې سپین وي لاسونه او پښې بې سپینې وي» د سببه څخه د اوداسه» نو اودس کوونکي دی نه سپین والی د اندامو خپل زیات کړي.

۱۱ پس له اوداسه دی سورة القدر یو وار یا دوه واړه یا درې واړه تلاوت کړي.

فصل

دا فصل په بیان کې د مکروهاتو د اوداسه دئ.

قال المصنف **ویکره للمتوضئ ستة اشیاء**

او مکروه دی د اودس تازه کوونکی ته شپږ شیان. په مراقی الفلاح کښې وائي چې مکروه ضد د «محبوب» دئ. او امام طحطاوي وائي چې مکروه په نیزد فقهاوو دوه قسمه دی. مکروه تحریمي: چې حرام ته نزدې وي او په ښوول

دمکروه تحریمی واجب دی. اوپر ترک یه ثواب دواجب ورکول کیږی» کذا فی فتح القدیر
اوپه فته شریفه کښی چې مکروه مطلق ذکر سی همدغه مکروه تحریمی حُکمدی
مرادوی»
اومکروه تنزیهی هغه کارته وائی چې پریښول یه ترکولو سبه وی اوثواب لری» بحر
الرائق وائی چې مکروه تنزیهی ترحرام وحلال ته نزدی دی» کذا فی البرهان. قال

اَلْاِسْرَافُ فِی الْمَآءِ

یومکروه داواسراف ترحد تجاوز کول دی. په توپولو کښی داوئیو: په حدیث صحیح کښی راغلی دی چې رَسُول الله صلی اللهُ علیه وَسلم هلته تیریدی. چې سَعدؓ اودس تازه کاوه نو علیه السلام ورته وویل مَا هٰذا السَّرف یَا سَعْدُ» داڅه اسراف کول دی ای سَعدؓ سَعدٌ وَوَیله ایا په اوداسه کښی هم اسراف سته»! آنحضرتؐ ورته وویل هُوسته. که څوم دجاری وَلی پرغاړه اودس تازه کوی»

درویش وائی: چې دی حدیث څخه دامعلومه سوه چې دهغه چاشعر غلط دی چې

وائی ؎ ورتواے خواجه برلب جوئی ؛ نیست اسراف مرچه می شوئی ؛ وفی فتاوی الحجة»
یکره صبُّ الماء فی الوضوء زیادة علی العدد المسنون» والقدر المعهود» یعنی مکروه
دی تویول داوبو په اوداسه کی بالاتر قدر مسنون چې دری واړه دی اوترهغه قدر
چې په شرع کی معلوم دی» په صحیح حدیث کی راغلی دی» شِرَارُ اُمَّتی الَّذِیْنَ
یُسْرِفُوْنَ فِی صَبِّ الْمَآءِ» یعنی بدد امتیانو زما هغه کسان دی چې اسراف کوی په تُویولو
کښی داوبو: نوځکه په درمختار کښی وائی چې اسراف مکروه تحریمی دی که څه هم پر
نهر جاری اودس تازه کوی:

مسئلہ اسراف چې مکروه دی، په جاری اوبو کښی دی اوپادسرې خپلی مملوکی
اوبه وی اوکه چیری وقفی اوبه وی پرطهارت لکه دا کثرو مسجدو دپاکستان پس په
هغو کښی اسراف کول حرام دی» ح، ج.

التلمیذ والتابع من مکتبة القراءت والتجوید بشارع کانسی کوئٹه

اوهمدارنگه مکروه

وَالتَّقْتِیْرُ فِیْهِ وَضَرْبُ الْوَجْهِ بِهٖ

دی کښی کول په اوبلو کښی داواسراف یعنی چې پریولو سیخ تر نزدی وی، وجه دکراهت یې فوت والی دسنت دی» اوبل مکروه وهل دی
دمخ په اوبو سره یعنی په سختی سره» وجه دکراهت یه شرافت دمخ دی نو په
رفق (نرمی) سره یه پرپریولو کښی سنه کار دی. **پوه سه**: چې دافعل مکروه
تنزیهی دی» کما فی الدر المختار» اوبله وجه دکراهت یه داده چې په شرف سره اوبه
پاشل پرهر اندام چې وی دمستعملو اوبو نشر دی پرکالو وغیره. اوشك نسته چې
دمستعملو اوبو څخه عام سانته سنه کار دی» د دی دلیله څخه دامعلومیږی چې
تخصیص دمخ په متن کښی په اعتبار دعادت دبعض عوامودی. ورنه حکم عام دی:

مسئلہ: په اوداسر کی دی سرې ستر گی نه پتوی په داسی ډول چې اطراف
یه سره وریږی» اونه دې خوله دپره تینګه نسی چې هغه سره حصه یه پته سی»
ولی چې کنجانوته دستر گو یا سرې حصی ته دشوندانو اوبه رسول فرض دی او
پریولو یه واجب دې حتی که یوڅای ددغو څخه وچ پاتې سی اودس یه نه دی صحیح
حلبی، طحطاوی» قال المصنف.

اوهمدارنگه خبری کول په خبرو دخلکو

وَالتَّکَلُّمُ بِکَلَامِ النَّاسِ

ابن امیرالحاج وائی چې دخبرو په سبب
ددعا گانو څخه مشغول کیږی **فائدہ**: مکروه والی دخبرو هلته دی
چې ضرورت دخبرو نه وی. اوکه ضرورت وی بیا مکروه نه دی» قال المصنف

اودغرنگه مکروه

وَالْاِسْتِعَانَةُ بِغَیْرِهٖ مِنْ غَیْرِ عُذْرٍ

دی کُهمك د
بله څخه غوښتل په اوداسه کی. لکن چې بیله عُذره وی. قالوا... اِن الضرورة
تبیح المحظورات، لکه چې سرې ناجوړې وی یا ډیر سپین ږیری وی» اوامام
وریږی وائی: چې استعانت بالغیر پرواه نه لری» ولی یوخادم وآنحضرت صلی الله

علیه وسلم ته اوبه ورتویولې: وَقد مر تفصیل هٰذه المسئلة قُبیل هٰذا.

وَتَثلیثُ المَسحِ بِماءٍ جدیدٍ

اودغه رنګه مکروه دی درېځل واړه سرمسح کول په نوو اوبو...

فَصلٌ

اَلوُضوءُ علیٰ ثلاثةِ اَقسامٍ

اودس پردرې قسمه دی. **پوه سه**: چې اسم عدد پرحصر دلالت نه کوی. نود اسؤال نه واړه دیرې چې اودس گاهی مکروه وی لکه اودس پراودس چې داول اودس مجلس یه بدل کړي اویایه په اول اوداسه کم عبادت نه وی کړی. اوگاهی اودس حرام وی لکه دنبل چاپه ملکی محروق اوبوبیله اجازی دمالک

اَلاَوَّلُ فَرضٌ علی المُحدِثِ لِلصَّلوٰةِ وَلَو کانَت نَفلاً وَ

اول قسم داوداسه فرض دی پرېی اودس سړی دپاره دلمانځه یعنی چې دلمانځه کولو اراده وکړی که

لِصَلوٰةِ الجَنازَةِ وَلِسُجدَةِ التِّلاوَةِ وَلِمَسِّ القُرآنِ وَلِوِلایَةٍ

څرهم هغه لمونځ نفلی وی. اودغه رنګه فرض دی دپاره دجنازی دلمانځه اودپاره دسجده تلاوت اودپاره دمسه کولو دقرآن شریف که څرهم دایت پردیوال نوشته وی **پوه سه**: چې مراد د فرضه څخه هغه دی چې په دلیل قطعی ثابت وی وَهُوَ قَولُه تَعالیٰ: یَا اَیُّهَا الَّذِینَ اٰمَنُوا اِذَا قُمتُم اِلَی الصَّلوٰةِ، **پوه سه**: چې مراد قیام څخه اراده دشروع په لمانځه ده. نه ضد دناستې چې ولاړ په یه بولي. په قرینه دی چې لمونځ په ناستې هم روا دی نفلی خو مطلقاً اوفرضی په وخت دعذر کښې.

فائده: صلوٰة جنازه یه علیحده ذکر کړی.

څرهم دلمانځه اطلاق پرکیږی دی سببه چې کامل لمونځ نه دی ولی رکوع وسجده نشته په کښې: اوسجدهٔ تلاوت که څرهم په عرف کی لمونځ نه بولي. لکن په اتفاق مذاهبو، یشترط لها ما یشترط للصلوٰة، قال المصنف.

وَواجِبٌ لِلطَّوافِ بِالکَعبَةِ

اویل واجب اودس دی چې دپاره دطواف پرکعبه شریفه دی، په صحیح حدیث کښې راغلی دی، اَلطَّوافُ حَولَ البَیتِ ای الکعبة مثل الصلوٰة اِلَّا انکم تتکلمون فیه الحدیث: ترجمه: طواف پرشاوخوا دکعبی په مثل دلمانځه دی، مګر داقدر فرق دی چې په طواف کی خبرې روا دی تر پایه دحدیث اولمانځه کښې خبرې نه دی روا، قال الفقهاء، اِذَا طافَ که طواف وکړي یوسړي طوافِ فرضی یعنی طواف زیارت په بی اوضو سیاسره پرهغه باندې. پسه یا بوزه وغیره دی جنایت په سبب سره لازم دی. اوکی طوافِ فرضی په جنابت سره وکړي پرهغه اوبس حلالول لازم دی. دده جنابت دکبله. اوکی طواف واجب لکه طواف وداع اویا نفلی طواف یه په بی اوضو سیا وکړی. نوکم ازکم نیمه کاسه غنم یا یوه کاسه خرما دخیرات کړي اوکی دغه دوه طواف په جنابت وکړي بیادم پرلازم دی ط.

وَالثّالِثُ مَندُوبٌ لِلنَّومِ عَلَی الطَّهارَةِ وَاِذَا استَیقَظَ

اودریم اودس دپاره دخوب مستحب پرپاکوالی سره باندې. اوهغه وخت چې ویښ سی هم اودس مندوب

مِنهُ وَلِلمُداوَمَةِ عَلَیهِ وَلِلوُضُوءِ عَلَی الوُضُوءِ

دی دپاره دهمیشه توب پراوداسه اودپاره داوداسه پراوداسه - پوه سه: چې اودس پراوداسه ملته مندوب دی چې په اول اوداسه یې عبادت مقصوده کړی وی، وَاِلَّا فَهُوَ اِسرافٌ، ط.

مسئله اودس پراودس کول خوثواب کاردی. اما غسل پرغسل یا تیمم پرتیمم کول

عبث کار دی کذا فی مراقی الفلاح» **فائده**: اودس مستحب دی دپاره دمسجد کولو دکتب شرعیه وو نکه فقه احادیث اوعقاید. دپاره د تعظیم د دغو علومو: امام سرخسی یوه شپه د فقهی شریفی دکتاب مطالعه کوله چې ناکاه د نس درد ورته پیښ سو چې اودس ماتوونکی مجبور کړی نو یه اودس مات کړی اوبیا یې اودس بیا تازه کړی درد باقی وو حتی چې اولس واره یې اودس تازه کړی.

اوامام حلوانیؒ به خالی کاغذهم بی طهارته نه اخستی، «درر و لیش وائی فهذا هو الادب الکامل» **مسئله**: په دُرر کښی وائی چې د پاره دمسجی دکتابود تفاسیرو اودس واجبوی کی تفسیر ترقرآن څه هم پیروی لکه روح البیان، بیضاوی، وغیره.

شیکات بعض مطالعه کوونکی دکتابود تفاسیرو په وخت کښی د مطالعی پرمهال واچوی اومطالعی ته ادامه ورکړی **مسئله**: د تفاسیرو دکتابونو دقرآن د تورو دمسح د پاره اودس اوطهارت فرض دی. اود تفسیرد تورو د پاره اودس واجب دی. پرړای دصاحب الدرر اوفتوی پردی د چې مندوب دی. اود بیاض مسحف پرې اود سیارواده اود قرآن شریف بیاض په حکم کی د قرآن دی مسحه یې په بی اودسیانو لاس

وَلِبَعْدِ غِيْبَةٍ وَكِذْبٍ وَنَمِيْمَةٍ وَكُلِّ خَطِيْئَةٍ

اودغه رنګه اودس مندوب دی وروسته ترغیبت دیوچا، اووروسته تردروغو اووروسته تر شیطانت اووروسته ترهری صغیری ګناه. **فائده**: غیبت دادی چې دیوه مسلمان نریا ښځی بیان کوی په هغه کار سره چې هغه یې اظهار بد بولي. غیبت کبیره ګناه ده داهلته چې هغه عمل په هغه مسلمان کښی وی. اوکه دی سړي درواغ پرې وتیله هغه ته بهتان وائی. اوبهتان ترغیبت اشد دی. اوویل سوی دي چې غیبت اشد دی ترزنا، درر و لیش وائی چې د غیبت بلکه د تولو کبیره اوصغیره ګناهونو لپاره اودلائل اوحکایات، نهایه عربی کتاب مواعظ الایوبی القسم الاول کښی مطالعه کړئ

اللهم اغفر لمؤلفه و لمترجمه و لکاتبه و لوالدیهم اجمعین

دړی ځای درواغ روادي

اودرواغ نه دی ډډه مګر په دغو ځایونو کی لاړ د میره درواغ وماینی ته دهنی د خوشحالی د پاره دروو کسانو دخوشحالی د پاره ټ دمظلوم د ظالم څخه خلاصیدو د پاره، اونور دی څه څخه چې وي، او نمیمه رسول دی د خبری دیوه سړي وبل سړي ته په نیت د فساد **مسئله**: داودس په تازه کولو سره صغیره ګناه بخښل کیږی، مړه اودکبیری ګناه یاں لږ سپکیږي، قال المصنف

وَالْإِنْشَادِ شِعْرٍ وَقَهْقَهَةٍ خَارِجَ الصَّلٰوةِ

اوپس لږ ویلو څخه د بدی عزلی. اوپس له په زوره خندلو د باندې ترلما څخه: اوپه لما څخه کښی خو اودس هم پیدا کیږی

وَغُسْلِ مَيِّتٍ وَحَمْلِهٖ

اوپس له غسل ورکولو د مړي وغاسل ته اودس مندوب دی. اوپس له جنازی د ګالو سره د میت هم اودس مندوب دی» په صحیح حدیث کښی راغلی دي، «مَنْ غَسَّلَ مَيِّتًا فَلْيَغْتَسِلْ وَمَنْ حَمَلَهُ فَلْيَتَوَضَّأْ» ترجمه: که چا غسل ورکړی د مړي ته هغه دی غسل وکړی. او که چا د مړي جنازه واخسته هغه دی اودس تازه کړي. د احدیث خو د مراقی مصنف دلیل راوړی دی.

لکن امام طحطاویؒ پرهغه دا سې سوال کړی دی چې د دی حدیث څخه خو مندوب والی د غسل د غاسل المیت معلوم سو نه اودس کول» اوامام حلبیؒ په لویه شرح کښی څپل د منیه المصلی باندی ومندوب والی ته د غسل تللی دی. **پوه سه**: چې امام احمد اودس پر حامل الجنازه باندی واجب بولي، ط»

وَلِوَقْتِ كُلِّ صَلٰوةٍ وَقَبْلَ غُسْلِ الْجَنَابَةِ

اودداخلیدو د لمانځه اودس تازه کول مستحب کاردی لتعظیم وقت الصلوة «درر» اود مخ ترغسل د جنابت اودس کول مستحب دی «ولی چې دی باره کی صحیح حدیث بلکه دیر حدیثونه موجود دی» قال المصنف.

ته خدایه وبخښنی شارح اوهم کاتب :. چه اکثر دعا قبلیږی د غائب «حقانی غفرله»

وَلِلْجُنُبِ عِنْدَ اَكْلٍ وَشُرْبٍ وَنَوْمٍ وَوَطْیٍ

اودغه رنګه اودس مستحب دی جنب لره په وخت کی دا ارادې دخوراك یا دڅښلو او
یاد بیدیدو د پاره اودغه رنګه د پاره د جماع یعنی یو وار یې جماع وکړی اویا د جم
کولو اراده وکړی. نو دغه ترډوهم پلا جماعو اودس کول مستحب دی.

پوه سه: چې غسل د حیض یا د نفاس هم په حکم کی د غسل د جنابت لری چې
اودس کول په دې دوو غسلو کښی هم مستحب دی، ط، **سُبْحَانَهُ فَافْهَمْ**

پوه سه: چې داودس څخه مراد په مابین کی د دوو جماعو: او په نیز د خوب مراد شر
دی، په قول کی د ابوحنیفه او مالك او شافعی او احمد هر دا غسی بیان کړی دی، بدا
العینی الحنیفی په شرح کښی د بخاری، اودغه رنګه حکم کړیدی حافظ ابن حجر الع
په شرح کی د بخاری، په بخاری شریف کی د سیدتنا عائشه رض څخه روایت دی چې
وخت چې رسول الله صلی الله علیه وسلم اراده وکړه چې ببده سی اودی به جنب وو
غسل فرجه، یعنی استنجاء بې وضوء له. وتوضأ للصلوة، یعنی اودس بې تازه وکړی
تکه اودس د لمانځه د پاره یعنی کامل شرعی اودس بې وکړی. او امام احمد او مسلم
ابن ماجه او نسائی او ابن حبان او ابوداود او حاکم او بیهقی داسی روایت د
السلام څخه نقل کړی دی، چې کله وخت چې سړی مابنی ته ورسی یعنی وطی ورسره
وکړی دبلی پلا د وطو پس اودس دې سره تازه کړی په مابین کښی چې دا اودس د
پلا جماع د پاره ډیره خوشحالی پیدا کوی،

او قاضی ابو یوسف وابې چې اودس بین الجماعین مستحب نه دی ده هم ډیره لایل
سره وړې دې اوهغه نور احادیث یې په بیان د هغه از حمل کړی دی. لکن فتوی پر قو
دائمه اربعه وو ده، او فقیه ابوجعفر الطحاوی وابې چې حدیث داود اسره نسبت
الجماعین یا په نیز دارادی دخوب منسوخ دی. والله اعلم بالصواب.

اوهرچې اودس کول دی په نیز د خوراك یا چښنك د هغه اوداسه څخه مراد وضوء لغو

...ف لاس پریوله. ولې چې طحطاوی ابوداود ابن ماجه دا سنه څخه روایت کړې
...ی آنحضرت چې به اراده د خورك وکړه اودی به جنب وو لاسونه پریوله: قال شارح
...لوة وعلیه جمهور العلماء. وفی الفتاوی الخانیة: جنب چې اراده وکړی د خورك یا د
...ګ مستحب ده. ده لره چې مینځی لاسونه او خوله. او کې نه وکړی لا باس به.
...ی څزانة الاکمل، کی پریښی دی ضرر نه لری. او په منیة المصلی کښی وائی چې جنب
...ورك او چښنګ بیله لاس پریولو سبب د فقر ګرځی. قال المصنف.

وَلِلْغَضَبِ

اوچې درد ورسی سړی ته هم اودس مستحب دی ولې چې درد یه
ورکیږی. په حدیث شریف کی چې روایت یه احمد او ابوداود
ړی علیه الصلوة والسلام فرمائیلی دی چې غضب د شیطان څخه دی او شیطان
لقت د اور څخه دی او اور په اوبو وژل کیږی پس هغه وخت چې سړی ته
غضب ورسی نو اودس دې تازه کړی. قال المصنف.

وَلِلْقُرْآنِ وَحَدِيثٍ وَرِوَايَةٍ

اود پاره د تلاوت د قرآن شریف
یعنی دیا د ولو د پاره هم اودس
ول مستحب دی. او د پاره د حدیث وییلو او یا یه بل چا ته د روایت د حدیث کولو او د
مستحب دی. دا په سبب د شرافت د قرآن او د حدیثو. قال المصنف.

وَلِدِرَاسَةِ عِلْمٍ وَاَذَانٍ وَاِقَامَةٍ وَخُطْبَةٍ

د پاره د درس د علم اودس مستحب دی. او د اذان او اقامت کولو د پاره او د خطبه وییلو د پاره هم
د اودس کول مستحب دی خطبه کښه هم د نکاح خطبه وی کذا فی المراقی.

پوه سه: چې مراد د علم څخه شرعی علم دی. قال المصنف.

وَلِزِيَارَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَوُقُوفٍ بِعَرَفَةَ

اود پاره د زیارت د نبی علیه السلام اودس کولو دل مستحب دی. او د پاره د درید و پر عرفات باندی

پوه سه: چې د زیارت کولو د نبي علیه السلام اودس د پاره د تعظیم د علیه السلام او پاره د تعظیم د دخول د مسجد نبوي **فائده**: د وقوف عرفات د پاره اودس مستحب دی. بلکه که غسل وکړي د پیر به ښه وي. ولې چې عرفات یو مشرف مقام دی خصوصاً د حج په موقع کښې چې خدای جل جلاله پرملائکه وو باندې په واقفینو سره د عرفات فخر کوي «کما في الحدیث النبوي».

وَلِلسَّعْيِ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ وَأَكْلِ لَحْمِ جَزُورٍ

او د پاره د سعي په مابین کښې د صفا او مروه» ولې چې دا سعي عبادت دی او عبادت طهارت پیر نه پیدا دی). لوپس له خورلو څخه د اوښ د غوښو او د س مستحب دی ولې چې امام احمد دا اودس واجب بولي. که څه هم نور مجتهدین د هغه حدیث څخه چې اوښ د غوښو په خوړلو کښې راغلی دی مراد دلاسو پریولو بولي. لکن چې اودس کړي د اختلافه به خبره وزي. قَالَ الْمُصَنِّفُ رح

وَلِلْخُرُوجِ مِنْ خِلَافِ الْعُلَمَاءِ كَمَا إِذَا مَسَّ امْرَأَةً

او دی د پاره هم اودس مستحب دی چې ووزي د خلاف څخه د علماوو لکه چې سړي مسه کړي ښځه. چې په دی سره بعض مجتهدان اودس مات بولي. که څه هم زمونږ مذهب نه دی. **پوه سه**: چې مراد د ښځې څخه هغه ښځه ده چې د سړي محرم نه وي لکه خور، لور وغیره. او بل دا چې ښځه د اشتهاء ځای دی. ولې چې د محرمو ښځې په مسه کولو سره او یا د بېځې کښې نجلی په مسه کولو سره هیڅ خوك اودس مات نه بولي. او یا خپل غښې په باطن دار غوی مسه کړي چې په دی سره هم شافعي اودس مات بولي. نو چې سړي وروسته تر دغو دوو کارونو اودس تازه کړي عبادت به ئې د خلاف څخه ووزي».

کتبه بنده وتلمذه نفسل الحق حقاني احسان القسم القراءات والعلوم العقلية والنقلية جامعه تجويد القرآن

فَصْلٌ

فصل مصدر دی په معنی د جلا کولو کښې. او یا جلا کړه سوی، خبر مبتداء دی. ای هذا فصل» فصل په اصطلاح د مصنفانو هغه یوه اندازه مسئلې دی چې د مخ د مسئلو څخه جلا وی» قَالَ الْمُصَنِّفُ.

يَنْقُضُ الْوُضُوءَ اِثْنَا عَشَرَ شَيْئًا

اودس ماتوی دوولس شیان. **پوه سه**: چې نقض نه پیدا وائي نو که یو جسم ته مضاف سی نو که» نَقَضَ الْحَائِطَ» وی نړاوه دیوال نو معناد هغه جسم خرابول دی. او که مضاف و معنی ته سی نو که» نَقَضَ الْوُضُوءَ» معنا یه داده چې اودس د هغې فائدې څخه نه که جَوَازَ الصَّلٰوةِ مثلاً وقتي. قَالَ الْمُصَنِّفُ.

مَا خَرَجَ مِنَ السَّبِيلَيْنِ

اول هغه شئ دی چې راووزی د دوو لارو غولو د لاری که د پیر وی او که لنډ به ستر گولیدل کیږی نو که بولی او ټمول یا نه لیدل کیږی نو که پسکی او گوز، عادی شئ وی او که غیر عادی وی نو که شگه یا چینجۍ».

اَلْأَرْيَحِ الْقُبُلِ فِي الْأَصَحِّ

مگر پسکی د مخ د خوا څخه د ښځې یا ښځې په صحیح روایت کې. ولې چې د مخ د خوا څخه باد نه دی صرف او صرف هغه ځای د سره و ښوري. او که باد هم وی نو پر نجاست نه دی راتیر سوی. او د نجاست د ځای نه دی راوتلی. بخلاف ریح الدبر چې پر نجاست راتیریږی. نو دې سببه مصنف وسیله فی الاصح، قَالَ

وَيَنْقُضُهُ وِلَادَةٌ مِنْ غَيْرِ رُؤْيَةِ دَمٍ

او هم د ننگه اودس ماتوی لنګوالی د ښځې بیله لیدو د وینو یعنی که څه هم وینه نه وی. او که وینه وه خو په طریق اولی اودس ماتیږی

مسئله: بنځه په دغسی ولادت سره ښیلی وینو نفاس نه گرځی په قول دابو یوسف او محمد قال المصنف فی المراقی وهو الصحیح. ولی چی نفاس په وینه پوری اړه لری هغه خو نه ښته. مگر اودس پری لازم دی. ولی څه رطوبت خوراووځی. او حضرت الامام الاعظم وائی چی دغه بنځه دی احتیاطاً غسل وکړی. ولی چی غالباً دولادت سره څه رطوبت خروینه راوزی» اودقول دامام اعظم په کتابو کښی فتاوی وو تصحیح وکړه سوی ده. اوصدر شهید هم په دغه مذهب فتوی ورکول» کذا فی المراقی. قال المصنف

وَنَجَاسَةُ سَائِلَةٍ مِنْ غَيْرِهِمَا كَدَمٍ وَقَيْحٍ

اودغه رنگه اودس ماتوی بهیدونکی نجاست دغیر څخه د سبیلینو» ولی چی په صحیح حدیث کی راغلی الوضوء من کل دم سائل» لکه وینه او ژړی اوبه» اومذهب دی دهغو کسانو د صحابه کرامؓو چی زیری د جنت آنحضرت صلعم ورته کړی دی. اومذهب دی د عبد الله بن مسعودؓ او د عبد الله بن عباسؓ اودزید بن ثابتؓ او د ابی موسی اشعریؓ اونورو کسانو دغتو صحابه وو څخه اومذهب د رئیس التابعین الحسن البصریؒ او محمد بن سیرین»

فائده: سیلان د نجاست د سبیلینو څخه په صرف ظهور سره دی ولی چی نجاست څای لوړدی نو چی نجاست څان ښکاره کړی معلومه سوه چی هغه نجاست را بهید لی دی. اوسیلان د غیر سبیلینو په تجاوز سره دی د نجاست د څای څخه د ظهور وړ اسی څای ته چی پاکی د هغه څای یا په اوداسه یا غسل کښی لازم دی. **مسئله**: که ژړی اوبه د ښځی د قبل څخه راووځی اویا د نوښځه د نر یا ښځی یا د غوږو څخه که د مرض د سبب په څخه وو په ټولو اودس ماتیږی. پر صحیح روایت» مرط» قال المصنف

وَقَيْءُ طَعَامٍ أَوْ مَاءٍ أَوْ عَلَقٍ أَوْ مُرَّةٍ إِذَا مَلَأَ الْفَمَ

اودغه رنگه اودس ماتوی قی وهل که خوراکی شی قی کړی اوکه اوبه قی کړی اوکه کلک کنتکی وینه قی کړی اوکه ترخی اوبه قی کړی که چیری دا قی په دی څه خوله وی

پوه سه: چی علق سودا دسوی اومرة صفرا ته وائی. قال صاحب المراقی وهو مذهب العشرة المبشرة بالجنة» اوبل په حدیث کی روایت په ترمذی کړی دی راغلی چی رسول کریم صلی الله علیه وسلم قی وهامه اوبیا یه اودس تازه کړی. سید» وائی که دغه علق سره اونیری وه اودس په ماتیږی که څه هم ملأ الفم شرط نه وی عند الامام الاعظم خلافاً لمحمد چی ملأ الفم شرط بولی:

راهم زده کړه: چی دا اختلاف هلته دی چی قی دعلق دلته څخه وی اوکه دسر څخه وو نوخامخا اودس په ماتیږی که لږ وی اوکه ډیره قال البدر العینی فی شرح الهدایة»

سوال: فقها وو په قی کښی دوه ځله والی دخولی معتبر کړی. اوبه نورو نجاساتو کی نفس سیلان بهیدل معتبر کړی دی. **جواب**: خولی څخه وه حیثیت لری - په یوه دلیل خوله حکم د ظاهر لری چی خوله خلاصه کړی شی په کښی معلومیږی. او په بل دلیل حکم د باطن لری چی خوله بنده کړی شی نه پکښی معلومیږی.

اوپه احکام شرعیه وو کښی هم گاهی خولی ته حکم د ظاهر ورکول کیږی. چې په غسل کی پریوله فرض دی. اوگاهی حکم د باطن ورکړه سوی دی چې سړی د خولی ناری تیری کړی روژه یی نه په ماتیږی. نوفقها وو په قی کښی دده وارو دلیلو مراعات وکړی. یعنی چی قی په ډکه خولی وی نوخوله خارجه معتبره سوه نو اقی چی نجس دی گویا خارج شوا وو بهیدی. او چی قی لږ وی گویا دغه قی که څومره دباندی خورا وو وت لکن په حکم کښی د ناپو دی نکه سړی چی ناپی توکړی، ظهر»

وَهُوَ مَا لَا يَنْطَبِقُ عَلَيْهِ إِلَّا بِتَكَلُّفٍ عَلَى الْأَصَحِّ

اوملأ الفم هغه قی بولی چی شوندان نسی پرتینګه ولای مگر په تکلیف سره په صحیح روایت کی. او بعض فقهاء وائی چی ملء الفم هغه قی دی چی د هغه سره خبری نسی کولای شی:

ـه بتفصیل چی ترجمه کړی ایوب: خوشنو لیس بیا نوشته کړی حقانی.

وَيَجمَعُ مُتَفَرِّقَ الْقَيْءِ إِذَا اتَّحَدَ سَبَبُهُ

اوسره جلاجلا قی وهل کی سبب یو وو. یعنی خواگرځید نه نوکه دلهولو څخه ملأ الفم جوړیږی اودس په ماتیږی که یه څرهم ځایونه مختلف اوجلاوی. دا مذهب دی د امام محمد قال المراقی وهو الاصح. اوپه نیز د ابویوسف اعتبار یو والی لره د مکان دی. او ابوعلی دقاق وائی چی پرهر تقدیر چی مِلاء الفم وی اودس په ماتیږی. حاصل دا چی که سبب هم یو وی او مکان هم یو وی اوقئی مِلاء الفم ته ورسیږی اتفاقًا اودس په ماتیږی، اوکه دواړه مختلف وه اتفاقًا نه په ماتیږی. اوپه دوه صورته کښی اختلاف دی، قال المصنف.

وَدَمٌ غَلَبَ عَلَى الْبُزَاقِ أَوْ سَاوَاهُ

اوپه هغو وینه چی پرناره پیره وی اودس ماتیږی اوکه سره برابر وه هم اودس په ماتیږی

فائده: وینه که چیری د سړ څخه په پزه کښی راغله اوسائله وه. اودس په ماتیږی که څه هم لږ وی، نوکه ناری ژړی وی داوینه مغلوبه ده اودس نه په ماتیږی اوکه سره سخت وه غالبه ده اودس په ماتیږی. عینی، اوکه صرف سره وه هوصورت د مساوات دی په دې صورت کښی هم اودس ماتیږی احتیاطًا، ط، قال المصنف.

وَنَوْمٌ لَمْ تَتَمَكَّنْ فِيهِ الْمَقْعَدَةُ مِنَ الْأَرْضِ

اود اغر ډنګه اودس ماتوی هغه خوب چی کونه یه پر ځمکه نه وی ټینګه.

پوه سکه: چی بیده سړی به یا پر ارخ پروت وی نو اودس یه مات دی. اویا پر یوه کنات پې بیده وی نو یه هم اودس مات دی. ولی چی کونه یه د ځمکی څخه پورته ده او یا بی تکیه کړی وی ویوښی ته چې هغه څنډی ایسته سی غوږ مارینه، نو په دی صورت کی که یه کونه د ځمکی څخه زائله وه. نو یه هم اودس مات دی په اتفاق

اوکی کښه په ځمکه پوری ټینګه وه نکه چی یو دیوال ته چسپ ناست وی. اوکښه په پر ځمکه وی. امام قدوری وائی چی اودس یه ماتیږی. دارنګه د طحاوی څخه هم روایت دی لکن صحیح دا ده چی اودس نه په ماتیږی. اوکه په ولاړی یا په حال کی د رکوع یا سجدی بیده سو. نوکه په لمانځه کښی ووخوا ودس یه نه ماتیږی اوکه خارج الصلوة وو نو هم په اودس نه ماتیږی پر صحیح مذهب: اومریض که مضطجعًا لمونځ کاوه او بیده سو، صحیح داده چی اودس یه ماتیږی.

او نعاس چی پیښکی یه بوی کله چیری په حال کښی د پروتی وی اودس په ماتیږی اوچی درنی وی. اوکه سپکی وی اودس نه په ماتیږی. اوفرق په ما بین کښی د ثقیل نعاس اوخفیف دادی کی چیری د خلګو خبری اوریدی هغه خفیف اوسپک نعاس دی، اوکی نه اوریدی هغه درونده دی، اودغه ډنګه ماتیږی چی ستونی ستنج پروت وی او بیده سی، ولی چی د کښی خوله یه د ځمکی څخه پورته ده. اوکه پر مخی پروت وی بیده سی هم یه اودس ماتیږی.

فائده: خوب پخپله خو حدث اصلًا هغه شی دی چې دنا ښه څخه غالبًا ووزی چی ټسکی اوګوزدی. نو دی کبله د ګوتی و ټینګید وته پر ځمکه اویا نه ټینګید وته داودس په ما تولو اونه ماتولو کښی د خل ستنه په حدیث مبارک کښی راغلی دی. اَلْعَيْنَانُ وِكَاءُ السَّه فَإِذَا نَامَتِ الْعَيْنَانُ اِنْطَلَقَ الْوِكَاءُ یعنی ستر ګی چی مراد څنډی و یښ والی دی، خول وانبی د کښی دی نو چی ستر ګی بیدی سی هغه تنا و خلاص سی: علامه شبلی نعمانی په حاشیه کښی د ملا علی داسی لیکلی دی، پوښتنه راوړی ده، **پوښتنه:** چی یو سړی چی معذوره وو په انفلات الریح سره یعنی باد وته یه جاری وه. نو چی دغه سړی بیده سی په خوب یه اودس ماتیږی

جواب: یا نه ماتیږی ولی چی پخپله خوب ما تو ونکی داود اسه نه دی ما تو ونکی خو هغه باد دی چی د ده سه و وزی. اود دی سړی خود و یښ په باد هم اودس نه ماتیږی په وخت کی د ننه،

وَارتِفَاعُ مُقعَدَةِ نَائِمٍ قَبلَ اِنتِبَاهِهِ وَاِن لَم يَسقُط فِي الظَّاهِر

اودغه رنگه اودس ما توی پورته والی د کُنی دَبیده سَړی یعنی دَمخکی څخه د مخه تر بیداریدو دَدَه، که څوک هم څنګاړنسی پر محلّه پَه ظاهره مذهب کی: قال المصنف

وَاِغمَاءٍ

اودغه رنگه اودس ما توی بیهوښه والی - اغماء نا جوړی دَه چې د پوهنی اودحرکت قوتونه یه ټوله د خپل کار څخه معطل سی مگر عقل یه پاتی مغلوب

وَجُنُونٍ وَسُكرٍ

اوداغه رنگه اودس ما توی لیونتوب اوجنون یو مرض دی چې عقل یه بیخی زائل سی - اوقوی محرکه یه قوی وی چې اوداغه رنگه مستی اودس ما توی. که داشرابو څخه وی که دیو بل ما کول مشروب څخه وی بعض اطباء وائی چې سُکر د پیه خوشحالی دَه، دَنږه چې پر عقل غالبه سی. پس انسان کی څه هم عقل باقی وی خو پَه مقتضیٰ د عقل عمل نه سی کولای، کذا فی البحر وهو التحقیق، ط، وهذا اولیٰ مما قیل هو خفة یظهر اثرها فی التمایل وتلعثم فی الکلام کما فسروه الراقم عفی عنهم

وَقَهقَهَةٍ بَالِغٍ يَقظَانٍ فِي صَلٰوةٍ ذَاتِ رُكُوعٍ وَسُجُودٍ

اوداغه رنگه اودس ما توی په زوره خندا د بالغ سړی چې ویښ وی پَه داسی لمانځه کښی چې

وَلَو تَعَمَّدَ الخُرُوجَ بِهَا مِنَ الصَّلٰوةِ

رکوع اوسجده پکښی وی که څه دَدَه قصد وی په دی خندا سره وَتل د لمانځه څخه - د لمانځه خوبه ووزی لکن اودس یه مات سُو:

فَوَائِدُ

۱ د خندا کړپه قصد وی اوکه په سهوه اودس ما توی ۲ قهقهه هغه خنداده چې وده ته نږدې خلك یې هم واوری. په دی خندا هم لمونځ فاسدیږی اوهم اودس په ماتیږی او ضحك هغه خندا ته وائی چې دی ئ واوری همسایگان یې نه واوری په هغه سره لمونځ فاسدیږی. او اودس نه په ماتیږی.

مکتبه القراءت والتجوید کوټه

تَبَسُّم

او تبسم صرف د شونډو انو خندا ده که څه هم غاښونه ښکاره سی، په تلبسم سره هیڅ شی نه باطلیږی ۳ کشنی یعنی نا بالغه که په لمانځه کښی وخاندی اودس یې نه ماتیږی. ولی چې دا ماتوالی داود اسه په خندا سره د جهت څخه د زجر دی او کشنی د زجر اهل نه دی. او بعض فقهاء وائی چې د عاقل کشنی اودس په ماتیږی

پوه سه

: چې قهقهه حدث په حقیقت کښی نه دَه، ولې که حدث وای نو خارج الصلوٰة به هم اودس په ماتی دانی - لکه بَولی وغیره.

اوبل دا چې خندا خارج نجس نه دی بلکه یو صوت (آواز) دی لکه څرګ اوخبری چې په هغو اودس نه ماتیږی بلکه اودس ماتیدل په خندا زجرًا او عقوبتًا دی چې په حدیث صحیح کښی راغلی دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د جماعت پر لمانځه ولاړو وو چې یو سړی چې ستر گی ضعیفه وی په تلوار لمانځه تیریدو او و او په مخ کښی یو څاغوندی ډب وُود هغه سړی په لوی تَرَپ سره هغه کنده ته ولویدی. بعض لمونځ کوونکو په زوره پَرَوخندل نو څه وخت چې آنحضرت ﷺ سلام وګرځاوه. وی وَئیله چې هغه چا چې په لمانځه کی په زوره خندلی وی هغه دی اودس اولمونځ دواړه راوګرځوی.

نتیجه دا ده

چې چونکه په خندا اودس مات والی زجري دی حقیقی نه دی. نو د غه سړی ته روا ده چې مسجد د مصحف شریف دی پس له دغی خندا وکړی کی څه هم اودس نه وی تازه کړی. او بعض فقهاء وائی چې قهقهه حدث دَه لکه نور احداث نو د دوی په نیز مسجد د مصحف د غه سړی ته روا نه دی. نه ئی سی مسجد کولای د څخه تر اوداسه. بحر الرائق وَاول ته ترجیح ورکړیده.

۱ مصنف یقظان وویایه وَلی چې په قهقهه د بیده سړی په لمانځه کی اودس نه ماتیږی. وَلی پر نائم (بیده) هم زجر نسته هو لمونځ یې باطل سو، قال فی البحر وهو المذهب. مصنف وَوَئیله فی صلوٰة ذات رکوع آه په دی قید سره لمونځ د جنازی او سجدة التلاوة خارج کړه. نو که په دَغو دوو کښی وخاندی اودس یې نه ماتیږی کی څه هم لمونځ باطلیږی.

مکتبه القراءت والتجوید کوټه

سَوال یوسَړی وویل دعذر په سبب یَه لمونځ په اشاره کاوه اوپَه لمانځه کی وخندل نوبدی سَړی اودس باید مات نشی ولی چی لمونځ دده رکوع اوسجده وَالا نه دی.

جواب مراد درکوع او سجدی څخه عام مراد دی که حقیقةً وی اوکه مجازاً اوی اودغه معذور سَړی اشاره پَه څای کښی درکوع اوسجدی ولاړ ده نومجازاً رکوع اوسجده ورته وَیل کیږی.

اوبعض فقهاءؒ وائی چی مراد دادی چی هغه لمونځ په اصل کښی رکوع اوسجدی وَالا وی. اوښکاره خبره ده چی داشاره کوونکی دغه لمونځ خوپه اصل کی رکوع اوسجده وَالا دی.

پوښتنه مصنفؒ تخصیص داوداسره وکړی چی په خندا دلمانځه ماتیږی نوکه دغه لمونځ گذاره په تیمم سره لمونځ کاوه اووی خَندل باید تیمم دی مات نه سی:

جواب چونکه تیمم قائِم مقام داوداسه نوځکه هغه هم پَه خندا ماتیږی. وعَلیٰ هَذا فقس الغسل»

مصنفؒ وَقَیلهٗ وَ لَوْ تَعَمَّدًا آه

پوښتنه: چی زمونږ په مَذهب کی وتل دَ لمانځه څخه پَه صُنع اوفِعل دَلمونځ گذاره خوفرض دی. اوسلام گرځول واجب دی نو یَولمونځ گذاره چی اخیره ناسته یه وکړه. اوبی له سَلامه بَل شی نه وویاته نوُیه په زړه وخندل قصد یه دَاووچی په دی خندا دَلمانځه وونږه، نواودس یه مات دی. ولې تر اوسه پوری حُرمَت دلمانځه باقی دی لکه چی پَه سجدهٔ سهوُ کی وخاندې، اولمونځ یه صحیح سُو ولی چی دَفرائضو څخه شَی نه دی پاته. هوسَلام چې واجب وویاته سوگناه گاردی، قَالَ المصنفؒ.

وَمَسِّ فَرْجٍ بِذِكْرٍ مُنْتَصِبٍ بِلَا حَائِلٍ

اوداغږ ښگاه اودس ماتیږی په مسه کولوسره دگُس په څنډه سره چی لَك ولاړ وی اوپَه مابین کښی حائِل یعنی مانع نه وی.

پوښتنه: چی مراد د حائِل څخه داسی حائِل مراد دی چی حرارت دَبدن منع کوی لکه پند توکر، یاگرسره مانع نه وی او یامَانع وی لکن نازك.

واوره: چی په دَغه صُورت کښی دنر اوښځی دواړو اودس مات دی، کما فی القنیه.

اوامام محمدؒ وائی چی اودس نه ماتیږی مگرپه وَتلو د مذی سره.

جواب چی دَغسی مباشرت غالبًا دخروج څخه د مذی خالی نه وی والغالب کالمتحقق، ط

په مجمع الانهر کی وائی چی قول د امام محمدؒ دقیاس سره برابر دی او قول د شیخینو احوط دی.

فائِدَه: قید دفرج اوذکر اتفاقی دی. ولی که غنړپه کوینه پوری مسه کړی. اویا دوه ګوته خپل غنړان لَك لَك سره مسه کړی، اویا دوی ښځی گُس په گُس سره وَمَنی په دې ټولو صورتو کښی دوظیفه اودس مات سُو.

فَصْلٌ

عَشَرَةُ أَشْيَاءَ لَا تَنْقُضُ الْوُضُوءَ

لنډ شیان دی چی اودس نه ماتوی یعنی په مذهب کی دحنیفیانوؒ که څه بعض دد غو لنډو شیانو- په بعض نورو مذهبُو کښی نواقض الوضوء دی. قَالَ الْمُصَنِّفُ.

ظُهُورُ دَمٍ لَمْ يَسِلْ عَنْ مَحَلِّهِ

یوه هغوڅخه بنکاره والی دی دوینو چی د خپل ځای څخه ونه بهیږی. مثلاً د سړی دیوَځای پوست واوښتی وینه په بنکاره سَوه مگرونه بهیدله اودس په نه دی مَات. د دی وجه دَاده: چی په دغه وینه بَل شی گډ وَچ شی وی لکه توکر یا لُوند شی لکه چی دغه وینه په پُنبه سره واخلی اوپه لږو اوبو کښی واچوی په دغه وینه نه هغه وَچ مردارینه دی اونه هغه لږ اوبه، پرصحیح مذهب چی مذهب دابی یوسفؒ دی. اوامام محمدؒ وائی چی وَچ شی اولوند شی دواړه په مردارینه دی. لکن امام حدادیؒ وائی چی په وَچو شیانو کی فتوی پرقول دابو یوسفؒ

د، اوپه لنده وشیا نو کښی پر قول د امام محمدؒ ده» کذا قال السیدؒ مرط،

وَسُقُوطُ لَحْمٍ مِنْ غَيْرِ سَيَلَانِ دَمٍ

اوبل دا اودس ماتوی چې دیو ځای څخه دسړي غوښه جلا سی او وینه نه ورسره وبهیږي. د دی وجه داده چې غوښه پاکه ده اوجلا والی د پاک شی اودس نه ماتوي. **پوه سه:** چې دسړي غوښه په حق کی د خپله سړي پاکه ده او په حق کښی د بل چا مردار ده. لِأَنَّ الْمُنْفَصِلَ مِنَ الْحَيِّ مَيْتَةٌ: مرط» قَالَ الْمُصَنِّفُ

كَالْعَرَقِ الْمَدَنِيِّ الَّذِي يُقَالُ لَهُ رِشْتَه

لکه مدنی رگ چې هغوی رشته ویل کیږی. یعنی په فارسی ژبه یې رشته بولی. کذا فی الفتاوی البزازیة.

فَائِدَه: عرق مدنی یو مرض دی چې په مدینه منوره کښی وی. پلیښیږی هغه اول وار په پوست کی یو تنها که غوندی شی پیدا سی. اوهغه بیا سوری سی او په کرار کرار یو سپینر سی غوندی سی څندی راوزی اوبیا جوړه سی. او داد طبیبانو په نیز د فضولو مواد و څخه پیدا کیږي. قَالَ الْمُصَنِّفُ.

وَخُرُوجُ دُودَةٍ مِنْ جُرْحٍ وَأُذُنٍ وَأَنْفٍ

او داغږ رنګه اودس نه ماتوی راوتل د چنجی د تپه څخه اویا د غوږ نه څخه اویا د پزی څخه: علت یې هم دادی چې چنجۍ په خپل ذات کی خو پاک دی. اودده سره چې کم رطوبت دی هغه لږ دی. لکن پوه سه که چیری د غه چنجۍ په اوبو یا بل مائع شی ولوږی هغه په مردار یږی. نو د غه قضیه چې» مَا لَيْسَ بِحَدَثٍ لَيْسَ بِنَجِسٍ په حق د چنجی کښی ده نه په حق کښی د اوبو» ط» قَالَ الْمُصَنِّفُ.

وَمَسُّ ذَكَرٍ وَمَسُّ امْرَأَةٍ

او اودس نه ماتوی مسه کول د غږ خواه خپل ذکر وی او که د بل چا ذکر وی

او که مسه کول په باطن دار غږ وی او که په بل ځای سره وی. او خواه مس په شهوت سره وی او کی بیله شهوته مسه کړي. **پوه سه** چې د کوفی دمسه کولو هم د غه حکم دی ط» اوهم دا مذهب دی د لویو صحابه وؓ لکه حضرت عمرؓ وعلیؓ وابن مسعودؓ وابن عباسؓ وزید بن ثابتؓ اوږیسانو د تابعینو هم د غه مذهب دی لکه حسن بصریؒ وسعید بن المسیبؒ والثوریؒ.

په حدیث مبارک کی چې روایت یه ترمذی کړی دی د اسی راغلی دی چې رسول صلی الله علیه وسلم ته یو سړي راغلی د شا نه یه د اسی معلومیدی چې محرانۍ دی. نو هغه وویله: مَا تَقُولُ فِي رَجُلٍ مَسَّ ذَكَرَهُ فِي الصَّلٰوةِ. یعنی د غه وایه په هغه سړي کښی چې خپل ذکر مسه کړي په لمانځه کښی قال علیه الصلوٰة والسلام: هَلْ هُوَ إِلَّا بِضْعَةٌ مِنْكَ» وَفِي رِوَايَةٍ مُضْغَةٌ مِنْكَ» علیه السلام وهغه سړی ته جواب ورکړی چې نه دی ذکر مګر ستا یو توټه. او ترمذی په پای کی د حدیث د اسی وئیلی دی» وَهٰذَا الْحَدِيثُ أَحْسَنُ شَيْءٍ فِي هٰذَا الْبَابِ وَأَصَحُّ» **سوال** په یو حدیث کی د بسرةؓ یه روایت کوی د اسی راغلی دی» مَنْ مَسَّ ذَكَرَهُ فَلْيَتَوَضَّأْ» یعنی که چا خپل ذکر مسه کړی هغه دی اودس تازه کړی. **جواب** امام فقیه ابوجعفر الطحاویؒ او امام الطحطاویؒ د اسی وائی چې د غه حدیث د بسرة یو جماعت د محدثینو ضعیف ګرځولی دی. وَإِنْ شِئْتَ التَّفْصِيلَ فَارْجِعْ إِلَى فَتْحِ الْقَدِيرِ شرح الهدایه. **پوه سه:** چې مسه کول د بنځی که د سړي خپله مانینه وی او که بیګانه وی، او که محرمه وی که غیر محرمه وی اودس نه ماتوی خلافاً للشافعیؒ.

زمونږ دلیل د ادی چې ابوداوود، ترمذی، نسائی، ابن ماجه، بی بی عائشه رضی الله تعالیٰ عنها څخه روایت دی» چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د بعض مانیو څخه مخه واغستل او بیا ئی لمونځ کاوه» او اودس یه نه تازه کاوه» او مخه په انواعو کښی دلمس د شهوت شی دی.

پوښتنه: په ایت کښی د تیمم د اسی راغلی دی» اَوْ لٰمَسْتُمُ النِّسَآءَ الآیه

نوه هغه څخه. اسی فهمیږی چی لمس دښځی هم اودس ماتوی. **جواب** ترجمان القرآن رئیس المفسرین عبد الله بن عباس وائی چی مراد د لمس څخه یا ذکره کښی جماع او وطی دی، او داهم د لمس لغوی ترجمه ده. ابن السکیت اللغوی وائی چی لمس چی دښځی سره راسی مراد ځندی جماع ده عرب وائی، لمس المرئة ای جامعتها. قال المصنف

وقئ لا یملاء الفم وقئ بلغم ولو کثیرا اوصو قی چو خوله نسی پر ډکه اودس نه ماتوی. ولی د غرقی د لوړی حصی څخه د معدی اړی چی ځای د نجاست نه ده. اوقئ د بلغمو چی په اصطلاح کښی ګرو ډپی بولی اودس نه ماتوی که څه هم ډیر وی. ولی د ګرو ډپی د ښوی والی د کبله نجاسته په ده سره نه منبلی اودی پخپله پاک دی. قال المصنف:

وتمایل نائم احتمل زوال مقعدته اوسو نیږ د بیده سړی چی پیښه کی بولی: چی احتمال د زوال د کښی یه هم وی. اودس نه ماتوی. په حدیث کښی دا بی داود داسی راغلی دی. کان اصحاب رسول الله صلی الله علیه وسلم ینتظرون العشاء حتی تخفق رؤسهم ثم یصلون ولا یتوضؤن ترجمه: وه اصحاب د علیه السلام انتظار بی کاوه دما خستن د لمانځه حتی چی سرونه بی ښکیدله او بیا بی لمونځ کاوه اودسونه یه نه تازه کوله. قال المصنف:

ونوم متمکن ولو مستندا الی شئ لو ازیل سقط علی الظاهر فیهما اوداغه ډنګه اودس نه ماتوی خوب د هغه چا چی کنډ یه پر ځکه ټینګه ایښی وی کی څوم تکیه کړی وی ویوشی ته لکه دیوال یا بالنبت یا تنبه، په داسی ډول که هغه شی چی ده تکیه وربته کړیده ایسته سی. غوځار ین ی. اوداهم پر ظاهر روایت

په اوداسه کاوه، د رولیش وائی چی دیو خوشپوډ پاره خودا کار بعید نه دی امّا خلوینت کاله متوالی (پی درپی) داسی خوب کول ډیر لیری معلومیږی. چی په دوند اوږده موده کښی عذر و نه دنا جوړی اود کور د ضرورت، اود قضاء حاجت څخه پیښیږی. امامنقبت خو صحیح دی چی درولیش د دی منقبت وجه او په زړه پوری توجیه یه شرح پښتو کښی دابو المنتهی بیان کړیده. اوزه ګمان کوم چی د هغی وجهی څخه بیله متعصب عالم یا حاسد څخه بل څوك اعراض و نه کړی، او په انعام د احسنت ہی مخاطب کړی، ان شاء الله. قال المصنف:

ونوم مصل ولو راکعا او ساجدا علی جهة السنة والله الموفق اواودس نه ماتوی خوب د لمونځ ګذاره برهر هیئت چی وی حتی کی څوم په حالت د رکوع یا سجده کښی بیده سی. چی په دی دوو حالونو کی د تلو دباد ډیر احتمال ستة، لکن چی رکوع او سجده یه پر دلیل د سنت وی چی لاسونه

بی د بغلوڅخه نیږی وی او په سُجده کښی بی نَس همراه لونو) دَوَر لُوڅخه لیږی وی
حدیث مُبارك کښی راغلی دی ۴ لا یَجِبُ الوُضُوءُ عَلی مَنْ نامَ جالِسًا اوقائِمًا
اوساجِدًا حَتّٰی یَضَعَ جَنبَهُ ۔ یعنی اودس نه واجیبیږی پرهغه چاچی بیده سی
ناستی یا په وَلاړی یا په سُجده کی ترهغوچی بَغل این دی پر ځمکه ۔ امام طحطاوی
په صـ۷۵ کی داسی وَائی: لِبَقاءِ بَعضِ الاِستِمساكِ اِذْ لَو زالَ کُلُّهُ لَسَقَطَ ۔ چی دهغه
سړی بعض ځان تینګه ول پاتهدیږی ۔ ولی که یو کَلَنځته یه ځان تینګیده ورله سوی
داسړی حتمًا غځاریدَی ۔ مصنفؒ په اخیرکی وائی وَاللهُ المُوفِق خدای جَل جَلالَه توفیق
ورکوونکی دیُ ۔ قالَ المُصنفؒ

فصلٌ مَا یُوجِبُ الاِغتِسالَ

فصل دی په بیان کښی دهغو شیانو چی غسُل واجِبَوی ۔ **پُوه سَه** چی اغتسال او غسل په یوه مَعنا دی چی هغه پریوله د تولوله بَدن دی ۔ او په شرع شریفه کی پریوله دَتولوله بَدن دی د جنابت څخه یَاد حَیض یاد نفاسه څخه او جنابت یو صفت دی چی دَنزول څخه د مَنی په شهوت سَره که دَنروی او که دَبنځی پیدا کیږی لکن دا غسُل فرضی تفسیر دی او غسُل مسَنون هم دَاغه معنا ده ۔ قالَ المُصنفؒ

یَفتَرِضُ الغُسلُ بِوَاحِدٍ مِن سَبعَةِ اَشیَاءَ

فرضیږی غسُل په یوه سَره د اوو شیانو نوه یعنی چی سَړی یوه دغو اوو شیانو پرلاندی سی غسُل پرلازم دَی ۔

خُرُوجُ المَنِیِّ اِلٰی ظَاهِرِ الجَسَدِ

اول وَتل دی د مَنی دنریا د بنځی څخه وظاهر بَدن ته ۔ ولی چی بنکاره نسی حکم نه لری

پوه سه: چی مَنی دَنر سپیڅ خټه او به دی چی په وَتولو سَره ئی ذکر کړی دی او مَنی د بنځی ترې څرپ او به دَی ۔ قالَ المُصنفؒ

اِذَا انفَصَلَ عَن مَقَرِّهِ بِشَهوَةٍ وَکَانَ خُرُوجُهُ مِن غَیرِ جِمَاعٍ

وتل په یعنی جلاسوځه مَنی دَخپل ځای څخه چی دَنرمالۍ او دَ بنځی د ځگر پښتی دی ۔ چی
ترائب یه بُولی: قالَ اللهُ تَعالٰی: یَخرُجُ مِن بَینِ الصُّلبِ وَالتَّرائِبِ ۔ او وتل په بیلا جماع او
وی ۔ لکه په خوب کی اودَس پر واوړی ۔ یا په فِکر سَره ۔ او یا په نظر د شهوت
تلو سَره ۔ **پُوه سَه**: چی مصنفؒ مِن غَیرِ جِماع وَبَیلَه ۔ ولی چی د جماع او غسُل
خو په خروج د مَنی پوره اړینه لری بلکه چی د غنړ سَر په فرج یا دُبر کښی پَټ سی غسُل
پر فاعل او مفعول دواړو فرض دی که څرګند انزال نه سی ۔ **مسئله** که بی شهوت مَنی
خارج سوه لکه لوی باړ چی په شا کړی یا په خولۍ پر مَلاوهی او مَنی ړاووزی غسل نه
دی پَرلازم ۔ **پوه سه**: چی چونکه دفق وَشهوت سَره لازم وه نوځکه مصنفؒ
دفق نه کړی ذکر او په بعض کتابو کښی د فقهی په دفق او شهوت دواړو ړاوړی دی
لکن عبارت د مصنفؒ چی یوازی شهوت ړاوړی دی د پراعلی دی ۔ ولی د دفق وجود
په ظاهره په مَنی کی د بنځی نه لیدل کیږی ۔ حضرت الامام الطحطاوی په صـ۷۲
کی وائی چی هغه ایت مبارك، خُلِقَ مِن مَّاءٍ دَافِقٍ یَخرُجُ مِن بَینِ الصُّلبِ وَالتَّرَائِبِ
په بناء پر تغلیب وی د مَنی دَنر پر مَنی دَبنځی، دَرولیش وائی چی همدغه رنګه
عبارت دَنورو فقهاوو چی دفق یه ذکر کړی دی مبنی پر تغلیب وی ۔ لکن مع هذا
مصنفؒ په مَراقی الفلاح کښی وائی: وَاَغنٰی اِشتِرَاطُ الشَّهوَةِ عَنِ الدَّفقِ لِمَا لَازَمَه
مِنهَا ۔ وَاللهُ اَعلَمُ بِالصَّوَابِ ۔

فَائِدَةٌ سُنِّیَّةٌ ضَرُورِیَّةٌ

پوه سَه چی مصنفؒ په مَراقی کی د خروج د مَنی په شهوت سَره بیله جماع یو بَل صَوت ړاوړی

دی لکه چی یوسَړی پَلاس کی ځان انزال کړی. **مسئله**: په دی باره کښی دا دو
بحرُ الرائق د محیط څخه داسی نقل کړی دی. که یوسَړی ماینه نه لری، اوشهوت یا
د پروی اوبیریږی چی یا زنا یا لواطت به راسه صادرسی. هغه اجازه ده چی پ
خپل لاس کی ځان انزال کړی دپاره دا راسولو دشهوت خپل مگر په دی فعل کښی
نسته. حضرت الامام الاعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ وَاَبِیْ یَنْجُوْ رَأْسًا بِرَأْسٍ، دی سَړی نجات پیدا کړی
سَړی په سَړی یعنی نده ته ثواب سَته اونه عذاب. اوکه سړی دشهوت پرمنی
دپاره د غه کار کاوه. بیا داکار حرام دی. په حدیث شریف کی راغلی، نَاکِحُ
الْیَدِ مَلْعُوْنٌ. اود سعید بن جُبیرُ څخه روایت دی چی یوقوم خدای په عذاب
کړه په سَبب د دی چی دوئی په لاسو کښی ځانونه انزالوه.

واوره: چی اوّوه قسمه خلگ خدائ په نظر د رحمت نه ورته گوری د یودم
څخه نَاکِحُ الْیَدِ دی: ابن جریج رَاوِیْ ماد عطاءُ څخه په باره کښی د د غه کار
پو بښته وکړه. هغه وَوَیل چی مکروه دی. اوهغه نه ریاته کړه چی په ورځ د قیامت
به بعض قوم حَشر سی چی په لاسو کښی بی حمل وی. نوده وَوَیله چی زما گمان دا دی
چی داقوم د غه فعل کوونکی به وی. **مسئله**: د حضرت الامام الاعظم اوابی
محمّدُ مذهب دادی چی شهوت په نیز د جلا وَالی د نطفی د مَلا څخه فقط نظر
اوړوخته د وَتلو د ذکره څخه د دوام نه غواړی. اوامام ابی یوسفُ وائی چی تر وخته
د وَتلو د مَنی دوام د شهوت شرط دی **فائده**: د دی خلاف د اده که دیوچا
د مَلا څخه په شهوت نطفه جلا سوله اوده د ذکر سر تینگ کړی، چی شهوت یا
سوړسُو بیا نطفه ایله کړه.

د امام اعظم اومحمّد پر مذهب غسل کول پرلازم دی. اوپه نیز د امام ابی
یوسفُ غسل فسته باندی. اوبله فایده یه دا ده که دیوسَړی څخه مَنی وَوتله
پُرهغه ځای غسل وکړی اولمونځ یه هم وکړی. ورروسته نور مَنی راوَوتله لمونځ
خواتفاقا صحیح دی. لکن د طرفینوُ په نیز غسل بل پرلازم دی اود امام یوسفُ

په نیز غسل اول کافی دی. اوکه چیری دیوسَړی نطفه راوَوتل نوده بولی وکړی
اوپاتیده سواویا یه پرتگ وکړی بیایه غسل وکړی اوورروسته نور مَنی
راووتله بیل غسل په اتفاق پری نسته: **سؤال**: د څخه وویل سول که پرنر
اوس بی جماعو واوړی مثلاً د خوب په وخت کی اوکه پر بښځه اوس واوړی ایا پر
بښځه هم د غه شان اوس اوړی **جواب** هواوړی د بخاری د روایت سره سم
پوښتی د رسُول الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ څخه پوښتنه وکړه. هَلْ عَلَی الْمَرْاَةِ
اِذَا هِیَ اِحْتَلَمَتْ قَالَ نَعَمْ اِذَا رَاَتِ الْمَاءَ، یعنی آیا پر بښځه غسل سته چی
شیطان یه خطاباسی. عَلَیْهِ السَّلَام ورته وَوَیل هُو چی اوبه ووینی یا پر بدن یا پر
بستاگه.

پوښتنه: زمونږ نَران خوچی په خوب کی اودس پروا وړی نُووائی حتمًا د
غسل څخه پاته کښی چی دشپی معذور سوی وَی، یا شیطان بازی راکړی وَی، اوښځی
راخبره نه کوی حتّی پخپل ما بین کښی هم، **جواب** د ښځی چونکه شرم دیر دی
نوځکه د اخبره نسی کولای بلکه په بهانه د سَر پرلیولو په غسل خانه ننوزی او
هوری خپل غسل وکړی. او د اخبره ضروری ده هرڅوک چی شهوت اونطفه لری
غواړه مخواه اودس هَم په دیښه د جماعو په سَبب هم په خوب کی اودس پراوړی
که ښځی نطفه نه در لودائی. نود یوائی کرد نطفی څخه عیال نه پیدا کیږی. قَالَ

وَتَوَارِیْ حَشَفَةٍ اَوْ قَدْرِهَا مِنْ مَقْطُوْعِهَا فِیْ اَحَدِ سَبِیْلَیْ اٰدَمِیٍّ حَیٍّ

اوبل واجبوونکی د غسل پټ والی دی د غنړ د سَړ او یا په قدر د حشفه کی حشفه
پری وَه. په یوه کښی د دوو لاروچی کُس اوکُنه ده لکن د انسان چی ژوندی وی. **پوه سه**
چی حشفه د سُنتی ترځایه پورته ذکر ته وائی. لکن ننوتل د تولی حشفی واجبوونکی
د غسل دی اوکه چیری کم تر حشفی یا تر قدر د حشفی ننوتی غسل نه واجبیږی.

قاله الطحطاوی نقلاً عن القهستانی. **فَائِدَه**: غسل پر ښځه هلته
واجبیږی چې په یوه کښی ددوو لارو ددی ننوزی ذکر د انسان اوکه د لنګوړ د
بیزو ګیانو مثلاً عنتر په ننوزی ترهغه چې پردی اودس وا نه وړی غسل نه ردی پر
واجب اوه نه ترکته هم پردغه قیاس دَه، اوهغه انسان چې داشتهاء په ځای کې جزی
دی د کشنی آله په ځان چې کړی ترهغو چې انزال نه سی غسل پری نسته.

پُوه سَه چې غسل پر فاعل اومفعول دواړو فرض دی که مکلف وه او که
مراهق یعنی بلوغ ته نزدی وه نوهم په امرکیږی د پاره د عادت نیولو.

مسئله که یونړ د کشنی جنلی سره جماعی وکړی اود ذکر سړیه په کښی پټ کړی او
کس ته یه تاوان نه ورسیدی پردغه نړ کښ هم نسی انزال غسل فرض دی.

مسئله که سړی خپل ذکر په ټکه کښی وپیچی اود ښځی په فرج کی داخل کړه
او انزال نه سو بیرته یه راوکښی نو اصح خودا ده کی ګرمی د کس د ښځی او خوند هم
احساس کړی غسل پرواجب دی اوکی احساس نه کړی غسل پری نسته. لکن احتیاط
دادی چې غسل وکړی. لقوله علیه الصلوٰة والسلام: اِذَا اِلْتَقَى الْخِتَانَانِ وَغَابَتِ
الْحَشَفَةُ وَجَبَ الْغُسْلُ اَنْزَلَ اَوْلَمْ يُنْزِلْ. اومصنف دژوندی قید وَوَایه ولی
کی دمړی ښځی سره دَغه کار وکړی ترهغو چې انزال نسی غسل پری نسته. قال المصنف

وَاِنْزَالُ الْمَنِيِّ بِوَطْيِ مَيْتَةٍ اَوْ بَهِيْمَةٍ

اویل غسل واجبوونکی انزال دی دَمنی په وَطی سره دمړی ښځی اویاد چارپای لکه
خَرَه، غوا، وغیرهما. ددی مسئلی معنا داده چې په مطلق داخلولو د ذکر په فرج کی
دمړی ښځی یا خری مثلاً غسل نه واجبیږی ترهغو چې انزال نسی. که انزال سو غسل پری
فرض دی، قال.

وَوُجُوْدُ مَاءٍ رَقِيْقٍ بَعْدَ النَّوْمِ اِذَا لَمْ يَكُنْ

ذَكَرَهُ مُنْتَشِرًا قَبْلَ النَّوْمِ

اودغه رنګه غسل واجبوی لیدل داوبو ټاټرۍ یعنی چې دمنی خیال هم نه
کیږی. پس له بیدارتوب دخوب څخه لکن دا بلته چې ذکر دَدَه.

ته اوو لاړنه وی ترخوب دَمخه. په مَراق کی وائی چې احتلام یه هم په یاد نه وی.

پُوه سَه: چې داحکم دَغسل مذهب دی دحضرت الامام الاعظمؒ اودحضرتینِ
محمدؒ اوابویوسفؒ وائی چې غسل نسته باندی ولی چې دا نرمې اوبه مذی ده اوبه قول
دابی یوسفؒ خلف بن ایوبؒ. اوابواللیث السمرقندیؒ هم اختسته کړی دَه. اوقیاس
هم دَغه تقاضا لری. طرفینوؒ لره دلیل دادی چې درسول الله صلی الله علیه وسلم
څخه چا پوښتنه وکړه. چې یوسړی چې پربدن یا پر تاګه لندوالی وویني اواحتلام
په یاد نه وی! قال یَغْتَسِلُ. علیه السّلام جواب ورکړی چې غسل به کوی. اوبل
دلیل دادی چې ګاهی گاهی مَنِی په سبب دیوعارض نرم ګرځی اواحتیاط په باب
کی دعبادَاتو لازم دی، اوکی ذکر منتشر وو ترخوب دَمخه نودا تجربه ده چې دواړه
ذکره څخه منی وَنی نوځکه موږ دا نرمې اوبه پرمَذی حمل کوو، اوغسل پرواجب
نه ګڼو.

مسئله: که مړه اومایته سره یوځای بیله پرتاګه بیده وه چې راویښ سوله
په مابین کی ددوی اوبه وی. نوکه دیوه ددوی څخه احتلام پیاد وو خو پر هغه غسل
لازم دی. اوکی نه وو پیاد. نوکه دا اوبه خپله اوسپینی اوپه اوږ دواړو پرتی وی نو پر نړ
غسل لازم دی. اوکه هغه اوبه نرمی اوږ ډی اوپه پسار پرتی وی نو پر مینځ غسل لازم دی.
اوکی هیڅ تمیز نه کیدی دواړو به غسل کوی، کذا فی مُعتبرات الفقهاء.

فَائِدَه: بحر راتق دامسئله یعنی دلیدلو داوبو پر بدن یا پر جامه پس له
خوبه څخه پردوولس وَجهو بیان کړی دَه. چې حاصل یه دادی ۱ یا بی یقین وی چې
مَنِی ده ۲ یا بی یقین وی چې مَذی دَه. ۳ یا بی یقین وی چې وَدِی ده ۴ اویا بی
شك وی په اول اودوهم کښی ۵ اویا بی شك وی په اول اودریم کی ۶ او
یا بی شك وی په دوهم اودریم کی. داخوشپږ صُورته سَوه. اوپرهر تقدیر دد غوشپږو
یا بی احتلام پیاد وی یا نه. نوشپږ چې په دوو کی ضرب کړی دوولس جوړیږی.
نوپه هغه صورت کی چې یقین یه وی چې مَنی ده کی احتلام پیاد وی اوکه نه غسل

پرلازم دی۔ اودغرڼگه غسُل پرواجب دی کی یقین وو چی مذی ده لکن احتلام یه پیاد وو۔
اودغرڼگه غسُل واجب دی کی شك وو چی منی ده اوکه مذی یا شك وو چی منی
اوکه وَدی۔ اویاشك وو چی مذی ده اوکه ودی لکن په دغوصُورتو کښی احتلام پیاد وُو۔
داخو په اتفاق د درو سَره امامانوؒ۔ اودا هم اتفاقی حکم دی کی یقین وو چی دغه اوبه
ودی ده کی احتلام پیاد وی اوکه نه!۔ اویاشك وو چی مذی دَه اوکه ودی لکن
آویا یقین وو چی
په دی دُوو صُورتو کښی احتلام نه وو پیاد۔

اوکه چیری شك وو چی منی ده اوکه مَذی۔ یاشك وو چی منی ده اوکه وَدی اواحتلام
یه پیاد نه وُو نوغسُل پرواجب دی په نیزد طرفینوؒ خلافاً لابی یوسفؒ۔ **یوه مسئله**
چی مراد د یقین څخه په دغومسئلو کښی غلبة الظن دی۔ ولی چی حقیقت یقین مشکل دی
کذافی «ط» قال المُصنفؒ

وَوُجُودُ بَلَلٍ ظَنَّهُ مَنِيًّا بَعْدَ إِفَاقَتِهِ مِنْ سُكْرٍ أَوْ إِغْمَاءٍ

اودغرڼگه غسل واجبوی لیدل د لندوالی چی د سړی غالب گمان داوی چی دَامنی ده۔ اودا
لندوالی وو بینی پس له دی چی داسړی پرسَدسی د مستی څخه۔ اویاد بیهوشتیا څخه۔
حاصِل داچی یوسَړی شراب مثلاً چښلی وَه اویَا بیهوشه سوی وو چی په هوش کی
راغلی۔ یعنی مستی یه وَلاړه اویا بیهوشی یه ختمه سوه۔ نُو پر بَدن او یا جامه
یه لندوالی وو چی دَده غالب گمان داسو چی پرده وَدس اوبنستی دَی۔ اودا لندوالی منی
ده غسُل پُرلازم دَی۔ اوکی غالب گمان داوو چی دا مذی دَه غسُل نسته باندی۔ اودا
غسُل په اول صورت کی احتیاطی دی۔ قال المُصنفؒ

وَبِحَيْضٍ وَنِفَاسٍ

اودا غرڼگه غسُل فرض دی په حیض او نفاس سَره یعنی چی نجاست څخه د حیض او نفاس څخه
خلاص سی نو غسل کول پر فرض دی۔ دا حکم اتفاقی دی اوپه قرآن سره ثابت
دی۔

اللهم اغفر لمؤلفه ولکاتبه آمین

وَلَوْ حَصَلَتِ الْأَشْيَاءُ الْمَذْكُورَةُ قَبْلَ الْإِسْلَامِ فِي الْأَصَحِّ

که څهم حاصِل سی د غه شیان چی ذکر سَول یعنی وطی او حیض او نفاس وغیره چی موجبات
د غسل وَه د هغه تر اسلام په اصح رِوایت کی۔ ولی چی دکفر په وخت کښی چی دی جنب
وو هغه جنابت یه پاته دی او په اسلام سَره نه زائلیږی۔ اوپس له اسلامه د
لمانځه تلاوة القرآن وغیرهما د پاره پاکوالی د جنابت څخه شرط دی» قال المُصنفؒ

وَيُفْتَرَضُ تَغْسِيلُ الْمَيِّتِ كِفَايَةً

اوفرض دی غسُل د مړکول وَمَړوسته لکن دا فرض کفائی دی چی یوخوك په ورکړی دتولو
مسلمانو غاړی خلاصیږی اوکه هیڅ چا وَرنه کړی دَتولو حاضرو خبرو مسلمانانو غاړی
بندی دی۔ **فَائِدَه**: مصنفؒ که څهم مړی مطلق ذکر کړی دی» لکن
هغه مقید په دی دی چی مسلمان به وی۔ اوبل داچی داسی کار اوشئی به نه وی
پکښی چی غسُل یه ساقط وگرځی۔ لکه جنایت د بغاوت وحکومت اسلامی ته یا
شهادت فی سَبیل الله وغیره۔ اودغرڼگه دی حکم څخه مُستثنیٰ دی خنثیٰ
مُشکل» خنثیٰ مشکل چی مړسی خوك وَائی تیمم دی ورکړی۔ او بعض عُلماء وائی
دکالوسَره دی پری مینځی۔ وَالْأَوَّلُ أَصَحُّ۔

پُوه سَه: چی دَمړی د غسل دَپاره نیت شرط دَی۔ د غاسِل دَغاړی خلاصیږی
دپاره نه دپاره د پاکوالی دَمړی» کذا فی فتح القدیر» قال المُصنفؒ۔

عَشَرَةُ أَشْيَاءَ لَا يُغْتَسَلُ مِنْهَا مَذْيٌ وَوَدْيٌ

لس شیان دی چی د هغوڅخه غسل نسته (یعنی غسل پرسړی واجب نه دی) هغه مَذی او وَدی دی
د مَذی لفظ په زَور د میم او په سکون د ذال۔ او بعض وائی چی په زیر د ذال سَره دَه
تخفیف دیاء۔ او بعض دکسری د ذال سره په تشدید دیاء وَائی۔ مذی سپینی اوبه

دی نرۍ چې په وخت کې د شهوت ړاوزي. دفق وبرسره نه وي. او بعض وخت په په وتلو سړې پوه نشي. او دا مذي تر نرو په ښځو کښې تر نرو ډير پيدا کيږي او د ښځو وصفي ته، قَذْي وائي په زور د قاف او سکون د ذال. او لفظ د وَدِي په زور د واو او سکون د دال سره تخفيف د ياء دی. او «ودي» سپينې اوبه دی خړينې خټه او ګاهی تر بولو د مخه او ګاهی وروسته تر بولو ړاوزي.

پوه سه: چې په اتفاق د ټولو امامانو په دی دوو کې غسل نشته «مرطاوي» او ګاهی وَدِي په پورته کولو سره د ذَرانۍ شي هم ړاوزي. او په دواړو اوس مانيږي

وَالْاِحْتِلَامُ بِلَا بَلَلٍ

او د خوبه څخه احتلام چې لندوالی پر بدن او جامه نه وي يعنې خوب به پياد وي چې ما دچا سره وطی وکړې لکن لندوالی نه وي. او ښځه لکه نر داسی ده په دغو احکامو کې. م - په ظاهر روايت کې. اوامام محمد وائي چې غسل پر ښځه واجب دی د پاره د احتياط» کذا قال الطحطاوی. **فائده**: احتلام محال دی پر انبياء عليهم السلام. ولې چې دا کار شيطاني دی او انبياء عليهم السلام معصوم دي د شيطان د غلبې څخه که څه بعض وخت وسوسه ورڅوي. قاله الطحطاوی ناقلا عن بعض الائمه ؒ

وَوِلَادَةٌ مِنْ غَيْرِ رُؤْيَةِ دَمٍ بَعْدَهَا فِي الصَّحِيحِ

او زيږيدل د کچنی ښځې څخه بيله ليدلو دوينو پس له ولادت څخه په صحيح روايت کښې» چې دا مذهب د يارانو دی. او امام اعظم وائي چې پرد غه ښځه غسل واجب دی احتياطا. ولې چې ولادت بيله وينو که څه هم لږ وي غالبا صورت نه لري. قال

وَاِيلَاجُ بِخِرْقَةٍ مَانِعَةٍ مِنْ وُجُودِ اللَّذَّةِ

او غسل نه واجبوی ځکه ايستل د ذکر په فرج کښې د ښځې سره د داسی ټکړه چې مانع وي د وجود څخه د خوند دي. يعنې يو سړی پرخپل ذکر باندی پنډه ټکړه وپيچي

او بيائې د ښځې په فرج چې کړي. چې هيڅ خوند نه ورکوي غسل نه واجبوی - »

سوال: مصنف د مخه د حرارت او لذت دواړه ذکر کړه او دلته يې يواځې لذت ذکر کړی. **جواب**: لذت او حرارت سره لازم او ملزوم دی. **پوه سه**: چې دا حکم بناء پر صحيح روايت دی لکن احتياطا غسل پر واجب دی» قال المصنف

وَحَشَفَةٍ وَاِدْخَالُ اَصْبَعٍ وَنَحْوِهِ فِي اَحَدِ السَّبِيلَيْنِ

او د غه رنګه غسل نه واجبوی» (دستور) په بل عبارت (اماله) يعنې هغه چې يو سړی قبض اوسده وی د کُنې د خوا د واپه کښې تو ليوی. او يا ګوته يا مثل دګوتې لکه پوست شمه وغيره په يوه کښه د دوو لارو يا کُنه يا کُس. **پوه سه**: چې دستور خو د پاره د دوا دی د شهوت د پاره نه دی او ګوته او مثل دهغې که څوک د شهوت د پاره وی لکن شهوت يې قاصر او کم دی. نو ترهغو چې انزال نه سی غسل نه دی پر واجب

فائده: په ننۍ زمانه کې بعض ښځې شهوت پرسته. پنډه شمه راسی او سړی په ذکر د سړی پر وزمه ورجوړ کړي. نو رخو. شمه پوست لکه کلک ذکر دا سی دی. نو که ښځه باکره وی د دې سببه چې بکارت مې نه زائل نه سی. د غه شمه په کونه ننه باسی او دا کار ډير خو چې انزال کيږي.

او که باکره نه وه نو يا يې مهره ډيره وطی نه سی کولای. او يا مسافره وی نو د غه شمع پرکُس استعمالوی خو چې انزال کيږي. نو په دی ګردو صورتو کښې غسل پر واجب دی - او که ټکړه نه سی وکړې هم غسل پر واجب دی. او دا کار که د پاره د تسکين د شهوت وو خو ړاسا برأس خلاص دی. او که د پاره د قضاء د شهوت وو نو ګناه هم ده» کما في الاستمناء وقد مر تفصيله» قال المصنف.

وَوُطُوءُ بَهِيمَةٍ اَوْ مَيِّتَةٍ مِنْ غَيْرِ اِنْزَالٍ

او د غه رنګه غسل نه واجبوی وطی کول ديو چارپای لکه خره يا مړه ښځه چې بې انزاله وي. وجه يې داده چې

په دی دوو کښی کامِل شهوت نشته - قَالَ المُصنفُ.

وَاصَابَهُ بِكْرٍ لَمْ تُزَلْ بَكَارَتُهَا مِنْ غَيْرِ إِنْزَالٍ

اوداعذرنګه غسل نه واجبوی رسیدل یعنی غوږول دباکری نبځی چې په دغه غوږولو سره په د بکارت پرده نه رسی خیری لکن بیله انزال څخه اوکه انزال سوبیا غسل پرواجب وی.

پوښتنه: چې د بکارت پرده ودالاَن ته دَفرج دومره نږدی دَه که چیری سړی تولهٔ حشفه ننه باسی خواه مخواه هغه پَرده څیریږی نو هغه پرده نه سوه خیری نومعلومه سوه چې تولهٔ حشفه په فرج کی نه ده داخله سوی بلکه صِرف په دهلیز کښی دفرج دَه» قَالَ المُصنفُ.

فَصْلٌ

يَفْتَرِضُ فِي الْاِغْتِسَالِ اَحَدَ عَشَرَ شَيْئًا

دافضل دی. فرض گنړل کیږی په غسل کښی یوولس شیان. **پوښتنه:** چې ددغو یوولسو کارو مرجع یودی چې هغه رسول داوبودی وهغه تولو ځایونه دبدن چې رسیدل داوبو ورته ممکن وی. لکن مصنفؒ دیارد نبه تعلیم یوولس کړی.

غَسْلُ الْفَمِ وَالْاَنْفِ وَالْبَدَنِ مَرَّةً

پریولهٔ دی دخولې اودپزی اود بدن یووار **پوښتنه:** چې لفظ دَ مَرَّة قید ددَرومړو دی یعنی یویو وار خوفرض دی اودری واړه والی یه سُنت دی. اومبالغه په پریولو کښی هم سُنت ده. م، ط،

مسئله: چې جنب په دَ که خوله اوبه وَچښی دفرضو غاړی خلاصیږی.

فائده: فرض والی دخولی اودپزی دَلیولو اجتهادی دی. اود امام اعظم اودده دیارانو مذهب دی. دلیل یه داقول دخدائ دی، «وَإِنْ كُنْتُمْ جُنُبًا فَاطَّهَّرُوا» یعنی که چیری تاسی جُنب واست خان سُبه پاکوی لفظ «فَاطَّهَّرُوا» دپاره دمبالغی دی

مسئله پریولهٔ دخولې اودپزی یَوازی په غُسل مفروض کی شرط دی یعنی غسل دجنابت اوحیض اونفاس. په غُسل مسنون کی لکه غسل دجُمعی یادعرفات وغیرهما فرض نه دی بلکه سُنت دی» کذا فی الدرر.

مسئله: که دَچا دغاښ مابین خالی وو. اوپه هغه غار کښی دوډی لوبدلی وه اویایه دغاښونو په مابین کښی طعام وو.

اویایه په پزه کښی لاندی خیران وه. پریولهٔ دخولی اودپزی سره دهغو کافی دی» ولی چې اوبه لطیف شئ دَی هرځای ته رسیږی. اوکې په پزه کښی وَچ خیران وه هغه به ایسته کوی نوبیه غُسل صحیح دَی. **مسئله:** دبعضو خلګو پرغاښونو کلک خیران وی چې اکثره دنسوارو څخه پیښیږی اود اخیران بیله علاجه لکه په سومان سره نه لیرې کیدل. اودا علاج حَرَج عظیم دی بلا شکه نوغسل په سره دهغو صحیح دی» دَرولیش»

مسئله بعض خلګ دغاښونو دَرد له کبله دغاښ مابین په داکټر خالی کړی اویایه دیوشی څخه ډک کړی» آیا دَدغه سړی آینده غُسلونه صحیح دی اوکه خرنګه اوآیا دَغاښ دغه دکول جائز دی اوکه نه؟ **جواب:** دَغاښ په کول خوتداوی ده په حلال شی داتداوی خوَروا دَه. په شرط ددی چې په وخت کښی دَ ډکولو جُنب نه وی. اوپس له ډکولو چې جُنب سی نوهغه دوا لکه جزء دغاښ داسی گڼی. یعنی چې بیله کښَلو دغاښ نه راووزی. نوغُسل یه صحیح دَی. کذا یفهم من الفتاوی الهندیه. اوپه کتابو کښی دفقهی شریفی ددی مسئلی مقیس علیه دیردی فلیطالع ثمه» دَرولیش:

وَدَاخِلُ قُلْفَةٍ لَا عُسْرَ فِي فَسْخِهَا

اوفرض دی په غسل کښی پریولو د ده نبی خواد هغه پوست چی د ذکر پر سر وی یعنی سری ناسنت کړی وی نو غسل کوی هغه پوستکی به چپه اړه وی او بیا یی مینځی لکن که چیری په چپه اړه ولو کښی تکلیف نه وو، اوکه چیری نه وو په غوښتی بیا سره د قلفه یه غسل صحیح دی. قَالَ الْمُصَنِّفُ رح.

وَسُرَّةٍ وَثُقْبِ غَيْرِ مُنْضَمٍ

اوفرض دی پریولو د نورو غارو په پریولو کښی حرج (تکلیف) نشته. اوفرض دی پریولو د هغه غار چی د غوښی وی سوی نه وی. لکه د بعض بنځو په پزه کښی غارد تیک ډیاره. او یا د اکثرو بنځو غوږونو غارونه د غوږ والیو ډیاره. او یا نور د غه قسمه غارونه.

مسئله د بنځی د فرج د شونډو نو پریولو فرض دی. ولی چی دا یکه خوله داسی ده. او د داخل د فرج پریولو نه غواړی چی ګوته به ورننباسی. ولی هغه لکه خلق دی.

مسئله: د غسل په وخت کښی به هغه شی د بدن نه لیری کوی چی مانع د اوبو رسیدو وی و پوست ته، لکه موم یا لانده اوړه. **مسئله** د رنګریزو نو کانو رنګ پروا نه لری. او د ما بین د نوک او وړی خیره مانع د غسل نه ده، که سړی بناری وی او که صحرائی وی په صحیح روایت کی. او بعض فقهاء وائی چی د صحرائی د غسل مانع نه ده. او بناری سړی به هغه خیره لیری کوی و رنه غسل به نه دی صحیح کښته هم او به لاندی و نه رسیږی «مرقاة».

مسئله ضروریه: بعض بنځی چی د کفارو د عادت سره شناخته سوی وی د لاسو د ګوتو نو کان ډیر اوږده وی. او علاوه پر هغه یو سور خټه رنګ دی چی د خارجه څخه راځی. بلکه په بعض اسلامی ملکو کښی هم جوړیږی. پرد غو نو کانو واچوی، چی د نوک د پاره لکه پوښ بلکه عینًا پوښ وی.

چی نه په تودو اوبو اونه په صابونه جلا کیږی. نو د د غه بنځو که ځانونه مسلمانانی وائی. نه ئی اودس صحیح دی او نه غسل. چی دا دوه نرسی صحیح نو لمونځونه یې هم نه دی صحیح. او په بعض کتابو کښی د فقه شریفی وائی چی بی اودسه سجده کول کفر دی.

وَدَاخِلُ الْمَضْفُورِ مِنْ شَعْرِ الرَّجُلِ مُطْلَقًا

او د اغه رنګه فرض دی پریولو د داخل د کوڅیو د نر یعنی چی د سړو یښتیان په لکه د بنځی د اسی کوڅی و د لی وی. نو ترهغو چې د غه کوڅی سره خلاصی نه کړي غسل یه نه دی صحیح. ولی چی د نر د پاره کوڅ زینت نه دی. لکه د بنځې. نو په غوږ ولو کښی که حرج نشته. **پوښتنه**: چی د مطلقًا د لفظ ترجمه مراد ی د اسی کړی نه، «سَوَاءٌ سَرَى الْمَاءُ فِي أُصُولِهِ أَوْلَا»، خواه ننوزی اوبه په بیخو کښی د کوڅی اوکه نه! امام طحطاوی پر د غه تفسیر د اسی سوال کړی دی، «وَفِيهِ إِنَّهُ إِذَا سَرَى فِي أُصُولِهِ وَعَمَّهُ الْمَاءُ كُلَّهُ لَا يَلْزَمُ دَلْكُهُ»، په دی تفسیر کی د استه چی خو وخت چی اوبه سر یان و کړی په بیخو کښی د کوڅیو او تیوله اصول یه لانده سی بیا نو خلاصیده نه غواړی ص۸۲.

او بعض فقهاء د اطلاق د اسی ترجمه کوی، خواه د اسړي عُلوی وی اوکه تر کی، یعنی په قدیمه زمانه کښی به علویانو کوڅی. د سړو یښتانو څخه جوړه ولې. د د دی شعار وو. او هغه خبره چی عینی کړی ده. چې په علویانو کښی خلاصوله د کوڅیو حرج دی. سیّد د اخبره هرګز زمنی. وَاللهُ أَعْلَمُ، قال المصنف

لَا الْمَضْفُورِ مِنْ شَعْرِ الْمَرْأَةِ إِنْ سَرَى الْمَاءُ فِي أُصُولِهِ

او نه دی فرض پر بنځه غوږ ولو د و د لو کوڅیو که چیری د اخلیدی او نه په بیخو کښی دویښتانو، په حدیث شریف کښی د اسی راغلی دی چی ام سلمه سوال وکړی د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه چی زه د اسی بنځه یم چی زما د سر کوڅی

دیری سختی دی ایا نه ئی غوړوم د پاره د غسل د جنابت آنحضرتؐ وهغی نظام
وفرمایئله کافی دی تاته چی پرسر واچوه درې واړه اوبه یعنی تاچه بیخوده د
ویښتانو دی لاندې سی. اوبیا پر نور بدن اوبه واچوه نوته پاکیږې.

مسئله: که چیری د بښځی ویښتان څپوله وه لکه کراسته. اویا یه گنډلی
پوری مبتلی وی. اویا بیخی پیروه چې په دری سره صورتو کښی اوبه و بیخوله
دویښتانو نه رسیدلی. نوبیا فرض دی چې سر به غوړوی یعنی کوښی بخلاصول
مراط. ص۱۲

مسئله: پر بنځه باندی فرض نه دی رسول د اوبو و مابین نه دوی
پر صحیح روایت. اوبعض فقهاءؒ وائی چې لندول د کوخیو ضروری دی. اوبقال
وائی چې پریوله د کوخیو ضروری دی که څه هم ترپښو تیروی. وهذا بخلاف الرجل
فانه یفترض علیه بل الذوائب کلها «ط» قال المصنفؒ.

وَلِبُشْرَةِ اللِّحْيَةِ وَلِبُشْرَةِ الشَّارِبِ وَالْحَاجِبِ وَالْفَرْجِ الْخَارِجِ

اوفرض دی پرنږ باندی پریوله دپوست د بریږی» (م وائی که څه هم ښایره گنډه وی اوبه
ږنگه د ویښتانو نه د بریږی. اوفرض دی په غسل کی پریوله د پوست د برتیو یعنی کی
څرهم برتیو نه د پرغټ وی. اوفرض دی پریوله د پوست د وړوکو، اوفرض دی پر
بنځه باندی پریوله د د باندی د فرج **مسئله**: که چیری اوبه په پلیسو د
نوم بنځی د چښتگ د اوبو د اوداسه د اوبو د غسل د اوبو ږوپ پر میړه دی

فصل

دا فصل په بیان کی د سنتو د غسل دی» قال المصنفؒ. وښایی دی مصنفؒ

يُسَنُّ فِي الْاِغْتِسَالِ اِثْنَا عَشَرَ شَيْئًا

سنت دی په غسل کی دوولس شیان

اَلْاِبْتِدَاءُ بِالتَّسْمِيَةِ وَالنِّيَّةِ

شروع کول په بسم الله آه اوبه نیت سره. چونکه بسم الله قولی شی دی نو د نیت د زړه شی دی نو د دی د دواړو یوځای والی ممکن دی، سنت والی د بسم الله په هغه حدیث شریف دی، «کل امر ذی بال لم یبدء فیه ببسم الله الرحمن الرحیم فهو ابتر» اوشك نسته چې غسل کول خو امر ذي بال دی **سوال**: بسم الله الرحمن الرحیم خو قرآن دی اوجنب خو د قرآن د تلاوت لره ممنوع دی **جواب**: هغه چې اتفاقاً قرآن وی، بسم الله په ځای مامور به دی امام مالکؒ قرآن نه ده. نوحکمه په ویل وجنب ته روا دی. او ابتداء په نیت سره د دې سببه غواړی چې د اغسل په د ثواب موجب وګرځی. لقوله علیه الصلوٰة والسلام «إنما الأعمال بالنيات». الحدیث بخاری. قال المصنفؒ

وَغَسْلُ الْيَدَيْنِ إِلَى الرُّسْغَيْنِ

اوپریوله د لاسونو د تر اولو بندو پورې. **پوه سه** چې بسم الله» چې قولی عمل دی. او نیت چې قلبی کار دی او د لاسو پریوله چې فعلی عمل دی سره یوځای به وی. کذا یفهم من م» قال المصنفؒ

وَغَسْلُ النَّجَاسَةِ لَوْ كَانَتْ بِاِنْفِرَادِهَا

اوبل سنت د غسل پریوله دی د نجاست که چیری وو یوازی. یعنی کی پر لاسو یا بل ځای نجاست وُو. نو د هغه پریوله تنها د مخه تر اوداسه او غسل سنت دی. تاچې په تو یوله داوبو سره هغه نجاست نورو ځایونه وَنه بهیږی. موږ چې داوَ وَیله چې د مخه آه نو هغه سوال نه واردیږی چې پریوله د قدر مانع د نجاست خو فرض دی. نو شیخ ولې په سنت کښی راوړی. حاصل د جواب دادی چې سنت یه تنها د مخه تر اوداسه او غسل پریوله دې. اگر که نفس ازاله یه فرض ده»

کتبه احقر فضل الحق حقانی غفرله الباری

وَغَسلُ فَرجِهِ اودغه رنګه سُنت دی پریوله د فرج یعنی د مخه ترشا دی چې په وخت کښې د ناستی د استنجاء پر ځای سړه خلا صیږی او چې ولاړ پرې سو تولیږی نو لکه کُنه او کس.

پوه سه: چې مراد د فرج مخنه دلته هغه ځای دی چې د ښځو سوبه ورڅخه راوځي. د دی سنت سبب دادی چې د غاسل یقین سی چې د کُنې یا د کس و پتو ځایونو څخه نور هیڅ شی اوبه ورسیدی.

فائده: د اپریوله سُنت دی که څوک پر فرج نجاست ونه وی» کما یُفهم من بیان السبب» قال المُصنفُ.

ثُمَّ یَتَوَضَّاءُ کَوُضُوئِهِ لِلصَّلوٰةِ فَیُثَلِّثُ الغَسلَ وَیَمسَحُ الزَّاءِرُ

او بیا دی اودس تازه کړي لکه اودس د پاره د لمانځه نو دری واړه به کوی پریوله د هغو اندامو چې پریوله کیږی په اوداسه کی او مسح دی وکړي پر سر.

پوه سه چې په مسح کښې د سر اختلاف دی دا چې شیخ کرډه د اظاهرو روایت دی. وهُوَ الاصحُ او بعض فقهاءُ وائی چې د مسح نه غواړي ولی چې اوبه پر توئیږي. دلیل د ظاهرو روایت دادی چې په صحیح حدیث کی د اسې راغلی دی چې رسُول الله صلی الله علیه وسلم: تَوَضَّاَ قَبلَ الاِغتِسَالِ وُضُوئَهُ لِلصَّلوٰةِ، یعنی رسُول الله ﷺ به اودس تازه کاوه د لمانځه تر غسل لکه اودس د پاره د لمانځه او شک نسته چې اودس نور هم پریولو او د سر مسحی دواړو دی. د دی حدیث روایت شپږ و سړو امامانو د حدیثو کړي دی. او اصل راوی یې امُّ المؤمنین میمونه ﷺ ده.

فائده: په هغه اوداسه کی چې د لمانځه تر غسل به کوی مراعات د تولو فرائضو سُنتو مستحباتو به کوی.

وَلٰکِنَّهُ یُؤَخِّرُ غَسلَ الرِّجلَینِ اِن کَانَ یَقِفُ فِی مَحَلٍّ یَجتَمِعُ فِیهِ المَاءُ

لکن د دی څنډ وی پریوله د ښو یعنی داوداسه په وخت کی دی نه مینځی که د غاسل ولاړ په هغه ځای کی چې

چې هلته اوبه د غسل جمع کیږی. دلیل د تاخیر یه دادی چې ورو سته تر غسل پرته د ښو و پریولو ته ضرورت سته چې د هغه مُستعمَلو اوبو څخه پاکی سی. نو اول پریوله یه بی فائده دی».

فائده سُوال په هغه حدیث کښې چې عائشه ﷺ روایت کړی او بخاری او مُسلم هغه حدیث روایت کړی دی» په هغه کښې تاخیر د غسل الرجلین نسته. بلکه لفظ د وضوء الصلوٰة راغلی دی او په اوداسه کی د لمانځه تر غسل الرجلین نسته

د تاخیر د غسل الرجلین نسته

د څه له بعض مشائخ وائی چې د ښو پریوله دی نه څنډه وی. لکن صحیح هغه څه دی چې مصنف وکړه چې پریوله د ښو دی و څنډه وی. ولی چې په حدیث کښې د میمونه ﷺ د اسې راغلی دی» ثُمَّ تَنَحّٰی عَن مَقَامِهِ ذَالِکَ فَغَسَلَ رِجلَیهِ» بیا ورو سته تر غسل علیه السلام گوښه سود هغه ځایه څخه چې غسل یه هلته کړی وو نو بیایه پریولی پښی مُبارکی. د راولیش وائی چې بعض شارحینو د حدیثو دی دوو حدیثو تطبیق د اسې کړی دی چې حدیث د عائشه ﷺ محمول پر دې دی چې علیه السلام د اسې د غسل کاوه چې هلته او به د غسل نه جمع کیدی. نو پښی یه د اوداسه سره پریولې. او حدیث د میمونه ﷺ محمول دی پر دی چې علیه الصلوٰة والسلام د اسې د غسل کاوه چې هلته او د غسل جمع کیدی. نو لکه د هغه ځایه څخه گوښه سو او پښی مبارکی یه پریولې. وهذا معنیٰ قول المجتبیٰ والاصح التفصیل» قال المصنفُ.

ثُمَّ یُفِیضُ المَاءَ عَلیٰ بَدَنِهِ ثَلَاثًا

یعنی تر اوداسه دې وروسته توی کړي اوبه پر تولَه بدن دری واړه.

مسئله بعض فقهاءُ وائی چې اول دې دری واړه اوبه پر ښی اړخ سته او بیا ځپه توی کړي دری واړه. بیا دی پر چپ اړخ اوبه توی کړي دری واړه.

اوبیادی پرسر او تور بدن توی کړی دری واړه. وَالِی هٰذا ذهَبَ الحلوانی و کثیر مِنَ الفقهاء. اوبعض علماء وائی چې اول ښاسته اوبه ده اوبیا سر، اوبیا چپه اوبه ده. اوبعض وائی چې شروع دسره څخه وکړي. قَالَ المصنف

وَلَوِ انْغَمَسَ فِی الْمَاءِ الْجَارِی اَوْمَا فِی حُکْمِهٖ وَمَکَثَ فَقَدْ اَکْمَلَ السُّنَّةَ اوکه چیری بوجنب سړی غوټه سوپه جاری اوبو کی چې په حکم کی د جاری وی لکه لښتی په لښتی کی حوض. او په هغوی درنګ وکړي په قدر داوداسه اوغسل نوهغه سړی پوره کړه طریقه مسنونه دغسل **مسئله** که څوك جنب وو او ښیر باران ته ودرین ی په اندازه داودس اود غسل. نوطریقه مسنونه دغسل یه پرځای کړه ولی چې په دی دواړو طریقو کښی په غسل کی ښه مبالغه وسوله. مر. مراقی الفلاح

وَیَبْتَدِئُ فِی صَبِّ الْمَاءِ بِرَاْسِهٖ وَیَغْتَسِلُ بَعْدَهٗ مَنْکِبَهُ الْاَیْمَنَ ثُمَّ الْاَیْسَرَ اوشروع دی کوی غاسل په ځان کښی د تویولو داوبو سرسره. یعنی اول واړه اوبه پرسر توی کړي» ولی چې آن حضرت صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ همدا غسی کړی دی. اوبیادی پرښاسته اوبه اوبه توی کړي اوبیادی پرچپه اوبه واچوی ددی دپاره چه تیامن حاصل شی» قَالَ.

وَیَدْلُكُ جَسَدَهٗ وَیُوَالِی غَسْلَهٗ اوبیادی ومومړی لاس اعضاء د بدن څخه اوبیا دی کوی پریوله داعضاوو. **پوهه سه:** چې دَلك (مَښوول) په اول واړکی غواړی او هم هغسې سنت دی.

مګر بحر رائق د فتح القدیر څخه نقل کړی دی چې امام ابویوسف د غه دلك واجب بولي. +

اصطلاح - ددی کتاب رموز» م معنی مراقی الفلاح ط معنی طحطاوی:

فصل

یعنی په اداب وغسل کښی

وَاٰدَابُ الْاِغْتِسَالِ هِیَ اٰدَابُ الْوُضُوْءِ اِلَّا اَنَّهٗ لَا یَسْتَقْبِلُ الْقِبْلَةَ لِاَنَّهٗ یَکُوْنُ غَالِبًا مَعَ کَشْفِ الْعَوْرَةِ وَکُرِهَ فِیْهِ مَاکُرِهَ فِی الْوُضُوْءِ اواداب د غسل په مثل داداب وو اوداسه دی چنانچه ورپاندی تیر سوه. مګر داچې په غسل کی د مخامخ وقبلی ته نه دریږی یانه کښینی. ولی چې غسل په اکثرو اوقاتو کښی دکشف العورة یعنی دعورت دلښ والی سره کیږی نوله دی مخ خواوقبلی ته کوی اونه دکنی خوا بلکه شمالا یا جنوبا دی په حال کی دغسل کښینی یادریږی. چونکه مصنف کشف العورة دعدم استقبال دقبلی دلیل وښوولو. نوکه چیری په عورت پټ وونو بیا استقبال پرواه نه لری.

پوهه سه: چې مصنف په مراقی الفلاح کی داهم وئیلی دی چې مستحب دد چې په حال کی دغسل دی خبری نه کوی کخر هم دعاوی وپی. ولی چې غاسل په ځای کی ډاډه دی اودغه رنګه مکروه دی خبری سره دکشف العورة. اوبل مستحب دغسل دتاوښځی دادی چې په داسی ځای کی دی غسل کوی چې هیڅ څوك یه نه وینی. یعنی داسی کسان چې دده وعورت ته یه کتل ناروا وی. ولی احتمال سته چې دده عورت به یا په حال کښی دغسل اویا په حال کی دکالوا غوستلو وچاته ښکاره سی.

مسئله: که دسړی ماینی دمیړه په حضور کی لخ په لخ غسل کاوه روا دی بی کراهته. اوبالعکس هم روا دی دمیړه په اجازه. **مسئله** که داوبو پرځای نر ناست وو اوناسل ساتل نه درلود. غسل دی نه پرینږدی. اوهغه دَوَل دی غسل وکړي چې څه ناڅه ستر د عورت پکښی وی. اودَ ښځی حکم په نیز د ښځو هم داغسی دی. اوښځه په مابین کی د

نرو دې غسل نه کوې بلکه غسل دې وځنډوې.

مسئله روا ده نواوښتې ته چې په یوائې غسل خانه کښې کالې تولې وکاږې او ځان پرې بند کړې. **مسئله** هر وخت چې دا مسئله سوه چې بښځه دې د نرو په مابین کې غسل وځنډوې دا هغه وخت که د لمانځه وخت نه تیریدې اوکه د لمانځه وخت چې دا عذر د بندګانو له خوادې. طحطاوی.

فصل

وَلَيْسَ الْاِغْتِسَالُ لِاَرْبَعَةِ اَشْيَاءَ صَلٰوةُ الْجُمُعَةِ

اوسنت دې غسل د پاره د څلورو شیانو یعنې یوه پاره د جمعې د لمانځه قَالَ الْمُرَاقِي عَلَى الصَّحِيحِ "چې هغه قول د امام ابی یوسفؒ دې" دلیل یې هغه حدیث دې چې په بخاري او مسلم کې راغلې دې" چې علیه الصلوة والسلام وفرمائیل که څوک راتلې د جمعې و لمانځه ته نوډې غسل وکړي. اوپه بل روایت کې د ابن حبان المحدث داسې راغلې دې" که څوک راتلې د جمعې و لمانځه ته نږدې یاد بښځې غسل دې وکړي.

وَزَادَ الْبَيْهَقِي فِي رِوَايَتِهِ. اوکه څوک لمانځه ته نږدې راتلې د جمعې لکه مسافر یا مریض نو نسته پرهغه غسل"

پوه سه: چې امام محمدؒ او حسن بصریؒ وابې چې غسل د جمعې د پاره دورځې د جمعې دې د پاره د اظهار د فضیلت د دې وَرُخِّي لِمَا جَاءَ فِي الْحَدِيثِ النَّبَوِيِّ" سَيِّدُ الْاَيَّامِ يَوْمُ الْجُمُعَةِ" **فائده**: که چا غسل وکړي په وَرځ د جمعې اوبیا یې اودس مات سوا د جمعې و لمانځه ته یې اودس تازه کړي نو بناءً عَلَى قَوْلِ اَبِي يُوسُفَ سنت به پرځای نه کړه اوپه قول د امام محمدؒ سنت به پرځای کړه (ولې چې دې غسل د تولو ورځې د پاره بولې" اود غه رنګه پرهغه حاجي چې د جمعې لمونځ پرې لازم نه وي غسل

سنت دې په نیز د امام محمدؒ اوسنت نه دې په نیز د ابی یوسفؒ. اوهرچه غسل دې ورو سته تر لمانځه د جمعې هغه هیڅ اعتبار نه لري په اتفاق سره قَالَ

اوبل غسل سنت دې د پاره د لمانځه د دواخته

وصلوة العيدين په حدیث شریف کې راغلې دې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به غسل کاوه په وَرځ د کشنې اختر اود لوی اختر اوپه عرفات کې.

پوه سه: چې دا دې دوو وَرځو غسل هم د پاره د لمانځه دې پرقول د امام ابو یوسفؒ اود پاره د وَرځې دې په قول د حسن بصریؒ.

پوه بښتنه: مصنفؒ وویل چې غسل د جمعې سنت دې اوپه حدیث شریف کې خو اسې راغلې دې" غُسْلُ الْجُمُعَةِ وَاجِبٌ عَلَى كُلِّ مُحْتَلِمٍ یعنې بالغ"

جواب بعض علماء وائې چې معنې د واجب په حدیث شریف کې واجب شرعي نه ده بلکه واجب په معنې د متاکد دې" نو معنې د اسوه چې غسل د جمعې سنت مؤکد دې. او مصنفؒ په مَرَاقِي الْفَلَاحِ کې دعوا کړیده چې دغه حدیث منسوخ دې په هغه حدیث سره چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلې دې چې څوک چې اودس تازه کړي په وَرځ د جمعې یعنې د لمانځه د پاره پس په سنت طریقه یې اغسل وکړي اوداهم بنه خصلت دې. اوکه څوک غسل وکړي غسل افضل دې.

ورولیش وډئ: چې دعوې د نسخ معلومیده نه د تاریخ د دغو دوو حدیثونو غواړې. یعنې چې دوهم حدیث تر اول وروسته دې. اوهیڅ محدث تاریخ نه دې بیان کړې نو اول جواب اولې دې" قَالَ"

وَلِلْاِحْرَامِ اود غه رنګه غسل سنت دې د پاره د احرام تر لوکه په حج وې اوکه په عمره. ولې چې په حدیث شریف کې راغلې دې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم غسل کاوه د پاره د احرام. **فائده** د اغسل د تنظیف د پاره دې د پاکوالې د پاره نه دې نو د دې وَجهې حائضه یا نفساء بښځه به هم د اغسل کوې. اوکه اوبه نه وې تیمم کفایت نه کوې.

وَلِلْحَاجِّ فِي عَرَفَةَ بَعْدَ الزَّوَالِ

اوداغه رنګه غسل سنت دی د حاجي د پاره نه دنورو خلګو د پاره

اوداغسل به هم په عرفات کې کوی نه دباندی. اوهغوم ورځې ترزوال د لمر. داغسل په سبب د فضیلت د نمانځنې د وقوف دی چې پس لمر زواله کیږي.

پوه سه: چې مصنف داغسل یوازې د مسنون غسل د پاره نه دی ایښی بلکه مندوب غسلونه یې هم په دې فصل کښې راوړی دی نو خرنګه چې بیان د خلورو سنت ختم سوهم داوس د مندوب غسلو بیان شروع کوی. اووائي..

وَيُنْدَبُ الْاِغْتِسَالُ فِي سِتَّةَ عَشَرَ شَيْئًا لِمَنْ اَسْلَمَ طَاهِرًا

اومندوب (مستحب) دی غسل په شپاړس شیانو کښې. چې څوك کافر وی او اسلام راوړی په داسې حال کې چې پاك وي. یعنې د جنابت او د حیض او نفاس څخه. او که دا کافر جنب وي یا د نفساء یا د حائضې وي بیا خو غسل پرفرض دی علی المعتمد. **فائده:** صاحب د هدایه اکثر د دې غسلو سنت بولي. قال المصنف.

وَلِمَنْ بَلَغَ بِالسِّنِّ

اوهغه چا ته هم غسل مندوب دی چې بلوغ ته ورسیږي د سن او عمر په لحاظ چې هغه ۱۵ کاله پر مفتی به مذهب دی. چې دیارلسو نوی د پاره نو اوښتی د واړو کښې. او بعض علماء وائي چې د نر د پاره ۱۲ کاله دي او د ښځې د پاره ۹ کاله دی **پوه سه:** که ترته شیطان بازی وکړي. یا داغسل په بدل سبب اودس پرواوړي. یا مایښه لري هغه د ده څخه حمل واخلي. او یا د ښځې د وی لودس پرواوړي یا حیض ورسی او یا حمل واخلي وهغه نر او ښځې ته چاره نسته د غسل څخه.

وَلِمَنْ اَفَاقَ مِنْ جُنُوْنٍ

اوهغه چا د پاره غسل مندوب دی چې پرسه دسې دلیونتوبه څخه. وفی المراقی. یاد سکر یعنې د مستی څخه او اغماء څخه. یا د بیهوشتیا څخه اوداغسل غسل د شکر دی.

وَعِنْدَ حِجَامَةٍ وَغُسْلِ مَيِّتٍ

اوداغه رنګه غسل مندوب دی چې وینې وکاږي یا رګ خلاص کړي

اویا وهرې ته غسل ورکړي. په حدیث شریف کې چې روایت یه اوداوډه کړي دی راغلی دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د څلورو شیانو غسل کاوه یعنې هغو څخه حجامت وو. په دی غسل سره د حجامت یاد غسل د مړي په وهغه خلاف خلاص سی چې بعض علماء داغسل واجب بولي. قال المصنف.

وَفِي لَيْلَةِ الْبَرَائَةِ وَلَيْلَةِ الْقَدْرِ اِذَا رَاَاهَا

اوداغه رنګه غسل مندوب دی په شپه کښې د براءت چې هغه شپه نیمی د میاشتی د براءت ده. داغسل د دی شپې د احترام د پاره دی ولی چې په دې شپه کې د رزقونه او اجلونه د خلګو د ویشل کیږي اوهم په دې شپه کې د ورځې څخه نوشته کیږي د هغه چا د پاره چې حقوق د شریعت په پرځای کړي وي. اوبل په دې شپه کې د دوی ورو ګناه کارانو ګناهونه ور بخښل کیږي. **فائده:** داشپه په عبادت باید تیره سی. اوداغه رنګه غسل مندوب دی په شپه د قدر کې که چیرې سړي په وپوهیږي. یعنې د علاما تو څخه د هغه شپې چې په کتابو کښې راغلی دی. اوداشپه چې هم په بیداری سره اوعبادت سره تیره سی دیر ښه کار دی. قال المصنف.

وَلِدُخُوْلِ مَدِيْنَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

اوداغه رنګه غسل مندوب دی د پاره د داخلیدو د بنارته د نبی علیه السلام داغسل د تعظیم د هغه مدینې منورې دی. اود پاره د حضور د قبر انورته د نبی کریم صلی الله علیه وسلم

وَلِلْوُقُوْفِ بِمُزْدَلِفَةَ غَدَاةَ يَوْمِ النَّحْرِ

اوبل غسل مندوب دی د پاره د ورځې د لوی اختر. ولی چې مزدلفه ځای د اجابت د دعا گانو

ولی چی آنحضرت صَلَّی اللهُ عَلَیهِ وَسَلَّم پرعَرَفات دامت دپاره د مغفرت دخون او مظالمو خواست کړی وو هلته نه وو قبول سوی خوپه مزدلفه شریفه د آنحضرتؐ هغه خواست هم قبول سو. م، ط، قَالَ صَاحِبُ نُورُ الایضَاحُ.

وَعِندَ دُخُولِ مَكَّةَ المُكَرَّمَةِ اوپه وخت کی د داخلیدو و مکی مکرمی چی افضل دعا یو دی په محله کی پرته نیزد خدایؐ نو د دې محترم مقام د دخول دپاره غسل مندوب دی.

فَائِدَه: په نیزد حنیفیانو مکه مکرمه افضل ترین د بقاع د دنیا ده. حتی ترمدینی منورې هم افضله ده. او امام مالکؒ افضل البقاع مدینی ته وائی. لکن دا خلاف په غیر کی د هغه ځای دی چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم صورت مبارک په کښی نسخ دی. حتی چی شهاب الدینؒ په شرح کی د شفا د قاضی عیاضؒ د امت مرحومه د علماؤو اجماع نقل کړی ده پردی چی مدفن د آنحضرت صَلَّی اللهُ عَلَیهِ وَسَلَّم افضل دی ترهرځای پرځمکی مکرمی هم او بلکه ترعرش او کرسی هم افضل دی.

پوه سه: چی هر یوه لره د مکی مکرمی او مدینی منورې د پیرنومانو دپی چی قریب وسیل ته رسیږی. امام نوویؒ وائی چی په محله کی د پیرونومانو د رلودونکی ځای بل نسته لکه مکه مکرمه او مدینه منوره. وکثرة الاسماء تدل علی شرف المسمّی کذا قال الامام الطحطاویؒ. قَالَ

وَلِطَوَافِ الزِّيَارَةِ اوبل غسل مندوب دی د طواف زیارت دپاره **پوه سه** چی طواف زیارت یو د فرائضو څخه د حج دی نو باید دا طواف په اکمل د طهارتینو چی غسل دی ادا کړه سی. قَالَ.

وَلِصَلٰوةِ كُسُوفٍ وَخُسُوفٍ اود غرنګه غسل مندوب دی د پاره د لمانځه د کسوف او د خسوف دی. کسوف د لمر تندری ته وائی. او خسوف د سپوږمی تندری ته وائی. دلیل د ندب د غسل دادی چی په دی دوو وختو کښی نفل سنت دی نو دا لمونځ چی په اکمل د طهارتینو ادا کیږی بنه کار دی.

اللهم اغفر لمؤلفه ولکاتبه ولوالدیهما.

اود غرنګه غسل

وَلِاسْتِسْقَاءٍ وَفَزَعٍ وَظُلْمَةٍ وَرِيحٍ شَدِيدَةٍ مندوب دی په وخت کښی د طلب د مسلمانانو د باران. ولی چی په دی وخت کی مسلمانان نفلونه کوی او دعاوی کوی. نو چی اکمل د طهارتینو موجود وی بنه کار دی. اود غرنګه غسل مندوب دی په وخت کښی د دیری بیری دیو سبب څخه. ولی دا وخت هم د زاریو اود عاګانو دی. اود غرنګه غسل مندوب دی چی د دوزخی پر وطن یو لوی ظلمت او تاریکه جوړه سی. اود غرنګه غسل مندوب دی په وخت کی د درانو د سختو بادو. که د شپی وی او که د ورځی وی. چی دا ټوله مصائب دی اود عاګانو وختونه دی نو چی اکمل د طهارتینو وی اجابت ته به دعاګانی نږدی سی. وَاللهُ اَعْلَم قَالَ.

بَابُ التَّيَمُّمِ

پوه سه چی چونکه تیمم خلف د اوبو دی نو د دی کبله مصنفؒ ترطهارت د اوبو یعنی د وس او غسل ورو سته راوړی. **سَوَال** مسح د خف (موزی) خو په اوبو سره کیږی نو ولی ئی تیمم ترهغی د مخ کړی **جَوَاب** د تیمم ثبوت په قرآن مبارک سره سوی دی او د مسح الخف ثبوت په حدیث شریف سره دی نو تیمم اقوی دی ترمسح الخف.

فَائِدَه: تیمم احسان الهی دی د پاره د امت مرحومه سره خاص چی په نورو امتو کښی نه وو بالاتفاق. او تیمم په خاوره سره کیږی چی هغه په حقیقت کی د مټی دی. او په تیمم کی جزء په ځای کی د کل درید لی دی. یعنی فقط مسح د مخ او د لاسو. مسح د سر په کښی نسته او مسح د پښو هم په کښی نسته. وهذا تخفیف لخرمن ربنا جَلَّ سلطانه.

پوه سه: چی تیمم په لغت کی مطلق قصد ته وائی. او په شرعه شریفه کښی مسح کول د مخ او د لاسو په پاکی مټی څخه.

يَصِحُّ التَّيَمُّمُ بِشُرُوطٍ ثَمَانِيَةٍ اَلْاَوَّلُ اَلنِّيَّةُ وَحَقِيقَتُهَا

صحیح کیږی تیمم په اته شرطه سره۔ اول شرط د تیمم نیت دی ولی چی خاوری خو ملوث دی نو پاکوونکی نه گرځی مگر په نیت سره

عَقْدُ اَلْقَلْبِ عَلَى اَلْفِعْلِ

او اوبه خلقته مطهری دی نو څکله په اود اسر کښی نیت شرط نه دی۔ او معنی د نیت غوښته کولای دی زړه پر یو فعل باندی۔ یعنی یقین کول دی دیوه کار پر کولو باندې۔ قَالَ الْمُصَنِّفُ۔

وَوَقْتُهَا عِنْدَ ضَرْبِ يَدِهِ عَلَى مَا يَتَيَمَّمُ بِهِ وَشُرُوطُ صِحَّةِ

اوفخت د نیت کولو هغه وخت دی چی د لاسونه ووهی پر هغه شی چی د تیمم پرې وهی لکه خاوری وغیره

اَلنِّيَّةُ ثَلَاثَةٌ اَلْاَوَّلُ اَلْاِسْلَامُ

اوشرطونه د صحیح والی د نیت دری دی اول شرط یې اسلام دی۔ ولی چی نیت د عبادت ته سبب د ثواب دی او کافر د مطلق ثواب نخښه محرومه دی۔

وَالثَّانِي اَلتَّمْيِيزُ وَالثَّالِثُ اَلْعِلْمُ بِمَا يَنْوِيهِ

اوه وهم تمیز دی یعنی تیمم کوونکی به پوهیږی چی زه څه کوم، اوږیم شرط یې علم دی د تیمم کوونکی پر تیمامه باندی یعنی چی تیمم څه رنګه وګل کیږی۔ ولی چی کیفیت د تیمم که نه وی نو معلوم نو دی هغه کار وکړی۔ او دی بیان نخښه ته پوه سوی چی نیت دیو فعل غیر دی د علم نخښه دماهیت د هغه فعل، کذا قال المصنف فی المراقی۔ لان الاجمال فی الاول کاف والثانی یقتضی العلم التفصیلی

وَيُشْتَرَطُ لِصِحَّةِ نِيَّةِ اَلتَّيَمُّمِ لِلصَّلٰوةِ بِهِ اَحَدُ ثَلَاثَةِ اَشْيَاءَ

اوشرط دی د پاره د صحت د نیت د تیمم د پاره د لمانځه یعنی چی په هغه نیت وده ته لمونځ ادا کول روا سی یو د دروشیانو یا نیت۔۔۔

نِيَّةُ اَلطَّهَارَةِ اَوِ اسْتِبَاحَةِ اَلصَّلٰوةِ اَوْ نِيَّةِ عِبَادَةٍ مَقْصُودَةٍ

یا نیت د مطلق طهارت یعنی د خصوص د طهارت د جنابت څخه او یا د بی اودسیا څخه شرط نه دی۔ ولی چی د لمانځه د پاره طهارت شرط دی نو نیت د طهارت

لَا تَصِحُّ بِدُونِ طَهَارَةٍ

نیت د استباحت د لمانځه دی۔

مسئله: که جنب سړی تیمم وکړی د پاره د اود اسر هغه تیمم په د جنابت د تیمم ځای کښی دی ګرځی۔ کذا روی ابن سماعة عن محمد کما نقله الطحطاوی۔

ترجمه: د عبارت) او یا نیت د مباح والی د لمانځه۔ او یا نیت د یو عبادت مقصوده وی چی هغه عبادت بیله طهارت نه صحیح کیږی۔ **یوه سه**: چی عبادت مقصوده هغه عبادت دی چی د بل عبادت تابع نه وی بلکه ابتداءً څنډی مقصود تقرب وخدای پاک ته وی۔ نو مسجه د مصحف شریف عبادت مقصوده نه دی بلکه تبع د تلاوت دی۔ او په صرف مسه د مصحف شریف تقرب وخدای ته نه کیږی۔ قوله لا تصح آه دی قید فائده داده که محدث یعنی بی اود سه سړی چی جنب نه وی د پاره د تلاوت د قرآن کریم بیله مسه کولو تیمم وکړی په دې تیمامه لمونځ نه دی روا ولی چی صرف تلاوت د قرآن غیر ته د جنب بی اود اسر هم روا دی۔

حاصل دا چی متیمم به داسی نیت کوی: نیت کوم د پاره د لمانځه یا د پاره د جنازی د لمانځه یا د پاره د سجدهٔ تلاوت او جنب سړی به داسی نیت کوی چی تیمم کوم د پاره د تلاوت د قرآن۔ ولی چی جنب ته صرف تلاوت د قرآن هم بی طهارته روا نه دی۔ او نبځه چی د حیض یا د نفاس نخښه خلاصه سی نیت د تیمم د پاره د تلاوة القرآن ورته روا دی۔ ولی چی نبځی ته تلاوت د قرآن په حال کی د حیض او نفاس نا روا دی۔ پوه سه چی مصنف پرهغه د دوشرطو داسی تفریع کوی۔

فَلَا يُصَلِّي بِهِ إِذَا نَوَى اَلتَّيَمُّمَ فَقَطْ اَوْ نَوَى

لِتِلَاوَةِ اَلْقُرْاٰنِ وَلَمْ يَكُنْ جُنُبًا

نو لمونځ نه دی صحیح په هغه تیمامه چی صرف او صرف د تیمامه نیت یې کړی وی یعنی د طهارت یا

اباحت د لمانځو وغیره نیت یې نه وی کړی. او یا نیت د تیمم وکړی د پاره د تلاوت د قرآن اودی جنب نه وی. او د غږ رنګه بنځه چې د حیض خلاصه سی یا د نفاسه. وی د غږ دری نفره که تیمم وکړی په نیت د تلاوت د قرآن کریم په هغه تیمامه د دوی ته لمونځ روادی کما عرفت سابقاً. قال صاحب نور الایضاح.

الثَّانِي الْعُذْرُ الْمُبِيحُ لِلتَّيَمُّمِ كَبُعْدِهِ مِيلًا عَنِ الْمَاءِ وَلَوْ فِي الْمِصْرِ

او دوهم د تیمم شرط هغه عذر دی چې مباح کوونکی دی د تیمم وسړي ته هغه عذر لکه لیرې والی د تیمم کوونکی د اوبو څخه یو میل کرخ هم په شمار کې وي. پوسره چې د اشرط دی صحت د تیمم

پوه سه چې میل درې میله د فرسخ دی، او درې میله د فرسخ څلور زره ګامه دی او یو ګام یو تیم

ګز دی **واوره**: چې د غه لیرې والی دیو میل د اوبو څخه پر غالب ګمان دسړي بناء دی نو که خرم په واقع کښې اوبه نه وی دی وی اما د سړي غالب ګمان د اوی چې تر میل کمی اوبه نشته د تیمم ورته روادی. ولې چې د اسړي چې یو میل سفر کوی چې اوبه سته او که نشته د احرج دی او تیمم خدای پاک د دفع د حرج د پاره مشروع کړی.

فائده: فقیه ابوجعفر الطحاوی وائی چې تیمم په شمار کې نه دی روا مګر د پاره د هغه چې د جنازی لمونځ یا د اختر لمونځ راځنې تیرېږی. او یا جنب وی د یخ څخه تیرېږی یعنی که غسل وکړی نو په یخو اوبو مریض به سړم لکن صحیح مذهب هغه دی چې مصنف وویل.

بنهانه فائده: دا اختلاف حقیقتاً اختلاف نه دی بلکه بناء پر عادت د شاروی په بعضی شارو کښې لکه قندهار په هر مسجد کی د اوبو ځای موجود وی. نو په د اسی شارو کی د لمونځ د پاره تیمم نه دی روا. «قال الطحاوی» او په بعض شارو کی ځاهان نه وی او به د برف (یخلی) په ذریعه په نلکو کښې راځی لکه اکثر شارونه د پاکستان. نو په د اسی شارو کی کیدای سی چې برف د یوی ناحیه دی خراب وی په نلکو کښې دی اوبه نه وی او تا لاوند د مسجد او د کور وی هم وچ سوی وی په سبب د مرور د زمان. او په یو میل لری ناحیه کښې دی برف فعال وی په مسجد او کور و کښې دی اوبه وی. نو په اوله ناحیه کی تیمم روا دی کما قال المصنف.

وَحُصُولُ مَرَضٍ

اود اغرنګ تیمم روادی هغه چا لره چې ده ته مرض حاصل وی پوسره: چې مصنف حصول د مرض ذکر کړی و یعنی به ان المرض یکون حاصلاً بالفعل، د دی څخه مطلب دا دی که چیری یوسړی فعلاً په صورت جوړ دی مګر دی بیریږی که اودس تازه کړه نو به مریض سړم هغه سړی ته تیمم نه دی روا لکن فهستانی وائی چې په دی صورت کی ورته تیمم روادی. او امام زیلعی پشرح کی د کنز والی په باب الصلوة کی په بیان د عذرونو د څوړلو د روژی «که یوسړی په بدن جوړ وو مګر غالب الظن دده داووکه چیری زه روژه ونسم ناجوړ به سم نو دی لکه مریض داسی دی د روژی خوړلک ورته روادی. فالتیمم اسهل فی باب جواز لمثل الشخص المذکور» والله اعلم بالصواب.

فائده: قال الامام الطحطاوی ص ۹۱ ج ۱ المریض علی اربعة اقسام: اول هغه مریض دی چې اوبه ضرر ورسوی. دوهم هغه مریض دی چې اوبه خو ضرر نه ورته کوی لکن حرکت د پاره د استعمال د اوبو تاوان ورته کوی. دریم هغه مریض دی چې نه خو اوبه اونه حرکت تاوان ورکوی. لکن حرکت د پاره د اوداسه پخپله قدرت نه لری. نو په دریم صورت کی به یا د اسی څوک لری چې ده اودس ورته تازه کړی. او یا به د اسی څوک نه لری چې ده سره کومک وکړی. په اخیر صورت کی ده ته تیمم روادی په اتفاق سره که څه هم په شار کی وی پر ظاهر مذهب:

او کی کومک والا در لودی نو د غه کومک والا که ده نه روی وو یا لوړه اوبا ده مرئی وو اویا مزدور وو، نو که د غو کسانو د ده فرمانبرداری کوله، د حضرت الامام الاعظم څخه ده روایت په یوه روایت کښې تیمم ورته روادی په بل روایت کښې تیمم نه دی ورته روا. وهو الظاهر. اوکی ده اطاعت نه کاوه بلکه مزدوری غوښته. نو د غه سړی ته تیمم روادی په نیزد امام اعظم مطلقاً یعنی که دیره مزدوری غواړی او که لږ مزدوری غواړی اویا رانه وائی چې تیمم هلته روادی چې تر څلرمی د درهم بالا مزدوری غواړی. ورنه تیمم نه دی ورته روا. اوځلرم هغه مریض دی چې نه پر اوداسه قدرت لری او نه پر

پرتیمم نه په خپله اونه ټل چا په کومك - نو بعض عُلماء وائ چې قیاس دقول د امام اعظم
دادی چې لمونځ پریږدی ترخو چې پریوه داوداسه یا تیمم قدرت مومی. او امام ابویوسف
وائ چې مشابهت دلمونځ گذار انوسره دی کوی. لکن چې قدرت پیدا کړی نو لمونځ ونه
قضاء ړاوړې ۱۲ قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَبَرْدٍ يَخَافُ مِنْهُ التَّلَفَ اَوِ الْمَرَضَ

اودغه رنګه تیمم روادی چې سړی په غالب ګمان
دده ببریږی داوبو داستعمالة څخه د تلف دیوانډام اویادمَرَض څخه. پوه سه
چې مصنف دامسئله مطلق ړاوړې ده لکن پرا طلاق نه ده صحیح ګڼلې مصنف په
مراقی الفلاح کی وائ چې جواز د تیمم ودغه خائف ته هلته سته چې دی په ودانی یعنې
یا قهر و کښې چې هلته تودی اوبه پیدا کیږی. اویا بولنې پیدا کیږی چې دی ځان په تلو
کړی نه وی بلکه په صرف صحرا کښې وی. ورنه تیمم نه دی ورته روا. اوچې شرطونه وخوف
چې ذکر سوه پرځای وی بیا تیمم د جنابت دپاره اود اوداسه دپاره دواړه ورته روادی
قال عَزَّ مِن قَائِل، وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّينِ مِنْ حَرَجٍ، قال الامام الحلوانی
چې رخصت نسته بی اود سر سړي تر په سبب د دغه خوف د تیمم وهلو، ولی د اصرف د
سړي توهم دی غلبة الظن نه دی، کذا فی فتح القدیر والایضاح، بلکه خلاف په جُنب کی
سته چې په تن جوړ وی اوپه بنار کښې وی اوبیریږی ی که نه په یخو اوبو غسل وکړی نو به
ناجوړ یږی سی. اود اده غالب ګمان وی اود حمام د غسل پیسی هم نه وی ورسره. نو په داسې
صورت کی امام اعظم تیمم ورته روا بولی. مُطلقًا. یعنی که د بنار سړي وی اوکه مسافر
اویاران وائ چې داحکم په مسافر پوری خاص دی، والفتوی علی قول الامام، اوبعض کتابونو
دغه سړي ته چې جُنب وی اوپه بنار کی وی اوپه یخو اوبو سره د استعمال په صورت کی د مرض
بیره وی، داسې یوه حیله ورښیې چې حمامې خو د مخ ترغسل کولو پیسی نه غواړی نو
دغه سړي دی ورسی غسل دی په حمام کی وکړی، بیا چې ړاووزی حمامی ته دی خپل عذر
بیان کړی. وَاللهُ اَعْلَمُ بِالصَّوَابِ

اوْ خَوْفَ عَدُوٍّ اویابیریږی بی اود سه سړي چې که زه داوبو ځای ته ورسیږم
په دښمن مړ کړی نو هغه ته تیمم روادی. پوه سه: که سړي پرمال بیریږی او
یوفاسق سړي چې داوبو سره ناست وو بیریږی. اویا مُفلس سړي دپوړه وری څخه بیریږی
ودغو خلګو ته هم تیمم روادی. اود هغه لمانځه چې په تیمم یه ادا کړی ړاګرځول پری
نسته: کذا فی المراقی ص۹۲ قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَعَطَشٍ وَاحْتِيَاجٍ لِعَجْنٍ لَا لِطَبْخِ مَرَقٍ

اودغه رنګه تیمم روادی د
بیری د تندی اود سبب د احتیاج واوبوته دپاره دخمیر کولو د اوړو هم تیمم روادی او
تیمم نه دی روادپاره د پخولو د شوربا. پوه سه: چې بیره د تندی عامه ده که ډاډه
پرته ده فی الحال بیریږی اوکه په اینده حال کښې بیریږی. مسئله: که د قافلی
د اندیوال پرته بیریږی هم تیمم ورته روادی. اوکه د حیوان پرته بیریږی که څه
هم سپی وی هم تیمم ورته روادی. لکن د حیوانا تو د تندی له سبب هلته تیمم روادی
چې داوداسه اوبه پرنسوای ساتلای، وَلِي لو بښی نه وُ اوکه لو بښی وو چې داوداسه اوبه
په کښې خوندی کړی د حیوانا تو د پاره نو بیا د تندی د حیوانا تو د سبب تیمم نه دی ورته روا.
مسئله: که دیوه سړي سره اوبه وی اوبل سړي د تندی شدید سره مخامخ وو،
نوکه مالك داوبو هم پیر نزدی وو نو د غه مالك دی اوبه وَچښی، اوکه مالك سخت تږی
نه وو بیا واجب پرهغه چې خپلی اوبه دی هغه بل تږی ته ورکړی. اوکه مالك داوبو ته
ورکولی تږی دی په زوره ځندی ولخلی. اوکه مالك جنګ وَسره کاوه تږی د پے
جنګ وسره وکړي. نوکی مالك داوبو مړ کړی تاوان نه لری. وینه په لغوه ده. اوکی تږی
مړ کړی تاوان لری.
مګر پر تږی سړي قیمت داوبو لازم دی. اوکه بیګا نه سړي داوداسه دپاره د مالك څخه
اوبه غوښتې اوصاحب الماء هم ضرورت اوبوته نه درلودی، نو پر مالك الماء (اوبه والا)
باندی داوبو ورکړه واجب نه ده. اونه بی داوداسه دپاره په زوره ځندی اخلی کذا فی الطحطاوی ص۹۲ ۹۳

قوله لعجز چونکه دپاره دخورك وخميرولوته داوړوبه ذريعه داوبو ضرورت دی
وجه که اوبه فقط دخميريد وکفايت کوی نوتيمم ورته روا دی. سيد والی که يوسړی
دچاړو عملی وو چې به نه چښلو يه ده ته ضرر متوجه کيدی اواوبه صرف دچا يو لسيدلی
نوده غسړ ته هم تيمم روا دی» ذړوړلښ والی چې دچا يو ضرورت دومره نه دی
لکه دړوړی نودچای دپاره احتياطاً بايد تيمم ونه کړی» **قوله لا لطبخ مرق**. ولې
سنو روا ته دومره ضرورت نسته چې سړی ته دی ضرر اوناجوړی متوجه کړی. قال
ولفقد آلة اوده غسړ نگه تيمم روا دی په سبب دنيستی والی دآله دراکښلو
داوبو دخا ښخه لکه تناو، يا سولاغه» ولی چې آله نه وی گويا اوبه
نسته» **مسئله**: که په صحرا کښی چا اوبه اينبی وی دمسافرو دچښلو دپاره
يعنی يوخم يا منگی ئی اينبی وو په هغه اوبو دی خوك اودس نه تازه کوی بلکه تيمم دی
وکړی. اوکی دپيړی اوبه اينبی وی نودی اودس په تازه کړی تيمم دی نه وهی تيمم نه
ورته روا،

ولخوف فوت صلوة جنازة او عيد ولو بناء

اودغسړ نگه تيمم روا دی چې سړی بيريږی پرفوت دجنازی دلمانځه کولو دی اودس کوی
اويا بيريدی پرفوت داختر دلمانځه کولو دی اودس تازه کوی نوتيمم دی وهی که څوك
پښه ماته (ټوټه) کوی. **قاعدة**: هغه لمونځ چې خلف اوعوض لری دهغه فوت دپاره
تيمم نه دی روا. لکه پنځه وقتی لمونځونه چې قضاء يه عوض ده يا دجمعی لمونځ چې
دمابښين لمونځ يه عوض دی. اوهغه لمونځ چې عوض نه لری لکه دجنازی لمونځ داختر
لمونځ نودهغه دفوت دپاره تيمم روا دی.

مسئله: که دسړی داخيال ووچې زه چې اودس تازه کوم يو تکبير دجنازی دلمانځه
نيولای سم هغه ته تيمم نه دی روا **مسئله**: هغه ولی اوقريب دسړی چې تصرف
دجنازی دده پلاس کی وی هغه ته تيمم نه دی روا» ولی چې دی دا لمونځ خندو لای
اوداغسړ نگه قاضی ياسلطان نه ته تيمم نه دی روا ولی هغه تاخير دجنازی دلمانځه کولو
سی.

قال المصنف فی المراقی هوالصحيح، اودغه مذهب ته صاحب هدايه هم ترجيح ورکړی ده» لکن ظاهر
الروايت دحضرت الامام الاعظم دادی چې نولوته تيمم روا دی. ولې چې تاخير دجنازی مکروه دی
ودی روايت ته امام سرخسی ترجيح ورکړی ده. وعليه فتوی الفقير سامحه القدير»
قوله ولو بناء يعنی که څوك هم پرکړی لمانځه دی بناء کوی. صورت دبناء يه دادی چې يوسړی
شروع وکړی په لمانځه داختر دامام سره په طهارت اوبيا يه اودس مات سی نوده ترديارې دبناء
ترسوی لمانځه تيمم روادی» دامذهب دحضرت الامام الاعظم دی» اويارانو والی کی اصلی
لمونځ پاوداسه شروع کړی وو نوبناء پرهغه په تيمم سره نرده روا» اوکی ديوعذر دسببه
اصلی لمونځ په تيمامه شروع کړی وو بيابناء پرهغه لمانځه په تيمامه روا ده.

وليس من العذر خوف الجمعة والوقت

اونه دی عذر يعنی روا کوونکی دتيمم، يوه دتيريدو دجمعی لمانځه اوبيره دوتو دوخت د
لمانځو، يعنی که يوسړی بيريدی که زه په اوداسه مشغول سم دجمعی لمونځ به راسرته سی.
اويا په پنځو لمونځو کی ديوه لمانځه دوخت دوتو لو څخه بيريدی که دی په اوداسه مشغول سی
داعذر نه دی اوتيمم نه دی ورته روا» لما مرّ من القاعدة الكلية»

والثالث أن يكون التيمم بطاهر من جنس الأرض

اودريم شرط دتيمم دادی چې تيمم به په يوه پاك شی سره وهی چې دجنس دمځکی وی لکه

كالتراب والحجر والرمل لا الحطب والفضة والذهب

خاوری يا دبرو يا ريگ اونه دی روا تيمم پرلرگی يا پر سپينو زرو اويا پرسره زرو
پوه سه: چې مراد دطاهر څخه هغه شی دی چې نجاست ټولی وغيره نه وی وراسيدلی
کی څوك اثر دنجاست باقی نه وی خوهم تيمم نه دی پر روا بخلاف الصلوة» اومراد
دجنس الارض څخه هغه شی دی چې په وخت کی دتيمم دجنس الارض څخه گنړل کيږی.

نړه په اعتبار د اصل نو بناءً علی هذا پر بشپښه تیمم نه دی روا کړی هم په اعتبار د اصل د پرېښو
څخه جوړ پرې :م، ط، مراقی الفلاح، طحطاوي.

او د هجر څخه مراد دېره ده که څه هم بشوی وي «م» او امام محمدؒ وائی چې پر بشوی د پرې
چې ګرد ویې یا نه دی نه وی تیمم نه دی روا «وسوالاقیس» **مسئله**: پر شګو
چونه، د خاورو پخه خښته یا اومه خښته، د خاورو د پرو د خښتو پرده یوالی تیمم
روادی، د خاورو پر اومه لوښی او پر پاخه لوښی چې غوړ سوی نه وی هم تیمم روادی
او پر هر شئ چې ګرز پروت وی تیمم روادی» **درمختار عالمګیری**

فائدة سنية عنایه په شرح کی د هدایه وائی چې د پرو مفسرینو د تیمم
شریف څخه داسی نقل کړی دی چې رب جل وعلی اول د
یوه لوبه ملخړه پیدا کړه. او په نظر د هیبت او قدرت یه وهغی ته وکتل هغه ملخړه
او به سوه» او بیا هغه او به په مرور د زمان متکاثف سوی او د هغه څخه مخلوقات پیدا
سوه، او بعض اجزاء د هغو او بو نرم سوله چې هغه هواء سوه او تر هغو اجزاو والطف
په کښې پیدا سوه چې هغې اوږه سو. نو او س د طهارت دپاره اول اصل دی چې او به دی
او که اصل نه وی بیا په تبع چې خاوری دی په ځای کی دریږی. او پاته نباتات لکه
وابښه د رختی وغیره او د غرونګه معدنی شیان لکه وسپنه، سره زر، سپین زر،
وغیره د وی تبع دا و بویوازی نه دي، بلکه دا ټوله مرکب د عناصرو اربعه و څخه د
او علاقه خاصه د یوه عنصر سره چې او به دی نه لري حتی چې په ځای کښې د هغو
و دریږی، فلا یجوز التیمم بهذه الاشیاء» قال المصنف

والرابع استیعاب المحل بالمسح او څلورم شرط د تیمم
کښې ستل دی د محل
مخ او لاسونه دی په مسح کولو سره. **پوه سه**: چې مصنف په مراقی الفلاح کې
داسی وائی چې د استیعاب شرط والی ظاهر المذهب دی او هم صحیح او هم مفتی به
دی نو بناءً علی هذا که چیرې د نریا بښځی په ګوتو کی ګتمی وی او یا د بښځی پلاس کې

ښځې وه نو هغه به یا کابن د تیمم په وخت کی یا بی د ځای څخه بشوروی چې د مسح
استیعاب پرځای سی. او تخلیل د ګوتو به هم کوی او ابن امیر حاج وائی چې د تخلیل د
ګوتو په تیمم کی لکه تخلیل د هغو په او د اسر کی یعنی سنت دی.
امام خبره چې ذخیرة العقبی والا کړی ده چې د تخلیل د پاره ضربه ثالثه غواړی
بیځایه خبره ده ولی چې اعتبار مسح له ده دی د ګرځ رسولو له نه ده کذا قال الامام
الطحطاوی» او د وینښتانو چې مخ پوری متصل وی مسح هم غواړی نه د څرپیدلو
وینښتانو او د مابین د باړخو او غوږ مسح هم غواړی، او بعض فقهاء وائی چې اکثر د مخ او
لاسو چې مسح کړی هم کفایت کوی، وهذا هو الاوفق بالناس» او په بعض فتاوا و
کښې د دی تصحیح سوی ده» والله اعلم قال.

والخامس ان یتمسح بجمیع الید او باکثرها حتی لو مسح

او پنځم شرط د تیمم دا دی چې مسح په ټوله لاس کوی او یا په اکثرو لاس» حتی که مسح

باصبعین لا یجوز ولو کرر حتی استوعب بخلاف

وکړه په دوو ګوتو دانه ده روا، که څه هم دا دوی ګوتی مکرر کړی چې پر ټوله محل مسح راسی
مسح الرأس هم نه دی روا. او مسح د سر په او د اسر کی د دی څخه خلاف ده یعنی
په دوو ګوتو په تکرار سره استیعاب کافی دی. قال.

السادس ان یکون ای التیمم بضربتین بباطن الکفین ولو

او شپږم شرط د تیمم دا دی چې تیمم به کوی په دوه واره وهلو د باطن د ارغوو کړه هم
فی مکان واحد د واړه ضربه د یوه ځایه څخه وي. **پوه سه**: چې مراد
د ضربه څخه نفس ایښول دی قاله السید» او مصنف
چې وویل ولو فی مکان آه دا د دے سببه چې مکان خونه مستعمل یږی ولی چې تیمم

خو بما فی الید دی **مسئلہ**: کہ دۓ سړی نیت دتیمم وکړی او بل سړیٔ به تیمم امر کړی
هغه سړی تیمم ور وکړی صحیح دی، مرا قی ص۹۶ قال.

وَلِيَقُمْ مَقَامَ الضَّرْبَتَيْنِ إِصَابَةُ التُّرَابِ بِجَسَدِهِ إِذَا مَسَحَ

او دې ریږی به ځای کښی د دوو ضربو چی خاوری دسړی پر بدن پری وزی او دی لاس پرې
تیر کړی یعنی پر مخ او لاسونه نیت دتیمم، وقولہ بباطن
بِنِيَّةِ التَّيَمُّمِ الكفين» د اموافق دهغه روایت سره ده چی حلبی د زخیره
څخه نقل کړی دی. لکن صحیح هغه خبره ده چی شمنی والئ چی هم دې باطن د کفینو پر
محله وهی اوهم ظاهر دهغو، قاله الطحطاوی»

سوال به حدیث مبارک کی داسی راغلی دی، «التیمم ضربتان» او ضرب په لغت کی وهلو
والئ او تقبلا و ویله چی مراد ضرب څخه ایښو ول دی» اوسره ددی چی دا ایښو ولو پاره لفظ
دوضع په عربی کښی راځی. **جواب**: هو د ضرب معنی خو هغه ده چی سائل وویل
لکن په حدیث شریف کښی لفظ د ضرب بناء دی پر غالب عادت دتیمم کوونکو. دلیل
ددی ترجمی چی مونږ په وضع سره وکړه لفظ د قرآن کریم چی د تیمم په باره کښی والئ فامسحوا

السَّابِعُ انْقِطَاعُ مَا يُنَافِيهِ مِنْ حَيْضٍ أَوْ نِفَاسٍ أَوْ حَدَثٍ

اوا ۷م شرط د تیمم کولو دا دی چی نه به وی موجود هغه شی چی د تیمم سره منافی وی چی هغه
شئی حیض اونفاس اوحدث یعنی یا بولی یا غُل یا پُسکی وغیره. حاصل دا چی په وخت
د تیمم به بنځه په حیض کی نه وی. اویا په نفاس کی به نه وی. اویا نر یا بنځه به په
حال د حدث نه وی د تیمم په وخت کښی. مطلب دا چی حائضی بنځی یا نفساء بنځی یا
هغه چی په حال کی د بولو وغیره تیمم وکړی نه دی. لان اجتماع المتنافیین لایجوز شرعاً
ولا عقلاً - **پوه شه**: چی دا شرط دا و دا سه اود غسل د پاره هم دئ.

اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِمُؤَلِّفِهِ وَلِكَاتِبِهِ وَلِوَالِدَيْهِمَا وَقَدْ كَتَبَهُ بِيَدِهِ أَحْقَرُ فَضْلِ الْحَقِّ حَقَّانِي غَفَرَ لَهُ

الثَّامِنُ زَوَالُ مَا يَمْنَعُ الْمَسْحَ كَشَمْعٍ وَشَحْمٍ

اوا ثم شرط د تیمم صحت زوال یعنی نیستی والی دی دهغه شی چی مانع د مسح وی لکه موم یا واز گه. ولی که چیری دا
مانع پرلاسو یا مخ موجود وی بیا خو مسح پر هغه مانع کیږی پر بدن د تیمم نه کیږی.

وَسَبَبُهُ وَشُرُوطُ وُجُوبِهِ كَمَا ذُكِرَ فِي الْوُضُوءِ

وسبب د تیمم او شرطونه د واجب والی د تیمم هغه دی چی دا و دا سه په مبحث کی ذکر سوله.
لوه سه: چی سبب د تیمم وهلو اراده د هغه کار چی بی طهارت نه وی روا.
لکه لمونځ، مسحه د قرآن شریف وغیره اوشرطونه یه اته دی. العقل، والبلوغ،
والاسلام، ووجود الحدث، وعدم الحیض والنفاس، وضیق الوقت، والقدرة علی ما
یجوز منه التیمم»

تفریع: پرلیونی تیمم واجب نه دی، پرکشنی تیمم واجب نه دئ. پرکافر
تیمم واجب نه دی، اوچی اودس لری پرهغه چا تیمم واجب نه دی. اوپرحائضی یا
نفساء بنځی باندی تیمم واجب نه دی. اوچی وخت فراخه وی چی تر اوبو رسیدلای
سی تیمم واجب نه دئ. اوچی قدرت پرهغه شئی نه لری چی تیمم پرې روا وی، لکه خاوری
وغیره تیمم واجب نه دی» قال المصنف.

وَرُكْنَاهُ مَسْحُ الْيَدَيْنِ وَالْوَجْهِ

اودوه رکنه د تیمم مسح کول دی دلاسو او مخ.

فائده: کیفیت د تیمم هغه دی چی د قول او فعله څخه د رسول کریم صلی الله
علیه وسلم معلومیږی، قال صلعم. التیمم ضربتان ضربة للوجه وضربة للذراعین
الی المرفقین، وورد فی الصحیح من الحدیث انه سئل رسول الله صلی الله علیه و
سلم: کیف امسح یعنی فی التیمم فضرب بکفیه الارض ثم رفعهما الوجه ثم ضرب
ضربة فمسح ذراعیه بباطنهما وظاهرهما حتی مس بیدیه المرفقین»

لړ ولیش والئ: چې دغه کیفیت دې صحیح دی اودغه کیفیت هم دامام اعظمؒ څخه مروی دی هغه وخت چې امام ابو یوسفؒ دده څخه پوښتنه د کیفیت د تیمم وکړه صـ۹۷ را اوهغه کیفیات چې بعض علماو وذکر کړي، کما فی الطحطاوی صـ۹۷ هغه په احادیثو شریفه وو کې نه دی راغلی. اوته د صاحب المذهب څخه منقول دی، صاحب البدائع والئ چې دغه کیفیات تکلف دی اواحسن هوالموافق للمنقول، که څوک د هغو کیفیاتو نږدې کړې غواړی نو دې د طحطاوی صـ۹۷ مطالعه کړي او تکلف بې ځایه ور معلوم سي، قال

وَسُنَنُ التَّيَمُّمِ سَبْعَةٌ اَلتَّسْمِيَةُ فِي اَوَّلِهٖ وَالتَّرْتِيْبُ

اوسُنت کار ونه د تیمم اوه دي. اول بسم الله ویل دي په اول کې د تیمم لکه په اصل کښې دده یعنی اوضو

وَالْمُوَالَاتُ وَاِقْبَالُ الْيَدَيْنِ بَعْدَ وَضْعِهِمَا فِي التُّرَابِ

اوبل ترتیب دی یعنی مخ دی د مخ مسح کوی اوبیا لاسونو لکه چې په حدث کې تیره سوه. اوبل پیوست کول دی د دوو مسح کولو لکه په اوضو کې چې هم سنت دی. اوبل

كَاِدْبَارِهِمَا وَنَفْضُهُمَا وَتَفْرِيْجُ الْاَصَابِعِ

د فعل څخه د آنحضرت صلی الله علیه وسلم هم موالات فهمیږي. اوبل سُنت دادی چې اول دی مخ دلاسو پر مخکې ایښې دی. اوبیا دی شاوی دلاسوایښې دی. اوبل سُنت دادی چې لاسونه دی وخنډې دگرز څخه، تاچې مثلت یعنی ککړ پیدل د مخ رانسی. اوهم په دغه کیفیت امام اعظمؒ تیمم وابو یوسفؒ ته ورښوولی دی چې هغه پوښتنه ځندی وکړه.

مسئلهٗ په خټو تیمم نه دی روا ترهغو چې وچې نسي د جهت د مثلت مگر هغه وخت که سړي بیریدی چې وخت دلمانځه تیریږي. اوبل سُنت خلاص نیول د دگوتو د لاسودی په وخت کې د ایښوولو پر مخکه، د پاره ددی چې گرزوړ نه نوزي.

وَنُدِبَ تَاْخِيْرُ التَّيَمُّمِ لِمَنْ يَرْجُو الْمَآءَ قَبْلَ خُرُوْجِ الْوَقْتِ

او مستحب دی څنډول د تیمم تېغه پاتې کړه چې امید د اوبو یې وی د مخه تر وتلو د وخت د لمانځه.

پوه سه: چې د احکم اوندب د هغه چا د پاره دی چې هغه فاقد الماء شرعاوی یعنی یو میل اوبه څنډی لرې وی، په ظاهر روایت کې د حضرت الامام الاعظمؒ څخه. ولې که دسړي ظن وی چې اوبه تر یوه میل کمې لیرې دی بیا خو تیمم نه دی ورته روا. اوداهم واوره چې مراد د رجاء څخه امید د اوبودی په غالب الظن سره نه په نفس گمان سره. اود حضرت الامامؒ اود اغه رنگه د امام ابو یوسفؒ څخه روایت دی چې په صورت کې د غلبة الظن د اوبو تاخیر د تیمم واجب دی لکن د اظاهر روایت نه دی.

فائدهٗ: مراد د وقت څخه وقت مستحب دی، چې هغه ته اولو لمنځو کې اول د اخیر نیمائی وخت دی، اوبعض علماءؒ وائی چې تر اخیر پورې د وخت د جواز یه څنډول مندوب دی. لکن صحیح اول مذهب دی تاچې اداء د لمانځه په وخت مستحب کې راسی، ط، صـ۹۸.

تفریع: نو څنډول د تیمم د مازدیگر د لمانځه د پاره تر تغیر لمړوانه دی. اود غه رنگه دی د مابنام لمونځ د اول د وخت نه څنډول دی. اوبعض فقهاءؒ وائی چې تر نږدې پورې د مغیب الشفق څنډول پروانه لرې.

حکایت: یوه ورځ حضرت الامام الاعظمؒ سره د خپل استاذه الامام حمادؒ د پاره د رخصت کولو د حضرت المحدث الکبیر امام الاعمشؒ د بغداد څخه د باندې وتلی وو چې د مابنام وخت داخل سو او د غالب الظن پر بناء امام حمادؒ په اول کې د وخت تیمم وکړی او د مابنام لمونځ یې ادا کړی. اوامام اعظمؒ لمونځ وځنډاوه چې په اخیر کې غیبی خدایؒ اوبه پیدا کړی اوامام اعظمؒ اودس وکړی اولمونځ د مابنام یې په اخیر وخت کې ادا کړی، دده استاذ د غه رأیه د امامؒ صواب وبوللې. حکایت کوونکی چې د اول مخالفت وو د حضرت الامام الاعظمؒ خپل استاذ حمادؒ څخه، قال المصنفؒ

وَيَجِبُ التَّاْخِيْرُ بِالْوَعْدِ بِالْمَآءِ وَلَوْخَافَ الْقَضَآءَ

او واجب دی پرسړي چې څنډول د تیمم په سبب د وعدې د اوبو سړي چې نه د اوداسره اوبه درکوم که څه هم پر قضاء د لمانځه یې بیریږي.

پوه سه: چې دې مسئلې ځای هلته دی چې د وعده کوونکی سړی سره اوبه موجود وی. او یا اوبه ترکم د میل نږدی وی وعده کوونکی وائی چې زه ئې پرسائیکل یا آس وغیره تاته ږارسوم او که اوبه پوره میل لیری وی یا بالا تر هغه بیا ځنډ ول دتیمم پرده واجب نه دی» چې خدای ودې ته په دغه صورت کې تیمم روا کړی دی» البته که دده پر دوعده کوونکی پرده دوفا گمان وو نو ځنډ ول دتیمم مندوب دی۔ قال المصنف

وَيَجِبُ التَّاخِيرُ بِالْوَعْدِ بِالثَّوْبِ أَوِ السَّقَاءِ مَا لَمْ يَخَفِ الْقَضَاءَ

او واجب دی تاخیرای تاخیرد لمانځه که یوچا دلمانځ سړی سره وعده وکړی یعنی په قدر د ستر العورة وکړه۔ او یا د هغه سړی سره چې اوبه په څاګنبی وی مګر ږسی او سولاغه نه وه بل چا وعده درسی او سولاغی وکړه۔ نو پردی سړی هم واجب دی ځنډ ول دتیمم تر هغو چې پر قضاء د لمانځه نه بیریږی په دوار و صورتو کې۔ **فائده**: مصنف متابعت کړی دی په دی دوو مسئلو کې د صاحب البرهان لکن په عامو کتابو کې د فقه حنفی لکه فتاوای خانیه او فتح القدیر او منیة المصلی او هغه دوی شرحې صغیری و کبیری او بحر رائق، او سراج، او صاحب خلاصه په وسیوط ته هم نسبت کړی دی چې دغه تاخیر به نیز د امام اعظم مندوب دی» او یاران ئې وائی چې واجب دی او مزید البیان فی الطحطاوی ص۹۸

وَيَجِبُ طَلَبُ الْمَاءِ إِلَى مِقْدَارِ أَرْبَعِمِائَةِ خُطْوَةٍ إِنْ ظَنَّ قُرْبَهُ

او واجب دی طلب د اوبو تر څلور سوه ګامه پورې کې ګمان وُو۔ د نږدی والی د اوبو لکن د

مَعَ الْأَمْنِ وَإِلَّا فَلَا

طلب هلته واجب دی چې په لار کې د طلب امن وی یعنی د دښمن یا د غلو بیره نه وی۔

مسئله: طلب د اوبو که په خپل کوی کې په بل چا کوی۔ **پوه سه**: چې طلب د اوبو د هغه طرفته کوی چې د ده ګمان کیږی چې پردغه طرف به اوبه وی۔ او کې څلور سو طرفه د اوبو قرب ګمان وُو» نو پر څلور سره طرفه به طلب کوی۔ لکن د اطلب هلته

واجب دی چې په لار کې د طلب امن وی۔ یعنی د دښمن یا د غلو بیره نه وی۔ **قوله وَإِلَّا فَلَا**۔ یعنی کې ګمان د قرب د اوبو نه وُو یا د لاری امن نه وُو بیا طلب واجب نه دی که څرهم اوبه په واقع کې نږدی وی۔ **پوه سه**: چې سبب د ګمان نږدی والی د اوبو۔ یا خو اخبار د یوچا وی چې دلته نږدی اوبه ستنه او یا شنی د رختی یا شنه ټلان وو۔ یا بنی او یا مرغان هلته دوری وو۔ او یا ستر کیږی **مسئله**: که د سړي ګمان خونه وو لکن یو بل سړی تیریدی واجبده پرده چې د هغه سړي څخه د معلومات د نږدی والی د اوبو وکړي اوکه ده پوښتنه ځندی ونه کړه تیمم یې روا کړی او لمونځ یې هم روا کړی ور وسته هغه سړي د قریب د اوبو خبر ورکړی هغه لمونځ به راګرځوی» ط»

پوه سه: چې د غه ۴۰۰ ګامه ته په نور و کتابو کې غلوه وائی۔ او دا مقدار مغرب چې د لغت کتاب دی ذکر کړی دی۔ او صاحب قاموس وائی چې غلوه مقدار د غشی دویشتلو دی۔ او دا مقدار حافظ الدین په کنز کې راوړی دی۔

مسئله: صاحب بدائع وائی چې پرته د مقدار دومره اندازه دی طلب کوی چې وده ته اوږده اندیوالا نوته په سبب د انتظار ضرر نه وی۔ قال ط وهو الاصح۔

مسئله: که سړه د ظن د قریب المآخذ ده طلب ونه کړي بلکه تیمم یې وواهه او لمونځ یې هم وکړي او بیا ورسته چې طلب وکړي اوبه ونه وي۔ نو تیمم او لمونځ به دواړه روا ګرځوي» په نیز د امام اعظم» او امام محمد وائی په صورت مذکوره کې شرط د جواز د تیمم چې طلب دی نږدی پیدا سوی» او امام ابو یوسف وائی چې روا ګرځول پرې نسته» سراج»

مسئله: که د سړي غالب ګمان د نږدی والی د اوبو وو مګر یو عادل سړي ورته ووایل چې اوبه نږدی نسته تیمم بې خلافه ورته روا دی۔ حلبی

مسئله: دا چوله خبری هلته دی چې سړي په دښت او بیابان کې وي۔ او که آبادي ترمیل کمی معلومیدی بیا طلب د اوبو پرې واجب دی مطلقا یعنی کې ګمان وی او که نه وی حتی که د غه سړي تیمم وکړي او لمونځ یې هم وکړي لمونځ یې نه دی روا۔ ولې چې آبادی غالبًا د اوبو څخه خالی نه وی، والغالب کالمتحقق فی الاحکام»

وَيَجِبُ طَلَبُهُ مِمَّنْ هُوَ مَعَهُ إِنْ كَانَ فِي مَحَلٍّ لَا تَشُحُّ بِهِ النُّفُوسُ

اوپرسړی یعنی مسافر واجب دی طلب داوبو هغه چا څخه چې دده سره ملګری دی که په داسې ځای کې ووچې هلته به اوبو سره بخل نه کیدی.

بِنِهَايَةِ فَائِدَه

په هدایه بلکه په ډیرو کتابونو کې دفقه شریفې وائي چې په نیزد امام اعظمؒ طلب داوبو ملګری څخه هیڅ واجب نه دی. ولې چې دغه سړی خو پخپله داوبو څخه عاجزه دی اداوبه په سفر کښې هغه بیخی ګران دشي نو څخه دی پر مسافر نوظاهره داده چې نه بې کې وړ. نوبې له طلب دی تیمم وکړي اولمونځ دی اداء کړي. اویارانو وائي چې طلب داوبو لازم دی اود محه تر طلب داوبو وسړی ته تیمم نه دی روا.

ولې چې اوبه خلك ورکوی یو وبل ته خصوصًا داود اسړدپاره. لکن ابوبکر الجصاصؒ وائي چې په حقیقت کې دامام اعظمؒ اودده شاګردانو ترمابین خلاف نشته. ولې چې مراد دامام اعظمؒ چې طلب داوبو لازم نه بولی. هغه وخت په لازم نه بولی چې دده غالب ګمان داوی چې اوبه نه راکوی. اومراد دیارانو دا دی چې طلب داوبو لازم بولی چې دسړی ظن داوی چې منع به وانه کړی نوګویا پر اوبو قدرت سته نوځکه تیمم ناجائزدی. فقیر وائي چې دواقول دجصاصؒ ددوی یعنی حضرت الامامؒ اویارانوؒ دډلیل څخه فهمیږي. قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَإِنْ لَمْ يُعْطِهِ إِلَّا بِثَمَنِ مِثْلِهِ لَزِمَهُ شِرَاؤُهُ بِهِ إِنْ كَانَ مَعَهُ فَاضِلًا عَنْ نَفَقَتِهِ

اوکه هغه شریك دسفر اوبه نه ورکولې مګر په ثمن مثل سره پرسړی لازمه ده راپیول یې په ثمن مثل که چیرې دده سره ثمن ووچې هغه هم دده تر سفرخرڅ بالا وو.

پوهه سه: چې خرڅول داوبو په ډبو سره ثمن مثل سره دادی چې ټن دی ودغه ځای ته اوبه په دغونه قدر قیمت خرڅیږي په دې صورت کې که دسړی سره ثمن مذکوره وو او فاضل دده تر نفقې وو نو راپیول یې لازم دی اوتیمم نه دی ورته روا.

كَتَبَهُ أَحْقَرُ الْوَرَى فَضْلُ الْحَقِّ حَقَّانِي.

اوکه خرڅول داوبو په ټن بالا پیسو وو بیا هم راپیول یې لازم دی تیمم نه دی روا.

ولې چې په دې دواړو صورتونو کې سړي قادر پر اوبو دی کیدل چې قدرت پر بدل چې پیسې دی قدرت پر مبدل دی چې اوبه دي. اوکه خرڅول داوبو په غبن فاحش یعنی په دیرتا وان سره ووچې تر اصلي قیمت نیم د هغه نورو یې څنډی غوښتی بیا یې راپیول لازم نه دی اوتیمم روادی. ولې چې په دی راپیولو کښې ضرر دده دمال دی اومال دمسلمان لکه ځان دده دی. نوضرر دده نفس مُسقط «ساقط ونکی» داوداسړو نوضرر دمال یې هم مسقط داوداسړدی» کفایه بالاختصار. قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَيُصَلِّي بِالتَّيَمُّمِ الْوَاحِدِ مَا شَاءَ مِنَ الْفَرَائِضِ وَالنَّوَافِلِ وَصَحَّ تَقْدِيمُهُ عَلَى الْوَقْتِ

اودی اداکولای سی په یوه تیمم هغه لمونځونه چې دده خوښه وی د فرضي پیړو لمونځو اونفلي لمونځو اوروادی تر وخت دمخه تیمم وهل.

پوهه سه: چې تیمم زمونږ په مذهب کې طهارت مطلقه کامله دی لکه اودس. ولې چې په تیمم سره امر قرآني راغلی دی «فَتَيَمَّمُوا صَعِيدًا طَيِّبًا» لکه په اوداسه سره وقال علیه الصلوٰة والسلام «التراب طهور المسلم ولو الی عشر حجج مالم یجد الماء» نوبکر په یوه اوداسه چې دیر فرضي لمونځونه روادی دغه رنګه په یوه تیمم هم دیر لمونځونه روادي. اوکله اودس چې قبل دخول الوقت روادی تیمم هم روادی اوپه نزد امام شافعیؒ تیمم طهارت ضروري دی چې ضرورت نه وی نه دی روا.

فائده: سنن اونوافل چونکه تبع دفرضونو دي نوپه یوه تیمم په وخت کې دننه هرڅه سنت اونفل چې کوی بالاتفاق روادی. لکن ښه داده چې قبل الوقت دی تیمم نه کوی اود هر فرضي لمانځه دپاره دی جلا جلا تیمم وکړی تاچې د خلاف څخه دحضرت الامام الشافعیؒ ووزی.

وَإِنْ كَانَ أَكْثَرُ الْبَدَنِ جَرِيحًا أَوْ نِصْفُهُ جَرِيحًا تَيَمَّمَ

که چیرې دپوره حصه د بدن دسړي تپي وه اویا نیمې دبدن یې تپي وه نو تیمم دی وکړي

وَإِنْ كَانَ أَكْثَرُهُ صَحِيحًا غَسَلَهُ وَمَسَحَ الْجَرِيحَ اوکه چیری اکثره بدن یه جوړ وُو. نوهغه جوړځایونه دی پری منځی اوپرخوږو ځایودی مسح وکړي.

پوهسه: چی مختاره دفقهاوو داده چی کثرت اوقلت په اعتبارد عدد دانداموديږ. مثلاً کی سَرتپی وو او مخ یه هَم تپی وو او لاسونه هَم دواړه زخمی وه. صرف پښی ئی جُوړی وې. داسړی به تیمم کوی نودی حسابه څخه اندازه دنصف (نیمی) او اقل ته ولګوه. او بعض فقهاء وائی چی کثرت (پیروالی) اوقلت (لږوالی) او نصف په هم اندام دغوا ندامو معتبردی. یعنی کی اکثر یانصف دَمخ تپی وُو او نورا ندامونه پرجوړ وه داسړی به تیَمم وَهی. دا اختلاف خوپه اوداسه کښی دی اما په غُسل کی کثرت اوقلت په اعتبارد مساحت دی یعنی دبدن دگچی په اعتباردئ. اوچی جوړوی نوهغه جوړځایونه دی پریمنځی پرخوږو ځایودی مسح وکړي».

مسئله: مسح کول دادې چی لوند لاس دې پرتیرکړي. اوکه لُنډ لاس تیروُل ضرر تپ ته کاوه بیادی یوتکړ پراوارکی اوپرهغه دی لُنډ لاس تیرکړی. اوکه هغه هم ضرر کاوه نومسح دی پرپټی دی صرف جوړځایونه دې پریمنځی. **فائده** که دَسړی په نَس کی تپ ووکه څه هم لږ وی اویا په سَرکی وو او یا په شاکی وو اودی سړه دغُسل ضرورت درلودی او اوبوتاوان وَرته کاوه تیمم دی وکړي ولی چی په سبب دضرورت داتپونه حکم دجراحت غالبه لري». مر». قَالَ المصنفؒ.

وَلَا يَجْمَعُ بَيْنَ الْغُسْلِ وَالتَّيَمُّمِ

اوجمع کول به نه کوی په مابین دپری وَلو اوتیمم یعنی چی بعض ځایونه پری منځی اوتیمم هم وکړي». وَلی داپه شرعه شریفه کی مثل نه لري چی جمع دبدل چی تیمم دی اومبدل منه راځی. **سوال**: فقهاءؒ وائی چی کله دسړی سَړه پس خورده اوبو دخره وی نوداسړی به هم اودس تازه کوی په هغو اوبو او هم به تیمم کوی نودلته خو جمع دبدل اومبدل منه راغله **جواب** داجمع ددی دپاره ده چی

طهارت په یوه سړه دَدَغو دواړو حاصلیږی نه په دواړو. ولی چی سُنور الحمار مشکوکه ده جمع دبدل او مبدل منه چی نارواده داسی ده لکه چی دَغله لاس پری سی اودمال تاوان هم څنډی غواړي. او یا پریوه سړي حدنهاجاری سی او وَلورهم څنډی غواړي» او یا په میراث کی برخه لری اود وصیت برخه هم غواړه اوداسی نور». مَرَاقی. قَالَ.

وَيَنْقُضُهُ نَاقِضُ الْوُضُوءِ وَالْقُدْرَةُ عَلَى اسْتِعْمَالِ الْمَاءِ الْكَافِي

اوماتوی تیمم هغه شئی چی اودس ماتوی چی قبلاً ذکر سَوَله. اود غه رنګی ماتوی قدرت دمتیمم پراستعمال داوبوچی کافی وی د طهارت دپاره. **پوښتنه**: دمسافر سړه کافی اوبه د اوداسړي غُسل موجودی وی لکن دی بیریدی دورو ستی تندی څخه تیمم ورته روادی سړه ددی چی کافی اوبه وَرسره دی. **جواب** داوبه مشغوله په حاجت اصلیه دئ او مشغول بالحاجت کالعدوم. **پوهسه**: چی مصنفؒ بناء پرغالب ناقض الوضوء ذکر کړی ورنه تیمم په ناقض الغسل سړه هم ماتیږي. نودا سوال نه وارديږي چی مصنفؒ که داسی وښلی وای» فَيَنْقُضُهُ نَاقِضُ الْاَصْل». بنه به وای تاچی غسل ترهم شامِل سوی وای. اوامام حمویؒ ددی سوال په جواب کی داسی وَائی چی مصنفؒ خاص ذکر کړي چی اودس دی او مرادیه عام دی چی طهارت دی نوغُسل ته هم شامِل سُو.

مسئله: که دسړي سړه دومره اوبه وی چی دیوه وارد اندامو پر یَولو دپاره کافی ده دری دری واره دپاره کافی نه وی. تیمم ورته روادی اوکه نه؟ **جواب** تیمم نه دی ورته روا ولی چی تثلیث خوسنت دی. دفرضو دَپاره اوبه کافی دی.

فرعه: که دسړي سړه اوبه وی دده په خیال داوداسه کافی نه وی نویه تیمم وواهه وروسته یه اوبه په خیال کافی ورغلی نویه اودس شروع کړي. لکن په تثلیث سړه پس اودس پای ته نه ورسیدی چی اوبه خلاصی سَوی. نوبناءً پر مختار مذهب هغه څخه تیمم یه باطِل سُو. ولی ده اودس شروع کړي ظهوریت دخاورو پای ته ورسیدی **فائده**: په دی قول کی دمصنفؒ «وَالْقُدْرَة» اَه هغه قول عذرونه چی مباح کوونکی دتیمم وه

زوال دهغود اخل سومنډلا مریض ووجوړسو، دیریخ وویخ مات سو، دوښمن څو
بیریدی دښمن وګاړی، پرځاسولاغه اورسی نوره هغه پیداسوه. نوپه دی ټولوصورتو
کی هغه کړی تیممومات سو. ابن الشحنة وائی: وَیَسْقُطُ مَسْحُ الرَّأْسِ عَمَّنْ بِرَأْسِهِ
مِنَ الدَّاءِ اِنْ بَلَّهُ یَتَضَرَّرُ: ترجمه: ساقطیږی مسح د سر هغه چاڅخه چې په سر کې
داسی مرض وی کی لوند کړی تاوان ورته کوی. **فرعه**: نوبناء پرهغه عذر پرپښو
د سر جُنبی اوحائضی ښځی ځخ یا نفساء ڈ ټولوڅخه ساقط دی. قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَمَقْطُوعُ الْیَدَیْنِ وَالرِّجْلَیْنِ إِذَا کَانَ بِوَجْهِهِ جِرَاحَةٌ

اوهغه سړی چې لاسونه یې پرې وی یعنی لوړ ترڅنګلو اوپښې یې هم پرې وی. یعنی لوړ
ترڅنګلو لاندې چیرې پرمخ یې تهپ وو یعنی چې

یُصَلِّی بِغَیْرِ طَهَارَةٍ وَلَا یُعِیدُ

اوبو ضرر ورته کاوه لمونځ به کوی
بې له اوداسه. اوبیا به هغه لمونځ نه ږ اګرځوی: یعنی مَخ یې چوړسې. اوبعض عُلماء
وائی چې لمونځ ځُندی ساقط دی.

مسئله: که چیرې لاسونه دسړی ترڅنګلو کښته پرې وه، هغه باقی مانده لاس ږ
په خاورو مسح کړی.

مسئله: که دچا لاسونه شل وه چې پریوله یې نسوای کولای هغه مخ اولاسونه
په څکه پوری مسح کوی مګرلمونځ به نه پریږدی، قالہ المصنف فی المراقی صلا۔

انتباه محترمولوستونکو داکتاب چې علم فقه دمشهور اومعتمد کتاب شرحه ده د
حضرت علامه مولانا ابوالفضل محمد عُبید الله الایوبی القندهاری ده. چې اوس
دمکتبې له زیاتی غوښتنی وروسته یه دا زهونږ غوښتنه قبول کړه. اودی دکتاب
طباعت اوټول داشاعت حقوق راته کړی هیڅ څوك ددی کتاب کتابت، طباعت بیا
زهونږ داجازی نه سی کولای. په هیڅ لوی اوکشنی سائز کی. "په درناوی"

بَابُ الْمَسْحِ عَلَى الْخُفَّيْنِ

باب دی په بیان کی د مسح پرموزو باندې.

پوه سره: چې مسح دموزو شیعه ډله روانه بولی. اوپرلخ پښه مسح روا بولی. دوی
وا اسره په ایت کی چې په یوه قرائت کی "وَاَرْجُلِكُمْ" په جر یعنی په زیر سره راغلی دی. نودوی
لفظ معطوف بولی پر رُؤُسِكُمْ، نومعنی داسی کیږی چې "وَامْسَحُوا بِاَرْجُلِكُمْ" نوڅکه
پرلخ پښه مسح روا بولی. اودوی داعادت دی چې ګاهی په سفرو کی موزو ته ضرورت ولږی
موزه دونه فراغت جوړوی چې لاس ورنه وزی چې پرپښه مسح وکړی. نودی سبب په ضرب المثل
دی چې وائی فلانی شی دونه فراخه دی لکه دشیعه موزه. اومونږ هغه قرائت مختاره کړی چې
اَرْجُلِكُمْ په نصب سره راغلی دی چې عطف پرمغسول سی یعنی "اَیْدِیَكُمْ" چې معنا یه داسی
کیږی چې، "وَاغْسِلُوا اَرْجُلَكُمْ"

پوښتنه څه حکمت دی دخدائ چې اَرْجُلِكُمْ سره دَدی چې عطف پرمغسول دی اوتر
وامسحوا یه وروسته راوړی **جواب**. حکمت الهی اشاره وترتیب ته ده پرافعالو کښی
داوداسر څکه بعض فقهاءڈ وائی چې ترتیب په افعالو کښی داوداسر څرنګه چې په ایت الوضوء
کښی ذکرسوی دی واجب دی. اود حنیفیانو پرې نیز سُنت دی.

سوال: په قرائت کی دجر (زیر) مونږ څه وایو. **جواب**: شیخ احمد په تفسیرات احمدیه
او په نورالانوار کی وائی چې قرائت دجر محمول پرحال د "تَخَفُّف" دی یعنی چې موزی یه په پښو
وی چې عطف پرممسوح سی اوقرائت د نصب محمول پرحال دعدم تخفف دی چې پرمغسول
عطف سی، ددی وجهی، بعض فقهاءڈ وائی چې مسح دموزو په قرآن سره ثابته ده. کرخی هم
دا رأی دمصنفڈ خوښه نده. نوڅکه دی په مَراقی الفلاح کښی وائی: ثَبَتَ بِالسُّنَّةِ قَوْلًا
وَفِعْلًا، اوبعض علماءڈ قرائت دجر داسی توجیه کوی چې داجر د جوار دی یعنی لفظ دارجلکم
په اصل کی خو منصوب وو لکن چونکه مجاورد مجرور ذکرسو یعنی رُؤُسِكُمْ نوڅکه وَاَرْجُلِكُمْ

ته ئې هم جرورد کړی» کما فی قولهم جُحْرِ ضَبٍّ خَرِبٍ. **فَائِدَه:** مسح دموزو په
ډیرو صحیح حدیثونو سره ثابته ده حتی چې وئیلی دی یو جماعت د حُفاظو حدیثونو څخه
د مسح دموزو متواتر دی کما فی فتح الباری» حسن بصریؒ وائی چې ماته اویا ۷۰ کسانو
اصحابؓ د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم وئیلی دی چې موزې لیدلی دی عَلَيْهِ السَّلَام
مسحه په پرموزو کوله»

او حافظ ابن حجرؒ په فتح الباری کی وائی چې حدیث د مسح دموزو اکثر تر اتیا ۸۰ ووکسو
روایت کړی دی چې په هغوی کی عشره مبشرهؓ هم ټوله شامل دی. نو دی سببه د حضرت
الامام الاعظمؒ څخه روایت دی چې زه بیره د کفر لرم پرهغو کسانو چې مسح دموزو روانه
وروی عنه ایضًا» چې دده څخه چا پوښتنه وکړه چې علامه د اهل سُنت والجماعت کوم
شی دی. ده ورته ووئیل» تَفْضِيلُ الشَّيْخَيْنِ» یعنی بهتر بولل د ابوبکر الصدیق او عمر
رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُمَا پرنورو صحابهؓو باندی» وَحُبُّ الْخَتَنَيْنِ» یعنی محبت کول دوه
زمانو سَرْوَرَه د عَلَيْهِ السَّلَام چې عثمان او علی رضی الله تعالی عنهما دی» وَالْمَسْحُ عَلَى الْخُفَّيْنِ
او مسح جائز بولل پرموزو باندی» چې دا دری شئی په غیر کښې د اهل سُنت والجماعت
نه پیدا کیږی. وروی عنه ایضًا» چې ما په مسح سره دموزو قول نه دی کړی حتی چې مسان
دومره حدیث نه وو رسیدلی لکه د سحار سپیدیږی»

پوښتنه: بعض حدیثونو کی راغلی دی چې سیدتنا بی بی عائشه وسیدنا عبدالله
ابن عباس وسیدنا ابوهریرة رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُمْ مسح دموزو نه منله. **جواب**
په نها یه اونورو کتابونو کښې د فقه شریفې وائی چې دوی مبارکانو رجوع کړی وجواز د مسح
دموزو» اوبل جواب دادی چې امکان لری چې دوی انکار په حقیقت کی دلزوم څخه د مسح
دموزو وُو» اولازم خو یه موږ هم نه بولو بلکه که څوك موزې کاږی او پښې مینځی
ورته روا ده بلکه عزیمت دی. **مسئله** که یوڅوك سُنی په وطن کښې د شیعه گانو
وو هغه ته تر پیلولو د پښو مسحه د موزو افضل کار دی. د پاره د زړه پرې غوښه وو. واللهُ
اللهم اغفر لمولفه ولکاتبه آمین یارب العلمین

صَحَّ الْمَسْحُ عَلَى الْخُفَّيْنِ فِي الْحَدَثِ الْأَصْغَرِ لِلرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ

صحیح اوروادې مسح پرموزو په کشنی بی اودسیا کی یعنی نه په جنابت کی) د پاره د نرو او ښځو
۱ قال المصنفؒ وَصَحَّ: اشاره ودی خبری ته ده چې مسح لازمه نه ده که څوك
فَوَائِد موزې کاږی پښې مینځی روادی بلکه عزیمت دی حکمًا مرافقًا او خلاف
التیمم چې هغه په وخت کی د عدم د اوبو فرض دی» قاله العینیؒ.
۱ خفین به په صیغه د تثنیه راوړه اشاره ودی مسئلی ته ده چې یوه پښه پرېیوله او
دوهم پښه پرموزه مسح کول روا نه دی. ۳ عَلَى. لفظ چې د پاره د استعلاء دی وې وایه
تثنیه پردی خبره ده چې مسح دننه پرموزه یا لاندی ترموزه روا نه ده ۴ په بحر رائق کی
وائی چې مسح دموزو گاهی واجب گرځی مثلًا که اوبه دونه قدر وی چې نور اودس تازه کړی
پښو پرېیولو نه بسیږی نو مسح دموزو واجب ده. او یا داسی وی که سړی پښې مینځی
وخت لمانځه وزی نو مسح پرموزو لازمه ده. یا وقوف د عرفات ځندی تیریږی. ۵ مسح
د موزو د جنابت یا د حیض یا د نفاس د پاره نه ده رَوَا. ولی چې احادیث مبارکه په حدث
اصغر کی راغلی» اودا قانون دی چې کوم حکم چې خلاف القیاس وی پرځای د سماع حصر دی.
وَمَسْحُ الْخُفَّيْنِ كَذَا الْكِ. او بله خبره دا ده چې مسح دموزو د پاره د دفع د حرج ده او حرج په
هغه طهارت صغیر کی دی. چې مکرر پیښیږی چې هغه اودس دی» او طهارت د نجاست یا
حیض یا د نفاس څخه مکرر نه دی. بلکه نادر دی.

پوښتنه: د غسل سره څرنګه مسح دموزو تصویر کیدای سی ولی چې مغتسل چې
اوبه پرسر واچوی خو پرموزو به بهیږی نو بناءً عَلَى هذا د تقیید په حدث اصغر سره څه فائده

جواب: حافظ الدین په کافی کښې دی د تصویر داسی کړې دی چې سړی جوړ بین
مجلدین مثلًا بیله طهارة تامه په پښو کړي او بیا دی ځان جنب کړي وروسته دی
پښې پرېیولو رځای کښیږدی او نور بدن دی تولو پرمینځی او پرجوړ بینو مسحه وکړي.

نوفائده د قید د حدث اصغر داده چې دغه رنګه کول روا نه دي.

سوال: که څوك هميشه موزې کاږي او پښې منيځې خلګ به خيال د شيعه پرې کړي نو پرد غه عزيمت عمل خو موجب د دغه تهمت ګرځي ځکه بعض فقهاء د احنافو قول هم مسحه د موزو افضله ده مطلقاً.

جواب: دفع د دغه تهمت خو په دې هر کيږي چې ګاهې ګاهې د مسح پر موزو وکړي.

مسئله: مسح د موزو په کور اوپه سفر په دواړو کښې روا ده.

فائده: د خف چې مشتق د خفة څخه وجه ورکړه چې خُف په سبب حکم د پښو سپيڅلو شوو غټو څخه د مسح ته پوهه سه: چې مصنف په مراقي الفلاح کې وايي چې سبب د مسح په پښو کول دي د موزو. او شرط د مسح دادي چې موزه به پټونکې وي د محل د فرض يعنې د پښه تر بجلکو پورې. اوبل شرط په دادي چې موزه به صالح د مسحې وي يعنې پرله پسې يو فرسخ تګ پکښې کولای سي. اوخيري به نه وي هغه اندازه چې مانع د مسحې وي کما سيأتي او حکم د مسح روا والي د لمانځه دي په خپله مُده کې يعنې د مقيم او مسافر، اوږکن په مسح د قدر مفروض ده. اوکيفيت يې دادي چې شروع د پښو د ګوتو څخه کوي په ګوټو دلاس تر پوندې پورې.

وَلَوْ كَانَا مِنْ شَيْءٍ ثَخِينٍ غَيْرِ الْجِلْدِ

يعنې که څه هم جوړې سوې وي دا دواړه موزې د پندشي څخه سوا د چمړې څخه. لکه کراسته او کرباس چې پر پُندې باندې تکيه کيږي بيله تړلو او اوبو به هم نه جذب کوي.

سَوَاءٌ كَانَ لَهُمَا نَعْلٌ مِنْ جِلْدٍ أَوْلَا

برابره ده که وي د غه موزې سوولړه تلې د پوستکي چې وي د پې ته جوړ بيين وايي. اوکه پوستکي اصلاً نه لري.

پوهه سه: چې دا مسئله درې قسمه ده که چيرې په پښو اغوستې شئ نازک وي او چمړه نه وي پرې ګنډلې. خوچې مسح په اتفاق نه ده پر روا. اوکه پندې هم وي او نعلين هم وي مسح په اتفاق پر روا ده. اوکه پندې وي لکن منعل وي پر قول د ابو

مسح پر روا ده. اوامام اعظم مسح پر روا نه بولي. مصنف د دې راتوډ مذهب متابعت کړې دی. ولې چې په بعض کتابونو کې وايي چې امام اعظم رجوع کړې ده وقول ته د يارانوډ مخه ورکړې دی. او په فتاوی درې ورځې يا اوه ورځې. مصنف په مراقي کښې وايي وعليه الفتوی، لکن حلوانی او حلبی او خلاصه والا وايي چې د کرباس څخه پرجوړ سوو موزو مسح نه ده روا. مګر بجلدی وی دا روايت وايي ظاهره هم د غه ده ولې چې کرباس د پښو وو څخه جوړ پيږي نو غالباً اوبه جذب کوي.

پوهه سه: که چيرې موزې لاندې باندې د چمړې ساخت در لودې هغه ته بجلدی وايي مسح پر روا ده.

فرعه: د عسکرو پر غټو ګوتو مسح روا ده ولې چې په بجلد کې داخل دي کې څه هم دوی د غاية استحکام د پاره تناوونه ورتړي. اوکې دلاندې د خوا چمړه يعنې ساخت ورکړي وو اوناز کې نه وي دلوړې خواهغه ته جورب منعل وايي مسح پر روا ده.

اوکې چمړه ګرځه نه وي ورکړې او پندې وي اوبې تړلو پرې پندې يو تکيه کې وي. هغه ته ثخينين وايي.

فائده: بناء پر قول د مصنف هغه يو قسم پوندې وجرابو چې خارج څخه راځي اوپه مابين کې کشکان لري چې پرې پندې باندې کلکې ولاړې وي اود مسح کولو اوبه پښو ته نه ورځي پر هغو هم مسح روا ده. اود غه قسم خبره ته دي په دقيق نظر ګورې چې شرائط په کښې برابر دي اوکه نه!

قال المصنف.

وَيُشْتَرَطُ لِجَوَازِ الْمَسْحِ عَلَى الْخُفَّيْنِ سَبْعَةُ شَرَائِطَ

او شرط دي د پاره د روا والې د مسحې پر موزو باندې اوه شرطه

اَلْأَوَّلُ لُبْسُهُمَا بَعْدَ غَسْلِ الرِّجْلَيْنِ وَلَوْ قَبْلَ كَمَالِ الْوُضُوْءِ

اول شرط يې دادي چې موزې بې پښو کړې وي پس له پرې لودې پښو که څه هم د مخه تر کماله د اوداسه

اِذَا اَتَمَّهُ قَبْلَ حُصُوْلِ نَاقِضِ الْوُضُوْءِ

لکه چې سړې پښې پرې منځې اوموزې پې پښو کړې او بيا نور اوداس وکړي. لکن داهلته چې په مابين کښې د باقي اوداسه ماتوونکې داوداسه نه سي پيدا

کله پښکلی یاد یوځای څخه وینه راونه زی. **فَائِدَه**: که دسړی پر یوه پښنه سیاړ دواړه پښنو سکنده وه یعنی جبیره نو پرهغه یه مسح وکړه موزه یه یه پښنو کړه پرهغی موزی مسح روادَه. ولی چی مسح د جبیری حکم د غسل لری گویا پښنه یه پریوَله.

پوه سکه: چی موزی مانع د سرایت ده حدیث و پښنی ته دی رافع دحدث نه دَی

وَالثَّانِي سَتْرُهُمَا الْكَعْبَيْنِ

اودوهم شرط دمسح دموزو پټول دی دموزو بجلکو لره یعنی د ټولو طرفو څخه. **مسئله**: که موزو بجلکی خو پټی کړی وی لښ لنډی وی چی لوړی خوا بجلکی معلومیدلی پروانه لری. مسحه پرې روادَه. **مسئله** که چیری موزی دونه لنډی وی چی بجلکه یه نه سوای پټولای نکن سړی کراسته پری وگندل او بجلکی یه یه پټی کړی مسحه پرې روادَه» مر». قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَالثَّالِثُ إِمْكَانُ مُتَابَعَةِ الْمَشْيِ فِيهِمَا فَلَا يَجُوزُ عَلَى

اودریم شرط دمسح دموزو دادی چی ممکن به وی پرله پسی تگ په هغوکی. نومسحه

خُفٍّ مِنْ زُجَاجٍ أَوْ خَشَبٍ أَوْ حَدِيدٍ

نه ده روا پرهغه موزه چی دشیشی څخه جوړه وی یا د لرگی څخه اویا د اوسپنی څخه. **پوه سه**: چی مراد دمشی څخه یو فرسخ مشی دی یا بالالکه په حواشی وو کښی دهدایه چی وائی. اوپه محیط کی وائی چی مراد قطع دمسافت دسفرده **فائِدَه**: اگرچی تراوسه چا د نبیښنی اویا د لرگی اویا د اوسپنی موزې نه دی لیدلی. لکن فقهاءُ د پاره د فوائدو قیدُ فرضی مثالونه راوړې. قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَالرَّابِعُ خُلُوُّ كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مِنْ خَرْقٍ قَدْرَ ثَلَاثِ أَصَابِعَ مِنْ

اوخلورم شرط دمسح، خالی وَالی دَی دهری موزی د څیری والی څخه په قدر د درو گوتو د

أَصَابِعِ الْقَدَمِ

کوچنی گوتو څخه د پښنو **پوه سه**: چی اعتبار د کوچنی گوتو د مقدار هله دی چی خرق بیله د گوتو د څای څخه پر بل ځای وی اوله چیری خرق د گوتو پر ځای وُو. بیا نو هری درې گوتی چی وی هغوته اعتبار دَی. حتی که بېته گوته بنکاره وه سره د همسایه لوی گوتی مسح پرَوادَه» که څه هم د دغو دوو گوتو مقدار د درو کشنی گوتو کیږی. اوکه د بېتی گوتی سره ئ د دوی نوری بنکاره وی بیا نو مسح نه ده پرَوا. دې خبری دلیل دادی چی هغه گوته پخپل ځان کی اصل ده په نورو گوتو سره نه اندازه کیږی» ط، رد»

اوبعض فقهاءُ وائی چی درې گوتی دلاس معتبری دی. اود روایت دی دحسنؒ دامام اعظمؒ څخه «واختاره ابوبکر رازی» وَالصحیح هُوَ الاول. **مسئله**: مشهوره یه مذهب کی داده چی چی دیوی موزی متفرق خرقونه سره یو ځای کیږی. نوکه د درو گوتو ته رسیدل مسح نه ده پرَوا. اوده دوو موزو خرقونه نه سره یو ځای کیږی. لکن په خزانة الفتاوی کی اوپه توشیح کی وائی چی دامام ابو یوسفؒ مذهب ادی چی خروق (یعنی خیری ځایونه) جدا گانه که په یوه مُوزه کښی اوکه په دوو موزو کی وی نه سره یو ځای کیږی. دا مذهب مختار کړی کمال الدینؒ او ابن امیر الحاج. اود امذهب قوی گنړلی بحر الرائق ط، صـ۱۰۴ **پوه سه**: چی خُروق هغه معتبر دی چی پښنه په وخت کی د تنگ تر معلومیږی که څه هم په وخت کی د اینبو وَلودَ پښنی پر ځکه پښنه نه معلومیږی» ط.

وَالْخَامِسُ اسْتِمْسَاكُهُمَا عَلَى الرِّجْلَيْنِ مِنْ غَيْرِ شَدٍّ

اوپنځم شرط دجواز دمسح دموزو دادی چی دواړی موزی یه تکیه کیږی پر پښنو بیله تړلو په تناویا په کشک. مطلب دا چی موزی به پنډی او کلکی وی.

وَالسَّادِسُ مَنْعُهُمَا وُصُولَ الْمَاءِ إِلَى الْجَسَدِ

اوشپږم شرط دصحت دمسح پرموزو منع کول دی دموزو رسیدل دابو وجسد ته یعنی پښنی ته.

وَالسَّابِعُ اَنْ يَبْقَى مِنْ مُقَدَّمِ الْقَدَمِ قَدْرَ ثَلَاثِ اَصَابِعَ

اوأوم شرط د صحت د مسح د موزو دا دی. چې پاتې به وی ذ د څخه حصې څخه د پښې یعنې د ګوتو د خوا

مِنْ اَصْغَرِ ثَلٰثِ اَصَابِعِ الْيَدِ فَلَوْ كَانَ فَاقِدًا مُقَدَّمَ الْقَدَمِ

څخه په مقدار د درو ګوتو کچنیو د ګوتو څخه د لاس، نو که یوه سړې مقدمه حصه نه وه هغه به مسح پر موزه

لَا يَمْسَحُ عَلٰى خُفِّهٖ وَلَوْ كَانَ عَقِبُ الْقَدَمِ مَوْجُوْدًا

نه کوی کې څه هم د پندې خوا باقی وی.

مسئله: که د سړې یوه پښه تر بجلکی لوړه پرې وه، پر هغه بله موزه مسح ورته روا ده

مسئله: که د سړې یوه پښه تر بجلکی لاندې په قدر د درو ګوتو پاته وه هغه پرده وار و موزو مسحه کوی. **مسئله**: که د سړې یوه پښه روغه وه او په بله پښه کې تر بجلکی لاندې د درو ګوتو مقدار نه وو پاته هغه ته پر هغه روغې پښې پر موزه هم مسحه نه ده روا.

ولې چې پرده غه سړې پر یوله د هغه پاتې حصې د پرې سوې پښې فرض دی. او مسح او غسل (پریوله په وظیفې کښې د پښو نه سره یو څای کیږی)، م، قَالَ الْمُصَنِّفُ.

وَيَمْسَحُ الْمُقِيْمُ يَوْمًا وَلَيْلَةً وَالْمُسَافِرُ ثَلَاثَةَ اَيَّامٍ بِلَيَالِيْهَا

او مسح به کوی مقیم سړی یو ورځ او یو شپه. او مسافر به مسحه کوی درې ورځې سره د شپو د هغو. او د غه اندازه په صحیح حدیث کښې د آنحضرت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه روایت کړه سوی ده.

وَابْتِدَاءُ الْمُدَّةِ مِنْ وَقْتِ الْحَدَثِ بَعْدَ لُبْسِ الْخُفَّيْنِ

او ابتداء د مدې د مسحې یعنې مقیم او مسافر لره د وختر څخه د بې او د سیاده پس له په پښو کولو د موزو. لکن چې موزې پر طهارت مائی په پښو کړې وی، هم د غه مذهب

صحیح دی. او بعض علماء یه ابتداء د وختر څخه د په پښو کولو د موزو بولی، وبه قال الاوزاعیؒ او امام احمدؒ ابتداء د مُدې د وخته څخه د مسح بولی. اختلاف د دې مذهبو په دې مسئله کې دی چې یو سړی موزې په پښو کړی د سحار د لمانځه د پاره او بیا او د س مات سُود مخ ترڅو چې د لمانځه د پاره بیا پښې د لمانځه او واسره وخت کې مسح پر موزو وکړه. نو پس مذهب د اوزاعیؒ اتمام د مُدې د مقیم هغه وخت کیږی چې صبا و رځې سفیدی راوچوی ولی چې وقت د بس یه د پرون د سحار لمونځ وو نو شبانه روز پوره سُو. او زمونږ په نیز مده د مقیم قبل الزوال پوره کیږی. ولې د د ه د بې او سیا وخت پرون د غه وخت وو، او په مذهب کې د امام احمدؒ پس له زوال مده پوره کیږی. ولې چې د پرون بعد الزوال مسح وکړه، کذا قال ز ص۴۵ قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَاِنْ مَسَحَ مُقِيْمٌ ثُمَّ سَافَرَ قَبْلَ تَمَامِ مُدَّتِهٖ اَتَمَّ مُدَّةَ الْمُسَافِرِ

او که چیرې مسح یو څه وکړه مقیم سړی او بیا په سفر روان سود هغه تر پورې چې کولو د خپلې مُدې

وَاِنْ اَقَامَ الْمُسَافِرُ بَعْدَ مَا مَسَحَ يَوْمًا وَلَيْلَةً نَزَعَ وَاِلَّا يُتِمُّ

یعنې شبانه روز نو دې پوره کړې مده د سفر یعنې درې شبانه روزه

يَوْمًا وَلَيْلَةً او که بالعکس مسافر نیت د اقامت وکړې پس له دې چې یو شبانه روز په مسح کړې وه نو موزې دې وکاږی یعنې د بل او د اسره سره د پښې پرې منځې بیا کې موزې په پښو کولی او که نه! او کې یو شبانه روز نه وو پوره کړې هغه دې لمونځ پوره کړې یعنې بیا دې موزې وکاږې. دلیل د دې دوارو مسئلو دا دی چې جواز د مسح په سفر او اقامت پورې اړه لری وبس.

فَرْضُ الْمَسْحِ قَدْرُ ثَلَاثِ اَصَابِعَ مِنْ اَصْغَرِ اَصَابِعِ

الْيَدِ عَلٰى ظَاهِرِ مُقَدَّمِ كُلِّ رِجْلٍ او فرض د مسح الخف مقدار د دې، د درو ګوتو د غه کشنې ګوتو څخه د لاس پر ظاهر د مقدمې

حصی دَپښی **پوه سکه** : چی د تقدیر په دوړو گوتو معنا داده چی کم تر هغه به نه وی او که زیات وی په طریق اولی روا ده. او ظاهر د لفظ معنا داده چی د ښکر پر مُوزه اویا پر تلی د موزی مسح روا نه ده. او مقدم معنا داده چی د پښی د خوا مسحه روا نه ده، یعنی موافق د سُنت سره نه ده کماسیاتی، **پوه سه**، چی مصنف په مراقی کښی وائی چی دا اصح مذهب دی. ولی چی آله د مسح دَلاس گوتی دی او دری اکثر د پنځو گوتو دی. **فائده**: په لفظ کی د مقدار اشاره وده، چی حتماً د گوتو تیرو وَل ضروری نه دی حتی کی د غره مقدار په لنده تکره مسحه اویا په پَرتوی کړی مسحه په رڅای سَوه. قَالَ المُصنفُ.

وَسُنَّتُهُ مَدُّ الْأَصَابِعِ مُفَرَّجَةً مِنْ رُؤُسِ أَصَابِعِ الْقَدَمِ إِلَى السَّاقِ

او سنت طریقه د مسح الخف دا ده چی کش دی کړی گوتی سره خلاصی د سر و څخه د گوتو د پښی تر پونډی پورې، ولی رَسُول کریم صَلی الله عَلیه وَسلم دَغسی تعلیم وکړی و هغه چا ته چی موزی یه په اود اسر کښی پر یولی. **فائده**: که سَړی مسح د ساق (پنډی) څخوا شروع کړه اویا په پسار مسح وکړه مسحه یه صحیح ده لکن د سُنت مخالف سُوه.

مسئله: د دوه گوتو مقدار پر هره موزه فرض دی. که سَړی پر یوه موزه دوی گوتی کش کړی او پر دوهمه یه خلور گوتې کش کړی دا مسحه نه ده روا. ط، ص۱۰۵،

پوه سه: چی تکرار د مَسحی سنت نه دی لکه په مسح کی د سَر. او عطاءٌ وائی چی مسح دی دری واړه کوی» د ده خیال دادی چی مسح د موزو عوض دی د پښو د پر یولو» پر یولو د پښو خو دری واړه سنت دی نو مسح هم. **جواب**: دا دی. چی په منصُوص احکامو کی باید سَړی متابعت د سنتِ وارده وکړی تسلیماً لحکم الشرع» ولی چی بنده عاجز دی د پیژندلو د سِرّ د احکامو شرعیه وو» نو محکه امام علی کرم الله وَجهه. وائی که دین په عقل سَره وای نو به اسفل (لاندنۍ موزه) د خُف اولی په مسح سَره وای تر اعلی د خف (تر پورتنی حصه) ولی چی تلی د خف څای د نجاست او خیرو دی. قَالَ الامام» که زه په رأیه حکم وکړم نو په بولو کی به می د غسل حکم کولای ولی چی بولې اتفاقاً امرداری دی. او په مَنی کی به می داود اسر حُکم

کولای ولی چی د مَنی په نجاست کی اختلاف دی. اوبل به ما نرته په میراث کی نیمه حصه ښځی د میراث ورکولای ولی چی ښځه عاجزه ده. قَالَ المُصنفُ»

وَيَنْقُضُ مَسْحَ الْخُفِّ أَرْبَعَةُ أَشْيَاءَ كُلُّ شَيْءٍ يَنْقُضُ الْوُضُوءَ

اوما توی مسح د موزی خلور شَیْ. اول هر شَیْ لکه بولې او غُسل وغیره چی اودس ما توی مسحه د موزی هم په ما تیږی. قَالَ المصنفُ.

٢ وَنَزْعُ خُفٍّ وَلَوْ بِخُرُوجِ أَكْثَرِ الْقَدَمِ إِلَى سَاقِ الْخُفِّ

او دوهم ما توونکی د مسح د موزی نزع د خف ده که څه هم په وَتوسره د اکثری پښی د موزی د پنډی وخواته وی. **فائده**: مصنفٌ لفظ د خف مفرد وولیږه او خُفین یه نه وویل د دی سَببه چی د یوی موزی چی پښه څنډی ووزی هم ناقض د دواړو پښو د مسح دی. ولی چی یوه موزه چی د پښی څخه وختله د هغی پښی پر یولو لازم سَوه. او هغه بله موزه بدهم کا بې او هغه پښه به هم منیځی ولی چی د مسح او غسل جمع نا روا ده» **مسئله**: که چیری یو سړی طهارت تام وکړی. او موزی یه په پښو کړی د مخه د اودس تَر ما تیدو یه موزی و کښی په دی سَره مَسح د موزو نه ما تیږی. ولی چی نفس نزع الخف خو حدث نه دی نو، طهارت خو پرڅای دی.

پوه سکه: چی نسبت د ما توالی و نزع الخف ته مجازدی. بلکه ما توونکی د مسح هغه حدث سابق دی چی موزی د پښو څخه منع کړی وُو» او س چی موزه وختل هغه حدث سابق و پښو ته سُرایت وکړی نو محکه یه غسل لازم سُو» م» وَإِنَّمَا قَالَ أَكْثَرُ» ولی چی اکثر له حکم د کل دی علی الصحیح» **پوه سه**: چی حضرت الامام محمد وائی چی که په موزه کښی دُونه قدر پښه پاته وه» چی مقدار د مسح یه پوره کاوه مَسح نه ما تیږی. او که نه وو پاته مسح ما ته سَوه» په کافی کی وَائی اکثر مشائخ د حنیفیانو پر دغه روایت دی. او په شرح کښی د علامه مسکین هم دغسی وائی. او بحر رائق د نصاب څخه نقل کړی دی.

چی هم دغه روایت د امام محمدؒ صحیح دی. او مصنفؒ مذهب شیخینوؒ مختار کړی دی او په مراقی کی والیٔ وَهُوَ الصَّحِیح وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِالصَّوَابِ» قَالَ الْمُصَنِّفُ»

۲ وَاِصَابَةُ الْمَاءِ اَکْثَرَ اِحْدَی الْقَدَمَیْنِ فِی الْخُفِّ عَلَی الصَّحِیْحِ

او ریم ما تو و نکی د مسح د موزی ر سیدل د اوبو دی و اکثر قدم ته په موزه کی پر صحیح روایت په دی مسئله کی هم اکثر لره حکم د کل دی. یعنی لکه یوه پښه چی ټوله لنده سی په موزه کی نو هغه بله موزه به هم کا بدی او پښه به مینځی. ولی چی مسح او غسل نه سره یوځای کیږی

فائده: علامه طحطاویؒ په صـ۱۰۶ کی والیٔ چی په دی مسئلی کی جوړ اختلاف دی نو ځکه په متونو د فقه شریفی دا اصابت الماء فی الخف د نواقض څخه نه دی ګڼلی. او منشأ د اختلاف دا ده» چی د یر فقهاء والیٔ چی مسح الخف د پاره د آسانی ده او غریمت چی غسل دی د خف سره سره مشروع دی. او د پی مذهب ته امام زیلعیؒ میل کړی دی. او ده دا خبره د عامة الکتب څخه نقل کړی ده» او برهان حلبیؒ د دی خبری پخلی کړی دی. او نوح افندیؒ هم دا خبره صحیح بللی ده. فی حواشی د درر. نو ځکه بناء علی هذه الروایة چی هغه یوه پښه په موزه کښی پریولی سوه لا ن للاکثر حکم الکل نو د هغه بلی موزی مسح ما ته سوه بناء علی ما مر چی غسل او مسح نه سره یوځای کیږی. او د غرمذهب چونکه په نیز د مصنفؒ صحیح وو نو ځکه یی علی الصحیح وویله»

او بعض فقهاءؒ والیٔ چی مسح د موزی رخصت اسقاط دی یعنی سره د موزی غسل د پښی ساقط دی. نو بناءً علی هذا الرای لنډیده که څوک هم د ټولی پښی وی اعتبار نه لری او نه دا غسل القدم دی. ولی چی پټ والی د پښی په مُوزه سره مانع دی د سرایت څخه د حدث و پښی ته با الاجماع نو پښه پر خپل طهارت سابقه پا ته ده. او که حدث پیدا سی هغه پر موزه محصور دی او هغه خو یا په مسح الخف سره زائلیږی. نو دا غسل معتبر نه دی. ولی چی د ی سره حدث د پښی څخه نه دی زائل سوی. ولی پښه خو پاکه وه. قال فی السراج وهو الاظهر والیه رجع یعنی مآل الکمال والیه المرجع والمآل»

۳ وَمُضِیُّ الْمُدَّةِ اِنْ لَمْ یَخِفْ ذَهَابَ رِجْلِهِ بِالْبَرْدِ وَبَعْدَ الثَّلَاثَةِ

او خامه ناقض المسح پوره والی دی د مُدی د مسح د مقیم یا مسافر که چیری دی نه بیریدی پر ذهاب د پښی د یخ له سببه. او وروسته تر

الْاَخِیْرَةِ غَسَلَ رِجْلَیْهِ فَقَطْ

دری اخیرو دی صرف پښی پریولی

مسئله: که دا مده پوره سوه او سړی په لمانځه کښی وو لمونځ یه باطل سو نو که او به نه وی تیمم دی وکړی لمونځ دی د سره وکړی. قَالَ الزَّیْلَعِیُّ: وَهُوَ الْاَشْبَهُ» او بعض فقهاء والیٔ چی لمونځ یه نه باطلیږی» قَالَ فِی السِّرَاجِ وَهُوَ الْاَصَحُّ. وجه یه دا ده چی که دی لمونځ قطع کړی او او به نه وی چی پښی په پریولی» نو تیمم به کوی. پښی خو په تیمم کی بر خه نلری» نو د لمانځه د قطع والی څه فائده:

وَفِیْهِ نَظَرٌ: ولی چی پردی تقدیر خو اتمام د لمانځه په طهارت ناقص لازمیږی. ولی چی پوره والی د مُدی د مسح خو حدث سابق و پښی ته ساری کوی که او به وی او که نه وی. او په نیز د عدم الماء لمونځ نه د ی روا مګر په تیمم سره. او په اجماع سره په طهارت ناقص لمونځ نه د ی روا. اود اچی مصنفؒ والیٔ: اِنْ لَمْ یَخِفْ آه. د دی عبارت څخه ظاهراً داسی معلومیږی که سړی پر ذهاب د پښو په سبب د یخ بیریدی. نو مسح الخف یه نه ده ماته» او داعنسی خبره نه ده. ولی چی په مضی او تیریدو د مُدی حلول د حدث و پښی ته کیږی که د یخ بیره وی او که نه وی. بلکه په صورت کی د بیری د یخ څخه موزی به کا بدی او پر پښو به مسحه کوی لکه پُرجبیره. د دی سوال دفع علامه طحطاویؒ په دی ډول کړیده. چی د غه عبارت د مصنفؒ اِنْ لَمْ یَخِفْ آه متعلق په محذوف سره دی نو تقدیر د عبارت داسی دی» فیجب علیه نزع خفیه وغسل رجلیه اِنْ لَمْ یَخَفْ ذهاب آه قوله وبعد الثلاثة آه معنایه داده چی پس له دغو دری اخیرو څخه یعنی چی نزع الخف وی» او لنډیده دا کثر قدم دی په مُوزه کی او تیریدل د مُدی د مسح دی موزی وکا بدی او پښی دی فقط پریولی. ولی چی نور طهارت خو پر ځای وی. او هم د دی سببه

مصنف تخصیص ددلوا خیرو وکړی. ولی چی اول صورت کښی خو اودس مات سولو تول اودس به کوی،

سوال: مصنف نواقض د مسح څلور و بلل او سره ددی چی مسح الخف په خرق کثیر سره هم ماتیږی چی پس له مسح څخه وجود ته راسی. او دغه رنګه پر معذور سړی چی وخت د لمانځه تیرسی هم په مسح الخف ماتیږی. **جواب**: خرق کثیر په حکم کی د نزع الخف داخل دی» او خروج وقت الصلوٰة للمعذور به انقضاء المدة کښی داخل دی والسوال للسید والجواب للطحطاوی. قال المصنف.

وَلَا يَجُوزُ الْمَسْحُ عَلَى عِمَامَةٍ وَقَلَنْسُوَةٍ وَبُرْقُعٍ وَقُفَّازَيْنِ

اودهغه رڼا مسحه پر لنګوټه اوپر خولی، اوپر بغره ډبنجی اوپر ستنکلو چی په لاسونو اغوندی دلیل د نهلودا دی چی مسح په حدیث مبارک سره خلاف القیاس ثابته ده. او قانون اصولی دی چی هرشی چی خلاف القیاس وی محصوردی پرځای د سماع. په مذکوره شیانو کی سماع نشته.

سوال: په صحیح حدیث کښی راغلی دی چی آنحضرت صلی الله علیه وسلم مسحه وکړه یو وخت پرعمامه باندی. **جواب**: شراح د حدیثونو وائی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم خو مسحه پرسر وکړه - ورو سته یه لنګوټه پرسر سمونله راوی د حدیث چی داولیدل خیال یه داسو چی ده مبارک مسحه پر لنګوټه وکړه - او هغه جواب چی طحطاوی درسراج څخه نقل کړی او مولوی اعزاز علی یه هم تائید کړی دی. هغه دا چی مسح پر لنګوټه هلته روا ده چی لندوالی د مسح یه سر ته تر لنګوټه ورو وزی او مقدار د ربع د سر لوندوی.

اود علیه السلام مسح پر لنګوټه هم دغه شان ټه وه. د راولیش وائی چی دا پیر لری جواب دی - ولی چی لنګوټه خو خوولو له پرسر پیچلی وی. نو تردی تولو څرنګه بلل (لوندوالی) دسی چی بیخی کم شی دی وسر ته ورسیدلای سی، او هغه خبره چی بعض کسانو کړی چی شاید پرسر د آنحضرت صلی الله علیه وسلم دی (رڼچینه) خولی نه وه او مقدار د ربع د سر دی خالی وو نو پرلږ ځای یه مسحه وکړه، غلطه خبره ده ولی چی په دی صورت کی خو مسحه پر

سر وله نه پر لنګوټه "واللہ اعلم" قال المصنف په بیان کی د جبیری و نحوه.

فصل

إِذَا افْتَصَدَ أَوْ جُرِحَ أَوْ كُسِرَ عُضْوُهُ فَشَدَّ بِخِرْقَةٍ أَوْ جَبِيرَةٍ

کی چیری رګ خلاص کړی اویا تپی سو پر یوه عضوه د اوداسر اویا مات سو یو اندام د سړی نو یه قیاره هغه اندام په یوه ټکره سره اویایه وتاړه په لګی کی چی په پښتو "سکنده ورته وائی او عموماً سکنده پر مات اندام تړل کیږی. "قال المصنف".

وَلَا يَسْتَطِيعُ غَسْلَ الْعُضْوِ وَلَا يَسْتَطِيعُ مَسْحَهُ وَجَبَ الْمَسْحُ

او طاقت یه نه وو چی پر یمنځی هغه اندام یعنی نه یه نیخوا و بوا ونه په تود و اوبو اووس د مسحه کولو یه هم نه وو یعنی پر خوډی تپ یا مات ځای نو واجبده مسحه پر جبیره وغیره.

عَلَى أَكْثَرِ مَا شَدَّ بِهِ الْعُضْوَ وَكَفَى الْمَسْحُ عَلَى مَا ظَهَرَ مِنْ

پر دیره حصه د هغه شی چی تپ یامات وغیره یه تړلی دی. او کافی ده مسحه پر هغه ځای چی بنکاره وی د بدن څخه د منفصد" یعنی په

الْجَسَدِ بَيْنَ عِصَابَةِ الْمُفْتَصِدِ

مابین کښی د پټی پری منځل نه غواړی

پوه سکه: چی د وجوب څخه دلته مراد وجوب شرعی دی چی ترفرضو کم دی نو چونکه مسح د جبیری په حدیث نبوی سره ثابته ده چی هغه خبر واحد او ظنی دی نو فرضیت نه په ثابتیږی" ولی چی اصول الفقه کی وائی چی د فرضیت د اثبات د پاره دلیل قطعی غواړی لکه قرآن کریم یا حدیث متواتر" نو بناءً علی هذا که سړی مسح د جبیری پرین دی لمونځ یه روادی

فائده: په بعض روایا تو کی راغلی دی چی مسح د جبیری به مکروه کوی مګر نه که جبیره پرسر وه هغه دی نه مکروه وی.

فائده: کی په سرکښی مقدار د ربع الرأس د پټی څخه خالی وو سړه مسح کړی د جبیری مسح نه غواړي. او په یوه روایت کی داسی هم راغلی دی چی مسح د جبیری مستحب ده او په بل روایت کی وائی چی مسح د جبیری فرض ده حتی کی دا مسح نه وکړه او د س یه دی پوره نولونځ نه دی په روا. اوحدیث مبارک په باب کی د مسحی د جبیری دا دی چی حضرت علی کرم الله وجهه دلاس بند مات سو په زخم دا حد یا خیبر. نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وده ته امر وکړی چی پر جبیره مسحه کوه.

سبحانه فائده

په کتابونو کی د فقه شریفی وائی چی وجوب د مسح د جبیری، مذهب دی د امام اعظم اوفرض والی مذهب دی د یارانو. زاړه ولیش وائی چی په حقیقت کښی په مابین کی د امام اعظم اوده د شاګردانو اختلاف نسته. ولی مراد د حضرت الامام دوجوب څخه وجوب شرعی دی یعنی چی په دلیل ظنی سره لکه خبر واحد ثابت وی. اومراد د شاګردانو د فرضیت څخه فرضیت عملی دی یعنی عمل پری لازم دی نه فرضیت اصطلاحی چی دلیل قطعی غواړی اومنکر یه کافر ګنړل کیږی. نوبناءً علیٰ هٰذه المحاکمة هغه چی په ایضاح کی وائی چی فتوی پر قول د یارانو ده احتیاطاً بیځایه خبره ده. ولی چی فتوی پر یو قول خو فرع د اختلاف د قولینو ده. وقد عرفت انه لا اختلاف بینهما فی الحقیقة.

فائده: مصنف او ویل علی اکثر ما شدّ آه دلیل یه دا دی که سړی تولهٔ پټی مسحه کوی احتمال لری چی پټه دی تاوان ورسیږی. وقد قال الله تعالیٰ: ما یرید الله لیجعل علیکم من حرج. وقال: یرید الله بکم الیسر ولا یرید بکم العسر. اوهم دغه قول د مصنف صحیح دی. وفی التتمة به یفتی. وفی الخلاصة وعلیه الفتوی والیه جنح صاحب الهدایة. لکن صاحب الکنز وائی چی تولهٔ جبیره او پټی به مسح کوی.

فائده: مصنف او ویل وکفی المسح آه داهم بناء پر اصح مذهب ده چی په ذخیرة او مختار الة النوازل کی وائی: دلیل یه دا دی که سړی هغه خلاص ځای چی په مابین کی د پټی د مینځی نوعین ممکنه ده چی پټی به لنده سی. او هغه لنده والی به وتاپ ته

د جبیری نو هغه به ضرر واخلی. وقیل. فرض دی چی هغه خالی ځای به مینځی ولی چی دا ځای خو پټی نه دی لاندی بلکه بسکاره دی. زاړه ولیش وائی چی په دی کی لوی حرج دی کا فی فی الاتقان مره دفعاً للحرج. اوبل دا چی غسل چی ساقط شو په سبب د عذر د ضرر نو مسحه به طریق اولی ساقط یږی.

مسئله: که چیری فرضاً مسح د جبیری هم ضرر رساوه نو مسحه دی هم پریږدی په س ر تپی وو او پټی کړی ئی وو. لا یجب المسح علیه، یعنی مسح د سر پر هغه واجب نه ده که څوک هم مسح د پټی وسر ته تاوان نه رسوی. ولی چی مسح ه بدل د غسل څخه ده» والمبدل منه ساقط دی فالبدل مثله آه. زاړه ولیش وائی چی د غه دلیل د صاحب متبنی فاسد دی» لما فی البحر چی صواب وجوب دی. د مسحی د پټی او په سر کښی مسح بدل ده د غسل نه ده بلکه مسح د سر اصل بنفسه ده» وامسحوا برؤسکم» ایته قرآنی دی.

محاکمه: که پر سړی پر یوله د سر فرض وه لکه په غسل کښی او سر یه تپی وو. او پټی یه پر لګولی وه. اومسح د پټی تاوان نه کاوه» سقط المسح» کما فی المبتغی» نو دلیل د هغه صحیح دی. اوکه فرض مسح وه لکه په اوداسر کی» لا یسقط المسح ویمسح علی العصابة لان المسح فی الغسل بدل وفی الوضوء اصل» وفیه نظر لا یخفی علی المتأمل.

یوه مسئله: چی چونکه په مابین کی د مسحی د جبیری او د مسح د موزی فرق ستاسو په ذهن وجهو. نو مصنف اوس غواړی چی د غه فرق ته بیان کړی نو وائی. قال المصنف

والمسح کالغسل فلا یتوقت بمدة

اول فرق دا دی چی مسح د جبیری لکه پر یوله دی نو په وقت معین پوری نه ده مربوطه بلکه تر وقت د جوریدو د تاپ یا مات والده قرب الوقت اوبعد» اوخلاف د مسح د موزی چی هغه وخت معین لری یا یو شبا نه روز یا د ۳ ورځی کامل. دا په دی عبارت کی د مصنف چی کا الغسل اشاره ده. ودی نه چی مسح د جبیری بدل د غسل څخه نه ده. ولهذا که یولاس د سړی مات وی اوبل لاس وی پرمات به مسحه کوی اوروغ به مینځی» بخلاف الخف (موزه) چی مسح الخف بدل دی

د غسل څخه نوځکه داسې نه ده، رڼا چې په یوه پښه په موزه وي پرهغې مسح وکړي اوهغه بله پښه چې موزه نلسته باندې هغه پریمنځي لمامّر، چې جمع په مابین کښې د مسح دموزې اود غسل د بلې پښې نارواده، اوددې دواړو مسئلو دلیل دادی چې مسحه د جبیرې اصل دی، نکه غسل او مسح دموزې بدل دی د غسلې څخه، قالَ المصنفؒ

وَلَا يُشْتَرَطُ شَدُّ الْجَبِيرَةِ عَلَى طُهْرٍ

اودوهم فرق دادی چې ترلاندې جبیرې په طهر سره مشروط نه دی برخلاف د مسحې دموزې چې هغه په پرېولو پورې د پښو مشروط دی کمامّر. قالَ

وَيَجُوزُ مَسْحُ جَبِيرَةِ إِحْدَى الرِّجْلَيْنِ مَعَ غَسْلِ الْأُخْرَى

اودریم فرق یې دادی چې روا ده مسحه د جبیرې دیوې پښې یعنې هغه چې پاتې وي سره د پرېولو دروغې پښې پرخلاف د مسح الخف کمامّر انفا، قالَ المصنفؒ،

وَلَا يَبْطُلُ الْمَسْحُ بِسُقُوطِهَا قَبْلَ الْبُرْءِ

اوخلورم فرق یې دادی چې مسح د جبیرې نه باطلیږي په سبب د سقوط د جبیرې یعنې چې خلاص سې یاشوه سې مګر د هغې ترجوړیدو د تپ یا د مات اندام، اوخلاف د دې ده مسحه د موزې که موزه وختله په قصد د سړي یا بې قصده محو یې باطله سوه. دلیل یې دادی چې د مسحې د جبیرې خو یې سبب عذر وه. هغه عذر اوس هم باقي دی مسئله: جنابت اوحدث په مسحه کې د جبیرې په دې حکم کې برابر دی، کذا فی م،

وَيَجُوزُ تَبْدِيلُهَا بِغَيْرِهَا وَلَا يَجِبُ إِعَادَةُ الْمَسْحِ عَلَيْهَا وَالْأَفْضَلُ إِعَادَتُهَا

اوپنځم فرق یې دادی چې جبیرې والا ته روا ده چې د هغې جبیرې په بله جبیره سره بدله کړي اوواجب نه ده پرده را ګرځول د مسحې پرنوې جبیره باندې. مګر افضل داده چې راوې ګرځوي، بخلاف الخف ولې موزه یې په بله موزه بدله کړه پرنوې موزه مسح واجبه ده مسئله: که تپ جوړ وو مګر جبیره پرپرته وه مسحه یې باطله ده،

ولې چې عذر د مابین ولاړې، کذا قال الکرابیسي، ط، قالَ المصنفؒ،

وَإِذَا رَمِدَ وَأُمِرَ أَنْ لَا يَغْسِلَ عَيْنَيْهِ أَوْ انْكَسَرَ ظُفْرُهُ

او هر کله چې ستر ګویې د مرض او بنکې بیولې. اوډې امر کړه سو. یعنې د طرفه څخه د طبیب حاذق چې مسلمان هم وو چې نه به مینځي ستر ګې یا ستر ګې، اویا مات سوې نوک دده،

وَجَعَلَ عَلَيْهِ دَوَاءً أَوْ عِلْكًا

او واچول سوه پرهغه مات نوک دوا، یا ژاولې دپاره د دفع د ضرر د اوبو

أَوْ جِلْدَةَ مِرَارَةٍ وَضَرَّهُ نَزْعُهُ جَازَ لَهُ الْمَسْحُ وَإِنْ ضَرَّهُ الْمَسْحُ تَرَكَهُ

اویا یې پر وغورلو ده پوستکې (ترنجې. یعنې د پسو وغیره د پاره د تداوي اویا بل پوستکې) اوده نه تاوان کاوه لیسته کول یې. روا ده وده نه مسحه پکول. اوکه مسحې هم تاوان کاوه پرې دې نه دې. لکن بایدپوه سې چې دا مسئله اتفاقي نه ده، بلکه په بنایه اوفتح القدیر اوبرهان کې ذکر کړیده اوامام حلبي وائي چې مسحه کول کافي نه دي بلکه اوبه دې پرې توي کړي، لِعَدَمِ الضَّرُورَةِ)

ولې د غوښیانو سره سره اوبه کښته نه شوه کیږي، په المنح کې وائي چې په عام کتب معتمدو کې حکم د غه دی اوپه دُرَر کې هم داغسې راغلی دي. ط، ص۱۰۹. قالَ المصنفؒ

وَلَا يُشْتَرَطُ النِّيَّةُ فِي مَسْحِ الْخُفِّ وَالْجَبِيرَةِ وَالرَّأْسِ

اوشرط نه دی نیت په مسح کې د موزې اوجبیرې اوسر، یوه مسئله: چې عدم اشتراط د نیت په مسح کښې د جبیرې اوسر متفق علیه دی. اوامام عتابي وائي چې په مسحه کښې د موزو نیت شرط دی. لکه په تیمم کې ولې چې دواړه بدل دی. لکن ظاهر المذهب مَاقَالَ المصنفؒ. ولې چې دا دری سره طهارته په اوبو دي. بخلاف التیمم

وَاللهُ أَعْلَمُ وَعِلْمُهُ أَتَمُّ وَأَحْكَمُ

بَابُ الحَيضِ وَ النِّفَاسِ وَ الاِستِحَاضَةِ

باب دی په بیان کی د حیض، نفاس، او مَرَض،

پیوه سه: چې مصنف تر اوسه ذکر د هغو احداثو وکړی چې د پرې پیښیدل. اوس هغه احداث بیانوی چې قلیل الوقوع دی، او حَیض چونکه تر نفاس او استحاضه ډیر وو او نفاس تر استحاضه ډیر ډیر دی نو ځکه په دغه ترتیب راوړه.

فائِدَه:

د نورالایضاح د پښتو کولو فائدی

چونکه زمونږ په افغانی جامعه کی هیڅ چا افغانانو ته پښتنو خصوصًا د کندهار علاقی د خلګو یعنی هغه عوامو نړاویا بَښځی چې په لیک لوست د پښتو ژبی بنه پوهیږی مراعات په نظر کی نه دی نیولی، یعنی چې ودوی ته په مورنۍ ژبه د عقایدو او د اعمالو فرایضو واجباتو وغیره، بیان وکړی. او نورو اقوامو لکه اردو والا، انګریزی والا وو، بلوڅانو فارسی زبانو خلګو وغیره د خپلو خپلو قومسو په مورنۍ ژبو دوی د پرې خدمت کړی دی چې فوق الذکر عوامو په اکثرو دینی مسئلو کښی د علماؤ د پښتنی ضرورت نه لری. خصوصًا بښځینی مسلمانانی چې نه په طلب کی د علم او پوهنی دکورو وتای سی. اونه ئی د مرد سره د دوی دونه علم وی. چې د دوی مشکل ورحل کړی. خصوصًا په مسائِلو کی د حیض نِفاس استحاضه، چې په ورته مسئلو کی که فرضًا بښځی دیوعالم کورته ورځی سی. اما د حیاء او شرم په لحاظ د هغه عالِم څخه پوره تفصیل نه سی غوښتای. نو بناءً علی هذا الاحتیاج الدینی چې نړو عوامو او بښځو کښی موجود وُو. ما فقیر عاصی **محمد عُبَیدُ اللّٰه قندهاری اتوبی** ته دا فکر پیدا سو چې د قوم د اعلی خدمت وکړمه. هغه وو چې اول ما نور ظلم پښتو کړی او هغه وو چې کتاب چاپ کړه سو

په جامعه افغانیه کښی نهایت حسن قبول ورکړی چې ځکه دی اوسه پوری خوواړه چاپ سو اوپه زړو نسخو خرڅی اوهر کُنج ته د افغانستان ورسیدی بلکه جرمنی، جاپان، امریکا، عربستان وغیره چیری چې افغانی مُسلمانان اوسیږی دا کتاب ورسیدی اود هری خواد اَحسَنتَ پیغامُونه را ورسیدَه،

نود نور ظلم د شرح رواج او قبول د عاصی همت بلند کړی. پس له هغه می د قدوری لوړه شرحه اوترجمه وکړه د خدای جَل جَلاله په توفیق سره، نوځکه چې د قدوری شرحه په مجرد چاپیدو سره د عالم قبول په ډګر کی لوی ځای پیدا کړی. حتی په پاکستان افغانستان، عربستان، امریکا، جرمنی، لندن وغیره یعنی هغه مملکتونه چې هغه کښی پښتانه مُسلمانان استوګنه لری ډیر لوړ مقام یه وموندی. او تر اوسه پوری تخمینًا لس زره نسخی د چاپه څخه راوتلی دی او قلمی شفاهی، ډیرښه، ډیرښه، خبری فقیر ته رسیدلی،

د دی شرحی قبول نوره همت افزائی د عاصی وکړه. نود عاصی قصد او عزیمت وه شرحی ته د فقه اکبر پرواز وکړی. چې په هغه کښی د فقه اکبر شرحی علاوه د سراج الامت الحمد به حضرت امام الائمة ابوحنیفه رحمه الله تعالی. سَواغ عمری اوده لوړ مقام په اجتهادکی اوده د زهد او تقوی وغیره لویه تاریخچه په صحیح اسنادو سره درج کړه سوه درب جَل سُلطانه په توفیق وپای ته د تکمیل ورسیده او چاپ سوه. اوورته مقام یه تر لاسر کړی. پس له هغه، د مرزا غالب دفن مودی سره سم،

همت بلند دار که نزد خُدا و خلق ؛ باشد به قدر همت تو اعتبار تو:: د شروط الصلوٰة شرحه مې شروع کړه چې هغه په لږ مُوده کښی پای ته ورسیدل او چاپ سوه. هغه شرح هم مقبوله عند العوام والخواص والرجال والنساء وګرځیده له. ورو سته ترهغه په غوښتنه **د وقاری محمد فضل الحق حقانی**، ادام الله همته العُلیا او د بعض نورو دوستانو د عاصی قصد او اراده وشرحی اوترجمی ته د نورالایضاح ومختصر چونکه دا کتاب په فقه شریفه کی سره د اختصار لوړ او د اعتماد وړ مقام درلودی.

نوعاصی بیله لَبَّیْکَ بل چاره نه درلوده نود هغی په شرح ع وکړه چی دا اوس تر لاس لاندی ده، اودی شرح هجم به ترتولو سابقه شرحو بالاوی، اِنْ شَاءَ اللّٰهُ.
اَللّٰهُمَّ وَفِّقْنِی لِاِتْمَامِ هٰذَا الشَّرْحِ بِالْخَیْرِ وَالْعَافِیَةِ وَارْزُقْنِی الصِّحَّةَ وَالسَّلَامَةَ وَالْعَافِیَةَ فِی اَعْضَائِی الرَّئِیسَةِ وَالْمَرْوُسَةِ لِاَتْمِّ هٰذَا الشَّرْحَ اِیْضَاوَمَا ذٰلِکَ عَلَی اللّٰهِ بِعَزِیزٍ.

د بعض حاسدانو څخه شکایت

چشم بد اندیش کز بر کنده باد
عیب نماید هنرش در نظر.

دوی وائی چی پښتو کتابونه د اعتبار ورنه دی. زه حیران یم د دوی ودغی ویناتر. پښتو کتاب چی د عربی معتمد و کتابونو څخه اختسال سوی وی نو به ولې د اعتبار ورنه وی، لکن په عربی کی متل دی، «کُلُّ اِنْسَانٍ عَدُوٌّ لِمَا یَجْهَلُهُ» هر انسان دښمن دی د هغه شی چی دی نه په پوهیږی. نو ته چی ای حاسده پر ترجمه د عربی کتاب په فصیح روښانه ژبه چی د عربی ټوله مضمون دی په کښی ړاولې قدرت نه لری خپل عجز و منه. د بل صحیح شرحی او ترجمی ولی بدوائی بلکه که ته انصاف ولرې هغه مترجم ته به تاکور دانی ویلای. او حاسده په دی پوه سه چی یو عربی کتاب و پښتو ته په صحیح ډول کوم آسان کار نه دی. بلکه د توفیق الهی سره سره دیر عرق ریزی غواړی. او په د ریاب کی فکر او غور غوټی وهل غواړی. سه نه هر که سر بتراشد قلندری داند. وگفته اند. انجیر خوردن نه کاری هر مرغی است.
او بعض حاسدان چی سه د حسده د انصاف یوه شائبه په کښی وی نود عاصی په باره کښی وائی چی مولوی صرف د کتابونو څخه ناقل دی. نو خلک په ولی تحسین وائی زه وایم قدوره د دین نبوی مبنی پر نقل ده. د خدای ﷻ څخه وحی جبرئیل ته د حضرت جبرئیل څخه د آنحضرت ﷺ ته د هغه څخه اصحابو رضی الله عنهم ثم و ثم الی یومنا هذا. او بل د اخبره ده چی حاسده ته ټوله کتابونه د تفاسیرو او د احادیثو او د فقه لږ مطالعه کړه بلکه عقلی کتابونه هم وگوره چی څرنگه بارونه بارونه نقلونه په کښی. بعضی ځایونه وائی: قِیْلَ، اوگاهی وائی. قَالُوا. اوگاهی وائی: کذا فی الکتاب الفلانی. اوگاهی نسبت کول هم پرې دی چی د ده خپل معلومات ورته وهغه کتاب ته وی.

نوکرانه ته لږ مهربانی وکړه د نقل د علماوو څخه یاد کتابونو څخه ټوخه ناخه بدی بیان کړه. او بعض حاسدان چی د حسد په د ریاب کی د وب وی هغه وائی چی عُبَیْدَ اللّٰه سارق دی. جناب ته چی نقل ته سرقه وائی تر دې دراند بار دگناه لاندې سوی. ولی چی تاو اوریده چی اساس د دین محمدی ﷺ پر نقل دی یا قولا یا کتابةً.
پوښتنه: ستاسره ولې بعضی ملایان حسد کوی او په غټو او کشنیو د بړو دی ولې اود غیبت بلکه د بهتان په غشو دی بنکار وی.
جواب اول. میوه دار درخت په د بړو وینستل کیږی. تا یوغوک لیدلی دی چی د نا ځود درخت دی په د بړو ولې. **دوهم**: دلته په مابین کښی د بعضی علماوو تعصبات ستره. تعصب علمی، تعصب قومی، تعصب وطنی، او تر ټولو بدترین تعصب تعصب مذهبی دی. زه چونکه سُنی بحت یم او حنفی خالص یم، نو وهابیان په نامه د موحدین، پنج پیریان، سلفیان، «وَمَنْ سَلَکَ مَسْلَکَهُمْ» زما سره هر قسم تعصب کوی او هر قسم د رواغ او بهتان را باندی وائی.
سوال. ستاد دوی په دغو بُهتانو، غیبتو، بدولیو، خوابدیږی. **جواب** چی د نفس ترمقتضی تیر سم د شریعت د نکته نگاه څخه می خوابدیده لاخو کوی په خوشحاله کیږم.
حکایت: یو عالم د حضرة الامام الحسن البصری غیبت کړی وو. او د هغه غیبت د حسن بصری ته ورسیدی. نو ده مبارک ورځ یوه اندا د یږی بنی خرما وی برابری کړی او دیوچا په لاس یه هغه عالم ته ورواستولې. او خط یه داسی نوشته کړی. من جانب الحسن الی الاخ العزیز فلان. اَلسَّلَامُ عَلَیْکُمْ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَکَاتُهُ. اما بعد. تاسو د یږه مهربانی وکړه چی خپلی حسناتی موحسن ته را استولې. مگر حسن یو حقیره هدیه د تمرا تو د رواستولو کی قبوله کړی د یږه مهربانی به ستاسو سی. نو اوس عاصی هم په دی طمع دی چی خپلی نیکی خو د ونه فسته او د نیکیو په باب کی نهایت فقیر یم. نو شاید چی به حسنا تو د حاسدانو غیبت کوونکو بهتان و یونکو به غنی او سرمایه دار وگرځم. او که هر څو د وی هر څه وائی زه د هغه وظیفی څخه چی ما پرغاړه اخستی ده د یږی زمانی څخه

یعنی پرکتابو حاشیې، اودکتابو پښتو کولو، عَقب نشینی وَنه کړم، رِجَاءً لِلثواب، مِن رَبّ الارباب وطمعًا مِنَ الاجابِ الدعاء فی حق العاصی فی جناب العق جَلّ جلاله بالتوفیق لکل خیر والختام علی دین الاسلام. داوی جمل معترضه اوس بیرته په خپل مقصد شروع کوم:

اعتذار لدفع الاعتراض

پوه سه: چې په ټوله فقه شریفه کښې چې په عربي ژبه وې. بلکه په ټولو احادیثو مبارکه وو کښې. اوبه ټوله امکنو وکې که مسجد وی اوکه مَدرسه حتی په مسجد نبوی اوبه مسجد حرام کښې، دَغه لاندی الفاظ چې عربي دی بیله کنایه ذکر سوی دې او ذکر کیږی یعنی **دُبر** چې پښتو لفظ یه کُنه دی. **ذَکَر** چې پښتو لفظ یه غښې دی. **فَرج** چې پښتو لفظ یه کُس دی. **حَشَفَه**: چې پښتو لفظ یه دغښې سر د سُنتی ترځای پورې **خُتَنَتین** چې پښتو لفظ یه خُصې دی. **رَحِم** چې پښتو لفظ یه دغیال دقرار کښونې. **اِنزال** چې پښتو لفظ یه اودس اوښتل دې. **قُبُله** چې پښتو لفظ یه بچه اختل دی. **فَرجَین**: چې پښتو لفظ یه غښې اوکس دی. وهکذا نور وَرته الفاظ هم ستر.

چونکه دَ رویش دَعربي کتاب په پښتو ژبه ترجمه کول پرغاړه اخستی دَه، نوزه چاره نه لرم چې دَدَغو الفاظو یه پښتو ترجمه کوم، بعض ناپوهان وائی چې داسی پښتو الفاظ استعمالول بې ادبی ده اوشرم دی. **داد تعجب خبره ده**: چې په عربي ژبه وعربو ته ذکر د فرج، دبر وغیره مثلاً بې ادبی اوشرم نه وُو. اوغښې اوکس اوکُنه مثلاً وپښتنو ته ذکر کول بې ادبی اوشرم دی، دوی دغه ځایونه اواندامونه په کنایه ذکر کوی مثلاً د ذکر په بارہ کی وائی، دَنر بَلاگی، اود فرج په بارہ کی وائی دَښځی دمخ دخوا بلاگی. اودُبر په بارہ کی وائی دنر اوښځی دشا بَلاگی. اود خَتَنین په بارہ کی وائی تر بَلاگی لاندی مړکی وهکذا. نوزه وایم چې آنحضرت صَلَّی اللهُ عَلَیه وَسَلم ورته کنایاتی عربیه وَلی نه استعمالوی. اویا فقهاءٌ په فراخه میدان کی دخپلو کتابو د صریح دَدغو الفاظو کښې کنایات

عربیه نه لتهولی، قَالَ المُصَنِّفُ.

يَخرُجُ مِنَ الفَرجِ حَيضٌ وَنِفَاسٌ وَاِستِحَاضَةٌ

راوزی دکښه څخه دَښځی درې قسمه وینه. یعنی حیض او نفاس او مرض وینه.

پوه سه: چې نسبت دحیض او نفاس وفرج ته کول په دی سبب دی چې دَغه دوه قسمه وینه پرفرج راتیرې ی. ورنه اصلی ځای یه رحم دَښځی دی او استحاضه کما سیائی، دیوه رګ وینه دَه چې منفجر سوی وې.

مَنشَأُ حَيضٍ

په احادیثو کښې ړاغلی دې چې څه وخت چې په جنت کی حواءٌ دغنم شنه درخته مانه کړه دپاره دخوړلو. پس له هغه چې دوی ځندی منع وَه. خدای پاک ورته وَوَیله، «لَاَدمَینَّكَ کَمَا اَدمَیتَهَا» حتما به زه تا په وینو مبتلا کړم لکه تاچې درخته دغنم پری کړه. او اوبه ځندی تُوی کړې نوکله چې حواءٌ مخکی ته ړاغله حیض وَرَغی اوداحیض په لونړو کی دَدی جاری پاتر سوالی یَومِ القِیامَة.

پوه سه: چې مصنف په مَراقی کی وَائی چې دحَیض دیرمشکل احکام دی.

حَيضُ دلویو مهمانو څخه دَرین دَی

ولی چې ویړ احکام په حیض پورې مربوط دی لکه، طلاق، او اعتاق، او، استبراء، او، نَسَب اوروا والی دَوَطو، اولمونځ او روژه اوقرائت دقرآن یا مسه کول دقرآن. او اعتکاف اودخول ومسجدته طواف دحج اوبلوغ دښځی چې دا ټوله په خپلو ځایونو کی راسی، اِن شَاءَ اللهُ تَعَالَی، قَالَ المُصَنِّفُ

فَالحَيضُ دَمٌ يَنفُضُهُ رَحِمُ امرَاَةٍ بَالِغَةٍ

پس حیض هغه وینه ده چې په زور سره یه ړا باسی. رحم هغه ځای چې په هغه کی نطفه قرار وَنسی وَلَد ځندی پیدا کیږی. دبلوغ اندازه دسن نهلاری ۹ کاله ده پرمفتی به مذهب. اوبعض عُلماء وائی چې دنیمو کلو نخه تر ۹ کلو پورې.

لَا دَاءَ لَهَا وَلَا حَبَلَ

چې درد نه وې په سبب دهغه اونه حمل وې. ولی چې عادت الهی په دې سره جاری دی چې خوله

درحم په سبب دحمل بند وی. چې هیڅ وینه نه ځندی راوزی ترهغوچې ولد یا اکثر هغه
راوزي. **سوال** بعض ښځو ته سره دحمل وینه پیدا سي. **جواب** هغه درحم
خولې لږ خلاص سوی وی. نوکه په دواء وغیره بنده نه سی ولد په نقصان کړي. **ویحتمل**
او احتمال لري چې دغه وینه دی دیوه رګ څخه راوزي. **قال المصنف**

ولم تبلغ سن الایاس اوښځه هم نه وی رسیدلې وعمرته دنا امیدی ویلے
څخه چې هغه سن پرمفتی به مذهب ۵۵ کالدی

پوه سه: چې مصنف د رحم په قید هغه وینې وایستلی چې یا تر لسو یا تر نبل تهپ
بهیږي. او اغه رنګه وینه داستحاضه خارج کړه. ولی چې هغه وینه درحم نه ده بلکه دیو
رګ وینه ده. اوپه قید د «لاداء» وینه د نفاس. ولی چې نفساء ښځه په حکم کی د مریضې
ده او درد ورسره ملګری وی. اوپه قید د «بالغه» هغه وینه وایستله چې تر ۹ کاله
د ښځه نه نجلی ووینی. مولوی اعزاز علی سوال کړي دی چې دکشنی نجلی وینه درحم
نه ده بلکه استحاضه دی. نو داوینه خوپه قید درحم ووتله. نوحاجت وقید ته د بالغه
نسته. **زرولش والئ:** چې چونکه غالب استعمال د مستحاضه په بالغه ښځه کی کیدی.
اودغه رنګه عرف دادی چې د ځنی نابالغ نجلی وینه درحم څخه ګڼي. اوپوه سرچې مراد
د «لاداء بها» څخه دادی چې داسې درد نه وی چې وتل دوینې ځندی پیښ سی اګرچه د
بله سببه درد اومرض ورسره وی. نوکه ښځه دیوه بل سببه درد منه اوناجوړه وه.
اووینه ورته پیدا سوه هغه حیض دی. قاله المصنف فی المراقی. فلاید ما اوهم. قال المصنف

اقل الحیض ثلاثة ایام واوسطه خمسة واکثره عشرة

کمه مده د حیض درې ورځې دی یعنی سره د شپو اومیانه مودې د حیض پنځه ورځې دی، او
لوړه مودې په لسو ورځې ده، یعنی په نیزد حنیفیانو، امام طحطاوی والئ چې د حیض په
وینو کښې همیشه والی نه غواړي یعنی چې ۳ ورځې یا ۵ ورځې یا ۱۰ ورځې به پرله پسې
به بهیږي. ولې دا نهایت نادره پیښیږي. بلکه هره ورځ څه ناڅه وینه لیدل کیږي.

بللې که په اول کی د دغو درو مدو او په اخیر کښې وینه وي په مابین کی څه هم پاکی وی
ټوله ورځې حیض ګڼل کیږي. **قال المصنف**

والنفاس هو الدم الخارج عقب الولادة او نفاس هغه
راووزی یعنی د فرج د خوا څخه وروسته تر ولادت. یعنی دکشنی پیدا کیدو وروسته
مسئله: کی کشنی د جراحی په ذریعه د نود خواخوږ راوایستی. او ترکس د دغې ښځې
وینه نه راوتله بلکه تر تهپ د جراحی څخه بهیده له دا ښځه شرعًا نفساء نده بلکه پاکه
او معذوره ده چې هر لمانځه ته به اودس تازه کوی. کذا قال الشبلی النعمانی. لکن په اوسنۍ
زمانه کی د ولادت د پاره جراحی دکس د خواکیږي نو وینه وروسته راوزی نو نفساء ده.

واکثره اربعون یومًا ولا حد لاقله او اکثره مده د نفاس څلویښت ورځې
د نفاس **مسئله:** چې اکثر حصه د ولد راووزی که څه هم مړ راووزی چې بعض اندامونه
په معلومیږي نو وروسته ترهغه نفاس دی. **مسئله:** په وضع د ولد سره میږه مړوو دستی په عده تیره سوه. **مسئله** که ښځه میږه وه په وضع د
ولد سره الولد گرځي. **مسئله:** که ښځې ته خپل میږه طلاق معلق په لنګیدو ورکړي
وو. هغه سړي حائت یعنی ښځه پر طلاقه سوه. **مسئله:** که اکثر دکشنی ژوندی
نه راووت د جنازې لمونځ نه غواړي او نه غسل اونه شرعی کفن بلکه په یوه تکړه کښې
دی وپیچي ښخ دی کړي.

مسئله: که ښځې وروسته تر ولادت هیڅ وینه ونه لیده نفساء نه ده. په صحیح
روایت د حضرت الامام څخه. لکن په نیزد حضرت الامام دی غسل احتیاطًا وکړي. او
یاران والئ چې بیله اودس پرې غسل ښځه بل شئ نسته. **پوه سه:** چې په حدیث نبوی
کی داسې راغلی دی، انه «وقت للنفساء اربعین یومًا الا ان تری الطهر قبل
ذالک» آنحضرت صلی الله علیه وسلم معینه کړی دی نفساء ښځې ته څلویښت ورځې

مگر هغه وخت څلویښت وړځی نه دی که دې وَلیدی د مخ ترڅلویښتو وړځو پاکی

تنبیه: بعضی ناپوه ښځی خواه مخواه څلویښت وړځی نه لمونځ کوی اوله روژه نسی. که څه هم وینه نه وی ترشپاڼ روز بالا. داد دوی جهالت او غلطیاده.

وَالْاِسْتِحَاضَةُ دَمٌ نَقَصَ عَنْ ثَلَاثَةِ اَيَّامٍ اَوْزَادَ عَلٰى عَشَرَةٍ

او استحاضه هغه وینه ده چی کمه وی ترډری وړځی یعنی چی اقله مُده د حیض ده، اویازیات

فِی الْحَیْضِ وَعَلٰی اَرْبَعِیْنَ فِی النِّفَاسِ

وی ترلسل وړځی یعنی چی اکثره مُده د حیض ده. دادواړی مُدې په حیض کی. اویازیات سی ترڅلویښت وړځی په نفاس کی یعنی چی اکثره مده د نفاس ده» د نفاس اقله مده یَه نه کړه ذکر ولی عنقریب تیره سوه چی د نفاس اقله مُده حد نه لري. قَالَ الْمُصَنِّفُ.

وَاَقَلُّ الطُّهْرِ الْفَاصِلِ بَیْنَ الْحَیْضَتَیْنِ خَمْسَةَ عَشَرَ یَوْمًا

اوکمه مُده د طهر چې فاصل وی په مابین کی د دوو حیضو پنځلس وړځې دی. په حدیث شریف کی چی مصنف په مَراقی کی روایت کړی دی داسی راغلی دی» اقل الحیض ثلاثة واکثره عشرة واقل مابین الحیضتین خمسة عشر یومًا. قَالَ الْمُصَنِّفُ.

وَلَا حَدَّ لِاَکْثَرِهٖ اِلَّا مَنْ بَلَغَتْ مُسْتَحَاضَةً

اوهیڅ الله نسته اقلی مدی لره د طهر فاصل بین الحیضتین»، مگر هغی ښځی لره چی بلوغ ته په رسیدو سره مستحاضه وی. نو د دغی ښځی حیض لنش وړځی مقدرین دی. او طهر یه پنځلس وړځی او نفاس یه څلویښت وړځی. یعنی هر یوه ته اکثره مُده ایښوول کیږی.

فائده: اکثره د طهر فاصل چی مُده یه نه ده تاکل سوی د دی سببه چی د اطهر یمزاج او ترکیب پوری اړه لري، د بعض ښځو طهر فاصل شپږ میاشتی وی او د بعضو

داکمال وی. وهکذا. **مسئله:** کړیوی ښځی لره عادت وو په حیض کی مثلاً ۷ اوو ورځی. او اوس د دی وینه د عادت ترشپږو تیره سوه. نو دا بلمونځ نه کوی او روژه یه نه نیسی کی وینه پرلسل وړځی قطع سوه خو دا تولی وړځی د دی حیض دی. یعنی عادت یه بدل سو اوکه وینه یه ترلسو وړځو تیره سوه. نو دغه ښځه دې وخپل عادت تیره سی. یعنی ۷ وړځی اوبا قی وړځی یه استحاض دی نو دهغو لمونځو اوروژو به قضاء ورکړی او هم د دی قسمه څخه دی نفاس یعنی یوه ښځه وه چی په نفاس کی عادت درلود ی مثلاً ۲۰ ورځی او دا پلا ترشل وړځی یه وینی تیری سوی. نو دا دې انتظار وکړی که پرڅلویښت وړځی یه وینه ودریدله.

تولو څلویښت وړځی به نفاس دې. یعنی عادت یه بدل سو. اوکه ترڅلویښت وړځی هم وینه تیره سوه نو دا ښځه دی عادت ته ورسی. یعنی نفاس د دی هغه څوانی ۲۰ وړځی دی اوباقی وړځی تولو استحاضه دی. **مسئله:** بعض فقهاء وائی چی دغه ښځه چی وینه یه تر عادت تیره سی لمونځ دی کوی اوروژه دی نسی. ولی چی احتمال د دی سته چی د دغی ښځی وینه به تر اکثره مُدی تیره سی نو خو دغه وړځی د استحاضه ده یعنی هغه زائد تر عادت وړځی، اوپر مستحاضه خو لمونځ اوروژه سته لکن هر لمانځه ته به اودس تازه کوی.

او بعض فقهاء وائی چی لمونځ دی نه کوی اوروژه دی نه نسی. ولی اصل په انسان کښی صحت دی او وینه د حیض راده صحت ده او وینه د استحاضه دلیل دنا جوړی ده. نو مونږ داسی حکم کوو. چی دغه زائد وړځی وینه وینه د حیض ده. او عادت یه بدل سو. ترهغو چی یقین کیږی چی دغه زائد وړځی استحاضه وه، یعنی چی ترلس په حیض کښی تیری سی یا ترڅلویښتو وړځو په نفاس کی»، والصحیح هذا المذهب کما قلنا سابقًا، راجع الی کتب الفتاوی» قَالَ الْمُصَنِّفُ.

وَیَحْرُمُ بِالْحَیْضِ وَالنِّفَاسِ ثَمَانِیَةُ اَشْیَاءَ

اوحرام کړی ښځی په حیض او نفاس

اَلصَّلٰوةُ وَالصَّوْمُ وَقِرَاءَةُ الْقُرْاٰنِ

ولی چې شرط د صحت دَدغو دوو عبادتونو پاکی د حیض اونفاس څخه ده۔ اوبل حرام دی تلاوت دَپورته ایت دقرآن اودغه رنګه حرام دی تلاوت دَتورود تهولوکتابونو چې دخدای دخوا څخه نازل سوی دی لکه توراة وغیره "لان الکل کلام الله" اودغه رنګه منسوخ الحکم ایتونه دقرآن به هم وائی۔ قال الفقهاء ومنهم المصنف "الا بقصد الذکر" مګر هغه ایتونه ویلای سی چې په هغوکښی دُعا یا حمد یا شکر وی په قصد د دعا اوذکر.

لکه حائضه چې د دودی وخوری اویا بُه جنبی اووائی "الحمد لله رب العلمین" په قصد د حمد نه د تلاوت القرآن۔ یا وَوائی، وَاغفر لوالدی وَارحمهما کما ربیانی صغیرا" په نیت دَدُعا اوداهم اصح دروایا تودی۔ د امام اعظم څخه "وخالف الامام الهندوانی رح" و قال لا افتی بجوازه۔ لکن چونکه قول دَدغه فقیه دامام المذهب څخه مخالف دی نو اعتبار نه لری۔ قال المصنف فی المراقی چې دکم تر ایت تلاوت دحائض ونفساء ته روادی او که نه۔ بعض فقهاء وائی روادی۔ ولکن منع یه مختاره د محققین د فقهاؤ دَه، فالتعویل علیه

وَمَسُّهَا الْاَبْغِلَافٍ

اودغه رنګه حرام دَی مسه کول دیوه ایت یعنی د تهوله قرآن داپه طریق اولی نا روادی۔ مګر نه که چیری سره د پټوو

فائده: مراد د پوښنه څخه هغه پوښ دی چې د قرآن شریف څخه جلا وی۔

فائده: که سَری د قرآن شریف پر سُوځیدلو یا په اوبو کښی د غرقیدو بیریدی بیا یه مسه بی خلاف هم روا ده

مسئله: که د قرآن شریف صرف ترجمه وَه په فارسی یا په بله ژبه اُیتونه د قرآن شریف نه وو پکښی هم مسه یه نا روا ده۔

مسائل شتی

روادی د حائضه اونفساء بنځی ته سبو وَنه د قرآن وبل ته لکن لکن یوه یوه کلمه۔ نه په قصد د تلاوة بلکه په قصد د تعلیم" کما فی الخلاصة والبزازیة علی قول الکرخی" ط" روادی وَیل د قرآن یو یو حرف چې په پټنو یه ازګی بُولی۔

مسئله: ایت د قرآن به حائض او نفساء نه مسه کوی که پرديوالله نوشته وی که بر کاغذ اوپر تکره وغیره لقوله تعالی، لَا یَمَسُّهٗ اِلَّا الْمُطَهَّرُوْنَ د **مسئله**: مکروه خریدی دی مسه کول د قرآن شریف په لس تونې یا په لمن، ولی داتبع دی د لاس د پوښ حکم نه لری" **مسئله**: که قرآن شریف په خریطه یعنی کڅوړه کی وو مسه کول یه روادی به روایت د صاحب المذهب **پوښته**: چې په اختلو کی د قرآن شریف په لستونې سره اختلاف دی، هغه چې مونږ وَویله چې مکروه دی مذهب د مصنف اود صاحب هدایه دی، اوپه جامع تمرتاشی کی وائی چې مسه کول په لوستنې مکروه نه دی ولی چې مسر خو په مباشرت دَلاس بیله حائله وی دلته خو لوستونې حائل دی۔ اونهایه وَالاولیٰ چې دادواړه روایته دی دامام محمد څخه راغلی دی، د روانیش وائی چې احتیاط په اول کی دَی۔

مسئله: رخصت دی اهل لره د کتب شرعیه وو لکه، هدایه، رد محتار، بخاری، و غیره چې په لوستونې وَنسی بلکه په خالی لاس هم۔ ولی چې ضرورت دی حُکمه چې مطالعه کوونکی د کتب مذکوره وو که طالبان وی او که مُلایان وی هر گرځی اودس تازه کولو کښی حَرج دی چې مطالعه دیر وخت په بَر کی نسی۔ وهو الاصح عند الامام الاعظم رح

مسئله: په کتابونو کی د تفاسیرو د قرآن لکه جلالین، بیضاوی۔ تفسیر کبیر وغیره کی اختلاف دی۔ په اشباه والنظائر کی وَائی چې مسه کول یه بی اودسه سره ته روادی۔ لکن صحیح داده که د قرآن الفاظ تر تفسیر دیر وَه مسه کول یه بی اودسه سره نه مکروه دی اوکه تفسیر یه دیر وو لکه بیضاوی، روح البیان وغیره، نو یه مسه و محدث ته روانه۔ اوکه مساوی وَه دهغه مسه کول هم مکروه دی۔ اومصنف په مَراقی کی وَائی چې د کتابونو تفاسیرو د پاره مطلقًا اودس واجب دَی۔ **مسئله**: مستحب دَاده چې شرعی کتابونه دی هم په بی اودسیا نه را اخلی۔ نوښه دَاده چې مطالعه کوونکی د کتب شرعیه وو د هر کتاب د پاره یو د سمال وَلری **مسئله**: که بی اودسه سره وظیفه د قرآن شریف کوله لکن وَرَقی یه په قلم اوبل داسی شی اړه ولی پروا نه لری۔

مسئله: نابالغه کشنی ته اجازه ده چې په بې اوده سیا سره قران مسه کې اوزده کړې کوی. ولې چې کشنی هرګړی پسکی اچوی. اودهری پسکی سره په اوداسه امر کول حرج اومانع دتعلم القران دی.

مسئله: زنانه ده پیچل دشئ لکه چاپۍ، بوره، دوا، وغیره په هغه کاغذ کې چې هغه دفقه دکتاب وی اویا نوم دخدای جل جلاله اویا دنبی علیه السلام پکښې نوشته وی.

تفریع: په عصرحاضر کې داخبارو معامله دیره لویه مسئله اودیره مشکله ده، ولې چې اکثرو اخبارو کښې آیت دقران مبارک یاحدیث نبوی صلی الله علیه وسلم په کښې نوشتوی اوخلګ دغه اخبارونه پس له مطالعې څخه پرقصابانو یا د پرچون پردوکانداروته خرڅوی اویا په مفت ورکوی. اوقصاب یا پرچون دکاندار په هغه اخبارونو کې غوښې ورکوی اویا چائی اوبورې وغیره پکښې پیچی. داخو اول ناجائز کار دی. اود غوښو راښوونکی یا د چایو اوبورې وغیره چې هغه شیان کورته یوسی. نوښیان ځندی خوندی کړی. اواخبار وغورځوی. اخر الامر دغه اخبارونه دنورو مردارو یوسره یوځای دلاس په گاډی کی واچوی. اوپه هغه ځای کی گاډی چپه کړی چې توله مردار شیان ترغولو، خوشیو، وغیره پورې هلته جمع کیږی. اوبیا یه حکومتی موټران توله گډوډ کړي اود مردارو یوپه لوی مرکز کښې غورځوی. داکار تراول پیر پیرنا روا کار دی.

دمسلمانونو صبا عجبه دلاوری: خصوصًا هغه کسان چې، رومیان، انګورو سیبو وغیره دباغو اوکښتو څخه په کریټو کښې بنارونه راوړی، هغه خلګ دبنار څخه په منو منو اخبارونه اونور داسی کاغذونه چې لیکونه پرې باندی وی، اګر که سه پاڑه ورقی وی راپه نښه. اوباغو اوکښتو تی یوسی اوهوری دکریټو و شپږو طرفونه دغه اخبارونه وقایه انګورو وغیره وغورځوی. نوهغه کریټونه بازارته راوړی دکانداران هغه ځندی رانښی. څه وخت چې دکاندار کریټ خلاص کړی انګور وغیره ځندی راوباسی اخبارونه اوکاغذونه پرې وسوځوی. پرهغو باندی خلک لوی اوکشنی گرځی اوتر پښو یه لاندی کوی، اخر الامر دکاندار یه دکاندار دڅخه څخه جارو کړي. دروڼ اوسړک مابین ته. چې بوده انسان

پاتی دی څوو پرتیرین ی. اوکه څوم اینونه دقران مبارک اوکه حدیث درسول الله صلی الله علیه وسلم اوکه نومان دخدای جل جلاله وغیره وغیره تر پښو لاندی پایمالۍ کوی.

آیا انصاف تاسی وکړی: چې دده غه اهانت سپکاوی گناه کبیره به دچاپ غاړه وی راوړونکی رایه داده چې په دی گناه کی اخبار والا، اخبارات خرڅوونکی، اوکریټو والا. اودوکاندارانو اوهغه کسان چې په دغو اخبارو کی دکوره دپاره شیان وړی توله اوتوله په کښې شریکان دی.

تردی عجبه داده، چې خطیبان، واعظان، په مسجدو کښې ولی داخبره دعوام وپه څخه کښې په وار وار نه کوی اول خو به شاید دا آفت یوڅه کم سی. اوکه هغه کم نسی د ملایانو غاړې خو به خلاصی سی، لکن ملایان لیدلې دی چې د قصابه څخه غوښې، یا د پرچون فروشه څخه بل شی دانسی په دغو اخبارو کی پیچلی اوبیا په کور کی کاغذان غورځوی. بیت ؎ چو غیرت بن آمد در عربی، دلم سوزان ز چشم خون جاری. خدای پاک دی دافغانستان پرمسلمانانو نورحم وکړی هغه په داغسی ځایو کښې واښه بالوخی یا د ولی استعمالوی. نه کاغذونه اواخبارونه. **مسئله**: دخدای جل جلاله او بادا لحضرت صلی الله علیه وسلم پاک نومان په ناروونه پاکوی دسبب د تعظیم

وَدخول المسجد: اوحرامو ی حیض اونفاس داخلیده ومسجد ته. اوپه دی حکم کی جنب هم ورسره داخل دی لکه په دغه حکم کښې، لقوله علیه الصلوٰة والسلام، لا أحل المسجد لجنب ولا حائض، اونفساء په حکم کښې حائضی ده.

پوه سه: چې په مسجد کی کعبه شریفه هم داخله ده. اوپه صحیح روایت کی د عیدګاه دنماڼځای اود جنازی دنماڼځای حکم د مسجد نه لری. نوود غو دروڼو فروته یه دخول روا دی اوپه لرلو کی وایی چې حکم د منع د دخول المسجد هلته دی چې ضرورت نه وی. اوکه ضرورت ووچې دروازه دکور یه په مسجد کښې وه اوبله خواته دروازه نه اړول کیدل. اونه بل ځای داستوګنی یه نه درلودی. نوبیا دخول د مسجد ورته روادی، لان الضرورات تبیح المحظورات.

فروع: که سړی په مسجد کی بیده وو او جنب سو تیمم دی وکړي او سم دستی دی وو دیوه دیواره چې په اوبو پسی ولاړ سی. اویا په بل کار پسی. که په مسجد کی د ډنډنه دلمبیدو

ځای نه وُو. اوکه څوك جنب وو او په هیڅه په مسجد ننوتی او بیا یه جنابت ویښ
سو تیمم دی وکړي او دستی دی ووزی. اوکه بیله تیمم وَمَلوو وزی هم رَوا ده. اوکه
اوکه اوبه دباندی ترمسجد وی او په شپه کښی وَتل دده ته خطر وو. تیمم دِوکړی
اوهوری په مسجد کښی دی اوسی څوخطر دفعه کیږی. اوبی له تیمم د رنګ په مسجد کی
نا روادی، (اوینۍ دغه تیمم دی لمونځ کوی اونه به قرآن شریف وائی» ط م ١٩٥، قال

وَالطَّوَافُ وی **پُوهسَه**: چی یو حُرمت دشپی دَی. نوبناءً علی هذا
طواف کول په جنابت سره حرام دَی یعنی گناه کبیره ده مگر صحیح دی. حتی چی د طواف فرضی
چی طواف زیارت دی غاړی په خلاصیږي. مگر پرده باندی اوښ حلا لول لازم دی.
اوکی بی اودسه یه طواف مفروض وکړي شاة (پسه) پری لازم دَی. اوکه طواف نفلی وُو
صدقه پرلاړ نهه ده چی کَمریه نصف صاع دَه»

مسئله: که محدث (بی اودسه) پس له طوافه اودس وکړي. اوبیا یه هغه نفلی طواف
راوګرځاوه بیا هیڅ شی باندی نسته» اویا هغه فرضی طواف په طهارت سره راوګرځاوه
لکن په ایاموکښی د نحر» قال المُصنفؒ.

وَالْجِمَاعُ وَالْاِسْتِمْتَاعُ بِهَا بِمَا تَحْتَ السُّرَّةِ اِلَى تَحْتِ الرُّكْبَةِ

اودغه رنګه حرامو یې حَیض اونفاس وَطی دَمایني اونفع احتنل ددی د بدن څخه لاندی تر
نامه بیا تر لاندی د زنګانه **پوهسکه**: چی نفع احتنل دمایني څخه تر نامه
وړی ځای سره دحائله یعنی پَرتوګ وَغیره رَوادی. اوترنامو ړی ځای لوړ یا کښته
که څوم بی حائله وی روادی که څه انزال سی. لقوله علیه السّلام» لَكَ مَا فَوْقَ الْاِزَارِ
مسئله: که چا مایني په حَیض کی وَطی کړه اورَوایه نه بَلله. مستحب ده له دې
په اول کی دحَیض داکار یه وکړي یو دینار دې خیرات کی. اوکه په اخیر حیض به وکړي
نیم دینار دې خیرات کی. اوپرهغه کار دې توبه وکا بی اوبیا دی نه کوي.

مسئله: که چا وطی په حال کی دَحیض وځانته روا بو للی. نو په مبسُوط او نورو
کتابونو کښی هم وائی چی دا سَری کافِر شُو. ولی دصریح قرآن څخه ضد سُو» وَلَا تَقْرَبُوْهُنَّ حَتّٰى
يَطْهُرْنَ» او په خلاصة الفتاوی کی وائی چی نه کافِر کیږی. **مسئله**: که سَړی ته
چی وطی په حال کی دحیض نا روادی مایني ته هم نا روا ده چی میږه خپل غوږ لوته په دغه
وخت کی پریږدي. **مسئله**: دحائضی نښځی څخه بیخه اختنل او یوځای وسره
بیدیدل بیله کراهته رَوادي. اود حائضی په لاس پوډی پَخول یاد دی پاڼاس اوبه
څښیږه ول پروا نه لری» ط» **مسئله**: روانه ده نښځی لره چی حیض د میږه څخه پټوی
یا چی جماع وسره وکړي: اودغه رنګه نه ده رَوا دې لره چی حائضه نه وی و میږه ته وائی
چی زه په حیض کی یَم» یعنی دغوږ لوځنه ځان کا بی. ط» قال المُصنفؒ

وَاِذَا انْقَطَعَ الدَّمُ لِاَكْثَرِ الْحَيْضِ وَالنِّفَاسِ حَلَّ الْوَطْءُ بِلَا غُسْلٍ

اوکه چیری قطعه سوی یعنی ودریدی وینی دَنښځی په نیږدِ اکثری مُدی دَحیض یعنی ١٠ ورځی
او اکثری مُدی د نفاس یعنی ٤٠ وَرځی. روا ده میږه لره دَدی جماع وسره کول بیله غُسل
دَدی دحَیض او د نفاس څخه» **پوهسکه**: چی مصنفؒ قید د انقطع الدم د عادت
پرښاء ووایه ورنه چی لس وَرځی یا څلویښت وَرځی پوره سی که وینه قطع سی اوکه
سی وَطی ورسره رَوادي وَلی تر لس ورځی بالا یا تر څلویښت وَرځی بالا حیض اونفاس
نسته نوکه وینه هم جاری وی وطی یه روادي. ولی چی د اوینی خو استحاض دی او استحاض
مانع د وطی نه دَی. **مسئله**: مستحب داده چی په صُورة کی د انقطاع دی هم تر غُسل
دمخه وطی نه ورسره کوی. په مراعات د قرائت د» يَطْهُرْنَ» په تشدید سره» قال المُصنفؒ

وَلَا يَحِلُّ اِنْ اِنْقَطَعَ لِدُوْنِهِ لِتَمَامِ عَادَتِهَا

اونه دی روا وطی
ددی کړه چیری
قطع سی وینه ددی ترکمره اکثری مُدی یعنی ١٠ یا ٤٠» پس له تمام څخه دعادت د دې.
یعنی عادت ته ورسیږي بیا قطع سی لکن تمامی مُدی ته نه وی رسیدلی. نو لام فی قوله

لِتَمام آه په معنیٰ د بعد دئ. کما فی قوله علیه الصّلوٰة والسلام «صُوْمُوا لِرُؤْيَتِهِ» ای بعد رؤیته یعنی ورځستہ تر لیدلو میاشتی درځې» قَالَ الْمُصَنِّفُ.

إِلَّا أَنْ تَغْتَسِلَ أَوْ تَيَمَّمَ وَتُصَلِّيَ أَوْ تَصِيرَ الصَّلٰوةُ دَيْنًا فِي ذِمَّتِهَا

مګرنه چې دا غسل وکړی. اویا دیو عذر په سبب دا تیمم وکړی اولمونځ هم وکړی. اویا دی په ذمه کښی یو پوره لمونځ وګرځی یعنی قضاء یې پر لاړهې بیا یې وطی روا دی

وَذٰلِكَ بِأَنْ تَجِدَ بَعْدَ الْاِنْقِطَاعِ مِنَ الْوَقْتِ الَّذِي انْقَطَعَ

اوهغه دا رنګه چې ښځه پیدا کړی ورځستہ تر قطع والی دوینو دمړه وخت چې په هغه کښی

الدَّمُ فِيهِ زَمَنًا يَسَعُ الْغُسْلَ وَالتَّحْرِيمَةَ فَمَا فَوْقَهُمَا وَلَمْ

حائض ښځې غسل اویو الله اکبر ویل. یا بالاً تر هغه اوداسې د هغه غسل ونه کړی اوکه

تَغْتَسِلْ وَلَمْ يَتَيَمَّمْ حَتّٰى خَرَجَ الْوَقْتُ

عذر لری تیمم ئې ونه کړی حتی چې دلمانځه وخت تیرسی. نو دغه لمونځ په ذمه کښی دی پور دی» یعنی قضاء به ئې راوړی. نو دوهم وخت چې تیرسو نو هم په دې ته یې غسل کولو دی وطی ورته روا دی.

فَائِدَه: چونکه دی ښځې په ذمه کی لمونځ لازم سوا و لمونځ خو د احکامو مخکښ طاهرانو ښځو دی» نو وطی یې هم روا دی» اوکه چیرې وخت کم وو چې غسل او تحریمه نه په کښی ګاټیدله. نو په مجرد وتو دوخت دا پاکه شوه. او وطی یې نه دی روا» ترهغو چې طهارت په اوبو اویا تیمم ونه کړی. **فَائِدَه:** دا قوله بیان د مسلمانِ ښځې په باره کښی وو. او دسړی ماینه که کتابیه وه. یعنی یهودیه یا نصرانیه وه دهغې چې عادت وګرځی پوره تر لس ورځې دهغه او وینه یې قطع سی وطی یې روا دی بیله غسل کولو. ولې چې دا مکلفه په غسل نه ده» ط ص۱۱۶.

وَلْتَقْضِ الْحَائِضُ وَالنُّفَسَاءُ الصَّوْمَ دُوْنَ الصَّلٰوةِ

وقضایه راوړی حائضه ښځه او نفاس والا ښځه دروژی نه ولمانځه. په حدیث کی د عائشه رضی الله عنها راغلی دی» کان یصیبنا ذالك فنؤمر بقضاء الصوم ولا نؤمر بقضاء الصلوٰة. ترجمه وویل مونږ ښځوته به رسیدی حیض نو مونږ به امر کیدلو یعنی د جانبه ځخه د آنحضرت صلی الله علیه وسلم په قضاء د اوړو دروژی. اونه امر کیدلو په قضاء د لمونځو. وعلیه اجماع الامة.

حکمت الٰہی

لمونځ: چونکه لمونځ په شبانه روز پنځه واره مکرره کیږی. او په ورځو کښی د حیض او نفاس ښځی پرلمونځونه ځندی جوړیږی او دی تولو قضاء راوړل حرج دی نو رب العلمین د دوی تر دغه وخت لمونځونه معاف کړه. اوپرخلاف دروژی چې هغه لږ پیښیږی. ولې که ښځه په میاشت کی دروژی حمل لری نو خونه حیض سته اونه نفاس. او دغه رنګه که ښځه ممتده الطهر وی میاشت په میاشت کی دروژی یه حیض نسته» او دی ټولو سړو دوړځو د حیض مدت کم دی په قضاء کښی حرج نسته. او نفاس خو په روژه کی ډیرنا دردی. قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَيَحْرُمُ عَلَى الْمُحْدِثِ ثَلَاثَةُ أَشْيَاءَ الصَّلٰوةُ وَالطَّوَافُ وَمَسُّ

احرام دی وبی اودسه چاته که نروی اوکه ښځه وی دری شیان. لمونځ اوطواف پ بیت الله شریف باندی چې وړاندی یه بیان شیرسو. اومسه

الْمُصْحَفِ إِلَّا بِغِلَافٍ

کول د قرآن شریف که څه هم یوایت وی مګر په پوښ کی اوهغه د پوښ څخه هغه پوښ دی چې د قرآن شریف څخه جلا وی.

پوه سه: چې محقق طحطاوی مناسب دی ځایه سره په ص۱۱۸ بعض مسائل ذکر کړی دی چې هغه دادی ۱ مکروه دی نوشته کول د قرآنی آیت اویا دنامه د خدای پاک سره ښی چې هغه اوارږی اویا تکیه پرکیږی لکه بالښت. ولې چې ترک د تعظیم دی ۲ قرآن یاد خدای نوم پرډرهم اویا نوټ نه لیکی. چې د تعظیم خلاف دی ۳ قرآن یاد خدای نوم دی

پرمحراب یا پردیوالہ د مسجد نہ لیکی. ولی چی رنگ یہ راتوی نہ سی ۴ کم یوصندوق کښی چی دینی کتابونہ وی پرهغہ صندوق باندی ټالی یا تلتك یا نورد کوم شیان اینبول خلاف الادب دی ۵ او په خلاصه کی وائی چی پښی غځول د قرآن شریف وخواته چی کښته پروت وی که برابر پښو سره وی مکروه دی. اوکه برابر نه وی بیا کراهت نشته ۶ اوکه قرآن شریف لوړ پر تخته یا بل شی پروت وی نو پښی غځول وهغه خواته مکروه نه دی. ۷ اینبول د قلم پر کتاب یا قرآن شریف د لیکو د پاره مکروه اوبیله هغه مکروه دی. ۸ په یوه غالی کښی اوبیا په مصلی کی چی نوم د خدای نوشته وی پرهغه کښینستل مکروه دی. اوصاحب هدایه وائی مکروه نه دی. ۹ که قرآن شریف په خونه کی په پوښو کی پروت وی په هغه خونه کی د ماښینی سره جماع کول خلاف الادب دی» اوکه چیری قرآن شریف پوښ نه در لودی. نوه پاره داډب په وخت کی د جماعودی یو تکړ پرهوا کی

بیت ؎ از خدا خواهیم توفیق ادب. بی ادب محروم ماند از فضل رب» قال المصنف

وَدَمُ الْاِسْتِحَاضَةِ كَرُعَافٍ دَائِمٍ لَا يَمْنَعُ صَلٰوةً

اووینی د مرض لکه دپښی وینی چی همیشه وی نه منع کوی لمونځ، یعنی مستحاضه ښځه مکلفه په لمانځه ده **پوه سکه**: چی وینه د استحاضه پرقرار د ارشاد نبوی وینه د رګ ده چی چا ودلی دی، اود رحم وینه نه ده. علامه یه داده چی د استحاضه وینه بدبوئی نه لری لکه د حیض وینه» قال المصنف

وَلَا صَوْمًا وَلَا وَطْئًا

اونه منع کوی د م الاستحاضه روژه کرنفلی وی اوکه فرضی وی اونه منع کوی وطی د میړه» ولی چی د اوینه اذی نه ده چی چی په قرآن کریم کښی ذکر سوی ده» **پوه سکه**: چی د م الاستحاضه پرځوقسمه ده. ۱ چی ښځه مینه وانه وی اووینه ورته پیدا سی ۲ چی ښځه تر ۹ کاله کمه وی اووینه ورته پیدا سی ۳ اوچی تر اقلی مدت د حیض چی دری ورځی دی. ۴ چی تر اکثری مدت د حیض یا د نفاس پالاوی ؛

اللهم اغفر لکاتبه کتبه احقر العباد فضل الحق حقانی»

وَتَتَوَضَّاءُ الْمُسْتَحَاضَةُ وَمَنْ بِهٖ عُذْرٌ كَسَلِسِ بَوْلٍ وَاسْتِطْلَاقٍ

اواودس به تازه کوی مستحاضه ښځه اوهغه څوك چی د ده سره عذر وی لکه یوسړی چی بولی نه ګیریږی

بَطْنِ لِوَقْتِ كُلِّ فَرْضٍ وَيُصَلُّوْنَ بِهٖ مَا شَآءُوْا مِنَ الْفَرَائِضِ وَالنَّوَافِلِ

او پایه نس ایله وی یعنی غسل نه سی تینګولای د پاره د هر لمانځه فرضی. اود وی اداء کولای سی په هغه اوداسر چی زړه یه غواړی که فرضی لمونځ وی اوکه نفلی لمونځ وی» اوسنت هم په حکم کی د نفلو دی. **پوه سکه**: چی سلس البول یومریض دی چی د ضعفه ښځه مثانی یا د غلبه ښځه د خنګی پر طبع دسړی پیدا کیږی.

مسئله: په بحر رائق کی وائی چی د معذور اودس په وخت کی هلته محفوظ دی چی بله بی اود سیا نسی وړ پیښه. مثلاً که دیوه سړی تر یوه سن مه وینی بهیدلی اوهغه بله سن مه یه سالمه وه. نوده اودس تازه کړی. د ستی تر اود اسر یه تر هغه بله سن مه هم وینی راوبهیدلی اودس یه مات سو. ولی چی دانوی بی اود سیا ده. اویا دیوه سړی بولی ایله وی. دی چی اودس تازه کړی غسل یه هم ایله سی اول اودس یه مات سو. اوکه چیری بولی او غسل دواړه جاری وه. اویا تر دواړو سن مویه وینی بهیدلی نوده اودس تازه کړی وروسته تر اود اسر یه خوابنده سوه اول اودس یه پاته دی.

پوه سکه: چی عذرونه په دغو عذرو کی چی مصنف ذکر کړه حصر نه دی. بلکه که دیوه سړی پښه همیشه وینی کوی. یا هر ګړی پسکی خندی وزی. اویا تپی وی چی د تپ وینه یه نه درینږی حتی په پښه وو وغیره سره هم نه درینږی» داټول کسان معذور دی.

مسئله: که د سړی بعض د دغو عذرو - چی په ناستی یه لمونځ کولای یا په اشاره سره دفع کیدله. پرهغه لازمه ده چی لمونځ په ناستی یا په اشاره وکړی. چی د عذره څخه خلاص سی. **پوه سکه**: چی اودس د معذور د پاره د وخت د لمانځه دی د پاره د لمانځه نه دی لکه نور امامان چی وائی. په حدیث شریف کی روایت دی چی روایت یه

سبط ابن الجوزی کړی دی «امام اعظمؒ ابو حنیفه څخه داسی راغلی دی» رسول کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلی چې مستحاضه دې اودس تازه کوی دپاره د هر وقت لمانځه. او شکنسته چې دا نور معذورین په حکم کښی د مستحاضې دی.

مسائل شتی من هذا الباب» **فرعه**: معذور سړی د وقت په اوداسه سره هغه قضایې ده لانهر سوی وو» مراقی. **فرعه**: معذور په دغه اوداسه واجب لمونځ یکدوترم کولای سی او اختر لمونځ هم په کولای سی». اومسئله مصحف هم په کولای سی **فرعه**: په مضمرات کی داسی وائی چې که سړی سلسلبول وو اودس یه تازه کړی. اودغټر په سر یې پنبه چې کړه او بولی دره او توخنه بندی سوې. اودی هم پوهیدی که پنبه نه وای بولی راوتلی. اوبیا یې پنبه ړاوکښه اوهغه لاندې وه. نو دغه گړی چې ده پنبه ړاوکښه اودس یه مات سو. نه د مخه تر اوتو د پنبه رُوو وعلیه الفتوی.

فرعه: که دیوه سړی غوږ بهیدلی لکن چې پنبه یې په کنه کی چیخلی وای. غلی خو یه نر بند یدل لکن لږ یدل ضرور. آیا دی دغه پنبه په کنه چې کړي. **جواب**: هو دپاره د دی چې نجاست یه لږ سی په قدر د امکان. ابن امیر الحاج وائی چې داچیخل مستحب دی. اوامام حلبیؒ وائی چې واجب دی» قال المصنفؒ.

وَيَبْطُلُ وُضُوءُ الْمَعْذُورِينَ بِخُرُوجِ الْوَقْتِ فَقَطْ

اوباطلیږی اودس د معذور خلگو په وتو د وخت فقط مثلاً د سحار د لمانځه د پاره یې اودس تازه کړی وو. نو چې لمر ړاوخیږی. اودس یې مات سو. ولی چې د سحار د لمانځه وخت تیر سو. دامذهب دی دامام اعظمؒ او محمدؒ» اوبه نیزد زفرؒ په دخول د وخت اودس ماتیږی فقط یعنی نه په خروج د وخت نو په صورت مذکوره کښی د معذور اودس نه دی مات» ولی چې په لمر ړا ختلو سره دبل فرضی لمانځه وخت نه سو داخل» اوامام ابو یوسفؒ وائی چې په خروج د وخت او په دخول په د وارد معذور اودس ماتیږی».

«حقانی عفرله»

مکتبه القراءت والتجوید کوئٹه

فائدة الخلاف که معذور د خا بښتی لمانځه د پاره اودس تازه کړی نو په هغه اوداسه سره دامام اعظمؒ پر مذهب د ما پښین لمونځ روا دی» ولی چې د فرضی لمانځه وخت نه دی وَتلی خلافاً لزفرؒ ولی چې د خول د فرضی لمانځه د وخت چې ما پښین دی موجود سو. وعند ابی یوسفؒ کذالک. او که چیرې معذور د سحار د لمانځه د پاره اودس تازه کړی د عیدگاه لمونځ نږدی په کولای باتفاق الائمة الثلاثة من المذهب» ولی چې خروج د وخت د سحار د لمانځه خو موجود سو. خلافاً لزفرؒ. ولی چې د خول د فرضی لمانځه د وخت خو نه دی راغلی د عیدگاه لمونځ خو واجب دی. قال المصنفؒ.

وَلَا يَصِيرُ مَعْذُورًا حَتَّى يَسْتَوْعِبَهُ الْعُذْرُ وَقْتًا كَامِلًا لَيْسَ

اوبه گرځی معذور یعنی سلس البول والا وغیره تر هغو پورې چې کښی باسی ده غه عذر د وقت د کامل

فِيهِ انْقِطَاعٌ بِقَدْرِ الْوُضُوءِ وَالصَّلٰوةِ

لمانځه چې په هغه کښی انقطاع د عذر په قدر د اوداسه او لمانځه نه پیدا کیږی یعنی که لږ انقطاع هم موجود وی خو بیا هم معذور نه دی» اوکه داوداسه او لمانځه وخت بیله عذر موجود وو بیا خو معذور نه دی» **پوه سئه**: چې استیعاب د وخت گاهی حقیقی وی» هغه دا دی چې عذر موجود یو گړی هم نه قطع کیږی» او گاهی حکمی وی هغه دا دی چې په بعض وخت کی انقطاع د عذر خو موجود وی لکن اودس او لمونځ نه په کښی خائیږی **پوه سئه**: چې مراد د وخت کامله څخه وقت د فرضی لمانځه دی نو د اسئوال نه پیدا کیږی کله چې یو سړی د طلوع شمس څخه بیا تر زوالې پورې وخت خالی د عذر څخه ځنی پیدا کولای شی داسړی معذور ګڼل کیږی. ولی چې د خا بښت وخت خو هم د لمانځه دی لکه د اختر لمونځ او یا د خا بښت لمونځ» حاصل د جواب دادی چې خا بښت خو یا د واجب لمانځه وخت دی او یا د نفل لمانځه وخت دی» د فرضی لمانځه وخت نه دی. قال المصنفؒ.

وَهٰذَا شَرْطُ ثُبُوتِهِ وَشَرْطُ دَوَامِهِ وُجُودُهُ فِي كُلِّ وَقْتٍ بَعْدَ ذٰلِكَ

او دغه استیعاب حقیقی یا حکمی شرط دی د ثبوت د عذر یعنی عذر د سړی ثابته دی. او شرط د هغه والی

مکتبه القراءت والتجوید کوئٹه

د عذر وجود دی دهغه عذر پرهر وخت کی ورو سته تر ثبوت. قَالَ المصنفُ

وَلَوْمَرَّةً وَشَرْطُ انْقِطَاعِهِ وَخُرُوجُ صَاحِبِهِ عَنْ كَوْنِهِ مَعْذُورًا

که څوم یو واړه وخت کښی پیدا کیږی. اوشرط د قطع والی د عُذر یعنی چی سړی د معذوریت

خُلُوَّ وَقْتٍ كَامِلٍ عَنْهُ په وزی. قطع والی دی دهغه عذر اوخالی والی دوقت کامل دی دهغه عُذر څخه.

مَسْئَلَةٌ مُهِمَّةٌ

که چا ته دصاحب عذر نجاست دده د عذر یعنی یا بولی یا وینی یا غوله ورځ سیده هغه جامه پریوله غواړی اوکړنه! فقیه ابن سلمةؒ وائی چی پریوله نه غواړی» ولی چی بل د نجاست لکه په باب الاَ نجاس کی چی به راسی» اِنْ شَاءَ اللّٰهُ عفوه دی. نو د جهته د ضرورت د عذر په یه هم عفوه دی. اوبل دلیل دادی چی په دغه نجاست د معذور چی اودس نه ماتیږی نو گویا دا نجس نه دی حکماً. اوبل دلیل یه دادی چی چه پریوله دهغه نجاست څخه نه غواړی نو جامه خوتر بدن اولی با الطهارت نه ده» وَفِی البَدَائِع ـ واجب دی پریوله د زائد تر قدر د درهم کی فائده کوله یعنی چی لمانځه په دوران بیا نه مړ اریږه. حتی که نافِع وُه اوده نه پریوله لمونځ په ورسره وکړی هغه لمونځ یه نه دی روا. اوکی فائده ذکوله نو پریوله نه غواړی تر هغو چی د معذور عذر باقی وی. قال الطحطاویؒ وهو قول مشائخنا وهو الصحیح» وفتوی الفقیر علی هذا القول.

پوه سه: چی تر دی اوسه پورې مصنفؒ بیان د نجاست حکمی کاوه لکه بی اوبیا جنابت اوهغه څخه د پاکی بیان یه کاوه چی اودس یا تیمم یا غسل وُو. هم دا اوس بیان د نجاست حقیقی یعنی ظاهری لکه بولی، غُول، وینی، وغیره شروع کوی.

کتاب ـ پښتو شرح نور الایضاح» مصنف ـ علامه محمد عُبیدُ الله الایوبی. الغَزدهاریؒ. کتابت ـ احقر فضل الحق حقانی» الناشر مکتبة القراءة والتجوید کانسی روډ کوئټه

بَابُ الاَنْجَاسِ وَالطَّهَارَةِ عَنْهَا

باب دی په بیان د نجسو شیانو. او بیان د پاکوالی د بدن یا جامی د هغو څخه» چونکه د مخنی مباحث تهوله د نجس حکمی وُه نو د هغه څخه دا معلومیږی چی د لته دا نجاسو څخه انجاس حقیقی مراد دی. فَلَا یرد چی مصنفؒ باید داسی وئیلی وای باب الا نجاس الحقیقیة»

سَوَال: ولی مصنفؒ د نجاست حکمی بیان تر نجاستِ حقیقی د مخه کړی. **جواب** د نجاستِ حکمی حال سخت دی تر حقیقی د دی کبله چی حکمی قدر معفو نه لری» یعنی که یو سړی د پره کشنی پسکی واچوی هم عفوه نه ده او نجاست حقیقی قدر معفو نه لری. یعنی که د سړی پر جامه بولی وی چی تر قدر د درهم کمی وی هغه عفوه دی. بلکه د پریه هم عفوه دی په وخت کی د ضرورت» کَمَا سَیَأتی» که خدای کوله.

اوبل دا چی که د سړی سره نجاست حکمی یعنی بی اودسه وی. مَسّ د قرآن شریف ورته ناروا ده. اوکه چیری جنب مَسّ د قرآن اوتلاوت دواړو ورته ناروا دی. اوکه سړی اودس لری مگر کالی مردار وی هغه هم مسّه د مصحف شریف کولای سی اوهمدا یه تلاوت» **پوه سه**: چی انجاس جمع د نجس ده په دوه زوره ـ او په اصل کی مصدر دی لکن په اصطلاح کی هرهغه اوذات مستقذرته وائی لکن په اصطلاح د فقهی شریفی نجس حقیقی اوحکمی دواړو ته وائی کما مَرّ. اولفظ د خبث په حقیقی پوری خاص دی. اولفظ د حَدث په حکمی پوری خاص دی. **پوه سه** چی د نجاستِ حقیقی په لیری کولو کی باید سړی دیر غور وکړی. ولی په حدیث شریف کی راغلی دی چی مضمون یه دادی.» چی اول چی د مسلمان څخه پوښتنه کیږی په قبر کی هغه طهارت دی اوعام عذاب د قبر په سبب د بیبا کی په باره کی د طهارت خصوصاً بولی. قال المصنفُ

يُنْقَسَمُ النَّجَاسَةُ إِلَى قِسْمَيْنِ غَلِيظَةٌ وَخَفِيفَةٌ

وایشل کیږی نجاست ودوه قسمه ته. چی یوه ته سخته وائی اوبلی نه سپکه وائی.

پیُوه سَه: چی د نجاستِ غلیظه اوخفیفه فرق په دی کی دی چی د غلیظه قدر معفو لږ دی. اود خفیفه قدر معفو پرېدی. اوپه استعمال کی داوبُو یعنی پرېوَلو فرق نه سَرَه لری. یعنی هر دوَل چی غلیظه مینځی هغه رنګه به خفیفه هم مینځی. **فَائِدَه**: امام اعظم ابوحنیفهؒ وَائِی چی د کم شی نجاست چی په الت یا حدیث سره ثابته وی. اوبل نص مخالف نه وی په کښی رَاغلی، هغه نجس مغلظ دی. لکه وینه یا خمر وغیره» چی مخالف نصوص نسته په کښی نور، نو که د علماء اختلاف په کښی وی اوکه نه اویا عموم بَلوی په کښی وی اوکه نه اوکم شی چی دهغه په نجاست کی هَم نص یعنی حدیث موجود وی. اوپه طهارت کښی هم نص موجود وی، لکن سَره دهغه وړ دلیل ته د نجاست ترجیح وَرکړه سوی وی» هغه شی نجس مخفف دی» لکه بولې د هغه حیوان چی غوښه یې حلالی وی اوخوړل کیږی. لکه پُسه غُوبی وغیره. ولی چی د داسې حیوان چه په بولو کی دوه حدیثه متعارض سته» یو حدیث دادی، اِسْتَنْزِهُوا مِنَ الْبَوْلِ فَاِنَّ عَامَّةَ عَذَابِ الْقَبْرِ مِنْهُ» تاسی ځان وساتی د بولو څخه ولی چی اکثر عذاب د قبر هم د دغو بولو څخه دی»

چونکه په دې حدیث کی بولې مطلق رَاغلی دی یعنی که بَولې د سړی وی اوکه بولې د حیوان مأکول اللحم وی نو مطلق بولې نجسی دی. اوپه بل پیر اوږده حدیث کی چی بخاریؒ وغیره یې روایت کړی دی» چی هغه خلګوته چی د عُرَینه د قبیلی وَه اومدینې مُنوری ته د پیغمبر د اسلام رَاغلی وَه اوپه مَرض د استسقاء اخته سُوه آنحضرت صَلی اللهُ عَلَیه وسلم وهغوته وفرمائیل. چی د صدقاتو د اوښانو پُه ګله کی وَزی. اود اوښانو بولې او شیدی چښی. اِلَی اٰخِرِ الْحَدِیث» د دی حدیث څخه دا معلومیږی چی بولی د مأیوکل لحمه پاکی دی. ولی چی د اوښانو اوپسُه وغیره فرق نسته» نو د دی حدیث د سَبَبه امام محمدؒ بولی د مأیوکل لحمه پاکی بُولی. لکن سَره د تعارضه ترجیح وَر د لیل ته د نجاست دَه» کما فی الهدایة وغیره من الکتب الفقهیة، اوامام ابویوسفؒ اوامام محمدؒ وَائِی چی هغه شی چی نجاست یَه په اتفاق د علماو وی اوعموم بَلوی هم په کښی نه وی هغه شی نجس مغلظ دی. اوکه د علماو اختلاف په نجاستِ اوطهارت کښی وُو اویا عموم بلوی په کښی وه هغه شی نجس مخفف دی.

په کوائی چی د دی اختلاف اندازه پَه خوشیو اوخرشنوکی شکاره کیږی چونکه د دوی په نجاست کښی اختلاف د حدیثو نسته بلکه یوازی هغه حدیث سته چی علیه السلام د خوشا بی په باره کی وفرمایلی چی دا «رِجْسٌ» یعنی نجس دی. نو په نیز د حضرت ابوحنیفهؒ دواړه نجس مغلظ دی. اویارانؒ وَائِی چی چونکه په دَغو دوو کښی اختلاف د امام ابوحنیفهؒ او امام مالکؒ اوابن ابی لیلیٰؒ په پاک بُولی نو دغه دوه نجس مخفف دی» ط» اوپه دی مسئله کی ظاهر مذهب د امام اعظمؒ دی. ولی چی نص چی معارض ونه لری د هغه نص حکم تهینګ دی، اونص خو حجت د اختلاف د علماو څو حجت نه دی. قال، وَاِنْ تَنَازَعْتُمْ فِی شَیْءٍ فَرُدُّوهُ اِلَی اللّٰهِ وَالرَّسُوْلِ» که ستاسی په یو حکم کښی نزاع پیدا سوه نو هغه حکم ردکړی وخدای ته اوړسول ته» یعنی په قرآن شریف کی اویا په احادیثو نبویه وُو کښی حکم ولټوئ.

پیُوه سَکه: چی په اړواتو (پوچی خشانی) کښی دمأکول اللحم اوغیرمأکول اللحم فرق نسته بلکه دواړه امام اعظمؒ نجس مغلظ بُولې» اویاران یې نجس مخفف بُولې. قَالَ الْمُصَنِّفُ

کَالْخَمْرِ

لکه شراب چی نجس مغلظ دی په اتفاق د روایاتو **فَائِدَه**: خمر هغه نایخ سوو اوبوته د انګورو ته وَائِی چی د طول مکث د سَبَبه په خپل جوش وکړی اود هغه لوښی څخه چی دا اوبه پکښی وی ځګونه رَاسی» **پاته سَوه نور** اَشْرِبَه مسکره چی حرام هم دی لکه دارُبشو شراب. د غنمو شراب، د خرمَا شراب وَغیره نو که څه هم حرام خُو دی لکن په بعض روایاتو کی وَائِی چی هغه هم لکه خمر نجس مغلظ دی. اوپه بعض روایاتو کښی رَاغلی دی چی نجس مخفف دی. او بعض علماء وَائِی چی پاک دی. د روایات ټولو په بدائع کښی مذکور دی

وَالدَّمُ الْمَسْفُوحُ

اوبل نجس مغلظ هغه وینه ده چی د یوه ځایه څخه بل ځای ته بهیدونکی وی. د هر حیوان چی وی. قهستانی»

پیُوه سَکه: چی مراد د مسفوح څخه دا دی چی د شان څخه بهیدل وی نو بهیدونکی وینه پُرځای کلک سی هغه وینی مردار دی دی» کما فی منیة المصلی» نو بناء پر دغه هغه وینه چی پر مذبح د ذبیحه وَغیره یعنی ځای د حلالیدو پاته سی هغه مردار ده. د ابن امیر الحاج

مسئله دیره مهمه پوه سه چی په بشارو کی چی پسونه حلالیږی د هغوسرونه سره سره دوینو نو رخلګ رانسی، اوبیا یو لوی دیګ یه باندی کړی وی چی اوبه یه جوش سی نو هغه دیګ لس یا څلشل دغه سرونه د هغه مردارو وینو سره ورواچوی. اوبیا یه ایشوی ترهغو پورې چی وړې یه دسره څخه ټوله توی سی» او دغه مرداري اوبه دسرو په یوله غوښو اومغزو کښی ننوزی. نوبیا داسرونه راوباسی اوصاف یه کړی په بازار کی خرڅوی یا هوتلان والا یه رانسی. اوپه هوټل کی پرخلګو خرڅوی اوهغه یه خوړي»، چی معامله دغسی وی نو د غوسرو غوښی مرداري دی. اما په صحرا کښی دسره څخه دغه مرداره وینه یووار پریوځي. اوبیا یه په نورو اوبوکښی صاف کړي. اویا هغه وینه په اورځندي وسوځي. اوبیا یه صاف کړی هغه دوو پړاو نه لري. دسرو غوښی پاکی دی. وهذه فائدة جديدة والناس عنها غافلون»

مسئله: هغه وینې چی په غوښو کی پاته وي هغه مرداری نه دی. ولی چی مسفوح نه دی. اوبل اخترانځندی سخت دی. **مسئله**: چی پسه وغیره حلال کی اودم مسفوح یه ووزی، هغه وینه په رګو کی پاته وي هغه پاکه ده. **مسئله**: اینه، توری، زړه، کرڅ هم دوینو څخه جوړ دی پاک دی»

فائده: په اشیاه کی وایی چی وینی د زړه د پسه وغیره پاکی دی پر مذهب مختار، یعنی شی نه په مردار یږي» وهو قول ابو یوسف» وقال محمد نجس» اوقاضیخان اونور هم دیری فتاوا وی وایی چی پاک دی» ط ص ۱۲۲ **مسئله**: هغه وینه د سړي چی اوس نه په ماتیږی یعنی چی وموضع د طهارت وینه بهیږی پاکه ده» حتی چی که د د غو وینو څخه لږ لږ په پنبه واخلی اوپه لږو اوبو کښی واچوی هغه اوبه نه په مردار یږي»

مسئله: هغه وینه چی غوما شیه یا کیکه، یا شپږه یا د بدن څخه د سړي راوباسی هغه پاکه ده کرڅ هم دیره وي. **مسئله**: دماهی وینه هم پاکه ده. پر صحیح مذهب امام اعظم او امام محمد» ولی دماهی وینه حقیقتا وینه نه ده بلکه سری اوبه دي» ولی چی دموی (وینه مارغی) په اوبو کښی همیشه ژوند نسی کولای، اوبل داچی دموی شی چی مړسی او

لږ څه کښیږي دی تویږي. اوماهی سپینیږي» اوامام ابو یوسف او شافعی وایی چی ماهی وینه نجسه ده» **مسئله**: د شهید وینې پرحق کښی دده» یعنی چی ده پرېدن وي پاکه ده، حتی که چیری شهید سره دوینو د سړي په شاوی اولمونځ ورسره وکی لمونځ یه روا دی. ولی چی شهید حکما پاک دی حکه غسل شرعا نه ورکړه کیږي» لکن د شهید وینه چی ده پرېدنه څخه جلاسی نو بیا مرداری دي» لعدم الضرورة. اونفس په دي باره کی نسته نو دغه وینه د قیاس پر مقتضی پاته دي. ط» ص ۱۲۳. قال المصنف

ولحم المیتة واهابها اودغه رنګه نجس مغلظ دی غوښی د مرداری یعنی چی ذبح سوی نه وي که څرهم پسو وغیره وي. اوپوستکی د مرداري. **پوه سه**: چی د مرداري څخه هغه حیوان مراد دی چی وینه لری. نوماهی، ملخ، د دې حکم خارج یعنی ذبح نه غواړي پاک دي. اواهاب څخه هغه پوستکی مراد دی چی د بغ سوی نه وي. **پوښتنه**: د میتة اود هغی د پوستکی د دی نجاست څه فائده ده. **جواب** د دې فائده داده که چیری د سړي سره تر مقدار د نجاست غلیظه چی وروسته په راسی» ان شاء الله» بالاوږه وي د هغه سړي لمونځ نه دی روا» قال المصنف.

وبول ما لا یؤکل لحمه اوبولې د هغه چی غوښی نه خوړل کیږي پ وغیره **پوه سه**: چی بعض امامان وایی چی بولی د هغه کشنی چی تی روی اود وحوش وغیره سنه وی خوړلی پاکی دی» لکن مصنف مطلق بولې ذکر کړي تنبیها پردی چی بولې د شیر خوړه کشنی هم نجس مغلظی دی **مسئله**: مصنف په مراقی کی وایی چی بولې د موږک اوبه مرداره وي. ولی چی په اوبو کی ضرورت نسته. د دی سببه چی داوبو دلوښو سرونه خلګ پټه وي. اوکه بیخی لږ وي هغه عفو دی. اوکه موږک په کالو کی یا په غنمو وغیره کښی غول وکړي هغه عفوه دی د جهته د ضرورت» **پوه سه** چی په مسئله کی د بولو د موږک د پیر اختلاف دی چی امام طحطاوی په ص ۱۲۳ کی ذکر کړي

دی، مَنْ شَاءَ فَلْيُطَالِعْ ثَمَّةَ» دا چې مصنف په مراقي کښې ذکر کړې دی اومونږ نقل کړی
مذهب مختار دی. قَالَ الْمُصَنِّفُ»

وَنَجْوُ الْكَلْبِ وَرَجِيعُ السِّبَاعِ

اوداغه رنګه نجاستِ غليظه دی دسپی غُل. اوخوشائی د درنده ګانو. لکن
چې دبهائمو څخه وي. ولې چې د سباع الطير غُول نجس مخفف دی» کما سيأتي»

وَخُرْءُ الدَّجَاجِ وَالْبَطِّ وَالْأُوزِ وَمَا يَنْقُضُ الْوُضُوءَ مِنْهُ

اوغول دچرګ يا چرګی، اوغول د الۍ يامرغابۍ، اوهغه چې اودس په ده سره ماتيږي چې ووزی

بِخُرُوجِهِ مِنْ بَدَنِ الْإِنْسَانِ

د بدن څخه د انسان لکه غُول بولی وينی
وغيره، لکن پسکی د دې حکم څخه خارج
ده، ولې چې پسکی که څه هم اودس خوږه ماتيږي لکن دا پخپله پاک ده پر صحيح روايت نو ځکه
پرانده کالې پسکی واچوی هغه کالی نه مردارېږي. **پُوه سَه**: چې بحر رائق دبزازيه
څخه نقل کړی دی چې که الۍ داسې وه چې په هوا نسوای الوتلای» حکم د غولو يه حکم د
غولو د چرګی دی يعنی نجس مغلظ دی» اوکه په هوا الوتلای سوای نو حکم يه د کوتری د
غولو دی **فَائِدَه**: هغه مُرغۍ چې غول په هوا کښې کوی. نو کی غوښې خوړل کيږي
لکه کوترۀ چوغله، وغيرهما نود هغو غول پاک دې شئ نه په مردارېږي. اوکی غوښې نه خوړل
کيږي لکه تېږوس، څرخک باز وغيره نو غُول يه نجس مخفف دی،
پوه سَه: چې دماتوونکی څخه داوداسر هغه حقيقی ماتوونکی مراد دی، نو قهقهه په
لمانځه کی اويا خوب دی څخه وتلی دې که څه هم اودس په ماتيږي، ولې چې دا دوه جسم
نه لری چې پاک يا مردار و بولل سی» **مَسْئَلَه**: قۍ چې مِلْأُ الْفَمِ (په پرځولو) نه وي پاک
دی شئ نه په مردارېږي. سوا د شرابو څخه چې قۍ يه کړي هغه که څه هم بيخی لږ وي نجس مغلظ
دی. **مَسْئَلَه**: وينه چې دراوتو تر ځای تيره نه سی پاکه ده شی نه په مردارېږي پر صحيح
روايت» د طحطاوی څخه ص ۱۲۳

وَالْمَاءُ الْخَفِيفَةُ فَكَبَوْلِ الْفَرَسِ وَكَذَا بَوْلُ مَا يُؤْكَلُ لَحْمُهُ وَخُرْءُ

وه چې نجاستِ خفيفه دی. چې دوهم قسم د نجسِ دی هغه لکه بولې د آس اود غه رنګه بولې د هغه حيوان
چې غوښې خوړل کيږي يعنی حلالی وی لکه پسه، غويی، اوښ وغيره

الطَّيْرِ لَا يُؤْكَلُ

اوغُول د مرغه چې غوښې نه خوړل کيږي. لکه بابنه، تېږوس، وغيره،
پوه سَه: چې د بولو د آس خفت بناء پر مذهب مفتی بر دی. چې آس ماکول اللحم دی لکن
سره د هغه خوړل د غوښو يه مکروه دی» ولی آله د جهاد دَه» اوپه نيز د امام محمد د غه بولې پاکی
دی **پوه سَه**: چې مصنف بولې ذکر کړې ولې چې خرشنر د آس، يا د غاطر، اود، خره، او
خوشائی د غوائی، او پوچې د پسو، نجس مغلظ دی په نيز د امام اعظم ولې چې تعارض
د نصوصو په کښې نسته» اوپه نيز د امام ابو يوسف او امام محمد نجاست خفيفه دی،
لاختلاف العلماء وعموم البلوی» حتیٰ امام محمد په اخر کښې د غوا خوشائی اوخرشنر پاک
ولی دی، ولې لاری په کثرت موجود دی» نو د دې
عام بلوی د ضرورت پر بناء امام محمد حکم د طهارت صادر کړی» ط» لکن قهستانی وائی چې
مونږ په د غه روايت عمل نه کوو»

مَسْئَلَه: داوښ شُخَند اويا د غوائی شُخند اود غه رنګه شُخند د پسه حکم يه د خوشائی
پاد پچو دی. **مَسْئَلَه**: ناری د غاطر يا د خره پاکی دی په ظاهر الروايت کی وهو
الصحيح ط ص ۱۲۴» اود مرغانو چې غوښې نه خوړل کيږی سبب ده خفة النجاست د غولو
په عموم ضرورت دی. بلکه امام سرخسی وائی چې د د غو مرغانو غول پاک دی» لکن دا روايت
د عقل او نقل څخه خلاف دی» قَالَ الْمُصَنِّفُ»

وَعُفِيَ قَدْرُ الدِّرْهَمِ فِي الْمُغَلَّظَةِ

اوعفوه کړه سوی دی يعنی د جانبه
څخه د شارع قدر د يوه درهم
په نجاست مغلظه کښې. **پُوه سَه**: چې قدر د درهم بعض فقهاء په اعتبار د وزن
معتبره وی مطلقًا يعنی که کلک وی لکه غُول اوکه نری وي لکه بولې چې هغه د درهم وزن

شل قیراط دئ، اوبعض فقهاءٌ قدر ددرهم په اعتبارده مساحت، وائی یعنی دگچی پر لحاظ چی گچه ددرهم یو وُرغوی دئ مطلقًا. لکن فقیه هند وائی ددی دوو روایتو توفیق داسی کړی دی چی که نجس مغلظ کلک وُو، نومعتبر قدر ددرهم از روی وزن دی اوکه نری وُو نو اعتبار مساحت لره دئ. اودی توفیق تائید امام زیلعیؒ کړی دی. اوامام کمال الدین ابن الهمامؒ هم دا توفیق منلی دئ، اوبحر رائق یه هم پخلی کړی دی. اوپه نورو کتابو کی د فقهی شریفی د قبول سره مخامخ سوی دی فهوَ الصَّحیح،

دقیقه پوه سه: چی بحر رائق د سراج وماج اونورو کتابو څخه داسی نقل کړی دی چی معتاد عفو د نجاست خفیفه یا غلیظه داده که دهغه قدر نجاست سره سړی لمونځ وکړی لمونځ یه صرف روادئ. دا معنایه نه ده چی لمونځ یه مکروه هم نه دئ. بلکه مسئله داده که نجاست غلیظه په مقدار د یوه درهم وُو، لمونځ سره د هغه اتفاقًا مکروه دئ. اوکه تر قدر ددرهم کم وو اوسړی سره د هغه نجاست پرلمانځه ودریدی. نو دی دپاره وگوری که په وقت کی فراغی وَه نو مستحب دا ده چی هغه نجاست دی پریمنځی اولمونځ دی دسره وکړی. اوکه چیری دده څخه د نجاست د پریولو په سبب جماعت تیریدی نوکه اوبه وی اوجماعت بَل ځای وَر رسیدئ نوبیا هم افضل داده چی نجاست د زائل کړی اولمونځ دی په بَل جماعت کی اداء کړی،

اوکه چیری وخت تنګ وو اویا بَل ځای جماعت ته نه رسیدی نولمونځ دی سره د نجاست پوره کړی. بحر رائق زیاته کړی ده چی په اول صورت کی کراهت تحریمی دئ. ولی چی لمونځ ورته پریښول کیږی د مکروه تنزیهی د پاره لمونځ نه پریښول کیږی. کذا نقله المولوی اعزاز علی فی حاشیته ص۵۳. قال المصنفؒ،

وَمَا دُوْنَ رُبُعِ الثَّوْبِ اَوِ الْبَدَنِ مِنَ الْخَفِیْفَةِ

اودهغه رنګه عفو دی کم حصه تر څلورمی د جامی. اود بدن څخه، نجاست خفیفه وُو.

پوه سه: چی مصنفؒ په مراقی الفلاح کی د ثوب څخه ثوب کامل مراد کړی ده.

اودهغه رنګه د بدن څخه توله بدن مراد دئ. مبسوط والا دغه صحیح ګنړلی ده، اوبعض فقهاءٌ وائی چی مراد د ربع څخه ربع د هغه طرف دجامی ده چی نجاست وَر رسیدلی وی. لکه لمن، لستونړی، اوکنړکی. اودهغه رنګه په بدن کی معتبره ربع د هغه عضو دی چی نجاست وَر رسیدلی وی، لکه لاس، پښه، وغیره. اودا مذهب صحیح هم ګنړلی دی صاحب د مخفی اوصاحب د محیط او المجتبیٰ او سراج، قال صاحب الحقائق وعلیه الفتویٰ لرواینش وائی چی احتیاط هم په دغه مذهب کی دی، وهذا حاصل ما فی الشامی والبحر والطحطاوی، وفیها تفصیل ازید مما نقلنا،

حاصل د مسئلی د نجاست خفیفه وادئ: چی که څلورمه حصه د جامی اویا د بدن په نجاست خفیفه مردار وَه خولمونځ نه دی ودسره رَوا په اتفاق سره، ولی چی ربع حکایت د کل څخه کوی، لکه په مسح کښی د سر اوپه خریلو کی د ربع د سر په احرام کی، نوګویا توله جامه یا توله بدن یه مردار دی. **مسئله:** که نجاست کمتر د ربعی وو لمونځ سره د کراهت ورسره رَوادی. لکن کراهت یه تحریمی دی یا تنزیهی چا تصریح نه ده په کړی، قال المصنفؒ

وَعُفِیَ رَشَاشُ بَوْلٍ کَرُؤُسِ الْاِبَرِ

اوعفوه ګنړله سوی دی تاځکی د بولو چی لکه سرونه د دستنو یعنی که پر جامه وپاشل سی او که پر بدن، **مسئله:** که د غه رشاش البول پر لږو اوبو کښی ولویږی هغه اوبه په مردار ږی. ولی په اوبو کښی ضرورت نسته اوپه بدن اوجامه کښی خو ضرورت وُو. حتیٰ که د غه جامه چی رشاش البول وَر رسیدلی دی په لږو اوبو کی ولویږی هغه اوبه مردار ږی. اوبعض عُلماء وائی چی وائی چی د د غه بولو نجاست اعتبار چی په جامه کی ساقط سُو نو په اوبو کښی هم ساقط دئ.

لکن داخبره کفایه والا رد کړی ده. اووائی چی په جامه یا بدن کښی خو خرج وو. اوپه اوبو کښی حرج نسته. اوپه یوه روایت شاذه کښی د امام ابو یوسفؒ وائی که چیری اثر د هغه نجاست یعنی یا رنګ اویا بُوی پر جامه یا بدن معلومیدی پریولو یه واجب دی. لکن په دی روایت هیڅ فقیه فتوی نه ده ورکړی. **فائده:** د مړی د غسل په وخت کی چی کومی اوبه

پربدن یا پرجامه د غاسل ممړی د پریوَلو د اوبو څخه ولویږی هغه عفوه دی. ولی د هغه
اوبو څخه د غاسل عثمان ساتنه وِیرِوګرانه دَه» اوچی دَغه غِسالة سره جمع شئ یعنی د مړی
څخه جلاهی بیا شئ په مرداریږی. داهلته چی پربدن د مړی نجاست وی اوکه د مړی
طهارت د بدن مُتیقن وُو بیا یه غساله پاکه دَه» ط ص ۱۲۶ »

مسئله: که مرداغوڑی پرجامه وَلویږه اولاًخوکه تر قدر د درهم کم وَه لکن وروسته
غوړو نشر وکړی. او تر قدر د درهم بالا سوله. امام مرغینانیؒ وَایِ چی اعتبار وخت
لره دا مصابت دی نو پس له انبساطه څخه هم مانع د لما څخه نه دی. که څه هم تر قدر معفو
بالاسی. اوا کثر عُلماء پردی خبره دی چی وخت لره دانبساط یه اعتبار سته. نوکی تر انبساط
د مخه په هغه جامه کښی لمونځ وکړی لمونځ یه روادی. اوکه پس له انبساط اوانتشار
څخه لمونځ وکړی نو دی ورسره رَوا» کذا فی السراج الوهاج ؛ مر ص ۱۲۶. **مسئله**: که
ئ بازار آب فاشی کړی وو اوسړی پرهغه لنده محکه تیر سُو. اوپښتی یر په هغو اوبُو
لنډی سوی لمونځ نه دی ورسره رَوا» لغلبة النجاسة فیه» **مسئله**: خښی
اوچکړ بازار یالاری چی نجاست هم پکښی وی. عفوه دی دَجهت څخه د ضرورت
مگرکی عین نجاست په پښو پوړی مښتی وو هغه عفوه نه دی» مر ص ۱۲۶. قال المصنف

وَلَوِ ابْتَلَّ فِرَاشٌ أَوْ تُرَابٌ بِنُحَاسَانِ مِنْ عَرَقٍ نَائِمٍ

اوکه لوند سو فراش یعنی د پریوشئ اویا خاوری چی د فراش او خاوری مرداری وی د خولی څخه

أَوْ بِبَلَلِ قَدَمٍ وَظَهَرَ أَثَرُ النَّجَاسَةِ فِي الْبَدَنِ وَالْقَدَمِ

د بیړه پرهغه فراش باندې. اویا لنډی سوی خاوری د لنډ والی څخه د پښتی د تلونکی اوښکاره سو اثر د

تَنَجَّسَا وَإِلَّا فَلَا

نجاست چی خوند اوبوی اورنګ دَی. په بدن کی د پراته سړی
پرفرش باندی اویا په پښو کی د تلونکی. نو یه بدن اوپښتی مرداری
سوی. اوکه اثر د نجاست نه سو ښکاره پُر بدن اوپر پښو نو بدن اوپښتی یر پاکی دی.

پوه سه: چی د بیده یعنی نائم څخه نفس پروت مراد دی که بیده وی اوکه ویښ وی.

كَمَا لَا يَنْجُسُ ثَوْبٌ جَافٌّ طَاهِرٌ لُفَّ فِي ثَوْبٍ نَجِسٍ

لکه چی نه مرداریږی هغه جامه چی وَچه وی اوپاکوی چی وپیچل سی د هغه. وَچه پاکه جامه په یوه بله جامه
کښی چی هغه مراد ره وی اولنده وی

رُطَبٍ لَا يَنْعَصِرُ الرَّطْبُ لَوْ عُصِرَ

اوپه داسی شان سره وی هغه
لنده مرداره جامه چی اوبه نه تری وزی کی چیری څوک و نښتیږی. ولی چی مُرداری هغه وَچی
جامی ته نه رسیږی. **پُوه سئ**: که چیری وَچه پاکه جامه په لنډی مرداری جامی کښی
وپیچل سی نو که دده اوبو جامو څخه په نښتی څلو څاڅکی تویَدله نو هغه پاکه جامه مرداره سوه
اوکه چیری دیوی څخه څاڅکی نه څخیدَله نو هغه پاکه جامه اوس هم پاکه دَه» دادوی مسئلی څو
اتفاقی دی» اوکه دیوی څخه څاڅکی تویَدله فَقَط نو امام حلوائیؒ وَایِ چی اعتبار هغه پاکی وَچی
له دی. یعنی دهغی څخه اوبه نه څخیږی نو هغه پاکه دَه کرخی هم د مرداری څخه اوبه راوزی.
لکن فتوی پردی دَه چی د نجسی جامی څخه یه نښتی څلو اوبه نه څخیږی نو هغه پاکه جامه پاکه
دَه» مر، ط ص ۱۲۶/۱۲۷ - قَالَ الْمُصَنِّفُ»

وَلَا يَنْجُسُ ثَوْبٌ رُطَبٌ يُنْشَرُ عَلَى أَرْضٍ نَجِسَةٍ يَابِسَةٍ

او نه مرداریږی هغه جامه چی لنده وی چی اوبه یه کړی هغه جامه پرداسی محکه باندی چی هغه مرداره وی
په بَولو وغیره سره چی هغه محکه ارس وچه وی. **فَتَنَدَّتْ مِنْهُ**، نو هغه محکه
نمناکه سی د هغی لنډی د جامی څخه یعنی هغه لنده جامه پاکه دَه. مگر هغه وخت مرداره دده که
اثر د هغه نجاست په دی لنده جامه کښی معلوم سُو» قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَلَا بِرِيحٍ هَبَّتْ عَلَى نَجَاسَةٍ فَأَصَابَتِ الثَّوْبَ إِلَّا أَنْ

او نه مرداریږی جامه په هغه باد سره چی د غه باد د اتیر سوی وی پر نجاست که وَچ وی اوکه لنده نو هغه باد و سره
یوی جامی ته مگر نه هغه وخت.

هغه وخت چې اثر د نجاست په هغه ثوب کې ظاهر سي، «وَالاثر ما تَرَ من ریح ولون وطعم» اثر هغه دری شیان دي چې ترې سړه

مسئله: که دسړي پر توګ د کُنې برابر یه لنده کونه چې پاکه یه پریولی وَه لُندوو او بیا یه پُرهغه لاندې هُغه ای پُسکی واچول، شمس الائمه «وائي چې په هغه پُسکی نور کالی هم مردار یږي. لکن فتوی پر هغه ده چې د هغه هم تیره سَوه چې پُسکی پاکه ده» قَالَ المُصنف

وَيَطْهُرُ مُتَنَجِّسٌ بِنَجَاسَةٍ مَرْئِيَّةٍ بِزَوَالِ عَيْنِهَا وَلَوْ بِمَرَّةٍ

او پاکیږي مردار شئ یعنی که بَدن وی او که جامه وی او که لوښی، په یوی مرداری سړه یعنی که غلیظ وی او که خفیفه وي. چې هغه نجاست په سترګو معلومیږي لکه وینې، او غُوَل وغیره، په زائیلیدو د ذات د هغه نجس کې خو هم په یوه وار پریولو سره دی **عَلَى الصَّحِيحِ** پر صحیح روایت، **پوه سه**: د صحیح په لفظ کښې اشاره واختلاف ترده هغه اسې چې فقیه ابوجعفر طحاوی وَایي چې پس له زوالِه څخه د عین دوه واړه نور پریولو غواړي. که غیر مرئیه نجاست چې یو وار پرې مینځل سي دوه واړه نور پریولو غواړي. او فخر الاسلام وَایي چې وروسته تر وال د عین دری واړه نور پریولو غواړي.

مسئله: که یوچا وینې وکښې او پر هغه ځای یه دری لاندې تو کران چې پاکوونکی وَه تیر کړه نور پریولو نه غواړي. **پوه سه**: چې نجاست مرئیه هغه نجاست دی چې په سترګو معلومیږي پس له وَچ والي. لکه غُوَل، وینې، وَغیره. او غیر مرئیه هغه نجاست دی چې پس له وچ والي په سترګو نه معلومیږي لکه بُولي. قَالَ المُصنف

وَلَا يَضُرُّ بَقَاءُ أَثَرٍ شَقَّ زَوَالُهُ

او ضرر نه رسوی وپاک وَایي ته پاته وَالی د هغه شي چې سخت وی زوال د هغه لکه رنګ د نجاست یعنی سړه د بقاء د اثره هم جامه پاکه ده، **پوه سه** چې سخت والی د اثر د نجاست هغه دی، چې ایشَولو او بوته ضرورت لري او یا صابُون وغیره ته ضرورت وَلري،

مسئله: که یوه جامه په مردار رنګ یه رنګ کړي وي، نو هغه جامه چې دوه پینځمې برخې اوبه صافي سي پاکه ده، او بعض فقهاءٌ چې پس له صاف والی د اوبو دری واړه بیه

چې اوبه صافي سي. **مسئله**: صابُون که مردار سو یعنی د ظاهرو خواڅخه نو چې پرې مینځې نور هم پاک دي، ط،

مسئله: که غوړي مردار سوه نو که یَخي وَه نو هغه د نجاست ځای دی غاړ کړي او ستنه دی کې هغه نور غوړي پاک دي. او که غوړي ویلي وَه. نو اوبه دې پُراچوی چې پر غوړي مړ پیړه سي او سړه وَدې ښوروی او بیادی اوبه کړار کړار ځندی توی کړي درې واړه چې دغسی وکړي نو غوړي پاک سوه، مد، ط، ص۱۲۷، **مسئله**: عسل که مردار سوه نو اوبه دی وړ واچوی او جوش دی وکړي چې اوبه یَه هَواسي. او عَسل پاته سي درې واړه دی دغسی **مسئله**: نوی لوښی د خاورو که مردار سوی دری واړه دی پرینځې چې په هره پلا کی خاښکی ودرینږي نو پاک دَی. او زوړ لوښی په مطلق پریولو سره پاکیږي

مسئله: هغه شئ چې ښوی وی او مردار سی لکه اِنداره، شیشه، هغه دی په محَلّه پوری وموږي پاک سُو. او نور لرګی که مردار سو بیرته دې ړنده پرتیره کړي. او زوړ لرګی په پریولو پاکیږي.

مسئله: کی په مردار او بو کښې غوښې واچولې په دیګ کښې او بیا یه غوښې په هغو اوبو کی جوش کړي. بیا ورته معلومه سَوه چې اوبه خو مردار ی وي. نو غوښې هنوز او می وی اوبه دی ځندی توی کړي او غوښې دې پرې مینځې. او که غوښې په مردارو اوبو کی پخې سوی یا هغه غوښې ابَدًا نه پاکیږي. او د امام ابویوسفؒ څخه روایت دی چې غوښې دی دری واړه په پاکو اوبو کښې جوش کړي او بیادی ښوروَا توی کړي غوښې پاکی دی، والفتوی علی الاول وهو قول ابی حنیفهؒ، ط، **مُهِمَّه مسئله**: کی چرګه یه حلالو کړي وَه. د مخه تر نسَ خیرلو او مرداری ایسته کولو یه جوش کړو. او بوته وړ واچوله چې بنرګی ځندی وَشکوني. او یا یه لرګی چې پریولی یه نه وُو د غه جوش کړو. او بوته وا چوله. او دومره زمانه یه جوش وکړي چې اوبه یه وداخل ته د غوښو ورسیدلې. نو هغه د چرګی غوښې یا لرګی ابَدًا نه پاکیږي.

الا عند ابی یوسف کما مر» اوکی دونه زمانه په جُوش اوبو کښی پریښولے چی صرف اوصرف ظاهر پو ستکی یه گرمسو او بنرکی سُستی سوی اوبیا یه راوکښله. په دری واره پریولو سره یه غوښی پاکیږی» کذا حققه الکمال ط ص۱۳۸ قَالَ الْمُصَنِّفُ»

وَغَيْرُ الْمَرْئِيَّةِ بِغَسْلِهَا ثَلَاثًا وَ الْعَصْرِ فِي كُلِّ مَرَّةٍ

اوپاکیږی غیر المرئیه نجاست یعنی پس له وَچیدو څخه چی په ستر گونه معلومیږی» لکه بولې په پریولو سره دری واره. اوپه نښتیځلو سره دری واره. **پوه سه**: چی اصلاً خو اعتبار غلبة الظن ته دغاسِل دی» لکن چونکه په دری واره پریولو سره د زړه اطمنان حاصلیږی نو څکه فقهاء دری واره شرط وگرځول **مسئله**: په پس خورده کښی دسپی چی په لوښی کی اوبه وَچښی چونکه اختلاف دی دمذاهبو نو څکه دری واره پریولرد هغه لوښی واجب دی او اوه واره سره دخاورو وَهلو مندوب دی» مر،

پوه سه: چی نښتیځل دری واره ظاهر الروایة دی» اوبعض فقهاء وائی چی یو وار نښتیځل کافی دی» وهذا ارفق بالناس» **مسئله**: کی هغه مُرداره جامه په جاری اوبو کښی کښیښول بیا نو دری واره والی او نښتیځل نه غواړی. **مسئله**: که دیوه سړی جامه خُوهمرداره وه لکن دده څخه یه محل اوځای د نجاست هیر سُو نو ده یوځای دهغی جامی پریولی که غور وکړی اوکه نه هغه پاکه سوه لمونځ ورسره روادی. لکن که پس له لمانځه ورته معلومه سوه چی هغه بَل ځای وو» نو هغه دی پریمنځی اولمونځ دی راوگرځوی

فائده: په دریم وار نښتیځلو کی دی هغه کوشش وکړی چی دجامی څخه نور څاڅکی نه داوزی. اومعتبر قوت دغاسِل دی نه دبل چا. نو یوه کمزوره سړی چی جامه و نښتیځل اوڅاڅکی کی بند سوه لکن که بَل چا یو قوی هغه سړی داجامه نښتیځلی وای نو ډیر څاڅکی څندی تویه دَله نو دَغه جامه واوَل سړی ته پاکه ده نه وهغه قوی سړی ته» کذا فی الدر المختار»

مشکل دنرو کالی چی مردارسی اوهغه کالی چی وکښل په بنځوئیه منځی نو بنځه خوئیه دغه جامه ونرته نه پاکه ده نه یه لمونځ په کښی روادی،

دری مشکل علاج دادی، چی دنر دجامی چی یوځای مردارسی. نُو دی دې هغه یه پریمنځی. **فائده**: مشهوره داده چی کمبله یا ستر نجی وغیره چی مرداره سی په جاری اوبو کښی دی یوه شپه ایښ دی. لکن دا تقدیر صرف اوصرف دد فعی وسوسی دپاره دی ورنه مختاره داده چی هغه مرداره کمبله وغیره په جاری اوبو کښی کښیږدی اوبه پرې بهیږی او سړی غالب گمان داوی چی نجاست خُندی وَلاړی هغه کمبله وغیره پاکه ده» ط ص۱۳۶ قَالَ

وَتَطْهُرُ النَّجَاسَةُ عَنِ الثَّوْبِ وَالْبَدَنِ بِالْمَاءِ وَبِكُلِّ مَائِعٍ

اوپاکیږی نجاست که مرئی وی اوکه غیر مرئی (لیدنکی او نه لیدنکی) دجامی اوبدن څخه په اوبو سره» په

مُزِيلٍ كَالْخَلِّ وَمَاءِ الْوَرْدِ

ماء (اوبو) مطلقو سره خو اتفاقاً پاکیږی اوپه مستعملو اوبو سره بناء پر صحیح چې مستعملی اوبه پاکی بولې. اودغه رنگه پاکیږی بدن اوجامه یعنی پر صحیح روایت په هر هغه نرۍ شی سره لکه اوبه، لکن چی هغه مائع پالنوی، کما فی الهدایة والمراقی» چی هغه مائع مزیل نجاست وی نو په غور و اوشید و سره نه پاکیږی. ولې چی هغه پخپله نه وزی دبدن اوجامی څخه نو نجاست به څرنگه وَباسی لکه سرکه، اودگل اوبه» **پوه سه**: چی دامام ابو یوسف څخه روایت دی چی نجاست دبدن نه څخه بیله اوبو نه دی روا» نو څکه موزن صحیح وویلې **پوه سه**: چی نجاست حکمی لکه بی اودسیا، یا جنابت بیله اوبو په بل مائع سره نه دی روا» **مسئله**: که جامه نرمه وه اوغاسِل په خپل قوت سره وَنه نښتیځل چی څیری به سی قاضیخان وائی چی نه پاکیږی. لکن فتوا پر دی ده چی پاکیږی په سبب دضرورت» دا مذهب بحر رائق او نهر فائق دی. **مسئله**: که دبنځی پرتِ کښنی قی وواهه» نو هغه کښنی په نار وسره چی دری واره یه وَروی تَی پاک سُو. **مسئله**: که دسړی خُوله یه شرابو سوه مرداره سوه - نو ناړی یه پرشوندا نو او خُوله تیری کړی اوهغه یه نس تر شوه کړی خوله اوشونډان یه پاک سوه» مر ص۱۳۰

وَيَطْهُرُ الْخُفُّ وَنَحْوُهُ بِالدَّلْكِ مِنْ نَجَاسَةٍ لَهَا جِرْمٌ وَلَوْ كَانَتْ رُطْبَةً

اوپاکیږی موزه اومثل دهغی لکه گوټ، چوټه، وغیره، په منبوولوسره یعنی یا پرمحکلو یا پرخاوره د هغه نجاست څخه چی هغه صورت لري. که څه هم دا نجاست لوند وی صورت والا نجاست هغه دی چی پس له وچوالی پرظاهر موزی پاته وی لکه غوړل، اووینی اوکی پس له وچوالی اثر نه معلومیدی هغه نجس ذی جرم نه دی. **پوه سه**: چی د مصنف د عبارت معنی دانده چی خف وغیره بیله دلکه (منبوولو) نه پاکیږی بلکه معنی یه داده چی په پرپوټو په اوبو یا بل مائع خو پاکیږی. بلکه په دلک (منبوولو) هم پاکیږی. او په خلاف د موزی دی جامه، اوبدن چی هغه په دلک نه پاکیږي، اودغه رنګه موزه وغیره د غیر ذی جرمه نجاست څخه بیله پرپوټو نه پاکیږي.

مسئله: کی پرموزه وغیره بولی وی اوهغه لنده وه سړی خاوری پرواچولی نو هغه بولی به جرم والا کی حساب دی چی په منبوولوسره مثلاً پاکیږی. بحرالرائق **پوه سه**: چی په لاندی نجاست کی اختلاف دی. د حضرة الامام الاعظمؒ څخه روایت دی چی لوند نجاست ترهغوچی وچ نشی په منبوولو په محکله پوری نه پاکیږی، ولی چی منبوول خو نجاست پیره وی لیری کوی خو یه نه. لکن اکثرمشائخ پردې دی چی لوند نجاست هم په دلک سره پاکیږی. وهوالمختار للفتوی. لکن په دلک کی داشرط دی چی اثرد نجس به ورکیږی مګر نه کم شکل وو. والدلیل علی المختار. قوله علیه الصلوٰة والسلام، اِذَا وَطِئَ اَحَدُکُمُ الْاَذٰی بِخُفَّیْهِ فَطَهُوْرُهُمَا التُّرَابُ، ترجمه: که چا لاندی کړی ترموزو نجاست یعنی کم وچ وی اوکه لوند پس پاکوالی د موزو خاوری دی، وقوله علیه السلام: چی څوك ورسی ومسجد ته نوم وګوری که چیری په چوټو پوری مرداری وه هغه دی په محکله پوری وموږی اولمونځ دی په کښی وکړي. **پوښتنه**: ټن صبا ولی خلك په بوټو اوچوټو کښی لمونځونه نه کوی اوسره د دې چی دا فعل په کراتو مرات د آنحضرت صلی الله علیه وسلم څخه صادر سوی دی حتی په ښنی زمانه کی که څوك د بوټو سره بی ضرورته لمونځ وکړی خلك په بد نظر ورته

جواب چونکه په اوسنی زمانه کښی په اکثرو مساجدو او جامع ګانو کښی مفروشات موجود دی لکه ستر نجی اویا غالی وغیره. نو د هغود چتیل والی د سبب په خلګ د ګوتو و غیره سره لمونځ نه کوی. **مسئله**: په طحطاوی ص۳ کښی وائی چی مستحب دی لمونځ کول په پاکو چوټو کښی مثلاً، قال المصنفؒ.

وَيَطْهُرُ السَّيْفُ وَنَحْوُهُ بِالْمَسْحِ

اوپاکیږی توره او مثلاً د توری لکه چاړه، چاقو اندازه، اوغوړ لوښی، اوخراد سوی لرګی اونوك، په مسح کولوسره په خاوره یا په ټکر. ولی چی په دغوشیانو خو نجاست نه ننوزي. نو پس له مسح نه پاتیږی مګر لږ د هغه نجاست او هغه ته اعتبار نشته،

اِخْتِلَافُ الْعُلَمَاءِ

بعض علماء وائی چی دغه شیان پس له مسحی څخه حقیقةً یعنی واقعی پاك سوه. نو که په هغه چاړه یا توره، ختکی یا هندوانه، وغیره مات کړی خوړلی یه روادی. واختاره الاسبیجابیؒ. او بعض فقهاء وائی چی په مسحه کولوسری نجاست لږ یږی نو د هغوم ذکوره شیانو خوړل حرام دی. اودا روایت مختاره د قدوری دی، اوروایت اول لائق بالاعتبار دی. ولی چی متونو د فقه څرګند پرهغه دی. والاحتیاط فی مذهب القدوریؒ. قال المصنفؒ فی المراقی چی فرق نه لري کم نجاست لوند وی اوکه وچ وی. اوکه بولی اوکه غوړل. علی المختار للفتوی، ولی چی صحابه وو به کفار په توره وژل او بیا بی په ټوکر یا خاور و مسح کړی. اولمونځ بی وړه کول. اوبعض علماء وائی چی دغه شیان د مسح کړی په لنده جامه کم نجس وچ وو، قال المصنفؒ

وَإِذَا ذَهَبَ أَثَرُ النَّجَاسَةِ عَنِ الْأَرْضِ وَجَفَّتْ جَازَتِ الصَّلٰوةُ عَلَيْهَا دُوْنَ التَّيَمُّمِ مِنْهَا

اوکه وړلاړی اثر د نجاست چی بوی اورنګ دی. د محکی څخه اومحکه وچه سوه لمونځ پرې روادی. **پوه سه**: چی د محکی قید د دې دپاره پردی محکه نه تیمم د دې محکی څخه

دی چې کالې او بدن (او بوردیاء، وغیره. په نفس وچیدو سره نه پاکیږي. او هغه محله چې وچه سوه نو لمونځ پرې روادی. لقوله علیه الصلوة والسلام، «أیما أرض جفت زکت» یعنی هر محله چې وچه سوه پاکه سوه» (او تیمم نه دی روا پرهغه محله روا» ولې چې خدای جل جلاله وایې: فتیمموا صعیدا طیبا» ای ظاهرا» او بعض علماء وایې چې تیمم هم پرې روادی» (او په صورت کښې د شك تیمم بلاشبهه روادی» ولې د طهارت د محلې اصلي حال دی. **مسئله**: که چیرې یوې محله په ډبرو یا په پخو خښتو فرش کړې وي او هغه فرش مردار سوه هغه حکم د محلې لري یعنی په وچیدو د پاره د لمانځه پاك دی. او که چیرې خښته یا ډبرې په محله کښې نرۍ نصب سوی هغه پریوله غواړي په جفاف (وچوالی) نه پاکیږي کذا (فی القهستانی، ومنیة المصلی، وشرحها للحلبی وابن امیر الحاج» ـ ط ص ۱۳۱.

مسئله: که چاقو، یا توره، زنګ زده وه. او یا نقشونه په کښې وه هغه خواه مخواه پریوله غواړي. **سوال**: قدوري وئیلي دي چې هغه مذکوره شیان چې په لمر وچ سي نو پاك دي. او مصنف مطلق وچوالی وروایه **جواب**: د قدوري قول بناء پرعادت دی چې د غوشیانو په وچیدو کې لمر دی. او په حقیقت کښې که دغه شیان په او رمثلاً وچ سي هم پاك دي. قال المصنف.

وَيَطْهُرُ مَا بِهَا مِنْ شَجَرٍ وَكَلَاءٍ قَائِمٍ بِجَفَافِهِ

او پاکیږي هغه شئ چې په محله کښې وي» د درختي څخه او کلاء یعنی واښه. شپیشنی شوتل وغیره چې په محله کې ولاړ وي په وچیدو سره د هغو. **پوه سئه**: چې مراد وچیدو څخه وچیده د هغه نجاست دی. یعنی چې لندوالی د هغه نجاست نه وي پاته» دا مراد نه دی چې هغه درخت یا واښه به وچیږي. او دا هم شرط دی چې اثر د هغه نجاست به هم نه وي پاته» دا مذهب مختار دی چې د دې شیانو حکم د محلې دی. او بعض علماء وائي چې دغه شیان پریوله غواړي»

اللهم اغفر لمولفه ولکاتبه ولوالدیهما وقد کتبه بیده فضل الحق حقانی غفرله

وَتَطْهُرُ نَجَاسَةٌ اِسْتَحَالَتْ عَيْنُهَا كَأَنْ صَارَتْ مِلْحًا أَوْ

او پاکیږي هغه نجاست چې تغیر او خوړې ذات د هغه لکه چې وګرځي مالګه او یا خاوری. او یا وسوځي په اور یعنی ایرې سي. په دلیل د دې چې حقیقت د

اِحْتَرَقَتْ بِالنَّارِ نَجَاسَتْ بَدَلْ سَوْ او هم دغه صحیح دی. او د دی مثال دا دی چې

او په د انګورو په منګی کښې شراب سي. نو خو مره دا دی» یا چې مالګه وروا چوي او سرکه وګرځي پاك دی» ولې چې حقیقت یه بدل سوی

مسئله: که د غوښو خونې، تښتی، مکان، بخار وکړي چې څاڅکی څندی روا لوبدل او یا د حمام د بام څخه په سبب د بخار څاڅکی روا تویه دله. هغه مردار نه دی استحسانا. او که پخپله د نجاست څاڅکی روا تویه دله هغه مردار دی»، مر. اود هغه مرغ چې غوښې یه مردار وي. هګۍ یه څوك وائي حلال ده. او بعض وائي مردار ده» **فائده**: د نجاست حقیقت چې بدل سي پاك دی. غرض په کښې دا دی چې بیا نفع په احتمال روا دی. وهذا قول محمد وعلیه الفتوی» ط ص ۱۳۲ خلافا لابی یوسف. قال المصنف.

وَيَطْهُرُ الْمَنِيُّ الْجَافُّ بِفَرْكِهِ عَنِ الثَّوْبِ وَالْبَدَنِ وَيَطْهُرُ الرَّطْبُ

او پاکیږي منی یعنی محل د منی، چې وچ وي، کړه نرۍ او که د نبځی، په ګرو ولو

بِغَسْلِهِ سره پلاس باندې چې متفرق سي د جامې څخه یعنی که څه هم نوی وي. او د بدن څخه، وهذا ظاهر الروایة» او که منی لنده وه بیا په پریوله پاکیږي» لقوله علیه السلام اغسله رطبا وافرکیه یابسا» **پوښته**: د دغه حدیث په دغو الفاظو سره په ثبوت نه دی رسیدلی محله کمال وائي الله اعلم بصحته. **جواب**: روایت د حدیث په معنی سره روادی کما فی اصول الحدیث. نو د دغه حدیث هم معنی په صحیح حدیثونو کې راغلی دی. په بخاری او مسلم کې راغلی د عائشه رضی الله تعالی عنها څخه چې دی به پریوله منی د جامې څخه د رسول الله صلی الله علیه وسلم، او په مسلم کې د عائشه څخه داسی روایت هم راغلی دی

لَقَدْ رَأَيْتَنِي وَانَا لَا حِلُّهُ مِنْ ثَوْبِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَابِسًا بِظُفُرِي

ترجمه: ما خان لیدلی دی چی ما به گرو ول منی دجامی څخه د علیه السلام چی وچر به وه په نوکه سره. اوورته روایت بزار او دارقطنی هم کړی دی. اوهم زمونږ د مذهب سره امام مالک او امام احمد موافق دی» ط ص ۱۳۲ **مسئله:** دغه جلمه چی منی څندی وگرو ول سول بیاکه په اوبو لنده سول څه حکم یه دی **جواب** "بیاهم پاکه ده، ولی چی یو پاک شی چی اوبه دی دبل پاک شی سره ملاقی سی چی هغه جامه ده چی منی څندی گرو ول سوی ده نه مردار یږی لکه مرداره مخکه چی وچر سی او پاکه سی اویا لنده سی نه مردار یږی» اویا مردار پوست چی په لمر سره پوخ سی اوبیا لوند سی نو مردار یږی

حضرت ایوبی ته

دافغان خدمت دی وکړ ایوبی
ببله شکه چې وارث یه د نبی

افغانان تن ټول په تا باندی ویاړ کاندې
پرافغان، پر پاکستان پر جرمني.

تل دعادی د صحت دخدایه غواړی
شاګردان دی پر مسجد نبوي

چی دی دین وافغانانو ته آسان کړ
داخدمت دی رب قبول کړ کند هاری

داتاریخ به دی وی تل وموږ ته پاتې
مؤلف، مصنف، جهاني

نهمه شمله دسر اوچته ستاپه مهر
دااحسان دی تل منمه حقاني

فصل

يُطَهَّرُ جِلْدُ الْمَيْتَةِ بِالدِّبَاغَةِ الْحَقِيقِيَّةِ كَالْقَرَظِ وَبِالْحُكْمِيَّةِ كَالتَّتْرِيبِ وَالتَّشْمِيسِ

پاکیږی پوست د مردار یې - په حقیقی ډول لوسره لکه په باریکو، چی خلک غږګی اوړی په ډول اوده ږنګه په حکمی ډول لکه چی خاوری پرواچوی اووچ یه کړی. اویا په لمر تی کښیږ دی اووچ سی. **پوه سه:** چی دفیل په پوستکی کی اختلاف دی لکه بحر الرائق چی وائی چی امام محمد فیل نجس العین بولی لکه سرکوزی. نو په دباغ سره نه پاکیږی. اوحضرت الامام الاعظم امام ابو یوسف وائی چی حکم د پوست دفیل حکم لکه د پوستو نورو درندو ګانو دی لکه لیوه، پرانګ گیدړ، اونور چی په دبغ ډول لوسره پاکیږی. وَقَدْ افْتَى بِمَذْهَبِهِمَا الْفُقَهَاءُ - اوهم ودغه مذهب مصنف په مراق کی ټلی دی. اودلیل یه هم دا اوئیلی دی. چی آنحضرت صلی الله علیه وسلم سره اوبه مبارکه ښ منګول په داسی ښ منځ چی د فیل د هډوکی څخه جوړی سوی وه.

مسئله: سپینی د بعضی علماوو په نیز نجس العین دی. لکن بحر الرائق د وهابیانو څخه نقل کوی چی سپینی نجس العین نه دی. قال الطحطاوی وعلیه الفتوی» قال المصنف

اَلْجِلْدَ الْخِنْزِيرِ وَالْآدَمِيِّ

منګر نه پاکیږی پوست د سرکوزی اوده انسان ولی د سرکوزی ذات نجس دی» اود انسان پوست په سبب د کرامت نه پاکیږی د استعمال د پاره. **پوه سه:** چی پوست د سرکوزی نه پاکیږی او نې استعمال روا دی. او پوست د انسان خو پاکیږی لکن استعمال یې روا نه دی په سبب د کرامت» وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ» نو دې ایت په مقتضی د کافر انسان د پوست هم عین حکم دی. **سوال:** مصنف ولی خنزیر تر آدمی د مخه ذکر کړی **جواب** چونکه د اځای د اهانت وو نو ورو سته راوړل د آدمی د پاره زیبا دی.

پوه سه: چې استثناء دخنزیر او آدمي په یوه وړل (سبب) نه ده بلکه استثناء دخنزیر په سبب د نجاست او د عدم جواز د استعمال ده. او استثناء د آدمي په سبب ثاني سر نه په اول سر وهلې د تکریمه سره د آدمي منافات لري» نقله الطحطاوي عن الزيلعي في شرح الكنز»

وَتَطْهُرُ الذَّكَاةُ الشَّرْعِيَّةُ جِلْدَ غَيْرِ مَا كُولِ دُونَ لَحْمِهِ

اوپاکوي ذبح کول چې پرشرعي وړل وي پوست د غیر ماکول اللحم لکه چغال، گیدړ، لیوه، پرانګ، وغیره نه غوښې په پراصح مذهب چې فتوی پرې کول کیږي. **پوه سه**: چې مصنف قید د ذکاة شرعي وړایه» په دې سره یې د ذبح د مجوسي او تارك التسمية عمدًا او ذبح د محرم سره د بیګا ځنې لرې، یعنې هغه په ذبح کیدو نه پاکیږي» **فائده**: بحر، اتق د مجتبی او قنیه څخه نقل کړي دي چې ذبح د مجوسي او تارك التسمية عمدًا طهارت پیدا کوي یعنې که د سړي سره د هغه حیوان غوښې موجودي وي لمونځ ورسره روا دي» که څه هم خوړل کیږي نه، لکن په تنویر کې وائي چې شرط والي د ذکات شرعي هوالاظهر» هم دي سببه مصنف وويل علی اصح ما يفتى به» قال المصنف»

عَلَى أَصَحِّ مَا يُفْتَى بِهِ

وَكُلُّ شَيْءٍ لَا يَسْرِي فِيهِ الدَّمُ لَا يَنْجُسُ بِالْمَوْتِ كَالشَّعْرِ

اوهرهغه شئ یعنې داجزاء څخه د حیوان ماسوا د خنزیر څخه چې جریان په هغه کښې نلري وینه

وَالرِّيشِ الْمَجْزُورِ وَالْقَرْنِ وَالْحَافِرِ وَالْعَظْمِ مَا لَمْ يَكُنْ فِيهِ

هغه جزء په موګ سره که څه هم بې ذکات شرعي وي نه مردارېږي. لکه ویښته او بوښکي چې **دسم** پریکړه سوی وي» او بنکر، اونوك د حیوان اوادوکي چې چربي نه وي پکښې او د غږ نګه مشوکه د مرغانو او یا نوکان د مرغانو **پوه سه**: چې بوښکه که د بیخه راوباسي نو بیخ یې نجس دي. نو مصنف دي سببه مجزور وويله» م» ص ۱۳۵

فائده: مصنف په مراقي کې علت د طهارت د غوښيانو» عدم وجود الدم په غوښيانو کښې وئيلې دي» اوصاحب هدايه عدم نجاست د غوښيانو په سبب دي وئيلې چې د غه شيان ميته نه دي. ولې چې ميته په عرف کې د شرعي شرطونو په حيوانانو کې هغه ئې نه وائي. چې حيوة او ژوندیه نرائيل سي نه په فعل د بندګانو» او يا په فعل د بنده پرې وجه غير مشروع باندې. او په مذکوره شيانو کې ژوند نسته نو نجس هم نه دي. قال المصنف»

وَالْعَصَبُ نَجِسٌ فِي الصَّحِيحِ

اوپله د حيوان غير ماکول نجسه ده. يعنې لمونځ نه دي ورسره روا. په صحيح روايت کې. ولې چې په دې ژوند په کښې سته چې د ژوندي حيوان څخه ئې قطعه کوي خو ويريږي. او بعض فقهاء وائي پاکه ده. دوي وائي چې پله د قسمه نجسه دهغه وخت ده چې سخته نه ده» قال المصنف» **وَنَافِجَةُ الْمِسْكِ طَاهِرَةٌ**

او هغه پوستکي چې په هغه کې په الهي قدرت سره مشك جوړيږي پاك دي که څوك لمونځ ورسره وکړي لمونځ يې روا ګڼي» لکن مردار يې په رسيدو او بو» مر» قال المصنف

كَالْمِسْكِ وَأَكْلُهُ حَلَالٌ

لکه خو دې مشك چې حلال دي اتفاقًا او خورل د مشکو هم حلال دي

سوال: چې مشك حلال دي نو خورلو ته يې معلومه اړه حلال دي نو څه حاجت دي و دې قول ته د مصنف چې» وَأَكْلُهُ حَلَالٌ» **جواب**: دا ملازم غلطه ده ولې چې خاوند پاك دي او خورل يې حرام دي. **تنبيه**: بعض بنځې يا نر د اولياء کرامو قبر ته ورځي او د قبر خاوري يې خوري دا حرام کار دي. قال المصنف»

وَالزَّبَادُ طَاهِرٌ تَصِحُّ صَلٰوةٌ مُطَيَّبٌ بِهِ

او زباد پاك دي او صحيح دي لمونځ د هغه سړي چې د زباد خوشبويي يې په ځان پورې مښلې وي. ولې چې زباد د خپل طبيعت څخه اوښتې ده» لکه چې مشك په اصل کې وينه ده **پوه سه**: چې زباد پروژن د سحاب دي» صاحب القاموس وائي چې زباد يوه خيره ده لاندې ترکي د پيشي، يا د ميش خرما» او اخيره پر

پرمخ خو د غولوسر ببره پیدا کیږی چی رفته رفته ډیره سی. نو هغه حیوان ډیر نه ښوری نو
وروسته د غه خیره په قدرت د خدای جل جلاله خوشبوئی وګرځی. بیا یه نو خلك په
ټوکه کړی کړاو کښی چندې ټوله کړی او ځان او ځامی په خوشبویه کوی» قاموس»

درویش باګناه محمد عبید الله ایوبی قندهاری نقشبندی سلیمانخیلی غفرله الباری ولدځی مصنف «کتاب الطهارات» پردی ځای پای ته ورساوه. او درویش حسب الطاقت د هغه شرح او ترجمه وکړه. همدا اوس مصنف په مقصود اصلی چی لمونځ دی شروع کوی، درویش عاصی د لوی دربار څخه غواړی چی وده ته د کاملی ترجمی او شرح د باقی کتاب ورکړی «وما ذالك على الله بعزيز» او درویش د باری عزوجل د دربار څخه د نبه صحت او عافیت غوښتونکی دئ

مناجات اقتباسی

از محمد عبید ایوبی قندهاری. حضور جناب رب الغرب الباری

الهی یا الهی یا الهی — ندارم جز امید تو پناهی — ز کن موجود کردی جمله عالم — ترا باشد همیشه بادشاهی.
ز حق وحرمت ذات کریمت. — مرا از ذنب خود کن عذرخواهی — گناهم گر ز حد بیرون است — نباشد پیش لطفت برگ کاهی.
چنین گفتار حیرانم خدایا. — بدرگاه تو آوردم پناهی — ندارم توشهٔ راه قیامت — بجز شرمندگی و روسیاهی.
ز خواب غفلتم بیدار گردان. — که شد عمرم در یغ غفلت تباهی. — فتادم درمیان چاه غفلت — برونم کن از یاس تاریک چاهی.
ز خدایی ز شر نفس و شیطان. — بسوی خویشتن بنمای راهی. — ندارم طاعت مقبول درگاه — بجز اشك ندامت آه و آهی.
ز ببوشان عیب این عاصی بغفلت. — بحق آنکه شاهان را تو شاهی. — دم آخر که جان از من برآید — بکن از لطف خود سویم نگاهی.
ز بحق و حرمت قرآن اعظم. — مکن شرمنده ام در حشرگاهی. — شفیع آورده ام روی محمد — کرم کن بر من و گم کرده راهی.

عبید گوید که چون فضلت عمیم است
بدان فضلت ببخش عاصی راگناهی.

اللهم اغفر لمؤلفه ولشارحه ولمترجمه ولكاتبه ولوالديهم اجمعين امين ثم امين

کتبه احقر العباد فضل الحق حقانی غفرله.

کتاب الصلوة

د کتاب دی په بیان کښی دلمانځه یعنی هر لمونځ چی وی که فرضی وی که نفلی وی.

مقدمه: پوه سه: چی لمونځ هغه عبادت دی چی هیڅ شریعت د هغه څخه خلاص نه دی راغلی، او په هیڅ شریعت کی دا نه شته لمونځونه بل نبی ته نه دی جمع سوی نو دا مجموع یوازی لمونځونه د خواصو څخه د آنحضرت صلی الله علیه وسلم دی. او د غه رنګه اذان او اقامت او شروع د لمانځه په تکبیر سره او د غه رنګه رکوع په لمانځه کی او حرام والی د خبرو په لمانځه کی د خواصو څخه دامت مرحومه دی، قاله جماعة من المفسرین ط، وهكذا قال السیوطی فی انموذج العلوم، او امام طحاوی په شرح معانی الآثار کښی د عبید الله بن محمد او هغه د عائشه دا سی حدیث نقل کړی دئ. چی توبه څرنګه د آدم په وخت کښی د سپید وقبوله سوه نوده دوه رکعته لمونځ وکړئ. نو دا صلوة الصبح سو:

دلمونځونو اوقاتو تعیین: اوله وخت چی اسحق د حلالید و څخه په قدیه خلاص سو د اوخت ما بین وو، نو ابراهیم څلور رکعته وکړه دا صلوة الظهر سو، اوله وخت چی عزیز پس له زوال کاله د خوب څخه بیدار سو هغه وخت ما زدیګر وو. نوده څلور رکعته لمونځ وګذاره دا صلوة العصر سو، او د داود توبه په وخت کښی دما بنام قبوله سوه، نوده څلور رکعتو لمانځه نیت وکړی د خدای پاك په قدرت د جهته څخه د پیری څرا د څلور رکعته څخه عاجز سو نو یه پردی رکعته سلام وګرځاوه. دا صلوة المغرب سو، او اول چی ماخستن لمونځ سره دامت کړی دی هغه آنحضرت صلی الله علیه وسلم دی.

پوه سه: چی صلوة په لغت کی دعا ته وائی او په شرع شریفه کی د د غو افعالو لوانکانو مخصوصه وونوم دی. **فائده**: لمونځونه په شپه د معراج کی چی لیلة الاسراء یه بولی فرض سوی دی. دا مذهب دی د لوئی ډلی د محدثینو او د مفسرینو او د فقهاؤ او د متکلمینو دی، وهو الحق قاله القاضی عیاض ط، او معراج د آنحضرت صلی الله

علیه وسلم ترهجرت دمخه یوکال واقع سوی دَه» قاله النوویؒ اوابن حزمؒ دااجماع
خبره بُولی» اوتاریخ دمعراج یوجماعت دعلماءوڈانی چی دلمړی خور ۲۷ شپه دَه» لکن په
یقلو سناړو کښی عمل پردی دی چی دمعراج نیټه ۲۷ د رجب دَه» اوپه دی سَره یقین کړی دی
امام نوویؒ»

حکمتِ الٰهی: لمونځ خدای جل جلاله په داسی وخت کښی فرض کړی دی
چی دآنحضرت صلی الله علیه وسلم زړه مبارک په اوبو دزمزم سره پُری وَله سُو اودی
مبارک په حضرت مقدسه الٰهی کښی تراوُ واسمانونو پوری ته سُو، لمونځونه په اول کښی پنځوس
وه اوبیا په دَغه شپه کښی پنځوته ړد سَوه. په لاړ سبوونه دَحضرت موسیٰ علیه السلام
تفصیل ددې موضوع په حدیث کښی د بخاریؒ اود نورو محدثینو په کتابونو کښی
موجود دې. نوده موجوده وَخت اومکان په سَبب دَلمونځونو ډیرلوی فضیلت معلوم
سُو. قال السعدی الشیرازیؒ ؎ چنان گرم درتسبه قربت براند: که درسدره جبریل ازو باز ماند.
بدوگفت سالارِ بیت الحرام: که ای حاملِ وحی برترخرام: بگفتا فراتر مجالم نماند: بماندم که نیروی بالم نماند.
اگر یکِ موی برتر پرم: فروغ تجلی بسوزد پرم:. قال علیه السلام: ثم زج بی فی النور فخرقت
بی سبعون الف حجاب آه والتفصیل فی روح البیان فی تفسیر قوله تعالیٰ سبحان الذی اسری بعبده الآیة

پوه سَه: چی وتر واجب دې د پنځو فرضو څخه علاحده دې اود فرضو اوواجبو
ترمابین فرق هغه دی چی په اصول الفقه کی بیان سوی دَی. یعنی چی په عمل کښی
دواړه سره برابر دی چی پریښودونکی یې مرتکب ده کبیره گناه دی لکن په اعتقاد کښی فرق
سَته یعنی منکرد فرضو کافِر دی اومنکرد واجبو کافِر نه دی.

پوه سَه: چی د پنځولمونځو یوه فائِده شکرد مُنعم حقیقی رب جل وعلا دی. او بله فائده
یه بخښنه ده ځکه چی په حدیث کښی چی راغلی دی چی آنحضرت صلی الله علیه وسلم و
خلګوته وویل چی تاسی خبر یاکړی چی که چیری یوه والا په دروازه کښی دیوه ستاسی بهیږی
اودی غسل په کښی کوی هره ورځ پنځه واړه آیاد هغه سړی پربدن به خیره پاته سی خلګو
ورته وویل یا علیه السلام ورته ووایل چی دَغه دی حال د پنځولمونځو چی خدای محو

کوی په مغفوره گناهونه. **پوه سَه:** چی اصلی سبب لمونځو خطاب الهی دی. لکن
سبب ظاهری یه دا پنځه وختونه دی. قال المصنفؒ»

وَيُشْتَرَطُ لِفَرْضِيَّتِهَا ثَلَاثَةُ أَشْيَاءَ الْإِسْلَامُ وَالْبُلُوغُ وَالْعَقْلُ

اوشرط دی دپاره د فرض والی د لمونځو یعنی چی بنده په مکلف کیږی. دری شیان دی یواسلام دی ولی چی په
عملی شیا نوهغه وخت سَری مکلفه کیږی چی مسلمان وی اوبالغ والی دی یاپه احتلام اویا
په عُمر. ولی چی کَچنی مرفوع القلم دی یعنی مکلف نه دی. اوبل عقل دی یعنی لیونی به نه وی وله
چی تکالیفی الهیه په عقل پوری تړلی دی.

ښهانه فائِده: امام طحطاویؒ په ص۱۳۸ کښی وائی چی مختار خبره داده چی آنحضرت
صلی الله علیه وسلم د مخه ترنبوّت په شریعت دهیڅ نبی مکلف نه وُو. ولی چی دی مبارک
د مخه ترِ رسالت په مقام اوُرتبه کی دنبوّت وو اوهیڅ نبی امتی نه وُو. لکن په الهام
صادق اوپه کشف لائق به وَدَه مُبارک ته بعض اعمال دشریعت ابراهیمی کشف کیدله اوپه
هغه به یه عمل کاوه» قال المصنفؒ:

وَتُؤْمَرُ بِهَا الْأَوْلَادُ لِسَبْعِ سِنِينَ وَتُضْرَبُ عَلَيْهَا لِعَشْرٍ بِيَدٍ لَا بِخَشَبَةٍ

اوامرکړه کیږی به په لمونځو سره اولاد که ترُوی اوکه بنځی پراوُه کاله
لَا بِخَشَبَةٍ یعنی چی اوه کاله یه عمرُ سی. اووهل کیږی به پرلمونځو یعنی پرنه کولو چی
دَلمسو کالو سی. لکن په لاس یعنی په چیلاخه یا په سوکه نه په لرګی یا لکړه وغیره دوهلو
پدلاس سره سبب دَادی چی زجر سی د ترکه څخه دلماڼځه اود بیلما نځی سره عادت نه سی.
اوپه لرګی چی نه وی رفقاً وشفقةً علیهم» اوترڅو ضربی بالا دی، وهې.
وفی الحدیث الصحیح، قال علیه الصلوٰة والسلام: مُرُوا اَوْلَادَکُمْ بِالصَّلٰوةِ لِسَبْعٍ وَاضْرِبُوْهُمْ
عَلَيْهَا لِعَشْرٍ وَفَرِّقُوْا بَيْنَهُمْ فِي الْمَضَاجِعِ» تاسی امرکوی اولاد ستاسو» په اوه کلنی کښی
اوتاسی وَهی دوی پر لماڼځه کولو باندی، په عمرکی د لسو کلنو اودوی سره جلا کړی په

ځایونکی دپریوتو **پوه سه**: چی دا اهل یه واجب دی کما فی تنویر الابصار» ط «قال

وَاَسْبَابُهَا اَوْقَاتُهَا وَتَجِبُ بِاَوَّلِ وَقْتِهَا وُجُوْبًا مُوَسَّعًا

اواسباب دَدغو پنځو لمونځو دا پنځه وختونه دی. اووجیبیدی لمونځونه په اول دوخت سره مګر وجوب یه فراخه دی. یعنی تراخیر پوری دوخت، حتی چی په اول دوهم درېیم وخت کی اداء نه کړی د تارك الصلوٰة قدر ګناه یه نه ده، مطلب دادی چی تراخیر دوخت یه خپل اول روادی. لکن په اخیرکی دوخت اداء احتمالاً لازمه ده چی تاخیر تر هغه ګناه کبیره ده»

فائده: په نورالانوار اونورو معتبرو کتابو کښی وائی چی اکثر مشائخ د فقه او اصولو پردی دی چی سبب ده لمانځه هغه جزء دی دوخت چی په هغه پوری اداء جوت سی مطلقاً که اول وی اوکه دوهم، وغیره. نوکه سړی د دخول سره دوخت فی الحال لمونځ وکړی نوهغه جزء اول سبب دده د لمانځه دی. اوکی په اول جزء کښی اداء نه کړی نوسببیت وه دوهم جزء ته نقل کیږی ثم وثم الی اخر الوقت. نوپه اخیر دوخت سببیت ختم سو حتماً به لمونځ اداء کوی. اوکی فرضاً په اخیر وخت کښی هم نه کی اداء اووخت وروتی بیاد قضاء د پاره تپوله وخت سبب دی.

ددی فائدی تعریفات: که څوك په اول کښی دوخت لیونی وواویا بیهوشه وه. اوپه اخیر کښی دوخت پرسد سو. هغه لمونځ پرلازم دی» ولی چی سبب یه موجود دی. اوبنځه حائضه یا نفساء وه اوپه اخیر کښی دوخت پاکه سوه لمونځ پرلازم دی. اوکه نابالغه کښی بلوغ ته ورسیدی په اخیر کی د وخت اود غه رنګه کمرتد مسلمان سو په اخیر کښی دوخت» کرخم په دی تپولو صورتو کښی اخیر دوخت ناقض لکه دمازدیګر وخت په نیز د ظهر والی د لمر» نوپه دی تپولو صورتو کښی که سړی لمونځ اداء کړی ذمه فارغ سوه. اوکی نه کی اداء د قضاء د پاره یه تپوله وخت سبب دی. د دی نتیجه داده که دغو خلګو دمازدیګر لمونځ په وخت مکروه کښی اداء کړی غاړی خلاصی دی بیله کراهته. اوکه ماسوا د دغو خلګو دمازدیګر لمونځ وځنډوی بیله عذره تر وخت مکروه پوری

اوبیا یه په وخت مکروه کښی اداء کړی خلاصی دی لکن سړدکراهته. اوکه هغه نوم وړی لمونځ دمازدیګر لمونځ قضاء کړی. نوهغه قضاء په بل وخت کی به په کامل وخت کښی نه اوړی ولی چی وخت ووزی بیا خوسبب د قضاء تپوله وخت دی اوتپوله وخت دمازدیګر خو اکمل دی په اعتبار دا کثر اجزاء» نوهغه لمونځ کامل واجب دی لازم سو، نوپه وخت ناقص کښی قضاء نده صحیح» **پوه سه**: چی مراد اخیر وخت په نیز د اکثر فقهاؤ په هغه مسئله قدر دیوی تحریمی دی. وقیل غیر ذالك والتفصیل فی کتب الاصول»

فائده: که څوك تارك الصلوٰة وو. اوبا ك یه نه په کاوه. فاسق دی حکومت اسلامی دی بندی کړی څو پرلمانځه استقامت کوی. قاله السید وقال الامام المحبوبی یُضرب حتیٰ یسیل منه الدم» ترهغودی وهی چی وینه څندی ولاړه سی. اوپه لمانځه کښی نیابت یعنی وکالت نسته» قال المصنف.

وَاَوْقَاتُهَا خَمْسَةٌ وَقْتُ الصُّبْحِ مِنْ طُلُوْعِ الْفَجْرِ الصَّادِقِ

اووختونه د پنځو لمونځونو پنځه دی. یعنی اول وخت د سحار د لمانځه دی د ابتداء څخه د راختو د صادقو

اِلٰی قُبَیْلِ طُلُوْعِ الشَّمْسِ»

سپیدو بیا تر هغه دی دهغه د راختلو لمر.

سوال: مصنف باید اول دماپښین وخت بیان کړی وای. ولی اول لمونځ چی جبرئیل و آنحضرت صلی الله علیه وسلم په جماعت ورکړی. هغه دماپښین لمونځ وو کما فی البخاری وغیره. **جواب**: هو لکن مصنف چی د سحار د لمانځه وخت د هغه کړی په دی سبب چی په اول او اخیر کښی دهغه اختلاف نشته بخلاف الصلوٰة الأخر» کما سیأتی» ویمکن الجواب: په دی سره چی آنحضرت صلی الله علیه وسلم چی اعرابی ته د لمونځو وختونه ورښودل شروع د سحار د لمانځه دوخت څخه وکړه «کذا فی البنایه» والاحوط فی الجواب» داده چی د سحار لمونځ اول د پنځو لمونځو دی په فرض والی کښی» په اتفاق د علماوو ولی چی هغه د سحار لمونځ د لیلة الاسراء دی» لکن علیه السلام د هغه قضاء نه راوړه ولی چی وجوب الاداء موقوف دی پر علم د کیفیت او د کیفیت

علم ورسول الله صلی الله علیه وسلم ته په امامت د جبرئیل علیه السلام حاصل سو.

پوه سه: چې صبح صادق هغه نور دی چې په کناره کې د اسمان نشرسی په پسارو او صبح کاذب هغه رڼادہ چې تر افق لوړه پیدا سی او بیا بیرته ورکه سی. **مسئله:** په مجمع الروایات کې د امام حلوانیؒ څخه نقل کړی دی چې اعتبار په حق کښې د لمانځه اوله وخت اول لږ د ظهور درنړادی. اود حضرت الامام محمدؒ څخه روایت دی. چې اولی لمعنیه اعتبار نسته بلکه معتبر انتشار فی الافق دی. لکن احتیاط په قول اول کې دی. اوپه قول ثانی کښې وسعت دی. «والله اعلم وعلمه اتقن واحکم».

پوه سه: چې اهل الریاضی لکه تصریح او شرح چغمینی والا وائی چې صبح کاذب اوصادق ده تاثیره څخه د نړی والې د لمر دی وافق شرقیه ته. اوامام همام فخرالدین رازیؒ سره دوی چې په ریاضی ووکښې ید طولیٰ لري «داسې وائی چې صبح یو نور دی چې خدای جل جلاله پیدا کوی. په دغه وخت مخصوص کې اوند دی دغه نور د تاثیر څخه د لمر اوند هم د جنس څخه د نور د لمر دی». قهستانی. **پوه سه:** چې امام طحطاویؒ ساعات د ورځې په دغو نومانو یاد کړی دی. یعنی د غرفی ورځې، الشروق، البکور، الغدوة، الضحیٰ، الهاجرة، الظهیرة الرواح، العصر، العشیة، الاصیل، العشاء، الغروب، اود شپې د ساعتونو مان یې په دی دول راوړی دی، الشفق، الغسق، الغدوة، العتمة، السدفة، الجنح، الروبة، الزلفة الهزیع، السحر، الفجر، الصبح، فعلیك بالتقسیم علی اللیل والنهار. قال المصنف

وَوَقْتُ الظُّهْرِ مِنْ زَوَالِ الشَّمْسِ إِلَىٰ أَنْ يَصِيرَ ظِلُّ كُلِّ شَيْءٍ

اودوهم وخت د مابین دی چې هغه د زوال څخه د لږ مابین څخه د اسمان شروع کیږی. بیا تر هغه وخته پورې

مِثْلَيْهِ أَوْ مِثْلَهُ سِوَىٰ ظِلِّ الْاِسْتِوَاءِ وَاخْتَارَ الطَّحَاوِيُّ الثَّانِيَ

وَهُوَ قَوْلُ الصَّاحِبَيْنِ

چې سایه د هرشی دوه مثله د هغه شئ ګرځی اویا یو مثل د هغه پردواړه تقدیر د ما سوا د هغه سایه څخه چې په وخت کښې

د زوال د لمر موجوده وی. **فائده:** چونکه د پیښاور آباده څخه د خط استواء څخه شمالی واقع ده. نو په وخت کښې د لمر د نصف النهار ته څه ناڅه سایه موجوده وی د غې سایې ته فیئ الزوال وائی. اود سایه په شهور شمسیه ووکی په طول او قصر سره مختلفه کیږی «کما فی کتب الریاضی».

د زوال آسانه ښوونه

اول څکړ حسب الطاقت ښه برابره کړه. اویا یو سم لرګی په هغه څکړ کښې ښخ کړه. نو وګوره چې سر د سایې د لرګی چیرې دی پرهغه علامه وکړه. اویا یو وار وګوره که سایه د علامې څخه ډ لرګی وخواته مخ پر کمیدو وه نو لمر د مابین ته د اسمان چې نصف النهار رورته وائی نه دی رسیدلی اوزوال هم نه دی سوی. اوچې چیرې سایه حسب الظاهر ودریده. داوخت د استواء بولی او قیام الظهیره یې هم بولی. اورسیده ونصف النهار ته یې هم بولی. بیا د سایې پرسر علامه وکړه اود هغې علامې څخه خط کش کړه تر بیخ د لرګی ودغې سایې ته فیئ الزوال وائی اوسایه اصلی یې هم بولی.

بیا چه سایه د هغه خط څخه د مشرق وخواته ولاړه «لمر زوال وکړی او اول وخت د ما بین داخل سو» کذا فی الظهیریه والبحر الرائق، والطحطاوی. وشرح الچغمینی وغیره. **پوه سه:** چې د غه بیان د پاره د اسانۍ پر مسلمانانو دی. ورنه حقیقت علم د استواء اود زوال په خدای جل شانه پورې خاص دی». په صحیح حدیث کښې راغلی دی چې یو وخت جبرئیل امین علیه السلام په وخت کښې غرمې په مجلس انور کښې د رسول کریم صلی الله علیه وسلم حاضر وو. علیه السلام پوښتنه وکړه چې لمر زوال کړی دی که نه! جبرئیل علیه السلام ورته وویل لا نعم، یا هو. علیه السلام ورته د جواب حیران سو. پوښتنه یې وکړه. جبرئیل علیه السلام ورته وویل چې په وخت کې د تلفظ د «لا» لمر زوال نه ووکړی. چې زه د د غه لفظ څخه فارغ سوم، لمر زوال وکړی. نو د دې وجهې څخه متمثل په «لا» پورې چې «نعم» ووایه.

اللهم اغفر لمؤلفه ولکاتبه ولوالدیهما امین.

بنهانه فائده: پوه سه چی امام اعظم څخه په اخیر وخت کی دما پښین دوه رواړه راغلی دی. اول روایت دا دی چی اخیر وخت دما پښین ترهغه وخته پوری دی چی سایه دشی د هغه ویوه مثل ته نژدی سی. یعنی پریوه مثل باندی سی سوا د فئی الزوال دما پښین د لمانځه وخت ختم سو. د مازدیگر اول وخت شروع سو، په دی روایت سره امام ابی یوسف. اوامام محمد احسته کړی دی یعنی فتوا یه په ورکړیده اوامام ابوجعفر الطحاوی چی اعلم د خلگو دی په مذهب د ابو حنیفه وائی: وبقولهما نأخذ، اوپه قول دیارانو موږ عمل کوو. وفی البرهان قولهما وهو الاظهر»

اوبل روایت د حضرت امام اعظم څخه چی روایت یه حسن بن الزیاد کړی دی داسی راغلی دی چی اخیر وخت دما پښین ترنژدی پوری د دی ده چی سایه د شی دوه مثله د هغه شئ گرځی بیله سایه اصلی اثر د دی. یعنی چی سایه دوه مثله ته ورسیده دما پښین وخت تیر سود مازدیگر وخت داخل سو. مصنف په مراقی الفلاح کی داسی وائی: وهو الصحیح وعلیه اجل المشائخ والمتون» یعنی دغه روایت صحیح دی اوپر دغه روایت باندی د ډیرو مشائخ دی اومتون کتابونه د فقهی حنیفی دی. او مصنف په دصحت دا دلیل وئیلی دی» لتعارض الاثار» یعنی په اخیر وخت کی د ما پښین احادیث نبویه متعارض دی. هغه تعارض دادی چی په یوه حدیث کی چی روایت یه امام بخاری او مسلم کړی دی داسی راغلی دی» ابردوا بالظهر فان شدة الحر من فیح جهنم» ترجمه: تاسی په څنگی کی کوی د ما پښین لمونځ ولی چی سخت گرمی د جوشه څخه د جهنم ده» یعنی وبدن ته د سړی تاوان رسوی. اوپه دی کی شک نسته چی سخته گرمی د عربو په وطنو پریوه مثل باندی ده. اوپه بل حدیث کښی چی متفق علیه دی. اواوږد حدیث دی چی جبرئیل علیه السلام ته د لمونځو وختونه وروښوول په اوله ورځ کی چی سایه د ځپریوه مثل تیره سوه دستی د مازدیگر لمونځ ورکړی نوچون دغه دوه حدیثه متعارض دی. اودا قانون شرعی دی چی یوشئ چی په یقین سره ثابت سی په شک سره نه باطلیږی. نوبناءً علی هذا د ما پښین د لمانځه وخت خو پس له زواله په یقین اواتفاق سره داخل وو اود یک چندی سره و پای ته په رسید وکښی شک پیدا نو

کړی په شک سره وخت نه ووزی نو وخت تر دوو چندی ته قریب باقی دی.

کرانو مسلمانانو: که څوک غواړی چی د ما پښین لمونځ اودمازدیگر لمونځ په اتفاق دائمه وو د مذهب صحیح سی. نو داسی دی وکړی چی د ما پښین لمونځ دی په یک چندی کښی اداء کړی. ولی چی امام اعظم خو د ما پښین لمونځ په یک چندی کښی بالکل صحیح بولی. اوپه یارانو خوپه صحیح بولی چی بولی. اوبیا دی د مازدیگر لمونځ ورته تر دوو چندی وکړی. ولی چی ورو سته تر دوو چندی خو مازدیگر لمونځ په اتفاق روا دی.

بشارت، په اکثرو بنارو کښی دافغانستان د علماوو څخه ای جل جلاله پرده وی رحم وکړی پرواح هم دا عنسی دی. **شکایت**: چونکه په حرمینو شریفینو کښی د مازدیگر لمونځ متصل دیک چندی په تیریدو سره اداء کوی. هغه کسان د حنفیانو نو څخه چی سخت درنړه دی حتی بعض علماء د دغه د مازدیگر لمونځ په دغه لوی جماعت کښی چی په لکو مسلمانان په کښی حضور لری» په جماعت نه کوی دوی وائی چی د اخو د ما پښین وخت دی نو د مازدیگر لمونځ نه دی په کښی روا»

درویش وائی: چی که دغه د مازدیگر لمونځ پس له دغه وقت مذکور کی حاجیان صاحبان اداء کړی یک لخته د مذهب څخه وتل دی. ولی تاسی د هغه ولور یدل چی د امام اعظم څخه دوه روایته موجود دی. نو څه حرج او گناه ده که سړی په مراعات د فضیلت د دې لوی جماعت او بیا د حرمینو په مسجدینو کی. په روایت د امام ابو یوسف او امام محمد بن الحسن الشیبانی عمل وکړی. ترڅو چی بیرته خپل وطن ته راځی. د اخو د درویش خپله نظریه وه نور د خلگو خو بنه ده» و للناس فیما یعشقون مذاهب» د تعصب لاره بنده نه ده» لکه یو کتاب فروش چی په باره کښی د شهادة الحسنین چی د فقیر تصنیف دی د غه د تعصب لاره خپله کړه. او د وه نه د رواغ او بهتانونه په پرده رویش وئیلی دی» چی هر عالم په هغه پوهیږی. د ده خیال خو د او وچی نړۍ په دی بهتانو نو سره خپل نوم لوړ کړی. لکن هم دا اوس دلویه نجاحت سره او پښیمانی سره مخامخ دی» ولی چی درویش د خپل کار تفویض وخدای جل جلاله ته کړی. او کوی یه. او د بسمنا نو څخه خپل مکافات

نه غواړي. بلکه د مکافات وکيل يې هم رب جل سلطانه دئ. اوده غه کتاب بفروش ځکه
اوشرمندګي چې د طالبانو اونور و مخلصانو د خوا پرده تيره سوې يا به تيريږي د بيان
ورنه ده. وَعَذَابُ الْآخِرَةِ أَشَدُّ وَأَبْقَى، قَالَ المصنفُ.

وَوَقْتُ الْعَصْرِ مِنِ ابْتِدَاءِ الزِّيَادَةِ عَلَى الْمِثْلِ أَوِ الْمِثْلَيْنِ إِلَى غُرُوبِ الشَّمْسِ

او ابتداء د وخت د مازديګر د ابتداء څخه د ړ يا تر وب د سايې دشئ ده پريږده مثل او يا دوه مثله
يعنې پر اختلاف د مذهبينو بيا تر وخته پورې د لمر. ولې چې په صحيح حديث کښې ړ اغلی دی، مَنْ
أَدْرَكَ رَكْعَةً مِنَ الْعَصْرِ قَبْلَ أَنْ تَغْرُبَ الشَّمْسُ فَقَدْ أَدْرَكَ الْعَصْرَ، اوهغه چې د حسن
ابن الزياد څخه ړ روايت دی، چې لمر ژ پسود مازديګر وخت خارج سُو هغه محمول پر وخت د
اختيار دی يعنې مختاره اوښه وخت يې تير سُو.

پوښتنه: چې مراد د غروب څخه د لمر لويدو د ټولو ټيکی د لمر ترافق دی. لکن چې
کی. ولې چې غروب د لمر ترافق په واقع کی په علم کښې د خدای ده جل جلاله، وَالتَّكْلِيفُ
بحسب الوسع وَالطَّاقَةِ، وعلامة ذالك اقبال الظلمة من جانب المشرق كما فى التحفة،

مسئله: کله لمر ولويدی او ښکته خرق العاده ړ اپورته سو. د مازديګر وخت ړ اګرځی او
که نه؟ **جواب**: هو ړ اګرځی كما فى الدر المختار، په دليل د هغه حديث چې
آنحضرت صلى الله عليه وسلم، يوه وَرځ مازديګر چې لمونځ يې کړی وو. په وخت کښې د نن ولاړ
وحی سره پر وړاند د حضرت علی کرم الله وَجهه ايښی وُو او حضرت علیؓ د مازديګر لمونځ
نه وو کړی. څه وخت چې عليه السلام بيداره سُو حضرت علیؓ عرض ورته وکړ چې ما د مازديګر
لمونځ نه دی کړی اولمر ړ اسه ولويدئ. عليه السلام په دغو الفاظو دُعا وکړه: اَللّٰهُمَّ اِنَّهُ
كَانَ فِي طَاعَتِكَ وَطَاعَةِ رَسُولِكَ فَارْدُدْهَا عَلَيْهِ فَرُدَّتْ عَلَيْهِ حَتَّى صَلَّى الْعَصْرَ، يا الله

په تحقيق سره علیؓ په طاعت کی ستا او په طاعت د رسول ستا وو. پس راوه ګرځوی لمر
نو لمر بيرته راوختی حتی چې علیؓ د مازديګر لمونځ وکړی، او د احديث طبرانی په سند
حسن سره روايت کړی دی، اوامام طحاوی هم صحيح بالله دئ. او قاضی عياض هم صحت
تاته پر ګډولی ده: نو سبط ابن الجوزی خطا وتلی دی چې د احديث په په موضوعاتو کښې راوړی
دی. كذا فى النهر،

خُدائ لره دی حمدوي: ګرانو وروره د ولیش هغه خبره چې په دغه عنوان
په وکړه. ګرانو مسلمانانو آه د پيره پښه وار خطا ئ او بيره سره هغه وخت وکړه ولې چې د فقير
د خيال ووچې دا ده نظر يه ده، لکن ورو سته فقير روايت د اسدؓ چې مبسوط نقل
کړی دی و ليدی چې د هغه عبارت دادئ. اذا خرج الوقت بصير ورة الظل مثله لا يدخل
وقت العصر حتى يصير ظل كل شئ مثليه فيها وقت مهمل فالاحتياط ان يصلى الظهر
قبل ان يصير الظل مثله والعصر بعد مثليه، ليكون مؤديا بالاتفاق، انتهى. واختاره الكرخى
وقال شيخ الاسلام انه الاحتياط كما فى السراج، ط، قَالَ المصنفُ.

وَالْمَغْرِبُ مِنْهُ إِلَى غُرُوبِ الشَّفَقِ الْأَحْمَرِ عَلَى الْمُفْتَى بِهِ

يعنې اول وخت د مابنام د غروب څخه د لمر دی تر نږدی پورې د لويدو د سره شفق پر هغه مذهب
چې په هغه سره فتوی ورکړه کيږي. **پوښتنه**: چې په احاديثو مبارکه وو کی لفظ د شفق
ړ اغلی دی، لکن شفق په لغت کی هغه سُرخی ته هم وائ چې پس له غروبه څخه د لمر په
افق کښې د مغرب ښکاريږي. او هغه سپين والی ته هم وائ چې ورو سته تر شفق احمر په
افق مغرب کښې ليدل کيږي، اذا عرفت هذا، نو....

پوښتنه: چې حضرت الامام الاعظم وائ چې د مابنام ی لمانځه وخت تر نږدی پورې
د شفق ابيض د لويدو او ونډ دی دئ. او هم دا قول دی د ابوبکر الصديقؓ او د عائشهؓ صديقی
او د انس بن مالکؓ او د معاذ بن جبلؓ او د ابی هريرةؓ او يو روايت د ابن عباسؓ څخه هم دئ
او د غه تابعين عمر بن عبد العزيزؒ او امام اوزاعیؒ او داؤد الظاهری تللی دئ.

اود اهل لغتو څخه المبرد او ثعلب هم تللی دی. اوشفق احمر مذهب د صاحبینو دی، وهو
روایت عن الامام الاعظم ایضاً. اوپه بعض کتابو کښی وائی چی حضرت الامام وقول
ته دیارانو رجوع کړی ده، اومصنف په قول دیارانو فتوی ورکړیده. حتی په مراقی کی
وائی: وعلیها الفتوی، وقال وهو مروی عن اکابر الصحابة ؓ. لکن سره ددی
بحر رائق وقول ته د امام اعظم ډیر کلکه ترجیح ورکړیده: فارجع الیه،
اوکمال الدین بن الهمام هم وقول دحضرت الامام الاعظم په ډیر اوښده عبارت ترجیح
ورکړیده. اوحضرت الامام الطحطاوی هم دمذهب دامام اعظم طرف دار معلومیږی
حتی پردی قول دمراقی « وهو مروی عن اکابر الصحابة ؓ » په رد کړی دی په دی الفاظو
سره، قد علمت ان مذهب الامام مروی عن اکابر الصحابة ؓ نساءً ورجالاً، اوپردی
قول ده مراقی، وعلیه اتفاق اهل اللسان، په داسی رد کړی دی. قد علمت ما اختاره المبرد
وثعلب وهما من اکابر اهل اللغة، اوپردی قول دمراقی چی وائی: ونقل رجوع الامام الیه
داسی رد کړی دی چی دا صیغه د ضعف ده. لپس پر رجوع دامام یقین نشته، قال المصنف

وَالْعِشَاءُ وَالْوِتْرُ مِنْهُ اِلَى الصُّبْحِ

او ابتداء دوخت دماخستن دلمانځه
اووترو دغروب څخه د شفق احمر یا ابیض دی علی الاختلاف الذی مَرَّ ذکره، بیاتر
نیمدی پورې د صبح یعنی صبح صادق **پوهسه**: چی په ابتداء کی دوخت دماخستن
دلمانځه خواختلاف ستة. مګرپای دوخت یې په اجماع سره قبیل الصبح دی.
پوښتنه: په حدیث کی دامامت دجبرئیل علیه السلام داسی راغلی دی چی په
دوهمه شپه جبرئیل علیه السلام دماخستن لمونځ په ثلث اللیل کی والحضرت صلی
الله علیه وسلم ته په امامت ورکړی. اومصنف وخت دماخستن دلمانځه وخت ترسپیدو
پورې بولي. مراقی ددی پوښتنی په جواب کی داسی وائی: وحدیث امامته جبرئیل ؑ لاینفی
ماوراء وقت امامته، یعنی حدیث دجبرئیل دانه نفی کوی چی ورسته تر وخت دامامت
دده دی نور وخت هم وی، ولی چی اجماع الامة المرحومة بیان تاو اوریدی.

اوپه دلیل دوجوب دوتروهغه حدیث دی چی آنحضرت صلی الله علیه وسلم فرمائی
« اِنَّ اللّٰهَ قَدْ زَادَكُمْ صَلٰوةً اَلَا وَهِيَ الْوِتْرُ فَصَلُّوهَا بَيْنَ الْعِشَاءِ الْاٰخِرَةِ وَالصُّبْحِ، او
په دی حدیث سره تعیین دوخت دوترو هم وسو. یعنی چی ترماخستن تر لمانځه مخه
نه دی روا. فلذا قال المصنف »

وَلَا يُقَدَّمُ الْوِتْرُ عَلَى الْعِشَاءِ لِلتَّرْتِيبِ اللَّازِمِ

یعنی نه د مخه کړه کیږی
صلوة الوتر پر لمانځه دماخستن په سبب دترتیب لازم په مابین کښی دغو دوو
لمونځو یعنی چی دماخستن لمونځ پروتروډ مخه دی. لکه چی مذکور حدیث دلالت پرکوی.
فائده: دوترو لمونځ واجب یعنی فرض عملی دی په نیزد امام اعظم او سنت
مؤکد دی په نیزد یارانو، اوپه نیزد یارانو وتر دماخستن دلمانځه سره په ابتداء کی
نه دی شریك بلکه اول وخت دوترو پس لدماخستن دلمانځه څخه شروع کیږی.
نوترد دوی په مذهب کی یوه رکعته سنت دماخستن دی،

ددی اختلاف فائده: که دیوسړی دماخستن لمونځ هیرو او وه چی
ویل ماکړی دی نوتر یه وکړه نو ورو سته یه دماخستن لمونځ ورپیاد سو نوهغه یه هم
اداء کړی، نوپه نیزد امام اعظم هغه دمخه وتر کافی دی. اوترتیب په سبب دعذر
دنسیانی ساقط سو. اوپه نیزد یارانو وتر به بیرته راوګرځوی. ولی تبعه دماخستن د
لمانځه دی اووخت یه هم ورو سته دماخستن تر لمانځه داخلیږی نوهغه دمخه تروتر
قبل الوقت دی اداء کړی، قال المصنف،

وَمَنْ لَمْ يَجِدْ وَقْتَهُمَا لَمْ يَجِبَا عَلَيْهِ

اوکه چا نسوای پیدا کولای وخت
دماخستن دلمانځه اووقت
دوترو نود ماخستن لمونځ اووتر پر هغه سړی نه دی واجب. ولی چی سبب دوجوب
دلمانځه وخت دی اودې سړی وخت نه کی پیدا دغو دوو لمونځو، داځای د بلغاریا
په نامه یادیږی چی صقالیه وو سنارد ځی. اوقطب شمالی ته ډیر نزدې دی. اوډیر

ږخ ځای دی. ولې چې پردې باندې په میاشتو میاشتو د څې په زمانه کښې لمونځ راخیږی
اودوی په ډې تر څلکه لاندې په حمامو کې ژوند کوې. نو پردغو څلګو باندې په کوتاه
شپوکې د کال یعنې د اول سرطان څخه تر څلویښت ورځو پورې. لمر پردوی بنکاره وی ۲۳
تخمینًا ساعته اومرف یوساعت تخمینًا غروب کوې. نو پردوی په دغو ورځو کې د شفق
دلوېدو د مخه یا یوځای صبح صادق راچې نو دما ښتن دلما ښتر اووتړو وخت نسته،

پوه سکه: چې په شرح چمنې کې وائی. چې په وخت کښې د سپید و لمر تر افق ۱۸ درجې
کښته وی اوبه اخیر د شفق هم ۱۸ درجې لاندې وې ۱۸ درجې تخمینًا په یوه ساعت او
۱۳ - دقیقه کې لمر قطع کوی په حرکت د فلك الافلاك چنا نچه (۳۶۰) چې ټوله دور د
د فلك دی چې پر څلیرویښت ۲۴ چې ساعتونه د شبانه روز دې تقسیم کړې. ۱۵ و ر سیږی
نوحصه دیوه ساعت ۱۵ درجې ده - اودیرش درجې چې په اتلسو ۱۸ کې بالادی تخمینًا ۱۳ دقیقې
کیږې. دا یو ساعت او ۱۳ دقیقې د صبح کاذب څخه حسابول کیږې.

مسئله: که وړځ دومره اوږ ده وه لکه کال یا میاشت یا هفته خلك به څو لمونځونه کوې
لکه د دجال د ظهور وخې چې مسلم ده، نو اوس بن سمعان وائی اوده یه روایت کړی دی چې
آنحضرت صلی الله علیه وسلم د دجال ذکر کاوه اووی فرمایلې چې د دجال اوسیدو به په
محکه کښې څلویښت ورځې وی یوه ورځ یه لکه د بل وخت کال اوبله ورځ یه لکه د بل
وخت میاشت اوبله ورځ یه لکه د بل وخت هفته اونوری ورځې یه د نجوا په شان د بې
خلګو یعنې صحابه ؓ وو پوښتنه وکړه چې په دغه ورځ کې چې لکه کال وی ایا د یوی ورځې
لمونځونه کافي دی یعنې پنځه لما ښځه آنحضرت صلی الله علیه وسلم ورته ووېل لا، بلکه
وختونه به حساب کوې. یعنې یا په اټکل یا په نورو آلاتو لکه په دی زمانه کښې ساعتونه

وَلَا يُجْمَعُ بَيْنَ فَرْضَيْنِ فِي وَقْتٍ بِعُذْرٍ

اونه جمع کیږی دوه فرضی لمونځونه په یوه وخت کې یعنې جمع حقیقی د دوو لمونځو فرضونو د
په یوه وخت کښې نا روا ده که جمع د تقدیم وی. ولې چې هغه مقدم لمونځ قبل الوقت ناجائز

دی اوله جمع د تاخیر وې. ولې چې هغه موخر لمونځ بعد الوقت ادا ئې نه سی کیدلای.
په هیڅ عذر - سره لکه باران، یا مرض، **سوال**: په حدیث شریف کښې چې روایت
په بخاری او مسلم دواړو کړی دی داسی راغلی دی چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم
په سفر کې جمع د ظهر او عصر کړی ده یعنې جمع تقدیم او جمع د مغرب او عشاء یه کړی ده
یعنې جمع د تاخیر، او په یوه بل حدیث کښې راغلی دی چې آنحضرت صلی الله علیه
وسلم و مسافرته اجازه د جمع کولود لمونځو ورکړی ده **جواب**: مراد د جمع سی
په دغو حدیثو شریفو کې راغلی ده جمع صوری او ظاهری او عملی ده، یعنې اول لمونځ ګله
ما پښین ده مبارک تر اخیره د وخت وځنډوی. نو څه وخت چې هغه لمونځ په ادا کړی
دوهم لمونځ ګله ما ز دیګر چې وخت داخل سی په اول وخت کښې ادا کړی په سفر کښې دا سی
کول آسانې ده چې دوه واړه قطع د سفر نه غواړې.

او دلیل پدې خبره هغه حدیث دی چې روایت یه بخاری او مسلم چې شیخان یه ګډ ولې
دواړو کړی دی د عبد الله بن مسعود ؓ څخه چې داسی وائی: وَالَّذِي لَا إِلٰهَ غَيْرُهُ مَا
صَلَّى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلٰوةً قَطُّ إِلَّا لِوَقْتِهَا إِلَّا صَلٰوتَيْنِ جَمَعَ بَيْنَ
الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ بِعَرَفَةَ وَبَيْنَ الْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ بِجَمْعٍ، ترجمه: قسم په هغه خدای
دی چې نسته خدای بیله ده چې نه دی اداء کړی رسول الله صلی الله علیه وسلم لمونځ
هیڅ وخت بیله خپل وخته مګر دوه لما ښځې چې جمع یې وکړه د ما پښین او ما ز دیګر یعنې چې
جمع تقدیم په عرفات کې او جمع یې کړه د ما ښام او د ما ښتن یعنې په جمع تاخیر سره په
جمع یعنې په مزدلفه کښې،

ګرانو ورونو او خوندو: داوو مذهب د حنیفیانو ؒ او حضرت الامام الشافعی ؒ
جمع حقیقی د لمونځو په سبب د عذر د سفر یا باران
وغیره روا بولې. هم تقدیم د لما ښځه تر وخت او هم تاخیر، او بعض خلك خصوصًا حاجیان
چې وائی مونږ په سفر و کښې د امام شافعی ؒ په مذهب عمل کوو کرغه هم مونږ د حنفیان
یو هغه غلط کار دی. مګر هغه وخت صحیح دی چې ټوله مذهب د امام شافعی ؒ پرځای

لازم وگرځوي. يعنى په امام پسى چې ولاړ وى قرائت د الحمد لله به کوي. او کې ذکر کړي او دس به مات بولي. کې مانيه مسر کړه يا به نجه ځندى واخسته او دس به مات بولي. وغير ذالك من مذهب ذالك الامام. او په اجماع د خلور و سره امامانو د اغلط کار دى چې په خلورو مذهبو کښى تلاش کوى چې هر کار چې آسانه وى په هغه عمل کوى. او چې په هر مذهب کې گران حکم وي. هغه پريږد دي. دې ته حکم ملفق وائي او هغه باطل دى کما فى ديباجة الدر المختار، وهو الاصح من مذهب الامام مالك وغيره. قال

اِلَّا لِلْحَاجِّ فِي عَرَفَةَ بِشَرْطِ الْاِمَامِ الْاَعْظَمِ

مګر د حاجيانو د پاره يعنى نور بل چا د پاره. د عرفات په ميدان کښى يعنى نه په بل ځاى کې. په شرط د دى چې حاجى په عرفات کې لمونځ په جماعت د لوى امام سره ادا کوي. چې بادشاه د وخت دى اويا يه نائب وي. نو کې په عرفات کې لمونځ يوازى کاوه که څه هم حاجى وى جمع ورته نارواده. او يا يه په خيمو او طاقو کښى په بل امام پسى په جماعت لمونځ کاوه هم جمع ورته ناجائزده.

وَالْاِحْرَامِ

او بل په شرط د احرام يا په حج او يا په عمره. نو که سړى د مکى شريفى مثلاً اهلى سړى وو او احرام بنده نه وو. پس که څه هم په عرفات کې وى. او د امام اعظم سره لمونځ په جماعت کوى جمع د لمونځو ورته جائز نه ده.

پوه سه: چې د اغلو شرطه د صحيح والي د جمع د لمونځو مذهب دى د امام اعظم ابو حنيفه. او يارانو والي چې منفرد ته هم جمع روا ده. په برهان کښى والي چې مذهب د يارانو اظهر دى. لكن عام متون او فتاوا و کتابونه پر مذهب د امام اعظم دي. قال

فَيَجْمَعُ بَيْنَ الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ جَمْعَ تَقْدِيمٍ

پس جمع دى وکړي حاجى په مابين کښى د ما پښين د لمانځه او د مازديګر لمانځه په جمع سره د تقديم يعنى د مازديګر لمونځ دى د تر وخت د مخه کړي. او په اول وخت کښى د ما پښين دي اداء کړي.

مسئله: دا د وه لمونځونه حسب العادة القديمة په مسجد نمره کښى د عرفات ادا

کيږى. او يو اذان د وه اقامته غولږي. تا چې خلك په دوهم اقامت سره پوه سى چې بل لمونځ شروع کيږى. او د دى دوو لمونځو په مابين کښى د هيڅ فصل نه ورکوى نه په نفلو حتى نه په دوو رکعته د ما پښين د سنتو هم. قال المصنف

وَيَجْمَعُ بَيْنَ الْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ جَمْعَ تَاخِيرٍ بِمُزْدَلِفَةَ

او جمع والى حاجى په مابين کښى د ما بنام د لمانځه او د ماخستن د لمانځه جمع د تاخير يعنى د ما بنام لمونځ دى وخندوي تر وخته پورى د ماخستن. او د اجمع په مزدلفه کښى کيږى چې دى دوه ځاى نوم دى چې د عرفات څخه تخمينًا ٣ درى ميله فاصله لرى.

مسئله: په دى جمع کښى د مزدلفه يوازى اويو اقامت غواړي.

مسئله: د دى جمع د پاره صرف مکان شرط دى. چې مزدلفه ده او احرام شرط دى. او جماعت او امام اعظم شرط نه دى.

مسئله: د دې دوو لمونځو ترمابين به هم نفل او سنت او بل کار نه کوي، او کې چيرى نفل يا بل کار وکړى اقامت به را اګرځوي. او په نيز د امام نه فرض اذان به هم را اګرځوي. قال

وَلَمْ تَجُزِ الْمَغْرِبُ فِي طَرِيقِ مُزْدَلِفَةَ

او نه دى روا د ما بنام لمونځ په هغه لار کې چې د عرفات څخه مزدلفه ته راځى کيږى چيرى د ما بنام لمونځ په لار کښى وکړى بيرته بې په مزدلفه کښى را اګرځوى. په حديث شريف کښى راغلى دى چې يو سړى د ما بنام لمونځ په لار کښى کاوه. رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته ووې ويل، الصلوة امامك، يعنى ځاى د ورغلما نځ په مخ کې دى چې مزدلفه ده.

مسئله: که سړى د ما بنام لمونځ په عرفات کې وکړى هم نه دى روا. نو قيد د طريق اتفاقى دى.

استدراك: د رويش په جمع کولو کې د ظهر او عصر اسى ووې ويل چې سنة الظهر به هم نه ادا کوى د اظهر المذهب وو. کما فى النهر، لكن علامه ملا مسكين د سنة الظهر په باره کښى والي چې هغه دى اداء کوي.

سؤال: چې ظاهر المذهب هغه اول وو نو دى استدراك ته ضرورت وو،

جواب: حاسدان د ريدې وهم خبره ته گوته نسى والي چې

عبید الله په فلانی مسئله کښی خطا وتلی دی. دوی ظاهر المذهب اوروایات شاذه، نه
سره پیژنی. ولنعم ماقیل ؎ چشم بداندیش که برکنده باد - عیب نماید هنرش در نظر.
؎ هم بحسد وننی وشر الناس کلهم: من عاش فی الناس یوما غیر محسود
پوه سه: چې مصنف چې اصلی وختونه د پنځو لمونځو بیان کړه. هم دا اوس وخت
مستحب دی دغو لمونځو پر مذهب د امام اعظم بیا نوې. قال المصنف

ویستحب الاسفار بالفجر

اومستحب دی ترڅرنړا پورې ځنډول د سحار لمانځه. بعض امامان د اسفار
په اوریدلی وی نود سحار لمونځ داسی وخت کوی چې د لمر د راختو سره بیخی شور غالی وی، داسی
کول مکروه دی. **بلکه اندازه د اسفار داده**، چې که چیرې په اخیر ناسته کې فساد
د لمانځه ښکاره سی، بیرته داغه لمونځ د سحار لمونځ په قرائت مسنونه سره تر لمر ختو د مخ
راګرځولای سی، قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: اسفروا بالفجر فانه اعظم
للاجر، وفی حدیث اخر: نوروا بالفجر یبارك لکم، اوعلاوه پردې وخت د سحار
لمانځه چونکه وخت د خوب اوغفلت دی نوپه اسفار کښی دیر والی د جماعت دی. او
فقیه ابوجعفر الطحاوی په شرح کښی د معانی الاثار په اسناد صحیح سره د ابراهیم نخعی
څخه روایت کړی دی. اووائی چې نه دی اتفاق کړی اصحابو د آنحضرت صلی الله علیه وسلم
پرهیڅ شی دومره لکه چې اتفاق یې کړی دی پر تنویر د فجر په لمانځه کښی، یعنی په ډیرا کښی
کول. **پوه سه**: چې ظاهر الروایة دادی. چې په اسفار کی بشروع په لمانځه کوی،
وقیل، چې دخول په لمانځه کښی بې په غلس یعنی تاریکه کښی وی اوتمام بې په اسفار
کښی وی په دریانه قولو د قرائت اوترتیل په قرائت. لکن په دی کښی پرهغه ضعیفانو،
مریضانو، سپین ږیرو، لوی څیرج اوتکلیف دی.

بشارت اوزیری: دانس څخه روایت دی، قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم
چې آنحضرت وفرمائیل: من صلی الفجر فی جماعة، که چا اداء
کړی د سحار په جماعت سره ثم قعد یذکر الله تعالی، اوبیا کښینستی ذکر د خدای جل

شانه په کاوه. یعنی هرذکر چې وی که تسبیح وی که تهلیل وی که تکبیر وی. وغیر ذالك
من انواع ذکر الله تعالی، حتی تطلع الشمس، ترهغو چې لمر راوختی.
پوه سه: چې مجرد طلوع د لمر نه ده مراد بلکه چې وخت مکروه هم تیر سی. یعنی لمر یوه نیزه
یا دوی نیزی راپورته سی، ثم صلی رکعتین، اوبیا یې اداء کړه دوه رکعته نفل. چې
وی ته صلوة الاشراق وائی اود المونځ د ضحی یعنی د څاښت د سنتو څخه علاحده
دی. ولې چې د څاښت د لمانځه وخت دیر ورو سته دی. تخمیناً دوه یا درې ساعته
وکانت له کاجر حجة تامة وعمرة تامة، ده لره دی داغه کار مجموع یعنی ثواب
د هغه لکه ثواب د حج پوره اوعمره پوره. **پوه سه**: چې مراد دحجه څخه حج نفلی دی
اود تامة. تامه په ویلو سره. آنحضرت صلی الله علیه وسلم تو هم د هغه چا د فع
کړی چې د احدیث به صرف د پاره د ترغیب وې. اوپه حقیقت کې دومره ثواب نه وې.
محدثینو د احدیث حسن ګڼلی دی. اوپه یوبل حدیث شریف کښی راغلی دی: قال
علیه السلام: من مکث فی مصلاه بعد الفجر الی طلوع الشمس، که چا د سهار
وکړې په ځای کښی د لمانځه پس له سحاره د لمانځه یعنی سره د شغل په یو ذکر د اذکارو
څخه. اویا نفس د رنګ مراد دی. کان کمن اعتق اربع رقاب من ولد اسمعیل
وې بر د د غه سړي ثواب لکه د هغه چا چې څلور مریان ازاد کړي د اولاد څخه د اسمعیل
علیه السلام یعنی د عربو څخه. **پوه سه**: چې حضرت امام شافعی مربیتوب د عربو
رابولی. نود عتق څخه حقیقت عتق مراد دی. اومذهب د امام اعظم رح دادی چې په
عربوکی، رق، نسته. نو عتق یې بناء پر فرضولو د رق دی. وقال علیه الصلوة و
السلام: من مکث فی مصلاه بعد العصر الی غروب الشمس، اوکه چا د رنګ وکړې
په ځای کښی د لمانځه پس د مازدیګر د لمانځه تر لویدو پورې د لمر ه، کان کمن اعتق
ثمان رقاب من ولد اسمعیل، دونه ثواب په دی لکه چې څوك ازاد کړي اته نفره
د اولاد څخه د اسمعیل علیه السلام **پوه سه**: چې زیات والی د ثواب د مازدیګر
د رنګ پر ثواب د سحار د رنګ په سبب د دی دی. چې د مازدیګر د رنګ د پاره

د فرضی لمانځه دمابنام دی. اوپه فجر کښی دپاره د نفلو د اشراق دی. **مسئله**: د اسفار د سحار د لمانځه مستحب دی په سفر او حضر کی اوکه څرمی وی اوکه دوبی وی، که یوازی کوی لمونځ اوکه امام وی اوکه مقتدی وی. م، ط، لکن اسفار په فجر سره. **لِلرِّجَالِ** "د نرو د پاره. اود بنځو د پاره تغلیس مستحب دی. همیشه. لِان التغلیس اقرب اِلَی السّتر" مگر د سحار په لمانځه کښی بنځی دومره د انتظار کوی. چی نر د جماعت څخه فارغ کیږی.

مسئله: اِسفار په صبح کښی خو مستحب دی مگر هغه وخ چی حاجیان په مزدلفه کښی وی هغه وخ به دوی لمونځ د سحار پس له سپیدو څخه په تاریکه کښی اداء کوی. د پاره د فراغ و وقوف د مزدلفه اود عا کانو کولو ته د څه تر اختود لمر چی د اځای یو مهم اځای د اجابت او قبلولو د دعا وی.

په حدیث صحیح کښی راغلی دی چی رسول کریم صلی الله علیه وسلم په عین وخت کښی د دعا د مزدلفه پریښوه د مزدلفه نا څاپه وخندل خلك وه سبب ته د خندا په حال کښی د عجز اود عاد علیه السّلام حیران سوه. نو یه پوښتنه د سبب د خندا څندی وکړه رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل چی ما پر ابلیس څندل چی د غم څخه د عمومی بخښنی د خدای حاجیانو ته ابلیس پر سر په دغه شیله کی خاوری باد کړی. قال المصنف

وَالْاِبْرَادُ بِالظُّهْرِ فِی الصَّیْفِ اوپه څنکی کښی دی کوی د ما پښین لمونځ په دوبی کښی **مسئله**: د احکم په تولو وطنو کښی دی که گرم وی اوکه سایه اوکه شدت حروی اوکرنه. **مسئله**: د جمعی د لمانځه حکم د ما پښین د لمانځه دی. **مسئله**: په حکم کی د ابراد الظهر منفرد او امام برابر دی.

پوه سه: چی اندازه د ابراد (یخ والی) بعض علماء وائی داده" چی خلك چی مسجدونه ته حی په سایه کی د دیوالونه لاندی وی" کما فی نور الایضاح" اوسراج وائی چی اندازه د ابراد داده چی د ما پښین لمونځ د اختلاف فوتلی وی د څه تر رسیدو د سایه یوه مثل ته دشی. اوپه خزانه کښی وائی چی وخت مکروه په ما پښین کی دادی چی د ما پښین لمونځ تر اختلاف د امام اعظم او د یارانو راسی.

پوښتنه: چی ابراد د ظهر ادی چی تریك چندی د څه بی کوی نود حضرت الامام الاعظم د مذهب څه فائده سوه. **جواب**: د حضرت الامام الاعظم په نیز تر دوو چندی پوری تن دی د ما پښین لمونځ روادی. اویارانو وائی چی تریك چندی ورو سته د ما پښین روا ند دی. اوپه استحباب کی د دوی تر ما بین اختلاف نسته.

شکایت: بعض مُلایان د عصر حاضر صرف دایه اوریدلی ده چی حضرت الامام ابراد بالظهر مستحب بولی په دوبی کی. نو دوی پس ۱۲ بجو چی تخمیناد استواء وخت دی په کور کښی بند دی یا بل د غرمی شی پخ کړی وی وی خوری او سلاته اوشلومبی هم ورسره ملگری کړی. اوکرار بیغمه بیده" اوپردری بجی یه په مسجد کښی اذان کیږی لمونځ نوگورو چی څوخت کوی. غالبا پردری نیمی بجی به کوی. د اوخت یك چندی خوځه کوی د دوچندی درسید وخطر ښته. نود حضرت الامام الاعظم او د یارانو پردوارو مذهبود المونځ مکروه دی. بلکه که دوچندی ته ورسیږی په اتفاق ناجائز دی. والی الله المشتکی من صنیع سوآء"

وَتَعْجِیلُهُ فِی الشِّتَاءِ اووختی دی کوی د ما پښین لمونځ په ژمی کی. **پوه سه**: چی مصنف پسرلی او مئی هم د شتاء د جملی څخه بللی دی، براتی په حدیث شریف کی راغلی دی چی رسول الله صلی الله علیه تعجیل د ما پښین د لمانځه کاوه چنگی کی

اِلَّا فِی یَوْمٍ غَیْمٍ فَیُؤَخِّرُ فِیهِ مگر نه په وخ کښی دوریځی د سبه د دی چی قبل الوقت اداء نه سی لمونځ دی وځندوی یعنی استحبابا" مراق د دی وجه داسی وئیلی دی" اِذْ لَا کَرَاهَةَ فِی فِعْلِهِ فَلَا یُفْرِطُ اِخْبَارٌ" د زرولیش وائی چی د اخبره د مصنف د تحقیق د خزانی څخه خلاف ده کما مَرَّ عن قریب وَاللهُ اعلم بالصّواب"

پوښتنه: په عصر حاضر کی چی د هرځای په جیب یا تر لاس ساعتان موجود دی" نو هغوته خو د ما پښین د دخول وخت معلومیږی" که څه هم وریځ او لمر پټ وی **جواب** د قدیم فقهاوو په عصر کښی خو ساعتان هیڅ نه وه نو دوی محکه داعنی حکم کاوه په یوم الغیم کښی" لکن د احکم په سبب د وجود د ساعتو تغیر نه خوری محکه اکثر اوعموما با دیه نشینان نو

اومالدارانوته دآله کمه پیداکیږی، فیُجعل اهلُ البلدان تبعًا لهم فی هذا الحکم، وَاللهُ اعلمُ

وَتاخِيرُ العَصرِ مَا لَمْ تَتَغَيَّرِ الشَّمسُ

اومستحب دی خُنډوَل دمازدیگر دلمانځه یعنی په دوبی اوپڑمی کښی لکن ترهغه وخته پوری چی لمر متغیر نه وی کړی. ولی وروسته تر تغیر دلمر دمازدیگر لمونځ مکروه دی. **پوهه سه**: چی تغیر دشمس پر صحیح مذهب دادی چی زیرایه کمه سوحتی سترګی نه پرې ریښی. وَقیل غیر ذالك. قال المصنفُ فی المراقی: وَالتاخیر الی التغیر مکروه تحریمًا، قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلی اللهُ عَلیه وَسَلم: تِلكَ صَلوٰةُ المنافِقِین ثلاثًا یَجلسُ احدُکُم حتیٰ اذا اصفرت الشمسُ وکانت بین قَرنی الشیطن یَنقُرُ کنقر الدیك لَا یذکر اللهَ اِلَّا قلیلًا، ترجمه: علیه السّلام دغه چی ګرانی لمونځ دمنافقانو بالله اودې وایه دغه خبره وکړه. هغه داسی چی ناست وی یودتاسی څخه حتی چی لمر څرمسی اوپه مابین کی دوه ټیکوده شیطان سی نودی مشوکه خندی یعنی چابك چابك رکوع وسجده وغیره کوی لکه چی چرګ دخورك دانی چابك چابك تهلوی، قَالَ المُصنفُ،

وَتعجِيلُهُ فِی یَومِ الغَیمِ

اومستحب دی وختی کول دمازدیگر دلمانځه په وړځ کی دوریځی یعنی چی لمر پټ وی. لکن داهله چی دسړی یقین وی چی دمازدیگر وخت داخل سوی دی. سبب داستحباب تعجیل یې دادی چی دتاخیر په صورت کښی نه بایده چی په وخت مکروه کښی به اداء سی،

شِکایَت

په قریو اوپه صحراوو کښی حال داسی دی. چی دوَښو اوانګورو یادانځورو یادانارو وغیره په موسم کښی امام المسجد اومقتدیان تهوله یادغواپه وَښو اویادمیوو په راوړو پسی کښتو اویا باغونه تللی وی. نومازدیگر داسی وخت راوړی سیږی مسجد ته چی تغیر دلمر خو لا پریښده بلکه یوه خنډه دلمر پټه سوی وی نو چابك چابك ملاصاحب اومقتدیان ده نَقرُ الدّیك لمونځ وکړی. قَالَ المُصنفُ،

وَتعجِیلُ المَغرِبِ اِلَّا فِی یَومِ غَیمٍ فَیُؤَخِّرُ فِیهِ

اومستحب دی وختی کول دمابنام دلمانځه یعنی په څلورسره فصلو کی دکال مګرنه په وړځ کی دوریځی پس په هغه وړځ دی تاخیر

کوی په دغه لمانځه کی، ذَرُولینَّ وَالیٰ چی داحکم هم بناء دی پرعذر دآلاتو لکه ساعتونه بلکه په عصر حاضر کښی عُلماء حضرات تو په پاکستان کښی کوښښ کړی چی دهر بنار د پاکستان اودهغه بنار دنږدی قریو بناره یه دګرده عمر دپاره یه صحیح نقشی جوړ کړی دی. چی په هغوکی دسپیدو دلمر ختو اودلمر لویدو اونورو وختونه په ساعتو په دقیقو یه قری میاشتو اونورو کی پوره معلوم کړی دی. اودانقشی په تجربه سره صحیح ثابتی سوی. شکر اللهُ سَعیُهُم، وَجزاهم اللهُ احسن الجزاء، عه

مسئله: په مابین کی داذان دمابنام اوداقامت دی فصل نه کوی مګر په قدر دډیر ایاتو دویلو اویا په جلسه خفیفه سره. اوفصل په مقدار دکولو دوو رکعتونفلو مکروه دی، ط، **پوهه سه**: چی اهل ظاهر الحدیث اوحنبلیان دوه رکعته نفل په مابین کی داذان دمابنام اوداقامت کوی. دلیل ددی مسئلی دادی چی په حدیث کښی دامامت دجبرئیل علیه السلام په بخاری کښی موجوددی. داسی راغلی دی. چی جبرئیل علیه السلام دمابنام لمونځ په دوارو وړځو کښی دامامت په یوه وخت کښی ورکړی.

اوپه صحیح حدیث کی راغلی دی: آنحضرت صَلَّی اللهُ عَلیه وَسلم وایی: اِنَّ اُمَّتِی لَن یَزَالوا بِخَیرٍ مَا لَم یُؤَخِّرُوا المَغرِبَ اِلیٰ اِشتِبَاکِ النُّجُومِ، ترجمه: په تحقیق سره زما امت به همیشه په خیر کی وی ترهغوچی نه خُنډوی دمابنام لمونځ تر ښکاره والی دستورو په آسمان کی. لکه دشیعه گانوچی داعادت دی، اودبعض کسانوچی حان صوفیان بولی په میاشت کی دروژی. **مسئله**: په عذر سره دسفراو یادمرض او یادمرض یادروژه مات دروژی. تاخیر دمغرب روادی چی مسافر یامریض جمع صوری دمابنام دلمانځه دماخستن دلمانځه وکړی، اودروژه نیوونکی لږ څه حرارت دلوږی کمی

تنبیه: په بعض مساجدو کښی دروژی په میاشت کښی دروژه مات دپاره باقاعده ستر خانونه آوارسی اودهر کوره څخه حسب القدرة یا غوره، یا بنډی اوشلومی همورسره کښیښول سی. اوبس لاذانه ورته وجوړیږی. اوتر یږی پوری خانونه ماړه کړی

عه دبنده څخه اِن شاءَ الله اراده ده چی دټول افغانستان داسی نقشه جوړه کړم، احقر فضل الحق حقانی

اومُلا صاحب هم ورسره حاضر وی اووائ خوری یا ستی چی د روژه مات دخور لو حساب نسته. حتی چی بالیقین دمابنام وخت پروتوبی» دافعل مکروه دی.

مسئله: په مراقی او طحطاوی کی وائی چی بی عذره څنډول دمابنام لمونځ ترقد رمذکوره مکروه تنزیهی دی. اوتراشتباك دستور مکروه تحریمی دی. **مسئله**: که په وخت کښی دمابنام جنازه حاضره سوه. افضله داده چی اول دی دمابنام لمونځ اداء کړي. ولی چی هغه فرض عین دی تر فرضی کفائی اولی دی. اوبیادی د جنازی لمونځ اداء کړی اوبیادی دمابنام سنت وکړي.

قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَتَاخِيرُ الْعِشَاءِ اِلٰى ثُلُثِ اللَّيْلِ اودغه رنګه مستحب دی څنډول دماخستن دلمانځه تردریمی پوری دشپی» داروایت دی دکنز. اوپه قدوری کی داسی وَاِبَاحَ اِلٰى مَاقَبْلَ الثُّلُثِ» **پوه سه**: چی مصنف په تاخیر کښی دعشاء قید دوولی اوتړلی نه دی وئیلی. نوډه مذهب دادی چی داتاخیر دعشاء په دوولی اوتړلی کښی تر ثلث اللیل پوری مستحب دی. لکن په فتاوای خانیه» اومحیط الرضوی او البدائع کی داسی وائی چی دااستحباب تاخیر تر ثلث اللیل پوری په ژمی کښی دی چی شپی اوږدی دی. اودخلګو خوب پوره کیږي. اودسحار وجماعت تر هم بیداره کیدای سی. اوپه دوولی دماخستن لمونځ وختی. ولی چی خلګو پر ثلث اللیل جماعت کول دَرنیږی په سبب دَخوب اوبَل دسحار لمانځه تر هم په جماعت نه سی سره برسولای. چی شپی دیری کښی دی

فَائِدَةٌ: په تاخیر کی دعشاء تر ثلث اللیل پوری دپیر صحیح حدیثونه راغلی دی اوداهم مذهب داکثر اهل العلم دی. من الصحابة والتابعین. په صحیح حدیث کی راغلی دی چی آنحضرت صلی الله علیه وسلم وائی. لَوْلَا اَنْ اَشُقَّ عَلٰى اُمَّتِیْ لَاَخَّرْتُ الْعِشَاءَ اِلٰى ثُلُثِ اللَّيْلِ اونصفه» یعنی وجوبا ولی چی استحباب خویه ثابت دی.

اوپه بَل حدیث کښی چی روایت یه امام احمد» او یوجماعت دمحدثینو کړی دی په روایت دابی بردة: اَنَّ النَّبِیَّ صلی الله علیه وسلم: كَانَ يَسْتَحِبُّ اَنْ يُؤَخِّرَ الْعِشَاءَ وَكَانَ يَكْرَهُ النَّوْمَ قَبْلَهَا والحدیث بعدها: یعنی نبی علیه السلام خوښ وو څنډول دماخستن دلمانځه

اوبَدیه بوَلَله بیده والی دمخه دماخستن ترلما نځه یعنی دجهته دخوف دقضاء. اوبدبلی خبری وروسته ترلما نځه دماخستن. یعنی ماسوا دخبرو نخه چی په علم کی وی اویا دضرورت له کبله وی. لکه دعوامو چی دغسی خبری عادت دی. ولی چی په داسی خبرو کښی ګاهی غیبت ګاهی نوری بیکاره خبری راځی. اوبَل داچی داسی مجلسونه ګاهی دیر اوږده سی اوسړی بدخوابه سی نود سحار جماعت څنډی فوت سی»

مسئله: څنډول دماخستن دلما نځه تر ثلث اللیل خو مستحب دی. اوتر نصف اللیل پوری مباح دی اوتر هغه ورسته مکروه دی تحریماً. مرط» قَالَ الْمُصَنِّفُ.

وَتَعْجِيلُهُ فِي الْغَيْمِ اومستحب دی وختی کول دماخستن دلما نځه په شپه دوره ګي اوداهم ظاهر الروایه دی» علت یه دا دی چی په تاخیر سره جماعت لږ یږی ولی خلګ دباران نخه بیریږی. اودیری تاریکی نخه هم» قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَتَاخِيرُ الْوِتْرِ اِلٰى اٰخِرِ اللَّيْلِ لِمَنْ يَثِقُ بِالْاِنْتِبَاهِ اومستحب دی څنډول دوتر و تراخیر پوری دشپی یعنی تراخیر دشپی لږ دمخه یعنی ورسته دتهجد ترلما نځه وه هغه چا ته چی په ځان یه اعتماد وی چی زه په سدس اخیر کی دشپی بیداره کیږم» فِي الْحَدِيثِ الصَّحِيحِ: قَالَ عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ» مَنْ خَافَ اَنْ لَا يَقُومَ اٰخِرَ اللَّيْلِ فَلْيُوتِرْ اَوَّلَهُ وَمَنْ طَمِعَ اَنْ يَقُومَ اٰخِرَ اللَّيْلِ فَلْيُوتِرْ اٰخِرَهُ فَاِنَّ صَلٰوةَ اللَّيْلِ مَشْهُودَةٌ» ترجمه: علیه السلام وائی کوم څوك چی ویریږی چی په اخیر کی دشپی به بیداره نه سی. نوهغه سړی دی وتر په اول کی دشپی وکړي. اوکه دچا طمع وه یعنی غالب ګمان یه وو چی په اخیر کښی دشپی بیداره کیږم. نو وتر دی په اخیر کښی دشپی وکړي. ولی چی دشپی ولما نځه ته ملکی درحمت حاضریږی اوداهم افضل کار دی.

كِفَايَةٌ: قَالَ فِي الْكَنْزِ وَالْهِدَايَةِ» وَنُدِبَ تَعْجِيلُ مَا فِيهِ عَيْنٌ يَوْمَ غَيْنٍ» اى الصلوٰة التی فی اولها لفظ العین کالعصر والعشاء» په هغه وخت کی چی غین په کښی وی یعنی الغیم

فَائِدَةٌ: طالبان چی چی پس له لما نځه د ماخستن کتابونه مطالعه کوی نو ګاهی چی

سترې سې یا خوب غلبه پرو کړې نو بیا د بله خبرې شروع کړې. نو که دغه خبرې مباح خبرې وې او یا مذاکره د علم وې نو دا سټمر منهی عنه نه دې،، او که مسخرې نو کې تا کې او قهقهه خندا وې په کښې وې نو دا سټمر منهی عنه دې،،

داهلِ علمِ تجربه،، که یو سړې د تهجد د لمانځه سره کمال محبت لري، او ذوق قلبي په کښې وینې. او که یو وخت خندې پاته سې. نو په دې غوندې اویرلیشانه وې. نو هغه سړې چې دده محبت ورب جل سلطانه نه ته معلومدې، په هغه کال کې وخت چې د تهجد لمونځ په کښې ادا کړې هم دغه سړې بیداره کوې که څه هم د لمانځه بیده سوې وې. وَاللهُ عَلٰی کُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ وبکل احوال عباده خبیرٌ،

مسئله: که سړې د دې سره چې د تهجد د لمانځه سره یې محبت درلودې مګر یوه شپه خندې قضاء سو. په حدیث شریف کښې د دغسې سړې په باره کښې آنحضرت صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دي. چې دغه سړې که هغومره رکعتونه وکړې د څا بښت په وخت کې د صلوٰة اللیل ثواب خدای پاک ورکوي.

فائده: که سړې د صلوٰة اللیل د پاره وخت معلوم کړې یعنی مثلاً چې زه به نیم ساعت نفل کوم نو هغه لره لنډ لنډ سورتونه ویل پکار دي. تا چې په دغه نیم ساعت کې دیر رکعتونه او دیرې سجدې وکړای سې، او که چیرې د تعداد د رکعتو معلوم کړې وو مثلاً ۸ رکعته نو هغه دې په هر رکعت کښې او زد قرائت وائې ثواب به دیردي.

پوهه سله: چې آنحضرت صلی اللهُ علیه وسلم (۴) رکعته تهجد بیله وتر وهم کړې دي او (۶) رکعته بیله وتر وهم ثابت دي. او (۸) رکعته بیله وتر وهم ثابت دي. لکن دغه عدد په اکثرو اوقاتو کښې ثابت دې. او په بعض روایاتو کښې (۱۰) رکعته بیله وتر وهم ړ اغلی دي.

بیت سه هردم از ما صد درود و صد سلام ؛ بر روان پاک آنحضرت مدام ؛ بیت: صبا مدینې ته د مصطفی سره هم غږ سول کاسلام کهنا ؛ نهیې ته کوئ بجز تمهارا بس میرا اتنا پیام کهنا ؛ بیت سه الهی بحق بنی فاطمه ؛ کړه بر حسن ایمان کښم خاتمه ؛ سه دعا یه طمع نه عُبید الله یم ؛ هغه چا ته چې لوستونکی دکتاب دي.

اللهم اغفر لمولفه ولکاتبهم ولوالدیهم.

فصل

یعنی فی بیان الاوقات المکروهة،

ثَلَاثَةُ اَوْقَاتٍ لَایَصِحُّ فِیْهَا شَیْءٌ مِنَ الْفَرَائِضِ وَالْوَاجِبَاتِ

دری وختونه دي چې نه صحیح کیږي په دوئ کښې هیڅ شئ د فرضو لمونځو او واجباتو

اَلَّتِیْ لَزِمَتْ فِی الذِّمَّةِ قَبْلَ دُخُوْلِهَا هغه فرائض او واجبات چې په ذمه کښې د سړې لازم سوي وي

د لمانځه تر دخول د دغو وختونو. **پوهه سه:** چې مراد مکروه څخه د لته متعارفه د هغه مراد نه ده بلکه معنای لغوی مراد ده نو مفسد وخت ته هم شامل سو. **فائده:** مراد عدم څخه عدم صحت د اداءً وقضاءً د واجبا تو مثال، صلوٰة الوتر، نذر مطلق، دوه رکعته طواف د اوهغه نفل چې شروع په هغوکې په وخت صحیح کښې کړې وي. او بیا یه فاسد کړې وي د اوهغه سجدهٔ تلاوت دی چې ایت د سجدې یه په وخت صحیح کښې وئیلی وي. د جرړ لائق نقل کړې دی د محیط څخه چې سجده سهو لکه سجدهٔ تلاوت ده،، حتی پریږدي سجده سهو وه. او پس له سلامه څخه وخت مکروه داخل سوه دی به سجده سهوه نه کوي بلکه ساقط سوه وي چې دا سجده پرده په وخت کامل کښې لازمه سوې. نو په وقت ناقص کې اداء صحیح نه ده،،

مُهِمَّه خَبَرَه بعض عوام ترلهانځه وروسته یوه سجده کوي. دا سجده مکروه ده - او سجده شکر مشروع ده مثلاً یو چا ته بنه خوشحال کوونکی خبر چې وساوه. نو دې د شکر دپاره یه سجده وکړي - نو ځکه په قنیه کې وائې چې سجده شکر مکروه ده په هغه وخت کې چې نفل په کښې مکروه وي. قَالَ الْمُصَنِّفُ رح اَلْاَوَّلُ،

عِنْدَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ اِلٰی اَنْ تَرْتَفِعَ اول په وخت کې د راختو د لمر حتی چې پورته راسی په قدر د یوې نیزې

یادوو، چې علامه یې داده چې د لمر رنړۍ او نور سپین سي، **پوښتنه** بعض عوام هم دغه وخت مکروه کې د سحار لمونځ کوي. نو بايد سړي ئې منع کې او که څنګه؟ **جواب** څوک دې نه منع کوي ولې چې دوی يې بيا قضاء هم نه راوړي. نو دغه لمونځ پر قول د بعض مجتهدينو خو روا دی نو کوم يې اولی دی ترترک بالکليه» م» قال المصنف»

وَوَقْتُ اِسْتِوَائِهَا اِلٰى اَنْ تَزُوْلَ او دوهم هغه وخت چې لمر وسط السماء يعنی نصف النهار ته ورسيږي بيا تر وخت د زوال. په شامي کې وايي چې تعبير د استواء اولی دی ترهغه عبارت چې په بعض کتابو کښې د فقه ليدل کيږي. قَالَ المصنف»

وَعِنْدَ اِصْفِرَارِهَا اِلٰى اَنْ تَغْرُبَ او دريم وخت دی د زکوالي د لمر بيا تر غروب پورې، په حديث د عقبه بن عامرؓ راغلی دي. ثَلَاثَةٌ نَهَانَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنْ نُصَلِّيَ فِيْهَا وَاَنْ نَقْبُرَ مَوْتَانَا. عِنْدَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ حَتّٰى تَرْتَفِعَ وَعِنْدَ زَوَالِهَا حَتّٰى تَزُوْلَ وَحِيْنَ تَضَيَّفُ لِلْغُرُوْبِ حَتّٰى تَغْرُبَ» رواه مسلم» عقبه بن عامرؓ روايت کوي چې درې وختونه وو چې مونږ رسول الله صلی الله عليه وسلم نهی کولو چې مونږ په هغو کښې لمونځونه وکړو او يا مونږ مړي په دغه وختو کې ښخ کړو. **پوه سه**: چې مراد دا نه دی چې مړي ته صلوة الجنازه دی. ولې چې ښخول د مړي په دغو وختو کښې روا دی. او په بل روايت کې د دغه حديث صراحتاً راغلی دی چې: وَاَنْ نُصَلِّيَ عَلٰى مَوْتَانَا. او مراد د زوال ځنې استواء ده کما مَرَّ. **فائده**: دامام ابو يوسفؒ ځنې روايت دی. چې د سحار لمونځ په دغه وقت مکروه کې روا دی. چې څنګه د لمانځه تر دغه پورې قصداً نه وي.

فائده مهمه: پوه سه چې درود پر عليه السلام يا تسبيح وغيره په دغو اوقاتو کې مکروه هم وو کښې افضل دی تر تلاوت د قرآن عظيم الشان» ولې چې تلاوة القرآن خو کن د لمانځه دی او لمونځ خو مکروه دی» فَالْاَوْلٰى تَرْكُ مَا كَانَ رُكْنًا لَهَا قَالَهُ فِي الْبَحْرِ ط» **مسئله** که سړي د سحار په لمانځه کښې وو او لمر پر راوختی د بعض فقهاءؒ وائي چې

لمونځ يې يک لخته باطل دی يعنی نه فرضي دی او نه نفل، نو بناء پر دغه مذهب که څوک په دغه لمانځه کې قهقهه خندا وکړي او دا س يې نه پرماتيږي. ولې چې د لمانځه ځنې خارج دی. او بعض فقهاءؒ وائي چې دغه لمونځ نفلي گرځيده ده. او د فرضي لمانځه قضاء پر لازمه ده» نو که چيرې دی په دغه لمانځه کښې وخاندی او دا س يې ماتيږي» قَالَ

وَيَصِحُّ اَدَاءُ مَا وَجَبَ فِيْهَا مَعَ الْكَرَاهَةِ او صحيح دی اداء د هغه عبادت چې واجب سي پر سړي په دغو اوقاتو مکروهه وو کښې. او دا هم ظاهر الرواية دی. او کراهت يې هم تحريمي دی. او بعض عُلماء وائي چې کراهت په کښې نسته» قَالَ المصنف»

كَجَنَازَةٍ حَضَرَتْ وَسَجْدَةُ اٰيَةٍ تُلِيَتْ فِيْهَا لکه يو جنازه چې حاضره سي په دغو مکروهو وختو کې، او يا سجده تلاوت کول د هغه آيت د پاره چې په دغه وخت کې تلاوت سي» لکن بحر رائق او تحفه والا او په تبيين او په ايضاح کې وائي چې د جنازې لمونځ دی نه ځنډوی او په دغو مکروهو وختو کې هم. او هم په دغو وختو کې کول ترنه کولو افضل دی د دی معنی داده چې صلوة جنازه په دغو وختو کې مکروه نه دی. بلکه ځنډول يې مکروه دی لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ» ثَلَاثٌ لَا يُؤَخِّرْنَ. جَنَازَةٌ اَتَتْ. وَدَيْنٌ وُجِدَتْ مَا يَقْضِيْهِ. وَبِكْرٌ وَجَدَ لَهَا كُفْوًا» قَالَ الْمُصَنِّفُ»

كَمَا صَحَّ عَصْرُ الْيَوْمِ عِنْدَ الْغُرُوْبِ مَعَ الْكَرَاهَةِ لکه چې صحيح دی کول د ماذيگر د لمانځه د دغې وړځې په نيزدغروب سره د کراهته» **پوه سه**: چې د اليوم فائده داده چې د پرونده مثلاً د قضا ئې د ماذيگر لمونځ د ننۍ وړځې په وخت مکروهه کې صحيح نه دی ولې چې د ماذيگر لمونځ چې د قضاء سي نو تيوله وخت په سبب د قضاء دی او تيوله وخت د ماذيگر خو په اعتبار د پيرا جزاء کامل دی نو دغه قضا ئې لمونځ کامل لازم دی. نو په ناقص من کل وجهٍ کې کول روا نه دی. کذا في نور الانوار والهدايه وغيرهما.

مسئله: که چیری جنازه په وخت کامیل کی حاضره سوه؛ وَه اوخلکو تر وخت مکروه پوری وځنډ وَل اوبیا یه په وخت مکروه کښی اداء کړل. اویَا سجدهٔ تلاوت په کامل وخت کی لا نهه سوی وَه اوتر وخت مکروه پوری وځنډ وَل نوفی لمونځ د جنازی صحیح دی اونه فی سجدهٔ تلاوت صحیح دَه بلکه دواړه به یرته راګرځوی. بحر، رائق، لکن اسبیجابی وائی چی د جنازی لمونځ سره د کراهت صحیح دی راګرځیده یه نشته اوسجدهٔ تلاوت دی ر اوګرځوی، ط، قَالَ الْمُصَنِّفُ،

وَالْأَوْقَاتِ الثَّلَاثَةِ يُكْرَهُ فِيهَا النَّافِلَةُ كَرَاهَةَ التَّحْرِيمِ

اوپه دغو درو وختنو کښی مکروه دی نفلی لمونځونه په کراهتِ تحریم سره، قَالَ،

وَلَوْ كَانَ لَهَا سَبَبٌ كَالْمَنْذُورِ وَرَكْعَتَيِ الطَّوَافِ

که څوک دغو نفلونو لره سبب وی لکه چې سړی نفلی لمونځ دوه یا څلور رکعته پرځان نذر کړی وی. اویَا یه طواف د بیت الله شریف کړی وی چې هغه سبب دی دوو رکعتو گولو دپاره دی خو بیا هم مکروه تحریمی دی. **پوه سه**: چې په دې غو نفلی لمونځو چې سړی په دغو اوقاتو مکروهه وُو کښی شروع وکړی قطع یه پرلا نهه دَه. اویا ری اداء په کامل وخت کی وکړی. په ظاهر الروایه کی. اوبعض فقهاءٌ وائی چې نفل په دغو وختو کښی گرځول صحیح نه دی داسی نه ده چې مکروه دی وی. **فائده**: دغه رنګه مکروه دی دوه رکعته نفل تحیة الوضوء اویَا تحیة المسجد. اویا دوه رکعته د کسوف سنت لمونځ. اود غه رنګه مکروه دی دوه رکعته سنت د سحار په وخت کښی د طلوع د لمر. اود حضرت الامام ابویوسف رحمه روایت دی چې نفل په وخت کی د استواء د جُمعی په ورځ روا دی، ط،

وَيُكْرَهُ التَّنَفُّلُ بَعْدَ طُلُوعِ الْفَجْرِ بِأَكْثَرَ مِنْ سُنَّتِهِ

اومکروه دی نفلی لمونځ کول پس له راختو د سپیدو بالاتر دوو رکعتو د سُنتو.

قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: لِيُبَلِّغَ شَاهِدُكُمْ غَائِبَكُمْ أَلَا لَا صَلٰوةَ بَعْدَ الصُّبْحِ إِلَّا رَكْعَتَيْنِ، ترجمه: یعنی وَدې رسوی حاضر ستاسی وَغائب ستاسی ته چې آګاه وو سی چې نشته لمونځ پس له سپیدو د څخه مګر دوه رکعته، قال **وَبَعْدَ صَلٰوتِهِ**: اوداغه رنګه مکروه دی نفل پس له فرضی لمانځه د څخه د سحار **فائده**: په حدیث شریف کی راغلی دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د سحار په سُنتو کښی قُلْ يَا أَيُّهَا الْكٰفِرُونَ، اوقُلْ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ، وایه اود علم تصوف بعض اکابر علماءٌ لکه امام غزالی وائی که چاهمیشه توب وکړی د سحار په سُنتو کی په اول رکعت کی پرته اَلَمْ نَشْرَحْ لَكَ، سُورت باندې، اوپه دوهم رکعت کی، اَلَمْ تَرَ كَيْفَ سُورة باندې کافی ده دَه لره د شر څخه د دښمنانو، اود، د درد ناکه ناجوړیو څخه، قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَبَعْدَ صَلٰوةِ الْعَصْرِ

اود غه رنګه مکروه دی نفل ورو سته ترمازدیګر د لمانځه که لمر تغیر کړی وی اوګه نه: لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى مَا رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ: لَا صَلٰوةَ بَعْدَ صَلٰوةِ الْعَصْرِ حَتّٰى تَغْرُبَ الشَّمْسُ وَلَا صَلٰوةَ بَعْدَ صَلٰوةِ الْفَجْرِ حَتّٰى تَطْلُعَ الشَّمْسُ، یعنی نسته هیڅ لمونځ پس له لمانځه د څخه د ماذیګر تر مغوچې لمر لویږی اونه هیڅ لمونځ سته ورو سته تر لمانځه د سحار تر مغوچې لمر راخیژی، قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَقَبْلَ صَلٰوةِ الْمَغْرِبِ

اومکروه دی نفل کول د څخه د مابنام تر لمانځه: لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ: بَيْنَ كُلِّ أَذَانَيْنِ صَلٰوةٌ إِلَّا الْمَغْرِبَ یعنی په مابین کی د هرو دوو اذانو یعنی اذان او اقامت لمونځ سته یعنی نفل مګر د مابنام د لمانځه د اذان او اقامت تر مابین.

پوښتنه: علماءٌ وائی چې د بن څنډ وَل د مابنام د لمانځه روا دی اومکروه نه دی. ؟ نو کر سړی دوه سپیڅ رکعته نفل وکړي څه پروا لري: **جواب**: ابن الهمام وائی چې مراد د هغه تاخیر څخه دا دی چې تر دوه رکعته کم تاخیر وی، قَالَ ابْنُ عُمَرَ مَا رَأَيْتُ أَحَدًا عَلٰى عَهْدِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّيهَا: یعنی ما نه دی لیدلی هیڅ څوک د اصحابو په زمانه کی د رسول الله صلی الله علیه وسلم چې د غه دوه رکعته نفل دې کوي، اوابراهیم نخعی وائی چې د غه دوه رکعته کول بدعت دی، ط،

قَالَ المُصنف: **وَعِنْدَ خُرُوجِ الْخَطِيبِ حَتّٰى يَفْرَغَ مِنَ الصَّلٰوةِ**

اوداغه ښکه مکروه دی نفل کول په وخت کښی د «راوتود خطیب د خپل ځای څخه یعنی دمنبر د خطبی ترهغه وخته پوری چی د جمعی لمونځ ادا کیږی» اوداغه حکم دی داختر و د لمونځو اودجنازی د خطبو په عرفات کی.

پوه سه: چی د «خروج الخطیب» لفظ بناء پر عادت قدیمه دی چی خطیب به په جامع مسجد کی یو خلوت د «لودی چی په هغه خلوت کښی بی خپل سُنت وکړه چی وخت د خطبی برسو نو به د خلوت څخه راووځی» زمونږ په زمانه کښی په اکثرو ځایونو کی خطیب د مخه په جامع مسجد کی موجود وی. اوپس له اذانِ اول څخه سنت م دالته په مسجد کی کوی» نو پدی عادت بناء هغه وخت نفل مکروه دی چی دی د منبر و خواته ولاړ سی.

مسئله که پرسړی باندی قضائی لمونځ واجب الترتیب لازم وُو. د هغه قضاء «راوړل» هم په دغه وخت کښی مکروه دی. کما فی الدر المختار، ط»

فائده: که سړی پر نفلو ولاړ وو یا پر سُنتو د جُمعی د مخه ۴ «رکعته یه کولو چی امام الجمعه منبر ته وخوت نو حکم دادی چی نفل والا خودی پرډوه «رکعته سلام وګرځوی کی څه هم نیت د څلورو «رکعتو کړی وی. اود اخیری دوو «رکعتو قضا نشته باندی ګڼلی چی شروع ع یه نه ده په کړی» اوسنت والا دی خپل څلور «رکعته پوره کړی. لکن په تخفیف سره. دلیل د دی مسئلی دمتن دادی چی اوریدل د خطبو فرض دی. حتی چه امر بالمعروف په دغه وخت کښی حرام دی په «روایت کښی د بخاری او مُسلم «راغلی دی. إِذَا قُلْتَ لِصَاحِبِكَ أَنْصِتْ وَالْإِمَامُ يَخْطُبُ فَقَدْ لَغَوْتَ» که ته ووایه وَبل سړی ته چی هغه خبری کولی. پته خوله سه» او امام خطبه ویَله نو تاهم لغوه کار وکړی نو دا خو امر بالمعروف وو او نهی عُندی «راغلی» نو نفل خو په طریق اولی حرام دی»

ښه هانه فائده په کتابونو کښی د فقهی شریفی وائی چی څه وخت چی خطیب په مابین کښی د دوو خطبُو جلسه خفیفه کوی هم دغه وخت دا اجابت د دعا د

نو خلک کولای سی چی بیله لاسو پورته کولو یوه سپکه دعا وکړی خو چی امام دوهمی خطبی نه ولاړ سی، فقط» قَالَ المُصنف»

وَعِنْدَ الْاِقَامَةِ اِلَّا سُنَّةَ الْفَجْرِ او مکروه دی نفل په وخت کښی د اقامت لمونځ چی وی مګر نه سُنت د سحار چی هغه د اقامت په وخت کښی به هم کوی. لکن چی دا یه یقین وی چی نه سُنت کوم جماعت نه راسره تیریږی او که جماعت تیریدی بیا دی سُنت پریږدی. **پوه سه:** چی افضل د سُنتو د پنځو لمونځو سنت د سهار دی. په صحیح حدیث کښی راغلی دی. رَكْعَتَا الْفَجْرِ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا» یعنی دوه رکعته سنت غیږدی تر دنیا او چی په دنیا کښی څه شیان دی.

او په نبل حدیث کښی داسی راغلی دی. صَلُّوهُمَا وَإِنْ طَرَدَتْكُمُ الْخَيْلُ» تاسی دوه رکعته سُنت د سحار کوی. که موځه هم آسان تر پښو لاندی کوی. او د جماعت په لمانځه کښی بیا پر حدیث د وعد او وعید «راغلی دی. چنانچه په صحیح حدیث کښی «راغلی دی. صَلٰوةُ الْجَمَاعَةِ تَفْضُلُ صَلٰوةَ الْفَذِّ بِخَمْسٍ وَعِشْرِينَ دَرَجَةً» وفی روایة بِسَبْعٍ وَعِشْرِينَ دَرَجَةً، او نور هم احادیث مبارکه پښتی پدی دی. چی د تولو «اوړل د لته گران دی. او ان شاء الله په خپل ځای کی په «راسی» حتی چی د ابن عباسؓ څخه چا پوښتنه وکړه چی یو سړی دی چی د شپی تهجد کوی او د وتر نفلی روږدی نسی لکن لمونځ په جماعت نه کوی قَالَ هُوَ فِي النَّارِ» نو دی سبب به دا وی چی د سحار د لمانځه د اقامت په وخت کی سُنت الفجر وکړی او بیا جماعت ته هم ورسیږی نو دَ دواړو فضیلت او ثواب به پیدا کړه. او کی دواړه نه سوای پیدا کولای» نو دی سُنت پریږدی. او جماعت دی وکړی. ولی چی د پرښتو لوا حادیث مُبارکه په پام کښی د الفاظو سره «راغلی دی.

فتوی

په بعض کتابونو کښی د فقه شریفی لیدل کیږی. که د سړی داسی عقیده وه که زه سُنت د سحار پوره کوم نو د جماعت دواړه «رکعته «راځنی تیریږی او صرف په اخیر ناسته کښی جماعت ته ورسیږم، نو دی د پاسه سنت پریږدی. او دا هم مذهب د امام محمد دی. لکن داهله چی

ده شروع په سُنتو کړی وی، لکن امام طحطاوی د نورالایضاح اومراقی په شرح کښی وایی چی دَ غه سړی چی شروع یې په سنتو کړی وی سُنت دی نه قطع کوی. دَ تشهد پرلیولو سره ده ته ثواب دَ جماعت رسیږی. عِند ائمتنا الثلاثة، «زَ زولیش وَائی چی دَ قید غځه د بعد الشروع داسی فهمیږی که چیری د غځه تر شروع په سُنتو د سړی ورته ګمان وو نو سُنت دی پرېږدی.

مسائل السُّنن

پوه سه: چی هغه سُنت چی د غځه تر فرضی لمونځ دی. هغه د سړی یا په کور کښی کوی، «وَهُوَ الافضل»، او یا دی د مسجد د دروازی سره وکړی که ځای وُو. او که ځای نه وُو. او مسجد دوی برخی د رلودی. نو په هغه برخه کښی دی سنت اداء کړی چی په هغه برخه کښی جماعت نه وی ولاړ. او که مسجد یووُو نو دی سُنت وی په تنبیه نه وکړی. او یا د مسجد په اخیری حصه کی چی د صفونو څخه د جماعت لیری وی، او په صف کی د جماعت د ننه سنت کول د یر سخت مکروه دی. او د غه رنګه د هغه وشاته مُتصل سُنت کول مکروه دی، او هغه سنت چی وروسته تر فرضُو وی، پس افضل داده چی کور ته یه وکړی او کی خوف وُو چی د سُنتو څخه به په بَل کار مشغوله سمه، نو په هرځای کی د مسجد چی اداء کوی هلته دی اداء کړی که څه هم په ځای کښی د فرضی لما نځه وی. او ښه داده که ځای وو چی یوڅه پر مخ یا پرشاه سی.

او په بحر رائق او کافی کښی وائی چی امام تر په ځای کښی د فرضی لما نځه سُنت کول مکروه دی. لکن دا کراهت په صُورت کښی دی دی چی امام ته د تحول امکان وی. او که ځای د تحول نه وو بیا کراهت نسته، لان الضرورات تبیح المحذورات، قَالَ

وَقَبْلَ الْعِيدِ وَلَوْ فِي الْمَنْزِلِ وَبَعْدَهُ فِي الْمَسْجِدِ

او د غه نفل مکروه دی د غځه د عید ګاه د لما نځه که څه هم دا نفل دی کور کوی. او پس د اختر د لما نځه څخه نفل مکروه دی مګر په عید ګاه کی او کور نفل کول مکروه نه دی، او دا هم مذهب د جمهور عُلما وُو. دلیل د دی مسئلی دا دی چی په حدیث شریف کی راغلی دی چی رسول الله

صلی الله علیه وسلم هیڅ نفل نه کول د غځه تر عید ګاه او چی د عید ګاه څخه به را ځلی دوه رکعته نفل به په کور کښی کوله. نو سره د دی چی آنحضرت صلی الله علیه وسلم د پرځای د پرلوی پرنفلی لمونځو چی د غځه تر عید ګاه یه نفل نه کوله نو معلومه ده چی مکروه دی. ولی که کله کښه وای مکروه نو کم از کم یو وار یا دوه واره خو بی کړی وای د پاره د بیان د مباح والی کله. قَالَ الحَلَبِیُّ. قَالَ المُصنفُ،

وَبَيْنَ الْجَمْعَيْنِ فِي عَرَفَةَ وَمُزْدَلِفَةَ

او غه رنګه نفل مکروه دی په مابین کی د دوو لمونځو چی جمع کیږی په عرفات کی یعنی ما پښین او ماښام دیګر، او یا جمع کیږی په مزدلفه کی یعنی د ماښام لمونځ او د ماخستن لمونځ

پوه سه: چی مصنف په مرا قی کی وائی چی د غځه هم د عرفات په جمع کی د ما پښین سُنت وی، او د مزدلفی په جمع کی که څه هم د ماښام سُنت وی پر صحیح روایت په مذهب کی. ولی چی آنحضرت صلی الله علیه وسلم د دی دوه جمعو په مابین کی هیڅ لمونځ نه دی کړی، قَالَ المُصنفُ،

وَعِنْدَ ضِيقِ وَقْتِ الْمَكْتُوبَةِ

او غه نفل یعنی بلکه سُنت هم په تیر تنګ والی د وقت د فرضی لما نځه. دلیل په دا دی چی که سړی نفل یا سُنت کوی فرضی لمونځ څنډی قضاء کیږی. نو فرضی لمونځ چی د ده په ذمه کی لازم دی هغه دی اداء کړی. نفل یا سنت خو پرېږده لازم نه دی. بلکه که وخت د فساد د لما نځه نژدی وُو. لکه د لمر اختل، نو تیوله سُنت یا تطویل د قرائت دی پرېږدی په ادنی ما یکفی سره دی فرضی لمونځ اداء کړی، ط، ح، قَالَ المُصنفُ

وَمُدَافَعَةِ الْأَخْبَثَيْنِ

او د غه رنګه نفل مکروه دی بلکه فرضی لمونځ هم په وخت د دفع کولو د یوه د خبیثو شیانو، یعنی چی غُولونیولی وی تینګ یا بولونیولی وی او یا ګوزار اوپسکی. بلکه هغه کار دی فیصله کړی بیا که فرض کوی او که نفل، ولی چی هوشیار سړی اول د مُدعی کار ورکوی بیا نو که وَرَ چی او که غوښی خُوړی نوش جان دی سی،

وحُضُورُ طَعَامٍ تَتُوقُهُ نَفْسُهُ وَمَا يَشْغَلُ الْبَالَ وَيُخِلُّ بِالْخُشُوعِ

اودغه رنګه نفل مکروه دي په وخت کښې د حضور د خوړ کی شئ چې د پرې شوق مند وي نفس يې وهغه خوړ کی شئ ته، اودغه رنګه مکروه دي نفل په وخت کی د حضور د يوشئ چې دده زړه يې مشغوله کړي اودده وخشوع او حضورته د لمانځه خلل رسوي. داعطف د عام دی پر خاص باندی مثلاً دده يو گران دوست راغلی وي، چې دده يې په زغېر اوپه پوښتنه دجوړې يا ناجوړې په لمانځه کی سودا وي، اويا مثلاً يو مسکين سړی ته يو غنی مور سړی ميلمه راغلی وي. چې د مسکين د اخيال وو. چې زکوة يا خيرات بې راوړي اوپه زړه کی داغه سودا وه نودی دې نفل نه کوی سړه د دغه شغل قلب بلکه سودا دې وکاږي بيادی فارغه زړه نفل وکړي اوکه سړي په انساني خالا تو کښې بنه غوږ اوفکر وکړي د شغل قلب اسباب ډيرديږي.

حاصل دادی چې نفل د هغه وخت سړی کوي چې حضور د عظمت د خدای جل سلطانه نه کوي سی اوبيره اوامديه په لمانځه کی د خدای جل شانه څخه پيدا وي، **تتمه**: پس لرسپيد وخخه خبری بيله ضرورته دچا سره کول مکروه دي. ترهغه وخته چې د سحار لمونځ کوي مگر خبری د خير اوعلم مکروه نه دي. اوکه سړي سنت د سحار وکړه اوبيا يې ترفرضو د مخه بلا فائده خبری وکړي مکروه خو په اتفاق دی لکن بعض فقهاء وائي چې سنت يې باطل سوه بيرته دې راوګرځوي، اوبعض علماء وائي چې د سحار تر لمانځه وروسته د لمر تر اختو د مخه دی سړي په يو حاجت يا يو کار پسې نه ځي. لکن صحيح داده چې پروا نه لري، ط، اود ماخستن تر لمانځه وروسته بيغاړی د مجلسونه لکه د عوامو چې عادت دی گناه اومکروه دی. ولی په حديث پاک کی راغلی دی چې آنحضرت صلی الله عليه وسلم خوب د مخه د ماخستن تر لمانځه اوخبری وروسته ترهغه مکروه گنړلې، بيت ؎ بيا ليتم حبيبی يا طبيبی ؛ ازين دوگريکی بودی چې بودی"

؎ بهار مرمان عيد است ونوروز ؛ بهار عاشقان ديدار ياران ؛ چشم بد انديش کور کنده باد ؛ عيب نمايد هنرش در نظر"

؎ انان که ذره وار بصورت محقر اند ؛ فراز خيال وناز به فردوس ننگرانند ؛

دعا قل سړي کار

پوه سه که يو وخت په يو مطلب پسې روان وي. اوپه بازار کی سپی درته وغپله. خپل تگ ته دامه ورکړه. اود سپی سره په شخړه کښې مه اخته کوه که څه هم غټ اوگټه سپی وي. ولې دبازاری سپی داغه غفاده" سړی ډير ډاډ لای. يوځوزمانه به غافي اخير به ستړی سي" اويا بې يو بل خوک برداشت په دانگ وروهي. نو به سر پرخپرو گنبين دې لکی به ترځان لاندی کړي غفا به پرين دې ماته ډير وارونه په تجربه ثابته ثابته سوې ده" صريحي معنا د دغه عبارت اوکنايې معنی دواړی وسنجوه. همدا اوس د مکروهاتو باب خلاص سو. اوباب الاذان شروع کيږي ان شاء الله تعالی"

حضرت ابو الفضل ايوبی ته"

ربه مو واوريده نعره ای افغانانو مبارک
په پښتو ژبه دين آسان کړو عالمانو مبارک

د سجدی سرونه کښته کړي خپل رب ته همليش.
چې مسائلې ټول واضح کړي واړه نو مبارک

دافغان تاريخ به بيا ناڅاپه ليکی گرځي
ايوبی چې قلم پورته کړ زهريا نو مبارک

نن گلزار محمدی ډير معطر راته معلوميږي
ايوبی بلبل ميلمه دی بلبلانو مبارک

دهمت شملې مو پورته د اسمان پورې جگيږي.
د تاريخ، د فقاهت ای اتلانو مبارک

چې قلم زه حقاني دده په وصف گرېندی کړم
نه رسيږي حقيقت ته حقانيانو مبارک

بَابُ الْاَذَانِ

باب دی په بیان کی د اذان، **پوه سه**: چې علامه شامی په رد المحتار کی او مصنف په مراقی الفلاح کی وائی. چونکه اوقات د لمونځو اسباب ظاهره وو د پاره د لمونځو اوده پاره د خبره ولو د خلکو په نعمت الهی چې لمونځونه دي. نو دې وجهې ذکر دوخت و مصنف د مخه کړي، **پوه سه**: چې په اوقاتو د لمونځو خبر ښایا د خواص خلکو کار دی چې علماء دی چې هغوی وختونه د لمونځو په علامات شرعیه وو سره معلوم ولای سي نکه دیک چندی دوچندی، وغروب الشفق، وطلوع الفجر په ذریعه، او اذان د پاره د پاره د خبرولو د عوامو دی په وختو د لمونځو، نو چونکه خواص تر عوامو شرافت لري نو دې کښې اوقات الصلوٰة تر اذان د مخه مصنف ذکر کړه،

پوښتنه، اذان کله مشروع سوی دی **جواب**: بعض وائی چې په اول کال کی د هجرت او بعض وائی چې دوهم کال کښې د هجرت په مدینه منوره کی **پوښتنه** اول باعث د مشروع والی د آذان څه شی وو **جواب**: څه وخت چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم او اصحابؓ په مدینه منوره کی سره جمعه سوله، او مسجد نبویؐ تعمیر سو. او جماعت لمونځونه په هغه مبارک مسجد کی شروع سوله. نو اصحاب کرامؓو ته دا مشکل پیښ سو چې اوقات د جماعت نبویؐ به نه ورمعلومیدل له. ولې چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم به بعض لمونځونه چې صحابهؓ به پرې اغلی وه وختې بې اداء کړي. او بعض اصحابؓ چې وختې به نه وه ورغلی د هغو څخه به د جماعت لمونځ تیر سو. او بعض صحابهؓ چې د جماعت نبویؐ بې پرې حرص درلودی، په بعضو وختو کی به پرې وختی مسجد ته راغلی وه. او پدې وجه ښکاره سوه چې د جماعت لمونځ به جماعت ودریدی. نو دې مشکل د پاره موضوع وحضو انورؐ ته پیش سوله. او آنحضرت صلی الله علیه وسلم صحابهؓ د مشورې د پاره راوغوښتل. چې د جماعت د پاره لمونځو د پاره یوه علامه کښیښودې، چې پرې هغه علامه باندې خلک لمونځو ته راټول نو په دې سره به هغه مشکل مذکور دفع اورفع سي. نو په دې مشوره کی بعض صحابهؓ

ناقوس پیښ کړي چې هغه یوه وسپنه پټه وسپنه وهي چې زنګ یه بولي، فقال صلی الله علیه وسلم هو للنصاری، دا ناقوس علامه د عبادت د نصارا وو دی. یعنی په دینی شیا نو کښې اسلام د کفارو سره مشابهت نه قبلوي. او بعض کسانو بوق د علامې د پاره وړاندې کړي چې هغه ته ترم بانګ وائی: علیه الصلوٰة والسلام وویل هو للیهود. او بعض خلکو د اور بلیده په وخت کښې د لمانځه د علامې په توګه وړاندې کی: آنحضرت صلی الله علیه وسلم وویله، هو للمجوس، او په بعض روایاتو کښې راغلی دی که څه هم بخاري او مسلم د غه روایت نه دی راوړی. چې بعض خلکو ویلې چې دا دول یادونه تکول دی د لمانځه علامه سي. آنحضرت صلی الله علیه وسلم و وئیله: هو للروم، او حضرت عمرؓ ووئیله: اولا تبعثون رجلا ینادي بالصلوٰة، ایا تاسی نه باعث کوی یو سړی چې د لمانځه په وخت کښې دی په زور نعره کوي. آنحضرتؐ دا رایه خوښه کړه او یو سړی وټاکی چې د لمانځه په وخت کښې دې دا نعره کوي.

الصلوٰة جامعة. پس له څو ورځو څخه چونکه، الصلوٰة جامعة، یوه نعره وه د چا غوږونو ته به ور سیده او چا به نه واوریده، او یری خلکو خوښې نه اوریده. او که کم سړی به په یو شغل اخته وو هغه به هم نه واوریده. نو هغه مذکور مشکل تقریبا الآن کما کان باقی پاته وو. بیا دې مشکل د حل د پاره به حضور انورؐ کی د مشورې مجلس جوړ سو په دوهم مجلس کی هغه دنا قوس او بوق، او اور، او دول، نومان مجلس ته وړاندې سوله او آنحضرت صلی الله علیه وسلم د خوارد سوه. او مجلس بیله کومې فیصلې پای ته ورسیدی راوی وائی چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم د دی مجلس څخه غمجن ولاړ سو، عبدالله ابن زیدؓ وائی چې په سبب د هم یعنی غم د آنحضرت صلی الله علیه وسلم، نه ډې شپې پرې غمجن وم. دی رض وائی چې زه په مابین کښې د ویښ او بیده وم. یعنی په غرق خوب سره نه وم. بیده سوی چې په خوب کی می یو سړی ولیدی چې شنی جامې یه اغوستی وې او پریوه ټوپه د دیوال له ودریدی. او پلاس کی ناقوس وو، ما ورته وویله چې دا ناقوس وو، ما ورته وویله چې دا ناقوس نه خرڅوی ده راته وویل چې ناقوس ته څه کوې، ما ورته

وویله چې موږ په ناقوس سره دلمونځ وختونه معلومه وو، دې سړي راته وویله چې زه تر ناقوس ښه شی ډیوړ ته مطلب ډیاره درته ونه ښیم، ماوړ ته وویله چې هو، اوچې ښیه، نودی وقبلی ته مخامخ ودریدی. اووی وئیله، «اللهُ اکبر» تراخیره پوری داذان دکلمو، اوبیا هغه سړی پس له لږ درنګه څخه کلمات د اقامت شروع کړې. اوپه کښی یه «قَدْ قَامَتِ الصَّلٰوة» دوه واړه ووایه» عبد الله رض وایې چې سحار ماداخپل لید لی خوب یه حضورکی درسول الله صلی الله علیه وسلم عرض کړی. آنحضرت صلی الله علیه وسلم وویله، «رُؤْیَا حَقٌّ إن شاءَ اللهُ تَعَالٰی» داخوب حق دی که دخدای رضاوه» نوم ماپښین یه وخت کی علیه الصلوٰة والسلام ماته وویل چې ستا دخوب لیدلې کلمی وبلال رض ته ورښیه ولې چې دبلال رض اواز تر اواز ستالوړ دی. عبد الله رض وایې چې بلال رض پریوه لوړ بام په مدینه کښی ودریدی. اوماهم هغه آذان کلمی ورته وئیلی اوده آذان کاوه. نوداآذان حضرت عمر رض په خپل کور کښی واوریدی. نوپه لنګ کښی چې اوړی یه ښورولی یعنی یه دیر تلوار وه آنحضرت صلی الله علیه وسلم ترڅنګله. اووی وئیله چې قسم یه هغه خدای دی چې تا ئې یه حقه سره نبی را استولی ئې.

چې ماهم دغه شی دشپې یه خوب ولیدی لکن عبد الله رض ترما سبقت وکړی رسول الله صلی الله علیه وسلم ووئیله فَلِلّٰهِ الْحَمْدُ وَاِنَّهٗ لَاَثْبَتُ» اوداسی روایت هم راغلی دی چې. اوقیا څلورولس کسانو هم یه دغه شپه ورته خوب لیدلی وو:

یه دی کی اختلاف دی چې دخوب سړی څوک بعض وایې چې داحضرت جبرئیل علیه السلام وو. او بعض وایې بله ملکه وه - یه هرصورت اذان یه امر دعلیه الصلوٰة والسلام ثابت دی. اوداخوب صرف یو سبب وُو»

اللهم اغفر لمؤلفه ولکاتبه ولوالدیهما ولجمیع المؤمنین ولمن نظر الیها آمین یارب العلمین برحمتك یا ارحم الراحمین :

اوهغه خبره چې په بعض کتابو کښی راغلی ده چې اذان پښووینه د حضرت جبرئیل په شپه د معراج په بیت المقدس کی چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم ونورو انبیاء علیهم السلام اوو بعض ملکوته د جماعت لمونځ ورکاوه ثابت دی. لکن علیه السلام چې د مشکل په وخت کښی په هغه عمل نه وکی دده، مبارک خیال داوو» چې هغه آذان دهغی شپی اولما څخه پوری خاص وُو، درولیش وائی چې په هیڅ حدیث کی دا آذان په هغه شپه کښی نشته ثابت نلرنلرته کړخه هم امامت دهغی شپی په حدیثو مبارکه ووکښی سته» واللهُ اعلم بالصواب

جانی وائی سه دران مسجد امام انبیاء شد : صف پیشینان را پیشوا شد : تاریخ اسلامی خبری کوی

پوه سه: چې اذان اواقامت دخصوصیاتو څخه دامت مرحومه دی. **سوال**: په بعض روایاتو کښی راغلی دی چې آدم علیه السلام چې محکله ته راکوز سو څه وخښت ورته پښې سوتو جبرئیل علیه السلام دده دوخښت اودهښت دده دفعې دپاره اذان وکړی.

جواب: دا روایت خودخصوصیه سره منافی نه دی. ولې چې دخصوصیت څخه داذان په دی امت پوری اذان کول دیاره لمونځودی نه مطلق اذان» امام طحطاوی د درهٔ منیفه څخه داسی نقل کړی دی. چې ددوو مؤذنانو اذان په یوه پلا کول. دښوامیه وُو په خلافت کی احداث سوی دی. او اول هغه څوک چې پرمناره داذان یه درود پر علیه السلام په بلند آواز ویلو ته اجازه ورکړی وه. هغه حاجی بن الاشرف شعبان بن حسین بن محمد بن قلاوون وُو په امر دمحتسب نجم الدین طنبدی اودهغه تاریخ میاشت دبرات ۷۹۱ هـ دی.

کذا قال السیوطی **سوال**: آیا دا نوبدعت نه دی. **جواب**: علامه طحطاوی په ۱۵۵ کی وائی والصواب من الاقوال انها بدعة حسنة» اوبعض مالکیانو ددی پر خلاف دی. لکه هم داوس چې په حرمینو شریفینو کی دراواج نسته» اودغرنګه تسبیح ویل د مؤذنانو په ثلث اخیر کښی دشپې»

پوښتنه: اذان په زمانه کښی دآنحضرت صلی الله علیه وسلم په مسجد نبوی کی کیدی که څرنګه **جواب**: په زمانه کی دعلیه السلام چونکه مناره یا بوبل لوړ ځای په مسجد نبوی کی نه وُو. نوبلال رض به په سُدس اخیر کی دشپې یوه لوړ بام ته چې پرشا وخوا

دمسجد نبوی ووچی هغه بام دیوی شخی وُو. دَبنی النجار څخه وَرتی اوهُوری بی اذان کاوه اوپه نورو لمونځو کی هم هغه بام تروَر تلی اواذان یه کاوه» اواول هغه څوك چی پَه مسجد کښی جُوړه کړه اوپرهغی منارې بی اذان کاوه سلمه بن خلف صحابی وو رضی الله تعالیٰ عنه چی دمصر والاووپه زمانه کی دمعاویه رض - اوهغه رواج تردی اوسه پوری پاته دَی.

پوښتنه: اذان اواقامت افضل دی اوکه امامت **جواب**: په فتح القدیر کښی وَائی چی په نیزد امام اعظم ابوحنیفهؒ امامت افضل کار دی ولی چی آنحضرت صلی الله علیه وسلم اودغه رنګه خلفاء راشدین رضی الله تعالیٰ عنهم پرامامت مواظبت اوهمیشه توب کړی دی. **سوال**: حضرت امیرالمؤمنین عمرؓ وائی: لَولَا الخِلَافَةُ لَاَذَنتُ» کهٔ نه وای شغل په کار و خلافت چی دهغه شغل سره سره مراعات دوختود اذان نه سم کولای. نومابه اذان کولای پخپله. نو دې څخه فضیلت داذان تر امامت نه معلومیږی! **جواب**: دَقول دعمرؓ معناداده چی اذان به می هم کولای یعنی سره دامامت **پوښتنه**: مصنف په مراقی الفلاح کښی وائی چی ثبوت داذان په قرآن اوسُنت سره سوی دَی. نوسنت نبویؐ خوهغه ووچی وَرانه دی تیرسوه قرآن دکوم ایت ثبوت داذان فهمیږی. **جواب**: ثبوت داذان دده ایت قرآنی څخه معلومیږی یَا اَیُّهَا الَّذِینَ اٰمَنُوٓا اِذَا نُودِیَ لِلصَّلٰوةِ مِن یَّومِ الجُمُعَةِ» الآیه» ولی چی دَجُمعی داذان اود نورو اذانو ترمابین قائل با الفصل نشته.

فائده: اذان په لغت عربی کښی مطلق خبرتیا نه وائی. اوپه عُرف کی د شرع شریفی دغه مخصوصه خبرتیاده» **پوښتنه**: اذان په بله ژبه بیله عربی روادی اوکه نه امثلاً په پښتو داسی وَائی: خدای ج دیر لوی دی» وهکذا **جواب** صحیح دادی چی نه دی روا. **پوښتنه**: اذان دنابالغه نر روادی که نه! **جواب**: هُو روادی چی عاقل وی مګر بیا هم شرط دکامل اذان دادی. چی مؤذن به صالح سړی وی. اوهم به دلمونځو به وَقتو سره پوهیږی. اود مسجد مقتدیانو د جماعت کولو به تفتیش کوی. اوکم څوك چی

جماعت ته نه راځی بی عذره هغه ته به وعظ کوی اوزجر یې کوی. اوپر لوړ ځای به اذان کوی مخامخ وقبلی ته» اوبلند اواز حَسَنَ الصوت به وی. داخبری به عنقریب راسی اِن شَآءَ الله» لکن پر لوړ ځای اذان کول په اسلامی نړۍ تولو کی په تولو ښارو کښی هم اوس پاته دی حتیٰ فی الحرمین الشریفین» په دی سبب چی پرمکان بلنده داذان کولو حکمت داوُو، چی داذان تر دیره ځای پوری واوری اوپه خلګ په خبر سی. اوس چونکه آله دلاوډ سپیکر اېجاد سوی ده. او هغه ترهر ځایه آواز رسوی نو لوړ ځای داذان ضرورت نه دی پاته» اوپه فقه شریفه کی داسئله دوچی په سبب دَتبدل د سبب حکم بدلیږی. دمثال په توګه دجهاد اوغزا اوسبب دَدفع د شر دکفارو دَی» نوکه فرضاً تولهٔ نړۍ کافران مسلمانان سی اوشر اوفساد دَفع سی نوحکم د جهاد هم پوره ته کیږی،

پوښتنه: چی په بحر رائق کښی اومَراقی کی هم وائی چی اذان سُنت مؤکد دی نن دی و واجبُونه حتیٰ بعض عُلماء دواجب نومړۍ ایښی دی. اوپر اوریدونکو داذان اجابت بالقول یعنی هغه کلمی چی مؤذن یه وائی هغه به وَرسره وائی چی بیان بی عنقریب اسی، اوپه فعل سره لاړ سی یعنی دَلمانځه اوجماعت په تیاری دی بُخت سی. لکن په دا ټولو څخه کی اجابت بالقول عوام خوشحرکوی د دیرو خواموُ یعنی مُلایانو اوطالبانو څخه پاتدی. هلته اذان کیږی دلته دوی بندارسره کوی. وَاِلَی اللهِ المُشتَکیٰ»

دُعَاء

خدایه وبخښی مؤلف اوهم کاتب .. مستجابه وی دعا تل دغائب
هم معاف کړی ګناهونه دکتونکو .. ومضمون ته دکتاب تی کړی غالب
هم معاف کړی لغزشونه دامت تول . چی پیدا نه سی پرمومنو کی څوك راسب
وغفران ته دمولا داتوله هیڅ دی .. حقانی چی لوی څښتن موږ ی حاسب

حقانی غفرله در کوئٹه ۱۳-۷-۱۴۲۱ھ

آګاهی

محترمو لوستونکو! که ستاسو افکار وي چې حضرت علامه محمد عبیدالله الایوبي القندهاري سلیما نخیلي النقشبندي به چې دهر مضمون په اخر کې م ط، داوړي دپاره د دې مطلب برخه وي. محترمو! د «م» معناده مراقي الفلاح چې د نور الایضاح یوه معتمده شرحه ده.

او ط، معناده طحطاوي چې داهم د دې مبارک کتاب یوه معتمده شرحه ده. اوکه داسوال درته پیدا وي چې د کتاب به لیکلی چاوی. د ازما احقر محتاج دعا فضل الحق حقاني چې د حضرت ایوبي یوادنی شاګرد یم مایه کتابت کړې دی. اوهم ورځ د حضرت ایوبي د دے کتاب تولہ حقوق د کتابت، طباعت. ر اکړې دي» ذالک فضل الله یؤتیه من یشاء.

اوکه داسوال درته پیدا وي چې دا به پرکوم مکتبه باندې چاپ سوی وی. نو دا کتاب زمونږ مکتبې چې په نامه د «مکتبة القراءت والتجوید» ده شایع کړې دی وروسته تر دې مشکلاتو اومالي اوجاني ستړیا وو وروسته نو دا کتاب که چیرې زمونږ د مکتبې څخه علاوه پربل نامه یا چاپ کړی او یا یه په دې تعداد سره چاپ وی اوخرڅوی ئې. هغه مسروقه دی. اویا یه هم لاس وهنه په کښې کړیده. د دې مبارک کتاب د رانیولو په وخت کښې د مکتبې نوم د مصنف نوم اود کاتب نوم یاد لرې هسې نه چې پرارما نونومو اوبه در توی کړې اود سازش په درياب کې لاهوکړې. د کتاب مختصره پیژندنه:

د کتاب نوم - د نور الایضاح الایوبي نوې پښتو شرحه.

د مصنف نوم - الشیخ ابوالفضل محمد عبید الله الایوبي القندهاري الحنفي.

د کاتب نوم - محمد فضل الحق حقاني یکی از تلامذهٔ حضرت ایوبي.

د ناشر نوم - مکتبة القراءة والتجوید مالک مکتبه شمس الحق»

سُنَّ الْاَذَانُ وَالْاِقَامَةُ سُنَّةً مُؤَكَّدَةً

الاعراب: قوله: سُنَّ على صيغة المجهول وقوله الاذان مفعول مالم يسم فاعله قوله والاقامة بالرفع معطوف على الاذان وقوله سنة مؤكدة منصوب على انه مفعول مطلق لبيان النوع: ترجمه:

سنت ګڼل سوی دی اذان او اقامت پر طریقه د سُنت مؤکد یعنی تینګ سنت دي دواړه. په متن کې او په شرحه کې د دی مصنف وصحیح روایت ته اشاره کړې ده یعنی چې اذان واجب نه دی ولی چې هغه وخت چې علیه السلام وی وه اعرابي ته کیفیت د لماځه ور ښوی اذان یه نه کړې ورته ذکر اود غه رنګه اقامت» دلیل مشترک د دواړو د سُنت والی دادی چې دغه وخته چې دغه دوه یعنی اذان او اقامت مشروع سوي دي. آنحضرت صلی الله علیه وسلم مواظبت پرکړی دی. یعنی همیشه به دواړه کیدله. د دې وجه څخه بعض حنیفیان وائی چې واجب دی لکن سُنت مؤکد چونکه په حکم کښې د واجب دی چې په ترک یې سړی ګناه ګار ګڼي. لکه د واجب نو دا دوه قوله سره نږدې دي. البته ګناه په ترک د واجبو کې زیاته ده ترګناه په ترک د سُنت مؤکد کې او د اذان په باره کښې حدیث قولي هم دلالت کوی چې امام بخاري او نور محدثین روایت کړی دی. إِذَا حَضَرَتِ الصَّلٰوةُ فَلْيُؤَذِّنْ اَحَدُكُمْ وَلْيَؤُمَّكُمْ اَكْبَرُكُمْ» یعنی چې لمونځ حاضر سی او وخت یې راسی نو دې اذان وکړي یو د تاسی څخه او امامت دی درکړي مشر ستاسی» د دې حدیث مبارک تفصیل به په خپل ځای کې راسی» اِنْ شَآءَ اللّٰهُ تَعَالٰى»

پوه سئ: چې سُنت پر دوه قسمه دی. **اول سُنت الهدی:** سُنة الهدی هغه کار دی قولی یا فعلی چې په پریښولو کښې ګناه خوی یا نژدی وګناه ته د ترک الواجب لکه سُنت اویا تر هغه کمه ګناه وي. د سُنت الهدی مثالونه په پورتنی لکه اذان، اقامت، د جماعت لمونځ پریښول. او د پنځو لمونځو مخته یا وروسته سُنت وغیر ذالک. **او دوهم سُنت زائده،** بولی چې د هغوی په ترک کې خو هیڅ ګناه نه وي. مګر په کولو کښې البته ثواب وي. لکه د آنحضرت صلی الله علیه وسلم د ښه والا طبعي کارونه یعنی په خوراک په ناسته، په تګ، په لباس وغیره کې او د اسی نور شیان» لکن اُمتیانو لره پکار دي چې د سُنت زائده په باره کښې د غفلت لار

نه کی مختاره. بلکه سُنت زائده حسب المعلوم هم پرځای کړي، آیت کریمه، لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ، قال المصنف: **لِلْفَرَائِضِ** یعنی اذان او اقامت دپاره د فرائضو دي. نو د جمعې لمونځ په کښې داخل شو. مګر د اختر و لمونځ، د جنازې لمونځ او د استسقاء لمونځ، او وتر، ځندې و وتل، دهغوی دپاره اذان او اقامت نشته، نو بنا ءً علی هذا دماخستن اذان د وترو دپاره نه دئ. پر صحیح مذهب، او بعض عُلماء وائی چې دماخستن اذان د وترو دپاره هم دی په دی سبب چې دماخستن د فرضو او د وترو وخت سره شریک دئ. قال **وَلَوْ مُنْفَرِدًا** کرخي هم د غه فرضي لمونځ یوازې کوي. لکن دا حکم په صحرا کې دی نه په ښارو او قریو کښې. په حدیث شریف کې داسې راغلي دي. إِذَا كَانَ الرَّجُلُ بِأَرْضٍ، ای فلاة، کهیري یو سړي په صحرا کې وي. فَحَانَتِ الصَّلَوٰةُ، نو داخل سي وخت د لماځې، فَلْيَتَوَضَّأْ، فَإِنْ لَمْ يَجِدْ مَاءً فَلْيَتَيَمَّمْ، پس او دس دې تازه کړي. او که اوبه نه وي نو تیمم دې وکړي، فَإِنْ أَقَامَ صَلَّى مَعَهُ مَلَكَانِ، نو کې اقامت وکړي لمونځ کوي د ده سره یعنې په جماعت سره دوي ملکي، چې غالباً مراد به حفظه وي، وَإِنْ أَذَّنَ وَأَقَامَ صَلَّى مَعَهُ مِنْ جُنُودِ اللهِ مَا لَا يُرَى طَرَفَاهُ، او کې اذان او اقامت دواړه وکړي د ده سره به په جماعت لمونځ وکړي یو ډیر ډیر ډله د ملکو چې ځنډ الله دی دومره ډیري چې دوه طرفه یې نه معلومیږي، ط، مه، قال المصنف

أَدَاءً أَوْ قَضَاءً سَفَرًا وَحَضَرًا لِلرِّجَالِ وَكُرِهَا لِلنِّسَاءِ

که په وخت کې لمونځ کوي او کې قضا ئې کوي. که په سفر کې وي او که ببیله سفره وي. او اذان او اقامت سنت دی نر ولره. او مکروه دیښځو لره. **سَوال**: بعض اماماني طالبان د حضر ترجمه په کور سره کوي او مخه ذکر سوه چې اذان او اقامت په صحرا کې کول سُنت دی نه په ښارو کې مثلاً نو دی ترجُمې او د ما قبل منافات نشته، **جواب**: دا ترجمه غلطه ده بلکه د حضر څخه دلته مُراد مقابل د سفر دئ. نو دا کیدای سي چې سړي دې شرعي مسافر نه وي او په صحرا کښې دی وي. لکه یو سړي چې د کور د پاره په صحرا کښې بوټي ټولوله او یا پسونه څړوي وغیره.

پوه سه: چې اذان او اقامت. د سُنتو څخه د جماعت مستحبه دی، نو بنځو د پاره یې اد مدیا نو د پاره یاد لخوځ خلګو د پاره نشته. ولې چې د دوی جماعت مشروع نه دئ. ب، ط، او د غه رنګه د معذورو خلګو د پاره چې د جمعې په ورځ د ما پښین لمونځ په جماعت کوي اذان او اقامت نشته، ولې چې د اجماعت د دوی په بنا ر کې مکروه دئ. ح، ط، او د بنځو د پاره کراهت د اذان او اقامت دی وجهی څخه دئ. چې بناء د حال د دوی پرسترده. او رفع د صوت د دوی حرام دی. او په اقامت کښې هم رفع صوت فی الجمله سته که څه هم تر اذان کم دئ.

د زمانې حال:

بعض خلګ چې زوی یا ورور نه مثلاً واده کوي نو دوی قربیان بنځې او کلي او کوڅې بنځې خبرې کړي. او هغه بنځې هم دواده د پاره هر څه پښینې کالي چې په کور کې لري واغوندي. او شوندان هم سره کړي. سترګې توري کړي او سرې او سپینه هم وکړي. چې میړه هم د اغه سې بناسته حال کې نه وه لیدلې. او د ښځې ورسره راوخلي. واده ته روانې سي. او عطر حسب المقدور یه هم په ځان پوري مینلې وي څو خت چې دواده وکړي ورسیدلې چادري وغورځوي لخ سرونه، د ریوشرف جوړ کړي. او بدلې یه د ریم کور او ټوله د محلې خلګ اوري. په دې کور کې نران هم ګرځي بنځې باک نه په کوي. او حال هم دا اوس دعوا مو څخه وخواصوته یعنې مُلایانو ته إِلَّا مَا شَاءَ اللهُ تجاوز کړي دی نو ته فکر وکړه چې اذان او اقامت چې د خدای پاک ذکر دی په رفع الصوت و دوی ته مکروه دی نو بدلې او غږ ځرنګه و دوی ته په رفع الصوت روا وي.

د طالبانو حکومت په افغانستان کې،

پوه سه چې جهانیان مُسلمانان او کافران ټوله په دې خبر دی چې د افغانستان خلګ تخمیناً ۲۲ کاله کیږي چې داور په لمبو کې سوځیده. او د مخه د طالبانو تر حکومت په افغانستان کې د چا مال او نه د چا ناموس محفوظ وو، مګر بیا هم جهانیانو د افغانستان حکومت په رسمیت پیژندئ. هغه اوسنۍ وخت کې چې خدای ﷻ سُلطانانه اراده او رحم وکړي چې د افغانستان د خلګو څخه د اعذاب الیم پورته کړي نو بیچاره طالبان د مدرسو او مسجدو د حجرو څخه یه را و ایستل چې په اول وهلت کې بیخي محدود عدد یه وُو.

اود دوئ سره دزما ني په مناسبت بيخي بيکاره اسلحه يعنی کلاشنکوفونه موجود وو، امّا سره د هغه خدای جل سُلطانه دوی ته پر بيخي لږ زمانه کښی تسلط او غلبه وکړه پر اکثرو لويو ښارونو او قريُو يا ندې. حق چې په لږ وخت دوی مُسلط سول د خدای جل شانه په توفيق پر نوی په ټولو کی د افغانستان ». لکن بيا هم نړۍ خصوصًا غربيان او په دوی کی بيا خاص امريکا چې په ټوله نړۍ کی لوی دُښمن دی د مسلمانانو، دا لبانو حکومت په رسميت نه پيژني، بلکه علانيه پرهغه قسم قسم بندیزونه يې پرې پے غريب حکومت دا طالبانو لګولی دي، او دوی رقمه رقم بهانې ورته کوي:

يوه بهانه دوئ: چې د دې مقام سره تعلق لري ګڼلې چې دا طالبانو حکومت د بنځو حقوقو تر پښو لاندې کړي دي. د دې بهانې جواب دادی چې په بين المللي قانون کښی دا ماده موجوده ده « چې يو حکومت به د بل حکومت په ديني او مذهبي چارو کښی لاس وهنه نه کوي ». نو اوس د غربيانو نه بځنه خصوصًا د امريکا نه بځنه طالبان دا پوښتنه کوي: چې آيا حقوق د بنځو دادي چې دوی په لخپل سر او لخپو پنډيو پے په بازار و کښی ګرځي او په داعسی لباس کی دې بنو و نخيو ته د تعليم اوزده کړی دپاره ځي. که دوی وائي چې هو کی د غه د بنځو حق دئ نو طالبان ورته وائي چې زمونږ دين اسلام چې حق دين دئ. او زمونږ قرآن چې آسماني کتاب دی د دغسی وضعيت نه بځنه سخت مما نعت کوي » نو ولی غربيان زمونږ په ديني او مذهبي چارو کښی مداخلت کوی. او ولی دوی د بين المللي قانون مراعات نه کوي. او که غربيان وائي چې نبځی او نجونې دې په حجاب شرعی کی ستاسی د دين تعليم اوزده کړه کوی او بنو و نخيو ته دی ځي. نو طالبان وائي چې صحيح ده داحق لري. لکن د دې عملی کولو مونږ ته ګران دی. ولی چې زمونږ اقتصادی حالت لکه دنيا والا و وته چې معلوم دئ. په ټوله نړۍ کی کښی د پرې ضعيف دې او فوق الذکر عمل پرې بودې جه غواړي. نو دنيا وال او غربيان او امريکايان دی زمونږ پرې مړی وکړي. او مونږ دی پر پښو ودرُه وي. او زمونږ و يجارې مملکت دی ښاله آباد کړي. او بيا دی له مونږ نه بځنو د بنځو حقوقو طلب وکړي. لکن دوی په عوض کی د مرستو پر مونږ اقتصادی بندیزونه لګوی چې مونږ لا نور د پښو نه بځنه وغورځوی د اخو نړۍ والو د انصاف نه بځنه خلاف ده.

نو اصلی خبره بله ده هغه داده چې د افغانستان چونکه د اسی غيور او با شجاعت اوسپنديونکی خلک دی. او په اسلام او دين د ومره عاشقان دی چې روس چې د دنيا يو ستر قوت و و غربيان ځندی په ډيره بيره کښی وه چې د دوئ برخاوره يعنی افغانستان په تجاوز وکړي نو د افغانستان پيرو ونه، نر او بنځو لوی لوی قربانی ورکړي او روس اخير الامر د خپل هيواد نه بځنو شاړه، بلکه د افغانستان د خلګو په همت شوروی اتحاد ټوټه ټوټه سو او د الله په لوی فضل سره د استر قدرت يه په بيخي پا ته قدرت سره بدل سو او غربيانو ده د غه خلاص سوه اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ.

نو اوس د غربيانو د اعقيده ده که چيری د افغانستان د اسلامی امارت حکومت پر پښو و درول سی. نو د غرب د پاره بيخی لويه خطره به وګرځي. که څه هم د طالبانو حکومت په بار بار وئيلی دي چې مونږ د نړۍ د هيڅ حکومت په چارو کښی مداخلت نه کوو. لکن د دی اعلان سره سره د غربيانو نو وهم د نړۍ نه بځنه وزي، نو ځکه په مختلفو بهانو سره غواړي چې د حکومت د پښو نه بځنه وغورځوي. او په ځای کی د دې د موجوده امارت اسلامی خپل پو دست نشينه حکومت په افغانستان کی ما بين ته راوړي، چې غربيانو او دنيا وال چې هڅه غواړي هغه حکومت يه کوي نو هله د دوئ بيره د زړه نه بځنه ووزي. دا و و هغه مختصر بيان چې په دی ځای کی په دی مسئله پوری تعلق درلودئ. او که تفصيلی بيان کوم نو به يو پوره کتاب تصنيف وَهِ، اوس مصنف د اذان کيفيت بيا نوي. او وائي، قَالَ

وَيُكَبِّرُ فِي أَوَّلِهِ أَرْبَعًا وَيُثَنِّي تَكْبِيرَ آخِرِهِ كَبَاقِي أَلْفَاظِهِ

او الله اکبر دې وائي په اول کښی څلور واره. او دوه واره دی وائي تکبير د اخر د اذان لکه نور د الفاظ د اذان چې دوه واره ويل کيږي. يعنی شهادتين نه ټوله باقی الفاظ ولی چې لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ» خو په اخير کښی يو واره دی.

مسئله: اول څلور تکبيره دې په دوه آوازه سره وائي او څلور تکبيره ويل ظاهر الروايت دئ. او هم په دې روايت سره عمل په ټوله اسلامی نړۍ کی دئ.

اوحسنؒ دامام اعظمؒ څخه ړوایت کوی چې په اول کی داذان دی دوه تکبیره وائی "وهو ړوایت عن ابی یوسفؒ وبه قال مالکؒ". ط.

پوه سه: چی اکبر بعض علماءؒ وائی چې په معناده اعظم دی. اولبعض وائی چی په معناده اقدم دی. اولبعض وائی چی اسم تفضیل پرخپله معنا نه دی بلکه په معناد عظیم دی". ط"

مسئله: الله لفظ دی خواه مخواه په پیښ وائی. اودمصنفؒ مختاره په مراقی کی داده چی ړا" د اکبر دی په جزم سره یعنی سکون سره وائی. اومصنفؒ وائی چی کلمات داذان دی په سکون سره وائی دپاره دوقف چی ترسل اوځنډ په کښی ړاسی اوداقامت کلمات دی هم په سکون سره وائی لکن په نیت دوقف نه حقیقی وقف تاچه په اقامت کښی حدر ړاسی یعنی چابك تیاه

مسئله: شهادتین دې دوه واره وائی. اوپه مابین کښی دې لږ سکته کوی پراذان کی او حیَّ علَی الصَّلوٰة دی دوه واره وائی. اومقصود بالذات په آذان کښی هم دغه کلمه ده ولی چې مقصوډ داذان څخه بلنه ډخلګوده ولما نځه ته اودهغه بلنه په دغه کلمه کښی ده او حیَّ علَی الفَلَاح دی هم دوه واره وائی. اومعنیٰ د حیَّ علَی الفَلَاح ډاده چی آراسته ووسئ وهغه کار ته چې په هغه کښی ستاسی فلاح او نجاة دی چی هغه لمونځ دی. اود فلاح داسی یولفظ دی چی په عربی ژبه کښی جامع دخیراتو دغه لفظ په مثل بل لفظ نشته". ط"

وَلَا تَرجِيعَ فِي الشَّهَادَتَينِ اوترجیع نشته په دوو کلمو کښی د شهادت په کراړ آواز سره وائی اوبیا بیرته رجوع ورته وکړی اودواړې په لوړ او بلند اواز سره وائی". ک، م" **دی سئ لی دلیل داړی:** چې په اذان کی د بلال ترجیع نه ده ړاغلی. اوحضرت الامام شافعیؒ وائی چې ترجیع په اذان کی سُنت ده" ولی چې په اذان کی د ډاډ محذورهؒ ترجیع په امر د رسول الله صلی الله علیه وسلم موجوده ده" **والجواب عن جانب الحنفیةؒ** دادی چې ابا محذورهؒ مؤذن ووچې ایمان یه نوی ړاوړی وو په مکه مکرمه کښی نوده څخه آنحضرت صلی الله علیه وسلم داذان کولو کیفیت و پوښتئ نو هغه حیاءً

شهادتین کوار کرار وَوَئیلی. نو رسول الله صلی الله علیه وسلم په غوږ ورو و پیچی او ورته په وَوئیله چې شهادتینو ته بیرته رجوع وکړه. اوپه لوړ آواز یه وَوایه. اودی په په دې پوه کړی چې په حق کی حیاء نشته. نودا تعلیم داذان وو دابی محذورهؒ گمان د ترجیع پرړاغله". کذا ذکره محقق الحنفیةؒ فی جواب حدیث ابی محذورةؒ.

اوداانصاف دلاړی هم دا توجیه صحیح ده. ولی چې بلالؓ په مسجد نبویؐ کی پنج وخت په کلو مؤذن وُو. نوکه ترجیع سُنت وای نوده به کولائ. اوبه په ړوایت کښی داسې ړاغلی وای چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم بلالؓ په ترجیع سره امر کړی" وَلَم یُوجَد.

وَالإِقَامَةُ مِثلُهُ وَيَزِيدُ بَعدَ فَلَاحِ الفَجرِ الصَّلوٰةُ خَيرٌ

اواقامت مثل دی داذان اوزیاتوی دې په آذان کښی د سحار" اَلصَّلوٰةُ خَيرٌ مِّنَ النَّومِ" دوه

مِنَ النَّومِ مَرَّتَينِ وَبَعدَ فَلَاحِ الإِقَامَةِ قَد قَامَتِ

واړه پس له "حیَّ علَی الفلاح" څخه یعنی لمونځ ښه دی ترخوب (په دی کلمه کی آګاه کول کول دې د مسلمانانو چې اوس نوبا لا خوب مه کوئ

الصَّلوٰةُ مَرَّتَينِ چې وخت د لمانځه دی او لمونځ ترخوب افضل دئ. اوزیاتوی دی پس له حیَّ علَی الفَلَاح څخه داقامت" قَد قَامَتِ الصَّلوٰةُ دوه واړه یعنی اوس لمونځ برپایه کیږی" حدیث شریف" نبی علیه الصلوٰة والسلام امر کړی دئ بلالؓ په دغه الصَّلوٰةُ خَيرٌ مِّنَ النَّومِ" سره ولی چې داوخت د خوب اوغفلت دئ.

پوښتنه: لفظ د خَيرٌ اسم تفضیل دی لکه چې په صرف اونحوه کښی داخبره ثابته ده. اوداسم تفضیل معناد نجاةُ پرقانون داده چې مفضل اومفضل علیه به په اصل معنا کی د مصدر سره شریکان وی. نوپه اَلصَّلوٰةُ خَيرٌ مِّنَ النَّومِ" کی لمونځ چې مفضل دی ښه والی په کښی دی آیا په خوب کی چې مفضل علیه دی څه ښه والی سته!

جواب: خوب هم گاهې عبادت وی چې د بل عبادت سبب وی. لکه سړی چې د شپې

په اول کښی ښیدیږی. ددې دپاره چې د تهجد و لمانځه ته ښه بیدار شي، اویا په داسې وخت کې سړی ښیده سی چې په هغه وخت کې په محله کښی سرود کیږي. نو دی په خوب سره د هغه معصیت نخه د سرود اوریدو خان خلاص وی نو دغه خوب هم عبادت دی. اوبل جواب دادی چې لمونځ استراحت دی په دنیا کښی. اولمونځ سبب دی د استراحت د اخرت اوراحت د اخرت افضل دی تر راحت د دنیا، هذا المحصل ما فی الشرح، قال المصنف:

وَيَتَمَهَّلُ فِي الْأَذَانِ وَيُسْرِعُ فِي الْإِقَامَةِ

اوخندې دی کوی په اذان کی په سکته سره په مابین کښی د ځلورو الله اکبرو په اوله کښی د اذان. اوبیا په مابین کښی دهرو دووکلمو، اوبیرا ایق وائی چې کلمی د اذان دی درازی اواوږدې ده وی. لکن په غالب کښی وائی چې دا اوږد دوه کلموته د اذان دی سرود پرې وزمزمه نه وی. کما یفعله المؤذنین فی العصر الحاضر

مسئله: که چا اذان چابک وکړی مکروه دی، فتح. او اذان دی بیرته راوګرځوی. ولې چې پوره مقصود د اذان نه سوحاصل، قهستانی. اوکی اقامت په ترسل سره وکړی مکروه خو دی لکن مختاره داده چې نه دې راګرځوی «ط». ولې چې مقصود د اقامت څخه خبرتیاد حاضرینو ده په شروع کولو د لمانځه. اوهغه مقصود په ترسل سره د اقامت کولو حاصل سو نو تکرار ته د اقامت ضرورت نشته،

سوال: په تکرار سره د اقامت به کراهت د ترسل دفع سی **جواب**: تکرار د اقامت خو مشروع نه دی او تکرار د اذان مشروع دی لکه چې اذان قبل الوقت وکړه سی. نو د دخوله سره د وخت ر اګرځول یه لازم دی. قال المصنف:

وَلَا يُجْزِئُ بِالْفَارِسِيَّةِ وَإِنْ عَلِمَ أَنَّهُ أَذَانٌ فِي الْأَظْهَرِ

او کفایت نه کوی. یعنی اذان په پارسی ژبه سره که څه هم خلک و پوهیږی چې دا اذان دی په اظهر روایت کی د مذهب **فائده**: مصنف تخصیص د فارسی ژبی وکړی د دې سببه چې نور دی د ټولو ژبو و عربی ته په فصاحت او بلاغت کښی هم دغه فارسی لغت او

ژبه ده کما فی التلویح. نو چې په فارسی ژبه اذان نه دی کافی نو په نورو ژبو په طریق اولی نه دی صحیح. علت د نه صحت یه دادی چې هغه اذان چې عبدالله ﷺ پخوب کښی اوریدلی وو (ولکن څخه) هغه عربی وو. نو دی علت له مخی اقامت هم په بلال ژبه نارواوی یعنی کافی نه دی. ولې چې د اعلت د اذان په اقامت کښی هم موجود دی. قال المصنف:

وَيُسْتَحَبُّ أَنْ يَكُونَ الْمُؤَذِّنُ صَالِحًا عَالِمًا بِالسُّنَّةِ وَالْأَوْقَاتِ

او مستحب ده چې وی به اذان کوونکی صالح سړی. او خبر به وی په سنت طریقه د اذان. او په

الصَّلَاةِ عَلَى وُضُوءٍ مُسْتَقْبِلِ الْقِبْلَةِ إِلَّا أَنْ يَكُونَ رَاكِبًا

وی په وخت د پنځو لمونځونو او په اوداسه به وی، او مخامخ به وی وقبلی شریفی ته. مګر نه که سپو وو یعنی په سفر کی **پوه سه**: چې د صالح معنا خو اصلی داده چې سړی به حقوق د خدای جل شانه او حقوق د بندګانو به ټوله پرځای کوی. نو چونکه داسی سړی په کم پیدا کیږی نو دی سبب مصنف یه په مراقی کښی تفسیر دا کړی دی چې متقی به وی. او د متقی څخه هم مراد دادی چې ظاهر العدالت به وی. او مراد د سنت څخه د اذان علم دی په دې دول چې په اذان کی مثلاً ترسل په کار دی او هغه نور کارونه چې د مخه یه ذکر و سو.

او سپاره سړی ته په سفر کی اذان په حال کی د سپر تیاب کراهتر روادی. او په حضر کی داسی کول مکروه دی فی ظاهر الروایة. قال المصنف فی المراقی. **پوه سه**: چې مراد د سفر څخه لغوی سفر دی شرعی سفر نه دی یعنی چې په صحرا کښی وی. دلیل د دی دادی «چې په فقه شریفه کښی وائی چې نفلی لمونځ د باندی تر بار او فریضه ر اکبا مکروه نه دی. نو اذان په طریق اولی مکروه نه دی، قال المصنف:

وَأَنْ يَجْعَلَ إِصْبَعَيْهِ فِي أُذُنَيْهِ وَأَنْ يَتَحَوَّلَ وَجْهُهُ

اوبل مستحب ده چې گرځوی دی دوې گوتی یعنی د دوو گوتو سره نه (دا مجاز دی چې ذکر کل مراد څندی جزء دی) په غوږونو کی. او بل دا مستحب دی چې اړه وی به مخ خپل

يَمِيْنًا بِالصَّلٰوةِ وَيَسَارًا بِالْفَلَاحِ وَراسته طرفته پَحَیَّ عَلَی الصَّلٰوة کی او وچپه طرفته پَحَیَّ عَلَی الفَلَاح کی. لقوله علیه الصلوٰة والسلام لبلال رض کرځوه ته دوئی گوتی پر دوو غوږونو کښی. ولی چی داسته داوآز پوره ته کوو نکی دی. **حکمت**: هروخت چی سړی خبری کوی سایه ترخوله اوږوځه تر غوږونو هم وزی. نوځه وخت چی دی غوږونه پَه گوتو بند کړی نوپه وله ساه یه ترخوله وزی. نودد پی سَبَبه یه آواز لوړ پیږی، اوبله خبره دا ده چی څه وخت چی سړی غوږونه بند کړی خپل آواز کرار اوری. نودی گمان کوی چی دبل نړی هم نما آواز کرار دی نوآوازته زور ور کوی.

پُوښتنه: چی امام طحاویؒ په شرح کښی وائی چی اوږ کول دگوتو په غوږونو کښی سُنت اصلی نه دی. ولی چی داکار په آذان کی د ملکی نازل من السَّماء په خوب کښی د عبدالله رضؓ وو، اواصل اعلام هم نه دی پر موقوفه. بلکه داکار پاره د مبالغی فی الاعلام دی. اودی وائی کړچیری مؤذن دواړه لاسونه پر غوږونو وَنسی هم ښه کار دی. **اَلْبِشَارَةُ لِلْمُؤَذِّنِ**» په صحیح حدیث کی راغلی دی» چی نه اوری منتهی د آواز د مؤذن نه پیږی اونه انسان او نه بَل شئی مگر اوری په داسی توگه چی شاهدی به ادا کوی ده ته. یعنی دده په ایمان سره په وَرځ د قیامت کی اوطلب د بخښنی به کوی دده د پاره هرلوند اووچ شی چی دده آواز د اذان په اوریدلی وی. اوپه حدیث شریف کی چی روایت په نِسَائی کړی دی داسی راغلی دی. وَلَهٗ اَجْرُ مَنْ صَلّٰی مَعَهٗ» اومؤذن به د قبره څخه په داسی حال کښی راووزی چی اذان بی په خوله کښی وی. اود مؤذن ناتوغاړی به اوږد وی په وَرځ د قیامت تر نورو خلگو. د اکنایه ده خوشحالی څخه ده ولی چی د شریملی غاړه کښته وی. اولبض وائی چی امید د مؤذن ناتوبه د رحمت ته د خدای جل سُلطانه نږدی وی.

اوپه یوبَل حدیث کی داسی هم روایت سوی دی» چی مؤذن په وَرځ د قیامت پر غوږدی دمشکو کښی نه وی. اولوبه بیره د وَرځی د قیامت دی پر خوف کی نه اچوی. **پوښتنه** آنحضرت صلی الله علیه وَسلم په څیله اذان اواقامت کړی دی؟ **جواب**: په ضیاء کښی

راغلی دی چی ده صلی الله علیه وَسلم په یوه سفر کښی اذان وکړ او اقامت یه وکړی اود ما اَلْبِنِین لهونځ یه وکړی. اود غه رنگ مُستحب دی چی اړه وی الخ. اود اړول د مخ سُنت داذان دی. نوکی یَوازی اذان کاوه په صحرا کی هم به مخ اړوی پر دوه طرفه.

مسئله دکشنی په غوږ کی که یه اذان کاوه هم به مخ اړوی» ط ص۱۹۹. اود اخبره د تحویل الوجه چی مصنفؒ وکړه چی په حَیَّ عَلَی الصَّلٰوة کی د مخ راسته طرفته اړوی او په حَیَّ عَلَی الفَلَاح کی وه چپه طرفته تر اړوی مذهب دی د جمهورو حنیفیا نو او رَبیعی هم داغه دَول صحیح بولی دی. اوبعض عُلماء وائی چی په دواړو کښی دی دواړه طرفته مخ اړوی. کمال الدینؒ وائی. وهُوَالاوجه. اوپه نهر کی هم دده خبری تائید سوی دی. وَاللّٰهُ اَعْلَمُ، قَالَ المصنفؒ.

اومؤذن دی راسته اړخ چپه اړخ ته گرځی په منارو کی

وَيَسْتَدِيْرُ فِيْ صُوْمَعَتِهٖ داذان **پوښتنه**: چی صومعه په اصل کی معبد ته د راهب ده نصاراوو ویل کیږی، کمافی البحر والطحطاویؒ **پوښتنه**: چی په بچوانهانو کښی چی آلات جدیده د پاره د رفع الصوت داذان موجود نه وه. نومسلمانانو به حسب المقدور په مساجدو کښی یوه مناره جوړوله. اوپه هغی منارو کی بی د ننه څینی پورته کولی. اوپر سر د منارو بی یوه لویه یا گشنی گمبده جوړوله. اوهغی گمبدی تی څلور دری بچی یا په اصطلاح کلکینان ورکوله. یعنی د قبلی وخوا ته. د شاه وخوا ته. اوپر راسته لاس. اوپر چپه لاس. دا د دی د پاره چی د مؤذن اواز تر دی د بچو وَوزی» نوپه اصطلاح کی د فقهی شریفی دغی گمبدی ته صومعه وَیل کیږی. اوپه پارسی یه مؤذن خانه بُولی. نو اوس مسئله د صومعی داسی ده چی مؤذن به د قبلی شریفی د بچی ته نږدی دریږی، اوکه مؤذن خانه گشنی وَه نو د حَیَّ عَلَی الصَّلٰوة. اوحَیَّ عَلَی الفَلَاح په وخت کی د سړا یشلو ضرورت نشته. اوکه صومعه فراخه وَه نو به مؤذن د حیعلتینو وخت کی تر راسته اوچپه کلکین سَرَبَاسی. اوحَیَّ عَلَی الصَّلٰوة. اوحَیَّ عَلَی الفَلَاح به وائی. لکن په داسی شان چی قبلی ته به شا نه گرځوی.

اوذا گرځیده هم د آواز د رسیدو د پاره دی۔ **مسئله**: په اقامت کی دی هم مخ وراسته اووچپه بغل ته اړه وې۔ **فائده**: په قهستانی کی د نظم څخه نقل کړی دی، چې اذان د منډې په مسجد کی مکروه دی۔ اوکه مکان لوړینه وو نو په فناء کی د مسجد به اذان کوی، کذا فی الفتح۔ نو په دی اوس وخت کی چې آلې جدیده یعنی لاوډ سپیکر په ټولو مسجدونو کښی اِلّا مَاشَذَّ وَنَدَر د منډې په مسجد کی نصب کوی اواذان په کښی کوی نو حکم به ئې څه وې؟ **جواب**: په مقتضیٰ د دې قاعدې چې، اَلضَّرُورَاتُ تُبِيْحُ الْمَحْظُوْرَاتِ "د ابه مکروه نه وې۔ ولې چې آلې جدیده یعنی لاوډ سپیکر که د باندی تر مسجد نصب کوی نو چونکه قیمتی شئی دی بیره د دی سته چې غل بی غلا کړي۔ اوکه ټن دی وی و مسجد ته هجره یا بل محفوظ ځای وو نو لاوډ سپیکر دی هلته نصب کړی اواذان دې په کښی کوی نو هم د کراهت څخه اوهم د غله څخه به خلاص یې۔ قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَيَفْصِلُ بَيْنَ الْاَذَانِ وَالْاِقَامَةِ بِقَدْرِ مَا يَحْضُرُ الْمُلَازِمُوْنَ

اوجلاوالی دی کوی مؤذن په مابین کښی د اذان او اقامت دومره قدر چې حاضرین ی هغه

لِلصَّلٰوةِ مَعَ مُرَاعَاتِ الْوَقْتِ الْمُسْتَحَبِّ وَفِي الْمَغْرِبِ

کسان چې تینګ ولاړوی و لما نځه ته یعنی جماعت کولو ته، سره د مراعات د وقت مستحب یعنی دونه دی نه

بِسَكْتَةٍ قَدْرَ ثَلَاثِ اٰيَاتٍ قِصَارٍ اَوْ ثَلَاثِ خُطُوَاتٍ

څنډوی چې وقت مستحب تیریږی۔ او د مابنام د اذان او اقامت ترمابین دې دونه فصل کوی چې په قدر د درو کچنی ایاتو د ویلو وي۔ او یا د دری ګامه سړي اختلای یې۔ او په عنایه کښی وائی چې یا د بیوایت طویله لکه ایت الکرسی وویل کیږي۔ لکن په نیزد امام اعظم د اوفصل دی په ولاړې کوی کښینی دې نه۔ او په نیزدیاړانو مؤذن دی سپکه ناسته وکړي۔ لکه په مابین کښی دوو خطبو چې خطیب کښینی۔

مسئله: جوت وَل د اذان او اقامت په ټولو لمونځو کښی مکروه دې په اجماع سره ولې چې مقصود په اذان سره خبره وَل دې د خلګو په دخول د وخت د لما نځه۔ چې دوئ ځان لما نځه ته سم کړي په اود اسه وَغیره سره او بیا حاضر یږی و مسجد ته د پاره د جماعت نو په صورت کښی د وَصل د امقصود پاتیږي۔ **مسئله**: که چیرې د لما نځه د څخه سُنت وه لکه د سحار لمونځ یا د مابښین لمونځ نو په مابین کی د اذان او اقامت دی هغه سُنت وکړی۔ او یا د ښځه تر لما نځه مستحب نفل وه لکه د ماښام تر لما نځه د ښځه یا د ماخسُتن تر لما نځه د ښځه نو هغه نفل دی وکړی۔ او یا د تحیة المسجد وکړي لکن چونکه د ماښام د لما نځه وخت دیر تنګ دی نو ځکه د نفلو ګنجائش نشته په کښی نو لهذا په جلسه خفیفه وغیره سره دی فصل وکړي۔ کذا فی العنایه والطحطاوی۔

مسئله: څنډوَل د لما نځه د پاره د ټیس محلی یا بانی د مسجد، او یا د دیر نرکوه والا سخت مکروه دی۔ کذا فی فتح القدیر۔ **پوښتنه**: په مبتغی کښی وائی چې څنډوَل د اقامت، او یا اوږدوَل د قرائت د پاره د اړه رسیدو د بعض خلګو یعنی معین سړي حرام دی۔ نو دا خبره صحیح ده؟ **جواب**: دا کار هلته حرام دی چې د پاره د دنیا وې۔ ولې چې دا اهانت په شرع سره دی۔ او تاخیر یې هم دومره وی چې پر لمونځ کوونکو دیر تکلیف وې: قَالَ الطحطاوی، چې لږ څنډوَل د پاره د کومک پر کار د خیر چې لمونځ دی مکروه نه دی۔ وَقَالَ فی المضمرات، پروا نه ستر چې امام میانه انتظار وکړي۔ قَالَ

وَيُثَوِّبُ كَقَوْلِهِ بَعْدَ الْاَذَانِ اَلصَّلٰوةُ يَا مُصَلِّيْنَ

او ثویب دی کوی مؤذن یعنی پس له اذانه دی دوهم اعلان کوي لکه د اقول د مؤذن پس له اذان څخه، حاضرینو لما نځه ته حاضر یږی لما نځه ته ای لمونځ ګذارانو۔ او یا په پښتو کښی وائی۔ پر لما نځه دریږ وکه خدای کول دوه واره۔ **پوښتنه**: چې تثویب په قول د بحر رائق او طحطاوی عود دی وخبر تیا ته پس له د ښځه خبر تیا څخه، او په شرع شریفه کښی عود دی واعلام مخصوص ته پس له اذانه علی الصحیح نه پس له اقامت څخه

اومصنف په مراقی کښی وائی چی دا تثویب په تولو لمونځو کی دی کوی پس له آذان اوچ
په داوښیلی ده چی په خلکو کی سستی په کار وکښی ددین دیره ده» اوده وښیلی دی چی
تثویب دهر قوم بناء دی پرعُرف دهغودی **پوه سه**: چی مسئله دتثویب
المتعارف فی بعض المساجد دیره پیچلی مسئلی ده. حضرت الامام الطحطاوی وائی
چی دا تثویب مکروه دی په نیز دیارانو. اوپه روایت کی دحسن دا سی راغلی دی چی مؤذن
دی پس له اذانه په اندازه دشلو اینو دقران مبارک څنډ وکړی اوبیادې دغه متعارف تثویب
وکړی. اوبیادی شل ایت ودوسته اقامت وکړی. **فائده**: تثویب دوه قسمه
دی یوقدیم اوبل حادث. **اوّل قسم**: اَلصَّلٰوةُ خَیْرٌ مِّنَ النَّوْمِ» دسحار په آذان کی
دا تثویب په اول کی دسحار تر اذان ورودسته کیدئ. مگر علماؤ ودکوفی په اذان کی داخل
کړی په دې طریقه پسی ددوی تولهامت اقتداء کړیده»
اودویم قسم تثویب علماءِ کوفی احداث کړی دی په مابین کی داذان او اقامت» دَدُوئی
په زمانه کښی داسی وئیل کیدله «حَیَّ عَلَی الصَّلٰوة» دوه واره. حَیَّ عَلَی الْفَلَاح دوه واره.
اوورسته هرقوم خپل دپاره جلاجلا تثویب وضع کړی» بحر رائق کښی وائی چی دا تثویب
اختیار دمتأخرینودی. اومتقدمینو یه مکروه بللی» **فائده**: دا تثویب په اغلبو
بلاد وکښی اوقریه وو کښی د حنیفیانو اوس اوس پاته دی اودنورو مذهبوپه بلادو
اووطنو کښی بیخی بدعت یه بولی.

دَدرویش رایه: پوه سه چی امام ربانی مجدد الف ثانی قدس سره په مکتوبات
شریف کښی وائی په مسئله کښی دوحدة الوجود چی هغه یوه پیچلی مسئله دعلم تصوف ده
پس له بیان مفصله مخزدهغی» ماذا نکار مکنم ونه این کار مکنم» نودَدرویش په مسئله کښی
دنوی تثویب ورته عبارت وایه» چی زه نه دتثویب مذکوره مخزانکار کوم. اونه دا کار کوم
واللّٰه اعلم وعلمه اتقن واتم» قال المصنف **وَیُکْرَهُ التَّلْحِیْنُ** اومکروه دی
په لحن سره
اذان کول. **پوه سه**: چی ابن الملک دتلحین ترجمه په تغنی سره کړیده په داسی قول

چی تغنی راسی په کلماتو داذان کښی. اوعلماء وائی چی داسی اذان بلارهیب نه دی روا. او
نفس تحسین الصوت یعنی خوش آوازی بیله تغنی پروا نه لری. بحر رائق وغیره
اوطحطاوی دتلحین دیرجامع تفسیر کړی دی. دی وائی چی تغنی راسی په کلمو کښی داذان
اوپه کیفیت کی دهغوپه سبب دبی ځایو حرکتو یا سکناتو. اویادبعضی حروفو کمول
یازیاتول. اوداسی تغنی نه په اذانکی روا ده اونه په قرائت کښی دقرآن اونه په اوریده روا دی
ولی په دی کی تشبه ده دغږلیانو سره» **مسئله**: دلك وَیْل دَلام دالله چی دی تفخیم
وائی پروا نه لری. ولی چی دالغت داهل حجاز دئ. اوزه ویل یه لغت داهل بصری دئ.
لکن مختاره داده چی ورسته تر زبر یا پیش وی لام دی د لك وائی. اوکه ورسته تر
زیر وو لام دی نرم وائی.

یوه واقعه یووخت په قندهار کی یوځای ختم دقرآن کریم کړی دئ. اوډیر علماءد
دمجمع یوقاری لحان اومغن چی دالته حاضر وو یوه عالم ورته ووئیل چی ته یوه رکوع
دقرآن کریم جهرًا وواید نوبه ختم شروع کړو. نوهغه قاری غاړی تازه کړی اوقرآن
شریف یه ومخته سپر کړی چی دده دخولې کشول اوپریوه خوا بله خواکښ وَل یه خولهٔ
ونه وینی. اویوه رکوع یه په لحن اوتغنی اوپه لهجه دسرو شروع کړه. خوتقریبًا په شلو
دقیقو کښی پای ته ورسول اوهغه هم میا نه رکوع وَه. خیرخو باره سه پاره شروع
سوی اوهغه قاری تقریبًا په لسو دقیقی کښی سرپاره ختمه کړه. خیر. خه وخت چی
قرآن شریف ختم سُو» یوه فقیه عالم چی په قندهار کی وُو هغه وقاری ته ووئیل چی
قاری صاحب دقرآن شریف مخارج دحروفو اود حرکاتو آداء. اومدات وغیره مما یتعلق
بعلم القراءة دقرآن په جهر سره وئیل. اوپه کراره وئیل کی فرق سره لری. قاری ورته
ووئیل یا فرق نه لری. نوهغه عالم وقاری ته ووئیله چی عجبه خودا ده» چی فرق هم نه
لری اوتا یوه میا نه رکوع په حال کی دجهر. په شل دقیقی کښی ووئیل اوپورهٔ یوه سه
پاره دی په لسو دقیقی کښی ختم کړه. قاری دخجالت سرکښته وځړاوه اوجواب یه ورنه کی.

درویش وائی: چی داسی ریائی قرائتونه اوس سینخی ویږدی "بیت - بروی دریاخرو سهلست دوست. دگرباخدا در فروشی نکوست" بیت "واعظان کین جلوه در محراب ومنبر میکنند: چون بخلوت میروند آن کار دیگر میکنند"

قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَاقَامَةُ الْمُحْدِثِ وَاذَانُهُ وَاَذَانُ الْجُنُبِ وَصَبِيٍّ لَا يَعْقِلُ

اودغه رنګه مکروه دی اقامت د بی اود سړ اواذان یه او مکروه دئ اذان د جنب. اوداغه رنګه

وَمَجْنُوْنٍ وَسُكْرَانَ وَامْرَاَةٍ وَفَاسِقٍ وَقَاعِدٍ وَالْكَلَامُ

مکروه دی اذان دکشنی چی عقل نلری. اود لیونی. او نشه، اود بنځی اوفاسق اود ناست سړی. اوداغه رنګه

فِيْ خِلَالِ الْاَذَانِ وَفِي الْاِقَامَةِ وَيُسْتَحَبُّ اِعَادَتُهُ دُوْنَ

مکروه دی خبری داذان په منځ اوپه اقامت کی. اوددا سی اذان اعاده ضروری ده. نه دا اقامت

الْاِقَامَةِ : **پوه سه**: چی په اذان کی دبی اود سه مؤذن دوه روایته دی. یو روایت دادی چی اذان د محدث نه دی مکروه. وهوظاهرالروایة عن الامام الاعظمؒ. په بحرالرائق او درکښی وائی چی دغه روایت صحیح دئ. اوپه روایت کی د حسنؒ کمافی القهستانی والتحفة" داسی راغلی دی چی دا اذان مکروه دی لکه مصنفؒ چی هم وائی لکن چونکه نقصان په جنابت کی افحش دی نو اذان د جنب مکروه بالاتفاق دی. اواقامت هم مکروه دئ. اومصنفؒ په مراقی الفلاح کښی خپل عذر وپه اختیار کی دخلاف دظاهر الروایة داسی وئیلی دی: واتبعتُ هذه الروایة لموافقتها نصّ الحدیث" وهوقوله علیه الصلوٰة لَا يُؤَذِّنُ اِلَّا مُتَوَضِّئٌ" رواه الزیلعی فی شرح الکنز" ماماتابعت وکی د دغه روایت د حسنؒ یعنی که څه هم دظاهر روایت څخه خلاف دئ. د دې سببه چی دغه روایت دظاهر الفاظوسره د حدیث شریف برابردی. چی زیلعیؒ په شرح کښی د کنز روایت کړی دئ. چی آنحضرت صلی الله علیه وسلم وائی: چی اذان دې نه کوی مګر اودس والا. یعنی که څه هم د دی حدیث تاویل علماء داسی کوی چی نه بناپئ چی اذان وکړی بی اودسه سړی. اویا محمول

پرزجردئ. اود کشنی اذان چی مکروه دی ولی چی خلګ د داسی کشنی واذان نه اعتبار نه ورکوی. لکه دلیونی وهغی ته. بلکه خلګ داذان معتبر په انتظار وی. توبه یا وخت ووزی په دی انتظار کښی یا به جماعت فوت سی اویا به لمونځ وخت مکروه ته ورسیږی اوپه بعض کتابو کښی وائی چی دنابالغه اذان مکروه دی که څه هم خاوند دعقل وی. لکن ظاهرالروایت دادی چی د صبی عاقل اذان بیله کراهته څخه روادئ. ولی چی دئ مامور بالجماعة دئ، "کذافی البحروالنهر" اودغه رنګه مکروه دی اذان دلیونی بلکه صحیح ندئ. بلکه د معتوه دا هم مکروه دئ. اودغه رنګه مکروه دی اذان دمست یعنی په سبب دفسق فاحش، اوبلدا خبره ده چی سکران پوره تمیز نه لری. اودغه مکروه دی اذان د بنځی. ولی که دا اذان کرار کرار کوی نو اعلان مقصود اذان څخه نه راځی. اوکی په زور کوی گناه ده. ولی چی اواز د دې عورت دئ. اودغه رنګه مکروه دی آذان دفاسق یعنی مرتکب د کبیره گناه، ولی چی دهغه خبره کښی د فاسق قول نه دی قبول. نو پس اعلان کامل نه راځی. اودغه رنګه مکروه دی اذان په ناسته. ولی چی یوخو اعلان کامل نه راځی اوبل دا چی دهغی ملګی نازل څخه خلاف دئ.

مسئله: په پروقتی اذان په طریقه اولی مکروه دئ. **مسئله**: په سپرتیا کښی هم اذان مکروه دی مګر مسافر نه. اودغه رنګه مکروه دی خبری په مابین کښی داذان او اقامت یعنی که څه هم په ترد د سلام وی. اومستحب دی راګرځول داذان چی خبری په کښی وکړی نه د اقامت. ولی تکرار داذان مشروع دی لکه د جمعی په وخت اود اقامت تکرار په شرع شریف کښی نسته" قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَيُكْرَهَانِ لِظُهْرِ يَوْمِ الْجُمُعَةِ فِي الْمِصْرِ

اومکروه دی اذان او اقامت د پاره دما پسنین دلما نځه په وخت د جمعی په بنار کښی. یعنی که چیری دیوی ډلی خلګو څخه د جمعی لمونځ فوت سو. اویا نه ووفوت په قصدیه پری سو نو بیا دوی اراده وکړه چی دما پسنین لمونځ په جماعت وکړی اذان او اقامت ورته مکروه دی"

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِكَاتِبِهٖ وَلِلْمُصَنِّفِ وَلِوَالِدَيْهِمَا اٰمِيْن.

مسئله: په جماعت د جمعې دورځې د مانپښین لمونځ کې څه هم اذان او اقامت نه وي هم په ښار کې مکروه دی **مسئله**: قید دښار یې وویاید ولې د قریو پرخلکو خو جمعې لمونځ نشته. نو اذان او اقامت ورته مکروه نه دی لکه په جماعت چې لمونځ ورته مکروه نه دی. ط، مر، **قال المصنف**:

وَيُؤَذَّنُ لِلْفَائِتَةِ وَيُقِيمُ

وَكَذَا الْأُولَى الْفَوَائِتِ وَكُرِهَ تَرْكُ الْإِقَامَةِ دُونَ الْأَذَانِ فِي الْبَوَاقِي

او اذان دی کوی د قضا ئې لمونځ د پاره او اقامت دی کوی. او دغه رنګه د پاره د اول د قضا ئې لمونځ د اذان او اقامت دواړه یعنی که د دې لمونځونه څنډی قضا سوی وه، او مکروه دی پرې شوول د اقامت نه ده اذان. د اوّل څخه ماسوا په نورو قضا ئې وو کښې **پوه سه**: چې دلیل د دی مسئلې هغه حدیث دی چې په دیرو صحیح کتابو کښې د حدیثو راغلی دی. حدیث مذکور کرښم او زیاد دی لکن ترڅایه د حاجت پوری بې ژه ترجمه درته وکړم، د زید بن اسلم رض څخه روایت دی چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم یوه شپه په لار کښې د مکې معظمې په اخیرو شپې په غوښتنه د اصحابو رض د خواب او آرام د پاره وار ړول. چې دې ته تعریس وائي، او بلال رض پردې باندې وګماره چې دی به نه ښیدیږی او د سحار اذان به کوی. بلال رض هم داوعده وکړه، نو علیه الصلوٰة والسلام او اصحاب کرام رض په بیغمه ځړه ښیده سوله، بلال رض د تهجد نفل وکړه نوخه وخت چې سپیدی یې په خیال نه وی ورځه غلی نو یې مخامخ د سپیدو راختو وخواته یو چوک اوښ شاه ولګوله. هغه وو چې په قدرت د خدای جل شانه او د پاره د حکمت الهی بلال رض په خوب کې د وب سو. هغه وخت راویښ سوی چې لمر تاوده کړه. خلک یعنی اصحاب رض چې راویښ سوله د یر په خوف او هراس کښې وه چې لمونځ د سحار قضاء سو. نو آنحضرت صلی الله علیه وسلم امر وکړی. چې د اشیله شیطان ده. اوښان د ربار کړی. نو اصحاب رض پر اوښانو سپاره حتیٰ چې ترهغې شیلی وه وتل د رسول الله

صلی الله علیه وسلم امر وکړی چې کښته سی او د سونه تازه کړی. او امر یې کړی بلال رض چې اذان دې وکړی او اقامت هم. نو آنحضرت صلی الله علیه وسلم په جماعت لمونځ وکړی بیا تر پایه پورې د حدیث. **فائده**: مصنف رح اذان کول د پاره د قضا ئې لمانځه مطلق وویاید. یعنی که قضاء په کور کښې د راوړی او که په مسجد کې، لکن مجرد اتفاق د مجتبیٰ څخه چې مجتبیٰ نسبت کړی دی او امام حلوائي رح ته د اسی وائي چې اذان سنت د قضاء دی په کور کښې او که په مسجد کې قضاء د راوړه اذان به نه کوي. ولې چې محله والا په تشویش او اضطراب کې لویږی چې د اخر نګه اذان دی. او صاحب البحر د دلیل وائي چې فقهاو و تصریح کړی په دې سره چې قضا ئې لمونځونه دی سړی په کور کښې ګذاړي. نه په مسجد کې ولې د سړي سستی وخلګو ته بنکاره نه ښکاره نه ښکاره نه ښ

مطالعه کړئ چې په عربي ژبه دئ. قَالَ الْمُصَنِّفُ.

وَاِذَا سُمِعَ الْمَسْنُوْنُ اَمْسَكَ

اوچې واوو يې دال سې سُنت اذان سامع دې دخبرو حتّه عُمان وساتي حتّى مراقي کښې مصنف وايئ چې د تلاوت تر د قرآن کريم دې هم عُمان وساتي. د دې دپاره چې په خوله سره اجابت د مؤذن وکړي که څه هم په مسجد کښې وي، قَالَهُ الافضل، ونقل المصنف عَنِ الفوائد، چې سامع که په مسجد کې وُو او تلاوت يې واو نو خپل تلاوت تر دې ادامه ورکړه. يعنې اجابت د اذان دې په څېره نه کوي. اوکه په کور کښې تلاوت کاوه نوکه د تالې د مسجد اذان وو نو قرائت دې پرېږدي او اجابت دې وکړي اوکه د خپل مسجد اذان وو د خپل تلاوت دې کوي.

فَائِدَه: د اذان مسنون څخه هغه اذان مراد دې چې لحن او تغنې نه وي په کښې. او يا د هغه کسانو اذان نه وي چې اذان يې مکروه وي لکه چې وَرّا ندې تيره سوه، من قوله ويكره التلحين الخ.

تَحْقِيقُ الكَلَامِ فِي اِجَابَةِ الاَذَان

پُوښتنه: چې اجابت اوقبلونه د اذان په فعل سره يعنې د جماعت وَلې نه څه ته تللل سُنت مؤکده اويا واجب دئ **مسئله**: که سړي خبرې کول په فقه شريفه کښې اويا په اصول الفقه کښې اجابت د اذان پرې واجب دي **مسئله**: که سړي د تګ په حالت کښې اذان واورېدي پس بنه کار دا دي چې ودرېږي او اجابت د اذان دي وکړي **مسئله**: که سړي ډېر اذانونه واورېدل اجابت د اول اذان دي وکړي **مسئله**: اجابت د اذان په لمانځه کښې نسته که څوک د جنازې لمونځ وي، او د غرنګه د خورلګ په وخت کښې او يا د جماع په حال کښې او يا د قضاء حاجت په وخت کې اجابت د اذان نسته **مسئله**: جُنب سړي به اجابت کوي او حائض او نفساء بنځه بې نه کوي. ولې هغه څوک چې د اجابت په فعل سره اهل نه وي اجابت بالقول هم نه دي پرې لازم.

فَائِدَه: په فتاوای بزازيه کښې داسې را غلې دي، که څوک ناست وو او اذان يې واورېدي مندوب دا دي چې ولاړ سي. درويش وايي چې دا مسئله د نورو کتابونو د فقهي شريفې مطابقت نه لري **مسئله**: که يو سړي د سره څخه د مؤذن سره اجابت نه کې شروع نو سُنت دا دي چې پس له اذانه دې اجابت وکړي. که وخت لږ تير سوی وُو. ط.

پوښتنه: چې اجابت د مؤذن واجب دي په نيزد خلاصه والا. او د فتاوای خانيه والا او د صاحب التحفة، والبيه مال الكمال، او په د مختار کې وايي چې اذان واورېدو په وخت کې هيڅ شغل نه کوي بيله اجابت د اذان حتّى چې د چا سلام جواب دې هم نه ورکوي کوم څه هم د السلام واجب دي. او امام مالک وايي چې اجابت د اذان مندوب دي. او د هم مذهب دي د امام شافعي او د امام احمد او د جمهورو فقهاوو. او د مذهب مختار ګڼي دي بدرالدين العيني په شرح کښې د بخاري او امام شهاب په شرح کښې د شفاء وايي، وَهُوَ الصحيح في المذهب. ولې چې يو وخت آنحضرت صلى الله عليه وسلم د اذان واورېدو په وخت کښې چې مؤذن وويله اَللّٰهُ اَكْبَر ۴ ځلې، وَاَنَا د اسې ووېله عَلَى الفِطْرَة، او د شهادتين په وخت کښې د اسې ووېله، خَرَجْتَ مِنَ النَّارِ، يعنې اجابت يې ونه کړي. او يوه جماعت د علماوو تصريح کړيده چې اجابت بالقول واجب نه دئ. بلکه مستحب دي نوکې اجابت وکړي ثواب به وموسي اوکې نه وکړي نه ګناه سته اونه کراهت. ط. او د التجنيس، مخزاسې مخزدا سې نقل کړه سوې دئ. چې مکروه تحريمي نه دي خبرې په وخت کښې د اذان نوکه اجابت وای نو خبرې کول بايد مکروه تحريمي وای. او امام طحطاوي وايي، اِنَّهُ اخْتَلَفَ التَّصْحِيحُ فِي وُجُوبِ الاِجَابَةِ بِاللِّسَانِ وَالاَظْهَرُ عَدَمُهُ، يعنې په تصحيح د علماوو يعنې حکم په صحت سره د واجب وايي د اجابت په خوله سره اختلاف سته او اظهر دا ده چې واجب نه دئ.

اللهم اغفر لمؤلفه ولكاتبه آمين. قال المصنف

وَحَوْقَلَ فِي الحَيْعَلَتَيْن

او وَلَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ دې وايي اجابت کوونکی کله چې حَيَّ عَلَى الصَّلٰوة، اوحَيَّ عَلَى الفَلَاح **پوښتنه**: چې عمومي ترجمه د وَلَاحَوْل وَلَاقُوَّةَ آه هغه ده چې

چې مصنف یې مراقي کښې ذکر کړیده هغه دا «لَاحَوْل» ځان جغورلو نسته دګناه ځخه اوبنه قوت سته پرعبادت کولو باندې، مګر په فضل سره دخدای اوخصوصي ترجمه یې چې دا اذان سره مناسبت لري هغه ده چې امام طحطاوي ذکر کړیده. هغه داسې چې مؤذن چې امر وکړي چې ته ځان تیارکړه ولمانځه ته اوبه سه ولمانځه ته: او په «حَيَّ عَلَى الْفَلَاح» کې امر وکړي چې ته ځان جوړکړه د نجات دورځې دقیامت» اود دواړه کارپه حرکت سره د بنده ترسره کیږي. او بنده مستقل قدرت نه لري پرهیڅ شئ نو بنده تمناب ده چې په جواب کې ددغو دوو امرونو مؤذن وایي چې قدرت نسته مالره پرحرکت کولو باندې اونه طاقت لرم پرهغه شئ چې مؤذن ئې دما ځخه طلب وکړي مګر په قوت دخدای اوپه توفیق ددغه **مسئله**: اوریدونکې داذان دې په حیعلتینو کښې داغه د اذان «حَيَّ عَلَى الصَّلٰوة» اوحَيَّ عَلَى الْفَلَاح نه وایي. ولې داوې کلمې دامر دي. که یوسړي دامر د خولې امر استعمال کړي داخولې پیښې بولي. اوپس خند» مثلاً یوڅوك وچاته ووایي چې ولاړ شه» هغه ورته وایي هُو ولاړ سه» خلګ دا پیښې بولي. اونورې کلمې داذان خوښا دخدای دي اووروسته ترحمد وثنا دُعا قبلیږي. لکه چې اجابت کوونکې یه په اخیر کښې کوي چې «رابسې، اِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالٰى» قَالَ الْمُصَنِّفُ»

وَقَالَ صَدَقْتَ وَبَرَرْتَ" اَوْ مَا شَاءَ اللّٰهُ عِنْدَ قَوْلِ الْمُؤَذِّنِ

اووایي به اجابت کوونکې رښتیا وایې، اوښه کارد وکړې. اویا دِ مَاشَاءَ اللهُ وایي په نیز دې قول دمؤذن چې «اَلصَّلٰوةُ خَيْرٌ مِّنَ النَّوْمِ» یعنې دمحاد په اذان کښې **پوه سه**: چې ماضي صیغه دلته یعنې قَالَ په معنا دامرده» **فائده**: پوه سه چې جواب دحَيَّ عَلَى الصَّلٰوة اوحَيَّ عَلَى الْفَلَاح په لَاحَوْل وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ سره ورکول مذهب دی دامام ثورئ او دامام اعظم او ابویوسف او امام محمد. او دامام احمد په صحیح روایت کې دده څخه لوډ امام مالک په یوه روایت کې. اوامام شافعي اودامام احمد په یوه روایت کې اودغه رنګه

دامام مالک په یوه روایت کې. وایي چې په ټوله اذان کې هغه کلمې وایي چې مؤذن یه وایي. یعنې په حَيَّ عَلَى الصَّلٰوة اوحَيَّ عَلَى الْفَلَاح کې اوهم داغه کلمې وایي. اومحقق کمال الدین ابن الهمام الحنفي په فتح القدیر کې وایي چې حَيَّ عَلَى الصَّلٰوة اوحَيَّ عَلَى الْفَلَاح په وخت کې دې هم داغه کلمې وایي اوهم دې لَاحَوْل وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ وایي تاچې په ټولو احادیثو سره عمل وکړه سي.

ولې چې د «وَلَا حَوْل وَلَا قُوَّةَ» دویلو حدیث خوهغه وو چې تیرسو، اوپه مسند کې دابي یعلى په روایت دابي امامه رض درسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم څخه داسې راغلې دی: چې ناري کړي نعره کوونکي دپاره دلمانځه یعنې مؤذن ... خلاصي سي دروازې داسمان او قبلیږي دُعا. پس که پرچا باندې نازله سي بې قراري یعنې په یوسبب سره اویاسختي پس داسړي دې انتظار وکړي ومؤذن ته» نوچې هغه تکبیر ووایي. اوچې هغه تشهد ووایي یعنې اَشْهَدُ اَنْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ ۲ واړه اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللهِ ۲ واړه دې هم تشهد ووایي یعنې ۴ واړه. اوچې مؤذن ووایي حَيَّ عَلَى الصَّلٰوة ۲ واړه دې هم دغه کلمه ووایي. اوچې مؤذن ووایي حَيَّ عَلَى الْفَلَاح ۲ واړه دې هم ووایي دغه کلمه بیاتراخیره پورې. اوپس له اجابت څخه متصله دادُعا وکړي. اَللّٰهُمَّ رَبَّ هٰذِهِ الدَّعْوَةِ الْحَقِّ الْمُسْتَجَابِ لَهَا دَعْوَةُ الْحَقِّ وَكَلِمَةُ التَّقْوٰى» اَحْيِنَا عَلَيْهَا وَاَمِتْنَا عَلَيْهَا وَابْعَثْنَا عَلَيْهَا وَاجْعَلْنَا مِنْ خِيَارِ اَهْلِهَا مَحْيَانَا وَمَمَاتَنَا ثُمَّ يَسْاَلُ اللهَ حَاجَتَهُ" دې حدیث روایت طبرانې په کتاب الدُّعاء کښې کړې دی. اوحاکم وایي چې دا حدیث صحیح الاسناد دی.

سؤال: چې دځخه دمصنف په کلام کې دمراقي داسې تیره سوه چې هغه کلمې دحَيَّ عَلَى الصَّلٰوة اه وَيْل مشال بهت د پس خند سره لري. اوپه حدیث فوق الذکر کښې هم هغه کلمې ذکرسوې فکیف التوفیق» **جواب**: هرکله چې اجابت کوونکې ووَيْله «حَيَّ عَلَى الصَّلٰوة اوحَيَّ عَلَى الْفَلَاح» نو دده مقصود استهزاء نه ده اونه دامشایه داستهزاء سره دی په قرینه دوروسته وَيْلوڈ» وَلَا حَوْل وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ» ولې چې دده څخه دامعلومیږي

چې په حَيَّ عَلَى الصَّلٰوة - اوحَيَّ عَلَى الْفَلَاح کې دی دی وځان ته امر وکړي چې اراسته سره ولما نځه ته اوځان باعثه کوي پر اجابت په فعل سره، او بيا په دخپل ځان دخوا وويله لَاحَوْلَ وَلَا قُوَّةَ آه:

مسئله: په مجمع الانهر کې دسحار د اذان د اَلصَّلٰوةُ خَيْرٌ مِّنَ النَّوْمِ، په اجابت کې د اجمله هم ذکر ياته کړي، «وَبِالْحَقِّ نَطَقْتَ» درويش وائي: وَلَا شَكَّ اَنَّ زِيَادَةَ الْخَيْرِ خَيْرٌ،

مسئله: په اقامت کې دی هم ورته د اجابت د اذان اجابت کوي. لکن په ويناسرود «قَدْ قَامَتِ الصَّلٰوةُ» اجابت والادِاسې وائي: اَقَامَهَا اللّٰهُ وَاَدَامَهَا، هکذا روی عن النبی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كما ذكره الحلبي ط، قَالَ الْمُصَنِّفُ،

ثُمَّ دَعَا بِالْوَسِيلَةِ فَيَقُولُ: اَللّٰهُمَّ رَبَّ هٰذِهِ الدَّعْوَةِ التَّامَّةِ

او بيادی دعا د وسيلی وکړي هغه داسې يا اللّٰهُ چې رب يه د دعوت چې کامل دی يعنی اذان

وَالصَّلٰوةِ الْقَائِمَةِ اٰتِ مُحَمَّدَا الْوَسِيلَةَ وَالْفَضِيلَةَ وَابْعَثْهُ

او د دغه لمانځه چې ثابت او قائم اودائم دی ورکړي ومحمد صلی اللّٰه عليه وسلم ته وسيلة او فضيلت پرنور د انبياء عليهم السلام اوو پاڅوی دی په

مَقَامًا مَّحْمُودَنِ الَّذِي وَعَدْتَّهُ

مقام محمود چې ای خدايه وعده ورسره کړی ده. چې مقام د شفاعت کبرای دی په قيامت کې.

مسئله: دغه دُعا به مؤذن هم کوی او مجيب هم. لکن د نمځه تر دُعا دی درود شريف وَوَائِي په حديث شريف کې چې جابرؓ يه روايت کړی د اَنحضرت صلی اللّٰه عليه وسلم نمځه د اسی راغلی دی که يوچا وويله په وخت کښی د اور يدو د آذان، اَللّٰهُمَّ آه حَلَّتْ لَهُ شَفَاعَتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ، معنا د اچې ثابت به سی او واجب به سی ده له شفاعت زما په وړځ د قيامت،

فائده: په بعض روايا تو کښی د دعی دُعا سره يوه کلمه بله هم راغلی ده هغه دا اَللّٰهُ الرَّفِيعَةَ، وزيادة الخير خير، **پوهه سه**: چې د دعوة تامه معنا داده چې په دی کی نقصان

او عيب او تغير نسته اونه منسوخه کيږی. امام طحطاوی وائی چې مراد دعوة تامه نمځه لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ دی. او عينی وائی چې تر مُحَمَّدٌ رَّسُولُ اللّٰهِ پورې مراد ده. او د رويش په نيز تهوله اذان مراد دی، وَاللّٰهُ اَعْلَمُ،

واوره: چې د وسيلی تفسير اَنحضرت صلی اللّٰه عليه وسلم داسی کړی دی: وَهِيَ مَنْزِلَةٌ فِي الْجَنَّةِ لَا تَنْبَغِي اِلَّا لِعَبْدٍ مُّؤْمِنٍ مِّنْ عِبَادِ اللّٰهِ. وَاَرْجُوا اَنْ اَكُونَ اَنَا هُوَ فَمَنْ سَاَلَ لِيَ الْوَسِيلَةَ حَلَّتْ لَهُ الشَّفَاعَةُ، يعنی وسيله يوه درجه ده په جنت کی چې نبائی مګر يو عبد مؤمن لره، د بند ګانو نمځه د خدای جَلَّ سُلْطَانُهُ، اوزما اميد دی چې زه به يم هغه عبد مؤمن. نو څوک چې سؤال وکړي زما د پاره د وسيلی ثابت به سی هغه لره شفاعت يعنی زه ئې په وړځ د قيامت خوله نخواه شفاعت کوم **پوهه سه**: چې په قرآن کريم کښی داسی راغلی دی، اِبْتَغُوا اِلَيْهِ الْوَسِيلَةَ، تاسی طلبوی وسيله د نجاة د عذاب نخه د هغی وسيلی معنا علم بالله وصفاته وهکذا جميع العقائد الحقة والعبادة له تعالی، او حاصل يه فعل د ماموراتو دی او پرهيز کول د منهياتو نمځه،

دا ترجمه موافقه او برابره ده تولو تفاسيرو سره. او بعض پيران چې د وسيلی تفسير پيغمبر سره کوی يعنی چې د پيغمبر مريدی وکړی هغه ترجمه د دی ايت نه ده، البته د شيخ کامل مکمل مُريدی مُستحب کار دی. لکن پيدا کول د داسی شيخ د پيغمبر مشکل کار دی. وَمِنَ اللّٰهِ التَّوْفِيقُ،

فائده: مراد د مقام نمځه شفاعت عظمی د رسول کريم صلی اللّٰه عليه وسلم دی چې تفصيلی بيان يه دعاصی په کتاب کی البلاغ المبين کی وګوره. او داهم مذهب دی د اکثر اهل علم او د اهم د يو مشهور تفسير دی. **پوښتنه**: د امقام چې خدای جل جلاله يه وعده کړيده په قرآن شريف کی: عَسٰى اَنْ يَّبْعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامًا مَّحْمُودًا، او د خدای جل جلاله وعدی نمځه خلاف نه کوی، اِنَّ اللّٰهَ لَا يُخْلِفُ الْمِيعَادَ، نو طلب د مقام محمود په دې دعا کی څه فائده لري. **جواب**: مقصود د دی دُعا نمځه حصول د هغه ثواب دی و دُعا کوونکی ته دی چې په فوق الذکر حديث راغلی ده. **پوښتنه**: اَنحضرت صلی اللّٰه عليه وسلم ولی ووايله چې، اَرْجُوا اَنْ اَكُونَ، آه

جواب: دا دپاره دادب دخدای جل شانه سره اوبعض عُلماء وائی چې آ دغه وخت کی آنحضرت صلی الله علیه وسلم ته دا نوم معلومه چې هغه بنده به زه یم سعدی شیرازی وائی ـ عطائی شفاعت چنانش دهند ؛ کرامت تمامی زدوزخ رهند.

فائدهٔ مُهمّة: قهستانی دکنز العباد څخه روایت کړی دی چې داخبره په روح البیان کښی هم موجوده ده. چې مستحبه ده چې سړی اول کلمه «اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ الله» واوری دا سی دی وائی «صَلَّى الله عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله» یعنی ترا اجابت وروسته. اوکله چې دوهم وارهغه کلمه واوری نو دی دوئ گوتی بنې پرستر گو کښیږدی اودا سی دی ووائی «قُرَّةُ عَيْنِيْ بِكَ يَا رَسُوْلَ الله» اودا دعا دی وکړی «اَللّٰهُمَّ مَتِّعْنِيْ بِسَمْعِيْ وَبَصَرِيْ» نو په دی سره به رسول کریم صلی الله علیه وسلم دده قائد وی په جنت کی. اوبل ذکر کړی دی دیلمیؒ په فردوس کی چې دده کتاب دی په روایت دابوبکر الصدیق رَضِیَ اللهُ عَنْهُ مَرفوع وعلیه السّلام ته. «مَنْ مَسَحَ العَيْن. یعنی چاچې دواړی سترگی مسح کړې، بِبَاطِنِ اَنْمِلَتِهِ السَّبَّابَتَيْنِ بَعْدَ تَقْبِيْلِهِمَا عِنْدَ قَوْلِ الْمُؤَذِّنِ اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ الله. وَقَالَ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ رَضِيْتُ بِالله رَبًّا. وَبِالْاِسْلَامِ دِيْنًا وَبِمُحَمَّدٍ نَبِيًّا حَلَّتْ لَهٗ شَفَاعَتِيْ» دادوه حدیثه کړخه هم سَنَد یه قوی نه دئ. لکن امام طحطاویؒ وائی: وَبِمِثْلِهٖ يُعْمَلُ فِي الْفَضَائِلِ. او په دغه حدیث اوداغه رنګه حدیثونو سره عمل کیږی په فضائلو کښی داعمالو کی ص۱۲۵

تعجبئ: بعض نام نهاد مُلایان په اوسنی وخت کښی وائی چې یَا رَسُوْلَ الله وَيل شرک دی. نَعُوْذُ بِالله مِنْ ذَالِكَ» آیا قهستانیؒ اویا مصنف دکنز العبا اودَیلمیؒ او امام طحطاویؒ اومصنف دروح البیانؒ اوجامیؒ چې وائی ـ سه

زمهجوری برآمد جان عالم .. ترحم یا نبی الله ترحم .. او نور ناموړی عُلماء ـ دا نو دعوت کوونکی وشرک ته دی. اویا دامشرکان دی ؟ ؟ هغه پرینږده دَدغو دوو حدیثونو به دا توګی بندګان خه جواب وائی. البته. ددوی چې دیری دلاوری وی نو دا به وائی چې د احدیثونه موضوعی دی یعنی دروغ دی پر علیه الصّلوٰة والسّلام ـ که څوک ددوی څخه پوښتنه وکړی چې ولی موضوعی دی. دوئ به البته په لمن پوری دابن تیمیهؒ اویا خطیب بغدادی اویا سبط

ابن الجوزی لاسونه تینګ کړی ـ اویا به ووائی چې دا حدیث په صحاح سته ووکښی نشته نوزه وایم چې ټوله علماءُ دین پردی اتفاق کړی دئ. چې دصحیح حدیثو حصر په صحاح سته ووکښی غلطه خبره ده بلکه داکتا بونه صحیح دی. دامام بخاریؒ څخه روایت دی چې وائی ـ تَرَكْتُ كَثِيْرًا مِّنَ الصِّحَاحِ لِحَالِ الطُّوْلِ»

ترټولو خو عجبه خبره لا داده چې دَغه مُلایان شپه اوورځ د پیرو لیری ځایونو خلګو سره په تیلفون کی خبری کوی اونعری وَروهی نوپردی په تصدیق دئ. اودوئ وائی چې داخو دډنیا والو حکمت دئ. نوزه وایم چې اودَ دل ددرود یَا سَلام. اوبیا یَا رَسُوْلَ الله په غوږو د آنحضرت صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّم خوبیا دخدای جَلَّ سُلطانهٗ قدرت دی. البته په دی به هم دی قناعت ونه کړی. ولی دوئ به ووائی چې سړی چې مړ شی هغه جماد گرځی نو څرنګه شی اوبیدلی سی. نوزه وایم عَلٰى تقدير التسليم» دابوجهل په لاس کښی څرنګه سنګرین لَا اِلٰهَ اِلَّا الله مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ الله وویل چې په صحیح توګه ثابته ده»

پوښته: چې فقیر دا سی ووئیله عَلٰى تقدير التسليم ددې معنا داده چې محکه د دوئ خبره چې مړی په مرګ سره جماد گرځی ومنم. یعنی اول خوزه داخبره نه منم. ولی چې په دی خبره کښی خوانکاردی د عذاب القبر څخه چې هغه یوه اتفاقی مسئله ده. د اهل السنت والجماعت ـ اوپه دې خبره کی خوانکاردی دهغه صحیح حدیث څخه چې عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام فرمائی: اَلْقَبْرُ رَوْضَةٌ مِّنْ رِّيَاضِ الْجَنَّانِ اَوْ حُفْرَةٌ مِّنْ حُفَرَاتِ النِّيْرَانِ» داده خاتمه دباب الاذان او اوس اِنْ شَاءَ اللهُ الْكَرِيْمُ مقصود اصلی چې له دې نخې دی شروع کیږی. اَللّٰهُمَّ وَفِّقْنِيْ لِاِتْمَامِ هٰذَا الشَّرْحِ بِالْخَيْرِ وَالْعَافِيَةِ وَالصِّحَّةِ وَالسَّلَامَةِ وَاجْعَلْهُ لِوَجْهِكَ الْكَرِيْمِ، وَارْزُقْنِيَ الْاِصَابَةَ فِيْ مَسَائِلِ هٰذَا الْكِتَابِ، وَاحْفَظْنِيْ مِنْ كَيْدِ الْحَاسِدِيْنَ. وَشَرِّ الَّذِيْنَ يَقُوْلُوْنَ بِاَفْوَاهِهِمْ مَالَا يَعْلَمُوْنَ ـ اَللّٰهُمَّ افْتَحْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ بِالْحَقِّ وَاَنْتَ خَيْرُ الْفَاتِحِيْنَ. وَمَا ذَالِكَ عَلَيْكَ بِعَزِيْزٍ وَصَلَّى الله تَعَالٰى عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى آلِهٖ وَصَحْبِهٖ اَجْمَعِيْنَ.

بَيت سه نقصان زتی بلست وګرنه علی الدّوام ؛ فیض سعادتش بهمه کس برابر است ؛

بیت: دابارانو چې پرهمه وو محکوو وړې... مشرف یې کې داذات دکیمیاوو لې...
بیت: دحسد پرغونډې ناست دی حاسدان... زهاوخواته یه دغشودی بارانو...
بیت. دقیامت په ورځ به څه کوی خواران... چې محشوده دوی دلاسه وی نالانو...
بیت... نه بخښنه د محشوسته نې دوغواړي... پرحسد باندې سربیره لوی باړی ذنبتان.
بیت... نه عمل په دمحشوددی چې قیامت سې... ومحشوته کم ضرر دی کم تاوان
بیت.. کبیره دې ګنهونو په اجماع... داحسد اوهم غیبت اوهم بهتان..
بیت... نه عبید خواسوخلګوته حیران یم... چې عمل په علم نه کې عالمانو.

عبدالله ابوبکر کنداری

دنیلمړۍ زیړۍ

دبخت ستوړۍ مو اوچت پاس پرآسمان سو
ابوبې چې په پښتو ژبه ګویان سو
افغانان به نن په ستره شمله ګرځی
چې ټول دین نن په پښتو ژبه عیان سو
دسجدې سرونه کښته کړي خپل رب ته
تاریخي نوم نوشته چې دافغان سو
ابوبې ستادقلم ټول اثرونه
نن بنکاره پرامریکا، اوپر ایران سو
بیله ستادنوشتو کاله قبلیږي
کتابونه، تقریرونه که بیان سو
ژبه نوټ عمرذیات کړي دین خدمت ته
څکه نن زما حقاني دغه اعلان سو.

حقاني د کوټې
۱۴۲۱/۷/۱۲ھ

بَابُ شُرُوطِ الصَّلٰوةِ وَاَرْكَانِهَا

باب دی په بیان کې دشرطونو لمانځه او په بیان کې دې رکنونو لمانځه. **پوښتنه** مصنف ولې بیان د شرطو اود کنو په یوه باب کې راوړې. **جواب**: مصنف په مراقي کښې وائي جمعا بينهما للتيقظ لما تصح به الصلوٰة، ماجمع کړه دادوه شیان په یوه باب کې دپاره د بیدارۍ کولو د زده کوونکو په هغه شیانو سره چې په هغوسره لمونځ صحیح کیږي. **پوه سه**: چې شروط جمع د شرط ده اوشرط په لغت کې علامه ته وائي لکه دود چې علامه داورده اوپه شرعه شریفه کې هغه شی ته وائي چې یوشئ پرده موقوف وي اودې د هغه د ماهیته څخه خارج وي. لکه اودس دپاره د لمانځه. اوطاهر چې شرط دې دري قسمه دی. یو عقلي دی لکه تیشه دپاره د نجار. اوبل شرعي دی لکه طهارت دپاره د لمانځه. اوبل جعلي دی لکه دخول دپاره د طلاق چې سړي وماینې ته وائي: اِنْ دَخَلْتِ الدَّارَ فَاَنْتِ طَالِقٌ.

او **ارکان** جمع د رکن ده رکن په لغت کې قوي جانب ته وائي. اوپه اصطلاح کښې هغه شی ته وائي چې دده اود بل شئ څخه یوشی جوړ سې. لکه دچارپائي پښې اونور لرګي. او یا رکوع دسجدې اوقیام وغیره دپاره د لمانځه. **فَائِدَة**: پوه سه چې علماء د فقهې شریفې اوعلماء د اصول الفقه داسې وائي چې یوشئ چې د بل شئ سره تعلق اورابطه لري. نوشئ اول یا به په شئ ثانی کښې داخل اوجزء وی او یا نه. که جزء وو هغه ته رکن د دوهم شی وائي لکه رکوع اوسجده مثلاً دپاره د لمانځه. اوکه داخل نه وو. نو یا به تاثیر ظاهري لري په دوهم شی کې نو هغه ته علت وائي لکه عقد د نکاح دپاره د زوال دجماع. اوکه مؤثر په حسب ظاهر هم نه وو بلکه هغه شی ثانی ته رسیدې. هغه ته سبب وائي لکه وخت د لمانځه دپاره د وجوب د لمانځه اوکه داسې هم نه وو لکن شئ ثانی پر اول موقوفه وو، هغه ته شرط وائي لکه اودس دپاره د لمانځه. اوکه دوهم شئ پر موقوف هم نه وو هغه ته علامه وائي لکه اذان دپاره د لمانځه.

ذکره الحموی، ط، قال المصنف

لَابُدَّ لِصِحَّةِ الصَّلٰوةِ مِنْ سَبْعَةٍ وَعِشْرِيْنَ شَيْئًا چاره دسته دپاره د صحیح والی د لمانځه د اوه ویشت شیانو ښځه: **پوه سیه**: چې شئ عام دی رکن ترم والی او شرط یم. اوه لسم دوارې بیانیږی. **پوه ښتنه**: په دیرو کتابو کښې د فقهی ۱۲ شئ موقوف علیه د صحت د لمانځه کنړل سوی دی او مصنف ۲۷ شیان کړې. حتی په پنځ ګنډ کښې والی. شش درون نماز د شش بیرون. **جواب**: هو لکن دهغو مصنفانو چې ۱۲ په بیان کړی دی: هغو غرض اصلونه دحفظ دی پر نږدې کوونکی باندې خصوصًا نوآموزان، اودې مصنف چې ۲۷ بیان کړیدي تحقیق او تفصیل دی مګر بیا هم په دغو ۲۷ کښې هم حصر نه دی، **کَمَا سَيَأْتِيْ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالٰى** **پوه سه**: چې محقق طحطاوي دپاره د ضبط اود بیان اجمالي د دغو ۲۷ شیانو داسې بیان کړی دی.

چې **پوه سه**: چې شروط اجمالًا پرځلور قسمه دي **اوّل شرط د انعقاد د لمانځه** دی فقط لکه نیت او تحریمه، اووخت، اوخطبه د پاره د جمعې د لمانځه.

دوهم شرط د انعقاد دوام: د لمانځه دپاره هم لکه طهارت، اوستر د عورت او استقبال القبلة چې داشیان هم په وخت کې د انعقاد د لمانځه غواړي. اوهم به په وخت کښې د بقاء د لمانځه غواړي، **دریم شرط د بقاء دی**: د لمانځه یعنی په داخل کښې د لمانځه هغه بیا دوه قسمه دی یو وجودي یعنی چې داشئ به موجودیږی نو لمونځ کیږی اوبل عدمي یعنی د هغه شئ به نه وي نو لمونځ کیږي. پس وجودي شرط لکه قراءت چې په لمانځه کې هم رکن دی اوهم شرط دی. په ټولو ارکانو کښې. اوعدمي شرط، لکه داچې په جماعت کښې به مقتدي ترامام د مخه نه وي. اویا داچې مشتهات بنځه د لمونځ کوونکی پر برابر نه وي اویا داچې قضایي لمونځونه چې ترتیب لري یعنی ترشپږ کم وي په لمانځه کې به نه وړ پیادیږی. او **څلورم شرط د اتمام دی**: د لمانځه چې اخیره ناسته ده.

سؤال تاسې قراءت شرط په ټولو ارکانو کښې وبالله اوسره ددی چې قراءت صرف په دوو

رکعتونو کې فرض دی **جواب**: ظاهرًا که په ناسته کښې یا په رکوع او سجده اویا په دوو رکعتو اخیرو کښې قراءت فرض نه دی لکن تقدیرًا فرض دی. ځکه هغه وخت چې فرضي قراءت امام وګیلی وی او بیا اوس یې مات سی د امې سره چې قراءت یې نه وی زده خلیفه کرځول روا نه دی، «کذا فی در المختار» ط، عن قال المصنف

اَلطَّهَارَةُ مِنَ الْحَدَثِ اول پاکی ده د کشف اولوی بی اود سیا ښځه او د حیض او نفاس ښځه. اوبل پاکی د بدن د نجاست خفیفه او غلیظه

وَطَهَارَةُ الْجَسَدِ وَالثَّوْبِ وَالْمَكَانِ ښځه، یعنی چې ترمقداردمعفو بالاوی اوبل پاکی ده د ځای یعنی هغه جامې چې دی لمونځ په کښې کوی او بل پاک والی د ځای د لمانځه دی یعنی د پښو ځای اویا دیوی پښې ځای کی بله پوره ښکاره وه» در مختار. قال المصنف

مِنْ نَجَسٍ غَيْرِ مَعْفُوٍّ عَنْهُ حَتّٰى مَوْضِعِ الْقَدَمَيْنِ د داسې نجس ښځه اود معفو عنه بیان د مخه تیر سوفتذکره نوکې تر یوه پښه لاندې نجس مانع وو د لمونځ یه نه صحیح کیږی. اوکې تر دواړو پښو مجموعًا لاندې نجس مانع وو هم یه لمونځ نه صحیح کیږی. **مسئله**: که سړی دواړې پښې ایښې وای پر نجس باندې نو تر قدر معفو بالا کیدی. نو ده یوه پښه په هوا ونیوله اوپریوه پښه یه لمونځ کاوه داکار مکروه دی، قال المصنف.

وَالْيَدَيْنِ وَالرُّكْبَتَيْنِ یعنی بل شرط د ځای د ایښو ولو دلاسو اورنګنو پاک والی دی چې فرق دسته په مابین کې د زنګنو اولاسو اود پښو. اود ځای د سجدې په دی کې که نجاست مانعه پرې دغو ځایو کښې وی لمونځ یې نه دی روا. ولې چې جوت والی دیوالاندام په نجاست پورې داسې دی لکه چې هغه نجاست دده سره وبره وی. که څه هم وضع دهغه اندام فرض نه وی، حتی که څنګلی پر ځمکه که کښې ښوله، که څه هم دا وضع مکروه ده. لکن که پر نجاست مانعه وی لمونځ یه نه دی روا، ط،

اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِكَاتِبِهٖ وَلِمُؤَلِّفِهٖ اٰمِيْن

وَالْجَبْهَةِ عَلَى الْاَصَحِّ اوځای د تندی ایښوولو بې هم پاک وې پر صحیح روایت ده حضرت الامام اعظمؒ. په اصح کی مصنف اشاره وکړه یوبل روایت ته د حضرت الامام څخه چې وایې پاک والی د ځای د تندی ایښوولو شرط نه دی، ولی چې یو روایت داسی ستر چې سجده یوازی پر ځپه بیله تندی روا ده. اوکی تر پزې لاندی نجاست وو لمونځ روادی. ولی هغه تر قدر د درهم کم دی.

مسئله: که سړی پر وُچو خُشیو یا نورو وُچو نجاستو باندی داسی پتو وغیره اوارکړی چې لاندی نجاست نه ترهغو میدی لمونځ پرهغه پتو روادی. اوکه نجاست لوند وو اوکراسته یې پرآواره کړه. اویا یې پتو وه دری واړه غبرګ کړی. اوپر اوارې کړی یې داسی وُول چې نجاست بوی نه تر راوتی لمونځ پر روادی» م.

مسئله: که دیوچا لنګوټه اوبده وه او یوطرف یې چې پاک وو د ده پر سر وُو او بل طرف یې مردار وُو چې هغه مردار طرف ده پاک طرف په ښورولو سره نه ښوری دی. نو دهغی لنګوټې سره لمونځ روادی والافلا. م.

مسئله: که خیمه مرداره وه او سړی لمونځ پرکښی کاوه او سر یې د خیمی سره لګیدی لمونځ روادی

مسئله: که یوکچنی سړی پر اوبده کښینولی وې چې هغه کچنی ځان په خپله تینګولای سوای لمونځ ورسره روادی. امام طحطاویؒ وایې که څوک هم داکچنی کپړې یا بدن یې مردار وې. ولی لمانځه کوونکی حامل د نجس نه بلل کیږي. اوکه داسی کچنی وو متنجس چې ځان په خپله نه سوای تینګولای نو لمونځ نه دی ورسره روا. ولې چې لمونځ کوونکی په دی صورت کی حامل د نجاست دی.

مسئله: سجده یوائی پرتندی کول مکروه تحریمی ده کذا فی ط. قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَسَتْرُ الْعَوْرَةِ وَلَا يَضُرُّهَا نَظَرُهَا مِنْ جَيْبِهِ وَاَسْفَلَ ذَيْلِهِ

اول د شروطو څخه د صحت پتول دی د عورت: چې پردی باندی اجماع دامت ده چې ستر د عورت فرض دی. په مراقی کښی وایی، «وَلَوْ فِي ظُلْمَةٍ» کړه هم په تاریکه خونه کښی وې. اوکه څوک هیڅ خوک نه وې. حتی که یوسړی په تاریکه خونه کښی چې هیڅ خوک هم نه وو لمونځ یې کاوه او

پرښه وو اوسره د دی چې پاکه جامه ورته پرته وه. لمونځ یې دی روا، دلیل یې دادی چې په ستر کښی د عورت دوه حقه دی. یو حق العباد. اوبل حق الله نو په تاریک ځای کی که څوک هم حق العباد پرځای سو یعنی خلګو دی عورت نه ولیدی مګر حق الله نه سو پرځای.

پوښتنه» خدای جل سلطانه څوک څخه عورت اوپر پټ عورت دواړو علم لري

جواب: خدای پاک پرلخ عورت چې علم لري سره دلې ادبی د سړی اوپرپټ چې علم لري سره د ادب د سړی. اوداادب د خدائ سره فرض دی چې قدرت سړی لري، «کذا فی بحر الرائق» اوامام طحطاویؒ وایې چې ستر د عورت تردی اندازی پوری لازم دی که په خټو عورت لري اویا د درختی په بلګویې پټوی اویا په خړو اوبویې پټوی هم داکار به کوی. مګر په ښه ښه پتول روانه دی هغه پتول نه دی»

قوله وَلَا يَضُرُّهَا نَظَرُهَا یعنی که لمونځ کوونکی ترګ دیوان خپل عورت ولیدی ضرر نه لري. ولې چې مصلی نه مسه کول د عورت ورته کتل روادی. لکن خلاف اداب الصلوٰة کما فی النهر، اوبرهان الحلبی وایې چې دا نظر مکروه تحریمی دی. اوبعض مشایخ وایې چې ستر د عورت د خپل ځان څخه هم شرط د صحت د لمانځه دی. وَهُوَ خِلَافُ الْمُخْتَارِ»

مسئله: ستره عورت خارج د لمانځه په خلوت کی امام حلبیؒ وایې چې واجب دی اوشارح وایې چې نه دی واجب» وَهُوَ الْمُخْتَارُ»

قوله وَاَسْفَلَ ذَيْلِهِ یعنی که بل څوک تر لمن لاندی د د عورت وو ینی لمانځه ته یه تاوان نشته. ولې چې تکلیف په قدر د طاقت وی. اوپه منع کی د بل چا د کتلو د عورت د ده حرج دی»

مسئله: د بعض خلګو خصوصاً د هندوستان د خلګو پرتوګ د دومره تنګ اوقمیص یه لاندی وی. چې په هغه کښی د مصلی د کونې نقشه اود خوښو نقشه معلومیږی لکن پتی وی دا و لمانځه ته تاوان نه لری»، قَالَهُ الْحَلَبِيُّ.

مسئله: په ثوب کښی د ورپیښمو اویا په محلله مغصوبه کښی لمونځ صحیح دی لکن مکروه تحریمی دی»، ذکره السیدؒ. په مراقی الفلاح کوائی چې مستحب داده چې نر دی په درو جامو کښی لمونځ کوی. د هغه ښو جامو څخه د ده «قمیص، وَازَارٌ، وَعِمَامَةٌ» اومکروه دی لمونځ په یوائی لنګ کی سره د قدرته پر قمیص

د اوی مخکی څخه نیولې بیا تر اوسمانه پورې. چې د کعبې شریفې پرخونه برابروي - او دا هم
زده کړه چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم چې په مکه شریفه کښې او بعض علماء وائي چې
لمونځ په د کعبې شریفې ته کاوه. او بعض علماء وائي چې لمونځ په بیت المقدس ته کاوه
سبب د دې اختلاف دا دی چې علیه السلام په مکه شریفه کې لمونځ په داسې توګه کاوه
چې هم بې کعبې ته مخ وو او هم بیت المقدس ته. او مختاره هم داده چې بیت المقدس
ته لمونځ کاوه تر اچې نسخه د قبلې دوه واړه لازمه نه سي. ولې کې په مکه شریفه کې لمونځ
د کعبې شریفې ته کاوه. نو مدینې منورې ته راغلې هغه منسوخه سوه بیا بیت المقدس ته
لمونځ کاوه. او بیا شپاړس میاشتې وروسته بیرته مخ کعبې ته په لمانځه کې اړاوه یعنې
بیت المقدس هم منسوخ سو. او کې په مکه شریفه کښې لمونځ بیت المقدس ته کاوه نو نسخ
د هغې قبلې یو وار په مدینه شریفه کښې میاشت د راغله. په هر صورت نبي کریم صلی الله
علیه وسلم خوښه د اوه چې قبله د لمانځه دده کعبه شریفه سي. ولې هغه قبله د ابراهیم
علیه السلام وه، اوبل سنه باعث پرایمان د قریش وه،
ولې چې کعبه شریفه ځای د فخر د قریش وه. لکن با این همه تأدباً مع الله عز وجل سئوال
صریح د خدائ څخه یې نه کاوه لکه چې دده ایت څخه معلومیږي، «قَدْ نَرٰى تَقَلُّبَ وَجْهِكَ
فِي السَّمَآءِ فَلَنُوَلِّيَنَّكَ قِبْلَةً تَرْضٰهَا فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ» الآیه.

اِخْتِلَافُ الْعُلَمَاءِ مشهوره داده چې په ورځ د دوشنبې ۱۵ رجب په دوهم کال د هجرت
پر صحیح روایت. تحویل د قبلې د بیت المقدس څخه وه کعبه شریفې
ته په داسې حال کښې راغلې چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم د مابین کښې لمونځ په مسجد کې د بنې
سلمه کې ده په مابین کې د لمانځه وه چې ورته راغلې چې په باقي لمانځه کې د مخ وکعبې
شریفې ته واړه وه. او علیه السلام دوه رکعته کړې وه چې مخ یې وکعبې شریفې ته واړاوه او خلکو
نرو او ښځو صفونه سره بدل کړه ځکه هغه مسجد ته مسجد ذوالقبلتین ترڅو اوسپورې وائي
و امام طحطاوي هم د غه مشهوره خبره تحقیق ګنړلې ده. لکن ظاهر د احادیثو مبارکه د بخاري
وغیره پرې دلالت کوي چې تحویل د قبلې په مسجد نبوي کښې راغلې دی او خارج الصلوة هم وو

اولنګوته، قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى: خُذُوا زِينَتَكُمْ عِنْدَ كُلِّ مَسْجِدٍ، ای صَلٰوة كذا افسره كثير من
المحدثين، اوښځې لره مستحب دی لمونځ په قمیص اوپورنۍ اوپرت گه کښې،

مسئله: نرلره کافي ده چې پراخه پټو وغیره کښې چې دده پرا کثر بدن مشتمله وي
لمونځ وکړي. چې په حدیث کې د عبادة بن الصامت کې د اسې راغلې دي. چې مونږ تر لمونځ
راکړې رسول الله صلی الله علیه وسلم په یوه پټو کښې چې پر بدن مبارک یې راپیچلې
وه - اود اوږو په مابین کې غوټه کړې وه **مسئله**: رسول الله صلی الله علیه وسلم
نهي کړې چې یوسړي په یوه جامه کښې لمونځ کوي چې پراوږو یې نه وي غوټه کړې ولې چې
احتمال د نبیه کولو او کشف عورت سته، وَالْكَرَاهَةُ تَحْرِيمِيَّةٌ ط، قَالَ الْمُصَنِّفُ،

وَاسْتِقْبَالُ الْقِبْلَةِ فَلِلْمَكِّيِّ الْمُشَاهِدِ فَرْضُهُ إِصَابَةُ عَيْنِهَا

او غیر نګه شرط دی د لمانځه صحت دپاره مخامخ درېدل و مکه المکرمه ته په لمانځه کې او فرضیت

وَلِغَيْرِ الْمُشَاهِدِ جِهَتُهَا وَلَوْ بِمَكَّةَ عَلَى الصَّحِيحِ

د استقبال په قرآن سره ثابت دی. قَوْلِهِ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ، او په حدیث سره هم ثابت دی، قَالَ
رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا يَقْبَلُ اللّٰهُ صَلٰوةَ امْرِءٍ حَتّٰى يَضَعَ الطُّهُورَ فِي مَوَاضِعِهِ
وَيَسْتَقْبِلُ الْقِبْلَةَ وَيَقُولُ اللّٰهُ أَكْبَرُ. **پوه سه**: چې مراد د قبلې څخه د غه ځای دی
د بیتې مبارکې نه خوا د کعبې حتی کې نیت د خونې د کعبې وکړي لمونځ یې نه دی روا، مګر کې
مراد جهته وو، كَذَا فِي الْمَرَاقِي. **پوه سه**: چې په مدینه منوره کښې هم اصابت د عین شرط
دی، ولې چې قبله د مدینې والو په نص سره ثابته ده، **پوه سه**: چې سړی د لمانځه
دپاره و مکې شریفې ته مخامخ ودریږي. نو نیت د خولې د استقبال القبلة نه غواړي وَهُوَ الْمُهِمُّ
مه، او غیر مشاهد دپاره یعنې چې کعبه شریفه نه وینې استقبال د جهت کافي دی. که غه هم
په بنارګې د مکې مکرمې یعنې په اطرافو کې د بنار پر صحیح روایت.
پوه سه: چې قهستاني وائي چې قبله نو مړ د هغه جهت دی چې خلګ لمونځ ورته کوي

وَاللهُ أَعْلَمُ بِالصَّوَابِ» دقریشیُو اویهود یانوسوالونه: خه وخت چی علیه الصلوٰة والسلام په مدینه منوره کښی لمونځ و بیت المقدس ته کاوه. نومشرکانو دمکی به وئیله چی محمد صلی الله علیه وسلم خوائی چی زه تابع د دین ابراهیمی یمه» بَلْ نَتَّبِعُ مِلَّةَ إِبْرٰهِيمَ حَنِيفًا نوقبله دابراهیم علیه السلام خوکعبه وه. اودی لمونځ وبیت المقدس ته کوی داغرنگی متابعت دی» اویهود یانوبه وئیله چی دانبی زمونږ د دین متابعت نه کوی اوزمونږ قبلی ته لمونځ کوی. اوهغه وخت چی تحویل دقبلی وکعبی شریفی ته راغلی» نوقریشو به وئیله چی زمونږ دکعبی وخواته راماثل سوځ ردئ چی زمونږ په پوه دین کښی به داخل سی. اویهود به وئیله چی داسړی یعنی علیه الصلوٰة والسلام خپل د وطن اوقوم محبت واختئ نوکه دی پرحق وای. نوقبله دانبیاء علیهم السّلام چی بیت المقدس وه وَلی پری نبوو له.

وَرُونړو: وگوری چی دښمنان دا سلام څه څه تهمتونه بی ځایه پرا سلام وائی اوداسلسله د تهمتو پرا سلام باندی به د تل د پاره جاری وی. اوهم دا اوس چی پریو غریب ملک چی تخمیناً شل کاله پردی ملک باندی د وینو وَلی بیول سوی دی اوپه لکونښځی یه کونډیانی سوی دی. اوپه لکو کچنیان یه یتیمان سوی دی. اوپه لکو خلګ د دغه ملک په پرد ی ملکو کښی دبی عزتی ژوند تیره وی. اومحکی یه توپ شاړی اووی جاړی سوی دی. اودا ټوله د روسیې مَلعُونې دَلاسه. لکن دا اوس پنځه کاله کیږی تخمیناً چی د طالبانو امارت اسلامی د افغانستان پر ۹۵ فی ۱۰۰ باندی حاکم ردئ. اود شریعت غراء ټوله احکام په عملی بڼه په کښی جاری دی. کفار د دُنیا په متابعت د امریکا او انګلیسانو د امر اسلامی په رسمیت بین المللی نه پیژنی اوقسم قسم اعتراضات لکه دقریشُو اویهودو پرکوی اوفقط د ۵ فی ۱۰۰ حکومت په رسمیّت پیژنی.

عجبخو لاَدادَه: چی روس اوامریکا چی دقدیمه څخه سړه دښمنان وَه. اوس هم په باطن کی سړه دښمنان دی. په مقابل د امارت اسلامی افغانستان، سړه هم نوا اوهم صداء دی

پُوه سَه: چی چونکه نسخ دقبلی اوله نسخ وَه په اسلام کښی. اودی څخه په زړوکی

وخلګو مشکوک او شبهات پیدا کیدلو نوځکه باری عزوجل دقبلی په باره کی د پرتحقیق کړی دی» کَمَا یَظْهَرُ مِنْ مُطَالَعَةِ الْقُرْآنِ الْكَرِيمِ. قَالَ الْمُصَنِّفُ.

وَالْوَقْتُ وَاعْتِقَادُ دُخُولِهِ

اوبَل شرط دلما نځه وخت دی. اوبَل اعتقاد اویقین د لهوډل دی پر دخول د وخت

پُوه سَه: چی دَغه پنځه وختونه د پنځه لمونځو د پاره ثابت په قرآن کریم او په سُنت نبوی اوپه اجماع د امت مرحومه سړه دی» قَالَ اللهُ تَعَالَى: إِنَّ الصَّلٰوةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ كِتَابًا مَّوْقُوتًا» په تحقیق سړه لمونځ دی پر مسلمانانو لیکل سوی یعنی فرض مقید په وخت سړه دی یعنی چی نه ئ تر وخت تاخیر روادی. اونه ئ تقدیم روادی. **پُوه سَه** چی مصنف په مَراقی الفلاح کښی اعتراض وئیلی دی چی په دیرو معتمدو کتابو کی لکه قدوری مختار، هدایه، کنز، کښی د وخت شرط والی یه په باب شروط الصلوٰة کی نه دی کړی، وَلَا يَخْفَى عَلَيْكَ عَدَمُ ذِكْرِهِمْ لَهُ» **پوښتنه»** دغه مصنف نوخوپه اول کښی دکتاب الصلوٰة وختونه لتوله بیان کړی. نود مصنف اعتراض پردوی څه وجه ده؟ **جَواب:** د مصنف سوال حاصل دادی چی دَغو مصنفینو دَ دَغو وختونو شرط والی نه دی بیان کړی او مطلق بیان د وختو خو شرط والی نه ځندی معلومیږی خصوصاً عند المتعلم القاصر عن فهم الدقائق کذا فی الطحطاوی

پُوه سَه: چی وختونه د لمانځه سبب دی دادا کولو د لمونځو وَلی چی واجب وَالی د لمونځو په دغه وختو پوری تعلق لری. اوهم دغه وختونه ظرف اوځای دی د لمونځو د پاره. ولی چی ظرف په اصطلاح د فقهی هغه وخت ندی چی ترفرض نړیات دی او وختونه د لمونځو هم تر لمانځه بالا دی. اوهم دغه وختونه شرط د وجوب د لمانځه دی. ولی چی واجب وَالی د لمونځو پر وجوب د وخت موقوف دی. اود شرط هم داغه معنا ده. قال

وَالنِّيَّةُ

اوبَل شرط د لمانځه نیت دَئ

پُوه سَه: چی نیت په لغت کښی عزم ته وائی اوعزم تینګه اراده ده د زړه وی کار ته اوپه شرع شریفه کی نیت قصد دی د طاعت اونیږدی وَالی د خدای جل شانه ته په یو کار کښی نوهغه کار که د زړه کار وی. لکه توبه اوپښیمانی پر گناه. اویا بیړه د خدائ جل وعلا څخه اونور اعمال قلبیه

اویادا ندامو کاروی لکه لمونځ اوروژه حج وغیره **فائِدَه**: دنیت څخه مقصد دا دی چې یا عبادت د عادت څخه جلا سی، مثلاً یوسړی خورك اوچښك نه کوی یا ضرورت نه وړاندې لړی په نوله وخت کی اویا طبیب ده ته پرهیز ورکړی وی. نو دا عبادت نه دی. اوچې نیت وکړې چې زه به ترنن دپاره د تقرب وخدای جل جلاله ته روژه نسم نو دا عبادت دی. اوبل مقصد د نیت دادی چې دیوه قسم عبادت دا قسامو فرق وکړه سی مثلاً لمونځ یوقسم د عبادت دی چې هغه لره دا اقسام دی. فرض، واجب، سُنت، نفل، نذر، نو چې نیت وی نو د لمانځه درك به معلوم سی چې مُصلی کوم لمونځ کوی،

اوبله فائده د نیت داده چې د سړي اخلاص خدای سره په معلومیږی، او اخلاص یوپټ راز دی په مابین کی د بنده اود رب جل وعلا ترمابین چې پرهغه باندې نه ملك علم لری چې نوشته یه کړي. اونه شیطان په خبرین ی چې فاسد یه کړي. قاله الحموی ط،

پوه سه: چې نیت قصد ته ذړه وایۍ اود ژبې خبرو ته فعل للسان، نو اصل شرط اوفرض خو نیت دی، که د ذړه حضور د سړي برابر وي فعل للسان ته ضرورت نشته اوکه په سبب د مشاغلو د دنیا اویا د غم په سبب یا په بل سبب احضار د قلب وسړي ته نه میسر کیدی نو فعل للسان کافي دی کذا فی المجتبیٰ، لکن چونکه نن صبا د خلکو مشاغل اوغمونه ډیر دی نو فعل اللسان ته هم ضرورت ستر،

سنهانه فائِدَه پوه سه: چې یو اصلی عبادت دی مثلاً صرف لمونځ اویو کیفیت د عبادت دی. لکه د لمانځه ښه قیام، اوښه رکوع، اوسجده، اوخضوع اوخشوع وغیره نو یوسړی په حضور کی د خلکو لمونځ کاوه. اوچې خلك نه وی لمونځ یه نه کاوه داسړی په اصل نماځه کی ریاکار دی نو د دغه سړی پر ذمه هغه لمونځ چې د حضور کی د خلکو کړی دی پور دی. اود هغه لمانځه هیڅ ثواب نه لری په درګاه کی د خدای جل جلاله ولې ده په لمانځه کی چې حق د خدای جل جلاله وو مخلوق شریك کړی. او خدای جل جلاله شریکی عبادت نه قبلوی، اوکه یوسړی په حضور کی د خلکو لمونځ په ښه رکوع، او سجده وغیره سره کاوه، اوپه خلوت یعنی یواځی لمونځ بیله مراعاته د سُننو او مستحباتو کاوه

مکتبه القراءت والتجوید کوټه

یعنی چا بك چا بك دغه سړي ته دهغه لمانځه ثواب ستا ته او غاړې یه د اصلی لمانځه څخه احترام سره لمونځ کړی دی د اصلی لمانځه ثواب ستا ته او غاړې یه د اصلی لمانځه څخه خلاصی دی. اما دښه کیفیت ثواب یه نسته. ولی چې هغه کښی مخلوق شریك نه دی. دی دوهم قسم ته ریاء فی الکیفیت وایۍ. او دغه دوهم قسم محمول ده هغه خبره چې خلاصه والا وایۍ. لا ریاء فی الفرائض،

واقِعَه یو ریاء کار شیخ او پیر یوه سړي چې وده ته یه د ښه سړي عقیده درلوده یوه شپه میلمه کړي او هغه سړي ښې وړې او غوښې وغیره وړته برابری کړی وی. او ډیره مکلفه ډوډۍ سمه کړي وه. ماښام چې پیر صاحب ډوډی ته ټلی. یوکشنی زوی یه هم وړسره بوتلی، خیر هلته چې وړغله او مکلفه خواړه پرستر خوان رنګارنګ کښیښول سوه. پیر صاحب په درو گوتو دوی د ډرې ګولیو دښورو امثلاً وخوړلې. او یو دوی د ډرې ګولیو دوړ جو یه مثلاً بوټه کړي. او ډوډی یه بس کړه. کور والا وړته ووییل چې صاحبه ډوډی دی ولی بس کړه. پیر صاحب وړته ووییل چې زمونږ خو هم دومره خوړك دئ، کور والا پیر تینګار وکړی چې صاحبه د ډرواخله مونږ دا گرده وړځ دا دوونه تکلیف هم ستا د پاره کړي دئ. پیر صاحب د ریاء په زهیره لهجه وړته ووییل، کړچیرې زه په ډك ټس ډوډۍ وخورم، بیا د شپې خوب راځي او د خدای ذکر او عبادت نه سم کولای. خیر ډوډی د پیر صاحب د زوی او کور والا په مزه مزه وخوړله، وړوسته تر ډوډۍ کور والا پیر صاحب ته ووییله چې تبرکا د ماخستن لمونځ هم دا زما په کور کی په جماعت راکړه. پیر صاحب د مخه سُو او لمونځ یه په ډیر خشوع او خضوع اوپه کامله سُجده او رکوع ادا کړی. اوورسته یه د کور والا څخه رخصت واخستئ دی او زوی کور ته راغله، پیر صاحب چې کور ته راورسیدی ماینی ته ئې ووییله چې ستر خوان راواخله. ماینی یه وړته ووییله چې ستر خوان څه کوې! پیر صاحب وړته ووییل چې وږی یم ډوډۍ خوړم. ماینی یه وړته وویل چې اخیر خان صاحب میلمه وی هلته به دی خوړلی وی. په ښو ښوشیا نو به دی ځان مو رکړی وای. پیر صاحب ماینی ته ووییل

مکتبه القراءت والتجوید کوټه

څه بیعقله بنځه ده - که چیرې مادخان صاحب پرستر خوان دځیلی خیټی برابر دودۍ خوړلې وای دهغه عقیده زما دبزرګی څخه بد لیده. خیرمابنی یه ستر خوان راواخستی اوپیر صاحب وه وچې دودۍ ته وجوړیدی اوخیټه یه په ډکه کړه. نروی وه ته وویل چې بابا دما خستن لمونځ نوهم راوګرځاوه. اودکوی پروزه یه وکړه هغه لمونځ چې تادخان صاحب کره وکړی هغه خوبل دوول لمونځ وو.

مسئله: که چاداول واړه لمونځ په ښه اخلاص اوخالصًا لله شروع کړی اوورسره په زړه کښې ریا پیداسوه پس هغه اول نیت تی اعتباردی. اوثواب دکامل لمانځه ورکول کیږی. کذا فی ردالمحتار وغیره من الکتب الفقهیة. **مسئله**: که څوک یو عبادت په دوو نیتو وکړي. دډیرو عبادتو ثواب خدای جل وعلا ورکوی. مثلاً یوسړی څلور رکعتونه لمونځ په نیت دصلوٰة الفتحی. اوتحیة المسجد، اوسنة الوضوء وکړی. دتولو ثواب خدای جل وعلا ورکوی. اویا یوسړی چې وړځ داختره اوجمعې وړځ هم وه. اودمابنی سړی کار هم وکړي اوپه یوغسل کی ددوو سرو نیت وکړي خدای جل جلاله دتولو ثواب ورکوی، ط، قال المصنف.

والتحریمة بلا فاصل

اوبل شرط دلمانځه الله اکبر ویل دي بیله جلاوالی دنیت څخه **پوه سه**: چې تحریمه رکن اوجزء د لمانځه نده بلکه شرط خارج دلمانځه دی پر صحیح روایت اوعام مشایخ پرد اغه رایه دی، **واوره**، چې دتحریم معناده حرامول دي دشئی نواول تکبیر ته چې تحریمه وایی ددی کبله چې تحریم حرام ګرځوی پرلمونځ ګذاره باندی مباح شیان لکه خوراک، خبری، وغیره. اوشرط والی دتحریمه په قرائن سره ثابت دی. وربک فکبر، دتولو مفسرینو پردي اتفاق دی چې مراد دغه تکبیر څخه الله اکبر شروع دلمانځه دی. او اجماع دمجتهدینو هم پرفرضیت ددی تکبیر ده. ولې چې امردکبر دپاره دوجوب دی اوپه لمانځه کی بل تکبیر واجب نشته. او په حدیث شریف کی چې روایت یه ابوداؤد کړی دی. اوترمذی داحدیث هم حسن ګرځولی دی. داسی راغلی دی: مفتاح الصلوٰة الطهور وتحریمها التکبیر وتحلیلها التسلیم،

ترجمه: کلی دلمانځه پاکی ده یعنی اودس وغیره اوحرامونکی دمباحو کار وپه لمانځه کی الله اکبر دی. اوحلالونکی دمباحوشیا نوسلام دی یعنی په اخیرکی. لمانځه ولهذا الحدیث شرح طویل مذکور فی کتب شارحی الحدیث لا یناسب منصب المبتدی المتعلم لهذا الکتاب،

مسائل التحریمة

مسئله: جوت والی دنیت اوتحریمې یوقسم حقیقی دی. هغه داسی چې نیت دی دشروع په تکبیر سره یوځای وي. داسی ترتولو افضل کار دی په اجماع دامامانو دمذهب حنیفی. اوبل قسم حکمی دی. هغه داسی چې نیت دلمانځه ترشروع دلمانځه په تکبیر سره رهنه وکړي. مثلاً یوسړی چې اودس یه تازه کاوه نیت دزړه یه وو چې زه به دماپښین لمونځ کوم مثلاً.. اوپه اوداسه اخته وو بسله اوداسربل داسی کار پیښ ونه کړی چې ناصل کنړل کیږي لکه خوراک، چښنګ یاد چاسره خبری کول اونور ورته کارونه. نودلمانځه ځای ته چې ورغلی دتلواره یه نه نیت دخولې وکړی اونه دزړه ددغه سړی لمونځ په هغه مخه نیت روادی. ط، **مسئله**: دمخه والی دنیت ترڅو خول دوخت روادی چې فاصل لکه مذکورات پیدا نه سی. او ابن امیرالحاج دخول دوخت دنیت متقدم دپاره شرط ګڼلی. په یوروایت کښې دامام اعظم **مسئله**: امام حمدی والی چې هرخوک دچې پرلمانځه ودریږی په وخت کی دشروع دی دامامت نیت هم وکړي. ولې چې امکان لري چې پرده پسی داسی څوک اقتداء وکړي چې دی نه وینی لکه ملکی یا جن، اوپه اشباه والنظائر کی والی چې نیت دامامت هلته صحیح دی چې په ده پسی کم از کم یوسړی اقتداء کوی، والاول هوالمختار عند الفقیر،

مسئله: مقتدی چې نیت دا قتداء په امام پسی کوی په خروخت کښې بې کوی؟ **جواب**: اکثرعلماء دفقهی شریفی پردی دي چې څه وخت چې امام په ځای کی دامامت ودریږی د مقتدی نیت دا قتداء صحیح دی، وهذا هوالمختار للفتوی.

اوبعض امامانو بخارا وائی چی نیت دا اقتداء دَ مخه تر تحریمی دامام نه دی روا نقله الفهامی
اوبعض علماءو د پیری تنگی څخه کار اخسته دی. اووائی چی مقتدی دی نیت دا اقتداء
دامام تر اَللّٰهُ وَیلو وروسته اوده اَکبَر تر ویلو مخه کوی» وهذا حَرَجٌ عَظِیمٌ.

مسئله: که سړی په نیت دیوه لمانځه دکوه روان شو. اوبیله شګه یه بل فاصل
نه کی پیدا چی دلمانځه ځای ته ورغلی صرف اَللّٰهُ اَکبَر یه ووایه اوپه لمانځه یه شروع
وکړه لمونځ یه صحیح دی کذا قَالَ المُصنفُ فی المراقی» **مسئله**: که سړی پس له
نیت څخه ذکر وکړی او بیایه شروع په لمانځه وکړه بیله بَل نیته لمونځ یه صحیح دَی» ط»

اِستِدرَاک ماتحریمه شرط دَ لمانځه اوخارج وګنړله یعنی رکن اوجزء نه ده
امذهب وُو دامام اعظمؒ اودامام ابویوسفؒ. اوامام محمّدؒ یه رکن دَ لمانځه بُولی
نوبناءً پرد غه اختلاف که سړی سَره نجاست مانِعه دلمانځه وُو. اوتر تحریمی وروسته
تر شروع دَ لمانځه دمخه یه هغه نجاست لیری کړی. د شیخینوؒ پرمذهب یه لمونځ روا دی
اودامام محمّدؒ پرمذهب یَه لمونځ نه دی روا. ولې چی دده سَره په داخِل دلمانځه نجاست
ورسره دی. اودغه رنګه یوسړی په وَخت کی دَ تحریمی یه قبلی څخه مَخ چپ وُو. اووروسته
یه وقبله ته یه ګمان سم کړی. پر اوله مذهب یَه لمونځ روادی. پردوهم مذهب دی روا
اویا په وخت کښی دَ تحریمی یه عورَت لخ وُو. اووروسته یه په لږ عمل هغه پټ کړی
پر اول مذهب یه لمونځ روادی. پردوهم مذهب نه دی روا.

هدایت: پوه سه: چی مصنفؒ په مراقی الفلاح کښی وَئیلی دی. چی دپاره دصحت
دتحریمی ۱۵ شرط چی دهغو څخه ۷ ماپه متن کی ذکر کړی اوباقی ۸ ته په شرح کښی راسی
اِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعالیٰ: اوزه عُبَیدُ الله به هم چی دمتن شرطونه خلاص سی. نوهغه شرطونه به هم
بیان کړم چی مصنفؒ په شرح کښی راوړی دی د تفصیل سَره که خدای کوله. اورښتیا
داده چی دغه ۱۵ شرطه دصحت دتحریمی پریوه ځای په هیڅ کتاب کښی د فقهی شرایفی
نه دی ذکر سوی. اَللّٰهُمَّ اِلَّا فِی کِتَابٍ نَقَلَه من هذا المتن وَالشرح.

عامی وائی.. چی نه به وَ اول، دوهم وهکذا تر اوولم پوری په اول دوهم آه تصریح وکړم
نو اول دهغو شرطو څخه دادی» چی تحریمه دې دَ نیت سَره جَفت وې حقیقةً اوحکماً
کما قرالنفاً» قَالَ المصنفؒ.

وَالاِتیَانُ بِالتَّحرِیمَةِ قَائِمًا

اورانګ دی په تحریمه سره په ولاړی. داهم دوهم شرط دی د صحت دَ تحریمی قَالَ
د مختر تر کښید و وَرکوع ته» **پوه سه**: چی مصنفؒ

قَبلَ اِنحِنَائِهِ لِلرُّکُوعِ

په مَراقی کی وَائی. چی لږ کږ والی پر وَانه لړی. اولږ اوډیر
رکږ والی په دی سَره معلومیږی کی لاسُونه زنګنوته ورسیدَلی هغه انحناء قلیله دَه شرط
د تحریمی یه پرځای سُو. په بُرهان کی وَائی که مقتدی دامام ته وَرسیدلې په داسی حال کی
چی پر رکوع وُو. نوُوده مَلا اکبَره کړه بیایه اَللّٰهُ اَکبَر وَوایه نوکه دغه مقتدی وَولاړی ته
نږدی وو یعنی لاسُونه یه زنګنوته نه رسیدَلی. شروع یه صحیح دَه اوکه رکوع ته نږدی
وو یعنی لاسُونه یه زنګنوته رسیدَلی شروع یه نه ده صحیح. **پوه سه**: چی دافرق
په هغه چا کښی دی چی مَلا یه سَمه وی اوکه کوزه پشته وُو یعنی مَلا یه کړه وَه دهغه
قرب اوبعد وقیامی یا رکوع ته دَده په اجتهاد پوری اړه لری ،،

سَوال: داسَړی چی په داسی حال کی امام ته وَرسیږی نونیت خو پاته سُو. اوهغه
هم فرض وو **جَواب**: په دې صورت کی نیت قَلبی خُو موجود دی که څه دَ نُطق
نیت په نه دی کړی. وَقد مَرَّ اَنَّ النیة القلبیة کاف. قَالَ المُصنفؒ.

وَعَدَمُ تَاخِیرِ النِّیَّةِ عَنِ التَّحرِیمَةِ

اوبل شرط دَ صحت دَ تحریمی
نیت تر تحریمی اوداهم دَریَم شرط دی د صحت دَ تحریمی. دلیل ددی مَسئلی دادی چی
لمونځ یوعبادت دی. اوتجزیه اوتقسیم نه قَبلوی. نوکه سَړی په وخت کښی د تحریمی
نیت نه وی کړی نوهغه خوعبادت نه دی ورو سته چی نیت وکړی هغه عبادت سُو.
نوتولو لمونځ دعبادت اوغیر عبادت څخه جُوړ سو. وهذا لا یجوز بالاجماع.

مسئله: په تقدیم کی د نیت تر تحریمی حرج نشته کما مر فی مسئلة الوضوء

مسئله: افضله داده چی نیت او تحریمه سره یوځای وی حقیقتاً دپاره د احتراز چی د خلاف ووزی **سوال**: روژه هم یو عبادت دی نو په روژه کی ولی تاخیر د نیت روادی **جواب**: تاخیر د نیت په روژه کی چی روا دی د پاره د دفع د حرج دی آسانی پر روژه والو باندې. ولې چی بعض صائمان په طلوع د شپید و نه پوهیږی، نو د الصلوٰة کذا فی البحر» او همغه چی طحطاوی وائی چی حرج د روژی خو په تقدیم د نیت تر سپیدو و نیت تر انتظار باسی. او په اول کی د شپی یا په مابین کی د شپی به فکر نه وی. نو دی وجهلی تاخیر د نیت روادی»، فافهم.

او صاحب د جوهرة وائی چی قیاس دا امام کرخی د لمانځه پر روژی په جواز کی د تاخیر د نیت قیاس فاسد دی. ولې چی سقوط د مقارنت د نیت د تحریمی سره د پاره د دفع د حرج دی. نو د اخرج خو په تقدیم د نیت تر تحریمی په لمانځه کښی دفع کیږی نو تاخیر ته څه ضرورت دی. او جواز د تاخیر د نیت په روژه کښی هم د پاره د دفع حرج دی» قال صاحب البحر» قال المصنف»

وَالنُّطْقُ بِالتَّحْرِيمَةِ بِحَيْثُ يُسْمِعُ نَفْسَهُ عَلَى الْأَصَحِّ

او بل شرط د صحت د تحریمی دا دی چی اَللّٰهُ اَکْبَر به په خان اوری پر اصح مذهب داخلوم شرط دی» **فائده**: پر کانړه سړی اوریدل د تحریمی او نور شیان چی وړاندی به د اسی که خدای کوله، لازم نه دی. ولې چی کونړ بیله جهڅه خبره نه سی اوریدلای **مسئله**: پر گونگی باندی د تحریمی په وخت کی ښورول د شوندو نو لازم نه دی **درویش وائی**: چی چونکه په دې مسئلی پوری نوری ډیری مسئلی مربوطی دی. لهذا د دی مسئلی لوی تحقیق او بسنه نړده کړه پکار ده» **نویوه سه**: چی مصنف راجح په ویلو کښی اشاره و اختلاف ته وکړی چې په دې مسئله کښی اختلاف دا دی، چی حضرت الامام الکرخی وائی چی هر همغه کار چی په لفظ یعنی په نطق اللسان پوری تعلق لری

لکه تحریمه، وغیره. په هغه نطق کښی تصحیح د حروفو شرط ده» لِاَنَّ الْکَلَامَ لَایَحْصُلُ اِلَّا بِالْحُرُوْفِ» او داغه تصحیح الحروف ادنی د خافت ده. نو د دی مذهب معنا داده که یو سړی شوندان جوت نیولی وی او په صرف تصور قلبی سره تحریمه یا قرائت وغیره وائی هغه نه دی صحیح» لکه په اوسنی زمانه کی د اکثر عوامو بلکه د بعض ملایانو هم داعیسی عادت دی. سبب د عدم د ادی چی حروف عربیه خیل خپل مخارج لری نو ترهغو چی شوندان او ژبه و نه ښوری کله حروف اداء کیدای سی، لکن صحیح قول دی د امام حلوانی» مصنف په مراقی الفلاح کی وائی چی اکثر مشائخ پرې مذهب دی چی صحیح داده چی جهر حقیقةً د ادی چی په بل یې واوری» او مخافت د ادی چی په خپلو غوږونو یې واوری. او امام الهندوانی وائی چی مخافت د ادی چی په خپل ځان یې هم واوری او په ځنډ دې سړی یې هم واوری **سوال**: پر مذهب د هندوانی د جهر او مخافت نوځه فرق دی. **جواب**: امام طحطاوی وائی چی د اسماع سره د ځان اسماع د مګر تقریباً جداً الا زهدی غالباً. **حاصل د ادی**: چی پر مذهب صحیح هغه کار و نه چی په ژبه سره کیږی» او د ژبې وینا موقوفه وی په هغو تیلو کی ادنی د مخافت شرط دی. یعنی اوریدل په خپلو غوږونو. لکه تحریمه، او قرائت سر ته لکه قرائت د ما پښین ما زدیګر د لمانځه. او تشهد د لمانځه. او اذکار او بسم الله اَللّٰهُ اَکْبَر و یل پرته بیخه، او وجوب د سجدهٔ تلاوت، او عتاق د مرتې. او طلاق د مائی، او اِنْ شَاءَ اللّٰه ویل پسله طلاق وغیره او قسم اختتل» او نذر کول، او اسلام عند الناس، حتی نو جزی طلاق نږه جنبه علی قلبه و حرك لسانه به من غیر تلفظ یسمع نفسه لایقع وان صح الحروف» مر»

پنځوسه: چی بعض ځایونه اوریدل په خپل ځان کافی نه دی بلکه د بل چا اوریدل هم ضروری دی. لکه بیع. او هبه او نکاح وغیرها من العقود قاله الفهستانی رحمه الله

فائده سنیه: قال المصنف فی المراقی، اشتراط د نیت په عباداتو کی د پاره د اخلاص دی. نو نطق او په خوله ویل شرط نه دی. بلکه نیت د زړه شی دی لکه

کفر» حافظ ابن القیم الجوزیؒ وائی چی نده ثابته سوی د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه نه په سند صحیح اونه په ضعیف سره چی څرګه صلی الله علیه وسلم به په شروع کښی د لمانځه داسی ویله: نَوَیْتُ اَنْ اُصَلِّیَ کذا» اونه دخولې نیت د صحابو کرامؓو څخه ثابت دی. اونه د تابعینؒو څخه ثابت دی. او ابن امیر الحاج وائی چی ائمه اربعهؒو څخه ثابت دی. بلکه داسادات کرام چی لمانځه ته به ولاړ سو صرف اَللهُ اکبر به ووایه. **سوال**: ابن قیمؒ وائی چی نیت دخولې بدعت دی. **جواب**: صاحب البحر وائی چی بدعت دی لکن بدعت حسنه دی» دپاره د دې چی د عزیمت او قصد سره د نږه فعل دلسانی هم یوڅای سی، ځکه هدایه والا وائی چی نیت دخولې: حَسَنٌ لِاِجتماع عزیمتہ» اوپه مجمع الروایات کی وائی چی تلفظ په نیت سره بعض علماء مکروه بولی. ولی حضرت عمر رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی بعض نفروته چی دخولی نیت یه کاوه ادب ورکړی. او بعض علماء وائی مباح دی. ولی په دی سره تحقیق د فعل القلب کیږی، او د فع دوسوسه کیږی. او حضرت عمر رضی الله عنه چی ادب ورکړی دی. وهغه چا ته ئی ورکړی دی. چی نیت یه په جهر سره وایه. په مخالفت کښی پر وانسته، **سوال**: بعض مشائخ زمونږ وائی چی تلفظ په نیت سره سنت دی. او بعض وائی مستحب دی. **جواب**: دمشائخوسنت نبوی نه دی مراد اونه هم مستحب په معنائی مصطلح ده بلکه مراد د سنت څخه سنت او طریقه د بعض مشائخو سنت مراد ده» لِاختلاف الزمان وکثرة الشواغل» او مراد د مستحب څخه معنی لغوی ده یعنی ښه کار، وَقَدْ مَرَّ بعض تحقیق مسئلة التلفظ بالنیة فتذکر» په هر صورت داغسی تلفظ بالنیة لکه بعض موسوس امیان یا ملایان چی کوی» چی دا دغه تلفظ کی نیم یا پوره رکعت څندی تیر سی مکروه دی او بدعت سیئه دی. قال

وَنِیَّةُ الْمُتَابَعَةِ لِلْمُقْتَدِیْ

اوبل نیت دی د متابعت د امام متقدی لره لکن سره د نیت د اصل لمانځه اودا پنځم شرط دی د تحریمی **پوښتنه**: چی مراد د نیت څخه د اصل لمانځه نیت

دی د فرض الوقت نه مطلق لمونځ. ولی چی لفظ لمونځ خو فرض و واجب و سنت و نفلو ټولو ته شامل دی اوهم دغه نیت شریک دی په مابین کی د امام او مقتدی لکن چونکه دغه نیت شامل منفرد ته هم دی نو ځکه نیت د متابعت د امام هم غواړی» وجه د اصل نیت خو منفرد ته دی دهغه تیره سوه. یعنی چی عبادت د عادت څخه جلا سی او د مقتدی اخلاص معلوم سی. او هرچه نیت د متابعت دی د هغه سبب دا دی چی فساد د لمانځه د امام د مقتدی لمونځ فاسد یږی او فساد د د لمانځه هلته راځی. چی مقتدی پرځان د امام لمونځ لازم کړی. او دا په نیت د متابعت سره کیږی. نو مقتدی به یا داسی نیت کوی چی فرض الوقت کوم او اقتداء می ده په حاضر امام پسی. او یا به داسی نیت کوی چی شروع په لمانځه یه نه صحیح کیږی. لکن صحیح داده چی شروع صحیح ده» ولی چی ده په نیت د اقتداء څان تابع د امام وګرځاوه مطلقاً او تابع دی بله کیدای سی چی د امام لمونځ کوی **مسئله**: که یوڅا انتظار وکړی و تکبیر ته د امام. بعض علماء وائی چی هم دغه انتظار کافی دی د دې اره د اقتداء په امام پسی. لکن صحیح داده چی مطلق انتظار د تکبیر کافی نه دی. ولی چی دا نه معلومیږی چی ده عادةً انتظار کړی دی او که د اقتداء د پاره. **مسئله**: مقتدی دې د امام تعیین نه کوی مثلاً اقتداء می ده په زید پسی ولی هغه امام زید نه وی دده لمونځ باطل دی **مسئله**: که د مقتدی صرف ګمان داوو چی دا امام زید دی او هغه عمرو وو لمونځ یه صحیح دی. **مسئله**: د امام د پاره نیت د امامت د نرو نه غواړی بلکه نیت د امامت د ښځو غواړی» ولې که امام د ښځو د امامت نیت و نه کړی د ښځو لمونځ نه دی صحیح»

د یرهٔ مهمه مسئله

پوه سه: چی په حرمینو شریفینو کښی حکومت د ښځو د پاره معلوم څای تا کلی دی چی دوئ به په معین څای کښی په امام پسی اقتداء کوی لکن سره د هغه بعض اوقات بلکه اکثر اوقات خصوصاً په مکه مکرمه کی داسی پیښ سی چی تر اوښځی طوافونه کوی هلته اذان نارې سی، نو دغه ښځی د مابین څخه د نرو و تا کلی څای ته نسی وتلای. اخیر الامر د نرو سره اوښه پر اوښ او

یاد مخته تر بعض نَرو پر لما مخځ ودریږي. اوسه ددی چې په ټوله فقه شریفه کښې دا څو چې محاذات دَښځې سړي په لما مخځ کې دَتر لمونځ فاسده وي. نو اول کال چې فقیر حج نه تللی وو. دیرو پښتنو د ما مخه د دغه مشکل په باره کې پوښتنې کولې. ددی مشکل د حل لپاره ما داوګنړل چې د امام مخځه د مسجد الحرام پوښتنه وکړم. ددی د پاره چې معلومه کړم چې محاذات دښځې دده په مذهب کې هم مفسد دی او که نه. نو د امام المسجد الحرام مخځ په یوه فرصت کښې چې ما پوښتنه وکړه چې محاذات دَښځې سترې سړي په مذهب کې مُفسد دتر د لما مخځ دی او که څرنګه هغه جواب په نَعَم، اکړی یعنی هو مفسد دی نو ما عرض ورته وکړ چې تاسې وینې چې په سټو وښځې په لما مخه کښې د نرو سره محاذي کیږي. او د ده مخځه مې وغوښتل چې تاسې باید دا مشکل حل کړي. ده په جواب کې وفرمایل چې زه د لما مخه په وخت کښې صرف او صرف د هغو ښځو د امامت نیت کوم چې په تاکلی ځای کښې لمونځ کوي. او د ما بین الرجال دَښځو د امامت نه کوم. نو په دغه دوه دلایلو د ما بین الرجال ښځو لمونځ نه دی صحیح:

او د فساد د نرد د لما مخه د پاره خو اشتراك د تر او د ښځې په لما مخه کښې شرط دی نو دا د ما بین الرجال ښځې ګویا د اغسې وَلاړې دی،، فافهم فانه سانح غریب.

او بعض علماءُ وایې چې په شریعت غراء کښې د اسلام دوی مَنزل سوی شرعی قاعدې ستره یوه دا چې: الضَّرُورَاتُ تُبِيحُ الْمَحْظُورَاتِ، یعنی مجبوري و خلګوته مباح ګرځوي ممنوعات د دین مثلاً اَکلُ د میتې په حال کې د مخمصة، او لمونځ په پروتې کول په حال کښې د پیرې نا جوړې اویا په بولو او د س نه ما تیدل د سلس البول سړي په وخت کښې نور وهکذا انفلات الریح او جرح سائل. او بله قاعده دا ده: چې. لَاحَرَجَ فِي الدِّينِ، یعنی دوه ره سختی په اسلام کښې نسته چې د سړي د طاقت څخه دی وتلی وي. او خدای جل جلاله هم وایې: لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا الایه. نو د دی دوو قاعدو په نظر نیولو سره ایستل د دغو په سټو وښځو د ما بین څخه د نرو. نه قدرت د نرو په سړیو بلکه د حکومت سعودي د طاقت څخه هم وتلی کار دی. نو دا محاذات د ښځو د نرو سره کې

څه هم امام الحرم د امامت نیت هم وکړي مُفسِد د نرود لمونځو به نه وي. والعلم عند علام الغیوب.

مسئله: في شرح الملاعي عن الزخيرة او قاضيخان، نقل کړې دی که یوچا د جُمعې په وخت صرف د جُمعې د لما مخځ نیت وکړي او نیت د اقتداء په امام پسې نه وکړي د جُمعې لمونځ به صحیح دی ولې چې د جُمعې لمونځ بیلا، امامه نه سی کیدای نو نیت د جمعې متضمن دی نیت لره د اقتداء بالامام. ط، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَتَعْيِينُ الْفَرْضِ

او مصلی به تعیین کوی د فرضی لما مخځه. او دا هم دی شپږم شرط د تحریمې دی. **مسئله**: نیت د تعیین الفرض په ابتداء کې د شروع ضروري دی. حتیٰ که سړي د فرض نیت وکړي او لمونځ به شروع کړي او بیا به فرض هیر سوه او ګمان به دا سو چې ما د نفلو نیت کړي دی. نو لمونځ به پوره کړي پر ګمان د نفلو. وروسته به ور پیاد سوه چې ما اول وار نیت د فرض وکړي وو. فرض به د ذمې څخه ساقط سوه. او د غه رنګه که سړي اول وار نفلو نیت وتاړه او شروع به په لما مخځه وکړه او بیا ځندی هیر سوه ګمان به دا سو چې ما د فرضی لما مخځه نیت کړي وو او لمونځ به پرد غه ګمان پوره کړي.

او وروسته به ور پیاد سوه چې ما اول وار نفلو نیت کړي وو. فرض به د ذمې څخه ساقط سوه. او د اغه رنګه که سړي اول وار نفلو نیت وتاړه او شروع په لما مخځه به وکړه او بیا ځندی هیر سوه ګمان به د دا سو چې ما د فرضی لما مخځ نیت کړي وو. او لمونځ به پرد اغه ګمان پوره کړي. او وروسته ور پیاد سوه چې ما اول وار د نفلو نیت کړي وو. ټوله لمونځ به نفلی دی او فرضی لمونځ نه دی ساقط. د دی دوارو مسئلو دلیل دادی چې نیت مُعتبره هغه دی چې په ابتداء کښې د شروع به کړي وی،،

مسئله: وَلَا يُشْتَرَطُ نِيَّةُ تَعْيِينِ، یعنی شرط نه دی نیت د تعیین د عدد د رکعاتو، ولې چې فروض او واجبات خو معدود او محدود او معین دي. نو د فرض او واجب نیت کول مغنی دی د نیت څخه د تعیین د رکعتو. حتیٰ که سړي د سحار د لما مخځ نیت د ځلورو رکعتو وکړي نیت د څلورو لغوه دی. دوه رکعته دی وکړي لان الخطاء فیما لا یشترط فیه

التعیین لایضر کما فی الاشباه» ط ص۱۷۹۔

مسئله: چونکه فرض لمونځونه دشبانه روز پنځه دی لهذا تعیین دمانښین یامابنام وغیره ضروری اولازم دی هم پر امام هم پر مقتدی اوهم پر منفرد **مسئله** که چا نیت دفرض الوقت الحاضر وکړی دغه نیت کافی دی مګر جمعی دلمانځه دا غسی نیت کافی نه دی. ولی چی فرض الوقت پر صحیح مذهب دمانښین لمونځ دی

مسئله: که یوسړی مثلاً دځلورو رکعتونیت وکړی دفرضو اونفلو دوارو دپاره» امام ابویوسفؒ وائی چی دغه ع ځلور رکعته فرض دی. ولی چی فرضی لمونځ تر نفلو قوی ترین دی. اوامام محمدؒ وائی چی دغه لمونځ یه نه نفل دی اونه فرض په سبب د تعارض» وَ الفتوی عَلی الاوّل» ولی چی ضعیفه لمونځ چی نفل دی دقوی لمانځه سره چې فرض دی معارضه نه سی کولای. نو نفلو لغوه دی.

مسئله: کی نیت دنفلو اودَ جنازی دلمانځه وکړی هغه لمونځ یه نفلی دی. ولی چی نفلی لمونځ کامل لمونځ دی چی رکوع اوسجده پکښی سته بخلاف صلوٰة الجنازه اوکی نیت دفرضی لمانځه اود صلوٰة الجنازه وکړی هغه په طریق اولی سره فرضی لمونځ دی. قَالَ المُصنفؒ.

وَتعیینُ الوَاجِبِ

اوشرط دی معینه کول دواجب. داهم اوڅه شرط دی دصحت دتحریمی» یعنی که لمونځ واجب وُو. چونکه واجبات ډیر دی نوتعیین دواجب به کوی. لکه نذری لمونځ. اووتر، اودوه رکعته دطواف اود دوواخترو لمونځ. لکن عُلماء حضرات وائی چی داخترو په لمانځه اوپه وترو کښی دی نیت دوتر ویاد اخترد لمانځه کوی فقط» ولی چی په دی دوو لمونځو کښی اختلاف سته لکن ددی معنا دا نده چی دَ نیت څخه دواجب دَی منع دی بلکه معنا دا ده چی لازم نه دی»، کذا قال الامام الطحطاوی. وفیه شئی لا یخفی علی المتأمل. اوپه سُجده سهوه کښی تعیین دسجدو نه غواړی. ولی چی هغه معلوم دی. اوپه سجدهٔ تلاوت کی تعیین غواړی چی ده سجده شکر څخه جلا سپی»

عامی وائی: چی تردی ځای هغه شرطونه وُو چی مصنفؒ په نورالایضاح کښی راوړی وُو. اوهم دا اوس هغه شرطونه بیانیږی چی مصنفؒ په مراقی الفلاح کی تر تمامه ده ۱۵ شرطو چی دتحریمی دپاره یه بیان کړی دی. دی وائی چی اتم شرط دادی چی تحریمه به په لفظ عربی سره وی هغه چاله چی پر عربی تلفظ قدرت لری پر صحیح روایت. **پُوه سه**: چی مراد دتحریمی څخه فقط اَللّٰهُ اَکبَر نه دی مراد بلکه هر لفظ چی پر تعظیم دخدائ دلالت کوی. نوکه سړی شروع دلمانځه په سُبحانَ اللّٰه سره وکی. یاپه لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ سره وکړی هم صحیح ده په شرط ددی چی عربی وی» مصنفؒ لِلقادریؒ وولیه ولی عاجزته دعربی ژبی په هر لغت چی دی قُدرت پر لری روا ده. اومصنفؒ وویل پرصحیح روایت داقول دیارانوُ دی. اوحضرت الامام الاعظمؒ شروع په غیر عربی سره وقادر ته پر عربی هم روا بولی» اوبدرُ الدین عینیؒ لکه ده مصنفؒ داعنی راپه دَه»

لکن دتاتارخانیه څخه داسی نقل کړه سوی دی چی شروع دلمانځه په پارسی ژبه روا ده اتفاقاً بین الائمة الثلاثة. لکه چی وَوائی: خُدا بزرگ است» او تلبیر هم په پارسی ژبه روا ده اتفاقاً خوُ دی څخه دامعلومیږی چی یارانوُ دامام اعظمؒ ومذهب ته رجوع کړی ده چی قرائت په پارسی ژبه وقادر ته پر عربی وه مذهب ته دیارانوُ رجوع کړی ده چی قرائت په پارسی وقادر ته نه دی رَوا» کذا فی التوضیح شرح التنقیح»

مصنفؒ په مَراقی کښی وائی چی نهم شرط دتحریمی دادی. چی همزه د اَللّٰه به په مَدسره نه وائی اوکی ووائی شروع یه پَه لمانځه نه صحیح کیږی. اوکه اول تکبیر لی مده وَوائی اودمابین په تکبیرو کی یویا دوه په مَدسره وَوائی لمونځ یه فاسد سُو» کذا فی درالکنوز» ط» اونه باء دَ اکبَر به په مَدسره وَوائی. او اشباع دحرکت هاء دلفظ اللّٰهُ اویاساکن ویل یه خطاء دَه په لغت کی لمونځ نه په فاسدیږی. اومصنفؒ وائی چی لسم شرط دتحریمی دادی چی پوره جُمله به وائی یعنی اَللّٰهُ اکبَر، وَهُوَ ظاهر الرّوایَة عَنِ الاِمَام الاعظمؒ وَبه قال ابُویُوسُفؒ ومحمدؒ

لکن واجب داده چی شروع به په لفظ د اَللّٰه کوی کی اَکبر اللّٰه ووایل نو شروع یې نه صحیح
بزازیه» ط» **پوه سه**: چی دَ رویش لفظ د مصنف بدل کړی چی هغه داسی
وئیلی دی بجملةٍ تامةٍ مِن مبتدأٍ وخبر» ما وویله چی پوره جُمله به وائی. نو د رویش
پر عبارت هغه سوال چی طحطاوی پر مصنف کړی نه وارديږی.
هغه سوال دا دی چی شروع خُو په «لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ او په سُبحان الله سره هم روا ده سره
د کراهت او مبتداء او خبر په کښی نشته. نو د رویش پوره جمله وویله او هغه دُوه
لفظه پوره جُملی دی. مصنف وئیلی دی چی یو ولسم شرط د تحریمی دا دی چی شروع په ذکر
خالص د رب جل وعلا وی. نو که سړی شروع د لمانځه په اَللّٰهُمَّ اغفرلی وکړه نده صحیح
ولې چی دا ذکر خالص نه دی بلکه د مصلی حاجت چی طلب د مغفرت دی په گډ دی. او مصنف
وئیلی دی چی دوه ولسم شرط د تحریمی دا دی چی شروع د لمانځه په صرف بسم الله
سره نه کوی ولې چی باء د بسم الله د پاره د تبرك ده گویا ده داسی وویله بارك الله لی،
د اخود عاء ده ثناء نه ده. او مصنف وئیلی دی چی دیارلسم شرط د تحریمی دا دی چی هاء
د لفظ د اللّٰهُ به نه حذف کوی. او مصنف وئیلی دی چی څوارلسم شرط د تحریمی دا دی
چی هغه الف چی دوهم لام د اَللّٰهُ په ولاړ دی چی ودی الف ته هاوی وائی نه حذف کیږی
مسئله: که چیرې د غه الف قسم احسنونکی حذف کړی، یا د حیوان ذبح کوونکی
حذف کی. او یا تکبیر ویونکی حذف کړی یا د اَللّٰهُ هاء حذف کړه. په دی کښی
اختلاف دی چی قسم په غوښه سوا و یا په ذبیحه حلاله ده یا تحریمه یه صحیح ده نو
احتیاط دی د غسی نه کوی. کذا قال الامام الطحاوی. او مصنف وئیلی دی چی پنځلسم شرط
د صحت د تحریمی دا دی چی د اَللّٰهُ اَکبر سره په جوت داسی شی نه وائی چی تحریمه په
فاسده سی. لکه ما یشبه کلام الناس» بزازیه» قال المصنف فی نور الایضاح

وَلَا یُشتَرَطُ التَّعیِینُ فِی التَّنفُلِ

او شرط نه دی تعین په نفلو کښی
پوه سه: چی په عمومی اصطلاح کی
نفل مقابل ته د فرض، واجب، سُنن وائی. لکن دلته د نفلو څخه مقابل فرضو او واجبو مراد
دی.

ولې چی سُنن نوته په خصوصی - اصطلاح کښی د فقه شریفی هم نفل وائی - کما لا یخفی.
نو د دی سبب به مصنف په مَراقی کښی وائی: «لو سُنة الفجر فی الاصح» کذا هم سُنت
د سحار د لمانځه وخت چی اَکثر د سُنن و دی په اصح روایت کی. نو تراویح هم په نیت د
نفلو روا دی. په نیزد اکثرو مشائخو. لکن بیا هم احتیاط په تعیین یعنی په معینه کولو
کښی دی. مثلاً سُنة الفجر او سُنة الظهر القبلیة او یا بعدی. یا صلوة التراویح
وجه د احتیاط هغه ده چی مصنف د منیة المصلی وائی. چی د خلاف څخه د هغه چا ووزی
چی په سُنتو کښی نیت د سُنتو شرط نه بولی. لکه بعض فقهاء بلکه صاحب المغنی وائی
چی په تراویحو کی نیت د مطلق لمانځه کافی ندی. په نیزد بعض متاخرینو
بلکه نیت د تراویح شرط دی. او فتاوای خانیه دا رأیه صحیح بللی قال المصنف

وَالقِیَامُ فِی غَیرِ النَّفلِ

او فرض ده ولاړه په غیر کی د نفلو
پوه سه چی ولاړه فرض متفق علیه ده په فرضو کښی
او په واجبُو کی، نه په سُنتو او نوا فلو کی. لکن په سُنتو کښی مُستحب ده. او اندازه د
ولاړی دا ده چی لاسُونه یه زنگنوته نه رسیږی. که کوزه پشته نه روُو.
مسئله: د نفلو ثواب په ولاړی دیر دی. تر ناستی. **مسئله**: په هغه چا قیام
فرض ده چی پر ولاړه قادر وی. او پر رکوع او سجده هم قادر وی. نو که یو سړی پر قیامه
قادر وُو لکن رکوع او سجده یه نه سوای کولای. نو هغه ته اختیار دی که ولاړی څخه په
اشاره رکوع او سُجده کوی. او که په ناسته رکوع او سُجده په اشاره کوی **مسئله**: که یو
سړی داسی وو چی په ولاړی یه عورت لخ کیده نده. چی مانع د لمانځه وو او د ناستی
په لمانځه کی کشف العورة نه راتلی نو په هغه ناسته واجب ده. **مسئله**: که یو سړی
داسی وُو چی په ولاړه کی بولی توئید لی. او په ناسته کی بولی نه راوتلی پر هغه سړی
هم لمونځ په ناستی فرض دی **مسئله**: که دیوه چا ساه لنډی کیده له. نو چی په
ولاړی لمونځ کولای د ساه لنډی د سبب مثلاً قراءت یه نسی وئیلای. او په ناستی
کی قراءت وئیلای سوای پر هغه سړی لمونځ په ناستی فرض دی.

مسئله: کدخوک داسی وی چی په ولاړه کی پوره قرائت نه سوای ویلای. اوپه ناسته کښی ویلای سوای هغه سړی دی هم لمونځ په ناستی کوی. **پوه سه** چی فرضی ولاړه یا واجبه ولاړه یا سنت ولاړه. یا مستحب ولاړه په قدر د قرائت علی الانحاء المذکوره ده. اوداشلو، قسمه قرائت به په بحث کښی د قرائت راسی ان شاء الله: **مسئله**: په هغو رکعتو کی چی قراءت لازم نه وی لکه دوه رکعته اخیرد فرضی لمانځه نو په هغو رکعتو کی مطلق ولاړه فرض ده او اوبد والی یه فرض نه دی، ق، ط، قَالَ الْمُصَنِّفُ.

وَالْقِرَائَةُ وَلَوْ آيَةً

اوفرض په لمانځه کی قرائت د قرآن کریم کوم یوایت وی. لِقَوْلِهِ تَعَالَى: فَاقْرَءُوا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْآنِ. **پوه سه**: چی قرائت به په داسی دول وی چی دی ئی اوری که کونړنه وو اویا دیر کړوپ اویا دیر آوازونه چی مانع وه داوریدو څخه. نه وه. لکه د لمانځه هم وی مثلی ته تفصیل ورکړه سو چی تحقیق یه تیر سو، او تجدیدًا للبحث درولیش وائی: چی حضرت الامام الکرخی په نفس تصحیح الحروف سره کفایت کړی دی. کی څه هم ویونکی نه واوری. دلیل یه دیر معقول دی یعنی قرائت فعل د ژبی دی او اوریه کار د غوږ و دی. فَلَا دَخْلَ لِفِعْلِ الْاِذْنِ فِی فِعْلِ اللِّسَانِ بِطَرِيقِ الْوُجُوبِ، اوپه بدائع کښی وائی چی قول د کرخی اصح او اقیس دی. ونسبه بعضهم الی ابی یوسف. لکن سره د دې قول اول چی سماع د قرائت شرط دی مفتی به د دیرو فقهاوو دَه، **مسئله**: که سړی بعض حروف د قرائت په غوږو واوریده او بعض یه نه واوریده. لمونځ یه نه په فاسدیږی. علی الصحیح لعموم البلوی. مضمرات، زخیره، طحطاوی.

پوه سه: چی حمای د قرائت ولاړه ده یا ظاهرًا. یا حکمًا لکه په ناسته کی په سبب د عذر. اویا په نفلو کی چی قیام په کښی شرط نه ده کما مَرَّ **مسئله**: که سړی قرائت په رکوع یا په سجده کښی وویایه په هغه سره فرض د قرائت نه ساقطیږی.

اومکروه تحریمی دی د لمانځه راګرځول پرواجب دی. اوکی په سهوه سره وویایه سجده سهوه پر لازمه ده. **پوه سه**: چی هغه خبره چی ابوبکر الاصمّ کړی ده. چی قرائت په لمانځه کښی فرض نه دی بلکه سنت دی. باطله ده په ایت سره چی هغه یه ذکر وسو.

ولی چی امر د، فَاقْرَءُوا، د پاره د وجوب دی. اوقرائت د باندې تر لمانځه خوپه اجماع سره فرض نه دی. نو معلومه سوه چی د غه مذکور ایت د لمانځه په باره کی دی. اوپه حدیث نبوی هم باطله ده. لکه چی امام مسلم د ابی هریرة څخه روایت کړی دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم وو ئیل: لَا صَلٰوةَ اِلَّا بِقِرَائَةٍ، اوپه اجماع د ائمه الدین هم باطله ده.

فائده: حفظ د تیوله قرآن کریم قطع نظر د هغوئ بوځنې چی په احادیثو کښی راغلی دی د نبی علیه الصلوٰة والسلام څخه. فرض کفایی دی. اوپیا دول د دومره قدر چی صرف لمونځ په روا وی فرض عین دی پر هرمسلمان او پنځه. اوپیا دول د اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ شریف اودیوه سورت که څه هم کشنی وی. واجب دی. ولی چی اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ شریف اوضم د سورت ور سره په لمانځه کی واجب دی. اوهغه قدر چی لمونځ په روا وی، په هغه کښی اختلاف دی. امام ابی یوسف او امام محمد وائی چی مفروض د قرائت د لمانځه یا یوایت طویل دی. لکه ایت الکرسی یا اَیْنَ الْمَدَایِنَة اویا دری ایته کشنی کشنی دی. اوحضرت الامام الاعظم وائی چی فرض قرائت دیو ایت کړه هم دیر لنډ وی. نوایت چی مرکب د دوو کلمو څخه وی لکه، ثُمَّ نَظَرَ، کافی دی په ظاهر روایت کی. اوهرچه هغه آیت دی چی یوه کلمه وی لکه، مُدْهَامَّتَانِ، او یا یوحرف وی لکه، ص، ق، ن، یا دوه حرفه وی لکه، حٰمٓ، طٰسٓمٓ، اویا دیر حروف وی لکه، حٰمٓعٓسٓقٓ. کهیعٓصٓ، په هغوکی دمشائخو اختلاف دی. قدوری وائی چی صحیح جواز دی اومصنف پمراقی کی وائی چی اصح دا ده چی لمونځ نه دی په روا . . .

اَلتَّحقِيقُ فِي هَذَا البَابِ

پُوه سَه: چې قرائت په لمانځه کې فرض عین دئ. په نیزد جمهورو فقهاؤ وو مذهب اوپر دې خبره دا سې سوال کړې دئ چې په مابین کې د رکنیت اوزیادت تناقض دئ. ولې چې رکن هغه فعل ته وائې چې په نه کولو سره لمونځ باطل کړئ. اودزائد فعل په پاته کیدو سره لمونځ نه فاسدیږي. نوځرنګه قرائت هم رکن دی اوهم زائد دئ.

دَ رَدِيش وَائِ: چې د دې سوال جواب پرد ې موقوف دَی. چې سړې د رکن اصلی اوه رکن زائد فرق و پیژنې. نو **پُوه سَه**: چې رکن اصلی د لمانځې هغه فعل دَی. چې که بعض اوقات د ضرورت له کبله پاتې سی لکن خلف اوعوض یې پرځای وي. لکه رکوع او سجده چې سړې ځندی عاجزوی ترک یې روادی لکن عوض یې اشاره کول دی. اویا قیام روالاړ چې وعاجز ته دوالاړی پرې ښیول په لمانځه کې روادئ. لکن ناسته یې عوض ده وهکذا نور:

اورکن زائد وهغه کار ته وائې چې بیله ضرورته یې په بعض احوالو کښې پرې ښیول عوض روا وي. اِذَا عَرَفتَ هَذَا، پس قرائت ته په دې اعتبار رکن وائې چې تنها لمونځ کوونکی ته چې پرقرائت هم قادر وی که قرائت نه روائې. لمونځ یې باطل دی. لکه رکوع سُجده قیام چې سړه د قدرت پرین دی لمونځ فاسِد دَئ. لکن چونکه د مقتدی څخه سَړه د قدرته قرائت ساقط دی بیله عوض د ده خواد حنیفیانو پرمذهب، اوهغه سړې ته هم ترلې د قرائت روادی چې امام ته په رکوع کښې ورسیږی په اتفاق د ټولو امامانو نو په دې اعتبار بیا زائد سو. نو دې جواب څخه توجیه ده هغه قول د امام غزنوی چې په حادی قدسی کې وائې چې قرائت فرض دی لکن رکن نه دئ. اسانه سوه. ولې چې مراد د غزنوی دا دئ چې قرائت رکن اصلی نه دئ، فافهَم. **اود اِهمزده کړه**: چې ایت په لغت کې علامې ته وائې اوپه اصطلاح د شرع اوعُرف هغې جُملې ته وائې. چې په هغې کې یو حکم د احکامو د خدای جَل جلالُه وی

لکه، اَقِيمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ، اویا هغه کلام الٰهی دی چې د ما قبل اوما بعد څخه اوهغ جلا والی یې په شرع ثابت وي. که څه هم کم حکم معلوم په کښې نه وي. لکه، الٓمٓ، په ټوله قرآن کې لکه "طٰهٰ" یا، کٓهٰيٰعٓصٓ، یا، الٓمٓصٓ، یا طٰسٓمٓ، وغیره،،

پُوه سَه: چې ظاهِرالروایت د حضرت الامام الاعظمؒ هغه چې مصنف ذکر کړې چې په روایت کې څه هم دوی کلمې لکه، "ثُمَّ نَظَرَ" د فرضی قرائت د لمانځې پاره کافی دئ. اوبل روایت د ده مُبارک څخه دادی چې یا یو اوږد به وائې یا دری کشې اَیتونه. اود اهم مذهب یا راتلونکی تال الامام الطحطاویؒ، وَالاحتِيَاطُ فِي قولهما خُصُوصًا فی العِبَادَاتِ

پُوښتنه: قِرائت د لمانځې په څلورو رکعتو کښې فرض دی نو مصنفؒ وائی:

فِي رَكعَتَي الفَرضِ

په دوو رکعتو کې د فرضی لمانځې، که دوه رکعته وی که دریې رکعته وی اوکه څلور

مَسئَلَه: په هر دوو رکعتو کې دریاغی چې قرائت ووائې. فرض پرځای کیږی. اوکې فقط په یوه رکعت کې قرائت ووایه لمونځ یې نه دی صحیح خلافًا لزفرؒ، وَالحَسَن البصریؒ،

فَائِدَه: مصنفؒ خوپه مَراقی کې دغه سې عبارت وئیلی دی چې په هرو دوو رکعتو کښې چې قرائت ووائې کافی دی. لکن قهستانیؒ وائې چې د ده مصنف خبره د قول د بعض فقهاوؤ دئ. اوصحیح داده چې اوّل دوه رکعته متعین دی د پاره د فرضی قرائت حتی کې په اولو دوو رکعتو کښې قرائت نه روایه بلکه په اخیر دوو رکعتو کې ووایه هغه قضا پئ دئ. اولمونځ یې صحیح دَئ. ابن امیر الحاج وائې چې د اقول د جمهورو فقهاوؤ دی. اوهمدا غه مذهب صحیح دَئ. اوقاضیخانؒ په شرحه کښې د جامع صغیر هم قوی پرد اغه قول کړې ده، اورضی الدین په محیط کښې هم ودغه قول ترتللی دی. اوذخیرې والاهم ودغه قول خوښ کړې دئ. قَالَ المُصنفؒ

وَكُلِّ رَكعَاتِ النَّفلِ وَ الوِترِ

اوقرائت فرض دی په ټولو رکعتو کښې د نفلو، ولې چې هردوه رکعته د نفلو علی حده لمونځ دَئ. **پُوه سَه**: مراد د نفلو څخه دَلته هغه معنا ده چې

سنتونه هم شامل ده یعنی «مَا زَادَ عَلَى الْفَرَائِضِ وَالْوَاجِبَاتِ» او وتر که چیری سُنت وی خو وجه یه ظاهره ده چی په ټولو رکعتو کی قرائت فرض دی. او که چیری واجب وی نو احتیاطاً دی په ټولو رکعتو کی قرائت وَوائِی. **پوه سه**: چی وتر فرض عملی دی په ټینګ د امام اعظمؒ. نو قرائت په دوه اولو رکعتو کښی فرض دی. او سُنت ګڼلو دی په نیز د یارانو قرائت په ټولو رکعتو کښی غواړی. پس احتیاط دا دی چی په ټولو رکعتو کی قرائت وَوائِی. ولې چی سُنت په ترک سره د قرائت په یوه رکعت کښی فقط هم فاسدیږی. او په تش رکعت کی قرائت ویل لمونځ نه فاسدیږی. قَالَ الْمُصَنِّفُ.

وَلَمْ يَتَعَيَّنْ شَيْءٌ مِّنَ الْقُرْآنِ لِصِحَّةِ الصَّلٰوةِ

او معینه نه دی هیڅ شئ د قرآن مبارک څخه د پاره د صحت د لمانځه. وَلې هغه متلوات چی تیر سو مطلق دی خو هغه واجب بولو فرض یې نه ګڼلو. په دلیل د دی قول د علیه الصلوٰة والسّلام «لَا صَلٰوةَ لِمَنْ لَّمْ يَقْرَأْ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ». **پوښتنه**: په دې حدیث شریف سره ولې فرضیت د الحمد لله نه ثابتیږي. **جواب**: دا خبر واحد دی او په علم اصول الفقه کښی دا ثابته ده چی په خبر واحد سره زیادت پر قرآن نه دی روا. قَالَ الْمُصَنِّفُ.

وَلَا يَقْرَءُ الْمُؤْتَمُّ بَلْ يَسْتَمِعُ وَيُنْصِتُ وَإِنْ قَرَءَ يُكْرَهُ تَحْرِيمًا

او قراءت به نه وائی مقتدی بلکه د امام وقرائت ته دی غوږ ونسی. یعنی که امام قرائت په جهرسره وایه او په ته خوله دی و دریږی که امام قرائت په جهر نه وایه. او کی قرائت ووایه، مقتدی مکروه تحریمی دی. قَالَ الْاِمَامُ اَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ رَحِمَهُ اللهُ اتفاق دی چی دا آیت د لمانځه په باره کی دی

پوښتنه: امام بزدوی په شرح کی د کافی وائی چی قرائت خلف الامام سُنت دی په نیز د امام محمدؒ د پاره د احتیاط او مکروه دی په نیز د امام اعظمؒ او امام ابو یوسفؒ

او دغه رنګه امام ابوحفص الکبیر النسفیؒ وائی که امام قرائت جهراً وایه نو قرائت د مقتدی مکروه دی په نیز د شیخینوؒ او امام محمدؒ وائی چی مکروه نه دی. بلکه مستحب دی او دغه امام دا زیاته کړیده چی په دغه مذهب د امام محمدؒ مونږ عمل کوو. ولې چی احتیاط ترې نه دی دی. او دغه هم مذهب د صدیق اکبرؓ او د فاروق اعظمؓ او د علی مرتضیٰؓ دی

جواب: کمال الدین صاحب د فتح القدیر وائی.. وَمَا يُرْوٰى عَنْ مُحَمَّدٍ اَنَّهُ يُسْتَحَبُّ عَلٰى سَبِيْلِ الْاِحْتِيَاطِ فَضَعِيْفٌ» او حق دا دی چی قول د امام محمدؒ نه قول د شیخینوؒ دی او تصریح کړی ده امام محمدؒ چی لوکتابو کښی چی قرائت خلف الامام نشته.

او په اسناد د علقمه بن قیسؓ د حدیث راوړی دی «اِنَّهُ مَا قَرَئَ قَطُّ فِيْمَا يُجْهَرُ فِيْهِ وَمَا لَا يُجْهَرُ». او حضرت الامام السرخسیؒ وائی چی په قرائت د مقتدی خلف الامام د مقتدی لمونځ فاسدیږی. په نیز د پیرو صحابهؓ وو. او په کافی کښی وائی چی منع د مقتدی د قرائت څخه نقل کړه سوی ده. د تابعینو کسانو د لویو صحابهؓ وو چی یو په هغو کښی علی المرتضیٰ دی، او عبد الله ابن عمرؓ دی. او عبد الله بن عباسؓ دی. او عبد الله بن مسعودؓ دی. او عبد الله بن الزبیرؓ دی. او د دغو تابعینو کسانو په نومانو تصریح کړی اصل حدیثونه او بیا ابن الهمامؒ وئیلی دی چی احتیاط هم په عدم القراءت خلف کی دی. ولې چی احتیاط خو عمل دی په پیرقوی دلیل سره او مقتضیٰ د اقوی دلیل منع د قرائت خصوصاً په مذهب کښی د حنفیانوؒ. وَقَدْ جَاءَ فِي الْحَدِيْثِ النَّبَوِيِّ الَّذِيْ رَوَاهُ الْمُصَنِّفُ فِي الْمَرَاقِي قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «كَافِيْهِ تَالُّرُهُ يعنی مقتدی مخاطب دی. قرائة الامام جهرا اَمْرُ خَافَتَ» قَالَ الْمُصَنِّفُ فِي الْمَرَاقِي: وَاتَّفَقَ الْاِمَامُ الْاَعْظَمُ وَاَصْحَابُهُ وَالْاِمَامُ مَالِكٌ وَالْاِمَامُ اَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ عَلٰى صِحَّةِ صَلٰوةِ الْمَأْمُوْمِ مِنْ غَيْرِ قِرَائَتِهِ شَيْئًا.

فَائِدَه: په اتباعو کښی د مذهب حنیفی ترټولو خبره د احادیث نبویه وو په انواعو او په صحیح او حسن او ضعیف حدیث سره او نه خبر په جرح وتعدیل د راویانو. ۱۲. فقیه ابو جعفر الطحاوی دی چی شرح مَعَانِی الْآثَار د ده تصنیف دی. ۱۲. او بل کمال الدین ابن الهمام مصنف د فتح القدیر:

د اوبل مُلا علی القاریؒ چی شارح د مشکوٰة دی. ۲ اوبل
بدرالدین العینی شارح د بخاری وغیره دی. اوپه متأخرینو کښی شاه عبدالعزیز المحدث الدهلویؒ دی. اوشاه ولی الله المحدث الدهلویؒ دی اوشیخ عبدالحق الدهلویؒ. اوردی علاوه پخپله امام اعظمؒ لوی محدث وو. لکن اجتهاد اوفقاهت یه غالب وو. اودغه رنګه امام ابویوسفؒ اوامام محمدؒ چی موطاء یه په حدیثو کښی تصنیف دی. اونور محدثین چی د تاریخ په اوراقو کښی ثبت دی.

بیاهم د قرائة المقتدی خلف الامام په باره کی

قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: لا یقرأ احدکم شیئاً اذا جهر بالقرآن. وروی من کان له امام فقرائة الامام له قرائة. که چا له امام وی نو قرائت د امام دده د پاره قرائت دی. وروی عن عمرؓ، کشکی په خوله کښی دهغه چا چی قرائت خلف الامام وابئ دبره وای. وروی عن رسول الله صلی الله علیه وسلم: که څوك قرائت ووابئ خلف الامام پس په خوله کښی دده سکروټه ده. اوپه بل حدیث کی د اسی راغلی دی که څوك قراءت ووابئ خلف الامام هغه خطا کړی، فطرة یعنی د دین لاره. روی الاحادیث المذکورة الامام الطحطاوی.

مسائل استماع القرآن

پوه سه: چی غوږ نیول وقرائت ته د قرآن عظیم فرض دی په خارج کښی د لمانځهم. لکن بعض فقهاءؒ وابئ چی فرض عین دی. پرهر اوریدونکی. لکن په شرح کښی د منیة المصلی اوپه درې منیفه کی وابئ چی غوږ نیول وقرآن ته فرض کفایئ دی یعنی که بعض کسانو غوږ ورته نیولی وی او بعض کسان په خبرو یا په بل شغل اخته وی نود هغه غاړی نه دی بندی. ولی چی غوږ نیول وقرآن ته د پاره د احترام اود پاره د حق پر ځای کولود قرآن کریم دی. هغه حق په غوږ نیولود بعض کسانو اداکیږی. لکه د سلام د مسلمان وروړ چی واجب دی د پاره دادا کولود حق دده، نو په هغه کښی بعض د تولو څخه کفایت کوی. اویاد جنازی لمونځ چی د بعض خلکو په کولو سره د مسلمان وروړ حق ادا شو نو ځکه بعض د کل څخه کفایت کوی.

پوه شنه: چی غوږ نیول وقرائت ته د قرآن فرض کفایئ سی نو که چیری بعض مقتدیان

هغه حق په غوږ ورته نیولود بعض کسانو ادا کیږی. لکه د سلام د مسلمان وروړ چی واجب دی د پاره دادا کولود حق دده. نو په هغه کښی بعض د تولو څخه کفایت کوی. اویا د جنازی لمونځ چی د بعض خلکو په کولو سره د مسلمان وروړ حق ادا شو نو ځکه بعض د کل څخه کفایت کوی.

بیاهم د قرائة المقتدی خلف الامام په باره کی

قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: لا یقرأ احدٌ منکم شیئاً اذا جهر بالقرآن. وروی من کان له امامٌ فقرائة الامام له قرائة. که چا له امام وی نو قرائت د امام دده د پاره قرائت دی. وروی عن عمرؓ، کشکی په خوله کښی دهغه چا چی قرائت خلف الامام وابئ دبره وای. وروی عن رسول الله صلی الله علیه وسلم: که څوك قرائت ووابئ خلف الامام پس په خوله کښی دده سکروټه ده. اوپه بل حدیث کښی د اسی راغلی دی که څوك قرائت ووابئ خلف الامام هغه خطا کړی، فطرة یعنی د دین لاره. روی الاحادیث المذکورة الامام الطحطاوی.

مسائل استماع القرآن

پوه سه: چی غوږ نیول وقرائت ته د قرآن عظیم فرض دی په خارج کښی د لمانځهم. لکن بعض فقهاءؒ وابئ چی فرض عین دی. پرهر اوریدونکی. لکن په شرح کښی د منیة المصلی اوپه درې منیفه کی وابئ چی غوږ نیول وقرآن ته فرض کفایئ دی. یعنی که بعض کسانو غوږ ورته نیولی وی او بعض کسان په خبرو یا په بل شغل اخته وی. نود هغو غاړی نه دی بندی. ولی چی غوږ نیول وقرآن ته د پاره د احترام اود پاره د حق پر ځای کولود قرآن کریم دی. هغه حق په غوږ نیولود بعض کسانو اداکیږی. لکه د سلام د مسلمان وروړ چی واجب دی د پاره دادا کولود حق دده، نو په هغه کښی بعض د تولو څخه کفایت کوی. اویاد جنازی لمونځ چی د بعض خلکو په کولو سره د مسلمان وروړ حق ادا شو نو ځکه بعض د کل څخه کفایت کوی.

پوه شنه: چی غوږ نیول وقرائت ته د قرآن فرض کفایئ سی نو که چیری بعض مقتدیان

«امام‌رو قرائت ته غوږ ونه‌نیسی» اوبعض مقتدیان قرائت خلف الامام وائی. نوبساید داورو سته وله‌دې ګناه ګارنه وی **جواب**: دلما ځه قرائت یعنی دامام قرائت دی مبحث څخ خارج دی. ولی دهغه څخ مطلق نهی راغلی دې کما مرّ فی الاحادیث السابقة اوبل په دلیل ددې چې امام چې قرائت پیه مخالفت (کرار) وائی هم پر مقتدی انصات لازم دی که څه هم دامام قرائت خونه اوریږي. نومسئله داستماع دمقتدی یا انصات دهغه ځلا مسئله ده شرعی:

او بعض ګلماء وائی چې استماع اوغوږ نیول وقران ته پرهغه ځا لازم دی چې په قصد د استماع دقران ناست وي فقط، مثلاً په یومسجد کی قران مبارک په جهر ویل کیږی. اوڅه کسان په قصد د استماع دقران ناست وه. نود غوخلګوته خبری یا بل شغل چی مخل داستماع القران وي حرام دی. اوکه یوسړی پر تلکو اودس کاوه اواوازد قرائت ورسیدی مګرده غوږ نه ورته نیوی هغه ګناه کارنه دی، لکن داد مذهب داطلاقه روایت کریمه مناسب نه دی. وَاِذَا قُرِئَ الْقُرْاٰنُ فَاسْتَمِعُوْا لَهٗ وَاَنْصِتُوْا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ

مسئله: علماء کرام وائی چې پر قاری باندی لازمه ده چې احترام دقران وساتی یعنی په بازارو کی اوپه داسی ځایو کښی چې خلګ په مشاغلو دنیا اختروی یا په مباح مجلسو کښی خبری کوی قاری دی قران نه‌وائی. ولی چې استماع یه څوک نه کوی. اوکه چیری قاری په داسی ځایو کښی قرائت وائی. نو قاری ضائع کوونکی د احترام دقران دی. اوګناه ګارهم دی. اود بازار خلګ ګناه ګارنه دی. ولی چې پر هغوکې استماع دقران لازمه سی نوداخودپاره حرج دی چې دوی به خپل مشاغل پریږدی. ط،

نوبناءً علی هذا، دغه دکانداران چې په عمومی بازارو کښی یه پیټی دقرائت وراچولی وی اوپه ډیر بلند اواز په ذریعه د تیپ قران وائی شدید ګناه کاره دی.

فائدهٔ مهمّة: په بعض مساجدو کی یا په بعض جامع مسجد کښی قران مبارک په ګویا (لاوډسپیکر) کښی وائی چې نژدی کورونه یا نژدی دبازار خلق یه اوری اوغوږ نه پرنسی. ایا داګناه ده کرخنګه **جواب**: پرهغه مذهب چې استماع القران

فرض کفائی بولی، که چیری په مسجد کی څه خلګ موجود وه اوهغوغوږ ورته‌نیولی وه نواحترام دقران کریم په دغوخلګو پرځای سود نور واوریدونکو غاړی خلاصی دی اوکه په مسجد کی هیڅ غوږ نیوونکی نه وو نود قاری غاړی بندی دی. اوپه اول مذهب چې استماع دقران فرض عین بولی. داسی قرائت ویل مطلقاً که په مسجد کی څوک وی که نه وی قاری ته ناجائزدی. ولی پراوریدونکو به استماع لازمه‌ول حرج عظیم دی کما مرّ

پوښتنه: دغه قرائت چې په مسجد کی په ګویا کی ویل کیږی اود بازار خلګ یه اوری که څه هم په مسجد کی ډیرو خلګو غوږ ورته نیولی وی ایا دبازار قرائت نه دی چې وراندی تیره سوه چې شدیده ګناه ده، **جواب**: دا قرائت خوپه مسجد کی دی کی څه هم دبازار خلګ اوری. نوددې قرائت اودبازار دقرائت فرق ستاسه.

الاحتیاط: دقران مبارک دقرائت باید ډیرهتمام وکړه‌سی فتوی ځلاده اوتقوی ځلاده. نود تقوی دلاری باید داسی ګله معمول چې دی ګویائی قرائتونه وویل سی او اوریدونکی دی هم تیوله موانع ویوه خواته کړی اوصرف دی دقران مبارک واوریدو ته متوجه سی.

سوال: بعض ملایان دجمعی تیوله لمونځ په ګویا کی وائی. اویا بعض ملایان دتراویح لمونځ په ګویا کښی کوی ددی رنګه څرحال دی.

جواب: په فقه شریفه کښی وائی چې امام دی دومره جهر په قرائت سوکوی چې دده مقتدیان چې په مسجد کی په ده پسی ولاړ وی ضرورت ورته لری. یعنی اوریدونه، بی ضرورته دې خپلی غاړی نه‌شنی کوی. نوبناء پرد غه مسئله دغه امام چې دجمعی لمونځ په ګویا کښی کوی اوسره ددی چې ده طبعی قرائت اواواز دقرائت هم مسجد وال اوری لمونځ به مکروه دی. البته ددې غرض به داوی چې خلګوته معلومه سی. اوبنځی هم خبری سی چې زمونږ د جامع مُلا صاحب سخته قاری دی. دابیا بله ګناه ده. اودتراویح مقصد داری چې په فلانې جامع کی دختم تراویح کیږی یعنی مرجع هذه الصورة والاولی الی السمعة والریاء، اودغه مُلایان استدلال په دی سره کوی چې په حرمینو شریفینو کښی لمونځونه تیوله اوتراویح په ګویا کښی کوی. دلیل وائی. دابیخی لیری قیاس دی ولی چې په حرمینو

شریفینو کی په تهوله کال کی. اوپه تولو لمونځو کښی دومره خلګ سره یوځای کیږی چی دمُلا صاحب او امام الحرمین قرائت او تکبیرونه دی دوی توله واوری. نوهلته ضرورت دَی چی دامام الحرمین په قرائت سره چی خاص پرعربی لهجه دَی او تکلف او لحن هم په کښی نسته دَخلګو په زړونو کښی خشوع اوخضوع اورقت القلب پیدا کیږی بیت سه تو ریا کار کجا آن خاک پاک کجا: به بین تفاوت راهست از کجا بکجا: دقرائت دقرآن کریم پراحترام کولو دَاتصریح دعلماؤ دمذهب چی وائی مکروه ده دُعا او استغفار په وخت دقرائة القرآن، اودغه رنګه مکروه دی هرهغه کار اوشغل چی دقرآن کریم داستماع حائل وی. حتی چی په دَغه وخت کی به سَلام تر دَچا جواب هم نه ورکوی. کرخه هم رد د سلام واجب دی. اوعَاطس یعنی نَږ ونکی ته به جواب دَیَرحَمُكَ الله نه ورکوی. ولی چی فریضی ته د استماع القرآن خلل پیښوی. نوخلګ دی فکر وکړی چی دا مذکوره کارونه ممنوع دی په وخت کی دقرائت القرآن نوخبری بخر نګه رَوَاوی دلیل دادی چی دعا او استغفار خو مستحب کار دی. اورد سلام واجب دئ. او استماع دقرآن فرض، نوعَاقِل سړی باید فرض د مُستحبو یا واجبو کارونو پاره پری نږدې.

اوبل داچی مقصود دعا کوونکی او مغفرت غوښتونکی خو طلب د رحمت الهی دی جل شانه، اوهغه رحمت الهی خو استماع دقرآن هم حاصلیږی چی خدای پاک وَائی: لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ، اوشاید هغه دُعا چی په وخت کی دَتلاوت دقرآن څوک وکړی قبوله نه سی، ولی چی دامر الهی نخر خلاف دَه: إِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا الایة. نوهغه لبعض صوفیانو چی په وخت کی دقرائت دوی ایت: اُدْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ، یا دا ایت: أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ، دعا کانی کوی هغه مکروه دی چی تلاوت جاری وی.

مسئله: لمونځ کوونکی که فرضی لمونځ کاوه دد عا نخر ممنوع دی یعنی په لمانځه کی، ولی چی دعا په فرضی لمانځه کی نه ده نبی علیه السلام نخر نقل سوی دَه وَلَا عَنِ الأئمة بعده. نودادعا بدعت سیئه دی، اودغه رنګه امام په نفلو کښی دعا نه کوی. ولی چی پرقوم باندی تطویل ممنوع دئ. هوکه مقتدی په دغو دعا کانو راضی اوخوشحال وی بیا پروا نه لری.

تله په حدیث کښی د حذیفه رَضِیَ اللهُ تَعَالَی عَنهُ چی راغلی دی، چی مَا په آنحضرت صَلَّی اللهُ علیه وسَلم پسی یوه شپه د تهجد لمونځ وکړی. نوآنحضرت صَلَّی اللهُ عَلَیهِ وَسَلَّم نه ورتلی پر ذکر د جنت مکرر ئ به دریدی اوسوال د جنت به یه وکړئ. اونه ورتلی پر ذکر داور مګر دی به دریدَئ او پناه داور بی وعفو بنتله اومنفرد چی هرڅه دعا کانی چی په مابین کښی دقرائت دقران په لمانځه کښی کوی روا دی بلکه مستحب دی، ط، س، تب، در، نر، قَالَ المصنف رح

وَالرُّكُوعُ اوبَل فرض د لمانځه رکوع دَه. **پوه سه**: چی رکوع په لغت کی مطلق کږ والی ته وَائی لکه په دی محاوره کی رکعت النخلة یعنی کږه سوله دخُرما درخته. اوکم د رجه د رکوع کږ والی دی دَمُلا په دَاسی شان که لاسُونه کښته یوسی زنګنوټو رسیږی. اوکمال د رکوع دادی چی سر اوکناتی سره برابر وی. **مسئله**: په بدائع الصنائع کښی وَائی چی حَسَنْ دامام اعظم نخر روایت کړی دی چی هغه لمونځ کوونکی چی ملا نه غوړوی په رکوع کی، نوکه ولاړ ی ته نږ دی وی تر تمام د رکوع نود ارکوع د فرضو په څای کی نه دریږی. اوکه وتمام ته د رکوع نږ دی وی دارکوع کافی دَه. ولی اکثر لره حکم دکل دئ. او ورته روایت سراج د امام کرخی نخر هم کړی دی. او محقق ابن امیر الحاج ردئ روایت په تائید کښی وَائی: چی د رکوع معنا خو کږ وَل دمُلا دی. نوچی بعض کږ والی موجود سی او بعض نه وی نو اکثر ته ترجیح دَه. او و تمام ته د رکوع هَله اقرب بلل کیږی چی لاسُونه په زنګنوټو رسیږی. او تمام یه هغه دی چی ذکر سُو. یعنی چی مُلا وغوړوی وی او سر د کناتی سره برابر کړی. د رویش وائی چی پردی روایت د دیرُو عوامو لمونځ نه دئ صحیح ولی چی دوی صرف سَر کښته کړی وبس. لکن په شرح کی د مختار وَائی. چی رکوع عبارت د مطلق انحناء نخر دی. نوپه مطلق انحناء سره فرض ده رکوع برځای کیږی. اوپه تحفه کښی هم وَائی چی قدر مفروض د رکوع په مطلق کږ والی سره ادا کیږی. او په حاوی قدسی کښی وَائی چی فرض د رکوع مطلق کږ وَل دمُلا دی. د رویش وَائی چی په روایت د غو معتبر و کتابو د مذکوره عوامو لمونځ صحیح دی کی څه هم لاسُونه زنګنوټو ته

نه رسیږی. لکن احتیاط په اول روایت کی دی کما لا یخفی. **مسئله**: که سړی لمونځ په ناستی کاوه نو په رکوع کښی نفس اخخاء الظهر کافی دی. **مسئله**: که یوسړی کوزه پښته وو یعنی ملایه کړه وه. او کښ والی یه دومره وو لکه رکوع. دهغه دپاره دا کافی ده چی صرف په سر سره دی اشاره ورکوع ته وکړی. یعنی سر دی لږ کښته کړی. ولی چی دی دپوره رکوع څخه عاجز دی یعنی سر دکنا تو سره نه سی برابر ولای. بلکه سر یه تر کنا تو کښته وی.

مسئلة تعدیل الارکان

امام ابو یوسف او امام شافعی یه فرض بولی. د تعدیل معنا په قول د دوئی ارام کول دی په رکوع او سجده کی په مقدار دیوی تسبیح. او په نیزد امام اعظم او امام محمد سنت مؤکده دی چی دا هم رایه د جمهورو علماؤ وده. مذهب ده او یا واجب دی په نیزد محققینو مذهب په هرحال چونکه لبعض فقهاء د مذهب قول دا بو یوسف هم گنړلی وی نو باید احتیاط ایه مراعات وکړه سی. په مراقی الفلاح کی وائی، چی ابو مطیع البلخی چی دامام اعظم ابو حنیفه رحمة الله علیه باالذات شاگرد دی. وائی که چاپه رکوع او سجده کښی تردری واړه تسبیح کم وو ئیلی لمونځ یه نه دی روا. درویش وائی اگرچه قول دا بو مطیع د مشهور و کتابو څخه د فقه خلاف دی. لکن امام طحطاوی وائی چی احتیاط دی مراعات وکړه سی. قال المصنف.

والسجود اوبل فرض د لمانځه سجده ده. د رکوع او سجدی د فرض والی دلیل د قول د باری جل شانه: وارکعوا واسجدوا: **پوه سه**: چی مراد د سجود څخه جنس دی تاچه دوه واړه سجدو ته شامل سی مطلب چی دواړی سجدی فرض دی او مصنف وائی چی داثابت په حدیثو مبارکه ووسره ده او په اجماع د امت مرحومه هم ثابت ده. **پوه سه**: چی امام طحطاوی په لفظ د قیل نقل کړی دی چی په ابتداء کی د اسلام بعض خلگو به سجده کوله بیله رکوع او بعض مسلمانانو به رکوع بیله سجدی

حق چی دا ایت نازل سو، یا ایها الذین امنوا ارکعوا واسجدوا، **مسئله**: مصنف په مراقی کی وائی چی سجده په ایښولو سره د تندی یوازی او یوازی په سجده دپاتی ایښولو سره دپزی نه ده صحیح. او په محتبی کی وائی که څوک د تندی طرف پر محله کښیږدی هم کافی دی. او معراج والا د ابی جعفر څخه نقل کړی دی، چی ایښودل د دواړو اطرافو د تندی په اجماع سره شرط نه دی. کذا فی البحر.

پس هغه خبره چی تجنیس د ابن نصیر څخه روایت کړی ده چی که چیری یوسړی لږ تندی پر کشنی د ډبره کښیښودو او پرې ره حصه د تندی یه پر محله وه. نو سجده یه روا ده او که لږ حصه پر محله وه سجده یه نه ده روا، ضعیف خبره ده. بل یکفی وضع اقل جزء منها، ط، هو وضع د اکثری حصی د تندی واجب ده. ولی چی آنحضرت صلی الله علیه وسلم همیش توب کړی دی پر تینگولو د تندی او پزی پر محله باندې. ط، در،

فائده: باید ایښول د تندی دی پر طریقه د تعظیم وی. نو که یوسړی تندی خو پر محله کښیږدی او دواړی پښی یه پوره، ته نیولی وی سجده یه نه ده روا. ولی چی دا ساتیری دی تعظیم نه دی. درویش وائی چی د بعض عوامو دغسی حال دی چی په سجده کی دواړی پښی یه په هوا نیولی وی. نو لمونځ یه نه دی صحیح.

مسئله: که څوک په حال کی د سجدی بار خوږ پر محله کښیږدی. او یا زنه کښیږدی او یا پر مقدمی حصی د سر سجده وکړی دا سی سجده په اجماع سره باطله ده. ولی چی تعظیم الهی د دی اعضاوو په ایښولو سره نه دی مشروع، **پوښتنه**: که دیوه سړی پر تندی د زخم وو او پزه یه هم خوږ یدل. نو دا د مخ رقم سجده ده ته روا ده

جواب: یا نده روا دا سړی به اشاره په سر کوی: قال شیخ الاسلام که یوسړی عاجز وی د سجدی څخه پرهغه ځای چی تاکل سوی دی په شریعت کی. نو هغه سړی څخه سجده ساقطه ده. او حکم یه نقل کبیږی واشاری ته:

پوه سه: چی مصنف په مراقی کی وئیلی دی چی یواځی پر پزه سجده نه ده صحیح. لکن داهلته چی عذر نه وی او که عذر وو بیا خو روا ده. وهذا مذهب الامام الاعظم وبه

وبه اخذ الصاحبان ـ او په یوه روایت کی د امام اعظم څخه دا یې راغلی دی چې صحیح
اقتصار پر یوه ادنی جزء د پښې او یا تندی که په عُذر سره وي او که بیله عذره وي
بدرالدین العینی په شرح کښی د بخاری وائی چې دا صحیح مذهب دی د امام اعظم
دی روایت په تائید کښی په کافی کښی وائی چې پس توله مخ سجده کول امکان نلري
نو مراد بعض د مخ دی. نو لکه اقتصار چې پر یوه اچې تندی روادی خو په سبب دی
چې بعض الوجه دی پس پنډ چې وسط الوجه ده خو هم بعض الوجه ده نو اقتصار پر پنډ
هم روادی. والسجدة علی الوجه هو المأمور به» ط، در، ج کا» او فتح القدیر والاوائې
چې بعض متاخرینو چې فتوی پرهغه روایت د امام اعظم کړې چې د قول دیارانو پرابر
دی لکه چې مصنف په مراقی کښی چې د هغې فتوا په اشرفیلی دی» لأن الأنف»
هغه فتوی نه قوی درایتاً اونه قوی روایتاً ده. ځکه چې په هدایه کښی وائی چې د امام
اعظم د مذهب دلیل ظاهردی. درویش وائی چې په دی مذهب کی د عوامو پاره لوی سهولت
چې بعض پرتندی سجدی کوی یوازی او بعض پر پنډ یوازی سجدی کوی. لکن کلام د
مصنف په مراقی کی بناء دی پر احتیاط په تولو کتابونو کی.

پوښتنه: چې مصنف په مراقی کی وائی. چې په حال کی د سجدی کامل طریقه داده
چې فرض او واجب دواړه پر ځای سی. هغه داده چې دواړه لاسونه په پر ځکه ایږدی
او دواړه زنګنونه به هم په ځکه ایږدی. او دواړې پښې به هم پر ځکه ایږدی. او تندی
اونپه به هم پر ځکه ایږدې. ذکره الکمال وغیره من الفقهاء.

تنبیه: مراد د پښو دا ایښودلو څخه پر ځکه په حال د سجدی کی ایښودل دی د
ګوتو د پای چې سرونه دګوتو یې وقبله ته سې. په خلاصه کی وائی: چې ایښودل د
پښې پر ځکه په حال کی د سجدی فرض دی. کی یوه پښه کښې ښوله او بله یې پورته وساتي
په روادی. یعنی سره دکراهته. پ فتح القدیر کی دوجیز څخه دا سی نقل راغلی دی. چې
ایښودل دواړه پښو فرض دی نو بیا پر یوه پښه ایښودلو سره څرنګه لمونځ او سجده
روادی: **جواب**: ایښودل د مطلق پښې خو فرض دی که دواړې پښې پورته وی سجده

په نه ده صحیح. مګر د دواړو دا واجب دی. او مراد د صاحب الفتح د فرض څخه فرض عملی
دی چې واجب ته هم شامل دی» او شک نشته چې د واجب پرېښودل مکروه تحریمي دی

مسئله: که سړی ظاهراً مخ د پښې پر ځکه کښیښنو. او یا یه دګوتو سره نه پر ځکه
کښیښنول سجده یه نه ده صحیح. کذا فی الخلاصة. او په خزانة المفتیین کی وائی
چې دا د قول سجده مکروه ده. فقط. کذا فی مجمع الانهر والبحر الرائق. ونص صاحب
الهدایه فی التجنیس په دې سره که سړی په حال کی د سجدی ګوتی د پښو وقبلې ته نه کړي
مخامخ یعنی دګوتو سره نه پر ځکه ایښودی نو دا سی سجده مکروه ده.
او مصنف په مراقی کی وائی چې یوازی تندی پر ځکه ایښودل، او فقط یوازې ایښودل
او د یوه زنګانه فقط او د یوې پښې دګوتو پای یونه ایښودل صحیح دی لکن سره د کراهته

شکایت

کشکی علماؤ د عصر حاضر په ځای کی دا وښ دو اوښ دو قصو چې دوئ به د مقتدیانو
ته کوی. دا وداسه غسل، فرائض، سُنن مستحبات. بیا نولای» چې د خلګو نږدې او ښکو
هر روزه ضرورت ورته ستنه. او دا غږنګه د لمانځه فرض کاروونه، واجب عملونه، سُنت
او مستحب عملونه بیا نولائ. او د لمانځه کیفیت د رکوع سجدی قیامې او نور مُفسدات
د لمانځه یه بالتفصیل ورته بنکاره کولای. څومره به ښه وای او څونه به د عوامو فائده
وای. او څونه د دوی ته خدای پاک ثوابونه ورکړی وای.
درویش وائی. چې شاید چې د نه بیا نولو د مذکوره مسائلو پوره وجه یه داوي چې
اکثر د دغو مالایا نوچې په ګویا ؤ کښی چې څاری بُخاری وهی په دقائقو فقهی
شریفی ناخبره وي. حتی چې د دوی هم لکه عوام په صحیح وجه یه مسائل د وداسه غسل
لمانځه نه وی زده نو بل ته به دوی څرنګه دا دقائق. او بله وجه به دا وي چې د وداسه
غسل لمانځه وغیره د مسائلو د بیا نولو په وخت کښی سامعان وزده کړی ته د دغو
مسائلو متوجه وي. او بخاری نه وهی. او د اعظ خوښه وی چې خلګ دی زما په وعظ

کی چغاری بخاری وَوهی. تاچی په خلکو کی دامشهوره سی چی فلانی ملا صاحب عجب نصیحت کوی خلک ژړوی نو باره خلک دَدَغه واعظ لاسُونه بچوی. اونوری دنیوی فائدی هم پَه داسی نصیحت کی نغښتی وی.. دادوهم غرض وی پر بَدی تر اول غرض کمالا یخفی.

باعِث پَر دَرویش

چی عربی کشنی کتابونه په عقائدو کی اوفقه کی وه اسانه پښتُوته یه راوړل. داوُوچی درویش دپیری زمانی څخه پردی فکر کی وُو چی څرنگه سَړی کولای سی چی دخپل قوم پښتنو دنَرو اوښځو دینی عمومی خدمت وکړی. اوځرنگه به ناخبره ورونړه اوخوندوته. به دوی په مورَنی ژبه عقائد ضروریه د اسلام اواحکام عملیه فقیهیه چی ددوی ورته ضرورت سته بیان کړی.. هغه ووچی د خدای جَل شانه څخه یی توفیق وغوښتئ. اوپه دی کار می شروع وکړه وَلِلّٰهِ الحَمْدُ چی په دې کار کښی نړه خدای جل شانه کامیابه وگرځولم. چی تردی اوسه پوری پوری. مَا عاجز قدوری په فقه کښی اوشرح ط القَمْلَوِیّ هم په فقه کښی. اونور ظلم په عقائدو کی اوهم ابُوالمنتهی په عقائِدو کښی په سلیسَ اسانه ژبه می ترجمه کړه اوتالاش پی وکړی چی د معتبرو کتابونو څخه د فقهی اود معتمدو کتابو څخه د عقائدو وپیر کار آمد اوضروری مسئلی پر ترجمه د اصلی کتاب بالا کړم. اودغه مذکوره کتابونه لله الحمد عربستان، پاکستان، بلکه امریکا، جرمنی، لندَن، وَغیره مما لکو یعنی چیری چی پښتانه ورونړه، اوخوندی موجود دی. دیر ښه رواج په موندلی دئ. ددرویش کتابونه رواجیږی مگر جاسِد په کبا بیږی. اوبَل کتاب شهادة الحسنینؓ په دری ژبه هم چاپ سوی دئ. اوهم دا اوس د نُورُ الاِیضاح چی یو دیر مختصر اومُعتبر کتاب د فقهی شریفی دنی تر ترجمه کولو لاندې دئ. او اول جلد تکمیل سُو. تخمیناً د پنځه سوه مخه په شاوخوا کښی چی هغه هم اوس لاهور ته دچاپ دپاره پرلاړدی

اوژر ښیخی ژر به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ وشا تقینوته دستیاب سی. **د قاری فضل الحق** صاحب په کتابت، اوچاپوونکی یه هم دی دئ. اوما حقوق د طباعت هم وده ته ورکړی دی ولی چی علت غائی یه هم دی دئ. اود وهم جلد به هم اِن شَآءَ اللّٰهُ العزیز کتابت سی. اوهم د قاری فضل الحق په کتابت اوطباعت به طبع سی. اود هغه حجم اوضخامتی به تر اوله جلد اِنْ شَآءَ اللّٰه پیری وی:

اگرچه نور الایضاح یو مختصر کتاب وُو. لکن دَدَرویش دا رایه ده چی دا ترجمه په صُورت کی دفتاوا وخیلو وطنوالو پښتنو ته پیش کړم. اِنْ شَآءَ اللّٰهُ العزیز» دا ترجمه به په پښتنو ورونړو کښی رواج پیدا کړی اوسبب بلکه ښه سبب ونړه کړی دمسائلو ضروریه وود فقهی شریفی به وگرځی: وَمَا ذَالِكَ عَلَى اللّٰهِ بِعَزِيزٍ تَوَكَّلْتُ عَلَيْهِ وَاِلَيْهِ اُنِيبُ»

اِرادَه صَمِیمَه

وړونړو اوخوندو. ودرویش ته دښه ژوند اوصحت دعا کوئ. ولی چی درویش قصد لری چی ورځ سته ترخلاصیدو د ترجمی دنورالایضاح» درویش ارادَه صمیمانه کړی ده چی دَقدوری د نِکاح حصه هم ترجمه کړم.

اوهم دا مکتبه به یه هم په ښه کتابت سره تاسو ته وړاندی کړی

مَکتَبَةُ القِرَاءَةِ

گانسی روڈ شالدره کوئٹه

اَلنِّکاحُ مِن سُنَّتِی

«۲»

قدُوری

«نکاح»

وَالتَّجوِید

کتبه احقر فضل الحق حقانی

ولی چې د نکاح، طلاق، رضاع، وغیره مسئلوته هم عموماً شدید ضرورت ستره
وَاللهُ المُوفِّقُ و اَللّٰهم للصّواب» داوی غه معترضه خبرې اوس به اصل مقصودته
رجوع وکړم یعنی ترجمه دباقی نُورُ الایضاح اِن شاءَ اللهُ العزیز»

پوه سه: چې شرط د صحت د سجدې دادی چې مصنف وایې. **عَلٰی مَا یَجِدُ**
حجمه (د دو، شئی کلک والی. حتی که سجده کوونکی ډیر کوشش وکړي. تر حال ایښولو
پورې نه کښته کیږي. پس ساجد ته سجده نه ده روا پر پُښه وو یا وړیو مگر
هغه وخت چې په کور، پخه کښې ډیری تخته سوی وي چې بالا نه کښته کیږي
او غرنگه سجده نه ده روا پر واوره اوپر اُوړو مگر چې ډیر کلک سوی وی د غه دوه
اوپر این دنو اوجوارئیو، ولی چې دغه شیان نَبوي دي او جسمونه یې سخت دی نو یو
پر بل قرار نه نیسي بلکه نَبوئیږي نو سَر خواه مخواه کښته ځي: قَالَ المُصَنِّفُ

وَتَستَقِرُّ عَلَیهِ جَبهَتُهُ او قرار نسي دده تندی پرهغه **مسئله**
پر غمنُو او اوړ بشو سجده روا ده. ولی چې دانیه زیږي دي او ډیری کلکی نه دی نو یُو بل
قرار نسي، مر، ط، **پوه سه:** چې جبهة چې په پښتو تندی ورته وایې تر ورځو
لوړ د سر تر ویښتانو پورې.. اوپر تندی باندی د دوو طرفو دوه جینان دی چې په
پښتو تیکونه ورته وایې. قَالَ المُصَنِّفُ.

وَلَو عَلٰی کَفِّهِ اَو طَرَفِ ثَوبِهِ اِن طَهُرَ مَحَلُّ وَضعِهِ
سجده صحیحه ده که څه هم پر ډَنګوي د ساجد وي پر صحیح روایت مر، او داغرنگه صحیح ده سجده پر طرف
د جامې د ده که پاک وو کلای د ایښو ولو د کف او جامې **پوه سه:** چې د ثوب څخه
مراد ثوب ملبوس ده. لکه د قمیص لمن، یا د لنګوټي شمله، او سجده پر طرف د ثوب
د جهت د عذر روا ده. او بیله عذره مکروه ده لکه سجده پر د له د لنګوټي. او هرچه

سجده ده پر د سمال یا پتوهغه په هرحال روا ده یعنی که عذر وی او که نه وي.
او د عذر یو صورت هغه دی چې په صحاح سته وو کښې راځي- د انس رَضِیَ اللهُ عَنهُ
په روایت سره: کُنَّا مَعَ النَّبِیِّ صَلَّی اللهُ عَلَیهِ وَسَلَّم فَیَضَعُ اَحَدُنَا طَرَفَ ثَوبِهِ
فِی شِدَّةِ الحَرِّ مَکَانَ السُّجُودِ» ترجمه: مونږ وو سره د نبی علیه السلامه نوایښو وی
پر یوه زمونږ طرف د جامې خپل په سختی ګرمی کښې په ځای کښې د سجدې- او د اهم
د عذر صورت دَئ چې په ژمی په یخ وطن کی سړی په صحرا کی لمونځ کوی نو تر تندی
لاندی طرف الثوب د ډیره یخه اواره وي.

مسئله: پرهر قسم غالیو کرایانی وی. که عربستانی وی او که افغانستانی وی
او یا د نورو مملکتو چې پاکی وی لمونځ بیله کراهته روا دی. در، قَالَ المُصَنِّفُ

وَسَجَدَ وُجُوبًا بِمَا صَلُبَ مِن اَنفِهِ وَبِجَبهَتِهِ وَلَا یَصِحُّ
او سجده دی کوي از روی وجوب پر کلک ځای د پنې. او وجوبًا دی سجده هم کوي پر تندی

الِاقتِصَارُ عَلَی الاَنفِ اِلَّا مِن عُذرٍ بِالجَبهَةِ
باندی او نه دی صحیح لبس والی د پنې پر سجده مگر هغه وخت صحیح دی چې په تندی کی عذر
مثلاً دانه وي چې پر محکه یه نه سی ایښو ولای. **پوه سه:** چې د دی مسئلو تحقیق
پوره عنقریب تیر سو. فتذکر. قَالَ المصنف.

وَعَدَمُ اِرتِفَاعِ مَحَلِّ السُّجُودِ عَن مَوضِعِ القَدَمَینِ
اوبل شرط د شروطو څخه د صحت د سجدې دادی چې نه به وی پورته ځای د سجدې تر ځای

بِاَکثَرَ مِن نِّصفِ ذِرَاعٍ فَاِن زَادَ عَلٰی نِصفِ ذِرَاعٍ
د ایښو بالاتر نیم ګز. یعنی لږ پورته والی ضرر نه لري. او که تر نیم ګز بالا وو ارتفاع سجده
په نده روا»

فَإِنْ زَادَ عَلَى نِصْفِ ذِرَاعٍ لَمْ يَجُزِ السُّجُودُ إِلَّا لِلَّحْمَةِ

اوکه چیری نربات وودالوړ وَالی ترنیم گزه - نوسجده نده پرروا - مگرما سواد هغه صورته څخه چې ازدحام دخلگودپروی

سَجَدَ فِيهَا عَلَى ظَهْرِ مُصَلِّي صَلُوتَهُ

اودی سجده وکړی پر شاد هغه چاچې خپل لمونځ کړی. **خلاصه** داچې که چیری ترنیم گزه یې ارتفاع زیاته وه بیا سجده نده رَوَا. یعنی دغې سجدې ته اعتبار هسته. نوکه دغه سجده پرکښته ځای راوگرځول صحیح سوه - اوکه لمونځ پوره کړی اوهغه مُعتبره سجده یې ونه کړه لمونځ یې باطل سو. ولې چې فرض عمل پې کښې پاتې سُو: مگر هغه وخت لوړوالی دځای د سجدې پرځای دَ پښو روادی چې ازدحام د خلگو دپروی اوځای د سجدې نه وی. بلکه دوه روسته صف سړی دمَخ د صَف د سړی پرمالا سجده کوله لکن هغه لمونځ گذاره پَه لمانځه کښې شریك وی. داتوله د مجبوری له کبله. نوکه هغه دمَخ وخواته سړی لمونځ نه کاوه اویا یې بل لمونځ کاوه د هغه پرځای سجده نده رَوَا. او په کفایه کې داشرط هم راوړی دی چې لمونځ کوونکی زنگنوني ږ پر محَلّه وی. اوپه مجتبی کې داهم شرط کړی دی چې هغه بل سړی چې دی ئې پرځای سجده کوی هغه ږ پرمحَلّه سجده کوی. لکن قهستانی د مبسُوط څخه نقل کړی دَی چې سُجده دازدحام پرځای د غیر مصلی هم رَوا ده. اوامام زاهدیؒ وائی چې پرځای ما کول اللحم لکه پسه وغیره هم روا ده. ونقل عن الحلابی انه یستحب التاخیر حتی یزول الزحام «ط م»

واقعه: یوه وَرځ درویش پې مسجد نبویؐ د مدینې منوری د لمانځه د پاره ښه پروخت وَرغلم اوپه یوه صف کې ی تحیة المسجد ادا کړی. ښه د رکوع او سجدې ځای می درلودی. لکن څه وخت چې د لمانځه د جماعت وخت نږدی کیدی خلق پرپرېوتل حتی چې د صَفونه ما بینو کې نور صفونه جوړ کړه سوه. د درویش وَمخ ته یولوی پَلنډ

معمری کښینستی هرڅه چې ی قبل الصلوٰة ورته وو ئیله چې نه به سُجده اخیرچیری کوه، نوده نه مَنله اونه ایسته کیدی اوابی ووئیله اَللّٰهُمَّ مَالِكَ».

اوبل ځای هم نه ووچې نه هلته ولاړسَم. خیر اقامت وسو اولمونځ شروع سوقیام خوسوه کم مشکل نه وو. اورکوع هم په ادنی طریقه وسوه. دسجدې چې وار سو معمری نږدې هغه پر سُجده سوکُناتې یه دوښه غټ وَه چې نه پر رکوع وای دده پر کُناتو سی سر نه سوای ایښو وَلای. شا خوچیری ده خوچې نه سر دده دکناتو څخه وښتی دده په حال کې د سُجدې پښې راته انزادی کړې. مطلب یه داوو چې زما په پښو سر نښاسه - ما هم هغسی وکړه او سجده می گرده کامِلا پرمحَلّه وکړه تراخیره.

نوهلته می په لمانځه کښې دا په نږه کښې راوگرځیدَله چې په فقه شریفه کښې چې وَائی - چې په وخت د ازدحام پرشاد لمونځ کوونکی سجده وکړی هغه کافی نده ولی چې درویش په دغه ازحام کې په مابین کې د ده رِجلې د مُصلی سجده وکړه، چې د ظهر سجدې به امکان نه وُو. اوسړه دده چې په فقه شریفه کې وائی چې د حال د رکوع سُجده پرشاد بل مصلی نده روا. بلکه دی به نږ نگونه پر محَلّه ایږدې. فَحَقَّقَ الْقَوْلَ بِاَنَّ الْعُلُوْمَ تَتَزَايَدُ يَوْمًا فَيَوْمًا. قال المصنفؒ «

وَوَضْعُ الْيَدَيْنِ وَالرُّكْبَتَيْنِ فِي الصَّحِيحِ

اوایښول د دواړو لاسونو او زنگنو دی پر صحیح روایت کې. مصنفؒ په مَراقی الفلاح کې داعبارت په حذف د مضاف گرځولی دی ای احد الیدین واحد الرکبتین. نوترجمه د عبارت داسی کیږی چې بل شرط د صحت د سجدې ایښوول دی دیوه د دوو لاسواو دیوی پښې. د دې ځای تفصیلی بیان د مخه تیرسُو. قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَوَضْعُ شَيْءٍ مِنْ أَصَابِعِ الرِّجْلَيْنِ

اول شرط د صحت د سجدې ایښوول دی د یوڅه گوتو څخه د پښو پر محَلّه لکن گوتې به مخامخ د قبلې ته وی سره نږدې

حَالَةَ السُّجُودِ عَلَى الْأَرْضِ وَلَا يَكْفِي وَضْعُ ظَاهِرِ الْقَدَمِ

اگوتو به پر محَلّه نه ږدې کوی - اوکافی نه ده د صحت د سجدې د پاره ایښوول د مخ د پښې پر محَلّه.

ولی چې ظاهر د بنې ځای د سجدې په شریعت کې نه دی مصنفؒ په مَراقی الفلاح کې دا حدیث دلیل راوړی دی چې آنحضرت صلی اللهُ علیه وسلم وایې: اُمِرْتُ اَنْ اَسْجُدَ عَلٰی سَبعة اَعْظم عَلی الجَبهة والیدَیْن و الرکبتین و اطراف القدمین» زه امر کړه سوی یم یعنی د جانب څخه د خدای عزّ وجلّ چې زه به سجده کوم پر اوو اړکو» چې تنده دی اوده وه لاسونه دي. او دوه زنګنونه دي او اطراف د پښو دي.

سوال: امر خو پاره د وجوب وی نو د دی حدیث مفاد خو دا دی چې پرد ی اوو اندامو سجده واجب ده. او حدیث صحیح او متفق علیه دی. اوسره د دی چې ایښودل د دواړو لاسو او د واړو زنګنو سُنت دی زمونږ په نیز. **جواب**: غرض د مصنفؒ د دی حدیث څخه دا دی چې محل د سجدې خو غړ اعضاء دی او دا صحیح دي او هرچې داخبره ده چې د ټولو وضع لازمه ده د اعلحدة حکم دی. مصنفؒ په مَراقی کې وایې چې یوه پښه کښیني دی په صحت کې ده سجده یه اختلاف دی. او طحطاویؒ وایې چې ظاهر د مختصر الکرخی و المحیط، والقدوری عدم جواز دی. قَالَ المصنفؒ

وَ تَقْدِیمُ الرُّکُوعِ عَلَی السُّجُودِ

یعنی شرط دی د پاره د صحت د رکوع او سجدی د څخه کول د رکوع پر سجده باندی. قال فی المراقی. لکه چې شرط دی تقدیم د قرائت پر رکوع.

مسئله: که یو سړی د سجدې په لمانځه کې رکوع ترقرائت د مخې وکړي، او د رکوع څخه چې راپورته سی بیاهم په قرائت ونه وایه لمونځ یه فاسد سُو. او کې د وه سته تر رکوع قرائت وواید نو لمونځ یه صحیح دی. کې دا کار قصدًا وکړي لمونځ یه مکروه دی. او کې سهوًا وکړي وه نو سجده سهوه دی وکړي: کما فی الکافی نو قدم رکنًا علی رکن سَجَد لِلسَّهو.

مسئله: بعض علماء وایې چې په مذکوره صورت کې یعنی چې تر رکوع وروسته قرائت وواید رکوع یه لغوه سوه بله رکوع به کوی. او سجده نسته ورباندې.

مسئله: که یو سړی په اولو دوو رکعتو کې د څلورو رکعتی لمانځ قرائت نه ووایه او په اخرنیو دوو رکعتو کښې قرائت وواید لمونځ یه صحیح دی.

پوه سه: چې مفاد د عبارت د مصنفؒ په نورالایضاح او مراقی الفلاح کښې دادی د یوسړی رکوع د مخه ترقرائت وکړی. یا سجده د مخه تر رکوع وکړی لمونځ یه فاسد دی. او په کافی کې هم تصریح پر دغه سوې ده. لکن په کافی کې په باب د سجود السهو کې داسی وایې. لو قدم رکنًا علی رکن یعنی سهوًا سَجَدَ لِلسَّهو» د دی عبارت څخه دا معلومیږی چې ترتیب دارکانو واجب دی.

ولی چې د واجب په پرلیښولو سره جبیره سجده سهوه کیږي. او وړاندی وئیلی وچې لمونځ یه فاسد سُو. د دی سره خو دا معلومیږی چې مراعات د ترتیب فرض دی. او مصنفؒ هم تصریح کړی ده بقوله: وَیُشترط لِصِحّة الرکوع والسجود: پر فرضیت د ترتیب. وهذا اشکالٌ ینبغی حلّهٗ. وقد تفرد صاحب جامع الفصولین العلامة ابن قاضی سماوة فی کتابه شرح التسهیل بدفعه. یعنی چې د فرضیت ځای او د وجوب ځای په ترتیب کې د ارکانو جلا دی: فلا تناقض بینهما» هغه داسی چې مفاد فرضیت د ترتیب داده چې صحت د رکن ثانی پر وجود د اول رکن موقوف دی. نو که څوک رکوع د مخه تر سجدې وکړي سجدې ته اعتبار نسته باید سجده بیرته راوګرځوي. او مفاد وجوب الترتیب داده چې لمونځ یه نه فاسدیږی کې بیرته راوګرځاوه یعنی هغه ترتیب چې ده خراب کړی وُو. فافهم هداک اللهُ» قَالَ المُصنفؒ.

وَالرَّفْعُ مِنَ السُّجُودِ اِلٰی قُرْبِ القُعُودِ عَلَی الاَصَحِّ

او شرط د پاره د صحت د سجدې ثانیه پورته کول د سړی د اولی سجدې څخه تر د اسی حده چې وناسته تر نږدی سهی. که څه هم سَم نه کښینی پر صحیح روایت د امام اعظمؒ څخه

وَالخَای دَ غوږ وَرْدی

ولی په دی مسائلو کښې روایات مختلفه سته او د مذهبو اختلاف هم سته. علامه مسکینؒ وایې چې ولاړه د رکوع څخه او ناسته په مابین د سجدتینو د واړه فرض دی. په نیز د امام ابو یوسفؒ نو د ده مذهب

مقتضیٰ دا ده که چا قومه، او جلسه، پریښولے لمونځ یه فاسد دئ. او امام اعظم
او امام محمد یه واجب بولي. دواړې یعنی چې لمونځ نه په فاسدیږي. او د مصنف
کلام هم دلته د امام ابو یوسف د مذهب سره موافقت لري. ولهذا چې دی وائي "ویشترط
الرفع آه"

لکن په دی کښې اختلاف دی چې اندازه د رفع د سجدې څخه څومره اندازه ده. د حضرت الامام
الاعظم مذهب خو ذکر شو. په دوی کښې بوه فقهي شریفي فتویٰ په دغه مذهب ورکړیده.
او ځکه ولهذا هم دا مذهب د فتوی د پاره مناسب بولي. او بعض مشائخ وائي چې تندی د مصلی
د محکمی پورته کړی او پیر ته یه کښیږي دی لمونځ یه صحیح دی. درویش وائي چې دی مذهب
هیڅ بوه فقیه پخلی او تصحیح نه ده کړې. اونه عالم ته مناسبه ده چې دا مذهب و عوامو ته
بیان کړي. او قدوري وائي چې هغه قدر رفع غواړي چې خلګ یه رفع وبولي. شیخ الاسلام
دا رأیه اصح ګڼلې ده (یعنی په ادا ئ کې د فرض لکن مکروه ده" ط"

او بعض فقهاء وائي چې هغه قدر رفع ضروري ده چې کتونکی یه رافع وبولي. دا مذهب
عیناً د قدوري مذهب دی لکن پوه سه: چې مصنف سره دی چې دلته وَيُشترط وائي منګر
په حاشیه کې د دې داسې وائي چې دوه لاسونه چې د رکوع څخه اوچت کول
کاره واجب دي. یعنی ارام کول په رکوع کې. ارام کول په سجده کښې. او ارام کول په ولاړه
کې د رکوع څخه اوچت ارام په ناسته کې په مابین کې د دوو سجدو. او رفع د رکوع څخه هم
واجبه ده. او نفس جلوس بین السجدتین هم واجب ده. په سبب د مواظبت د آنحضرت
صلی الله علیه وسلم پر دغو کارو. او بل دلیل د وجوب یه دا دی چې قا ضیخان وائي
چې که چا رفع د رکوع څخه سهواً پریښولې سجده سهوه پرلازمه ده. او د دې ته د ر ته
کړیده. نو حکم دا ستی بین السجدتین هم د غه رنګه دی. ولهذا
ویودئ. درویش وائي چې د دغو افعالو وجوب مختاره د کمال الدین
د ده شاګرد ابن امیر الحاج هم مختاره ده. قال ولنه الصواب" درویش
ت الما فتوی هم پر دغه نظریه ده" ولې چې د قوانینو سره د فقر شریفي پیره برابره

پوښتنه

پوښتنه: که یوسړی اول سجده مثلاً پر بالښت وکړه او بیا چا بالښت د دې څخه
لیرې کړی او بیله پورته کولو د سر دوهمه سجده یه کښته پر محکمه وکړه دا دوهمه
صحیح ده. بعض علماء وائي چې پر قول د قدوري صحیح نه ده. دا خبره غلطه ده) ولې
چې مطلق رفع خو فرض بالاجماع ده په دا مذکور صورت کې هیڅ رفع نشته" قال المصنف

وَالْعُودُ إِلَى السُّجُودِ

او اعاده رنګه فرض دی دوهمې سجدې ته ګرځیده مصنف
په مراقي کې وائي چې سجدهٔ ثانی فرض ده لکه اوله سجده "باجماع الامة" ورد فی الحدیث
النبوی چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم چې اوله سجده بې وکړه او سر مبارک بې را پورته
کړی نو بې لاسونه هم د محکمی څخه را پورته کړه او پر ودانو بې کښیښوله. او دا هم
علیه الصلوٰة والسلام وئیلی دی صَلُّوا كَمَا رَأَيْتُمُونِي أُصَلِّي. تاسی لمونځ کوی لکه
تاسی چې زه ولیدم چې لمونځ می وکړئ. او په یو بل حدیث شریف کې راغلی دی" چې
لاسونه هم سجده کوی لکه مخ چې کوی. نو څه وخت چې تاسی مخ پر محکمه کښیږي دی لاسونه
هم ایږدی او هر وخت چې مخ پورته کړی د محکمی څخه لاسونه دی هم پورته کوي.

حِكْمَةُ تَكْرَارِ السُّجُودِ

بعض فقهاء وائي چې د تکرار د سجدو امر تعبدی دئ. یعنی خدای جل شانه مونږ امر
کړی یو چې دوی سجدی کوئ. کې څه هم مونږ په حکمت نه یو خبر لکه عدد د رکعتونو
لمونځونو. نو مونږ هغسی کوو بالا په حکمت پسی نه ګرځو. او بعض علماء وائي چې دوه
سجده د پاره د تر غیم د شیطان ده. چې ډیوه سجده هم د حضرت آدم علیه السلام
ته وکړه. او په بعض روایاتو کښې راغلی دی" چې څه وخت چې ملکو د حضرت آدم
علیه السلام ته په امر د خدای پاک سجده وکړه او شیطان نه وکړه. نو څه وخت چې
دوی سر د ونه را پورته کړه وی لیدله چې د شیطان مخ د شا و خوا ته اوښتی دی او پر

بدنیه داسی ویښتان ړاپورته سوی وی. لکه د سرکوزی نوملکو دوهمه سجده وکړه د شکر د پاره، نو خدای پاک مونږ امر کړو، «مُتَابَعَةً لِلْمَلَائِكَةِ» چې تاسی هم دوه سجدی کوی» ددی روایت څخه دا معلومیږی چې هغه سجده چې ملکی په امر سوی وی سجدهٔ اصطلاحی وه، اوآدم علیه السلام صرف په قول د محراب و مخته د دوی ولاړ و او بعض اهل سیر وائی چې اوله سجده د پاره د شکر د ایمان ده او دوهمه سجده د پاره د بقاء پر ایمان ده - او بعض محققان وائی چې اول سجده د پاره د اشاری وه غه آیت کریمه ته ده» مِنْهَا خَلَقْنَاكُمْ، یعنی د محکی ماتاسی پیدا کړی یاست، او دوهمه سجده اشاره ده د دی آیت کریمه ته: وَفِيهَا نُعِيدُكُمْ»

او بعض علماء وائی چې څه وخت چې ټوله اولاده خدای پاک د آدم علیه السلام څخه ړاوایستل د پاره د اخذ د میثاق یعنی هغه وعده د» اَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ قَالُوا بَلٰى» نو بیا یې ټوله په سجده سره امر کړه نو هغه کسان چې په وروسته ژوند کی به مسلمانان وی هغو ټولو سجده وکړه او کفارو نه وکړه - نو مسلمانانو چې سرونه ړاپورته کړه او کفارو تل وکتل چې سجده یې نه وکړه نو مسلمانانو دوهمه سجده وکړه د پاره د شکر، وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِالصَّوَابِ وَعِنْدَهٗ اُمُّ الْكِتَابِ وَاِلَيْهِ الْمَرْجِعُ وَالْمَآبُ» قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَالْقُعُودُ الْاَخِيرُ قَدْرُ التَّشَهُّدِ

او همدارنګه فرض ده اخیره ناسته په اندازه د التحیات آه ...

پوهه سه: چې اخیره ناسته خو فرض ده. په اجماع د علماءو د خلورو مذهبو، اِلَّا مَالِكًا فَاِنَّهٗ سُنَّةٌ، لکن په مقدار کښې اختلاف دی او د احنافو مذهب دادی لکه مصنف چې وائی په قدر د التحیات آه دویلو. او د اهم صحیح مذهب دی

سوال: اخیره خو هغه شپې ته وائی چې اول هم لږی نود سحار په لمانځه کی یا د چې په لمانځه کی خو اوله ناسته نه ده - او د غه رنګه د مسافر په رباعی لمانځه کی اوله ناسته نه ده.

جواب: مراد دلته اخیر د لمانځه دی یعنی هغه ناسته چې په اخیر کی د لمانځه کښې د کړه ناسته لږی او که نه لږی، فیشمل الکل، ط»

فائده: مصنف لفظ د قدر وایه اشاره ودې ته ده وکړه چې دا التحیات ویل فرض نه دی بلکه نفس ناسته فرض ده. او د التحیات ویل به په واجبا توکی راسی، اِن شَاءَ اللّٰهُ الْعَزِيزُ»

دلیل د دی مسئلی دادی چې ابن مسعود رض ته آنحضرت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څه وخت چې التحیات ورښو ولې وروسته یې داورته وفرمائیل: اِذَا قُلْتَ هٰذَا اَوْ فَعَلْتَ هٰذَا فَقَدْ قَضَيْتَ صَلٰوتَكَ اِنْ شِئْتَ اَنْ تَقُومَ فَقُمْ وَاِنْ شِئْتَ اَنْ تَقْعُدَ فَاقْعُدْ» یعنی په ناسته ولې چې التحیات په ولاړی مشروع نه ده. ترجمه: چې تا دا التحیات ووئیل او یا دی فعل وکړی یعنی په قدر د التحیات کښینستی نو تا پوره کړی لمونځ نو بیا ستا خوښه ده که ولاړ پاتې ږی ولاړ پسه اوکه کښینی کښینه.

اِخْتِلَافُ الْعُلَمَاءِ:

اخیره ناسته فرض خوده په اتفاق (اما امام مالک یه سُنت بولی. لکن رکن یعنی اصلی د لمانځه ده. د امذهب دی د یوسف بن عاصم. او په بدائع الصنائع کی وائی چې رکن اصلی نه ده یعنی رکن زائد ده. وَلَا يَخْفٰى اَنَّ بَيْنَ الرُّكْنِيَّةِ وَالزِّيَادَةِ مُنَافَاةً فَافْهَمْ» او صحیح داده چې دا ناسته شرط ده. په دلیل د هغی مسئلی چې فقهاءو وائی چې که سړی قسم واخستی چې زه لمونځ نه کوم. بیا پر لمانځه ودریدی څرنګه چې د اخیر رکعت د دوهمی سجدی څخه سر اپورته کړی حانث سو. نو که چیری التحیات رکن وای نو دا سړی پس له التحیات حانث وای» لِاَنَّ الْكُلَّ لَا يُوجَدُ بِدُونِ الْجُزْءِ. او په سراج او بحر او نهر کی وائی چې وضعه د لمانځه د پاره د تعظیم الهی ده او اصلی تعظیم د قیامی څخه شروع کیږی په رکوع کی تعظیم زیاتیږی او سجده پای د تعظیم ده. او په ناسته کی خو هیڅ تعظیم نشته. بلکه صرف استراحت دی نو رکن نه ده، ط» قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَيُشْتَرَطُ تَاْخِيرُهٗ عَنِ الْاَرْكَانِ

او شرط دی وروسته کول د اخیری ناستی تر ټولو ارکانو. ولې چې قعدهٔ اخیره د پاره د ختم

دارکانو مشروع ده کما یدل علیه حدیث ابن مسعودؓ **مسئله**: که دچا سجده صلبیه هیره وه چی التحیات یه وویل ور پیاد سوله هغه سجده دی راوګرځوی. که څه هم پس له سلامه وې چی خبری نه وی کړی. اوکی خبری کړی وی لمونځ به بیرته راګرځوي

قال المصنفؒ

وَأَدَاءُ أَرْكَانِهَا مُسْتَيْقِظًا

اوشرط دی دپاره د اداء دارکانو نو اود صحت دهغو کول د هغوپه داسی حال کښې چی ویښ وی

مسئله: که یولمونځ کوونکی قرائت وو ایه یایه رکوع وکړه اوبیده ووهغوته اعتبار نسته بیرته بې راګرځوي. اوپه قعده اخیره کی که بیده وو منیة المصلی واپۍ کی نه راوګرځول لمونځ یه باطل سو. دده په نیز قعده اخیره رکن د لمانځه ده والصحیح ما فی جامع الفتاوی. چی قعده اخیره دخوب په وخت کښې هم صحیح ده راګرځیدلو نه غواړي. ولی چی دارکن نه ده بلکه داستراحت دپاره ده اوپه خوب کی خوښه استراحت سته «ه» قال المصنفؒ

وَمَعْرِفَةُ كَيْفِيَّةِ الصَّلَوَاتِ وَمَا فِيهَا

اوفرض دی پیژندل دکیفیت د لمونځو یعنی داچی

مِنَ الْخِصَالِ الْمَفْرُوضَةِ

دوه رکعته دسحار فرض دي. اوخلور رکعته دمازدیګر فرض دی وهکذا. اوهغه څه چی په دې تهولو لمونځو کی افعال مفروضه دي. لکه چی دوه رکعتونه دسحار فرض اودوښه دمازدیګر فرض دي. وجمعیة الخصال باعتبار تعدد الصلوات المفروضة والا ففی الفرضیة خصلة واحدة. قال المصنف فی نور الایضاح

عَلَى وَجْهٍ يُمَيِّزُهَا عَنِ الْخِصَالِ الْمَسْنُونَةِ

پرداسې طریقه باندې چی فرضی خصلت پیژندل دهغه خصلت دخصال مسنونه ووڅخه وکړي. **پوښتنه** چی جمعیت دخصالِ مسنونه ووهم په اعتبار د پیروالی دمسنونو لمونځودی. اوکه داسی نه وی نو سنتیت خو یوخصلت دی په تهولو سنتو کی مثلاً دابه ورته معلومه وی

چی څلور قبل الظهر اودوه رکعته بعد الظهر سُنت دی وهکذا السنن الأخر. اودا مراد نه دی. چی دلمانځه قیام، رکوع وغیره به په صفت د فرضیت پیژني. اوسبحان اوتسبیحات به په پرله دسنت پیژني وهکذا قاله المصنفؒ «

پوښتنه: چی د مصنفؒ دغه ترجمه چی مونږ وکړه هم دغه مراد ده. که څه هم عبارت د کتاب واضح دلالت نه پرکوي. والتفصیل فی شرح الامام الطحطاوی» اومصنف واپۍ چی دا داداء د فرضی لمونځو تهولو داسی اعتقاد هم کافي دی. قالَ المُصنفؒ

وَاعْتِقَادُ أَنَّهَا فَرْضٌ

او اعتقاد دی لمونځو چی دی ئې په دی پنځو وختو کی اداکوي. مثلاً دسهر عقیده وی چی دسحار فرضی لمونځ څلور رکعته دی. اوهر دوه رکعته جلا جلا وکړي اودمانښام لمونځ پنځه رکعته دی فرضی دی لکن درې رکعته یه جلا وکړي اودوه رکعته جلا وکړي وهکذا. قال المصنفؒ

وَاعْتِقَادُ أَنَّهَا فَرْضٌ حَتَّى لَا يَتَنَفَّلَ بِمَفْرُوضٍ

اوعقیده یه دی لري چی دغه لمونځ چی زه ئې کوم فرضی دی تاچی نفلی نیت ونه کړی په فرضی لمانځه کی. ولی چی فرضی لمونځ په نیت د نفلونه دئ روا اونفل په نیت دفرضو روا دی کما فی التجنیس والمزید والخلاصة، ط» قالَ المصنفؒ

وَالْأَرْكَانُ مِنَ الْمَذْكُورَاتِ أَرْبَعَةٌ الْقِيَامُ وَالْقِرَاءَةُ وَالرُّكُوعُ

پدی کی بالاتفاق چی تیرسوه چی تراوه ویشت هم بالاوه څلور رکنونه دی. چی هغه ولاړه، قراءت، اورکوع

وَالسُّجُودُ وَقِيلَ الْقُعُودُ الْأَخِيرُ مِقْدَارَ التَّشَهُّدِ وَبَاقِيهَا شَرَائِطُ

اوسجده دي. اوبعض علماء وائې چی اخیره ناسته په قدر التحیات آه داڅلور رکنونه دی په لمانځه کی باقی ما نده شرطونه دي: اوبعض علماء وائې چی تکبیر تحریمه هم رکن دی. نوبه شپږ سې. وقد مر الاختلاف وما هو الصحیح من انهما لیسا برکنین «

بعضها شرط لصحة الشروع في الصلوة وهو ما كان خارجها

بعض د هغو څخه شرطونه دی د صحت د شروع په لمانځه کې هغه هغه شرطونه دی چې خارج د لمانځه څخه وی. چې هغه پاکی ده د حدث او نجس څخه او ستر د عورت دی. او استقبال د قبلې دی. او وخت دی او نیت دی او تحریمه ده. قال المصنف

وغيره شروط لدوام صحتها

اوغیره د هغه څخه شرط دوام د صحت د لمانځه.

بیت سه یارب تو آنچه من گمانیخواهم ✧ فزون ز هزار پادشاه میخواهم هرگز از در تو حاجتی نمی خواهد ✧ من آمدم از تو آنرا میخواهم

قال المصنف

فصل

في متعلقات الشروط وفروعها

تجوز الصلوة على لبد وجهه الاعلى طاهر ووجهه الاسفل نجس

روا دی لمونځ پر کراسته چې لوړ مخ یې چې سړی لمونځ پرکوی پاک وی او کښتر مخ یې نجس او مردار وی. یعنی په دوه نجاست چې مانع د لمانځه هم وی. **پوه سه**: چې مراد د لبد څخه هر هغه شی دی چې پنډ والی لری کلک چې دوه ځایه کیدای سی. لکه کراسته قالین، کمبله، خښته پوستکی وغیره کذا في البدائع والخانیة، ومنیة المصلی او نور کتابونه د فقهی شریفی.

مسئله: یوه کور بچه یې د مردار وی د هغه کرې وه. او دواړه مخه د پوښ یې پاک وه لمونځ پرې روا دی ط. **مسئله**: لمونځ روا دی پر پوست د پسه چې وریځ

یه مردار ی وی لکن د ځکی وخوا ته وی. کما في البدائع والخلاصة. **مسئله** پر یوه داسی پنډه تخته چې د وی تختی څنډې جوړې ې. او لاندی مخ یې مردار وی او لوړ مخ یې پاک وی پر پاک وی لمونځ روا دی. پ نیز د امام اعظم او د امام محمد او په دې مذهب فتوا ورکړی ده ابوبکر اسکاف. او امام ابو یوسف وایی نه دی روا. او په دی مذهب فتوا ورکړی ده ابوحفص کبیر، مر، ط، قال المصنف

وعلى ثوب طاهر وبطانته نجسة إذا كان غير مضرب

او د اغر رنګه لمونځ روا دی پر هغه جامه چې پاکه وی او په مابین کی نجس استر وی لکن چې مضرب نه وی. **پوه سه**: چې مضرب هغه دوه مخی کالی ته وایی چې په مابین کی استر وار وشی وی او اطراف یې ګنډل سوی وی. او په مابین کی هم ګندی وهلی سوی وی. او غیر مضرب هغه ورته کالی دی چې په مابین کی نه ګنډل سوی وی. او عبارت د طحطاوی دیر مجمل دی په دی ځای کی. او د افرق صاحب المجمع بیان کړی دی. وقال هو الصحیح

مسئله: په قهستانی کی وایی چې پرداسی چپنه لمونځ روا دی. چې استر یې نجس وی او مخ یې پاک وی. او د دی چپنی د څخه خوا دی تر پښو لاندی کړی او سجده دی پر لمن کوی: د دی وجه به شاید دا وی. چې د لمنی خوا فراخه وی او نرمه وی نو سجده قرار پرنسی. قال المصنف:

وعلى طرف طاهر وإن تحرك الطرف النجس بحركته

على الصحيح

یعنی که کمبله وی او کربو یا وی او که پتو وی. او د غه رنګه لمونځ روا دی پر پاک طرف د مذکوره شیانو یعنی چې یو بل طرف یې مردار وی که څه هم طرف نجس پسه ښوروی نو پاک طرف ښوری. ولی چې د غه مذکوره شیان د ځکی حکم لری نو شرط صرف پاکوالی د ځای د لمونځ کوونکی دی لکه په ځکه کښی د اغه حکم دی، کذا قال الطحطاوی،

تفصیل المقام

په بحر الرائق کښی وائی که یو سړی پر اوار سوی شی لکه مذکوره شیان وغیره المونځ کاوه اوپر بل طرف د هغه شی مردار ی پرته وه پس اصح داده چی لمونځ پرروادی که دا اوار سوی شی لکه کمبله یا غټ پټو وغیره اوکه کشنی وی. لکه د لمانځه مصلی یا داوبی دسمال. دلیل یه دا دی وئیلی دی چی د غه شیان پرمنزله د محکی دی نسو لمونځ کوونکی د نجاست مستعملوونکی نه بدل کیږی.

اوبحر نه یا تکړیده چی د المونځ باید په طریق اولی راسی. ولی چی فقهاء وائی چی نجاست په ځای کی د رنګنود مصلی اود غږ رنګه دلاسوما نع د لمانځه نه دی نومذکور نجاست به څنګه مانع وی - اوپه خلاصه کښی وائی که مصلی آواره کړه یوناز کړه جامه پروچ نجس باندی نوکه د غه جامه داسی وه چی هغه نجاست نه تر معلومیدی لمونځ پر روادی اوکه د نجاست حکایت یه کاوه لمونځ نه دی پر روا. قال المصنف:

وَلَوْ تَنَجَّسَ أَحَدُ طَرَفَيْ عِمَامَتِهِ فَأَلْقَاهُ وَأَبْقَى الطَّاهِرَ

که چیری دیوسړی د لنګوټی یوطرف مردار وو. یعنی په نجاست مانعه د لمانځه نو مصلی

عَلَى رَأْسِهِ وَلَمْ يَتَحَرَّكِ النَّجَسُ بِحَرَكَتِهِ جَازَتْ صَلٰوتُهُ

هغه نجس طرف پر ځمکه واچاوه. اوپری بنو هغه پاک طرف پرسر باندی اوحال داسی وو چی

وَإِنْ تَحَرَّكَ لَا تَجُوزُ

بنوریدی هغه طرف نجس په بنوره وو لود پاک طرف لمونځ یه روادی. مراقی وائی چی مستعمل د نجاست نه دی. اوکی هغه مردار طرف په بنوره وو لود پاک طرف بنوریدی بیا لمونځ نه دی ورسره روا - ولی چی دی حکماً حامل د نجاست دی. **فَائِدَه**: د دی مسئلی څخه داسی فهمیږی چی لنګ سر لمونځ مکروه دی. که مکروه نه روای نو خو لنګوټه بی گرهه اینبی وائی

په لنګ سر بی لمونځ کړی وائی **سوال**: شاید د د غسی لنګوټی تړلو به یر سر یخ والی د سبب وی. **جواب**: چی حکم اول عام دی که گرمی وی اوکه یخ نو دا معلوم سوه چی د غسی متنجس لنګوټه د کراهت د لمانځه دی په سر تور سر، قال

وَفَاقِدُ مَا يَزِيلُ بِهِ النَّجَاسَةَ يُصَلِّي مَعَهَا وَلَا إِعَادَةَ عَلَيْهِ

هغه سړی چی نه لری د اسی شی چی نجاست دکا لی څخه په زایل کړی لکه اوبه یا بل مانع لکه سرکه وغیره) لمونځ به کوی سره د هغه نجاسته اوس اګرچیده د لمانځه نه څخه وخت باقی وی. یعنی د اسی نجاست چی لمونځ ورسره نه وی روا. ولی چی تکلیف په قدر د طاقت دی. لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا،

پوه سه: که د سړی قمیص مردار وی پر توله یه پاک وی. قمیص د وکالی یه یوازی پر تاګه کښی دی لمونځ وکړی، اوکی قمیص اوپر توله د واړه مردار وه. لکن داوبی د سمال یه پاک وو چی کافی د ستر د عورت وو. قمیص اوپر توګ دی د واړه وکالی د سمال دی لنګ کړی لمونځ دی وکړی. اوکی توله مردار وه د هغه کالی سر چی په قدر د ضرورت وی د هغه نجس کالی سره دی لمونځ وکی اوهغه نور بی ضرورته نجس کالی دی وکالی تقلیلاً للنجاسة بحسب الامکان، قال المصنف

وَلَا عَلَى فَاقِدِ مَا يَسْتُرُ بِهِ عَوْرَتَهُ وَلَوْ حَرِيرًا أَوْ حَشِيشًا أَوْ طِينًا

اود اغه رنګه اعاده نسته د لمانځه پر هر هغه چا چی پوتبو ونکی د عورت نه لری که څه ورلیښم وی اویا واښه اویا خټی وی. او له لمونځ یه لخپله وکړی

سوال: دورلیښمنی جامی اغوستل خو نرته حرام دی نو څرنګه به دی دورلیښمنو جامو سره لمونځ کوی. **جواب**: هو لبس دورلیښمینو جامو حرام دی. اوستر د عورت فرض دی. او فرض د ستر قوی دی ترحرمت دا غوستلو دورلیښمینو جامو، اوپه اغوستلو کی په دغه صورت کی گناه هم نسته: لِاَنَّ مِنْ قَوَاعِدِهِمْ اَنَّ مَنِ ابْتُلِيَ بِبَلِيَّتَيْنِ

اختار اهونهما» فافهم» قال المصنف.

وَإِنْ وَجَدَهُ وَلَوْ بِالْإِبَاحَةِ وَرُبْعُهُ طَاهِرٌ لَا تَصِحُّ صَلٰوتُهُ

عَارِيَّا اوکه پیدا کړه مُصلی جامه، کرخړم چا په اباحت ورکړی وی چی صرف تاتر لمونځ په کښی مباح دی یعنی په ملک یه نه وی ورکړی. اوحال داچی څلرمه دَهغی پاکه وی نوده ته په لخر لمونځ نه دی رَوَا. پراصح روایت مثلاً لکه یوسړی چی اوبه وی ورسره اوبَل سړی په قدر د اوداسراوبه ورکړی نوده ته تیمم نه دی رَوَا.

پوښتنه: د جامی چی څلرمه پاکه وی تاسی حکماً ټوله پاکه بُولی. اوپه لخر لمونځ روا نه بولی. اوسړه دد ې چی د جامی خودری ربع مرداری دی. اوقانون خوداری چی اکثر د حکم د کل دی. نوبا ید د اجامه حکماً ټوله مرداره وگنړل سی او لمونځ په لخ بدن روا سی

جواب: ستر د عورت خولا زهر دی. اوحکم د نجاست ساقط دی شرعًا نوځکه په لخ بدن لمونځ نه دی ورته رَوَا. اوربع حکایت د کل څخه کیدای سی اوحکم د کل لری شرعًا په ربع مذکور څای. بَل څای لکه څلرمه د سَرخَرِیل یا قصر د ربع دیاره د ځان خلاصولو د احرام څخه د حج یاد عُمری. اوهم د جنایت نسته باندی.

مصنف د وَجَد قید د دی دَپاره وو ایه کړه نه خپله جامه د لوده اونه چا په اباحت ورکړی وه. نولمونځ یه په لخر روا دی. اواعاده د لما نځ هم نه ده پرلا زمه اوند ورته روا دی حُکمًا وَل د لما نځ تروخت. **مسئله**: که د فاقد الثوب سره چاوعده وکړه چی زه جامه درکوم پرده تاخیر د لمانځ واجب دی. چی قضا یه ونه ښیږی. په نیزد امام اعظم اوامام ابو یوسف اوامام محمد وَابْنُ که لمونځ قضا کیږی که نه پرده انتظار لازم دی. اومصنف وو ئیل ه باالاباحة لر دی سَببه که څوک ورغ لخ سړی ته جامه په ملک ورکړی بیا خو په طریق اولی لمونځ یه په لخر نه دی رَوَا.

اللهم اغفر لمؤلفه ولکاتبه ولجمیع المؤمنین وَالمؤمنات: کتبه احقر فضل الحق خلفانی

د اباحت اوَد تملیک فرق

دا دی چی د اباحت په صورت کی صرف دَه ته تصرف هغه قدر روادی چی اباحت کوونکی ورته اجازه ورکړی دَه. یعنی داسړی مالک د نفع اخستلو دی وَبس. اوهغه شی په صورت کی د اباحت دده په ملک کی نه داخلیږی. اود تملیک په صورت کی داسړی مالک د هغه شی گرځی هر رنگه تصرف چی په کښی کوی ورته روادی. مثال د اباحت لکه یوخوک چی میلمانه نر لری. اویا میلمانه نر اولی د امیلمانه نر صرف د خورلو حق لری. اوچا ته هبه نه سی کَولای. ولی چی د ی مالک نه دی اوند هم د مالک دَخوا اجازه د هبی ورته سوې دَه. اود بیخی نا رَوا ده چی بی اجازی د صاحب الطعام خوک یوښی د سترخانه څخه اخلی اوکورته یه وړې. اوکه څوک په د ی میلمستیا کی نیت د زکوٰة وکړی. نه دی ولی زکات تملیک غواړی. اود تملیک مثال زکوٰة دی چی یو غنی فقیر ته ورکړی. نوهغه فقیر اختیار لری کی پخپله په هغان خرڅوی اوکی بَل چا ته هبه کوی. اوکی پر یوچا خرڅوی» بحر، عن»

د میلمنو خصوصًا د طالبانو د اعادت دی. چی څوک چی د دوئ خدمت کوی که څه هم صاحب المنزل نه وی. یوه لقمه د غوښتو ورکوی. او بعض طالبان کی په مسجد کی کښتنی طالب د حفاظت د مسجد دپاره پری ایښی وی نوپه پوډی کی غوښی و پیچی بیله اجازی د صاحب الضیافت په جیب کی واچوی. یا یه په دسمال کی غوټه کړی دا دواړه صورتونه ناجائز دی. د»

اویاپه ولاړی لخ پلاخ په رکوع اوسجده سره کوي. د هدایه شخه داسی معلومیږی چی داغیر
قسم اود وهم قسم په فضیلت کښی سره برابر دی. عبارت دهدایئ داسی دی چی هغوی خو
چی جامه پاکه نه لري نو ده خوښه ده که لمونځ په ولاړی کوی که په رکوع اوسجده
سره کوي. اوکی په ناستی کوی په اشاره سره، سبب یه دا دی چی په ناسته کی ستر
والی دعورت غلیظه راځی لکن قیام اورکوع اوسجده پا تسوه. اوپه ولاړه کښی کشف
العوره کم موجود دی لکن ارکان مذکوره پرځای سوه. فیمیل الی ایهما شاء، ط، ع دی.

قال المصنف: **وَصَلٰوتُهٗ فِیْ ثَوْبٍ نَجِسٍ اَلْكُلُّ اَحَبُّ مِنْ صَلٰوتِهٖ عُرْيَانًا**

اولمونځ دسړی په هغه جامه کی چی تولې مرداره وی سبه دی تر لمانځه کولو په لخته سره.

پوه سه: چی صاحب د، درایه والا وائی. که څوك عورت خپل پټ کړی په پوست
د مردار سوی شی چی دبغ یې نه وی سوی لمونځ یې نه دی په کښی روا. اوپه هغه جامه
کښی چی توله مرداره وی لمونځ روادئ. ولی چی نجاست د جلد مذکی اغلظ دی تر نجاست
ثوب، ولی چی پوست په دری واره پریلو نه پاکیږي اوجامه پاکیږي.

مصنف په مراقی کی داسوال کوي چی دجامې تر دری واره پریلو خود پوست پاکیدل اسانه
دی چی په هوا وچ کړی اویا یې په لمر وچ کړي، لکن طحطاوی وائی چی نفس ولمر ته غوړول
اویا په هوا څرول د پوست د پاك والی دپاره کافی نه دي. بلکه داشرط دی چی بدبوئ
اوفساد یې هم دفع سی. اوداسی دوول کول خو گاهی پوره وزغ په برکښی نسی، بخلاف غسل
الثوب: قال المصنف:

وَلَوْ وَجَدَ مَا يَسْتُرُ لِبَعْضِ الْعَوْرَةِ وَجَبَ اِسْتِعْمَالُهٗ

که یوچا دوُنه جامه اوتکر وموندې چی بعض عورت یې په پوښیدئ. نو پرده
واجبږده چی هغه جامه به استعمال کوي. یعنی تر هغه ځای چی عورت پرې پټیږی هغه خودی په
پټ. نوکه دا تولکر صرف دومره وو چی دمخ خوا اودشا خوا په پټیدله. ولې، خوهغه
دی په پټ کړی. ولې دادوه عورت غلیظه دی نسبت ونورو ځایونه...

قال المصنف: **فَاِنْ لَّمْ يَسْتُرْ بِهٖ اِلَّا اَحَدَهُمَا قِيْلَ يَسْتُرُ الدُّبُرَ**

اوکه نه په پوښیدله مګر یودشا اویا دمخ خوا نوبعض علماء وائی چی دُبر دی په پټیږی کی
ولی چی دبره په حال کی درکوع اوسجدی دیره بده معلومیږی: قال المصنف

وَقِيْلَ يَسْتُرُ الْقُبُلَ اوبعض فقهاء وائی چی دمخ خوادی په پټه کړي. ولې چی
هغه وقبلی ته مخامخ دی. اوچا چی دوهم قیل وجه داویلی ده، چی دکښی غار خوپه
کناتو هم پټیږی یعنی کنا تی دی تینګ سره ونلیسی. دا توجیه صحیح نه ده ولی چی
دمخ خواخوبیا په وزنو پټیږی. اوداعذر نګه پټیږی چی لاسونه پرې کښیږدی. اوود دې
سوال جواب هم امام طحطاوی په یوه ضعیفه خبره سره ورکړی دی فلا حاجة الی ایراده ثم رده

قال المصنف: **وَنُدِبَ صَلٰوةُ الْعَارِیْ جَالِسًا بِالْاِيْمَاءِ مَادَّارِجْلَيْهِ**

اومستحب دی لمونځ دلخ سړی په ناستی په اشاره سره دا دوول چی پښی دی دقبلی وخوا ته
غځولی وي. **پوه سه**: چی دامذهب دذخیری والا دی اومنیة المصلی والاوائی
چی داسی برکښینی لکه په التحیات کی. یعنی نرۍ پښی وغوړوی اوپرکښینی دي. اوښځه
دی لکه په نورو لمونځو کی تورك دی کوي. **پوه سه**: چی داخلاف په اولویت کی دی
دذخیری پرطریقه خومبالغه په ستر کی دعورت رانځی لکن مد (کشول غوړول) درجلینو
وطرفته دقبلی بی ضرورته خلاف الاولی دی. اودمنیة المصلی پرمذهب دمذکور خلاف
الاولی نخه خوخلاص سو لکن مبالغه په ستر کی رانه غله، قال المصنف:

فَاِنْ صَلّٰى قَائِمًا بِالْاِيْمَاءِ اَوْ بِالرُّكُوْعِ وَالسُّجُوْدِ صَحَّ

که لمونځ وکړي لخ سړي په ولاړی لکن په اشاره درکوع اوسجدي. اویا په خودی رکوع او
سجدی سره لمونځ یې صحیح دی. د دی صحت وجه داده چی دولاړی په لمانځه کی کرخه

هم فرض د ستر العورة پاتہ سُو. لکن ارکان ثلثہ خو پرځای سوہ یعنی قیام او رکوع او سجدہ. لکن د ادلیل صرف په صورت کی د رکوع او سجدی کولو جا ری کیږی. نو د دی سببه په عجز، لائق کښی وایی چی ایماء په رکوع او سجدہ سره په ولاړه نده روا. ولی چی د ایماء په صورت کی خو صرف او صرف رکن د قیام حاصل سُو ارکان ثلثہ خو نه سوه حاصل. اوفقهاء په صلوٰة المریض کی وایی که چیری مریض پر قیام یعنی ولاړه قادر وو مگر رکوع او سجدہ په نه سوای کولای. نو لمونځ دی په ناستی پر اشاره سره وکړی. او ولاړه د ده څخه ساقط ده نو مریض ته ولی د ولاړی د اشاره په رکوع او سجدہ اجازه نه ورکوی فکذا ھٰھنا. واللہ علم بالصواب.

وَعَوْرَةُ الرَّجُلِ مَا بَيْنَ السُّرَّةِ وَمُنْتَهَى الرُّكْبَةِ حروی او که اوعورة د نرکه مړئ وی ما بین دی د نو بیا تر پای پورې د زنګانه،

پوه سه: چی مصنف پدې سره جامع عبارت وویلو. ولی چی د ده ما بین السرة څخه د ا معلومه سوله چی سُرة یعنی نُو عورت نه دئ. او د منتهی الرکبة څخه د ا وفهمیده چی زنګون عورت دئ او په حدیث شریف کی هم را غلی دی چی. اَلرکبةُ مِنَ العَورَةِ، او د ا هم ظاهر روایت دئ.

پوه سه: چی عورت په لغت کی هغه شی ته وائی چی بنکاره کول یه بد معلومیږی. او په شریعت کښی هغه ځای ته بلدن وائی چی پټول یه فرض وی. لکه مصنف چی وینو په نر کی چی ورته عبارت د حدیث نبوی هم دئ. **پُوښتنه:** مصنف لفظ د رجل د وایه رجل خو په لغت او شرع کی هغه چا ته وائی چی مَرانی وهلی وی نو د نابالغ د پاره عورت نسته که څرنګه؟ **جواب:** په سراج کی وائی چی کشنئ چی بیخی کشنئ وی هغه لره خو عورت نسته او مسه کول یا کتل د نا یعنی کنا یتو او د مخ د خوا یعنی ذکر ته روا دئ. ولی چی په بعض فتاوو کی را غلی چی آنحضرت صلی اللہُ علیه وسلم په دیر کشنی والی کی د امام حسنؓ او امام حسینؓ ذکر بی کشاوه او دوی یه خندله، ط،

مسئله: کشنی چی د لږ اشتها وحالت نه ور سیږی بیا چا ته مسه کول یا کتل د کنایتو یاد ذکر ی یاد ذکر نه د ی روا په علت د شهوت نه په سبب د تکلیف شرعی. فتامل فی الفرق.

مسائل کشف العورة علی ما نقل البحر عن الظهیریه

پوه سه: چی حکم د عورت په زنګانه کی سپک د ی تن و رانه نو بناءً علی هذا که سړی یو بل څوک ولیدی چی زنګون یه لخ کړی وو. نو د ی منع کړی په نر ی سره یعنی و رته وو وائی چی دا زنګون د ی پټ که چی عورت د ی. او که هغه د ده خبره نه و منله نو نور نزاع د ی نه و رسره کوی. او که د یوه سړی ورون لخ وو نو منع د ی کړی په سختو الفاظو مثلاً. نه شرمیږی چی ورون د ی لخ کړی د ی. او که هغه د ده خبره و نه منله وهی د ی نه. او که د چا کُنه لخه وه اول د ی په سختو الفاظو انکار پر وکړی او که هغه د ده و خبری ته غوږ و نه نیوی ادب د ی په ضرب وهلو ورکړی کی طاقت وو، یعنی نور فساد نه ځند ی پیښیږی. او که چا ولید ی چی یو سړی ما بین د، نو، او د سپو خځی لخ کړی وو. نو اول خو د ی په نر ی و رته و وائی چی دا ځای د ی پټ کړه. او که هغه و نه منله نو بحث د ی و رسره وکړی. او که هغه پرد غه کشف العورة تهنګ سُو. ادب د ی د و هلو نه ورکوی. که څه هم پر قادر وی ولی چی د د ی په عورت والی کی اختلاف ستنه. چی امام فضلیؒ وائی چی دغه ځای عورت دنه د ئ. ولی چی مزدور کاره خلګ د د غه ځای په لخولو سره عادت د ی. که څه هم قول د فضلی ضعیف د ئ. ولی تعامُل د خلګو پر نا روا شی دلیل د جواز نه د ی. مثلاً په اکثره اسلامی نړۍ کښی سوا د افغانستان په اوسنی حالت کی چی امارت اسلامی د طالبانو پر ۹۵ فی ۱۰۰ مسلط د ی. د ډیری ځریل رواج د ی نو په د ی د واج سره خو د ډیری ځریل نه روا کیږی.

وَتَزِيْدُ عَلَيْهِ الْأَمَةُ الْبَطْنَ وَالظَّهْرَ اوزیاته وی په پټولو کی مینځ نس څیل اوشا. یعنی د نر عورت خو د مینځی هم د ی. لکن د مینځی د ا د وه ځایه پرته نور یات د ی. په عورت والی کښی. **پوه سه:** چی پر مذهب د امام اعظم مینځه عامه د ه که صرف مینځ و ی. یعنی د خدمت د پاره و ی یا د خرڅولو د پاره و ی. یا ام الولد وی یعنی د بادار څخه لنګ سوی و ی. یا مکاتبه وی یعنی چی د باداں و رته وئیلی وی چی

دوه روپی ړاکړه نوته آزاده یه - اویا مُتعاته وی یعنی چې ددوو کسانو مینځه سره شریکه وی هغه یوخپله حصه آزاده کړي - اودوه روپی نورلري چې دهغه بَل شریک حصه هم آزاده کړي. اوهغه بَل شریک دمنځې څخه داوَغواړي چې ته کوشش وکړه یا په مزدوري یا په فقر زما دحصې پیسې ړ ابرابرې کړه.

پوه سله: چې تخصیص دقول دامام اعظمؒ په "مُعتقة البعض" کې دی. چې امامؒ یه مینځه نُولی. دې پیسو وړ کولو ترڅو ختم پُورې اویا ران وَاپۍ داحرّة ده - لکن پُورته وړې نه نوبیا ددوی په نیز عورت ددوی عورت دحُرې ښځې دی. قَالَ المُصنفؒ

وَجَمِيعُ بَدَنِ الْحُرَّةِ عَوْرَةٌ إِلَّا وَجْهَهَا وَكَفَّيْهَا وَقَدَمَيْهَا

اوټوله بدن دآزادې حرې ښځې عورت دی یعنی پټول یه فرض دي. مګرمخ ددې اووړغوی ددې. اوپښې ددې چې دادری عورت نه دي. ددې دغه اعضا چې عورت نه ګڼل کیږي په سبب دضرورت،

مسئله: په هجر رائق کښې وَاپۍ چې دښه عورت والی ددغو اعضاوو معنا دانه ده چې ترانوته کتل ورته ړوادي. بلکه جواز دکتلو مشروط دی په دی سره چې بیره دشهوت به هم نه وي. نوڅکه کتل نه دی ړوا ومخ ته دځوانې یادښائسته هلک که څه هم عورت نه دی هلته چې کتونکی شک وی په شهوت کی. کذا فی شرح المنیته. قَالَ مشائخنا چې په اوس زمانه کی چې فتنې ډیرې سوی هم دځوا نو ښځو دخوا. اوهم دښه نه دخوا. نوڅکه ښځه منع ده ددې څخه چې مخ خپل دنرانو په مابین کی ښکاره کوی لکه مکتبیان، او اسکولیانی ځوانانی ښائسته ښځې چې کوی.

پوه سله: چې بازوه حُرې ښځې عورت دی په نیزد امام اعظمؒ، مَراقی وایۍ چې داروایته ډیر صحیح دی. اوپه بَل روایت کی دامام اعظمؒ داسی راغلی چې نه دی عورت داروایت د منتقی واختاره عبد الله البلخیؒ ط، م، والی روایة البلخیؒ ذهب صاحب الاختیار، ولی چې حاجت ښته. دکشف دهغه په وقت دخدمت دکور.

والفتوی علی ما نقله الکمالؒ عن بعض المشائخؒ: چې ذراع عورت دی په لمانځه کی لعدم الضرورة الی کشف فی الصلوٰة ولیس بعورة خارج الصلوٰة للضرورة. اوزاهدیؒ وایۍ چې کشف مانع دجواز دلمانځه نه دی لکن کشف یه مکروه دی. **پوه سله**: چې مصنفؒ په مَراقی کی وایۍ چې دلیبنود حُرې ظاهر اوباطن دواړه عورت نه دی لعموم الضرورة **مسئله**: ولیبنتانی دحُرې ښځې عورت دی حتی هغه ولیبنتان چې لاندې څرپیږي په اصح روایت کښې. وعلیه الفتوی. وعلی هذا کرځلرمه دولیبنتانو دی که لخانه وی لمونځ یه نه دی صحیح **مسئله**: ټرته نه دی ړوا کتل وهغه ولیبنتانو ته دښځې چې دی څخه پرې سوی وي. اولبعض فقهاءؒ وَاپۍ چې مقطوع ولیبنتانو ته دښځې کتل ړوادی لکه وینو یا ناروته ددې. **مسئله**: په ډیرو کتابو کښې دفقهی شریفې وایۍ چې آواز دښځې عورت دی لکه په باب الاذان کښې چې تیره سوه - دی عورت والی بعض نابوه کسان داسی معنا کوی چې دبیګانه ښځې سره نفس خبرې نه دې ړوا. لکن دا معنا صحیح نه ده. امام مقدسیؒ دامام قرطبیؒ څخه نقل کوي اودی وایۍ چې مونږ روا ګڼو خبرې دبیګانه ښځو سره او مجلس ورسره په نیزد ضرورت. لکن ړفع دصوت آواز ددی روانه ګڼو. اوبدلی غزلی ددی روانه ګڼو. ولی په دی سره په حرکت ړ انځی شهوت دنرو،

مسئله: په اوسنی وخت کښې یوه طائفه سته چې مَسلیان یه ګڼو. نریه شوقیان ګڼی هغه هم غزلی وَاپۍ. اوښځې یه هم بَدلې وائۍ. حتیٰ چې بعض په ظاهره صوفیان خلک چې دزوی یا دورور یه واده وي. نودنرو میلمنو دپاره شوقیان ړ اوڼې چې په شپه تیرو لوسره تخمیناً درې زره کالداري پاکستانی ورکوي. اودښځو دپاره ښځې دغه قوم راوڼې چې ترسحاره پُورې غزلی اوبدلی وَاپۍ. اودګویا په ذریعه ټوله کلی اوکوڅې ته ددغو ښځو اوازونه رسیږي. اوهغه کسان چې ظاهري صوفی ګرت نه لري هغه خو دغونړو اوښځو ړ اوستل لازم ګڼي. محترمو دا سخته ګناه ده او ټوله خلګ چې ددغو ښځو غزل اوبدلی اودی ګناه یه دواده والا په غاړه ده.

ته فکر وکه: چې اذان. سره ددی چې ذکر دی وښځې ته ناروادی. اوتلبیره ویل په

بلند آواز همرو ښځی ته ناروا ده. نوغږ لې اوبدلی چې سراسر فسق دی څرنګه په رفع الصوت وښځوته روا وی. یا بې نرو ته اوریده روا وی: چوکفر از کعبه برخیزد کجا ماند مسلمانی؟

پوښتنه: چې دښځی مخ لاسونه او پښې عورت نه دې. نوولی امارت اسلامی په افغانستان کی وځوانو ښځوته یا مراهقو اینجونوته اجازه درکړې چې پښې ونه ښکاره کړي. اوسره ددې چې دغه ښځی چې مکتبونه ځي نورځما یوه نه چې عورت دې نه ښکاره کوي. اوبله خبره داده چې ولې امارت اسلامی دپوونده وو پر ښځو ورته بندیز نه لګوی.

جواب: تاریخ واوریدل چې زمونږ مشاځو په اوسنۍ زمانه کی چې فتنې پیړی سوی آه نود غږ ښځی چې ښکلو ښځیونه ځي په کور کښې دسر وپښتانو غوږ کړی اوږدې یه کی. اوپرمخ باندی سپین واسلین هم ومومږی. نوکه دوی په لخ مخه مکتب ته روانیږی نوخوف دفتنې دشهوت خو پرې ده عیناً شهوت په نرو کی هم پیدا کیږی. اوپه دوی کښې هم چې بنه ځوانان بناځسته نروونې مونږ لیدلې دی چې دغه ښځی چې په پاکستان کی ښکلو ښځیونه روانی وې. اونران پرروډو خرڅ ناست وی بنه تر دیره پرې دغو ښځو پسی ګوری. اوپه اسکولو کی دغه ښځی اوهلکان یوځای زده کړه کوي. اوبعض اوقات عشق بازی هم په مابین کښې دوی پیدا سی. البته ښځی د تعلم حق لری هغه دا ډول چې ښکلو ونځی دوی به دنرو څخه جلاوي. اوښځی به په محفوظ لباس. سرولباس کښې را تولوی اود ښکلو ونځی په دروازه کی بې کښته کوی د تعلیم ورکولو سره. لکن امارت اسلامی افغانستان په موجوده وخت کښې چې د دیرو ستونځو سره مخامخ دې. اودنیا والو پر دوی افغانستان یسوه الغه کړی دی او قسم قسم بندیزونه یه پرلګولی دي اودخلاسالی له کبله هم د دیرو ستونځو سره مخامخ دی، نودونه توان اوطاقت نه لری چې اینجونو او ښځو دپاره دی فوق الذکر تعلیم او تعلم اود تربیې دپاره دښکلو ونځیو روانی وجلوته اوښځوته خلاصی کړي.

اوپاته هغه **مسئله** چې د پوندو پر ښځو باندی ولی بندیز نه لګوی د هغی مسئلی جواب دادی چې دپوونده وو ښځی په سپیرو پښو په تورو مخانو په خیرنو کالو کښې په اوښانو

پسی روانی وې. نوهغه ښځی که په سوو په لخ لخ مخ په دښتو کی ګرځی نران ورته ګوری لانه. شهوت خو پرې نه ده » داوو ننظر د درولیش چې وحضورته سوال کوونکو پیش سو.

د بین المللی اداری څخه شکایت

دا اداره ددی دپاره قائمه سوی ده چې په ټوله نړۍ کی د ظلم، اوبربریت، اوکشت خون، اود لوټی اوغریبی اودبدزی مخ ونسي. دامنشور ددی اداری دی. اوس په دې ځای کی **پوښتنه زمونږ اداره**: چې یوغریب خود مختاره مستقل مملکت چې افغانستان دی چې تخمیناً ۲۲ کاله دروسانو د یرغل را ایسی. په لکوشهیدان یه ورکړه. اوپه لکوجریحانو محکی یه دروسانو د بې صرفی بمباری دلاسه وجاړې سوی. اوپه لکوښځی یه کنډو یانی سوی. اوپه لکوتنکی نراوځونی یه بې پلاره اوبې سرپرسته سوې. اوتخمیناً ټوله کاریزونه اوولی یه ورانی سوې. اوپه زرو بلکه په لکوافغانان یه پردی وطنو کښې دمهاجرت په ذلیل ژوند تیره ولوسره مبتلا سوه. وهکذا انورۍ اونورۍ خرابی چې دنیا وال ټوله په خبردي. داخوکالرد مخه چې خدای ﷻ سلطانانه د افغانستان د خلکو عجز اونیاز او غریبی دلیرۍ کولو اراده وکړه. نودیوی دیرۍ غریبی طبقی چې د طالبانو په نامه یادیږی. په زړو کښې دامنکوره پیدا کړه. چې دګران وطن افغانستان څخه را بې امنی اوبې قراری چې نهایت درجې ته رسیدلی وه. لیرۍ کړي. هغه ووچې د غه طالبان دجرو اومدرسو څخه راوو تل اودا پاخون اوتحریک یه شروع کړی.

په ابتداء کښې د تحریک به خلکو اوجهانیانو پوری خندل چې ته داغریبه، بې وسله اوبې یاره اومددګاره څه وګوره چې دوی د افغانستان دامنیت راوستلو قصد کړی دی. لکن دایه نړوه اوویدلی، برفلک برتر بود اسرار او: شیئاً لله شیئاً لله کار او: خودی تحریک په دیرۍ چټکی سره د خدای ﷻ وعلا په توفیق سره پرمخ تګ شروع کړی حتی چې د زرو قربانی په ورکولو سره هم دا اوس پر ۹۵ فی ۱۰۰ د قبضه د افغانستان قابض دی اوعام اوتام

امنیت یه په هغوځایو کښې چې ددوی تر وَ لکه لاندې را غلی قائم کړي. نوشکایت دا وي چې ولې بین اللل دوی په رسمیت نه پیژني. اود افغانستان چوکی ولې دوی نه سنه سپاري. اود افغانستان په یوه کُنج کې چې ۵ فی صده غَرَنی سیمې په ولکه کې لري دهغو مشر په رسمیت یعنې د ټیس جمهور د افغانستان پیژني. اود افغانستان رهبر چوکۍ یه هغه ته سپارلې ده. نو دا ټول کار ددوی د منشور څخه خلاف نه دی! اوبین العلل په یوه بهانه په اشاره د امریکا دَ خپل منشور خلاف دغه کار ونه کوي. برین عقل ودانش ببایدگریست: بلکه بالعکس په نامرد صلح راوستلو د افغانستان اور لا تازه کوي. گویا ددوی د صُلحې اوبه ندي چې پر افغانستان یه پاتې. بلکه په حقیقت کې پټرول دي.

دَ اسلامي مملکتو څخه اِسلامي ګیله

د طالبانو تحریک چې په افغانستان کښې د پای تخت کابل پرنیولو بَرَبالی سُو. نو دا اسلامي حکومتونه څخه سعودي عربستان، عمارات متحده عربیه، اوپاکستان ددوی حکومت په رسمیت و پیژندی. اومادي اومعنوي مرستې یه ورسره شروع کړي. نور اسلامي حکومتونه سره ددې چې اِمارَتِ اِسلامیٔ اَفغانِستان په موجوده وخت کې پر ۹۵ فی صد باندې قابض دی اود شریعت غَرّاسره موافق حکمرانی کوي. بیا هم ددې حکومت د رسمیت پیژندلو څخه پته خوله ناست دي. خوك د امریکا په مراعات او خوك د روس په مراعات، نومونې د اګیلې لروچې اخیر تاسې خوهم ښه پوهیږی چې دَ طالبانو دَ تحریك امارت اسلامي حکومت دی. او سیکولر حکومت نه دی. بلکه حتی المقدور د شریعت نبويؐ او قرآن عظیم الشان پر بنیاد حکومَت دی نو څه عذر تاسې لری چې دا حکومَت په رسمیت نه پیژنی. آیا تاسی هم عذر هغه دغربیانو دی.

دَ رُوس دزړه بَه څوك پُیره وباسِی

دنیا والوته دا معلومه ده چې د طالبانو اسلامي حکومَت په وار وار کَرا تومَرا تو دا اعلانونه په خبرې منابعو کښې خپاره کړي دي چې زمونږ حکومَت د هیڅ حکومت سَره کَه ګاونډی اوکه غیر ګاونډی وي.

هیڅ داسې عداوت نه لري. چې هغه دی سَبب دحملې زمونږ وګړي پرهغوباندې. اونه موږ د هیڅ حکومت پر داخلي چارو کښې لاس وَهو. او بین المللي قوانینوته چې د اسلام دچوکاټه وتلې نه وي وفادارې یو. لکن سره ددې د روسانو ناري دي چې د طالبانو حکومت وَ اَسیا ته لوی خطر دی" بلکه ټولې نړۍ ته خطر دَی.

د روسانو دا نارې" د ری سببه کیدای سی. اول دا چې چونکه افغانانو څوکاله مخکښې روس ته شکست ورکړی. او دَ خپل هیواد څخه ئې وشړلی. او په نتیجه کې هغه ټوله اسلامي مملکُونه چې روس ۷۰ کاله ترخپیتې لاندې کړي وَه. دا زادي نعري یه پوره ډَ کړي. او روس هم مجبور سوَ ټولو ازادي منظوره کړي. نو دا اوس په بهانه دخطر د حکومَت امارت اسلامي د طالبانو دی دَغه اسلامي حکومتونه بیره وی. او فوجونه په کښې ځای پرځای کوی په ظاهره خوواپئ ... چې زه تاسی د طالبانو د خطر څخه سائم او په حَقیقت کښې غواړې چې دَغه حکومتونه بیرته ترخپلې ولکې لاندې راوَلی. آوازونو یه" اتحاد شوروی جوړکړی. دوهم چونکه روسانو پخپل تمام قدرت یعنی تریولک بالا سور فوج په راوستلو سره. چې توغندی، جنګي طیاری، توپ برداره طیاری هم ورسره وی او قسم قسم خَرابوونکی هم ورسره وَه او راکټان، او نور ټوله جنګي آلات هم ورسره وه پرافغانستان یه حمله وکړه. او هغه وخت کې ترنیمې ډیرې افغانستان خلګ یعنې خلقیان او پرچمیان ددوی طرفداره وه.

افغانستان یه ترخپلې قبضې لاندې راوستې. د روس دا خیال ووچې په دوهم ګام به پاکستان قبضه کوم. او تر دریابه به ځان رسوم او د خپل لوی غلیم امریکا سَره به جنګ کوم. لکن سره دَ هغه قدرت کامله د روس یوځو محدود کسان په افغانستان کې باشجاعته تر ځان تیریدونکی خدای پاك په مقابل کې دیوه لک سره فوج چې مُجهز په ټولو تجهیزاتو سره هم وو. ودریدَه. اول د جَهاد او جنګ نقشه داوه چې په بوتلانو بې ددوی تپانګونه ویشتل او عسکر ددوی بې وَژل. او یا په نیرائ تو بنګ چوبې ددوی سَره جنګ کاوَه. تورستی عملیات یه هَم شروع کړه رفته رفته دغه محدوده ډله روز افزون

مخ پر ویر یدو سوه. اود اسلامی اوغیر اسلامی حکومتو دَخوا څخه ودوی ته پلیشر زیر
اسلحه حتی سکټ توغندی، په لاس کښیوَ ته. پس له څوکالو خونړیو جګړو یو. اود روس
دبی زړه سوی حملو او بمبارَیو روسانو د خپلی کامیابی اُمید دَلاسه ورکړی اوهر
په وَرځ په وَرځ مخ پر کښته کیدو سُو. هغوو په دې شَرم اوحیا گران
وطن افغانستا ن یه پریښو. نودروسانو هغه بیره په زړه کی وه چی په هوډمن
کی تر نیمایۍ بالاد افغانستان زمونږ طرف دَاره وَه. لاهم مونږ شکست وخوړ
اوترډنیا والو پوری موسَترګی کښته سوی.

اوس چی ټوله افغانان سره یو مَټی دی نوکه دجنګ اسلامی بیرغ پورته کړی زمونږ
یخه حال وی، ژَرَیمر: روسانو چی داچتک رفتار د طالبانو وَلیدی په افغانستان
کی، نودوی ته وَهم پیدا سُو چی که چیری پر آسیا باندی حمله وکړی. نو به هوډ سره
ورته تیز رفتاری سره پرمَاسکو راچاریږه سی.

خَبَر تیا

روسان گاهی گاهی داسی اعلانونه کوی چی مونږ پر نظامي ځایونو د
افغانستان حمله وکړو. رُوسَان دی پوه سی. چی په داسی
پټکو پیش رَوُو افغان قوم نه بیریږی. افغان قوم بی یاره مددګاره نه دی، کداچیرته
فرضًا دوی وکړی ودوی ته به په لوی ضرر تمامه سی. اوشاید جنګ جَهانی سوره په
حُنډی جُوړسی. اویا به روسانو بیخ کنی وَسی.

امریکا دِی هم په ګریوان کی وګوری

اوهغه وخت دې ور په یاد کړي چی څه
وخت چی شوروی اتحاد پر خپل ځانی
وُو او امریکا په ټوله نړۍ کی دهیڅ چا

دونه نه بیریدَی لکه دَشوروی څخه، اوهغه وخت چی شورویانو پر افغانستان برغل وکړ
اوتر یو لک بالا فوجونه یه ورته راوستَل اوپه سَوو توپ داره هیلی کاپټرونه یه
ورته راواستَول. اوغټی غټی وسلی او بَمَان یه راوَچلوَل. اوهوائی میدانونه
یه جوړکړه. په دی وخت پر امریکا باندی بحرانی حالت جاری سو او پوه سوچی شُورَوی

اتحاد په دوهمه ګام کی تودو اوبوته ور اور سیدې، اود امریکا بقاء په خطر کی ده
نو یه دافغانانو په غاړه کی لاس ور واچاوه، اودوی ته ئی اسلحه رامخ کړه اومجاهدینو
اومهاجرینوته یه دهرقسم تعمتونه یه رامخ کړه.
حتی په اول وهلت کښی دهجرت دهرکور لوی اوکشنی نر و او بنځو ته وفنر
۵۰ کالداری پاکستانی یه ورکولې، اوبنی بنی خیمی اوشړی اوکمبلی وغیره یه
ورکولی، په دی دول امریکایانو دافغانستان خلګ دشوروی ویانو وَمخ ته سَپر
وګرځولَ، اوددوی وطن افغانستان یه دروسانو دبمبارۍ ځای اونښان
وګرځاوه. خوبالآخر امریکا په دی پالیسی کښی کامیابه سُو اوشوروی یانو
افغانستان پریښو. بلکه نور هم دامریکا ډډه په روسانو خنګ سو. چی شوروی
اتحاد دړی وړی سو. اوامریکایان بیغمه سو. بلکه په همت دافغانانو ایستل
دروسانو اوسړه پاشل داتحاد شوروی امریکایانو ته دتولنی نړۍ مشرتوب
اوحاکمیت ور په برخه کړی، نواوس چی ده طالبانو امارات اسلامیه حکومت
دپنځو کلو رایسته چی پر ۹۵ فی صد مسلط دی اوتام امنیت چی دملک دپاره
لوی نعمت دی قائم دی.
ولی امریکا دادولت په رسمیت نه پیژنی او ولی دافغانستان خلګو دوجاړه
وطن پرآبادی دوکی لوی وننه ناخلی. اوولی دمظلوم ملت دافغانستان
پرستنځو دشفقت څخه کارنه اخلی،
کهمک خو پریږده، ولی پر مظلوم اوبیوزله خلګو دافغانستان قسم قسم
سیاسی بندیزونه لګوی. اوولی دافغانستان خلګ یه په دی بندیزونو
سړی دلوی کړاوونو سره مخامخ کړی دی. یکاهی اسامه بن لادن بهانه کړی
اوګاهی دبنځو حقوق بهانه کړی. اوګاهی نه شی ټوکی بهانه کړی
اوپه دی ولی عمل نه کوی، نواخته رانبایی انداخت، اوولی ده روس
سره چی پخواد امریکا لوی دښمن وهم نوا او هم صدا سو دافغانستان

په باره کښی ،، دیگر چه بگویم و به که بگویم ،، خدای پاک یار و مددگار حکومت امارات اسلامیه افغانستان باد ،،

تنبیه: درویش رحمه الله وائی که څه هم دطالبانو د تحریک غړی نه مایا شاگرد ان دی یا د شاگردانو شاگرد ان دی وَهُمْ جراً لکن داگمان دی څوک نه کوی چی دغه فوق الذکر شکایتونه یا گلی یا تنقیدونه چی ما وکړه نه د تحریک د خواپر دغو بیاناتو گمارل سوی وم بلکه :

دا درویش د خپل وجدان عمدیده قصی وی تحریک والا به هلته په خپریدو چی دا کتاب چاپ سی ،، نو امکان لری چی درویش بعض اظهارات د دطالبانو د سیاست سره توفیر ولری ،،

دیا و ال دی دهغه بیان پرته پر طالبانو نه اچوی ،، بلکه درویش فقط وفقط خپل شخصی نظر او د زړه جوش د قلم په نوک تحریر کړی ،، مطلب می دا دی چه درویش که څه هم په باطن کی د طالبانو د تحریک بلاعوض وغرض وفادار او تهینگ ملاتړ لی یم ،،

لکن په ظاهره د تحریک طالبان په دغه حیثیت مانه پیژنی ولی چه په هیڅ اجتماع عمومی کښی د دوی درویش ته دعوت د گډون نه دی ورکړی سوی او شاید د دی سبب به هم دا وی چه طالبان خبر دی چی درویش سپین څ ی سال خورده ده - ۸۵ کلو سړی ولی تکلیف ورکوو ،،

او درویش که څه هم فی الحال په کوئټه پاکستان کښی اوسیږم لکن چونکه زما د ری زامن په قندهار کی خپلی خواړی کاڑی لری نو زه هم په کال یوار یا دوه واره قندهار ته ځم او هوری خپل لمسیان او زامن وینم او گاهی نا وخته گاهی بالا یا کم په قندهار کښی عقید تمندان او نور شناخته گان دوستانو سره زما په کور کښی ملاقاتونه وکړی ،، لکن هیڅ رسمی حکومتی دائری نه تر او سه نیم ورغلی او شاید د دی سبب به هم دا وی ،، چی دوی په خپلو حکومتی رسمی

کارونو کښی مصروف دی - نو ولی وخت نه ورضائع کوی - نو شپی پوره کړم بیرته کوټې ته راسم.

د رولیش قبل شروع تحریک الطلبة پخپل جامع مسجد کښی په پرمستعرق درس اخته و وچی روزانه به د ۴۰۰ خلور سو و طالبانو په شاو خوا کښی درنده کړی د پاره زاتله - چی تحریک شروع سو - درولیش تعلیمی اداره بنده کړه إلی یومنا هذا -

پوښتنه: داد ثواب کار چی درس وو او تا بند کړی د هغه په عوض کښی بل د ثواب کار هم کوی.

جواب: هُوَ. کوم رپه د قلم دلاری د طالبانو او د قوم خدمت کوم. پرگرانو کتابونو حواشی ،، او بعض رسالی په مهمو مسئلو کښی ، او بعض عربی ضروری کتابونه د عقائدو ، او د فقه پښتو ته ژباړل. وَمَا تَوْفِيقِي إِلَّا بِاللهِ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيبُ.

يقول الفقير بعد الجمل المعترضة نَرْجِعُ إِلَى شرح الكتاب ،، قَالَ الْمُصَنِّفُ.

وَكَشْفُ رُبُعِ عُضْوٍ مِنْ أَعْضَاءِ الْعَوْرَةِ يَمْنَعُ صِحَّةَ الصَّلٰوةِ

اولخ والی د خارجی حصی دیوه اندامو څخه د عورت منع کوی صحیح والی د لمانځه. مصنف په مَراقی کی وائی که هغه عضوه که عورت غلیظ وی او که خفیفه وی که د نرو وی او که د ښځی. په شرط د دی چی پټتون نکی پاک کالی موجود وی. او تر ربع کم خو مانع د صحت نه دی که څه هم کشف یه مکروه دی. **پوه سه:** چی د الخ والی د ربع ملته مانع د صحت د لمانځه دی. چی اندازه د اداء ده یوه رکن وی که څه هم کشف رکن وی. لکه رکوع مثلاً په ولاړی کی چی طویل رکن دی د ربع د عورت په قدر د رکوع لخه سوه لمونځ یه نه دی صحیح. او دا مذهب دی د امام ابو یوسف ،، او په نیز د امام محمد حقیقةً اداء د رکن معتبر دی مثلاً کی په رکوع کښی د ربع د عورت لخه سوه تر ولی د رکوع ته اعتبار دی ،، او که په ولاړه کښی د ربعه د عورت لخ سوه تر ولی ولاړی ته اعتبار دی. والفتوی عَلَى قول ابی یوسف للاحتیاط ،، ط ،، او منیة المصلی وائی چی اداء د رکن سره د سنتو شرط دی ، او شارح المنیة وائی چی هغه اندازه د دوه تسبیحاتو دی.

اوبعض فقهاءؒ وائی چی د احکم هلته دی چی کشف دعورت بیله اختیاره د مُصلی وی اوکه چا ته د عورت په قصد لخه کړه لمونځ یه فی الحال فاسِد شو یعنی اندازه د رکن یا حقیقتِ رکن نه غواړی بلا خلافٍ.

قهستانی عن المنیة وغیره فی البحر الی القنیة. وجری علیه صاحِبُ الدر، لکن په بحر رائق کی وائی چی دا قید غریب دی. اومذهب اطلاق دی. یعنی چی قید د بلا قصد غریب دی. اوصحیح مطلق لخ والی دی د ربع د هغه عضو دی چی عورت وی که په اختیار که بی اختیاره وی. **پُوه سَه**: چی امام طحطاویؒ په دی ځای کی د کشف العورة یو عبارت وئیلی دی چی امکان لری چی بعض اذهان قاصِره دی د هغه په مطلب نه پوهیږی. نو دی سَبَبه د هغه عبارت الفاظ اومطلب بیانوم. قال واعلم ان الانکشاف الکثیر فی الزمن القلیل لا یمنع، مراد د انکشاف کثیر څخه هغه دی چی په قدر د ربع د عورت وی. اومراد د زمن قلیل څخه هغه زمانه ده چی په قدر د اداء د رکن نه وی مثلاً د سَړی د ربع العورة لخ سوا وبا العورة یه پټ کړی: قولُه لا یمنعُ - یعنی نه منع کوی صحت د لمانځه. قال کالقلیل فی الکثیر، لکه چی نه منع کوی صحت د لمانځه لږ لخ والی یعنی چی تر ربع کم وی په دې زمانه کی مثلاً د سَړی په لمانځه کی یو جزء وی ځای تر ربع د عورت کم لخ سوتو دې ډیره زمانه لخ وو یعنی تر اداء د رکن بالا لمونځ یه صحیح دی. قال ویمنع الکثیرُ فی الکثیر. اومانع د صحت د لمانځه دې انکشاف کثیر چی ربع قدر وی په دې زمانه کښی یعنی تر اداء د رکن بالا. **پُوه سَه**: چی اعتبار د څلورمی د عورت مذهب دی د امام اعظمؒ او امام محمدؒ او ابو یوسفؒ والی چی اعتبار اکثر د اعضاوی دی یعنی کی اکثر د عضو عورت لخ وو. لمونځ یه نه دی روا. اوکی تر اکثر د عضو العورة کم لخ وو که څه هم تر ربع العورة بالا وی لمونځ یه روا دی. والاحتیاط فی قولهما کذا فی المنتقی ودر.

د عورت تحقیق

پُوه سَه: چی زنګون سره د ورانه یوه عضوه ده فی الاصح. اوبعض علماء وائی چی رکبته

جلا عضوه ده او رکبته جلا. اوکښته بند دلاس د ښځی تبع دباندی دی. یعنی دا دوه عضو واحد دی. اوخنګل د ښځی تبع د مړوند ده یعنی دا عضو واحد دی، او بجلکه د ښځی تبع د پنډی ده.

اوغوږونه د ښځی د سر څخه جلا عضو مستقل دی. اوسر یه جلا عضوه ده د ښځی، اود ښځی تی چی کښته خُړپیدلی وی لکه د میږه والا ښځی عضو مستقل دی. اوځیګر یه جلا عضوه ده. اوکی تی جګ ولاړ وو لکه د پیغلی جنلی هغه د ځیګر تابع دی یعنی دوارو یوه عضوه ده. اوذکر د نر جلا عضوه ده. اوخوتی د نر مستقله عضوه ده. په صحیح روایت کی اوبعض فقهاء وائی چی غټ اوخوتی مجموع یو اندام دی. اومابین د نوترسپوڼی پوری یو عضو کامل دی شا وخوا. اوهر کنا تی جلا عضوه ده. اوګنه جلا عضوه ده فی الصحیح. اوبعض علماء وائی چی مجموع یوه عضوه ده» کذا فی المراقی مع زیادةٍ «در» قال المصنف:

وَلَوْ تَفَرَّقَ الْاِنْكِشَافُ عَلٰى اَعْضَاءٍ مِّنَ الْعَوْرَةِ وَكَانَ

که چیری جلا جلا وو لخ والی پراندامو د عورت مثلاً یو څخه حصه د فرج د ښځی لخه وه. اویو څه

جُمْلَتُهَا تَفَرَّقُ يَبْلُغُ رُبْعَ اَصْغَرِ الْاَعْضَاءِ الْمُنْكَشَفَةِ مَنَعَ وَالَّا فَلَا

یه شا لخ وه. اویو څه یه وړون لخ وو او یو څه یه پونډی لخ وه. او دا ټول لخ ځایونه چی جمله یه کړی تر څلورمی د هغه کشف د اعضاء منکشفه پوری رسیدی منع کوی صحت د لمانځه مثلاً په مثال مذکور کی دا مجموع لخ ځایونه څو څلورمی حصی د فرج رسیږی او د ښځی لمونځ نه دی صحیح، اوکه څلورمی حصی د کشف اندام ته رسیدلی مانع د لمانځه نه دی یعنی لمونځ د ښځی روا دی. مثلاً یو درهم قدر یه یو کناتی لخ وو او یو درهم قدر یه بل کناتی لخ وو. اویو درهم قدر یه شا لخ وه چی د دی ټولو څخه د کناتی یا د ملا څلورمه نه جوړیږی لمونځ یه روا دی. قال المصنف...

وَقَدْ كَتَبَهُ بِقَلَمِهِ اَحْقَرُ فَضْلِ الْحَقِّ حَقَّانِی مدرس بجامعة تجوید القرآن کوئٹه

وَمَنْ عَجَزَ عَنْ إِسْتِقْبَالِ الْقِبْلَةِ لِمَرَضٍ أَوْ عَجَزَ عَنِ النُّزُولِ

کرخوك عاجزه سود مخامخ کیدو څخه دقبلی شرېنی یعنی پخپل قدرت سره په سبب ناجوړ

عَنْ دَابَّتِهِ أَوْ خَافَ عَدُوًّا فَقِبْلَتُهُ جِهَةُ قُدْرَتِهِ وَأَمْنِهِ

اویا عاجزه سود راکښته کیدو څخه دهغی دابی چې دی پرسپورو یعنی پخپله اویا راکښته کیدای سوای. لکن دابه په سر کښنوه اویا دی سپین بږیری وو چې پخپله بیا نه سوای سپری دای بیله کومکی. اویا ددښمنه څخه ببریدی. که هغه ددښمن انسان وی اوکه درنده وی. او بیره په پرځان وه یا پردابه وه. یا پرمال وه. اویا پریوا مانت شوچې دده سره وو. اویا دی تښتیدی ددښمن څخه سپور، پس قبله دهغه سړی هغه طرف دی چې دی قدرت پرلری. داخو په ماسوا کی دخائف داجهت دی. اوپه خائف کی هغه طرف دی چې دی په هغه خوا مخ کرخولو کښنی په امن وی. ددښمن څخه،

مسئله: که څوك ببریدی چې مابه د ښمن وو ینی کړنه لمونځ په ولاړی وکړی نو دی دې لمونځ وکړی. اوکه ببریدی که لمونځ په ناستی کوم د ښمن می وینی لمونځ دی په پروتی وکړی په اشاره سره وجهت ته دامن وکړی »

مسئله: که څوك پرکښته کیدو دابی یا پرسپریدو ددابی مثلاً قادر وو په کهك دبل سړی اوبل سړی هم ووچې دده سره کهك وکړی. امام اعظم ابوحنیفه دی قادر نه بولی په قدرت د غیر. لمونځ یه روادی. اویاران وایی چې قدرت دغیر معتبر دی حتی چې دی قادر دی لمونځ یه نه دی روا. اوکه څوك کهکی نه وو لمونځ یه په اتفاق سره روا ده. **مسئله**: که څوك ددښمن څخه تښتیدی پیاده لمونځ یه نه دی روا.

مسئله: که سپاره سړی چې پرنزول نه ووقادر دابه لکن دابه یه در ولای سوای نو دی دې په اشاره لمونځ وکړی او دابه دی ودروی. اوکی نه سوای در ولای نو دابه دی روانه وی لمونځ دی په اشاره وکړی. اومخ دی وقبلی ته گرځوی که قادر وو. اوکه

وو قادر فَإِلَى أَيِّ جِهَةٍ صَلَّى صَحَّ مَلْوُتُهُ » اوپوه سه چې داقوله احکام دفرضی لمانځه دی. او نفلی لمونځونه پردابه بیله عجزه په صحراکښنی په اتفاق روادی. وهٰکذا حال السنن » ط در، م.

قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَمَنِ اشْتَبَهَتْ عَلَيْهِ الْقِبْلَةُ

کرپرچا پوښیده سوه جهت دقبلی مثلاً تاریکوه په شپه کی. او دیری توری وریځی وی په ورځ کی چې نه لرمعلومیدی اونه سایه. **مسئله**: که لرښکاره وی لکن سړی لکه وریځی چې اخستی وی. په علاما تو قبلی نه پوهیدی. نو په دی جمله سره دی معذور گنړل کیږی. اود تحری (فکرو هلو) اجازه ورته سته اوکه نه. بعض علماء وایی چې یایا دتحری اجازه نلری. لکن ظهیرالدین مرغینانی وایی چې دی معذور دی تحری دی وکړی. اوجومړه وایی چې ظاهر عبارت دقدوری هم پردغه دلالت کوی.

قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَلَمْ يَكُنْ عِنْدَهُ مُخْبِرٌ

اونه وو په حضور کی دده خبروړ کوونکی دجهت دقبلی چې دی پوښتنه څندی وکړی. (قیل) یا خو مخبر وو اوده پوښتنه څندی وکړه مگر هغه نه جواب ورکوی. **مسئله**: دحضور د مخبر اندازه داده چې دی ور، ناری کړی هغه یه اوری. **مسئله**: په ښو ولوکی دجهت دقبلی اخبار دیوه چا چې عدل وی کړوی اوکه بنځه که هروی که عبد، مقبول دی. اوکه فاسق وو اویا مستور الحال وو نو تحری دی وکړی. اوپه غالب الرأی سره دی عمل وکړی » ط، در.

مسئله: که څوك دهغه چې قبله څندی ور، که ده سجده تلاوت کوی. **مسئله** که دده غه سړی رایه دقبلی په باره کی یوجهت ته وه لکن مخبر عدل بل جهت ور، ښو نو امام طحطاوی وایی چې عمل په قول د مخبر عدل پرده واجب دی. ولی چې اخبار تر تحری بالادی. او په غایة البیان کی اوعنایه کی وائی چې عمل په قول د مخبر مستحب دی واجب نه دی. قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَلَا مِحْرَابَ تَحَرَّى وَلَا إِعَادَةَ عَلَيْهِ لَوْ أَخْطَأَ

اومحراب دیومسجد هم نه وو نو دغه سړی دی پخپل فکر په جهت دقبلی ووهی

هرخواته چی دده غالب گمان سُو هغه طرفته دی لمونځ وکړي - او اګر څوک دلما نځه څخه
کم چیري خطا وتلی وُو. یعنی پسله لما نځه په تحري سره داورته معلومه سوه چې
زه په جهت کی دقبلی خطا وتلی وم خو بیا هم ما اګر څوک دلما نځه پری نسته.

مسئله: سره د محرابونو لیدلو ده ته د تحري حق نسته ولی چې جوړول د محرابو
غالبًا په حق سره وي. **مسئله**: که څوک دهغه ځای سړی نه وو او اهل علم بالقبله
هم نه وو. دبل سړي اخبار ته اعتبار نسته بلکه دی به تحري کوی لمونځ به ادا کوی
اوکه دوو کسانو چې هغه هم مسافران وه په مثل دده دهغوا خبار ته هم اعتبار نسته
ولی هغه کسان هم د اجتهاد څخه خبری کوی. نو دی دپخپل اجتهاد دبل د اجتهاد په
سبب نه پریږدی. اوپه فتاوا خانیه کی وائي چې سره د محرابه دی هم تحري وکړي او
چې د محرابونو سوي د مدینې منوّري په وخی سره نه دی ثابت.

لکن د اخبره خلاف د تولو کتابونو څخه دی اود غه رنګه مخالف د هغه قوله سره د ما رآه المؤمنون
حسنًا فهو عند الله حسنٌ **مسئله**: مصنف په مَراقی کی وائي چې پردغه سړي
چې د قبلی جهت څندی ورک دی تهکول د دروازو د خلګو ندی لازم. دیاره د معلومات
د جهت د قبلی. **مسئله**: یوسړي د ما بنام په وخت کی مسجد ته ورغلی اوپه
مسجد کی تاریکه وه نویو طرفته ئی لمونځ وکړي چې ده لما نځه څخه فارغه سُو یوبل چا
څراغ راوړی دی مصلی چې رنړا سوه وه معلومه سوه چې لمونځ دې غیر ته د قبلی
کړي دی، کردې سړي په اول وار کښی تحري کړي وه لمونځ یې صحیح دی اوکه څوک
دلما نځه وروسته باندی نسته. اوکی تحري نه وه کړي لمونځ دی را وګرځوی. ط، در،

سوال: دی سړي به پر دیوال لاس کړه ولی وای او محراب به ئی څانته معلوم کړی
وای **جواب**: مصنف په مَراقی کی وائي چې د لاس تیرول پر دیوال باندې
پردغه سړي لازم نه دی. یو خو دی سبب چې نه باید چې پر دیوالونو لړم
وغیره نه وي. اوبل سبب دادی چې په اکثرو مسجدونو کی محراب مانده د ګیانو
نوکه دی لاس وه کړه وی نه باید چې پریږدګی یې د محراب خیال را نسي.

مکتبه القراءت والتجوید کوئٹه

اولمونځ پرهغه خوا وکړي. اوپه واقع کی به هغه د قبلی جهت نه وي.

مسئله: صاحب الهدایة په تجنیس کی وائي اوپه مزید کی هم ورته مسئله
راغلی ده - چې یوسړي په ستر ګو روند وُو. په مسجد کی پرلما نځه ودریدی وخلاف ته
د جهت د قبلی - یو رکعت چې وکړي یوبل سړي راغلی اوپوهیږي په قبله برابر کړي
اوبیا یې اقتداء هم پسی وکړي - نو دا مسئله دوه ارخه لري. یوخو دا دی چې روند
چې پر لما نځه ودریدی داسی څوک وو چې راښه پوهیږي د قبلی څندی کړي وای او
کړ څوک نه وو،

په اول صورت کی د راښه لمونځ هم فاسد دی اود مقتدی دا هم، ولی چې راښه خو
قدرت نه لري چې وقبلی ته لمونځ کړي وای په پوهیږي سره. اوپه صورت د راښه
لمونځ صحیح دی لعدم القدرة. اود مقتدی لمونځ نه دی صحیح. ولی چې ده ته معلومه
سوه چې امام یعنی روند په ابتداء کښی د لما نځه پر خطا وو. قال المصنف

وَإِنْ عَلِمَ بِخَطَائِهِ فِي صَلٰوتِهِ اِسْتَدَارَ وَبَنٰى

اوخوله چې قبله څندی ورکه وه پخپل خطاء وپوهیږي په لما نځه کی نو دې دی وګرځی وقبلی ته او
پرکړي لما نځه دی بناء وکړي. یعنی هغه کړي لمونځ یې صحیح دی. **مسئله**: که
دسړي اجتهاد د قبلی په پاره کی په لما نځه کی بدل سو هم په ګرځی وهغه بل طرفته، ط،
پوه سه: چې د اجتهاد بدل والی داسی دی لکه نسخ. نو ځکه اهل د مسجد قباء
چې لمونځ په بیت المقدس کاوه او دوی ته اخبره وه چې قبله وکعبی شریفی ته واوښتل
نو یوسړي ودوی ته د لما نځه په مابین کی خبر ورکړي چې د بیت المقدس قبلوالی
منسوخ سُو او قبله کعبه شریفه وګرځیده. نو اهل قباء په هغه لما نځه کی سره وګرځیده
اوښخان یې وکعبی ته وګرځول. آنحضرت صلی الله علیه وسلم چې په موضوع خبر سُو
دوی ته وویل چې ښه مو وکړه. رواه اصحاب السنن،

پوښتنه: څوجره ده که یوسړي اوبه داود اسره پیدا کړي او تحري یې وکړه

مکتبه القراءت والتجوید کوئٹه

پاکی په خیال وَرغله اودس یه په تازه کړی او لمونځ یه وکړی وروسته ورته معلومه سوه چی اوبه مرداری وی فقهاءُ ټوله وایئ چی په پاکو اوبو دی اودس تازه کړی اولمونځ دی راوگرځوی. اوبه سړی په جامه کښی تحری وکړی پاکه یه پخیال وَرغله نولمونځ یه په کښی وکړی وروسته معلومه سوله چی جامه په قدرمانع دلما نځه مرداره وه. نوعلماءُ وایئ چی په پاکه جامه کښی دِلمونځ راوگرځوی. اود قبلی په باره کښی چی تحری وکړی او یوجهت ته لمونځ وکړی او وروسته ترلما نځه ورته معلومه سی چی خطا وَتلی وَمه دلما نځ راگرځول پری نسته.

فما الفرق بين التحري في امر القبلة و التحري في الماء والثواب. **جواب** سبب دادی چی نجاست داُوبو یاد جامی انتقال وطهارت ته شرعاً نه قبلوی اوقبلهٔ قابله دانتقال ده نکه قبله د بیت المقدس وکعبی ته نقل سوه. هم دس. قال المصنف

وَإِنْ شَرَعَ بِلَا تَحَرٍّ فَعَلِمَ بَعْدَ فَرَاغِهِ أَنَّهُ أَصَابَ صَحَّتْ

اوکه شروع وکړه دغه سړی چی قبله حُندی وَرکه وَه یعنی لمونځ یه شروع کړی بیله فکروَهلو نخه په جهت کښی دقبلی نولمونځ چی پوره کړی ورته معلومه سوه کرخه هم غالب الظن سره وی چی قبله دغه طرفته وَه چی ما لمونځ وَرته وکړی لمونځ یه صحیح دی. ولهذا چی حق معلوم سو اوهغه دده اشتباه لغوه سوه نوجواز د لما نځ ثابت سو

وَإِنْ عَلِمَ بِإِصَابَتِهِ فِيهَا فَسَدَتْ

اوکرده ته معلومه سوله چی قبله هم داغه ده چی زه لمونځ ورته کوم د لما نځ په مابین کښی لمونځ یه فاسد سُوه بیرته بی دسره شروع کوی په دلیل دده چی په لما نځ کښی دَده حال قوی سُو یعنی قبله یه په تعین و پیژندل او اول د لما نځ دده په ضعیف حال چی تحری وَه بناء وُو نوپه شروع شریفه کښی بناء د قوی پر ضعیف نه ده رَوا. م، ط.

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِمُؤَلِّفِهِ وَلِكَاتِبِهِ آمِيْن

مکتبه القراءت والتجوید کوئٹه

كَمَا لَمْ يَعْلَمْ إِصَابَتَهُ أَصْلًا

لکه چی فاسد دی لمونځ دده چی په حق ترسید و په امر کښی د قبلی نه وه پوهیږی بالکل یعنی د قبل الصلوٰة په تحری سره اوښه په لما نځه کی اوښه بعد الصلوٰة ولهذا چی فساد د لما نځ د سره نخه ثابت سو او بیا پورته نه شو. قال المصنف

وَلَوْ تَحَرَّى قَوْمٌ جِهَاتٍ وَجَهِلُوا حَالَ إِمَامِهِمْ تَجَزَّأَتْهُمْ

کړچیری دیو قوم ټولو نخه قبل وَرکړه او تُوره شپه وه نوهر یوه تحری وکړه او جهات مختلف وو تی لمونځونه وکړه اوپه حال د امام د دوی نا خبره وه چی وکوم جهت ته وَلاړ دی لمونځ د ټولو صحیح دی. لکن دهغه چا لمونځ نه دی صحیح چی په جهت کی د امام تر امام د نخه وَلاړ وی. کما في الصلوٰة حول الكعبة كما مر.

په حدیث شریف کی دعامر بن عقبه رضی الله تعالیٰ عنه دا می را غلی د چی مونږ یعنی اصحاب کرام وو سره د علیه الصلوٰة والسلام یعنی په سفر کی اوشپه تیره تاریکه وه. نوهر یوه هیڅ چا پردی قدرت نه درلودئ چی قبل پرکوم طرف ده نوهر سړی دا لمونځ پرخپل طبعیت وکړی یعنی هر سړی تحری وکړی او لمونځ یه وجهت ته د تحری وکړی یعنی جهات مختلف وو ته. وروسته معلومه سوه چی مختلف وه. او غالباً به دغه لمونځ په امامت د آنحضرت صلی الله علیه وسلم وُو. اوحال د توجه دده هم نا معلومه وُو. چی سحار سو مونږ دا موضوع په حضور کښی د علیه الصلوٰة والسلام عرض کړه. نودا آیت نازل سُو. فَأَيْنَمَا تُوَلُّوا فَثَمَّ وَجْهُ اللّٰهِ.

د رولیش وائی ؎ غرض نقشیست کز مایا رماند ؛ کز هستی را نمی بینم نشانی ؛ مگر سایه لی روز رحمت ؛ کند در حق این مسکین دعائی ؛ چون بقبرم بگذری دامن کشان ؛ از سر خاکم الحی بگوانی ؛

؎ داکتاب به إن شاء الله ویله کیږی ؛ د عبید عاصی هره وکی به خاورو کی ورسیږی ؛

؎ أُحِبُّ الصَّالِحِيْنَ وَلَسْتُ مِنْهُمْ ؛ لَعَلَّ اللّٰهُ يَرْزُقُنِي صَلَاحًا ؛

بخپل فضل وکرم ما ته بخښنه وکړی خدایه ؛ ته غفور او رحیم او مهربانه یه ای خدایه.

مکتبه القراءت والتجوید کوئٹه

د اخدمت معلم دین چې زه کومه ؛ شاید دا به زه شفیع وگرځومه ؛
که اهل علم گفته اند، به بهانه می بخشد ؛ به بهانه می بخشد ؛
د اخدمت زما خوارد بخښنی بهانه نه کړې - چې بهانه عبادت خوارلره نشته

بنهانه بنوونه

د رویش وائی چې تردی ځایه پورې **اول جلد نورالایضاح** په توفیق
سره د مولی جل سلطانه پوره سو او **دوهم جلد** د فصل فی واجب الصلوٰة، څخه
شروع کیږي. او ان شاء الله العزیز هغه به هم ژر تر ژره د عقیدتمندانو په حضور
کښی پیش سی په توفیق د رب جل وعلا ؛

پوښتنه ته سره د کلان سالی خپل - ولی په علمی خدمتو کښی ځان ته تکلیف
اوبد خوابی ورکوی خصوصا د مختصرو کتابونو عقایدو، لکه نور
ظلم، ابوالمنتهی، اویاد فقهی - لکه شروط الصلوٰة، قدوری، او نورالایضاح په پښتو
کولو کښی.

جواب: ما ویر وارونه عرض کړی او داباعث هم بیان کړی لکن
بیاهم د پوښتنې په اثر عرض کوم چې هیڅ مدان باعث خدمت دی د عربی کتابونو
د زده کړو نکو چې بعض مغلق ځایونه وړته په سلیسه عربی ژبه وړته آسانه کړم.
اوّل سبب دادی چې د خپل قوم پښتنو په مورنۍ ژبه دین یعنی عقائد، اهل
السنة والجماعة احکام د فقهی موافق د مذهب سره د امام اعظم رحمة الله علیه او
د ده شاګردانو او د ده مذهب د مجتهدانو رحمهم الله بیان کړم. چې د هر خوانند
نر او ښځی د پاره د کتابونه د کور استاذو ګرځی. ان شاء الله العزیز
او په دی باب کښی ما عاجزته د « احسنت » وار رسیدلی دی هم د نرو او رونړو
د خوا او هم د ښځو خوندو د خوا. نوزه به یو لیک د ریته خپور کړم او تاسی به ئی مشت
نمونه خروار، وبولی. دا لیک ما ته د سعودی عربستان څخه د مدینې منورې څخه زما یو

دینی ورور ه استولی دی - چې نوم یې حاجی عبدالستار دی او اصلاً د قندهار دی او
د اپر کلونه تخمیناً ۲۲ کاله په مدینه منوره کښی سره د اهل وعیال او سیږی خط دا دی

د حاجی عبدالستار د خط متن

د عاو سلام د طرفه څخه د عبدالستار وخپل ګران مهربانه ورور او استاذ، مولوی
حاجی مُلا عُبیدُ الله اخند ته دی په ښه ساعت کښی ورسیږی، موږ شکر جوړ او
روغ یو ستاسو جوړیا اورو غتیا د پاک خدای جل جلاله څخه همیشه غواړو.
ګرانه استاذه ستا خط راورسیدی د پیر پیه خوشحالۍ سوو. خدای جل شانه
دی په دې دُنیا او اخرت کښی عوض درکړی. حاجی اسد الله راغلی وو او ۲ شپږ شپی
یې راسره وکړی. او د غه خط می د هغه پلاس د رواستاوه خدای دی وکړی چې د ورسیږی
ګرانه استاذه ستا خط سمارمات تسلیم سو چې حاجی عبدالرحمٰن ته دی ورکړی وو
نو مطالعه می کړی او د پیری پیری دعاوی می د ریته وکړی او اوس غرمه ده مسجد
نبوی صلی الله علیه وسلم ته د ماپښین د پاره ځم. هلته په روضه مبارکه کښی په
لخلاص دعا د ریته کوم.»
او هرما بنام وروسته تر لمانځه د ما بنام هرما بنام دوه دوه رکعته نفل په روضه مبارکه
کښی کوم او ثواب یې تاته در بخښم او د مغفرت دعا گانې د ریته کوم خدای پاک جل
جلاله دی قبولی او مقبولی وګرځوی. ولی چې پخوا زمونږ خپل لمونځ نه وو زده حتی چې
تر مونږ د پاره د اکتابونه زمونږ د مور او پلار، پخپله ژبه را ترجمه کړه. او مونږ په هرځ
پوه سوو. او د پیر و خلګو د غه ستاسو کتابونه را څخه وړی دی. او خپل کور یې وئیل
دی او د پیری فائدې یې ځندی اخستی دی. او نا دیده د ربا ندی مَیَن دی.
او دعا ګانی د ریته کوی. او زما ورور په امریکا کی دی ستا کتاب می ورواستاوه
او تلیفون یې وروسته راسره وکړی په تلیفون کی ستا د کتاب د مطالعی له سببه

یه په تلیفون کښی د اسی ژړله چې دژړا دلاسه یه په خبرو - نه پوهیدم
چی د غوندې ژړله - او بیا می دکوټې دکتابخانې ادرس ورکړی - نو یو انډیوال
یه پاکستان ته تللی وو - اوستا گرده کتابونه یه ورورې - او په سویلون کی
زما اخښی دی - هغه تر می هم ستا کتابونه د پاکستان دلاری ورواستول -
گرانه استاذه! داځومره خدمت دی چی تا دی بیوزلو پښتنو ته د اسلام په
لار کی کړی دی د خدای جل جلاله څخه می ته اوستا ټوله خاندان اولاد په دنیا او
اخرت کښی کامیاب به اوبریالی غوښتی یاست - کربزه په رشتیا د روښ یم د
رسول الله صلی الله علیه وسلم - اوهم دې همیشه ښه ژوند د خدای جل جلاله
څخه غواړم -

گرانه استاذه ما ۵ پنځه دعطر وښیښی در واستولی - یوه غټه ښیښه د هغه
کتاب فروش ده چې ستا سره یه په کتاب کښی د خط د نوشته کولو خدمت کړي دی او
کوی یه (مراد قاری مجتود خطاط اعظم مولوی فضل الحق صائب دی) اوزما
سلامونه هم ورته ووایه - اوداستاد غږ دعا گانې د مدینې منورې بسته - اوخلور
ښیښی ستاد پې - گرانه استاذه ما به د پیر شیمان د راستولی وای خوحاجی اسدالله
ویل زما بکسه کښنی ده یوځو کښنی شیمان د راکړه - نوځکه می دا لږ تحفه د راستوله
گرانه استاذه!

د ما ختنو اذان د حرم شریف ناری سو اوزه ستاسې په دغه خط مشغوله یم - اوس به
د لمانځه د پاره حرم شریف ته ځم زه سم په نامه به خپل استاذ یاد کړم - اوه سرور کائنات
رحمة للعلمین صلی الله علیه وسلم ته به د خپل استاذ سلامونه وړاندې کړم - او
ورته وایم به په ژړا ژړا چې د ۲۲ کاله چې سلامونه د لیږم والله او نبلی می
بهیږی - خدای جل جلاله می دې دغه محبت نه کموې - فقط

حاجی عبدالستار درویش

گرانو اویدونکو او مطالعه کوونکو دا یو مختصر خط وو چې ما وه نشرته وسپارله - په سبب

د دې چې د پاکی روضې څخه د مدینې منورې د آنحضرت صلی الله علیه وسلم د یوه عاشق
د خوا راغلی وو - که چیرې عاصی ټول مکتوبونه چې د رویش ته راغلی ونشرته وسپارله -
د پیری وړاندې به اشغال کړې بیت ؎ تا طبع نازکت نه پزید ملامتی آن به که نامسه د عا مختصر کنم -
خواجه عبد الله انصاری الهروی رحمة الله علیه میگوید ؎
دلا در کار خود میکن نظرها ؛ که در راه تو می بینم خطرها ؛ کشاد از خواب غفلت چشم بیدار ؛ بگوشش هوش تو گویم خبرها
نگر در خلق گورستان فگنده -
زیک تیری فنا جمله سپرها -
لباسا کان مزوبند در خاک ؛ که از ایشان در جهان مانده اثرها -
معاصی زهر قهر است ونموده ؛ بکام نفس تو همچون شکرها -

گذرگاه است این دنیای فانی -
نماند مرد عاقل در گذرها - چو در پیش است مرگ ای پیر انصار ؛ تماشای جهان کن در سفرها -

اللهم اغفر لکاتبه ولمؤلفه ولجمیع المؤمنین آمین

وقد کتبه فضل الحق حقانی غفرله الباری
فی ۲۴-۹-۲۱ ۱۴۲۱ھ ۲۲-۱۱-۲۰۰۰ء

مکتبة القراءة والتجوید

گانسی روڈ شالدره - کوئٹه -

د عقیدتمند انو دپاره اوهغه کسان چې
معلومات پوره نلري، د درویش محمد عُبید اللہ ایوبی
د تصنیفاتو نومان تر سنه ۱۴۲۲ هـ ق پورې.

دحضرت ایوبی دتصنیفاتو نومونه

فی علم التفسیر ۱، حاشیه بیضاوی درسی. په عقائدو کی ۲، نور ظلم ۲، ابو المنتهی دواړه پښتو. ۳، عصمت الانبیاء ۴، البیانات الصادقه فی بیان الوهابیه، پښتو، پارسی، عربی، ۵، حاشیه پرشرح عقائد ۶، حاشیه پرخیالی ۷ حاشیه پرمرزاهد امور عامه. په تاریخ کی. ۸ شهادة الحسنین،
په علم فقه او اصول الفقه کی. ۹ شروط الصلوٰة پښتو ۱۰ قدوری صلوٰة پښتو، ۱۱ نورالایضاح دوهم جلد پښتو ۱۲ نورالایضاح اوله جلد. ۱۳- حاشیه پرخو اوراقو هدایه. ۱۴- حاشیه پر اصول الشاشی. ۱۵- حاشیه پرمسلم الثبوت، ۱۶- حاشیه پر تلویح.
په عروضو کی ۱۷ حاشیه پر مختصر الشافی، په تصوفو کی. ۱۸ حاشیه پرهدایة النافع.
پرمیراث کی[19] حاشیه پرسراجی. په علم حساب کی. ۲۰- حاشیه پر خلاصة الحساب.
پرریاضی کی. ۲۱- حاشیه پرتصریح ۲۲- شرح دتصریح ۲۳- حاشیه پر رسالهٔ قوشجی
۲۴- حاشیه پر بست باب. په[25] تبلیغ کی. ۲۶- البلاغ المبین، په علم صرف کښی ۲۷
حاشیه پرمراح ۲۸- حاشیه پرشافیه. په دعاوو کی. ۲۹ مجربات ایوبی ۳۰، وظائف ایوبی، په حکمتو کی[31] حاشیه پرهدایة الحکمت. ۳۲- حاشیه پر صدرا ۳۳- حاشیه پر میبذی ۳۴- حاشیه پرتحریر اقلیدس. په نحو او معانی ووکی[35] حاشیه پرشمسیه.
۳۶ حاشیه پرهدایة النحو ۳۷. حاشیه پرکافیه ۳۸- حاشیه پرشرح جامی ۳۹-
حاشیه پر عبد الغفور ۴۰. حاشیه پرمطول په منطق کی. ۴۱ حاشیه ایساغوجی
۴۲- حاشیه پرمیر ایساغوجی. ۴۳- حاشیه پر بدیع المیزان ۴۴. حاشیه پر قطبی.

۴۵- حاشیه پرکندی ۴۶. حاشیه پرمیر زاهد قطبیه ۴۷- حاشیه پرمرزا جلال
۴۸ حاشیه پرحمدُ الله ۴۹ حاشیه پرقاضی سُلم. په فقه کی. ارادهٔ دقدوری
نکاح دپښتو. په معانی ووکی[51] حاشیه پر تلخیص المفتاح.

هذه تصانیفی الی هذا الاوان وارجو من الله تعالی
ان یوفقنی مزید التوفیق لتالیف
الشروح الاخر والله الموفق
والمعین والحمد لله
رب العلمین
مع الصلوٰة علی سیدنا سید المرسلین محمد وآله وصحبه اجمعین برحمتك
یا ارحم الراحمین.

نکاح قدُوری
مع مسائل پښتو



تالیف
ابوالفضل علامه محمد عُبید الله الایوبی

ترتیب وتحریر
احقر فضل الحق حقانی
جامعه تجوید القرآن کوئٹه

اِعلان

خبرتیا

لتجار الکتب وغیرهم

الحمد لله وکفی والصلوٰة والسلام علی من به الاقتداء
والاهتداء وعلی آله وصحبه اجمعین.

گرانو کتابفروشانو! په احترام سره تاسی ته عرض کوم چی دا کتاب شرح د نورالایضاح په پښتو زما درویش محمد عبید الله مستقل تصنیف اوپه خپل جان فشانی می په کښی کړیده.

اوبیا په کتابت دده جناب محترم قاری فضل الحق صائب خوشنویس دهره عرق ریزی، شب وروز کړی ده. او بیا دیر رقم یه په خرڅ کړی دی لهذا ما حقوق د طبع وقاری صائب مذکورته ورهدیه کړی دی. نوبناءً علی هذا هیڅ څوك د طبع ددی کتاب نه لري بلکه هرخونسخی چی دچاپه کاروی دقاری مذکور په مراعاتی توګه را نیسی.

اوکه څوك خلاف ددغه اعلان وکړی نوهغه دقانونی اوشرعی اوپښتنی ستونځوسره مخامخ سی. هم زما دخوا اوهم دکاتب دخواء

وما علینا الا البلاغ المبین.

محمد صهبا ابوبی قندهاری عفی عنه

د نورالایضاح پښتو د مضمونو فهرست

شماره	مضمون	صفحه
۱	خواږه خواږه بیتونه	۳
۲	درود پر احمد مجتبیٰ	۴
۳	دپښتو نورالایضاح ضرورة	۵
٤	مصنف د نورالایضاح څوك دئ.!	٦
٥	د فقه حنیفی مأخذ څه شی دئ!	۷
٦	د نفس علم فقه فضیلت څه دئ!	۸
۷	حضرت الامام الاعظم ابوحنیفهٔ څرنګه شخصیت دئ.	۸
۸	سبب د ابوحنیفه د کنیت	۹
۹	ښه ګټه فائده اوضروری خبرتیا	۱۱
۱۰	مقدمة جلیلة نافعة	۱۳
۱۱	د امنتُ بالله ترجمه	۱٤
۱۲	دوهمه جنبه د عملیاتو ده	۱٦
۱۳	د بسم الله بیان	۱۷
۱٤	د بسم الله په باره کی په زړه پوری معلومات	۱۹
۱٥	د پښتنو د خبرو راز	۲۱
۱٦	د پښتنو بدعات	۲۳
۱۷	د الحمد لله شروع اوبیان	۲٦
۱۸	الحمد لله د فقهی دلایل	۲۷
۱۹	ښه ګټه فائده	۲۹
۲۰	د سورة فاتحه نومونه	۳۰

دَنورُ الایضَاح پښتُو د مَضمُونُو فهرست

شمارہ	مَضمون	صفحہ
۲۱	دکوډ گرانوونه	۳۴
۲۲	د بعض عنادیانو بهل چم	۳۵
۲۳	د سورۃ فاتحی شرطونه	۳۷
۲۴	د درود ویلو بحث	۴۱
۲۵	حکمت الٰہی	۴۳
۲۶	د غلا محمد قادیانی مرگ	۴۴
۲۷	د درود ویلو په باب کی په زړه پوری معلومات	۴۶
۲۸	نادره خبره	۴۶
۲۹	د تعجب ځای دی	۴۷
۳۰	د درود قسمونه	۴۸
۳۱	د اخبره هم زده که	۴۹
۳۲	سوال جواب طلب	۵۱
۳۳	د فقهاوو طبقات او اقسام	۵۷
۳۴	شکایت	۵۸
۳۵	کتاب الطهارت	۵۹
۳۶	فوائد شتی	۶۴
۳۷	شبهانه فائده	۶۵
۳۸	نادره مسئله	۷۳
۳۹	د رطل د مقدار بیان	۷۳
۴۰	شبهانه فائده	۷۷

دَنورُ الایضَاح پښتُو د مَضمُونُو فهرست

شمارہ	مضمون	صفحہ
۴۱	لویه غوښته خلاصه سوه	۷۸
۴۲	خبره ترخبری یادیږی	۷۸
۴۳	فصل- په بیان د پس خورده کی-	۷۹
۴۴	خبری به کوو خو به نه بده وُو-	۸۰
۴۵	د عوامو عقیده	۸۱
۴۶	د پښی په باره کی بعض معلومات	۸۴
۴۷	حل هذا المقام	۸۷
۴۸	فصل فی التحری	۸۹
۴۹	فصل فی مسائل الابار، (د ځاه کانو)	۹۱
۵۰	مسائل شتی د ځاه د مردار ولوپه اړه-	۹۵
۵۱	تنبیه ضروری	۹۸
۵۲	او مچ په باره کی	۱۰۱
۵۳	فصل فی الاستنجاء	۱۰۴
۵۴	الاختلاف	۱۰۷
۵۵	مسائل الاستنجاء	۱۱۲
۵۶	یوه عجیبه واقعه	۱۱۴
۵۷	فصل- په هغو شیانو کی چې استنجاء په روا ده-	۱۱۶
۵۸	ضروری ښوونه	۱۱۷
۵۹	په حالت د جماع د وطی، استقبال د قبلی	۱۲۳
۶۰	فصل- فی احکام الوضوء	۱۲۷

دَنورُ الایضاح پښتو د مضمونو فهرست

شماره	مضمون	صفحه
٦١	په بنځوکی آفت	١٣٥
٦٢	د بنځود نوکا نور نګول	١٣٥
٦٣	فصل - په بیان د نورو واجباتو	١٣٦
٦٤	فصل - فی سنن الوضوء	١٣٩
٦٥	د سنت مؤکده حکم	١٤٠
٦٦	د فقهاوو اختلاف	١٤١
٦٧	نادره مسئله	١٤٢
٦٨	فضائل د مسواك	١٤٣
٦٩	مسائل د مسواك	١٤٤
٧٠	کیفیت د تخلیل	١٤٥
٧١	د غوښو د پاره نوی اوبه	١٥٠
٧٢	کیفیت د نیت	١٥٢
٧٣	د بنځود تنګو ګوتمیو شکایت	١٥٥
٧٤	د معذور حکم دادی.	١٦١
٧٥	باقی ادابونه	١٦٢
٧٦	د اوبو د اسراف مسئله	١٦٤
٧٧	فصل - اودس پردی قسمه دی.	١٦٦
٧٨	فصل - د اودس ماتوونکی شیان	١٦٨
٧٩	فوائد - د خندا قسمونه	١٧٥
٨٠	فصل - هغه شیان چی اودس نه ماتوی	١٨٠
		١٨٣

مکتبه القراءت والتجوید کوئٹه

دَنورُ الایضاح پښتو د مضمونو فهرست

شماره	مضمون	صفحه
٨١	فصل - په هغه شیانو کی چی غسل واجبوی	١٨٨
٨٢	فائدة - سنیة ضروریة	١٨٩
٨٣	فصل - د غسل په فرضو کی	١٩٨
٨٤	مسئله ضروریه - د بنځود نوکا نو په باره کی	٢٠٠
٨٥	فصل - د غسل د سُنتو په بیان کی	٢٠٢
٨٦	اصطلاح - د نور الایضاح د رموزاتو تشریح	٢٠٦
٨٧	فصل - په ادابود غسل کی	٢٠٧
٨٨	فصل - د مسنونه غسلونو بیان	٢٠٨
٨٩	باب التیمم	٢١٣
٩٠	فائدة سنیة	٢٢٢
٩١	د امام اعظم یوه واقعه	٢٢٧
٩٢	باب المسح علی الخفین - پر موزوبا ندی مسحه	٢٣٥
٩٣	فرعه - د عسکرو پر غټو بوټو.	٢٣٩
٩٤	فصل - په بیان کی د زخمی کیدو د اندام	٢٤٩
٩٥	محاکمه - که پرسر پې پیولد سر فرض وه.	٢٥١
٩٦	باب الحیض، والنفاس، والاستحاضة.	٢٥٤
٩٧	د نور الایضاح د پښتو کولو فائدې.	٢٥٤
٩٨	د بعض حاسدانو څخه شکایت	٢٥٦
٩٩	اعتذار لدفع الاعتراض	٢٥٨
١٠٠	حیض د لویو مهالو څخه د دین دی	٢٥٩

مکتبه القراءت والتجوید کوئٹه

د نور الایضاح پښتو د مضمونو فهرست

شماره	مضمون	صفحه
۱۰۱	د مسلمانانو نن سبا عجبه دلاوری	۲۶۶
۱۰۲	تردی عجبه داده	۲۶۷
۱۰۳	مسئلهٔ مهمه	۲۷۶
۱۰۴	باب الانجاس والطهارة عنها	۲۷۷
۱۰۵	دا مسئله ډیره مهمه ده	۲۸۰
۱۰۶	یوه دقیقه مسئله	۲۸۴
۱۰۷	حاصل د مسئلی د نجاست خفیفه دادئ	۲۸۵
۱۰۸	یو ډیر لوی مشکل	۲۹۰
۱۰۹	اختلاف العلماء	۲۹۳
۱۱۰	حضرت ایوب علیه السلام ته	۲۹۶
۱۱۱	مناجات اقتباسی	۳۰۰
۱۱۲	کتاب الصلوٰة	۳۰۱
۱۱۳	د لمونځ د اوقاتو تعیین	۳۰۱
۱۱۴	حکمت الهی.	۳۰۲
۱۱۵	د دی فائدې تعریف	۳۰۴
۱۱۶	د زوال آسانه نښونه	۳۰۷
۱۱۷	گرانو مسلمانانو	۳۰۹
۱۱۸	گرانو ورونړو اوخوندو	۳۱۵
۱۱۹	د اهل علم تجربه	۳۲۶
۱۲۰	فائده مهمه، د درود، اوتلاوت.	۳۲۸

د نور الایضاح پښتو د مضمونو فهرست

شماره	مضمون	صفحه
۱۲۱	بنهانه فائده	۳۳۲
۱۲۲	فتوی	۳۳۳
۱۲۳	مسائل السنن د سنتو مسئلی	۳۳۴
۱۲۴	د عاقل سړی کار	۳۳۷
۱۲۵	باب الاذان	۳۳۸
۱۲۶	د نهانی حال - د طالبانو حکومت په افغانستان کی.	۳۴۷
۱۲۷	تحقیق الکلام فی اجابة الاذان	۳۶۴
۱۲۸	باب شروط الصلوٰة وارکانها	۳۷۳
۱۲۹	شرطونه پرځلور قسمه دی	۳۷۴
۱۳۰	اختلاف الائمة - فی تحویل القبلة.	۳۷۹
۱۳۱	دیوه ریا کار شیخ واقعه	۳۸۳
۱۳۲	مسائل التحریمة - د تحریمی مسئلی	۳۸۵
۱۳۳	ډیره مهمه مسئله	۳۹۱
۱۳۴	التحقیق فی هذا الباب	۴۰۰
۱۳۵	د قراءة المقتدی خلف الامام په باره کی	۴۰۳
۱۳۶	مسائل استماع القرآن	۴۰۴
۱۳۷	غوږ نیول د قرآن ته	۴۰۵
۱۳۸	فائدة مهمة	۴۰۶
۱۳۹	الاحتیاط - د قرآن د تلاوت په باره کی	۴۰۷
۱۴۰	مسئلهٔ تعدیل الارکان	۴۱۰

دَنورُ الایضَاح پښتو دمَضمُونو فهرست

شمارہ	مضمون	صفحہ
۱۴۱	شکایت کشکی زمونږ دعصر حاضر علماوو	۴۱۳
۱۴۲	باعث پر درویش	۴۱۴
۱۴۳	ارادهٔ صمیمه - لوی زیری	۴۱۵
۱۴۴	واقعه- د مسجد نبوی دلمانځه	۴۱۸
۱۴۵	حکمت تکرار السجود	۴۲۳
۱۴۶	اختلاف العُلماء	۴۲۵
۱۴۷	فصل - فی متعلقات الشروط	۴۲۸
۱۴۸	تفصیل المقام	۴۳۰
۱۴۹	داباحت اود تملیك فرق	۴۳۳
۱۵۰	مسائل دکشف العورة	۴۳۷
۱۵۱	تد فکر وکه	۴۳۹
۱۵۲	دبین الملل داداری نخښه شکایت	۴۴۱
۱۵۳	داسلامی مملکتونو اسلامی گیله	۴۴۲
۱۵۴	امریکا دی هم په گریوان کی وگوری	۴۴۴
۱۵۵	دعورت تحقیق	۴۴۸
۱۵۶	سنها نه ښو وینه	۴۵۶
۱۵۷	دحاجی عبدالستار دخط متن	۴۵۷
۱۵۸	دحضرت ایوبی د تصنیفونو مونه	۴۶۰
۱۵۹	اعلان اوخبر تیا	۴۶۲
۱۶۰	فهرست دکتاب۔	

مکتبه القراءت والتجوید کوئٹه

حقانی کمپیوٹر سنټر

د کتابت د لوړیه اداره ستاسو
د اعلیٰ کتابت، پښتو، فارسی، عربی، اردو، انگریزی
د پاره پرانستل سوېده۔ ترڅو هر قسم کتابتونه
چاپ ته وسپاری۔

مسئول چلوونکی
محمد فضل الحق حقانی

کتبه بقلم احقر حقانی غفرله

مکتبه القراءت والتجوید کوئٹه

د حضرت ایوبی د خط متن

اعلان "خبرتیا" لتجار الکتب وغیرهم"

الحمد لله وکفی" والصلوة والسلام علی من به الاقتداء والاهتداء وعلی آله وصحبه اجمعین

گرانو کتاب سوداګرانو په احترام سره تاسی ته عرض کوم چې

دا کتاب شرح کنوز الایضاح په پښتو ژبه د درویش محمد عبید الله

منقل تصنیف اویره جان فتانی ی پکښې کړی".

اوبیا په کتابت ـ دی جناب محترم قاری فضل الحق صاحب خو شغولس دیره

عرقریزی "شب وروز کړی دی" اوبیا دیره رقم خرچ کړی دی

لهذا ما حقوق د طبع وه قاری صاحب مذکور ته ورهدیه کړی دی"

نو نباید علی هیڅ څوک حق د طبع دی کتاب نه لری بلکه هرڅو نسخی

چې ده چاپه کاروی د قاری مذکور په مراعاتی ترڅګه راسره

اوکومه ک خلاف ددغه اعلان وکړی نو سبنه د قانونی اوښتی عی

اوپښتنی ستنځو ټکی فاضل سی هم زما د خوا اوهم د کاتب د خوا

وما علینا الا البلاغ المبین

محمد شاه ایوبی قندهاری غفرله

مکتبه القراءات والتجوید کوئٹه